اوم جلد

د قرآن پلوشې

حکمتیار

د کتاب پېژندنه:

نوم: د قرآن پلوشې اوم جلد

لیکوال: حکمتیار

دوهمه طبع: ثور ۱٤۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ توکه

قیمت: ۱۷۰ افغانۍ

د چاپ ټول حقوق محفوظ دي



اُوم جلد

د قرآن پلوشې

حکمتیار

دحزب اسلامي افغانستان امیر

فهرست

عنوان	صفحه
الفتح	۱
الحجرات	۳۲
ق	٦۱
الذاريات	۷٦
الطور	۹۹
النجم	۱۱۵
القمر	۱٤٤
الرحمن	۱٦٤
الواقعه	۱۸٤
الحديد	۲۰٤
المجادله	۲۲۷
حشر	۲٤٤
الممتحِنه	۲٦۲
الصف	۲۸٤
الجمعه	۳۰٤
قرآن او د نفاق حقيقت	۳۱۳
يوه ضروري يادونه	۳۱۳
مقدمه	۳۱۷
المنافقون	۳۲۰

د سورې پېژندنه: ---------- ۳۲۰
التغابن ---------- ۳۸۵
الطلاق ---------- ۳۹۸
التحريم ---------- ٤١٣
د امتنان په توګه: ---------- ٤٣٢
الملك ---------- ٤٣٥
القلم ---------- ٤٦١
الحاقة ---------- ٤٩٠

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

الفتح

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الفتح) دئ چې د سورې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۲۹ آیتونه لري، د ټولو آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (مبیناً) ته ورته دي، همدې وزن ته ورته صیغې د سورې په نورو برخو کې هم راغلې چې ټولې سورې ته ئې ډېر شکلی او په زړه پورې غږ ورکړی، لکه په لومړي آیت کې فتحنا، فتحا، مبینا، په دوهم آیت کې صراطاً، مستقیماً، په درېیم کې نصراً عزیزاً او همداسې په نورو آیتونو کې، د آیتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په منځنیو کلونو کې نازل شوي. روایات، تاریخي اسناد او د سورې متن ګواهي ورکوي چې دا سوره د حدیبیې له صلحي وروسته او مدینې ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر ستنېدو وړاندي د لارې په اوږدو کې نازله شوې، اتلسم آیت چې وایي الله له مؤمنانو هغه مهال راضي شو چې تر وني لاندي ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره بیعت کولو، ۲۵ آیت چې وایي دوی له مسجد الحرام منع کړئ او خپل ځای ته د هدي د رسېدو مخنیوی ئې وکړ، ۲۷ آیت چې وایي الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه و سلم رؤیا رښتینې کړه او تاسو حتماً مسجد الحرام ته په ډاډ او امان سره ننوځئ، ښیي چې دا سوره په بشپړه توګه او یو ځایي د حدیبیې له صلحي وروسته نازله شوې.

د دې سورې د نزول شالید داسې دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یوه شپه په خوب کې لیدلې چې د عمرې لپاره مکې ته تللی، د خوب تعبیر ئې داسې وو چې د عمرې سعادت به د ده او د ده د یارانو په برخه شي، دا رښتینې رؤیا ئې له ځینو یارانو سره شریکه کړې، له یوې خوا د رسول الله صلی الله علیه و سلم رؤیا او له بلې خوا د عمرې او مکې ته تللو شوق په دې منتج شو چې دې سفر ته تیاری ونیسي، په ظاهر کې ظروف او شرائط د دې کار لپاره نه یوازې چمتو نه وو بلکې دا یو ډېر خطرناك تصمیم معلومېدو، د سخت زړي دښمن تر ولکې لاندي مکې ته ننوتل او هغه هم د عمرې په موخه او له کافي

جنګي وسائلو پرته ډېري خطرناکې پایلې درلودی شوې، د عمرې په سفر کې ئې یوازې یوه توره له ځان سره وړلی شوه، داسې سیمې ته تلل چې استوګن ئې په وار وار له دوی سره جنګېدلې، دوی ئې له خپل کور کلي ایستلې، په مدینه کې ئې هم آرام نه دي پرېښې او پر دوی ئې بریدونه کړي، په داسې خطرناکو ظروفو او شرائطو کې د دښمن تر سلطې او واک لاندې سیمې ته ننوتل داسې تصمیم وو چې منافقینو او مشرکینو هغه له ځان وژنې سره مترادف کار ګڼلو.

نژدې څوارلس سوه هغه مؤمنان دې سفر ته چمتو شول چې د الله تعالی په لار کې او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ملګرتیا کې ئې هر خطر او ضرر منلی او هرې قربانۍ ته چمتو کېدلی شول، د شپږم هجري کال د ذي القعدې په میاشت کې د مؤمنانو دا قافله د مکې په لور وخوځېده، د قربانۍ څارويو ورسره وو، ذو الحلیفې ته په رسېدو سره ئې احرامونه وټړل، د قافلې له ټمځای د اللهم لبیك زړه راښکونکې نعرې اورېدل کېدې، هر څوك پوهېدو چې دا قافله د عمرې لپاره خوځېدلې، د عام دود او قاعدې مطابق له هر چا سره یوازې یوه توره او هغه هم په تېکي کې وه؛ او دا په داسې حال کې چې یو کال وړاندې د عربو ستر لښکر د قریشو تر مشرۍ لاندې پر مدینې برید کړی وو، نژدې یوه میاشت ئې مدینه محاصره کړې وه، خلك حیران وو چې اوس به څنګه د قریشو دا دښمنان تش لاس او له جنګي وسائلو او تیارې پرته او د قریشو له موافقې پرته د دوی تر واک او سلطې لاندې مکې ته ولاړ شي او عمره به اداء کړي!! د رسول الله صلی الله علیه و سلم دې اقدام د قریشو مشران سخت مشوش او پرېشان کړل، د ذي القعدې میاشت له هغو ځلورو میاشتو ده چې د حج او عمرې لپاره مختص شوې او په هغوی کې جګړې حرام ګڼل کېدې، په ځانګړې توګه د مکې په حرم کې، ذوالحلیفه حرم ته د تلو په لار کې پرته سیمه ده او همدلته د حج او عمرې لپاره احرام تړل کېږي، د قریشو جاهل مشران نه پوهېدل څه وکړي، که د عمرې اجازه ورکړي او پرېږدي چې دا لویه قافله مکې ته داخل شي او عمره اداء کړي دا به د دوی کاذب حیثیت ته سخت ګوزار وي او په ټولو عربو کې به د دوی اعتبار او حیثیت له منځه یوسي او که ئې مخنیوي وکړي ټول ولس به ئې ملامتوي چې د عربو د عام او منل شوي دود مخالفت ئې وکړ او مسلمانان ئې د عمرې اداء کولو ته پرې نښودل، له جرګو مرکو وروسته ئې د دود دستور خلاف او د عقل او مذهب ضد پرېکړه وکړه چې مکې ته د دې قافلې د ننوتلو مخنیوی وکړي، کافي شمېر جنګیالي ئې د مخنیوي په موخه ذي طوی کې ځای په ځای کړل، د خالد بن ولید تر مشرۍ لاندې ئې د دوه سوه وسله والو سپرو ټولی کراع الغمیم ته د قافلې مخي ته ولېږو، د دوی

هڅه دا وه چې د نښتي لپاره کومه پلمه تر لاسه کړي، مسلمانان نښتي ته وهڅوي؛ او بيا خلکو ته ووايي چې جګړه د مسلمانانو له لوري پيل شوه، رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي ترتيب نيولی وو چې د قريشو له عزائمو او پرېکړو وخت په وخت خبر شي، کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د قريشو له پرېکړې خبر شو نو لار ئې بدله کړه؛ او له يوې ستونزمني او ناهمواري لاري حديبيې ته ورسېدو، حديبه د حرم په ژېړ کې پرته سيمه ده، د دې سيمې د مېشت قبيلې مشر بُدَيل بن وَرقاء له څو کسانو سره د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته راغی او پوښتنه ئې وکړه چې د څه لپاره دلته راغلي يئ؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وويل: يوازې د عمرې لپاره راغلي يو او د جنګ اراده نه لرو، هغه قريشو ته ورغی او هغوی ته ئې مشوره ورکړه چې د قافلې مخنيوی ونه کړي، خو هغوی له خپلې جاهلانه او ضدي پرېکړې تر شا کېدونکي نه وو، د احابِيش د قبيلې مشر حنيس بن علقمه ئې له څو کسانو سره رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ولېږو چې له عمرې ئې منصرف کړي او بېرته ستنېدو ته ئې چمتو کړي، د ده له لېږلو ئې مقصد دا وو چې که رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې پلاوي خبره ونه مني نو د احابيش ټوله قبيله به د قريشو په ځنګ کې ودرېږي، خوکله چې هغه د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته ورسېدو او وضعيت ئې له نژدې په خپلو سترګو وليد نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ته له څه ويلو پرته قريشو ته ستون شو او هغوی ته ئې وويل: دا قافله د عمرې لپاره راغلې، د کعبې په حرمت باور لري، که تاسو د هغوی مخنيوی وکړئ نو د احابيش قبيله به په دې کار کې ستاسو ملګرتيا ونه کړي، مونږ په داسي کارونو کې ستاسو حليف نه شو پاته کېدی چې په هغه کې حرمتونه تر پښو لاندي شي. ورپسې د قريشو له لوري عروه بن مسعود ثقفي د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته راغی او ترې وئې غوښتل چې د عمرې له پرېکړې منصرف شي، رسول الله صلى الله عليه و سلم همغه ځواب ورکړ چې مخکيني پلاوي ته ئې ورکړی وو، هغه قريشو ته ستون شو او هغوی ته ئې وويل: ما د قيصر، کسری او نجاشي دربارونه ليدلي خو په خدای قسم څومره چې ما د محمد (عليه السلام) ياران د ده مطيع او فدائي وموندل په هېڅ دربار کې مي داسي حالت نه دئ ليدلی، شه به وي چې په دې اړه غور وکړئ چې مقابله به مو له ځنګه خلکو سره وي!! د پلاوو د تلو راتلو په دوران کې د قريشو له لوري په وار وار د دې هڅه وشوه چې مسلمانان تحريك کړي او نښته رامنځته شي، خو هر ځل د صحابه وو د صبر او زغم او د رسول الله صلى الله عليه و سلم د حکيمانه او مدبرانه زعامت له کبله د دوی هڅې شنډې شوې او د نښتي مخنيوی شوی، يو ځل د دوی څلوېښتو پنځوسو کسانو د شپې له لوري د مسلمانانو

پنډغالي ته ډبري او غشي وار کړل، ټول د صحابه وو له لوري ونيول شول خو رسول الله صلى الله عليه و سلم ټول خوشي کړل، بل ځل اتيا کسانو د ګهيځ لمانځه پر مهال ناڅاپي برید وکړ، دوی هم ونيول شول او رسول الله صلى الله عليه و سلم پرېښودل، په دې توګه د قريشو هره هڅه شنډه شوه. په پای کې رسول الله صلى الله عليه و سلم عثمان رضى الله عنه د استازي په توګه قريشو ته ورولېږو چې هغوی ته ووايي: موږ د عمرې لپاره راغلي يو، د قربانۍ څاروي راسره دي، وسلې راسره نشته، له عمرې وروسته بېرته ستنېږو، خو هغوی نه يوازي موافقه ونه کړه بلکې عثمان رضى الله عنه ئې په مکه کې تم کړ، په همدې وخت کې دا افواه خوره شوه چې قريشو عثمان رضى الله عنه شهيد کړی، د ده ځنډېدل د دې باعث شو چې مسلمانان دا افواه صحيح وګڼي، د ټولو ايماني جذبات وپارېدل، رسول الله صلى الله عليه و سلم راغونډ کړل او په داسي حال کې چې د يوې وڼې خوا ته ولاړ وو له ټولو ئې پر دې خبرې بيعت واخيست چې جنګ ته تيار شي او له تېرې کوونکو قريشو سره به خپل حساب تصفيه کوي، هر يو به د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته راتلو، هغه ته به ئې ښې لاس ورکولو او د دې ژمنه به ئې کوله چې تر آخرې سلګۍ به جنګېږي، د بيعت په پای کې رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل دواړه لاسونه سره ورکړل او دا ئې د عثمان رضى الله عنه بيعت وګڼلو، دا څه معمولي ژمنه او بيعت نه وو، دا له شك پرته سر په رغوي کې نيول او په واقعي معنى د خپل ژوند وقفولو بيعت وو، په هغو ظروفو او شرائطو کې له دښمن سره مقابله له دې پرته بل تعبير نه درلود چې ټول به وژل کېږي، د همدې بيعت په اړه په دې سوره کې راغلي چې الله تعالى له هغو راضي شو چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ئې د هغې وڼې لاندې بيعت وکړ، په بل ځای کې ئې راغلي: هغو چې له تاسره ئې بيعت کولو په حقيقت کې ئې له الله تعالى سره بيعت کولو؛ او د بيعت پر مهال د الله لاس د دوی د لاسونو له پاسه وو!! د قرآن له دغو ويناوو معلومېږي چې د الله تعالى په نزد کې د دې بيعت اهميت او ارزښت څومره لوړ وو!! دا بيعت د بيعت رضوان په نامه مشهور شو. وروسته دا خبره معلومه شوه چې عثمان رضى الله عنه نه دئ وژل شوی، لا زيات وخت نه وو تېر شوی چې په خپله راغی، ورپسې د قريشو يو هيئت د سهيل بن عمرو په مشرۍ کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته راغی، د پلاوي هڅه دا وه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې قانع کړي چې سږ کال له عمرې منصرف شي او په راتلونکي کال کې راشي، له کافي مرکو او جرګو وروسته په يوې داسي تاريخي معاهدې توافق وشو چې قرآن هغې ته د فتح مبين (څرګندي بريا) نوم ورکړ، د دې معاهدې بندونه دا وو:

تر لسو کلونو پورې به د قریشو او مسلمانانو تر منځ اور بند وي او هیڅ لوری به د بل په خلاف په پټه یا ښکاره توګه کوم خصمانه اقدام نه کوي.

په دې مودې کې که د قریشو کوم کس وتښتي او مسلمانانو ته پناه یوسي بېرته به قریشو ته مسترد کېږي، خو که له مسلمانانو څوک قریشو ته پناه یوسي دوی ته به نه مسترد کېږي.

د عربو هره قبیله کولی شي د دې معاهدې د کوم لوري حلیف شي.

محمد صلی الله علیه و سلم به سږ کال بېرته له عمرې پرته ستنېږي، بل کال به راځي، درې ورځې به په مکه کې تېروي په دې شرط چې د ده ملګري به له یوې یوې توري پرته بله وسله له ځان سره نه لري. په دغو دریو ورځو کې به د مکې استوګن مکه تخلیه کوي، دا د دې لپاره چې د احتمالي نښتو مخنیوی وشي، د مسلمانانو د بېرته ستنېدو په وخت کې به هغوی دا حق نه لري چې د مکې کوم کس له ځان سره بوځي.

د دې معاهدې د لاسلیك په وخت کې مسلمانان ډېر پرېشان او مضطرب ول، هر چا ته د هغو سترو سترو مصلحتونو او حکمتونو درك کول ګران وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم هغوی ته په پام سره دا معاهده ومنله، ډېرو داسې انګېرله چې په دې معاهدې کې قریشو ته زیات امتیازات منل شوي، په ځانګړې توګه دا بند ئې چې که په دې مودې کې د قریشو کوم کس وتښتي او مسلمانانو ته پناه یوسي بېرته به قریشو ته مسترد کېږي، خو که له مسلمانانو څوک قریشو ته پناه یوسي دوی ته به نه مسترد کېږي. مسلمانان له دې پلوه هم مضطرب ول چې د معاهدې یو بند د هغې رؤیا او خوب خلاف دئ چې د عمرې په اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم لیدلی، رسول الله صلی الله علیه و سلم د دغو دوو تشویشونو په اړه ویل: هغه څوك چې له قریشو موږ ته راځي او بېرته هغوی ته سپارل کېږي الله تعالی به د نجات بله لار ورته پرانیزي؛ او څوك چې له موږ دوی ته پناه وروړي هغه زموږ په کار نه دئ او ښه ده چې الله تعالی ئې له موږ بېل کړي؛ او د خوب په اړه ئې هغوی ته ویل: که دا رؤیا سږ کال تر سره نه شوه راتلونکي کال کې به تر سره شي، ما ته په خوب کې دا نه وو ویل شوي چې تاسو به سږ کال عمره کوئ، په دې مبارکي سورې کې هم د خوب په اړه ویل شوي چې الله تعالی هغه رښتینی کړ او تاسو به په ډاډ او اطمئنان سره مسجد الحرام ته داخل شئ:

لَّقَدۡ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءۡيَا بِٱلۡحَقِّۖ لَتَدۡخُلُنَّ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمۡ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَۖ فَعَلِمَ مَا لَمۡ تَعۡلَمُواْ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ

فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾ الفتح: ﴿٢٧﴾

يقيناً چې الله د خپل رسول حقيقي خوب رښتينی کړ، حتماً به مسجدالحرام ته په داسې حال کې خوندي او په امن سره ننوځئ چې (له عمرې وروسته به) خپل وېښتان يا خريئ يا لنډوئ، نه به وېرېږئ، نو په هغه څه پوه شوی چې تاسو پرې پوه نه ياست، تر دې وړاندې ئې بله نژدې بريا او فتح مقدره کړې.

نه يوازې عادي مسلمانان مضطرب ول بلکې د عمر رضی الله عنه په څېر د عميق او ژور نظر خاوندان هم مضطرب ول، هغه ابو بکر رضی الله عنه ته ورغی او ورته وئې ويل: آيا محمد صلی الله عليه و سلم د الله رسول نه دئ؟ آيا موږ مسلمانان نه يو؟ آيا دا قريش مشرکين نه دي؟ نو موږ څنګه د خپل حق دين په ارتباط داسې ذلت قبول کړو؟ هغه په ځواب کې ورته وويل: اې عمره! هغه د الله رسول دئ، الله به ئې هيڅکله ضائع نه کړي، خو عمر رضی الله عنه سره له دې صبر ونه کړی شو او همدا خبرې ئې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته وکړې او رسول الله صلی الله عليه و سلم همغه ځواب ورکړ چې ابو بکر رضی الله عنه ورکړی وو، عمر رضی الله عنه له خپل دې حرکت هومره پښېمان وو چې د ژوند تر پايه ئې په نوافلو او صدقاتو سره د جبران سعي کوله.

په همدې حالت کې يوه بله پېښه رامنځته شوه چې د مسلمانانو اضطراب او حساسيت ئې لازيات او د دوی جذبات ئې سخت وپارول، معاهده د ليکلو په حال کې او لا نه وه لاسليك شوې چې د قريشو د پلاوي د مشر سهيل زوی ابو جندل چې له وړاندې مسلمان شوی وو او قريشو هغه بندي کړی وو په داسې حال کې وتښتېدو چې زولنې او زنځيرونه ئې په لاسونو او پښو کې ول او پر بدن ئې د تعذيب نښې وې، ځان ئې د مسلمانانو خوا ته ورسولو؛ او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې په چيغو چيغو سره ويل: يا رسول الله! ما له دې حالته وژغوره، صحابه د ده د دردناك حالت په ليدو سره سخت وپاربدل، غوښتل ئې هغه ته پناه ورکړی شي او قريشو ته په هيڅ توګه ونه سپارل شي، خو د ده پلار وويل: که څه هم معاهده لا نه ده لاسليك شوې خو زموږ تر منځ پر دې توافق شوی چې داسې فراريان به موږ ته تسليموئ، رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغه استدلال قبول کړ او پرېکړه ئې وکړه چې ابو جندل خپل پلار ته وسپارل شي. د معاهدې له لاسليك وروسته رسول الله صلی الله عليه و سلم صحابه وو ته لارښوونه وکړه چې همدلته قرباني وکړي، د سر وېښتان وخريي يا لنډ کړي او له احرام ووځي، خو د مسلمانانو د خفګان او اضطراب حالت داسې وو چې هيڅوك له خپل ځای ونه خوځېدو، درې ځلي ئې دوی ته همدا لارښوونه وکړه خو بيا هم څوك ونه خوځېدو، د صحابه وو په

ټول ژوند کې له دې ورځې پرته هیڅکله داسې نه وو واقع شوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم دي دوی ته کوم امر وکړي او هغوی دي له ځنډ پرته هغه عملي نه کړي، رسول الله صلی الله علیه و سلم د خفګان حالت کې خپلې خیمې ته ولاړ، خپلې هوښیاري او عقلمني مېرمني ام سلمه ته ئې خپل خفګان څرګند کړ، ام المؤمنین ورته وویل: ته خپله قرباني وکړه او له احرام ووځه، کله چې صحابه پوه شي وروستۍ پرېکړه همدا ده او نه شي بدلېدلی، ټول به همدا کار کوي. همداسې وشول او ټول له احرام ووتل، خو زړونه له غم او اندېښنو ډک ول.

کله چې د حدیبیې له مصالحې وروسته رسول الله صلی الله علیه و سلم له خپلو یارانو سره د مدینې په لوري وخوځیدل په داسې حال کې چې ډېرو دي ته د یوې ماتې په سترګه کتل، د لاري په اوږدو کې او هغه مهال چې قافله ضَجنان یا په بل روایت کُراعُ الغمیم ته رسېدلې وه دا مبارکه سوره نازله شوه او په دې کې مسلمانانو ته اطمئنان ورکړی شو چې په حدیبیه کې ئې ستره او څرګنده بریا په برخه شوې، رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل غمجن یاران راغونډ کړل او وئې فرمایل: نن هغه سوره پر ما نازله شوه چې ما ته تر ټولې دنیا او څه چې په هغې کې دي غوره ده: "لَقَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيَّ اللَّيْلَةَ سُورَةٌ لَهِيَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ"؛ بیا ئې دا مبارکه سوره تلاوت کړه او په ځانګړې توګه عمر رضی الله عنه ئې وروغوښت او هغه ته ئې واوروله چې تر نورو زیات غمجن وو. مؤمنان د دې سورې په اورېدلو سره مطمئن شول، خو لنډه موده لا نه وه تېره شوې چې د دې معاهدې په زړه پورې او حیرانوونکي نتائج راڅرګند شول؛ او ټولو ته جوته شوه چې دا معاهده له شك پرته یوه ستره او تاریخي فتح وه، څوك چې د سیاسي مبارزې تجربه لري او له دښمن سره اوږدو نښتو ته اړ شوی وي ډېر ژر او په آسانۍ سره قضاوت کولی شي چې دا معاهده د مسلمانانو لپاره د عزت او بریا ستر او تاریخي سند وو، زه له دښمن سره داسې معاهدې ته تل چمتو یم او هغې ته به د ستري فتحې په سترګه ګورم، په دې معاهدې کې مسلمانانو له دې پرته چې عمره ئې یو کال وځنډېده هیڅ څه له لاسه نه دي ورکړي، خو په بدل کې ئې دا امتیازات تر لاسه کړي:

دښمن رسماً ، په لیکلې توګه او د یوې معاهدې په ترڅ کې ومنل چې اسلام د سیمې یو بل منل شوی دین دئ او مسلمانان د دې حق لري چې د خپل دین له لارښوونو سره سم په مکه کې چې د دښمن پلازمېنه وه خپل دیني مراسم اداء کړي، تر دې وړاندې مسلمانانو ته له پلرني دین د باغیانو په سترګه کتل کېدل او اسلام د عربو د منل شوو باورونو خلاف مذهب! هیڅا ته دا اجازه نه ورکول کېده چې د مسلمان په نامه د کعبې

طواف وکړي او د حج او عمرې مراسم اداء کړي.

مدینه د ښار او مستقل ریاست په توګه وپېژندل شوه او ټولو عربو قبائلو ته دا حق ورکړی شو چې کوئ شي د قریشو او مسلمانانو له منځ یو غوره کړي او حلیف ئې شي.

دښمن دا ژمنه وکړه چې تر لسو کلونو پورې به د مسلمانانو په ضد له جنګي اقداماتو ډډه کوي، د اوربند لس کلني معاهدې مسلمانانو ته دا فرصت ورکولو چې خپله ټوله توجه د دعوت لورې ته واړوي، دا د مسلمانانو لپاره ستره لاسته راوړنه وه، د قریشو او مسلمانانو تر منځ جګړه له دې کبله پیل شوې وه چې قریشو اسلامي دعوت ته د خپلې واکمنۍ لپاره د یوه ستر ګواښ په سترګه کتل، له مقابلې ئې عاجز ول، عقلمن، له خرافاتو متنفر، عدالت غوښتونکي، د ظلم مخالفین، د یوه عادلانه نظام او صحیح دین او مذهب لټوونکي ئې له دوی ښېلول او دې لرې د دوی سیاسي، اجتماعي او مذهبي قیادت او زعامت له خطر سره مخامخ کړی وو، د مخکیني سیاسي او اجتماعي وضعیت او د زاړه او له خرافاتو ډک مذهب د بقاء لپاره ئې له دې پرته بله چاره نه موندله چې د مسلمانانو په ضد د تشدد تګلاره غوره کړي او وسلې ته لاس کړي، د دې معاهدې له مخې قریش له خپلې وروستۍ حربې او وسلې خلع شول او د مسلمانانو په وړاندې ستر خنډ له منځه ولاړ، له جنګ او تشدد پرته د عربو هیڅ ځواک د مسلمانانو مقابله نه شوی کوئ او د دوی د سریع پرمختګ مخه ئې نه شوی نیولی، دا حقیقت له دې معلومولی شو چې د حدیبیې له معاهدې وروسته په دوو کلونو کې دومره خلکو اسلام ته مخه کړه چې په تېرو نولسو کلونو کې دومره خلك نه وو مسلمانان شوي، د حدیبیې په سفر کې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ځوارلس سوه کسان ول خو دوه کاله وروسته او هغه مهال چې قریشو معاهده تر پښو لاندې کړه او خبره نښتي ته ورسېده، تر لس زره زیات سرتېري له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره یو ځای مکې ته داخل شول.

له نظامي پلوه هم دې معاهدې د ډېرو نورو فتوحاتو لار د مسلمانانو په وړاندې پرانیستله، د قریشو له لورې د جګړو توقف مسلمانانو ته دا فرصت ورکړ چې له نورو دښمنانو سره خپل حسابونه په آسانۍ تصفیه کړي، لا له معاهدې درې میاشتي نه وې تېرې شوې چې د یهودانو ستره اډه خیبر او ورپسې فدك، وادي القری، تَیما او تبوك فتح شول، بیا د حجاز د مرکزي سیمو مېشت عرب قبائل د مسلمانانو په وړاندې تسلیم شول، لا دوه کاله نه وو بشپړ شوي چې په ټولې سیمې کې د قواوو توازن په داسي توګه بدل شو چې مسلمانان د یوه فاتح او ځواکمن لوري په توګه راڅرګند شول. او دا ټول د همدغي معاهدې نتائج ول چې الله تعالی د فتح مبین نوم ورکړ، په داسي حال کې چې ډېرو ته هغه

د منلو وړ نه برېښېده!!

د معاهدې دا بند چې مسلمانان به د قریشو فراریان تسلیموي خو قریش به د دوی د فراریانو په تسلیمولو مکلف نه وي، هغه څه چې مسلمانانو ته تر نورو بندونو زیات د منلو وړ نه برېښېدو؛ لنډه موده لا نه وه تېره شوې چې معلومه شوه دې بند قریشو ته نه یوازې کومه ګټه ونه رسوله بلکې ډېري ستونزې ئې ورته راولاړې کړې، له صلحې څو ورځې وروسته د مکې یو مسلمان د ابو بصیر رضی الله عنه په نامه د قریشو له زندان وتښتېدو او مدینې ته ئې پناه یووړه، قریشو د هغه د بېرته ستنولو لپاره یو پلاوی مدینې ته ولېږو او د هغه د استرداد مطالبه ئې وکړه، رسول الله صلی الله علیه و سلم معاهدې ته د درناوي په حکم پلاوي ته وسپارو، خو هغه د لارې په اوږدو کې له ساتونکو وتښتېدو او د بحر احمر خوا ته په داسې ځای کې مېشت شو چې د قریشو تجارتي قافلو لار ترې تېره شوې وه، همدلته ئې مضبوط سنګر جوړ کړ، دا سنګر د ټولو هغو فراریانو لپاره پناه ځی شو چې له قریشو به تښتېدل او مدینې ته د تګ پر ځای به د ابو بصیر رضی الله عنه خوا ته تلل، په لنډ وخت کې د دوی شمېر اویاوو ته ورسېدو، د قریشو پر قافلو به ئې بریدونه کول، قریش دومره ترې تنګ شول چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې وغوښتل چې دوی مدینې ته وروغواړي او د معاهدې اړوند بند لغو شي!!

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴿١﴾ لِّيَغْفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢﴾ وَيَنصُرَكَ ٱللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا ﴿٣﴾

۱- یقیناً چې موږ څرګنده فتح درپه برخه کړه، ۲- داسې چې الله تا ته ستا هغه ګناهونه هم وبخښي چې تېر شوي او هغه هم چې وروسته شوي؛ او خپل نعمت دربانديې بشپړ کړي او مستقیمه لار دروښيي. ۳- او په ځواکمني او عزتمني مرستي سره ستا ملاتړ وکړي.

(۱-۳)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- **د حدیبې معاهدې ته د څرګندې فتحې نوم ورکړی شوی او دا په داسې حال کې چې**

ډېرو دې ته د ماتې او د دښمن شرائطو ته د تسلیمېدو په سترګه کتل!! په روایاتو کې راځي چې یو کس رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغی او وئې ویل: آیا دا فتح ده؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: هو؛ په الله قسم چې دا فتح ده، رسول الله صلی الله علیه و سلم د خیبر غنائم پر هغو مجاهدینو ووېشل چې د حدیبیې په سفر کې ئې برخه اخیستې وه، بل څوک ئې په دې کې شریك نه کړ؛ او دا ځکه چې د خیبر فتح هم د حدیبیې د معاهدې یوه نتیجه وه، دغې معاهدې د خیبر فتحې ته لار آواره کړه، روایت دا دئ: فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَفَتْحٌ هُوَ؟ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهُ لَفَتْحٌ، فَقُسِمَتْ خَيْبَرُ عَلَى أَهْلِ الْحُدَيْبِيَةِ لَمْ يُدْخِلْ مَعَهُمْ فِيهَا أَحَدًا إِلَّا مَنْ شَهِدَ الْحُدَيْبِيَةَ . ابن ابي شيبه

- د آیتونو له فحوی په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د الهي معیارونو له مخې حقیقي بریا او فتح یوازې دا نه ده چې څوك پر خپل دښمن له نظامي پلوه بریا او برلاسی تر لاسه کړي، بلکې تر دې وړاندې نورې لاسته راوړنې داسې دي چې تر دې فتحې ئې ارزښت او اهمیت ډېر زیات دئ؛ او هغه دا چې الله تعالی تا ته ستا هغه ګناهونه هم وبخښي چې تېر شوي او هغه هم چې وروسته شوي، د الله تعالی د پېرزوینو او نعمتونو تر لاسه کولو وړتیا دې په برخه شي او ستا منعم رب خپل نعمت درباندې بشپړ کړي، مستقیمه لار دروښیي او په ځواکمني او عزتمني مرستې سره ستا ملاتړ وکړي.
- په آیتونو کې داسې نه دي ویل شوي چې الله تا ته ستا مخکینې او وروستني ګناهونه وبخښل بلکې ویل شوي چې الله تا ته څرګنده فتح درپه برخه کړه د دې لپاره چې ستا مخکینې او وروستني ګناهونه دروبخښي، خپل نعمت درباندې بشپړ کړي، مستقیمه لار دروښیي او په ځواکمني او عزتمني مرستې سره ستا ملاتړ وکړي؛ او دا ښیي چې اصلي بریا دغه ده، نه یوازې نظامي برلاسی.
- دا چې ولې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د ذنب نسبت شوی د دې تفصیل د محمد د سورې د ۱۹ آیت په تفسیر کې وګورئ.

هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِى قُلُوبِ ٱلْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوٓاْ إِيمَٰنًا مَّعَ إِيمَٰنِهِمْ ۗ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٤﴾

٤- دی هغه ذات دئ چې د مؤمنانو په زړونو کې ئې سکینه نازله کړه، چې خپل ایمان په نور ایمان سره زیات کړي او د آسمانونو او زمکې ټولې لښکري د الله دي او الله باحکمت پوه دئ.

---

(٤)- دا مبارك آيت وايي:

- الله تعالى د مؤمنانو په زړونو کې سکينه نازله کړه، دوی ته ئې دا سعادت ورپه برخه کړ چې خپل ايمان په نور ايمان سره زيات کړي، په دې سره هغې سکينې او ډاډ ته اشاره شوې چې د عمرې د اداء کولو په موخه له مدينې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ملګرتيا کې د وتلو پر مهال د دوی په برخه شوه، د دې پروا ئې ونه کړه چې د زوړ او کېنه کښ دښمن تر ولکې لاندې مکې ته له کافي جنګي وسائلو پرته ننوځي، په داسې سفر درومي چې منافقينو له ځان وژنې سره مترادف ګڼلو او ويل ئې چې هيڅکله به روغ رمټ خپلو کورونو ته راستانه نه شي، دغه د زړه ډاډ او سکون په دې منتج شو چې الله د دوی ايمان لازيات سمسور، مضبوط او پياوړی کړي.
- دې سفر او پايلو ئې وښوده چې د آسمانونو او زمکې ټولې لښکري د الله تعالى دي او د الله تعالى هره لارښوونه او پرېکړه د حکمت او علم له مخې ده او په هغې کې حکمتونه مضمر وي. ټول هغه څه د الله تعالى په واك کې دي چې خلك ئې په جګړو کې د فوځونو په توګه کاروي، دا فوځونه د الله تعالى د خوښې او رضاء خلاف هيڅ څه نه شي کولى، د عالم هر څه داسې دي لکه د الله تعالى د فوځ يو مطيع جندي او سپاهي، همغه څه کوي چې دى ئې د کولو امر ورته وکړي؛ او دا ټول ځکه چې الله تعالى باحکمت پوه ذات دئ. تاسو وليدل چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوې رؤيا ئې څومره ستر ستر نتائج مرتب کړل!!

لِّيُدۡخِلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَيُكَفِّرَ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عِندَ ٱللَّهِ فَوۡزًا عَظِيمٗا ٥ وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوۡءِۚ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۖ وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَلَعَنَهُمۡ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرٗا ٦

٥- د دې لپاره چې مؤمنان او مؤمناني هغو جنتونو ته داخل کړي چې ترې لاندې ويالې بهېږي، تلپاتې په هغه کې؛ او سيئات ترې وپوښي؛ او همدا د الله په نزد کې ستره بريا ده، ٦- او د دې لپاره چې هغه منافقين او منافقاني او مشرکين او مشرکاني تعذيب کړي چې د الله په اړه بدګماني کوونکي دي، بده راچورلېدا پر دوی ده؛ او الله

دوی په خپل غضب اخته کړي او دوی ئې رټلي او جهنم ئې ورته تیار کړی، د ورتګ څومره بد ټاټوبی!!

(٥-٦)-د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- دغه تاریخي سفر او اړوند پېښې ئې د دې باعث شو چې مؤمنان او مؤمناني د هغو جنتونو مستحق وګڼل شي چې ترې لاندې ویالې بهېږي، د جنت تلپاتې ژوند به ئې په برخه شي، د همدې پېښو په لړو ژورو کې د دوی روزنه وشي، هغه ناوړه خصلتونه او بدغوني عادتونه ئې له منځه یوسي چې د دوی او جنت تر منځ حائل کېږي، د الله تعالی په نزد کې او د الهي معیارونو له مخې ستره بریا همدا ده.
- د پنځم آیت له الفاظو معلومېږي چې په دې سفر کې ځېنو مؤمنو مېرمنو هم برخه اخیستې وه چې ام المؤمنین ام سلمه رضی الله عنها ئې یوه بېلګه وه؛ نو ځکه د دوی یادونه په مستقله توګه شوې، هسې هم مېرمني په داسې کارونو کې له نارینه وو سره برابري شریکې وي، دوی د خپل پلار، زوی، ورور او خاوند له شرکت سره موافقه کوي، هغوی هڅوي، د نتائجو پروا نه کوي، د خپلوانو شهادتونه او جراحتونه زغمي او صبر پرې کوي، که د مور او مېرمني ترغیب او تشویق نه وي ډېر لږ کسان به جهاد ته چمتو شي او د هغوی د مخالفت په صورت کې خو یوازي د ګوتو په شمېر باهمته او توریالي مجاهدین جهاد ته زړه ښه کوي او خطرناکو سفرونو ته ملاتړي.
- د دې سفر او اړوند پېښو یوه بله موخه دا وه چې الله تعالی غوښتل هغه منافقین او منافقاني او مشرکین او مشرکاني تعذیب کړي چې د الله تعالی په اړه ئې بد بد ګمانونه کول، دا بدګماني ئې درلوده چې الله تعالی به د مؤمنانو مرسته ونه کړي، هغه الهي وعدې به رښتینې نه شي چې مسلمانانو د هغوی په هیله او طمع دې خطرناک سفر ته ملا تړلې وه، داسې ئې انګېرله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم او د سفر ملګري به ئې له بدو پېښو سره مخامخ شي، روغ رمټ به مدینې ته راستانه نه شي، خو د دوی د انګېرنو خلاف د حق او حقپالو دښمنان له بدو پېښو سره مخامخ شول، هغه د الله په غضب او لعنت اخته او د جنهم مستحق شول چې د الله تعالی او د الهي وعدو په اړه ئې بد بد ګمانونه کول.

وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٧﴾

۷- او د آسمانونو او زمکې ټولې لښکري د الله دي او الله باحکمت عزتمن دئ.

(۷)- دلته یو ځل بیا ویل شوي چې د آسمانونو او زمکې ټولې لښکري د الله دي او الله

باحکمت عزټمن دئ. په څلورم آیت کې د مؤمنانو د یادونې تر څنګ او دلته د منافقینو او مشرکینو د یادونې تر څنګ، مؤمنانو ته هغه د زړه ډاډ او سکون له دې کبله ورپه برخه شوی وو چې په دغه حقیقت ئې د زړه له کومې باور درلود چې د آسمانونو او زمکې ټولې لښکري د الله دي او منافقینو او مشرکینو ځکه دا سفر او پایلې ئې خطرناکې ګڼلې چې پر دغه حقیقت ئې باور نه وو.

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٨ لِّتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُۚ وَتُسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ٩

۸- یقیناً چې ته مو د شاهد، زېرى ورکوونکي او انذاروونکي په توګه لېږلی یې، ۹- چې پر الله او د هغه پر رسول ایمان راوړئ، ملتیا ئې وکړئ، درناوی ئې وکړئ؛ او سبا او ماښام د ده تسبیح ووایئ.

(۸-۹)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې ته د الله تعالی له لورې د شاهد، زېرى ورکوونکي او انذاروونکي په توګه لېږل شوی یې، شاهد یعني دا چې د حق او باطل په اړه د ده قول او عمل د ګواه حیثیت لري، د ده له وینا او دریځ معلومېږي چې حق څه دئ او باطل څه، د چا وینا او کړنه د الهي معیارونو او لارښوونو مطابق ده او د چا مغایر، څوک په سمه لار روان دئ او څوک په کږې لار، یوه ته په دنیا او آخرت کې د سعادت او فلاح زېرى ورکوي او بل د خپلو غلطو تګلارو له بدو پایلو وېروي.
- د قرآن مخاطبینو ته ویل شوي چې د پیغمبر د بعثت موخه دا ده چې: پر الله او د هغه پر رسول ایمان راوړئ، د الله او د هغه د دین ملتیا وکړئ، د خپل رب درناوی وکړئ؛ او سبا او ماښام د ده تسبیح ووایئ.

دې ته مو پام وي چې ځینو درنو مفسرینو د (وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُۚ) الفاظ داسي تعبیر کړي چې ګواکې دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته اشاره شوې او له مؤمنانو غوښتل شوي چې د هغه ملتیا وکړئ او د هغه درناوی وکړئ، دا تعبیر نه یوازې صحیح نه دئ بلکې د آیت له سیاق او نظم سره قطعاً اړخ نه لګوي، په (وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُۚ وَتُسَبِّحُوهُ) کې ضمیر الله ته راجع دئ، ځینې ئې الله ته او ځینې ئې رسول الله ته راجع کول نه یوازې کومه معقوله توجیه نه لري بلکې تشتت او بې نظمي رامنځته کوي او د آیت ادبي ښکلا او نظم ته صدمه رسوي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوۡقَ أَيۡدِيهِمۡۚ فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيۡهُ ٱللَّهَ فَسَيُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمَۢا ١٠

۱۰- بېشکه هغه چې له تا سره بیعت کوي په حقیقت کې له الله سره بیعت کوي، د الله تعالی لاس د دوی پر لاسونو د بره دئ؛ او څوك چې (خپل بیعت) مات کړي نو یوازي د ځان په تاوان ئې ماتوي؛ او څوك چې هغه څه بشپړ کړي چې له الله سره ئې پرې ژمنه کړې نو ژر به ستر اجر ورکړي.

---

(۱۰)- د دې مبارك آیت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- له دې آیت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د حدیبیې په سفر کې یو بیعت تر سره شوی، همغسي لکه چې په روایاتو کې راغلي او د سورې په مقدمه کې ورته اشاره وشوه.
- الله تعالی دې بیعت ته زښت زیات ارزښت ورکړی دومره چې هغه ئې داسې ګڼلی لکه الله تعالی ته لاس ورکول او مخامخ بیعت ورسره کول!! مؤمنانو ته ئې ویلي له پیغمبر علیه السلام سره ستاسو بیعت په حقیقت کې له الله سره بیعت دئ، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د بیعت لاس ورکول داسې دي لکه چې تاسو خپل لاس د الله تعالی تر بلاکیف لاس لاندې اېښی وي.
- څوك چې له الله تعالی سره خپل بیعت مات کړي نو په دې سره یوازي ځان ته تاوان رسوي او څوك چې له الله تعالی سره خپل بیعت بشپړ کړي او پر خپلې ژمنې وفا وکړي نو الله تعالی به حتماً او ژر په دنیا او آخرت کې ستر اجر ورکړي.

دې ته مو پام وي چې د (وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيۡهُ ٱللَّهَ) په ترکیب کې د عربي ژبې د یوې عامي قاعدې خلاف د (علیه) هې ته د زېر پر ځای پېش ورکړی شوی، په بل قرائت کې (علیهِ) راغلي، هغو چې (علیهُ) ته ئې ترجیح ورکړې وایي: دلته (هاء) د (هو) مخفف دئ، که د (علی) په څېر د جر آله پرې رانه شي او په خپلې اصلي بڼې کې تلفظ شي نو په پېش سره تلفظ کېږي، دلته ځکه په خپلې اصلي بڼې کې پرېښودل شوې چې همدا په خپل عهد کې بدلون نه راوستلو او په خپلې ژمنې وفا کولو سره مناسب برېښي.

دلته یوه بل مطلب ته هم اشاره کول ګټور برېښي: اهل ظاهر د لسم آیت دا فقره (يَدُ ٱللَّهِ فَوۡقَ أَيۡدِيهِمۡۚ: د الله لاس د دوی د لاس له پاسه وو) له جدي ستونزې سره مخامخ

کوي، دوی د الله تعالی په اړه د (ید: لاس) په څېر راغلي الفاظ په اصلي معنی تعبیروي، دلته نه شي کولی دا ادعاء وکړي چې د هغه بیعت پر مهال واقعاً او په حقیقي معنی د الله لاس د دوی د لاس له پاسه وو، دې ته اړ کېږي چې تأویل ته پناه یوسي او ووایي: څرنګه چې الله تعالی د آسمانونو د پاسه پر خپل عرش دئ، نو لاس ئې هم د هغو د لاسونو د پاسه وو چې له رسول صلی الله علیه وسلم سره ئې بیعت کولو!! دوی ته وایو: که د (یدالله فوق ایدیهم) په اړه دا تعبیر درسره ومنو نو بیا د دې بیعت رضوان فضیلت او امتیاز له نورو بیعتونو په څه کې وو؟ ځکه ستاسو د تعبیر له مخې په هر بیعت کې د الله تعالی لاس د بیعت کوونکو د لاسونو له پاسه وي!! پداسي حال کې چې دلته (یدالله فوق ایدیهم) د دې لپاره ویل شوي چې د بیعت رضوان فضیلت او امتیاز افاده کړي!! ولې دلته همغه خبره نه کوئ چې د دې آیت په اړه ئې کوئ: (مَا مَنَعَكَ أَن تَسجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَی)؟ دلته خو وایئ: (خلقت بیدي) د آدم علیه السلام د خلقت امتیاز او فضیلت افاده کوي او ښیي چې الله تعالی آدم علیه السلام په خپل لاس مخامخ بې واسطې پیدا کړی؛ او ګواکې دا الله تعالی ته د (ید) صفت ثابتوي!! دلته هم باید ووایئ چې (ید الله فوق ایدیهم) د دې بیعت د امتیاز او فضیلت د افادي لپاره راغلی او په حقیقي معنی نه مجازي معنی د الله ید د دوی د ید له پاسه وو!! هغه چې (ید) په ظاهري او حقیقي معنی تعبیروي او په دې سره الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوي؛ او د مخلوقاتو په څېر غړي او جوارح ورته ثابتوي؛ سخت تېروتې، الله تعالی نه په ذات کې مخلوق ته ورته دئ او نه په صفاتو او افعالو کې. صحیح تعبیر دا دئ چې الله تعالی دې بیعت ته خاص ارزښت او امتیاز ورکړی، د دې بیعت پر مهال د الله ید د مؤمنانو د ید له پاسه وو؛ او دا هغه څه دي چې قرآن ئې وایي، خو نه الله تعالی د انسان په څېر لاس لري او نه دا اېښودل داسي وو لکه انسان چې د نورو انسانانو د لاس له پاسه خپل لاس ږدي، دلته لاس او اېښودل ئې په مجازي معنی راغلي، په حقیقي معنی ئې له الله تعالی پرته هیڅوک نه پوهېږي او دا همغه څه دي چې قرآن ویلي: و ما یعلم تأویله الا الله: او په تأویل ئې له الله پرته هیڅوک نه پوهېږي.

دا هم د یادولو وړ ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم لکه څنګه چې په دې سفر کې له خپلو یارانو بیعت واخیست؛ په ډېرو نورو مواردو کې ئې هم له هغوی بیعتونه اخیستي، لکه چې په دې روایت کې ئې یوه بېلګه مومو:

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ صلی الله علیه و سلم عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ وَأَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَأَنْ لاَ نُنَازِعَ الأَمْرَ أَهْلَهُ وَنَقُولَ الْحَقَّ

حَيْثُ مَا كُنَّا لاَ نَخَافُ فِي اللهِ لَوْمَةَ لاَئِمٍ. رواه مسلم

له عباده بن صامت روايت دئ چې وئې ويل: موږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په دې بيعت وکړ چې واورو او اطاعت وکړو، په سختۍ، آسانۍ، هلته چې زړه مو غواړي او هلته چې زړه مو نه غواړي، په هغه حالت کې هم چې پر موږ بل ته ترجيح ورکړي، په دې چې له چارو له اهل سره نزاع نه کوو، په دې چې چېرې وو حق به وايو او د الله په لار کې به د هيڅ ملامتوونکي له ملامتولو وېره نه لرو.

سَيَقُولُ لَكَ ٱلْمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ أَمْوَٰلُنَا وَأَهْلُونَا فَٱسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ ۚ قُلْ فَمَن يَمْلِكُ لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا إِنْ أَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ۚ بَلْ كَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١١﴾ بَلْ ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ وَٱلْمُؤْمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا وَزُيِّنَ ذَٰلِكَ فِي قُلُوبِكُمْ وَظَنَنتُمْ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ وَكُنتُمْ قَوْمًۢا بُورًا ﴿١٢﴾ وَمَن لَّمْ يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ فَإِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَعِيرًا ﴿١٣﴾

١١- وروسته پاته کړی شوي کوچيان به هرو مرو تا ته وايي: خپل مال او عيال مشغول کړو، په خپلو ژبو هغه څه وايي چې په زړونو کې ئې نشته، ورته ووايه: نو هغه څوك دئ چې د الله له لوري تاسو ته د څه واکمن وي، که هغه د ضرر اراده درته وکړي يا د کومې ګټې اراده، داسې نده بلکې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ، ١٢- بلکې تاسو ګمان وکړ چې پيغمبر او مؤمنان به هيڅکله خپلو خپلوانو ته (روغ رمټ) راونه ګرځي، همدې (تصور) ستاسو په زړونو کې ښايست وموند او بدګماني مو وکړه؛ او تاسو بې خيره وګړي ياست. ١٣- او څوك چې پر خداى او د ده پر رسول ايمان رانه وړي نو موږ دغو کافرانو ته لمبې تياري کړې.

(١١-١٣)- د دې مبارکو آيتونو هدايات دا دي:

- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې مدينې ته له ستنېدو وروسته به هغه کوچيان حتماً ستا خوا ته راځي او تا ته به وايي: موږ خپلو مالي مشکلاتو او کورنيو لانجو مشغول کړو او په دې بختور سفر کې ئې له برخي اخيستو محروم کړو، موږ ته له الله تعالى مغفرت وغواړه. د دوى دا وينا هسې د ژبې وينا ده؛ په زړونو کې نور څه لري.

- له دې آیت معلومېږي چې د مدینې شا وخوا کوچیانو ته هم بلنه ورکړی شوې وه چې په هغه سفر کې برخه واخلي خو ځینو ډډه کړې.
- د آیت له دې فقرې (سَيَقُولُ لَكَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ) په وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره د حدیبیې له معاهدې وروسته او مدینې ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر رارسېدو وړاندې او د لارې په اوږدو کې نازله شوې، همغسې لکه چې په روایاتو کې راغلي او د سورې په مقدمه کې ورته اشاره وشوه.
- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې هغوی ته ووایي: هغه به څوک وي چې د الله تعالی په وړاندې تاسو ته د داسې څه خاوند وي چې که الله تعالی د کوم تاوان یا ګټې اراده درته وکړي نو هغه ئې مخنیوی وکړی شي؟!! که تاسو په خپل کور کې او د خپل مال عیال څارنه کوئ او الله تعالی په همدې وخت کې ستاسو لپاره د کوم تاوان اراده وکړي څوک ئې مخنیوی کولی شي او که تاسو په جهاد کې برخه واخلئ او خپل مال او عیال خدای ته حواله کړئ او په همدې وخت کې خدای تاسو ته د کومې ګټې اراده وکړي څوک ئې مخنیوی کولی شي؟ ستا حضور او غیاب د الله کومه پرېکړه بدلولی یا ځنډولی شي؟!! په کور کې ستا شته والی د الله له لوري ټاکلی ضرر نه شي دفع کولی او نه ستا غیابت د ټاکلې ګټې د ځنډېدو باعث کېدی شي
- د دغو وروسته پاتو خبرې هسې د خولې خبرې دي، نه ئې مالي او کورنۍ ستونزې درلودې او نه په دې خطرناک سفر کې له برخې نه اخیستو نادم دي او نه له زړه د بخښنې او مغفرت تلوسه لري.
- داسې نده بلکې الله ستاسو په کړنو ښه خبر دئ، ښه پوهېږي چې تاسو څه کول او ستاسو د دغو کړنو لاملونه څه وو.
- بلکې تاسو ګمان وکړ چې پیغمبر او مؤمنان به هیڅکله خپلو خپلوانو ته (روغ رمټ) راونه ګرځي، دې تصور ستاسو زړونو کې ښایست وموند او بدګماني مو وکړه؛ او تاسو بې خیره وګړي یاست. په حقیقت کې تاسو داسې ګمان کولو چې پیغمبر علیه السلام او ملګري به ئې هیڅکله له دې خطرناک سفر روغ رمټ راونه ګرځي، دغه بدګماني پدې سفر کې له برخې اخیستو په شا کړئ.
- په دې سفر تلونکي نه بلکې تاسو د تباهۍ کندې ته په لوېدو وئ، ستاسو لار او دریځ د تباهۍ موجب وو نه د هغو کسانو چې خپل هرڅه ئې خپل رب ته حواله کړي او د دښمن د مقابلې لپاره ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم ملګرتیا کړې.
- څوک چې پر خدای او د ده پر رسول ایمان رانه وړي نو الله تعالی دغو کافرانو ته لمبې

تياري کړې، څوك چې له دښمن سره د مقابلې په حساس پړاو کې پر خداى او پيغمبر باندې د ايمان له غوښتنو سره سم عمل ونه کړي، په جهاد کې برخه وانخلي او هغه څه وکړي چې يوازې له کافر ځې انتظار کېدى شي داسې کافرانو ته الله تعالى د جهنم د اور لمبې تياري کړې.

وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٤﴾

١٤- او د آسمانونو او زمکې ټولواکي د الله ده، چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او څوك چې وغواړي په عذاب ځې اخته کوي، په داسې حال کې چې الله مهربان بخښونکى دئ.

(١٤)- په دې مبارك آيت سره مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې ستاسو معامله د آسمانونو او زمکې ټولواك رب سره ده، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې د انسان کړنو ته په پام سره چا ته بخښنه وکړي او څوك په عذاب اخته کړي، په داسې حال کې چې هغه مهربان بخښونکى دئ، نو په دې موخه د بل چا د راضي کولو لټه مه کوئ چې تاسو وبخښي يا مو له سزا وژغوري.

سَيَقُولُ ٱلْمُخَلَّفُونَ إِذَا ٱنطَلَقْتُمْ إِلَىٰ مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ ۖ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا۟ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ۚ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَٰلِكُمْ قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبْلُ ۖ فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا ۚ بَلْ كَانُوا۟ لَا يَفْقَهُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٥﴾ قُل لِّلْمُخَلَّفِينَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ إِلَىٰ قَوْمٍ أُو۟لِى بَأْسٍ شَدِيدٍ تُقَٰتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ ۖ فَإِن تُطِيعُوا۟ يُؤْتِكُمُ ٱللَّهُ أَجْرًا حَسَنًا ۖ وَإِن تَتَوَلَّوْا۟ كَمَا تَوَلَّيْتُم مِّن قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦﴾

١٥- هغه مهال چې تاسو د ځينو غنائمو په لوري خوځېږئ چې تر لاسه ځې کړئ؛ حتماً به وروسته پاته کړى شوي درته وايي: موږ پرېږدئ چې درپسې شو، غواړي د الله پرېکړه بدله کړي، ووايه: هيڅکله به زموږ متابعت ونه کړئ، الله لا له وړاندي همداسې ويلي، نو حتماً به وايي: بلکې له موږ سره حسد کوئ، نه؛ بلکې دوى نه

پوهېږي مګر لږ، ١٦- د کوچيانو وروسته پاته کړی شوو ته ووايه: د داسي قوم لوري ته به وبلل شئ چي کلك جګړمار دي؛ د دې لپاره چې يا ورسره وجنګېږئ يا مسلمان شي، نو که مو اطاعت وکړ؛ الله به غوره بدله درکړي او که مو داسي اعراض وکړ لکه چې تر دې وړاندي مو اعراض کړی وو؛ په دردوونکي عذاب سره به تاسو تعذيب کړي.

(١٥-١٦)- د دې مبارکو آيتونو مهم مهم مطالب دا دي:

- مؤمنانو ته اطمئنان ورکړی شوی چې ډېر ژر به داسي حالت راشي چې تاسو به د ځينو غنائمو تر لاسه کولو لپاره خوځېږئ، داسي غزا ته به وځئ چې په هغې کې بريا او غنائم تر لاسه کول يقيني او حتمي برېښي، هغه مهال به دا وروسته پاته کړی شوي تاسو ته وايي: موږ پرېږدئ چې درپسې شو، پرون تاسو بللي ول او دوی اعراض وکړ، سبا به دوی غوښتنه کوي چې درسره ولاړ شي خو تاسو به ورته وايئ: هيڅکله به زموږ متابعت ونه کړئ، الله لا له وړاندي همداسي فرمايلي، دوی به په ځواب کې وايي: خدای داسي نه دي ويلي؛ بلکې تاسو په خپله نه غواړئ په غنائمو کې درسره شريك شو، د خپل حسد له مخي موږ ته د ملګرتيا اجازه نه راکوئ!! الله تعالی د دوی د دې غلطي وينا په ځواب کې فرمايي: نه؛ داسي نه ده لکه چې دوی ئې وايي؛ بلکې د دوی پوهه لږه ده، په دې نه پوهېږي چې مخلص مؤمنان د غنائمو لپاره نه جنګېږي، که داسي وی نو په هغه خطرناك سفر کې به ئې د رسول الله صلی الله عليه و سلم ملګرتيا نه وه کړې.
- رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې وروسته پاته کړی شوو ته ووايي: د داسي آساني غزا پر ځای چې د بري او غنائمو احتمال ئې څرګند وي؛ د داسي قوم لوري ته به وبلل شئ چې کلك جګړمار دي؛ د دې لپاره چې يا ورسره وجنګېږئ يا تسليم شي، نو که هغه مهال مو اطاعت وکړ؛ الله به غوره بدله درکړي او که مو داسي اعراض وکړ لکه چې تر دې وړاندي مو اعراض کړی وو؛ په دردوونکي عذاب سره به تاسو تعذيب کړي.
- له دې مبارکو آيتونو دا هم معلومېږي چې د حديبيې له معاهدې وروسته به مسلمانان ځيني آساني جګړې په مخ کې لري او ځيني درنې او سختي، په ځينو کې به دا مخلفين هم د ګډون تلوسه لري او دا به ئې زړه غواړي چې وړيا غنائم تر لاسه کړي.
- دې ته مو پام وي چې په (يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُواْ كَلَٰمَ ٱللَّهِۚ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَٰلِكُمۡ قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبۡلُۖ) کې د کلام الله مراد همغه الهي پرېکړه ده چې ورپسې راغلې (قل لن تتبعونا) او د (كذالكم قال الله من قبل) مراد دا دئ چې مؤمنان به دغه حکم چې له منافقينو سره له مخامخېدو وړاندي نازل شوی هغوی ته اوروي.

لَّيْسَ عَلَى ٱلْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْمَرِيضِ حَرَجٌ ۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۖ وَمَن يَتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٧﴾

۱۷- نه پر ړانده کومه ګناه شته، نه پر ګوډ کومه ګناه شته او نه پر ناروغ کومه ګناه شته؛ او څوک چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي داسي جنتونو ته به ئې داخل کړي چې ترې لاندې ویالې بهېږي؛ او څوک چې اعراض وکړي په دردونکي عذاب سره به ئې تعذیب کړي.

(۱۷)- دا مبارك آیت هغه کس معذور ګڼي چې ړوند، ګوډ یا ناروغ وي، یا دې ته ورته داسي مریضي ولري چې په جهاد کې برخه اخیستل ورته ګران کړي، پردوی کومه ګناه او الزام نشته، څوك چې د ژوند په ټولو چارو کې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي، د الله په لار کې له جهاد په داسي حال کې ډډه ونه کړي چې شرعي عذر ونه لري، الله تعالی به ئې داسي جنتونو ته داخل کړي چې ترې لاندې ویالې بهېږي؛ او څوك چې اعراض وکړي په دردونکي عذاب سره به ئې تعذیب کړي.

لَّقَدْ رَضِىَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِى قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿١٨﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٩﴾

۱۸- یقیناً چې الله هغه مهال له دغو مؤمنانو راضي شو چې تر وني لاندې ئې له تا سره بیعت کولو؛ او پر هغه څه پوه شو چې د دوی په زړونو کې وو نو ځکه ئې پر دوی سکینه نازله کړه او نژدې فتح ئې د بدلې په توګه ورکړه، ۱۹- او ډېر غنائم چې دوی به ئې تر لاسه کوي؛ او الله باحکمت عزتمن دئ.

(۱۸-۱۹)- د دې مبارکو آیتونو لاړښووني دا دي:

- الله تعالی له هغو مؤمنانو خپل رضایت اعلان کړی چې په حدیبیه کې ئې تر یوې وني لاندې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره بیعت وکړ؛ او دا هغه مهال وو چې دوی ته په مکه کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ځانګړي استازي عثمان رضی الله عنه د شهادت افواه ورسېده، جریان داسي وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم عثمان رضی

الله عنه د استازي په توګه قريشو ته ورولېږو چې هغوی ته ووايي: موږ د عمرې لپاره راغلي يو، د قربانۍ څاروي راسره دي، وسلې راسره نشته، له عمرې وروسته بېرته ستنېږو، خو هغوی نه يوازي موافقه ونه کړه بلکې عثمان رضی الله عنه ئې په مکه کې تم کړ، په همدې وخت کې دا افواه خوره شوه چې قريشو عثمان رضی الله عنه شهيد کړی، د ده ځنډېدل د دې باعث شو چې مسلمانان دا افواه صحيح وګڼي، د ټولو ايماني جذبات وپارېدل، رسول الله صلی الله عليه و سلم راغونډ کړل او په داسې حال کې چې د يوې وني خوا ته ولاړ وو له ټولو ئې پر دې خبرې بيعت واخيست چې جنګ ته تيار شي او له تېرې کوونکو قريشو سره به خپل حساب تصفيه کوي، هر يو به د رسول الله صلی الله عليه و سلم خوا ته راتلو، هغه ته به ئې سبې لاس ورکولو او د دې ژمنه به ئې کوله چې تر آخرې سلګۍ به جنګېږي، د بيعت په پای کې رسول الله صلی الله عليه و سلم خپل دواړه لاسونه سره ورکړل او دا ئې د عثمان رضی الله عنه بيعت وګڼلو، دا څه معمولي ژمنه او بيعت نه وو، دا له شك پرته سر په رغوي کې نيول او په واقعي معنی د خپل ژوند وقفولو بيعت وو، په هغو ظروفو او شرائطو کې له دښمن سره مقابله له دې پرته بل تعبير نه درلود چې ټول به وژل کېږي، د همدې بيعت په اړه دلته ويل شوي چې الله تعالی له دغو مؤمنانو راضي شو چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره ئې د هغې وني لاندې بيعت وکړ، د همدې بيعت په اړه په آيت کې ويل شوي: هغو چې له تا سره ئې بيعت کولو په حقيقت کې ئې له الله تعالی سره بيعت کولو؛ او د بيعت پر مهال د الله لاس د دوی د لاسونو له پاسه وو!! د قرآن له دغو ويناوو معلومېږي چې د الله تعالی په نزد کې د دې بيعت اهميت او ارزښت څومره لوړ وو!! دا بيعت د بيعت رضوان په نامه مشهور شو.

- همدا راز د دوی په اړه ويل شوي چې د زړونو کيفيت ئې الله تعالی ته جوت شو، يعني دا عملاً څرګنده شوه چې د دوی په زړونو کې رښتينی ايمان او بشپړ اخلاص وو نو ځکه ئې پر دوی سکينه نازله کړه او نژدې فتح ئې د بدلې په توګه ورکړه؛ او پر فتحې برسېره ډېر غنائم چې دوی به ئې تر لاسه کوي. دا ځکه چې الله تعالی باحکمت عزټمن دئ.
- دا او دې ته ورته ګڼ شمېر نور آيتونه موږ ته د رسول الله صلی الله عليه و سلم د صادقو يارانو هغه لوړ مقام راښيي چې د الله په وړاندې ئې درلود، الله تعالی له دوی راضي شوی، په دنيا کې ئې د فتوحاتو او برياوو او په آخرت کې د جنت وعده ورسره کړې، لکه څنګه چې په دنيا کې له دوی سره الهي وعدې تر سره شوې او هغه فتوحات ئې په برخه شول، نو په بشپړ يقين سره ويلی شو چې د جنت په اړه وعده به هم حتماً تر سره

کېږي، که دغو مبارکو آیتونو ته پام سره یو څوک لوړه وکړي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له یارانو به لږ تر لږه هغه جنت ته درومي چې په بیعت رضوان کې ئې شرکت کړی ښایي حانث نه شي او لوړه ئې پر ځای وي!! د دوی په اړه دا ویناوي خو د هغه رب وینا ده چې د زړونو له اسرارو او له ماضي او مستقبل خبر دئ. آیا عجیبه نه ده چې یوه خبیثه شیطاني ډله د همدغو صحابه وو په اړه وایي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له رحلت وروسته له دریو پرته نور ټول منحرف او منافق شول او دا ځکه چې دوی د علي رضی الله عنه پر ځای له ابو بکر، عمر او عثمان رضی الله عنهم سره بیعت وکړ!!!! او دا په داسي حال کې چې علي رضی الله عنه او زامنو ئې په خپله له همدغو دریو شخصیتونو سره بیعت کړی وو!! د عمر رضی الله عنه او عثمان رضی الله عنه په اړه خو داسي څه وایي چې د چا په زړه کې یو ذره ایمان او د الله پر کتاب د بځرکې په اندازه باور وي د داسي څه له ویلو حتی اوږدلو به کرکه لري؛ او دا په داسي حال کې چې همدغو څوارلس سوو صحابه وو د عثمان رضی الله عنه د انتقام اخیستلو لپاره له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره داسي بیعت وکړ چې الله تعالی په قرآن کې د همدې بیعت له کبله خپل رضایت ورته اعلان کړ!! دغو بدبختانو ته وایو: له دې شیطاني او د ایمان منافي خبرو به تاسو ته څه ګټه ورسېږي؟!! ولې د ایمان، قرآن او عقل خلاف ګنده خبرو سره د الله غضب ته بلنه ورکوئ؟!! مور ته خو دا قرآن د صحابه وو په لاس رارسېدلی، ځکه دا کتاب همغه کتاب ګڼو چې د الله تعالی له لوري پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوی چې همدغو صحابه وو پرې اجماع کړې، مور ځکه ابو بکر رضی الله عنه تر ټولو افضل ګڼو چې دوی د امیر المؤمنین په توګه غوره کړ، همداسي عمر رضی الله عنه، عثمان رضی الله عنه او علي رضی الله عنه یو په بل پسي افضل او د امارت وړ ګڼو چې دوی په همدې ترتیب غوره کړل، دا قرآن خو د دوی د سرښندنو او قربانیو په طفیل تر موږ پورې راورسېدو، که دوی او د دوی سرښندني نه وی معلومه نه ده چې موږ او زموږ پلرونه به د جهل، شرك او کفر په کومي کندي کې پراته وو!!

وَعَدَكُمُ ٱللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَٰذِهِۦ وَكَفَّ أَيْدِىَ ٱلنَّاسِ عَنكُمْ وَلِتَكُونَ ءَايَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢٠﴾

۲۰- الله له تاسو سره د ډېرو داسي غنائمو وعده کړې چې تاسو به ئې تر لاسه کوئ، عجالتاً ئې دا درپه برخه کړه؛ او د دغو خلکو لاسونه ئې له تاسو دفع کړل؛ او د دې لپاره چې د مؤمنانو لپاره یوه څرګنده نښه شئ او تاسي په سمي لار هدایت کړي.

---

(۲۰)- دلته د بیعت رضوان له صحابه وو سره د الله تعالی نوري وعدې داسي بیان شوې:

- الله تعالی له تاسو سره د ډېرو داسي غنائمو وعده کړې چې تاسو به ئې تر لاسه کوئ.
- د حدیبیې د معاهدې په بڼې کې تاریخي فتح ئې په عاجله توګه ستاسو په برخه کړه.
- د هغو قریشو لاسونه ئې له تاسو تم کړل چې تر حدیبیې وړاندې هم ستاسو په خلاف جنګېدلي او د همدې سفر په دوران کې ئې هم غوښتل پر تاسو تېری وکړي خو الله تعالی دا فرصت ورنه کړ.
- ستاسو دا بریا ئې د نورو مؤمنانو لپاره یوه څرګنده نښه کړه او هغوی ته ئې وښوده چې څوك پر الله تعالی توکل وکړي او په سختو حالاتو کې هم الله تعالی ځان ته کافي وګڼي؛ الله تعالی به دغسي تاریخي او بې ساري بریاوي ورپه برخه کړي.
- په همدې سفر کې ئې ډېر څه تاسو ته وښودل او د هدایت دروازې ئې ستاسو پر مخ پرانیستې.

وَأُخۡرَىٰ لَمۡ تَقۡدِرُواْ عَلَيۡهَا قَدۡ أَحَاطَ ٱللَّهُ بِهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٗا ﴿٢١﴾

۲۱- او یوه بله چې تاسو لا تراوسه پرې توانېدلي نه یئ په داسي حال کې چې الله پرې احاطه کړې؛ او الله پر هر څه قادر دئ.

(۲۱)- په دې مبارك آیت کې مؤمنانو ته د یوې بلې فتحې زېری ورکړی شوی او دا د قرآن یوه بله وړاندوینه وه چې تر سره شوه، دلته ویل شوي چې الله تعالی به تاسو ته یوه بله فتح هم درپه برخه کړي، داسي بریا چې تاسو لا تراوسه پرې توانېدلي نه یئ په داسي حال کې چې الله پرې احاطه کړې، که څه هم دلته د دې فتحې مزید وضاحت نه دئ شوی خو له الفاظو معلومېږي چې دلته د مکې فتحې ته اشاره شوې، ځکه په آیت کې ویل شوي چې الله پرې احاطه کړې، د دې مراد یوازې دا نه دئ چې الله تعالی علماً پرې احاطه کړې بلکې د دې تر څنګ دا هم افاده کوي چې دښمن په دې وخت کې محدود شوی، د سلطې ټغر ئې ورو ورو د ورټولېدو په حال کې دئ، دغه مطلب د الرعد په سوره کې په دې توګه راغلی:

أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا نَأۡتِي ٱلۡأَرۡضَ نَنقُصُهَا مِنۡ أَطۡرَافِهَاۚ وَٱللَّهُ يَحۡكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿٤١﴾ الرعد

آيا وئې نه ليدل چې موږ دې زمکې ته وردرومو او له ژيو ئې راکموو؛ او دا خو الله دئ چې پرېکړي کوي په داسې حال کې چې حکم ته ئې شا ته کوونکی نشته او هغه سريع حساب کوونکی دئ.

د آيت له دې فقرې (لَمۡ تَقۡدِرُواْ عَلَيۡهَا) هم معلومېږي چې په دې سره د مکې فتحې ته اشاره شوې نه بل څه ته؛ ځکه مکه يوازينی هغه هدف وو چې مسلمانانو هغه ته د رسېدو هڅه کړې وه خو بريالي شوي نه وو.

وَلَوۡ قَٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوَلَّوُاْ ٱلۡأَدۡبَٰرَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ٢٢ سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلُۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ٢٣

٢٢- او که هغه چې کفر ئې کړی له تاسو سره جنګېدلي وی حتماً به ئې شاګاني اړولې وې؛ بيا به ئې نه کوم ولي موندلی وو او نه کوم مرستندوی، ٢٣- د الله هغه سنت چې وړاندې تېر شوی او د الله سنت ته به هيڅ بدلون ونه مومې.

(٢٢-٢٣)- دا مبارک آيتونه وايي: که کافرو قريشو د همدې سفر په دوران کې ستاسو په ضد جګړه پيل کړې وی نو حتماً به له ماتې سره مخامخ شوي وو او د جګړې له ډګر به تښتېدل، نه به ئې داسې کوم خواخوږی موندلی وو چې دوی ته پناه ورکړي او نه کوم نصير او مرستندوی چې د دوی مرسته وکړي؛ او دا د هغه الهي سنت مطابق چې ثابت او نه بدلېدونکی دئ.

وَهُوَ ٱلَّذِي كَفَّ أَيۡدِيَهُمۡ عَنكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ عَنۡهُم بِبَطۡنِ مَكَّةَ مِنۢ بَعۡدِ أَنۡ أَظۡفَرَكُمۡ عَلَيۡهِمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٗا ٢٤ هُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّوكُمۡ عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡهَدۡيَ مَعۡكُوفًا أَن يَبۡلُغَ مَحِلَّهُۥۚ وَلَوۡلَا رِجَالٞ مُّؤۡمِنُونَ وَنِسَآءٞ مُّؤۡمِنَٰتٞ لَّمۡ تَعۡلَمُوهُمۡ أَن تَطَـُٔوهُمۡ فَتُصِيبَكُم مِّنۡهُم مَّعَرَّةُۢ بِغَيۡرِ عِلۡمٖۖ لِّيُدۡخِلَ ٱللَّهُ فِي رَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۚ لَوۡ تَزَيَّلُواْ لَعَذَّبۡنَا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا ٢٥

٢٤- او دی هغه ذات دئ چې د مکې دننه ئې د دوی لاسونه له تاسو تم کړل او

ستاسو لاسونه له دوی، له هغه وروسته چې تاسو ئې پرې برلاسي کړئ؛ او الله د هغه څه ښه لیدونکی وو چې تاسو کول، ۲۵- دوی همغه دي چې کفر ئې وکړ او له مسجدالحرام ئې تاسو منع کړئ؛ په داسې حال کې چې د قربانۍ څاروي هم د حلالېدو خپل ځای ته له رسېدو منع کړی شوي وو؛ او که هغه مؤمنان نارینه او مؤمني مېرمني نه وی چې تاسو نه پېژندل؛ داسې نه چې په ناپوهۍ سره ئې ترپښو لاندې کړئ او د دوی له کبله به تاسو ته په ناخبرۍ کې پېغور متوجه شي، د دې لپاره چې الله هغه څوک په خپل رحمت کې داخل کړي چې دی ئې غواړي، که (ترې) بېل شوي وی نو د دوی هغه به مو په دردناك عذاب اخته کړي وو چې کفر ئې کړی.

(۲۴-۲۵)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- الله تعالی د دې سفر په دوران کې د قریشو او مسلمانانو تر منځ د نښتي مخنیوی وکړ؛ دا په داسې حال کې چې د قریشو جنګیالیو په وار وار د دې هڅه کوله چې مسلمانان وپاروي او نښته رامنځته کړي؛ څو ځلي ئې غلچکي بریدونه وکړل؛ هر ځل ونیول شول او رسول الله صلی الله علیه و سلم بېرته پرېښودل؛ یو ځل د دوی څلوېښتو پنځوسو کسانو د شپې له لوري د مسلمانانو پنډغالي ته ډېري او غشي وار کړل؛ ټول د صحابه وو له لوري ونیول شول خو رسول الله صلی الله علیه و سلم ټول خوشي کړل؛ بل ځل اتیا کسانو د ګهیځ لمانځه پر مهال ناڅاپي برید وکړ؛ دوی هم ونیول شول او رسول الله صلی الله علیه و سلم پرېښودل؛ په دې توګه د قریشو هره هڅه شنډه شوه. په دې آیتونو کې دغو پېښو ته اشاره شوې او ویل شوي: دا خو الله تعالی وو چې د مکې دننه ئې د دوی لاسونه له تاسو راتم کړل او ستاسو لاسونه له دوی؛ له هغه وروسته چې تاسو ئې پرې برلاسي کړئ.
- که څه هم تېری او تجاوز د قریشو له لوري شوی، دوی د کفر لار غوره کړه، مسجدالحرام ته ئې ستاسو د تګ مخنیوی وکړ، د قربانۍ څاروي ئې هم پرې نښودل چې خپل ټاکلي ځای ته ورسېږي؛ خو الله تعالی د یوه خاص مصلحت له مخې د نښتي مخنیوی وکړ او هغه دا چې په مکه کې داسې مؤمن نارینه او مؤمني مېرمني وې چې مسلمانانو نه پېژندل، د نښتي په صورت کې به دوی هم تر پښو لاندې کېدل، الله تعالی نه غوښتل دوی ته صدمه ورسېږي او مسلمانانو ته دا پېغور متوجه شي چې د ډېرو بې وزلو مؤمنانو په وینو ئې لاسونه سره شول.
- همدا راز الله تعالی غوښتل د مکې ډېر استوګن د ایمان له سعادت برخمن شي؛ که هغه مؤمنان او دغه چې د ایمان سعادت به ئې په راتلونکي کې په برخه کېدو؛ له قریشو بېل شوي وی نو د قریشو کافران به ئې په دردناك عذاب اخته کړي وو.

• دې ته مو پام بايد وي چې دا مبارك آيت يوازې د هغه حالت په توضيح پورې محدود نه دئ بلکې له دښمن سره د نښتو په اړه يوه الهي لارښوونه زمونږ په وړاندې ږدي؛ د دې او دې ته ورته قرآني لارښوونو له مخې مسلمانان مکلف دي چې له دښمن سره د نښتو په دوران کې دې ټکي ته په کلکه توجه وکړي چې بې وزلې مسلمانان په ناپوهۍ کې ترپښو لاندې نه شي او صدمه ورونه رسېږي؛ نه يوازې د داسې مسلمانانو په اړه بايد جدي اهتمام وکړي بلکې د هغو په اړه هم بايد اندېښمن وي چې کېدی شي په راتلونکي کې ايمان راوړي؛ البته دا لارښوونه د داسې حالت اړوند لارښوونه ده چې د جګړې ابتکار د مسلمانانو په لاس کې وي، د برید وخت او څرنګوالی د دوی له لوري ټاکل کېږي، برید يا دفاع ته اړ شوي نه وي، ځنډول ئې دوی ته کوم تاوان نه رسوي او د دښمن په ګټه نه منتج کېږي.

قرآن مورږ ته دا لارښوونه هم کوي چې که ستاسو محارب دښمن؛ حتی هغه چې تاسو ئې له مسجد الحرام ايستلي يئ؛ د حج او عمرې په موخه د مکې په لور روان وي او ستاسو له سيمې تېرېږي بايد د هغوی مزاحم نه شئ.

متأسفانه اوس داسې بد مغز مفتيان هم راټوکېدلي چې د دې څرګندو قرآني لارښوونو خلاف بې شعورو او لېون سرو جنګياليو ته په جوماتونو او مدرسو کې د چاودنو د جواز غلطي فتواګاني ورکوي، دا هم جائز ګڼي چې په جومات کې او د جَمعي لمانځه پر مهال د خپل رقيب يا دښمن د وژلو لپاره چاودني يا ږندې ډزې وکړي؛ د دې پروا هم نه کوي چې بې ګناه لمونځ کوونکي به ووژل شي!!

إِذْ جَعَلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ ٱلتَّقْوَىٰ وَكَانُوٓاْ أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾

٢٦- هغه مهال چې کافر شوو په خپلو زړونو کې جاهلانه حميت (ننګ) رامنځته کړ نو الله پر خپل پيغمبر او پر مؤمنانو خپله سکينه نازله کړه او د تقوی په وينا ئې مقيد کړل په داسې حال کې چې د همدې مستحق او وړ ول؛ او الله په هر څه ښه پوه دئ.

---

(٢٦)- په دې مبارك آيت کې هغه حالت توضيح شوی چې قريشو د جاهلانه ننګ او حميت له کبله مؤمنانو ته د عمرې اجازه ورنه کړه، دا ئې ځان ته پېغور ګڼلو چې د هغو

مسلمانانو لوی شمېر مکې ته ننوځي چې تر پرون پورې دوی ورسره جنګېدل، هغه چې دوی له مکې هجرت ته مجبور کړي ول، د یاغیانو او باغیانو په سترګه ئې ورته کتل، د دوی په اړه ئې ویل چې له خپل پلرني حق دین وتلي او د وژلو وړ دي؛ د دوی د دې جاهلانه اقدام په وړاندې الله تعالی پر خپل پیغمبر او پر مؤمنانو خپله سکینه نازله کړه، داسې چې د دښمن د شرارتونو په وړاندې نه جذباتي شول نه ئې د حکمت او پوهې خلاف کوم ګام اوچت کړ، د تقوی او صبر لمن ئې کلکه ونیوله، د همدې مستحق او وړ ول، داسې روزل شوي ول چې د همدې انتظار تري کېدی شو؛ نه د بل څه؛ د همدې وړ او مستحق ول چې (سکینه) او (تقوی) ئې په برخه شي.

لَّقَدْ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءْيَا بِٱلْحَقِّ ۖ لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ ۖ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا۟ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾

۲۷- یقیناً چې الله د خپل رسول حقیقي خوب رښتینی کړ، که خدای وغوښتل حتماً به مسجدالحرام ته په داسې حال کې خوندي او په امن سره ننوځئ چې (له عمرې وروسته به) خپل وېښتان یا خریئ یا لنډوئ، وېره به نه لرئ، نو په هغه څه پوه شوی چې تاسو پرې پوه نه یاست، تر دې وړاندې ئې بله نژدې بریا او فتح مقدر کړې.

(۲۷)- د حدیبیې د معاهدې په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم د یارانو یوه او ستره اندېښنه دا وه چې د معاهدې یو بند د هغې رؤیا او خوب خلاف دئ چې د عمرې په اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم لیدلی، رسول الله صلی الله علیه و سلم خوب لیدلی چې عمره به کوي او د دغې رؤیا له مخې د مسلمانانو دا لوی کاران مکې ته راغلی خو دا دئ له عمرې پرته ببرته ستنېږي!! رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی د دغې اندېښنې او تشویش په اړه هغوی ته ویل: که دا رؤیا سږ کال تر سره نه شوه په راتلونکي کال کې به تر سره شي، ما ته په خوب کې دا نه وو ویل شوي چې تاسو به سږ کال عمره کوئ. په همدې ارتباط دلته ویل شوي: الله تعالی د خپل رسول حقیقي خوب رښتینی کړ، مطمئن اوسئ چې که خدای غوښتل حتماً به مسجدالحرام ته په داسې حال کې خوندي او په امن سره ننوځئ چې له عمرې وروسته به خپل وېښتان یا خریئ یا لنډوئ، هیڅ وېره به هم نه لرئ، دا په حقیقت کې ستره وړاندوینه وه چې تر سره شوه، قرآن د حدیبیې له ټرون

وروسته وړاندوينه کړې وه چې مؤمنان به ډېر ژر مکې ته په ډاډ او اطمئنان سره ننوځي؛ او د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوب به تحقق وموميِ، دا په داسې حال کې چې مسلمانان د دې ټرون له کبله سخت ناراض او خفه ول او ډېرو د دې هيلې تر سره کېدا محال او لږ تر لږه ګرانه ګڼله، خو د قرآن له وړاندويني سره سم په راتلونکي کال کې مکې ته ننوتل او لنډه موده وروسته مکه د مسلمانانو په لاس فتح شوه. الله تعالى غوښتل تر دې عمرې وړاندې ځيني نور فتوحات د مؤمنانو په برخه شي، هغه فتوحات چې همدا د حديبيې معاهده به لار ورته آواروي.

د دې مبارك آيت له لارښوونو داسې معلومېږي چې د مکې په فتحي کې تأخير او ځنډ او تر دې فتحي وړاندې نور فتوحات يو حکيمانه الهي تدبير وو، په کار ده دلته لږ توقف وکړو او وګورو چې آيا د مرکز او پلازمېنې فتح تر مناسب وخت پورې ځنډول او اطراف تصفيه کول يوازې له هغو خاصو ظروفو او شرائطو سره ټرلې تدبير وو او د عربو د هغه مهال اجتماعي جوړښت د همدې تقاضا کوله او که دا عامه لارښوونه ده او ټول مجاهدين بايد په هر ځای او هر وخت کې دا په پام کې ولري، هغه مهال خو د دې الهي تدبير نتيجه دا وه چې مکه له هر ډول مقاومت پرته فتح شوه، نه نښته رامنځته شوه او نه مرګ ژوبله، آيا صحيح ده چې اوس هم دغه تګلاره غوره شي او د مرکز تر نيولو وړاندې اطراف فتح او تصفيه شي؟ اوس خو د دې شاهد يو چې د پلازمينې څو فوځي افسران د يوه مشر په خوا کې راغونډ شي او د يوې کودتا له لارې قدرت تر لاسه کړي، مخکينی نظام نسکور کړي او يو نوی نظام رامنځته کړي، په تېرو څو پېړيو کې او له هغه وروسته چې ځواکمن فوځونه رامنځته شول په ګڼ شمېر هېوادونو کې د دې شاهد يو چې د کودتاګاونو له لارې حکومتونه او نظامونه نسکور شوي او نوي واکمنان او نظامونه مسلط شوي، االشغالګرانو هم د پلازمېنو د نيولو او له دې لارې د هېوادونو د اشغال او د خپلې خوښې نظام مسلطولو تګلاره غوره کړې!! د افغانستان په نژدې تاريخ کې دا دئ ګورو چې شوروي اتحاد لومړی د يوې کودتا له لارې کابل ونيولو او بيا ئې د ټول هېواد د نيولو او د کمونيستي نظام د پلي کولو لړۍ پيل کړه، د امريکا تر مشرۍ لاندې صليبي ځواکونو لومړی کابل ونيولو، بيا ئې په بن کې لاس پوڅی حکومت جوړ او کابل ته ئې په خپلو جهازونو کې انتقال کړ او بيا ئې د خپلې خوښې نظام پلي کولو لړۍ پيل کړه، کمونيستانو غوښتل فردي ملکيتونه د دولت په ګټه مصادره کړي، هر ديندار او شتمن ته ئې د دښمن په سترګه کتل او د هغوی د نيولو او وژلو سلسله ئې شروع کړه او په لنډ وخت کې ئې په زرګونو افغانان ووژل، امريکايانو غوښتل په افغانستان کې پانګوال نظام مسلط کړي، د

نسکور شوي زوړ شاهي نظام د بيا اعادې او مسلطولو هڅه ئې پيل کړه، په لکونو جريبه زمکه ئې د شاهي کورنۍ غړو ته، هغو ته چې د افغانستان په نيولو کې ئې د دوی ملګرتيا کړې؛ او هغو ته چې د ملي شتمنيو په غارت کې د دوی شريکان ول وسپارله، هغوی ئې د ښارګوټو، فابريکو، شرکتونو، بانکونو، قصرونو، هوټلونو، مارکيټونو، جهازونو، ټلويزيونو او ... خاوندان کړل، د دې تګلاري له کبله په تېرو يولسو کلونو کې په زرګونو داسي شتمن راڅرګند شول چې د ډالرو په حساب مليونران شوي، په داسي حال کې چې د امريکايانو تر راتلو وړاندي ئې هيڅ نه درلودل، اشغالګرانو دې طبقې ته نه يوازې د افغانانو د ملي شتمنيو د غارت شرائط برابر کړل بلکې له سياسي پلوه ئې هم واك دوی ته وسپارو. پوښتنه دا ده چې په دې دواړو تګلارو کې کومه يوه اصح او اصلح ده: له مرکز اطراف ته تګ که له اطراف مرکز ته، پلازمېنه بايد لومړی هدف وي که وروستی، د قرآن له دغې لارښوونې داسي معلومېږي چې پلازمېنه وروستی هدف کړئ نه لومړنی، د يوه داسي نظامي ځواك لپاره چې هدف ئې د هېوادونو اشغال وي، له نظامي پلوه بر لاسی وي، آسانه او لنډه لار همدا ده چې لومړی پلازمېنې ته مخه کړي؛ خو دا تګلاره د يوه ديني او فکري نهضت لپاره نه صحيح ده او نه د غوره نتائجو حامل، اسلامي انقلاب له لنډو لارو نه شي راتلی، ځوك چې غواړي په خپلې ټولنې کې او د ولس د ژوندانه په ټولو برخو کې اسلامي بدلون راولي نو مجبور دئ همغه لار تعقيب کړي چې رسول الله او يارانو ئې پلې کړه.

هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ﴿٢٨﴾

۲۸- دی هغه ذات دئ چې خپل پيغمبر ئې له هدايت او حق دين سره لېږلی چې پر ټولو اديانو ئې غالب کړي؛ او الله د شاهد په توګه کافي دئ.

(۲۸)- دا آيت مورِ ته وايي: پيغمبر عليه السلام له دوو شيانو سره راغلی: (حق دين) او (هدايت)، يعني هغه هم (قانون) راوړی او هم (تګلاره)، هغه مورِ ته وايي: د اسلامي ټولنې په فردي او اجتماعي برخو کې به کوم (قانون) حاکم وي او د دې ټولنې د جوړولو لپاره به کومه (تګلاره) غوره کوو. په پيغمبرانو باندې د ايمان تقاضاء دا ده چې مورِ به د خپل فردي او اجتماعي ژوند په ټولو اړخونو کې، اهداف او اهدافو ته د رسېدلو تګلاره، د پيغمبر په دعوت او سنت کې لټوو، له خپلې خوا او په خپله خوښه به نه اهداف ټاکو او نه اهدافو ته د رسېدلو تګلاري او کړنلاري، بلکې د دواړو په اړه به د پيغمبر عليه السلام

سنت او لارښوونو ته رجوع کوو.

همدا راز دا آیت مورږ ته وایي: د پیغمبر علیه السلام په لاس لېږل شوی لارښود حقیقي دین نه له نورو ادیانو سره د روغي جوړې لپاره راغلی او نه د دې لپاره چې دنیا له نورو ادیانو سره ووېشي، چې په یوه برخه ئې دا دین حاکم وي او په نورو برخو کې نور ادیان، د دې لپاره هم نه دئ راغلی چې د انسان ژوند له نورو ادیانو سره ووېشي چې د ژوند په ځینو اړخونو دا دین حاکم وي او په نورو ابعادو کې ئې نور ادیان، بلکې دا دین راغلی چې پر ټولو نورو ادیانو غالب شي، که څه هم مشرك عناصر له دې کرکه ولري، مشرك عناصر یا هغه دي چې ادیان سره خلطوي، څه برخه له یوه دین اخلي او څه له بل، اهداف په دین کې لټوي خو تګلاره په خپله خوښه او د خپل ذهن او تصور مطابق ټاکي؛ او یا هغه چې په الوهیت او ربوبیت کې له الله جل شانه سره بل څوك شریکوي، که څه هم دا مشرکین له دې کرکه لري چې د الله دین دي پر ټولو ادیانو غالب شي، پر ټولې نړۍ او د ژوند پر ټولو برخو دي یوازي دا دین حاکم وي، خو د الله جل شأنه فیصله دا ده چې دا دین به په ټوله زمکه او په ټولو ادیانو غالبوي.

د آیت د وروستۍ فقرې چې وایي (وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا) معنی دا ده چې الله تعالی په دې خبري شهادت ورکوي چې د خپل پیغمبر په لاس لېږلی دین ئې د غلبې او حاکمیت لپاره لېږلی، نه له نورو ادیانو سره د روغي جوړې لپاره. څوك چې د دین په اړه له دې پرته بله خبره کوي، دروغ وایي او حقیقت مسخ کوي.

مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْۖ تَرَىٰهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنًاۖ سِيمَاهُمْ فِى وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ ٱلسُّجُودِۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِۚ وَمَثَلُهُمْ فِى ٱلْإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْـَٔهُۥ فَـَٔازَرَهُۥ فَٱسْتَغْلَظَ فَٱسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ يُعْجِبُ ٱلزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلْكُفَّارَۗ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٢٩﴾

۲۹- محمد چې د الله رسول دئ او هغه کسان چې له ده سره دي پر کافرانو شدید او په خپلو منځونو کې رحم کوونکي دي. دوی به په داسي حال کې ګورې چې رکوع کوونکي او سجده کوونکي دي، د الله فضل او رضاء لټوي، د سجدو له امله د دوی په مخونو کې د دوی نښي څرګندي، دا په تورات کې د دوی مثال راغلی؛ او مثال ئې په

انجيل کې هغه کر ته ورته دئ چې له زمکې خپل تېغ (نوغی) راوباسي، بيا ئې مضبوط کړي، بيا پرېږ شي، بيا پر خپل ډډ ودرېږي، داسي چې کرونکي حيران کړي، د دې لپاره چې کافران پرې غضبناك کړي، الله د دوی له هغو سره چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د بخښنې او ستر اجر وعده کړې ده.

---

(۲۹)- دا مبارك آيت د سورې شکلې تتمه او د سورې د ټولو مطالبو جامع خلاصه زمونږ په وړاندې ږدي، چې مهمې مهمې لارښوونې ئې دا دي:

- د الله رسول محمد صلی الله علیه و سلم او هغه چې له ده سره دي پر کافرانو شديد دي او په خپلو منځونو کې رحم کوونکي، له کافرانو سره په خپل چلن کې انعطاف او نرمښت نه لري، هغوی ته ګرانه ده چې دوی رام او تسليمېدو ته چمتو کړي، په خپل دريځ ټينګ ولاړ دي، د خپلو اصولو پر سر سازش نه کوي، خو په خپلو منځونو کې يو پر بل مهربان دي، زړونه ئې سره نژدې او يو پر بل زړه سوی لري، دوی به وخت په وخت په داسي حال کې ګورې چې په رکوع او سجده بوخت دي، د الله فضل او رضاء لټوي، د سجدو له امله د دوی په مخونو کې داسي نښې تر سترګو کېږي چې ښيي په زړونو کې ئې ايمان دئ، خپل رب ته منقاد دي او د هغه رضاء لټوي. په تورات کې د دوی په اړه دغه مثال راغلی چې له خپلو څېرو به پېژندل کېږي؛ او په انجيل کې له هغه کر او کښت سره تشبيه شوي چې له زمکې خپل نازك تېغ او نوغی راوباسي، بيا ئې مضبوط کړي، بيا پرېږ شي، بيا پر خپل ډډ ودرېږي، داسي چې کرونکي حيران کړي.
- الله تعالی د مؤمنانو مولا دئ، د مؤمنانو ټولی د ده تر رعايت او عنايت لاندې په ټولنې کې سرراوچت کړی، ورو ورو ئې وده ورکړي، د دوی د لازيات سمسورتيا لپاره ئې شرائط برابر کړي، د يوه مضبوط ځواك په توګه راڅرګند شوی، اوس ئې نه تېزه سيلې ماتولی شي او نه توند باران او ږلې، ډېر ورته حيران دي او ډېر پرې غضبناك.
- الله تعالی د دوی له هغو سره چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د بخښنې او ستر اجر وعده کړې ده، دا الهي وعدې به په دنيا او آخرت کې هرو مرو تر سره کېږي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الحجرات

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الحجرات) دئ چې د سورې له ٤ آیت اخیستل شوی، ۱۸آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (علیم)؛ او د دوهم آیت (تشعرون) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په وروستیو کلونو کې نازل شوي.

د دې سورې په اتلسو آیتونو کې پنځه ځلي د (يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ) په صیغې سره مسلمانان مخاطب شوي او مهمي لارښوونې ورته شوې: دا چې د الله او د هغه د رسول په وړاندې به تقدم نه کوي، وړاندې تر دې چې د قرآن او سنت لارښوونو ته پام وکړي خپله خوښه او رأیه مقدم وګڼي، دا چې د الله له پیغمبر سره به د دوی معامله او چلن څنګه وي او کوم آداب به مراعاتوي، دا چې د فاسق او غیر ملتزم انسان وینا او روایت ته به له تبیین او تحقیق پرته اعتبار نه ورکوي؛ په ځانګړې توګه هغه مهال چې دا وینا د وګړو په اړه او داسې وي چې د وسله وال غبرګون غوښتنه کوي، دا چې د مؤمنانو تر منځ به د مصالحې او روغې جوړې هڅه کوي، د ظالم په وړاندې به د مظلوم دفاع کوي، څوک چې پر جنګ ټینګار کوي د هغه په خلاف به له جنګ هم ډډه نه کوي، په خپلو منځونو کې به یو د بل درناوی کوي او له داسې څه به ځان ساتي چې د بل سپکاوی او تذلیل ګڼل کېږي، له بې ځایه بدګماني، تجسس او غیبت به ډډه کوي، په قومي او نسلي تفاوتونو او توپیرونو به باور نه لري، ټول انسانان به وروڼه وروڼه او د یوې داسې ستري کورنۍ غړي ګڼي چې نسل ئې یو دئ، په رګونو کې ئې یوه وینه روانه ده او له یوه پلار مور پیدا شوي، هغه څوک به تر نورو غوره او عزتمن ګڼي چې په تقوی کې تر نورو وړاندې وي، د ایمان دعوی به یوازې په هغه صورت کې د اعتبار او اعتناء وړ ګڼي چې له صالح عمل سره توأم او د الله او د هغه د رسول پر اطاعت مبتني وي، هغه چا ته به د واقعي او صادق مؤمن په سترګه ګوري چې پر الله او رسول له ایمان وروسته په شک مبتلا نه شي او د الله په لار کې مالي او ځاني جهاد کوي، دا هڅه به نه کوي چې د خپل ایمان منت په نورو واچوي او د امتیازاتو مطالبه وکړي بلکې خپل ایمان به د الله تعالی احسان او منت ګڼي او د دې احسان

په وړاندي به ځان پوروړی بولي او شکر به ئې پر ځای کوي، پر دې به د زړه له کومي باور لري چې معامله ئې له هغه رب سره ده چې په غیب پوه دئ او د ده د ټولو کړنو له څرنګوالي او موخو خبر دئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ١

۱- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! د الله او د هغه د پیغمبر په وړاندي مخکې مخکې مه کېږئ او له الله ووېرېږئ، یقیناً چې الله ښه پوه اورېدونکی دئ.

---

(۱)- په دې مبارك آیت کې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې د الله او د هغه د پیغمبر په وړاندي مخکې مخکې مه کېږئ او له الله ووېرېږئ. باید وګورو چې د الله تعالی او د ده د پیغمبر په وړاندي د مخکې مخکې کېدلو معنی څه ده؟ او په دې سره مور له څه کولو منع شوي یو؟ د دې معنی دا ده چې که ته د کومي قضیې او کار په اړه تر دې وړاندي چې د الله او د هغه د پیغمبر حکم ځان ته معلوم کړې، مخکې له دې چې درته معلومه شي په دې اړه الهي حکم څه دئ، قضاوت یا تبصره وکړې یا کوم عملي اقدام وکړې، دا د الله او د هغه د رسول په وړاندي تقدم او مخکې مخکې کېدل دي. ستا د ایمان غوښتنه دا ده چې لومړی به ځان پوهوې چې په دې اړه د الله تعالی او د ده د پیغمبر امر څه دئ او دین څه هدایت درکوي، تر دې وروسته به اقدام کوې، بیا به د څه ویلو او کولو او تحلیل او تبصرې اراده کوې، ته به د یوه مطیع بنده په څېر عمل کوې، هغه چې اقتداء کوي او ځان مقتدا او امام نه جوړوي، مخکې مخکې نه ځي، بلکې د یوه مطیع او منقاد بنده په توګه د خپل مرشد اطاعت کوي او د پیغمبر په پل درومي. که تا د کوم کار په اړه مخکې له دې چې وپوهېږې د الله او د هغه د پیغمبر حکم او فیصله په دې اړه څه ده، کومه تبصره وکړه، یا دي کوم اقدام وکړ، تا تقدم کړی، دا تقدم هم په خبرو کې دئ او هم په عمل کې، ځکه د آیت په پای کې راغلي چې الله جل شأنه اورېدونکی علیم ذات دئ. ستاسو په هغو خبرو هم پوهېږي او اوري ئې چې په هغو کې مو د الله او پیغمبر په وړاندي تقدم کړی او ستاسو په هغو کارونو هم پوه دئ چې هغه مو د الله او د هغه د پیغمبر په امر نه؛ بلکې په خپله خوښه او د خپل زړه او هوس په غوښتنه او حکم تر سره کړي،

مخکې له دې چې وګورې د الله او د پیغمبر حکم په دې اړه څه دئ؟

دا مطلب د الاحزاب په سوره کې په دې الفاظو راغلی:

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا ﴿٣٦﴾ الاحزاب

او هیڅ مؤمن او مؤمنې ته نه ښایي چې کله الله او د ده رسول د کوم کار پرېکړه وکړي (بیا دي) دوی ته په خپل کار کې څه اختیار وي؛ او څوك چې له الله او د هغه له رسول سرغړاوی وکړي یقیناً چې په څرګند لار ورکتوب سره لار ورکې شو.

دا مبارك آیت د ایمان یوه ستره او اساسي تقاضا زموږ مخې ته ږدي او وایي: له هیڅ مؤمن او مؤمنې سره دا نه ښایي چې کله الله تعالی او د ده رسول د کوم کار پرېکړه وکړي بیا دي دوی په خپل کار کې کوم اختیار ولري او د خپلې خوښې پرېکړه دي وکړي، د الله تعالی او د هغه د رسول د پرېکړې په وړاندې د دوی اختیار په بشپړه توګه سلبږي او له دې پرته چې پرېکړې ته غاړه کېږدي او له کوم بدلون او ځنډ پرته ئې عملي کړي د بل څه کولو حق نه لري، له دې پرته بل څه کول سرغړاوی دئ او څوك چې له الله تعالی او د هغه له رسول سرغړاوی وکړي یقیناً چې تېروتی او سمه لار ترې ورکه شوې.

دا الهي لارښوونه د هغه حدیث په رڼا کې لا ښه درك کولی شو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم معاذ بن جبل یمن ته د والي یا قاضي په توګه لېږو او هغه ته ئې وویل: د څه له مخې به حکم کوې؟ وئې ویل: په هغه څه چې د الله په کتاب کې دي، وئې فرمایل: که دي ونه موندو؟ وئې ویل: په هغه څه چې د رسول الله په سنت کې دي، وئې فرمایل: که دي ونه موندو؟ وئې ویل: په خپلې رأیي سره به اجتهاد کوم، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: الحمد لله چې د پیغمبر استازي ته ئې د هغه څه توفیق ورکړ چې د الله رسول ئې خوښوي.

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ الثَّقَفِيِّ، قَالَ: لَمَّا بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلى الله عَلَيهِ وسَلمَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ، قَالَ: يَا مُعَاذُ بِمَ تَقْضِى؟ قَالَ: أَقْضِى بِكِتَابِ اللهِ، قَالَ: فَإِنْ جَاءَك أَمْرٌ لَيْسَ فِى كِتَابِ اللهِ؟ قَالَ: أَقْضِى بما قضى به نبيه صَلى الله عَلَيهِ وسَلمَ قَالَ: فَإِنْ جَاءَك أَمْرٌ لَيْسَ فِى كِتَابِ اللهِ وَلَمْ يَقْضِ فِيهِ نَبِيُّهُ وَلَمْ يَقْضِ فِيهِ الصَّالِحُونَ؟ قَالَ: أَؤُمُّ الْحَقَّ جَهْدِى، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلى الله عَلَيهِ وسَلمَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى جَعَلَ رَسُولَ رَسُولِ اللهِ صَلى الله عَلَيهِ وسَلمَ يَقْضِى بِمَا يَرْضَى بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلى الله عَلَيهِ وسَلمَ. مصنف ابن ابی شیبه

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرۡفَعُوٓاْ أَصۡوَٰتَكُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ وَلَا تَجۡهَرُواْ لَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ كَجَهۡرِ بَعۡضِكُمۡ لِبَعۡضٍ أَن تَحۡبَطَ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ٢

۲- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! خپل غږونه د پیغمبر تر غږ مه اوچتوئ او هغه ته په جګ غږ سره خبره مه کوئ، هغسې لکه ستاسو د ځینو ځینو نورو ته جګ غږ، داسې نه چې عملونه مو حبط شي په داسې حال کې چې نه به پوهیږئ.

(۲)- په دې مبارک آیت کې که له یوې خوا صحابه وو ته ویل شوي چې له پیغمبر علیه السلام سره په مجلس کې به د دې خیال ساتئ چې غږ مو د ده تر غږ لوړ او جګ نه شي، په لوړ غږ به له هغه سره خبرې نه کوئ، له لرې به هغه ته په لوړ غږ نعرې نه وهئ، دا د ایمان منافي حرکات دي، په دې سره د انسان ایمان او نېک عملونه ضائع کېدی شي، که صحابه په دې مکلف وو چې د پیغمبر علیه السلام د حضور دا ادب به مراعاتوي، مور په دې مکلف یو چې کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث اورو باید ساکت او چوپ وو او په غور او دقت سره ئې واورو، د هغه د نوم په اورېدو سره باید درود پرې ووایو، د پیغمبر علیه السلام د هرې وینا په وړاندې خپله رأیه لرې وغورځوو. د همدې آیت په استناد حتی علماء، مفسرین او محدثین وایي چې دا د دیني اخلاقو غوښتنه ده چې مسلمانان به له خپلو مشرانو سره په چلن کې د دې خبرې مراعات کوي چې غږ ئې د دوی تر غږ لوړ نه شي، زوی او لور به له مور پلار سره، شاګرد به له خپل استاد سره، د ډلې مجاهد به له خپل سرخېل سره او ټول مسلمانان به د خپلې ټولنې او اجتماع له مشرانو سره همدغه اخلاقي چلن مراعاتوي.

له بلې خوا فرمایي چې پام کوئ ستاسو غږ د پیغمبر علیه السلام تر غږ اوچت نه شي، که نه ستاسو عملونه به حبط شي، په داسې حال کې چې نه به پوهیږئ، یعني په دې کار سره د انسان عملونه حبط او هدر کېږي، د پیغمبر توقیر، احترام او تعظیم هومره اهمیت لرې چې د عدم مراعات په نتیجه کې ئې د انسان عملونه حبط کېږي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصۡوَٰتَهُمۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱمۡتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡ لِلتَّقۡوَىٰۚ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٌ ٣

۳- یقیناً هغه چې خپل غږونه د رسول الله په خوا کې ټیټوي؛ دوی هغه دي چې الله ئې زړونه د تقوی لپاره عیار کړي، دوی ته بخښنه او ستر اجر دئ.

(٣)- دا مبارك آيت مور ته لارښوونه كوي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم توقير او درناوى د ايمان او تقوى نښه ده، وايي: څوك چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په خوا كې خپل غږ ټيټوي الله تعالى د هغه زړه د تقوى لپاره عيار كړى، بخښنه او ستر اجر به ئې په برخه شي.

د قرآن له لارښوونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې پر پيغمبرانو د ايمان ستره غوښتنه دا ده چې مؤمن انسان به د دوى توقير او تعظيم كوي، هومره تعظيم او توقير چې له الله تعالى رالاندي تر بل هر چا زيات وي او په دې كې هيڅوك له دوى سره برابر نه كړي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَآءِ ٱلْحُجُرَٰتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٤﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا۟ حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥﴾

٤- يقيناً هغه چې تا ته د حجرو له شا چيغې وهي ډېرى ئې تعقل نه كوي، ٥- او كه دوى تر هغه صبر كړى وى چې ته وروتلى وى يقيناً دا ورته غوره وو؛ او الله مهربان بخښونكى دئ.

(٤-٥)- دا مبارك آيتونه د هغو پر چلن كلكه نيوكه كوي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ورځني ژوند د دقيق مهال وېش پروا ئې نه كوله، وخت نا وخت به ئې د ملاقات غوښتنه كوله، هغه هم داسې چې د حجرې له شا به ئې په جگ غږ د ملاقات مطالبه كوله، دې ته ئې اعتناء نه كوله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د ورځني ژوند زياته برخه د دعوت او د خلكو د روزنې او تربيې په څېر مهمو چارو ته مختص كړې وه، دومره چې قرآن د هغه په اړه فرمايي: إن لك في النهار سبحاً طويلا: يقيناً چې ته د ورځې له لورې اوږده مشغولتيا لرې، ډېر ځلي به تر ماخستن پورې په دغو چارو كې مشغول پاته شو، اكثراً به ئې د مازديگر له لمانځه وروسته او كله هم تر ماښام وروسته كورنيو چارو ته توجه كوله او هغه هم دومره چې د ټولو احوال واخلي، د شپې ډېره برخه به ئې هم په لمانځه تېروله، دومره چې قرآن وايي: كله د شپې دريېمه، كله نيمايي او كله دوه برخي، صحابه وو به دا مهال وېش مراعاتولو، يوازې هغه مهال به ئې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د ليدلو هڅه كوله چې كوم مهم كار به دې ته اړ كړى وو، په داسې مواردو كې به ئې هم تر هغه انتظار كولو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به په خپل وخت له كوره راووت او جومات ته به راغى، خو ځيني باندوال او كوچيان او هغه چې لا ئې كافي

روزنه نه وه شوې؛ داسي ول چې د حجرې له بهر به ئې په جګ غږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د ملاقات غوښتنه کوله، په دې مبارکو آیتونو کې د دغو خلکو په اړه ویل شوي: هغه چې تا ته د حجرو له شا چیغې وهي ډېرى ئې تعقل نه کوي، دا ورته غوره وه چې ستا تر راوتلو ئې انتظار کړى وى. د پنځم آیت په پای کې ویل شوي: الله مهربان بخښونکى دئ، دا له یوې خوا ښیي چې د داسي خلکو د همدې ناوړه او ناسم چلن په وړاندي باید د (غفران) او (رحمت) الهي اخلاق له مخې چلن وشي او له بلې خوا ښیي چې که د الله بخښنه او رحمت نه وى نو داسي ناوړه عمل به ئې د سزا وړ عمل محسوب کړى وو.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ أَن تُصِيبُواْ قَوۡمَۢا بِجَهَٰلَةٖ فَتُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَا فَعَلۡتُمۡ نَٰدِمِينَ ٦ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ فِيكُمۡ رَسُولَ ٱللَّهِۚ لَوۡ يُطِيعُكُمۡ فِي كَثِيرٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ لَعَنِتُّمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ حَبَّبَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡإِيمَٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِي قُلُوبِكُمۡ وَكَرَّهَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡكُفۡرَ وَٱلۡفُسُوقَ وَٱلۡعِصۡيَانَۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ ٧ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَنِعۡمَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٨

٦- اې هغو چې ایمان ئې راوړى! کله چې کوم فاسق کوم خبر درته راوړي نو ښه څېړنه وکړئ؛ داسي نه چې کوم قوم ته په ناپوهۍ سره تاوان ورسوئ او بیا پر هغه څه پښېمان شئ چې ومو کړل، ۷- او په دې پوه شئ چې په تاسو کې د الله رسول دئ، که په ډېرى چارو کې ستاسو خبره ومني نو دا به مو وځوروي، خو الله تاسو ته ایمان محبوب وګرځولو او هغه ئې ستاسو په زړونو کې ښایسته کړ؛ او کفر، فسق او سرغړاوى ئې درته کرکجن کړ، همدا دوى په سم لوري تلونکي دي، ۸- د الله یو فضل او یو نعمت؛ او الله باحکمت پوه دئ.

(٦-٨)- په دې مبارکو آیتونو کې مؤمنانو ته څو مهمي مهمي لارښوونې شوې:

- د هر چا په خبرې باور مه کوئ، په ځانګړې توګه هغه مهال چې د خبر راوړونکى د اعتماد وړ نه وي، له سوابقو ئې معلومېږي چې ديني ضوابطو ته متلزم انسان نه دئ، له اخلاقي پلوه کمزورى دئ، مخصوصاً چې د ده خبر د یوه قوم او ډلې په اړه وي، داسي نه چې کوم قوم ته په ناپوهۍ سره تاوان ورسوئ او بیا پر هغه څه پښېمان شئ چې ومو کړل.

- مؤمنانو ته ویل شوي: په داسي حال کې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ستاسو په خوا کې دئ، خپلې چارې د هغه له لارښونو سره سم تر سره کړئ، دا هڅه مه کوئ چې حتماً باید ستاسو رأیه ومنل شي او کارونه ستاسو له خوښې او مرضې سره سم تر سره شي، په دې پوه شئ چې که په ډېرې چارو کې ستاسو خبره ومني نو له داسي ناخوالو سره به مخامخ شئ چې تاسو به وځوروي، دا د الله تعالی یو فضل او یو نعمت وګڼئ چې تاسو ته ئې ایمان محبوب وګرځولو او هغه ئې ستاسو په زړونو کې ښایسته کړ؛ او کفر، فسق او سرغړاوی ئې درته کرکجن کړ. سمه او رشد او کمال ته د رسېدلو لار هغه چا موندلې چې دغه سعادت ئې په برخه شوی.
- د دې آیت د شأن نزول او یوه مصداق په اړه په روایاتو کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ولید بن عقبه رضی الله عنه د بني المصطلق قبیلې ته ولېږو چې د دوی د زکات مالونه مدینې ته راانتقال کړي، کله چې سیمي ته ورسېدو د کومي غلطي اطلاع یا هسي اندېښنې له کبله ووېرېدو او له خلکو سره له لیدو پرته مدینې ته ستون شو، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې وویل: د زکات له ورکړي ئې ډډه وکړه او غوښتل ئې ما ووژني!! رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې خبرې په اورېدو سره غوښتل د دې قوم د تأدیب لپاره یوه ډله ولېږي، خو همدا مهال د دې قبیلې مشر حارث بن ضِرار د ام المؤمنین جویریه رضی الله عنها پلار د یوه پلاوي په مشرۍ مدینې ته راغی او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې وویل: موږ ولید بن عقبه لیدلی نه دئ څه دا چې د زکات له ورکړي مو انکار کړی وي یا د ده د وژلو اراده مو کړې وي، موږ پر خپل ایمان او تعهد ولاړ یو او د زکات له ورکړي انکار نه کوو!! په دې آیتونو کې دغې پېښې ته اشاره شوې او په دې سره مؤمنانو ته یوه مهمه لارښوونه شوې چې په داسي حساسو او مهمو قضایاوو کې باید له ډېر احتیاط او تأمل کار واخلي، دغې الهي لارښوونې ته په پام سره فقهاءو ویلي چې په داسي قضایاوو کې چې کوم شرعي حکم یا پر چا کوم حق ترې ثابتېږي د فاسق شهادت د اعتبار وړ نه دئ، د همدې الهي لارښوونې له مخې محدثین د راویانو جرح و تعدیل ضروري ګڼي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د احادیثو په اړه یوازې پر داسي راویانو اعتماد وشي چې ثقه او د اعتبار وړ وي، د راویانو دیني، اخلاقي، علمي او ذهني حالت څېړل او د دې له مخې دا حکم کول چې د ده روایت د اعتماد وړ دئ که نه؛ د همدې جرح و تعدیل بنسټ دئ. د دې لارښوونې له مخې حکومت ته جائز نه دي چې د یوه فرد یا جماعت په خلاف د داسي مخبر او اطلاع ورکوونکي په وینا کوم اقدام وکړي چې د سیرت او سلوك له پلوه د اعتبار او اعتماد وړ نه وي.

• ځيني په ناسمه توګه پر دغه آيت استناد کوي او وايي: دلته د فاسق راوي د وينا او روايت په اړه د تبيين سپارښتنه شوې؛ خو که خبرلوځ او راوي ثقه او د اعتبار وړ وي؛ تبيين ته ضرورت نشته!!! دا ناسم تعبير د دې سبب شوی چې د رواياتو په اړه؛ محدثين او فقهاء په دوو ډلو ووېشل شي: ۱- هغه چې غير متواتر او آحاد روايات (غريب، عزيز او مشهور)؛ له قرآن سره د مطابقت په شرط معتبر ګڼي؛ امام ابو حنيفه، امام شافعي او اکثريت فقهاء او محدثين په همدې رأی دي. ۲- هغه چې له دې شرط سره موافق نه دي او وايي: که راوي ثقه او د اعتبار وړ وي؛ تبيين ته ضرورت نشته؛ نه ئې قرآن ته راجع کول او په قرآن کې شاهد ورته موندل ضروري ګڼي او نه په راويانو کې شاهد. دا رأی نه شرعي بنسټ لري او نه عقلي؛ شريعت د هغه مدعي ادعاء بې اعتباره او حتی کذب ګڼي چې شاهد وړاندي نه کړي؛ که دا د حقوقي او مالي چارو؛ د پور او تجارت معاملاتو په ارتباط وي او که د زنا په څېر قضاياوو په ارتباط؛ له څلورو شاهدانو پرته د مېړه ادعاء د خپلې مېرمني په اړه هم نه مني؛ او قرآن هغه څوک دروغجن ګڼي چې د خپلې ادعاء د اثبات لپاره څلور شاهدان وړاندي نه کړي؛ که څه هم دی په خپلې ادعاء کې صادق او رښتينی وي؛ قرآن فرمايي:

لَوْلا جَاءُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَئِكَ عِنْدَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ ﴿١٣﴾ النور

ولې ئې پر دې (ادعاء) څلور شاهدان رانه وستل؛ نو کله چې ئې شاهدان رانه وستل؛ له امله ئې همدا دوی د الله په وړاندي دروغجن دي.

دلته داسي مدعي ته دروغجن ويل شوي او د حجرات سورې په ٦ آيت کې که همداسي کس ته فاسق ويل شوي؛ ځکه دی هم شاهد نه لري او خبر ئې تبيين ته ضرورت لري.

او د عقل غوښتنه او حکم دا دئ چې اساساً به د روايت د متن او محتوی له مخې هم د روايت په اړه قضاوت کوو او هم د راوي په اړه؛ قرآن روښ څراغ او د هر څه تفصيل دئ؛ مبين دئ، د هر اختلاف د حل و فصل لومړۍ او وروستۍ مرجع ده او مسلمان مکلف دئ د ژوند په ټولو برخو کې ټول قضايا؛ فکري، اعتقادي، اخلاقي، اجتماعي، مالي او حقوقي قرآن ته راجع کړي او فيصله ئې وروستۍ فيصله وګڼي. مور الله تعالی د قرآن له مخې پېژنو؛ د پېژندو لپاره ئې له قرآن پرته بله ډاډمنه او کامله مرجع نه لرو؛ مور د قرآن له مخې محمد عليه السلام د الله تعالی د رښتيني او صادق پيغمبر په توګه منلی؛ هغه ته هر منسوب روايت د قرآن په تلې کې تللی او په اړه ئې قضاوت کولی شو؛ ولې به د عادي مالي مسائلو په اړه د دوه او درې شاهدانو حضور او شهادت ضروري وي؛ خو د هغه چا د

ادعاء منل به په دې پوري مشروط نه وي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د حديث په اړه شاهدان وړاندي کړي؟!! په کار خو دا وه چې د رواياتو په اړه مو دا ويلى: د هغه راوي خبره د منلو نه ده چې تر څلورو زيات شاهدان ونه لري؛ او يا په قرآن کې د خپل روايت لپاره شاهد وړاندي نه کړي؟ مګر دا پر الله تعالى، کتاب او پيغمبر ئې د ايمان منافي نه ده چې له قرآن سره متعارض روايات ومنو؟!! رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي: چا چې ما ته داسې وينا منسوب کړه چې ما نه وي ويلې؛ خپل ځای دي په جهنم کې ولټوي.

وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱقْتَتَلُواْ فَأَصْلِحُواْ بَيْنَهُمَاۖ فَإِنۢ بَغَتْ إِحْدَىٰهُمَا عَلَى ٱلْأُخْرَىٰ فَقَٰتِلُواْ ٱلَّتِى تَبْغِى حَتَّىٰ تَفِىٓءَ إِلَىٰٓ أَمْرِ ٱللَّهِۚ فَإِن فَآءَتْ فَأَصْلِحُواْ بَيْنَهُمَا بِٱلْعَدْلِ وَأَقْسِطُوٓاْۖ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ۝٩

٩- او که د مؤمنانو دوه ډلې په خپلو کې وجنګېدلې نو د دوی تر منځ روغه جوړه وکړئ، نو که (له صلحي وروسته) کومې يوې ئې پر بلې تېرى وکړ نو له هغې سره وجنګېږئ چې تېرى ئې کړى تر هغه چې د الله حکم ته ستنه شي، نو که ستنه شوه د دوی تر منځ په عدل او قسط سره مصالحه وکړئ، يقيناً چې الله مقسطين خوښوي.

---

(٩)- د دې مبارك آيت لارښوونې دا دي:

- مؤمنانو ته امر شوى چې که د مؤمنانو دوه ډلې په خپلو کې وجنګېدلې نو د دوی تر منځ روغه جوړه وکړئ. يعني دا يوه الهي فريضه ده چې د دوو مسلمانانو تر منځ د جګړې په وخت کې به نور مسلمانان نه بې تفاوت پاتې کېږي او نه بې طرف، بلکې مداخله به کوي او د دوی تر منځ به روغه جوړه کوي.
- که معلومه شوه چې يوه ډله ملامته او تېرى کوونکې ده، يا له مصالحې او روغې جوړې وروسته ئې پر بلې تېرى وکړ نو له هغې سره وجنګېږئ چې تېرى ئې کړى، يا د صلحي له وړاندیز سره مخالفت کوي، تر هغه به له تېرې کوونکې سره جنګېږي چې د الله حکم ته غاړه کېږدي، که دې ته چمتو شوه چې د الله حکم ته به غاړه ږدي نو د دوی تر منځ په (عدل) او (قسط) سره مصالحه وکړئ، عدل يعني دا چې دواړه لورې برابر وګڼئ، د دوی تر منځ په توپير او تفاوت قائل نه شئ او يوې ته پر بلې ترجيح ورنه کړئ، مصلح، حکم او قاضي په دې مکلف دي چې د پرېکړې، مصالحې، قضاوت او حکميت په دوران کې به د قضيې دواړو لوريو ته په يوه سترګه ګوري، دواړه به برابر ګڼي که څه هم يو ئې

امیر المؤمنین او بل یو یهودي وي، که څه هم یو لوری حکومت او بل لوری یوه وړوکې ډله وي؛ او قسط یعني دا چې هر لوري ته خپل جائز حق ورکړی شي، نه کم نه زیات، داسي نه چې د یوې ډلې د راضي کولو لپاره د بلې مسلم حق تلف شي، دا الهي لارښوونه ښیي چې صلح د (عدل) او (قسط) له تأمین پرته نه شي راتلی، هغه صلح واقعي صلح نه ده چې عدل او قسط په کې مراعات نه شي، الله تعالی هغه صلح خوښوي چې عدل او قسط په کې تأمین شي. الله تعالی هغه مصلح خوښوي چې مقسط هم وي، نه هر د صلحي او مصالحې مدعي.

که د قرآن لارښوونو ته ځیر شو مونږ ته دوه ډوله مصلحین رامعرفي کوي: یوه ډله هغه چې د مؤمنانو او کافرانو تر منځ د نښتو په دوران کې د مصلح په نامه راڅرګنده شي، په تأکید سره به وایي چې مونږ مصلحین او د اصلاح او مصالحې غوښتونکي یو، قرآن د دې ډلې په اړه په پرېکنده او قاطع الفاظو وایي چې دوی مصلحین نه بلکې مفسدین دي، حتی وایي اصلي مفسدین همدا دوی دي، دوی مصلحین نه بلکې منافقین دي: قرآن د دغو مصلح ډوله منافقینو په اړه فرمایي:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُواْ فِي ٱلْأَرْضِ قَالُوٓاْ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿١١﴾ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ ﴿١٢﴾ البقرة

او کله چې ورته وویل شي: په زمکې کې فساد او تباهي مه کوئ، وایي: مونږ خو په یقین سره مصلحین یو، پام چې همدا دوی مفسدین دي خو نه پوهېږي.

یعني له دښمن سره خپلې پټې او څرګندې اړیکې داسي توجیه کوي چې ګواکې د روغې جوړې لپاره لګیا دئ، مصلح دئ او جګړې نه خوښوي، غواړي د نښتو او جګړو مخه ونیسي او د روغې جوړې کوم صورت راپیدا کړي!! خو په حقیقت کې لوی مفسد او د فساد اصلي عامل دئ، د مسلمانانو په لیکو کې هم د فساد باعث او پر مسلمانانو باندي د دښمنانو د هر برید هڅوونکی هم دئ، همدا منافقین دي چې دښمن پر مسلمانانو باندي بریدونو ته هڅوي، دښمن په خپل هر برید کې تر ټولو د مخه او تر هرڅه زیات په دغو منافقینو حساب کوي، اطلاعات له دوی تر لاسه کوي، د مسلمانانو په لیکو کې اختلافات دوی راولاړوي، له مقاومت د لاس اخیستو روحیه دوی راپیدا کوي، که دا منافقین نه وي نه به دښمن پر مسلمانانو برید ته زړه ښه کړي او نه به د دوی د کوم سنګر په نیولو موفق شي. د صلح غوښتنې تر غولوونکې پردې لاندي خپله ناولې څېره پټوي او د مسلمانانو او واقعي صلحي په ضد هغه څه کوي چې څرګند دښمن ئې له کولو عاجز دئ.

د مصلحينو دوهمه ډله هغه ده چې د مؤمنانو تر منځ د روغې جوړې هڅه کوي، قرآن ټول مسلمانان پر دي ګماري چې د دوو متخاصمو مؤمنو ډلو تر منځ به د روغې جوړې هڅه کوي، خو دا هڅه به يوازې تر نصيحت، تبليغ او دعوت پورې محدوده او منحصره نه وي، د هغه لوري د پېژندو سعي به کوي چې تېرى ئې کړى او د جګړې د پيل او دوام باعث دئ او د الله له حکم سرغړاوى کوي، د باغي او تېرې کوونکي په ضد به تر هغه جنګېرې چې حق ته غاړه کېږدي او د الله حکم ته تسليم شي، د دې الهي لارښوونې له مخې نه هر د اصلاح او صلحي مدعي واقعي مصلح دئ او نه يوازې په ژبه او قلم سره د روغې جوړې خبرې کول د يوه واقعي مصلح لپاره کافي دي او په دې سره ئې الهي مسئوليت رفع کېږي. هغه څوک يو دروغجن او رياکار مصلح دئ چې د دوو مسلمانو ډلو تر منځ د نښتو په دوران کې د خير پر غونډې کښېني، دواړه لوري يو برابر غندي، ظالم او مظلوم ته په يوه سترګه ګوري، د مظلوم له ملګرتيا ډډه کوي او د ظالم په ضد د څه کولو جرأت نه کوي.

موږ د جهاد په دوران کې هم منافق مصلحين وليدل او هم دروغجن او رياکار مصلحين، د دواړو هڅې مو د دښمن په ګټه ومونډلې، ډېرو د اصلاح، وحدت او اتحاد په نامه کار پيل کړ او په پاى کې ښله ډله ترې جوړه شوه!! داسې ډلې چې نن د صليبي اشغالګرانو په چوپړ کې دي او له مجاهدينو غواړي چې اشغالګرانو ته د دوى په څېر تسليم شي چې له دې لارې جګړه پاى ته ورسېږي او (صلح) راشي!!!

دې ته مو پام وي چې د مسلمانانو تر منځ د نښتو لړۍ هغه مهال پيل شوه چې عثمان رضى الله عنه د يوه بغاوت په ترڅ کې په شهادت ورسېدو او علي رضى الله عنه د اميرالمؤمنين په توګه غوره شو، په دې اړه د شرعي احکامو شرح او تفصيل د علي رضى الله عنه په چلن کې تر لاسه کولى شو، د ټولو فقهاءو لپاره د همدې پېښو په اړه د صحابه وو دريځ او د علي رضى الله عنه چلن اصلي مرجع ده، د مسلمانانو تر منځ د نښتو څو صورتونه دي:

- دواړه لوري د اسلامي حکومت اتباع وي، د دوى تر منځ صلح يا تېرى کوونکى لورى حق ته تسليمول د حکومت دنده ده.
- دواړه لوري دوه ډلې، قومونه يا حکومتونه وي، يو ئې په حقه او بل په ناحقه، مسلمانان مکلف دي چې د حقپالو او حق غوښتونکو ملا تړ وکړي. خو که د دواړو دريځ او غوښتنې د حق خلاف وي له يوه سره به هم مرسته او ملګرتيا نه کوي.
- يو لورى حکومت او بل لورى د ولس يوه ډله چې د حکومت په خلاف پاڅېدلې، که

بغاوت کوونکي د پاڅون لپاره کوم شرعي دليل نه لري فقط د فساد خورولو په موخه ئې په بغاوت لاس پوري کړی وي؛ په دې صورت کې پر مسلمانانو فرض ده چې د دوی خلاف به د حکومت مرسته کوي که څه هم دا حکومت يو عادل حکومت نه وي. خو که پاڅون کوونکي شرعي او معقول دليل لري او حکومت خپلې شرعي دندي نه تر سره کوي او چارواکي ظالم او فاسد وي او شرعي حدود نه پلي کوي مسلمانان مکلف دي د همدغه الهي حکم مطابق عمل وکړي او حکومت له ظلم او فساد لاس اخيستلو او د حدودو پلي کولو ته اړ کړي، په دې صورت کې حکومت د يوه جګړمار لوری حيثيت لري نه بل څه، دا مهمه نه ده چې دا حکومت څنګه رامنځته شوی، په زور که د خلکو په خوښه يا د شرعي بيعت له لاري.

د حکومت په خلاف د بغاوت کوونکو په اړه د رسول الله صلى الله عليه و سلم لارښوونه داسي راغلې:

وَعَنْ عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ " قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم: هَلْ تَدْرِي يَا ابْنَ أُمِّ عَبْدٍ كَيْفَ حُكْمُ اللهِ فِيمَنْ بَغَى مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ قَالَ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ . قَالَ: لَا يُجْهَزُ عَلَى جَرِيحِهَا وَلَا يُقْتَلُ أَسِيرُهَا وَلَا يُطْلَبُ هَارِبُهَا وَلَا يُقْسَمُ فَيْؤُهَا " رَوَاهُ الْبَزَّارُ وَالْحَاكِمُ

او له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: اې د ام عبد زويه! آيا پوهېږې چې د دې امت د باغيانو په اړه د الله حکم څه دئ؟ وئې ويل: الله او د هغه رسول ښه پوهېږي؛ وئې فرمايل: په زخميانو به ئې ټبړی نه کېږي، اسيران به ئې نه وژل کېږي، تښتېدونکي به ئې نه تعقيب کېږي، مال به ئې غنيمت نه ګڼل کېږي.

د علي رضى الله عنه په اړه راغلي:

عَنِ الضَّحَّاكِ؛ أَنَّ عَلِيًّا لَمَّا هَزَمَ طَلْحَةَ وَأَصْحَابَهُ أَمَرَ مُنَادِيَهُ أَنْ لاَ يُقْتَلَ مُقْبِلٌ وَلاَ مُدْبِرٌ ، وَلاَ يُفْتَحَ بَابٌ ، وَلاَ يُسْتَحَلَّ فَرْجٌ وَلاَ مَالٌ. مصنف ابن ابى شيبه

له ضحاك روايت دئ چې کله علي رضى الله عنه؛ طلحه رضى الله عنه او يارانو ته ئې ماته ورکړه نو خپل منادي ته ئې امر وکړ چې په جګ غږ اعلان کړي: تسليمېدونکي او تښتېدونکي به ئې نه وژل کېږي، هيڅ کور ته به د ننوتلو لپاره کومه دروازه نه پرانيستل کېږي، نه به ښځې حلالې ګڼل کېږي او نه مال.

همدا راز د جمل په جګړې کې ئې وويل: تښتېدونکي مه تعقيبوئ، پر زخميانو حمله

مه کوئ، اسیر مه وژئ، چا چې وسله کښښوده امان ورکړئ، د خلکو کورونو ته مه ننوځئ، ښځو ته څه مه وایئ که څه هم هغوی تاسو ته ښکنځلي کوي. د دې مزید تفصیلات د فقهي په کتابونو کې وګورئ.

إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُواْ بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٠﴾

۱۰- یقیناً چې مؤمنان (په خپلو منځونو کې) وروڼه دي، نو د خپلو دوو وروڼو تر منځ روغه جوړه وکړئ او له الله ووېرېږئ چې رحم درباندي وشي.

(۱۰)- دا مبارك آیت یو ځل بیا او له ځینو توپیرونو سره مسلمانان پر دې ګماري چې د مؤمنانو تر منځ به روغه جوړه کوي، فرمایي: مؤمنان په خپلو منځونو کې وروڼه دي، که کله د ورورګلوی دا ایماني اړیکي وشلېدې او د دوی تر منځ شخړې او اختلافات راولاړ شول نو دا ستاسو دیني وجیبه ده چې د دوی تر منځ به صلح کوئ، خو د صلحي دا هڅه به پر تقوی ولاړه وي، محرك به ئې له الله تعالی وېره وي او د مصالحې په دوران کې به له الله تعالی د وېرې له کبله له غلطي او ناروا پرېکړې او د ذاتي اغراضو له کبله د یوه لورې له پلوي او یوه ته پر بل ترجیح ډډه کوئ، د صلحي رښتینې او عادلانه هڅې به د دې باعث شي چې الله تعالی پر تاسو رحم وکړي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُواْ خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۖ وَلَا تَلْمِزُوٓاْ أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُواْ بِٱلْأَلْقَٰبِ ۖ بِئْسَ ٱلِٱسْمُ ٱلْفُسُوقُ بَعْدَ ٱلْإِيمَٰنِ ۚ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿١١﴾

۱۱- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! نه دي یوه ډله پر بلې ډلې تمسخر کوي؛ ښایي هغوی به تر دوی غوره وي؛ او نه دي ځینې ښځې پر ځینو نورو ښځو؛ ښایي هغوی به تر دوی غوره وي؛ او په خپل منځ کې (یو بل ته) عیب مه منسوبوئ؛ او یو بل په بدو القابو مه یادوئ، له ایمان (راوړلو) وروسته بد نوم (فسوق) دئ؛ او څوك چې توبه ونه کړي همدا دوی ظالمان دي.

(١١)- په دې مبارك آيت کې مسلمانانو ته دا سپارښتنې شوې:

- يوه ډله دي پر بلې ډلې ملنډې نه وهي، د داسې څه له ويلو او کولو دي ډډه وکړي چې د بل سپکاوی، تذليل او اهانت ترې مراد وي، ښايي هغه چې ملنډې پرې وهې تر تا غوره وي، له دې فقرې معلومېږي چې ټمسخر کوونکی او ملنډې وهونکی په حقيقت کې ځان تر بل غوره او هغه سپك او تر ځان ټيټ ګڼي، نو ځکه ده ته ويل شوي: ښايي ته به بې ځايه پر خپل ځان غره شوی يې، داسې معيارونه به کاروې چې ځان درته درونـد او هغه درته سپك برېښي، کېدی شي ستا دا معيارونه او قضاوت غلط وي او د الله تعالى په وړاندې هغه تر تا ښه او غوره وي.
- ښځو ته په ځانګړې توګه ويل شوي: ښځې دي هم ځينې پر ځينو نورو ملنډې نه وهي؛ ښايي هغوی به تر دوی غوره وي.
- په خپل منځ کې يو بل ته عيبونه مه منسوبوئ، يو بل ته پېغورونه مه ورکوئ، د ژبې، لاس، سترګو، شونډو او وروځو په حرکاتو سره د بل سپکاوی مه کوئ.
- يو بل په بدو القابو مه يادوئ، د داسې نومونو او القابو له کارولو ډډه وکړئ چې بل ئې نه خوښوي او ځان ته ئې سپکاوی ګڼي. مسلمان نه يوازې مکلف دئ خپل مسلمان ورور په بدو القابو ياد نه کړي بلکې مکلف دئ په داسې نامه ئې ياد کړي چې هغه ئې خوښوي او ځان ته ئې غوره کړی، د يو چا د درناوي لپاره دا کافي ده چې په خپلې کنيه ياد شي، لکه ابو احمد(د احمد پلار)، ابو القاسم (د قاسم پلار)، يا په خپلې دندې ياد شي لکه يا اميرالمؤمنين، په دوهمه درجه کې د درناوي نوم د هغه تخلص او لقب دئ، لکه صابر، عابد، حامد، په درېيمه درجه کې د هغه اصلي نوم دئ، لکه عبدالله، عبدالرحمن، په اسلام کې په اوږدو اوږدو القابو يادول هم نشته، په ځانګړې توګه د ستايني القاب، له داسې ستايني ممانعت شوی، مسلمانانو خپل پېغمبر ته په خطاب کې ويل: يا رسول الله! د مسلمانانو امير ته به ئې ويل: يا اميرالمؤمنين. خو وروسته دا اسلامي بې تکلفه او ساده او له صفا ډك ادب هېر کړی شو او ځای ئې د جاهليت د دور له تکلف او مبالغې ډك ادب ونيولو، لکه غوث الاعظم، حبر الاحبار، شمس العارفين، د ځينو القاب خو به تر يوه بشپړ سطر هم تېر شول.
- له ايمان راوړلو وروسته بد نوم (فسوق) دئ، څوك چې د ايمان دعوی کوي او سره له دې دا د فسق کارونه کوي، پر نورو ملنډې وهي، پېغورونه ورکوي، په بدو القابو ئې يادوي، مسلمان ته په سپکه سترګه ګوري، ځان تر هغه غوره ګڼي او غرور ئې دې ته هڅوي چې د بل سپکاوی وکړي؛ او په دې کارونو سره ځان د دې وړ او مستحق ګرځوي

چې د فاسق بد نوم ورکړی شي او د الله تعالی په نزد د فاسق په نامه ثبت شي، دا د ده له ایمان سره نه ښایي، که کوم کافر او بې ایمان انسان دا د فسق کارونه وکړي ورسره ښایي او همدا بداخلاقي د هغه د بدو او غلطو باورونو زېږنده ده، خو له مؤمن سره ځکه نه ښایي چې ایمان انسان ته د غوره اخلاقو درس ورکوي او له بد اخلاقي کرکه لري.

- څوک چې له دې بداخلاقیو توبه ونه کړي نه یوازې فاسق دئ بلکې د الهي معیارونو له مخې ستر ظالم دئ، دا ځکه چې د انسان تر ټولو ارزښتمنه پانګه د ده عزت دئ، د ده پر عزت تېری تر بل هر تېري ستر دئ.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « إِنَّ مِنْ أَرْبَى الرِّبَا الاِسْتِطَالَةَ فِي عِرْضِ الْمُسْلِمِ بِغَيْرِ حَقٍّ ».

له سعید بن زید رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: تر ټولو بد سود د یوه مسلمان پر عزت ناحقه تېری دئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱجْتَنِبُواْ كَثِيرًا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ ٱلظَّنِّ إِثْمٌ وَ لَا تَجَسَّسُواْ وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾

۱۲- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! له ډېرېو ګمانونو ډډه وکړئ، یقیناً چې ځینې ګمانونه ګناه وي، تجسس مه کوئ؛ او ځینې د ځینو نورو غیبت مه کوئ، آیا کوم یو مو دا خوښوي چې د خپل مړي ورور غوښه وخوري؟! په داسې حال کې چې تاسو ترې کرکه لرئ؛ او له الله ووېرېږئ، یقیناً چې الله مهربان توبه قبلوونکی دئ.

---

(۱۲)- په دې مبارک آیت کې مؤمنانو ته دا سپارښتنې شوې:

- له ډېرو ګمانونو ډډه وکړئ، داسې نه چې تل د ګمان پر بنسټ قضاوت او پرېکړه کوئ، یا بد ګماني او شک مو داسې کار ته وهڅوي چې جائز نه وي، کله کله ګمان یا په خپله ناسم او د حقیقت خلاف وي او یا په ګناه منتج کېږي، دا ګمان دئ چې انسان تجسس ته هڅوي، دا تجسس یا د بل عیبونو لټولو په موخه وي، یا د خپلو اندېښنو رفع کولو په موخه.
- تجسس مه کوئ، د نورو په اسرارو د پوهېدو او د هغوی د عیبونو او نواقصو د پېژندو لټه مه کوئ، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

عَنْ أَبِي بَرْزَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم: يَا مَعْشَرَ مَنْ آمَنَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يَدْخُلِ الإِيمَانُ قَلْبَهُ لا تَغْتَابُوا الْمُسْلِمِينَ وَلا تَتَّبَعُوا عَوْرَاتِهِمْ فَإِنَّهُ مَنْ يَتَّبَعْ عَوْرَةَ أَخِيهِ الْمُؤْمِنِ يَتَّبَعِ اللهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ يَتَّبَعِ اللهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ فِي بَيْتِهِ . البيهقى

له ابو برزه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: اې هغه ټولګيه چې په ژبه ئې ايمان راوړی خو لا ئې ايمان زړه ته نه دئ ننوتی! د مسلمانانو غيبت مه کوئ، په اسرارو پسې ئې مه ګرځئ، دا ځکه چې څوك د خپل مؤمن ورورو په اسرارو پسې لټه کوي الله به د ده اسرار پلټي او د چا اسرار چې الله وپلټي نو په خپل کور کې به ئې رسوا کړي.

- ځيني مو د ځينو نورو غيبت مه کوئ، دا غيبت داسې دئ لکه چې څوك د خپل مړي ورور غوښه وخوري؟! لکه څنګه چې د مړي ورور د غوښې له خوړلو کرکه لرئ همداسې بايد له غيبت کرکه ولرئ،
- له الله ووېرېږئ او له دغو ګناهونو ځان وساتئ.
- که تر دې وړاندي مو دا ګناهونه کړي وي اوس توبه وکړئ، په دې پوه شئ چې الله مهربان توبه قبلوونکی دئ.

لکه چې ګورئ دلته داسې ويل شوي چې ځيني ګمانونه ګناه وي، د دې معنی دا ده چې مور له هر ډول ګمان منع شوي نه يو، له هغو منع شوي يو چې په خپله ګناه يا د ګناه باعث وي، د مسلمان په اړه ښه ګمان درلودل او حتی د هغه اشتباهات په اويا دلائلو توجيه کول د ثواب کار دئ، له کوم دليل پرته د چا په اړه بد ګماني ګناه ده، د چا د کوم مشکوك عمل په ليدلو سره د هغه په اړه شك کول نه يوازې ګناه نه تلقي کېږي بلکې طبيعي او فطري عمل دئ، خو دا شك بايد د دې سبب نه شي چې د چا شخصي اسرارو تجسس ته لار پرانيزي. لکه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي:

"إذا ظَننتُمْ فَلا تُحقِّقوا ، وَإذا حَسدتمْ فَلا تَبغوا ، وَإذا تَطّيرتمْ فَامضوا وَعلَى الله فَتوكّلوا ، وَإذا وَزنتمْ فَأرجحوا" جامع الاحاديث

کله چې شکمن شوئ نو تحقيق مه کوئ، کله چې حسد ته وپاربدئ تېری مه کوئ، کله چې بدفالي وکړئ نو وړاندي درومئ (د بد فال پروا مه کوئ) او پر الله توکل وکړئ او کله چې (بل ته) څه تلئ بشپړ او له څه زياتوالی سره ئې تلئ.

رسول الله صلى الله عليه و سلم د غيبت په اړه فرمايلي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ: أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ؟ قَالُوا: اللهُ

وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ، قِيلَ: أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ؟ قَالَ: إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدْ بَهَتَّهُ. البيهقى

له ابو هريره رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: پوهېږئ چې غيبت څه دئ؟ وئې ويل: الله او د هغه رسول ښه پوهېږي، وئې فرمايل: خپل ورور دي په داسي توګه يادول چې ترې کرکه لري، وويل شول: څنګه ئې ګڼې چې که هغه څه زما په ورور کې وي چې زه ئې وايم؟ وئې فرمايل: که په هغه کې وي نو د ده غيبت دي کړی او که هغه څه چې ته ئې وايې په هغه کې نه وي پر هغه دي ناحقه تور لګولی.

د رسول الله صلى الله عليه و سلم سنت ته په پام سره فقهاءو په دغو صورتونو کې غيبت جائز ګڼلی:

- د ظالم په خلاف د مظلوم شکايت هغه چا ته چې له ظلم ئې د ژغورلو هيله ترې لري.
- د چا د اصلاح په موخه هغه چا ته د ده غلط کارونه په ګوته کول چې د ده د اصلاح طمع ترې لري.
- د يوه چا له شر او ضرر د خلکو د خوندي پاته کېدو لپاره د هغه عيب ورته بيانول، لکه د يوه داسي راوي، ليکوال او مفتي له عيبونو خلك خبرول چې که ترې خبر نه شي فتنې راولاړېږي.
- د هغه چا په خلاف په ډاګه څه ويل او د هغه پر کړنو اعتراض کول چې فسق او فجور خوروي.
- په يوه داسي نوم څوك يادول چې د پېژندو لپاره ئې د نښې په توګه وکارول شي، لکه دا چې دوه عبد الله نومي وي او په دوی کې يو ګوډ او بل ړوند وي او د هغوی د پېژندو لپاره وويل شي ګوډ يا ړوند عبد الله.

له دې پرته د يوه مسلمان په غياب کې داسي څه ويل چې هغه پرې ناراض شي حرام دي. که څوك داسي غيبت واوري بايد غيبت کوونکی منع کړي او له هغه چا دفاع وکړي چې غيبت ئې کېږي، که دا کار ونه کړي الله تعالى به داسي حالت پرې راولي چې بل به د ده غيبت کوي او څوك به ترې دفاع نه کوي. چا چې د کوم مسلمان غيبت وکړ بايد توبه وکړي، په توبې کې ئې دا هم شامل دي چې خپله خبره به بېرته اخلي او د جبران لټه به کوي؛ او له هغه کس به معافي غواړي. لکه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي:

«مَا مِنَ امْرِئٍ يَخْذُلُ امْرَأً مُسْلِمًا فِي مَوْضِعٍ تُنْتَهَكُ فِيهِ حُرْمَتُهُ وَيُنْتَقَصُ فِيهِ مِنْ عِرْضِهِ،

إِلَّا خَذَلَهُ اللَّهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نُصْرَتَهُ، وَمَا مِنَ امْرِئٍ يَنْصُرُ مُسْلِمًا فِي مَوْضِعٍ يُنْتَقَصُ فِيهِ مِنْ عِرْضِهِ وَيُنْتَهَكُ فِيهِ مِنْ حُرْمَتِهِ، إِلَّا نَصَرَهُ اللَّهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ نُصْرَتَهُ» ابو داؤد

هيڅ سړی به يو مسلمان په داسي ځای کې يوازي پرې نږدي چې هلته د هغه حرمت تر پښو لاندي کېږي او عزت ته ئې تاوان رسېږي مګر دا چې الله به ئې په داسي ځای کې يوازي پرېږدي چې د ده مرسته به خوښوي؛ او هيڅ سړی به په داسي ځای کې د يوه مسلمان مرسته کوي چې هلته د هغه حرمت تر پښو لاندي کېږي او عزت ته ئې تاوان رسېږي مګر دا چې الله به په داسي ځای کې د ده مرسته وکړي چې د الله مرسته خوښوي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ١٣

١٣- اې خلکو! يقيناً چې موږ له يوه نارينه او يوې ښځينه راپيدا کړئ او ټبر ټبر او قبيلې قبيلې مو کړئ چې يو بل وپېژنئ، بې شکه چې د الله په وړاندي ستاسو تر ټولو غوره ستاسو تر ټولو زيات پرهېزګار دئ، يقيناً چې الله ښه باخبر پوه دئ.

(١٣)- دا مبارك آيت وايي: ټوله نړۍ يوه سړه کورنۍ ده، ټول انسانان د همدې سړي کورنۍ غړي دي، ټول له يوې جوړې (نر او ښځې) پيدا شوي، نسل ئې يو او په رګونو کې ئې يوه وينه خوځېږي، آدم او حوى عليهما السلام د ټولو ابا او انا دي، ټبل ټبل ولسونه او قبيلې د همدې يوې کورنۍ غړي او د همدې يوې وڼې ځانګې دي، الله تعالى ځکه ټبل ټبل رنګونه ورکړي چې يو بل وپېژني، دا د تعارف لپاره دي نه د تفاخر لپاره، هيڅ قوم او قبيله پر بلې له نسلي پلوه هيڅ توپير او امتياز نه لري، د انسانانو تر منځ نسلي او قومي توپيرونه د حقيقت خلاف جعلي توپيرونه دي، د الهي معيارونو له مخې هيڅ انسان پر بل انسان له نسلي پلوه هيڅ امتياز او تفوق نه لري، د دوى د تفوق او امتياز ملاك معنوي ارزښتونه دي نه قومي او قبيلوي توپيرونه، هغه اکرم دئ چې اتقى وي، تر ټولو زيات عزتمن هغه دئ چې تر ټولو زيات متقي وي، دا د هغه ذات وينا ده چې هم عليم دئ او هم خبير، د انسانانو په جوړښت پوه دئ او د هغوى د پيدايښت له څرنګوالي خبر دئ، پوهېږي چې د انسانانو جوړښتونه سره ورته دي او خبر دئ چې نسل ئې يو دئ او له يوه پلار او مور پيدا شوي.

قرآن په مکرره توګه او په تأکيد سره وايي چې ټول انسانان د يوه پلار مور اولاد دي، يعني د يوې کورنۍ غړي دي، مسلمان او کافر هم د يوې کورنۍ غړي او نسلي ورونه دي،

مسلمان د مسلمان هم دیني ورور دئ او هم نسلي ورور، کافر د مسلمان دیني ورور نه بلکې نسلي ورور دئ.

که د ټولو انسانانو رنګونه سره ورته وی، ژبه ئې سره ورته، غږ ئې سره ورته، د قد اندازه ئې سره ورته، پوهېږئ چې دې به انسانان له څومره ستونزو سره مخامخ کړي ول، د یوه بل په پېژندو کې به ئې څومره مشکلات درلودل، دوه ګوني همزولي چې تر ډېره حده سره ورته وي خلك پرې غلطېږي، یو د بل پر ځای نیسي، معامله او لانجه ئې له یوه سره وي خو لاس پر بل ږدي، که ټول انسانان داسې وی څومره ستونزي به ترې راولاړېدلې، پولیس ته به د جنایتکارانو موندل څومره ګران وو!! خو الله تعالی د انسان د پیدایښت له لومړۍ ورځې تر نن پورې ټول پیدا شوي انسانان په ښلو ښلو شکلونو او رنګونو کې پیدا کړي او دا ټول د تعارف لپاره نه د تفاخر لپاره.

که تاریخ ته رجوع وکړو نو وبه ګورو چې د نړۍ ستر ستر جنګونه له هغو جاهلانه تعصباتو راولاړ شوي چې یوه قوم ځان تر بل غوره ګڼلی، هغه ته ئې په سپکه سترګه کتلي، د هیټلر او موسولوني د لویو لویو ورانوونکو جګړو بنسټ همدا قومي تعصبات ول، دوه ستر نړۍ وال جنګونه له همدې راولاړ شوي، د اروپایي او امریکایي سپین پوستو ظلمونه پر تورپوستو د تاریخ یو تور باب دئ، له فلسطینانو او نورو قومونو سره د یهودو څو زره کلن جنګونه له دې راولاړ شوي چې یهودانو ځان اعلی نسل، د خدایي کورنۍ غړي، د خدای دوستان او زامن ګڼلی، نور ئې د دې وړ چې یا به د دوی غلامي کوي او یا به وژل کېږي، هندوانو خلك په اعلی، اوسط او ادنی وېشلي، وایي: ځینې د خدای له سر، ځینې د خدای له خېټې او ځینې د خدای له پښو پیدا شوي، هغه چې د خدای له پښو پیدا شوي له هغو سره په یوه کاسه او دسترخان د ډوډۍ خوړلو حق او وړتیا نه لري چې د خدای له سر پیدا شوي!! قرآن په دې مبارك آیت سره ټول هغه جاهلانه او ظالمانه انګېرنې مردودي وګڼلې چې وایي: انسانان له نسلي پلوه توپیرونه لري.

دې ته مو باید پام وي چې دا بیماري او له هغې راولاړې شوې فتنې په وار وار او د تاریخ په ښلو ښلو پړاوونو کې د جهل ځپلو ټولنو په غږ کې سر راایستلی، هر پیغمبر راغلی دا ګنده بوټی ئې له جړو ایستلی خو د هغه په تلو سره بیا راټوکېدلی او حتی د همدې پیغمبر په نامه یوه بله ستانه او ممتازه قبیله رامنځته شوې، یو مثال ئې قریش دي، قریشو د عربو تر بل هر قوم د پیغمبر علیه السلام زیات مخالفت او دښمني کړې، د رسول الله صلی الله علیه و سلم تره ابو لهب د ده دومره مخالفت کړی چې قرآن له ده پرته د رسول الله صلی الله علیه و سلم د بل هیڅ دښمن نوم نه دئ یاد کړی، خو د رسول

الله صلى الله عليه و سلم له رحلت وروسته ګڼ شمېر داسي موضوعي روايات جوړ او خواره شول چې ښيي قريش يو ممتاز قوم دئ، ډېرو دا روايات منلي، نه ئې د قرآن دې لارښوونو ته اعتناء کړې چې ټول انسانان له يوه مور او پلار پيدا شوي او نه ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم دې لارښوونو ته چې همدا خبره کوي، په حجة الوداع کې ئې وفرمايل:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَلاَ إِنَّ رَبَّكُمْ وَاحِدٌ وَإِنَّ أَبَاكُمْ وَاحِدٌ أَلاَ لاَ فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى أَعْجَمِيٍّ وَلاَ لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ وَلاَ لأَحْمَرَ عَلَى أَسْوَدَ وَلاَ أَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ إِلاَّ بِالتَّقْوَى . مسند احمد

اې خلکو! پوه شئ چې ستاسو رب يو دئ؛ او ستاسو پلار يو دئ، پوه شئ چې نه عربي پر اعجمي کوم فضيلت لري، نه اعجمي پر عربي، نه سور پر تور او نه تور پر سور مګر په تقوى سره.

عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّكُمْ بَنُو آدَمَ، وَآدَمُ خُلِقَ مِنْ تُرَابٍ لَيَنْتَهِيَنَّ قَوْمٌ يَفْخَرُونَ بِآبَائِهِمْ أَوْ لَيَكُونَنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللَّهِ مِنَ الْجُعْلَانِ» مسند البزار

له حذيفه رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ټول د آدم اولاد يئ او آدم له خاوري پيدا شوى، يا به هغه خلك حتماً ډډه کوي چې پر خپلو پلرونو فخر کوي او يا به داسي شي چې د الله تعالى په نزد کې به تر ګونګټ هم سپك وي.

همدا راز فرمايي:

فَلَيْسَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى عَجَمِيٍّ فَضْلٌ، وَلا لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ فَضْلٌ، وَلا لأَسْوَدَ عَلَى أَبْيَضٍ وَلا لأَبْيَضَ عَلَى أَسْوَدَ فَضْلٌ إِلا بِالتَّقْوَى، يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ، لا تَجِيئُونِي بِالدُّنْيَا تَحْمِلُونَهَا عَلَى أَعْنَاقِكُمْ وَيَجِيءُ النَّاسُ بِالآخِرَةِ فَإِنِّي لا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللهِ شَيْئًا". المعجم الكبير للطبرانى

نه عربي پر اعجمي کوم فضيلت لري، نه اعجمي پر عربي، نه تور پر سپين او نه سپين پر تور، مګر په تقوى سره، اې د قريشو ټوليه! ما ته داسي مه راځئ چې دنيا مو پر غاړه وي په داسي حال کې چې نور خلك له آخرت سره راځي، زه د الله په وړاندي هيڅ څه له تاسو نه شم دفع کولى!!

خو سره له دې په مسلمانانو که هم ځينو د مخکينيو جاهلو قومونو لار غوره کړه؛ چا د يوه او چا د بل اولاد ستانه او سپېځلي وګڼل، لکه چې يهودانو د يعقوب عليه السلام او

بيا د هارون عليه السلام اولاد سپېځلی مذهبي ټبر وګڼلو؛ د رسول الله په امت کې هم چا د ده اولاد ستانه او سيدان وګڼل، چا ټول قريش ممتاز قوم او د امارت لپاره ئې قريش تر هر چا زيات وړ او مستحق وګڼل؛ چا د ابو بکر، چا د عمر او چا د علي اولاد ستاينه وګڼل!! داسي معروف مفسرين هم مومو چې د عام ذهنيت او د کمزورو خواره شوو روایاتو په استناد ئې ويلي: د امارت يو ضروري وړتيا او صفت دا دئ چې هغه به قريشي وي!! راشئ هغه روايتونه خپلي مخي ته کښېږدو چې همدا مطلب په کې راغلی؛ دوه داسي روايتونه لرو چې ترمنځ ئې کافي توپيرونه شته؛ لومړی ئې دا دئ:

وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: " الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ، أَبْرَارُهَا أُمَرَاءُ أَبْرَارِهَا، وَفُجَّارُهَا أُمَرَاءُ فُجَّارِهَا، وَإِنْ أَمَّرْتُ عَلَيْكُمْ عَبْدًا حَبَشِيًّا مُجَدَّعًا فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا، مَا لَمْ يُخَيَّرْ أَحَدُكُمْ بَيْنَ إِسْلاَمِهِ وَضَرْبِ عَنْقِهِ، فَإِنْ خُيِّرَ بَيْنَ إِسْلاَمِهِ وَضَرْبِ عَنْقِهِ، فَلْيُقَدِّمْ عَنْقَهُ" مسند البزار و المعجم الاوسط

له علي رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: مشران له قريشو دي؛ نېکان ئې د نېکانو امېران او فاجران ئې د فاجرانو امېران؛ او که زه کوم حبشي غلام چې ځيني غړي ئې قطع شوي وي؛ پر تاسو امېر وټاکم؛ نو خبري ئې واورئ او اطاعت ئې وکړئ؛ تر هغه چې د خپل اسلام او خپلي غاړي غوڅېدو تر منځ د يوه غوره کولو اختيار نه وي درکړی شوی، خو که د خپل اسلام او خپلي غاړي غوڅېدو له منځه د يوه غوره کولو اختيار درکړی شو؛ نو خپله غاړه دي وړاندي کړي.

له دې روايت څو خبري په څرګنده توګه معلومېږي:

د امېر قريشي والی؛ يو شرط نه بلکې د هغه وخت يو مسلط وضعيت او موجود حالت وو؛ د عربو د ابرارو امېران هم دوی وو او د فجارو امېران هم.

د روايت دوهمه برخه ښيي چې يو حبشي مقطوع الاعضاء مخکنی غلام هم کېدی شي امېر شي؛ او مسلمانان مکلف دي چې د همدې امېر اطاعت به کوي.

تر هغه به اطاعت کوي چې دا امېر ئې له اسلام لاس اخيستو ته اړ نه کړي؛ داسي چې يا به اسلام پرېږدي او يا به د خپلي غاړي غوڅېدا مني.

که داسي حالت راغی نو پر خپل اسلام دي ټينګ پاته شي او د غاړي غوڅېدا دي ومني.

د همدې روايت بله صيغه دا ده:

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ أَبْرَارُهَا أُمَرَاءُ أَبْرَارِهَا وَفُجَّارُهَا أُمَرَاءُ فُجَّارِهَا وَلِكُلِّ حَقٌّ فَآتُوا كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ

وَإِنْ أُمِّرْتُ عَلَيْكُمْ عَبْدًا حَبَشِيًّا مُجَدَّعًا فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا مَا لَمْ يُخَيَّرْ أَحَدُكُمْ بَيْنَ إِسْلَامِهِ وَضَرْبِ عُنُقِهِ فَإِنْ خُيِّرَ بَيْنَ إِسْلَامِهِ وَضَرْبِ عُنُقِهِ فَلْيُقَدِّمْ عُنُقَهُ فَإِنَّهُ لَا دُنْيَا لَهُ وَلَا آخِرَةَ بَعْدَ إِسْلَامِهِ» مستدرك على الصحيحين

له علي رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: مشران له قريشو دي؛ نېکان ئې د نېکانو امیران او فاجران ئې د فاجرانو امیران؛ او د هر چا یو حق وي؛ نو د هر ذي حق حق اداء کړئ؛ او که زه کوم آزاد شوی حبشي غلام چې ځینې غړې ئې قطع شوي وي؛ پر تاسو امیر وټاکم؛ نو خبري ئې واورئ او اطاعت وکړئ؛ (هر یو خاص حق لري؛ د هر ذي حق حق اداء کړئ)؛ تر هغه چې د خپل اسلام او خپلې غاړې غوښېدو تر منځ د یوه غوره کولو اختیار درکړی شي، خو که د خپل اسلام او خپلې غاړې غوښېدو له منځه د یوه غوره کولو اختیار درکړی شو؛ نو خپله غاړه دي وړاندي کړي؛ دا ځکه چې له اسلام وروسته ئې نه دنیا په برخه کېږي او نه آخرت.

دواړه وروستي روایتونه سره ورته دي؛ یوازي دغه دوه په قوسونو کې راغلې برخي په وروستي روایت کې زیاتي دي.

دوهم روایت له انس رضي الله عنه روایت شوی؛ دې ته مو باید پام وي چې د علي رضي الله عنه او انس رضي الله عنه تر منځ ډېر زیات توپیر شتون لري؛ له دې پلوه هم چې علي رضي الله عنه په مکه کې مسلمان شوی او انس رضي الله عنه په مدینه کې؛ هغه هم د مدینې په آخري کلونو کې؛ هغه مهال هم لا ځوانکی وو چې پیغمبر علیه السلام رحلت کړی؛ دا مهال علي رضي الله عنه د ځوانۍ پاخه عمر ته رسېدلی وو؛ محدثین دې ته هم توجه کوي چې راوي د عمر له پلوه څنګه او عمر ئې څومره دئ؟ څه وخت مسلمان شوی؟ فهم او بصیرت ئې څنګه دئ؟ څومره وخت ئې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په څنګ کې تېر کړی دئ؛ دا ټول په پام کې نیسي بیا یوه روایت ته پر بل ترجیح ورکوي. مخکینی روایت له علي رضي الله عنه روایت شوی او د دې قضیې په ارتباط دقیق روایت همدا دئ.

دوهم روایت دا دئ:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ: كُنَّا فِي بَيْتِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَجَاءَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى وَقَفَ فَأَخَذَ بِعِضَادَتَيِ الْبَابِ فَقَالَ: «الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ وَلَهُمْ عَلَيْكُمْ حَقٌّ وَلَكُمْ مِثْلُ ذَلِكَ مَا إِذَا اسْتُرْحِمُوا رَحِمُوا وَإِذَا حَكَمُوا عَدَلُوا وَإِذَا عَاهَدُوا وَفَّوْا فَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ مِنْهُمْ

فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ» مسند احمد

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي د انصارو د يوه سړي كور كي وو؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم راغى؛ تر هغه چي ودرېدو؛ نو د دروازې دواړه ستني ئې ونيولې او وئې ويل: مشران له قريشو دي، دوى پر تاسو حقونه لري او تاسو ته همداسي حقوق دي؛ تر هغه چي كله تړې رحم وغوښتى شي رحم كوي؛ او چي حكم كوي عدالت مراعاتوي، او چي عهد وكړي نو وفا كوي؛ خو كه د دوى كوم يو دا كار ونه كړي؛ نو پر هغوى د الله تعالى، فرشتو او ټولو خلكو لعنت دئ.

بله صيغه ئې دا ده:

وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضى الله عنه قَالَ: (كُنَّا فِي بَيْتٍ فِيهِ نَفَرٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرِينَ " فَأَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم " فَجَعَلَ كُلُّ رَجُلٍ يُوَسِّعُ رَجَاءً أَنْ يَجْلِسَ إِلَى جَنْبِهِ " ثُمَّ قَالَ إِلَى الْبَابِ فَأَخَذَ بِعِضَادَتَيْهِ فَقَالَ: الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ وَلِي عَلَيْكُمْ حَقٌّ عَظِيمٌ وَلَهُمْ ذَلِكَ) وفى رواية: (إِنَّ لِي عَلَى قُرَيْشٍ حَقًّا وَإِنَّ لِقُرَيْشٍ عَلَيْكُمْ حَقًّا) (مَا فَعَلُوا ثَلَاثًا: إِذَا اسْتُرْحِمُوا رَحِمُوا وَإِذَا حَكَمُوا عَدَلُوا وَإِذَا عَاهَدُوا وَفُّوا وَأُتْمِنُوا فَأَدَّوْا فَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ مِنْهُمْ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ "). معجم الاوسط

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: مورږ په يوه كور كي وو چي يوه ډله د مهاجرينو او انصارو هلته وو؛ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم مورږ ته راغى؛ نو هر سړي ځاى پراخولو په دې هيله چي د ده خوا ته به كښېني؛ نو د دروازې دواړه ستني ئې ونيولې او وئې ويل: مشران له قريشو دي، او زه پر تاسو ستر حق لرم؛ او دوى هم پر تاسو همداسي حق لري؛ او په بل روايت كي راغلي: زه پر قريشو يو حق لرم؛ او قريش پر تاسو يو حق لري؛ تر هغه چي درې كارونه كوي: كله چي رحم تړې وغوښتى شي رحم كوي؛ او چي حكم كوي عدالت مراعاتوي، او چي وعده وكړي وفا كوي او چي امين كړى شي اداء كوي ئې؛ او چي د دوى كوم يو دا كار ونه كړي؛ نو پر هغوى د الله، فرشتو او ټولو خلكو لعنت دئ.

له انس رضى الله عنه يو بل روايت هم لرو چي ده ته منسوب دوو مخكينيو رواياتو سره په بشپړه توګه تعارض لري:

عن أَنَسِ بنِ مالكٍ قال: قال رسولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: "اسمَعوا و اَطيعوا وإِنِ استُعمِلَ عَلَيكُم عبدٌ حَبَشِى كأَنَ رأسَه زَبيبَةٌ" رَواه البخارىُّ

له انس رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: واورئ او اطاعت وکړئ؛ که څه هم داسې حبشي غلام دربانديي امیر کړی شي چې سر ئې ممیز ته ورته (وړې) وي.

یو له هغو مهمو مطالبو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د حجة الوداع په خطبې کې پرې ترکیز کړی همدا وو چې که تور پوستی حبشي مړی دربانديي امیر شي؛ سمع او اطاعت ئې پر تاسو لازم دئ.

که په دغو روایاتو کې لږ غور وکړو نو راته جوته کېږي چې:

- علي رضي الله عنه ته منسوب روایت هم واضح دئ، هم ښیي چې د عربو د هغه مهال وضعیت داسې وو چې زعامت د قریشو په لاس کې وو؛ نېکان ئې د نېکانو او فاجران ئې د فاجرانو مشران ول.
- انس رضي الله عنه ته منسوب روایتونه هم په خپلو منځونو کې کافي او ژور توپیرونه لري او هم غیرواضح دي؛ له الفاظو ئې دا نه معلومېږي چې آیا هدف ئې دا دئ چې همغه مهال زعامت د قریشو لاس کې وو او که ئې مطلب دا دئ چې تل به قریش د زعامت مستحق وي!!
- انس رضي الله عنه ته منسوب روایات داسې دي چې له ده پرته په صحابه وو کې بل چا دا خبره نه ده کړې؛ حال دا چې په روایت کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د یوې ډلې په وړاندي دا خبره کړې؛ ولې له دې ډلې بل چا دا خبره نه ده کړې؟
- د روایت متن هم داسې دئ چې له یوې خوا په قرآن کې هیڅ شاهد ورته نشو موندلی، په خپلو کې هم توپیرونه او تعارضات لري او له بل لوري د اسلام له اساساتو سره اړخ نه لګوي؛ قرآن ټول انسانان له نسلي او نژادي پلوه برابر او د یوه نسل بېل بېل قبائل او عشائر ګڼي، قومي او نژادي فضیلت مردود او نسلي تفاخر تحریموي، یوازي تقوی د فضیلت معیار او ملاك ګڼي.

دقیقه او سمه رأی همغه ده چې علي رضي الله عنه ته منسوب روایت کې ئې وضاحت شوی؛ د هغه مهال اجتماعي او سیاسي وضعیت همداسې وو چې د ښو او بدو زعامت او قیادت د قریشو لاس کې وو. نه دا چې قریش د زعامت لپاره پیدا شوي او په هره زمانه او هر ځای کې او د هر ملك په کچه به زعیم د قریشو له قبیلې غوره کېږي؛ په مدینه کې د قریشو مشران د دې لپاره نه دي غوره شوي چې دا د دوی شرعي او مسلم حق وو؛ هغه مهال هیڅوا دا خبره نه ده کړې چې ابو بکر رضي الله عنه باید له دې کبله امیر غوره کړو چې هغه قریشي دئ!! وجه ئې دا وه چې د مدینې د انصارو؛ اوس او

خزرج تر منځ اوږدې جګړې تېرې شوې وې؛ ګرانه وه چې د سعد بن معاذ رضی الله عنه له وفاته وروسته؛ له دوی داسې امیر غوره شوی وی چې ټولو له زړه منلی وی، د حل یوازینۍ لار دا وه چې امیر له مهاجرینو وی، محققین وایي: که پیغمبر علیه السلام قریشیت د امارت لپاره ضروري شرط ګڼلی نو ولې ئې د انصارو د درونده او نومیالي مشر سعد بن معاذ رضی الله عنه په اړه فرمایلي وو چې که هغه ژوندی وی نو د مسلمانانو د مشر په توګه به مې ټاکلی وو. د علي رضي الله عنه په روایت کې هم ګورو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: که زه کوم حبشي مقطوع الاعضاء مخکنی غلام پر تاسو امیر وټاکم؛ نو خبرې ئې واورئ او اطاعت وکړئ. که دا د قریشو حق وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به ولې مسلمانانو ته ویل: د تور پوستي حبشي؛ مخکني غلام امیر به هم حتماً اطاعت کوئ؟!!

دا چې آیا د مسلمانانو امیر لپاره دا هم یو شرط دئ که نه چې هغه باید قریشي وي؛ دوه ډوله روایتونه مو وڅېړل او ومو لیدل چې په هغوی کې هغه د اعتبار وړ او صحیح دئ چې وایي: دا د عربو د ټولنې د هغه وخت د اجتماعي حالت یوه ځانګړتیا وه چې د عربو زعامت د قریشو لاس کې وو؛ نیکان ئې د نیکانو او فاجران ئې د فاجران مشران ول؛ همغسې لکه چې علي رضي الله عنه ته منسوب روایت کې راغلي؛ کوم روایات چې انس رضي الله عنه ته منسوب وو؛ او په مختلفو صیغو له کافي توپیرونو سره نقل شوی؛ ډېرې ستونزې لري؛ په مقابل کې ئې داسې روایتونه زیات دي او راویان ئې هم ډېر چې وایي: هر مسلمان د هرې قبیلې کولی شي امیر وي؛ او پر مسلمانانو د هغه اطاعت لازم او واجب دئ؛ د غیر قریشي امیر په اړه دې روایت ته هم ځیر شئ چې وایي:

عَنْ أُمِّ الْحُصَيْنِ قَالَتْ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهُوَ عَلَى رَحْلِهِ وَرَاحِلَتِهِ وَحُصَيْنٌ فِي حِجْرِي وَقَدْ أَدْخَلَ ثَوْبَهُ مِنْ تَحْتِ إِبْطِهِ وَهُوَ يَقُولُ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا اللهَ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا لِمَنْ كَانَ عَلَيْكُمْ وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا مُجَدَّعًا فَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا مَا أَقَامَ فِيكُمْ كِتَابَ اللهِ» المعجم الكبير للطبرانی

له أُمِّ الْحُصَيْن رضي الله عنها روایت دئ چې وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم مي په حجة الوداع کې په داسې حال کې ولید چې پر خپلې سپرلۍ سپور روان وو؛ او زما زوی حصین زما غېږ کې وو، خپله جامه ئې تر تخرګ لاندې کړې وه، او ویل ئې: اې خلکو! د هغه چا واورئ او اطاعت وکړئ چې پر تاسو ګمارل شوی وي؛ که څه هم مقطوع الاعضاء حبشي آزاد شوی مریې وي؛ تر هغه چې د الله کتاب په تاسو کې پلي کوي.

څوك چې وايي امير بايد قريشي وي او قريشيت د امارت لپاره شرط ګڼي هغه ته وايو:

دا رأيه هم د قرآن له صريح نص سره تصادم کوي او هم له ټولو هغو روايتونو سره چې د همدې مخکيني روايت په څېر؛ مسلمانان د امير په اطاعت ګماري که څه هم مقطوع الاعضاء حبشي آزاد شوی مړی وي. قرآن ټول خلك د يوه نسب خاوندان ګڼي، مکرر وايي چې ټول انسانان له يوه مور او پلار پيدا شوي، له يوه نسل دي، ېېل ېېل قبائل او عشائر ئې د تعارف لپاره دي نه د تفاخر او تفاضل لپاره، هيڅ قبيله پر بلې هيڅ فضيلت نه لري؛ مګر په تقوى سره، په اسلام کې نَسَبي فضيلت او يو تر بل په نَسَبي بنسټ ځان غوره ګڼل مردود او حرام دي.

که دا رأى ومنو بيا خو بايد يهودانو ته هم دا حق ورکړو چې ځان تر ټولو قومونو په دې دليل غوره وګڼي چې هغوى د ابراهيم عليه السلام اولاد دي او ډېر پيغمبران په دوى کې مبعوث شوي!! او په يهودانو کې هم بايد لاويان چې د موسى عليه السلام ټبر دئ؛ د زعامت مستحق وي؛ همغسي چې محرف بايبل ئې د يهودانو خاصه مذهبي قبيله او له امتيازاتو برخمنه ګڼي!! خو قرآن؛ يهودان هغه مهال تر ټولو قومونو غوره ګڼي چې ايمان ئې راوړى او د الله تعالى په لار کې ئې هجرت او جهاد کړى؛ دغه مهال تر ټولو قومونو غوره او افضل قوم بيا همدغه د يهودانو قوم دئ؛ قرآن کريم فرمايي:

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُوا۟ :

ستا د رب غوره کلمه پر بني اسرائيلو بشپړه شوه؛ له دې کبله چې صبر ئې وکړ؛

او هغه مهال ئې د نړۍ تر ټولو ذليل او سپک قوم ګڼلى چې بغاوت ئې کړى او د شرك او نفاق لار ئې غوره کړې، له پيغمبر ئې سرغړاوى کړى، جهاد ئې ترک کړى، موسى عليه السلام ته ئې وويل: ته او خداى دي لاړ شئ او وجنګېږئ؛ مورږ دلته ناست يو؛ له دې قرآني لارښوونو په څرګنده توګه معلومېږي چې د فضيلت لاملونه نَسَبي نه بلکې فکري او اعتقادي دي، يوازې په نېك عمل سره يو کس يا قوم پر بل فضيلت ترلاسه کولى شي.

که داسي وى نو پيغمبر عليه السلام به څنګه فرمايل چې د تورپوستي حبشي امارت به هم منئ او اطاعت به ئې کوئ؟ دا دواړه خبرې سره تعارض لري؛ يو وايي چې قريشي به وي او بل وايي چې که تور پوستى حبشي آزاد شوى مريى؛ مقطوع الاعضاء (لاس، پښې يا بل غړى ئې قطع شوى هم) وي؛ نو د هغه اطاعت به کوئ. او څنګه به ئې د يو غير قريشي جليل القدر صحابي په اړه چې د مديني اوسيدونکى وو؛ فرمايل: که سعد بن معاذ (د انصارو دروند مشر) ژوندى وى نو هغه به مي د مسلمانانو د خليفه په توګه ټاکلى وو.

قَالَتِ ٱلۡأَعۡرَابُ ءَامَنَّاۖ قُل لَّمۡ تُؤۡمِنُواْ وَلَٰكِن قُولُوٓاْ أَسۡلَمۡنَا وَلَمَّا يَدۡخُلِ ٱلۡإِيمَٰنُ فِي قُلُوبِكُمۡۖ وَإِن تُطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَا يَلِتۡكُم مِّنۡ أَعۡمَٰلِكُمۡ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٤

١٤- باندېوالو وويل: ايمان مو راوړی، ووايه: ايمان مو نه دئ راوړی بلکي ووايئ: مونږ تسليم شوي يو، لا ايمان ستاسو په زړونو کي نه دئ ننوتی؛ او که د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ نو ستاسو د عملونو هيڅ څه به کم نه کړي، يقيناً چي الله مهربان بخښونکی دئ.

(١٤)- په دې مبارك آيت کي د هغو باندېوالو حالت انځور شوی چي ايمان راوړل ئې د ځينو امتيازاتو تر لاسه کولو لپاره وو، د مسلمانانو خوا ته به راتلل او دا هڅه به ئې کوله چي خپله مسلمانېدا پر مسلمانانو يو احسان ثابت کړي او ترې وغواړي چي د دوی ممنون او مرهون اوسي، الله تعالى د دوی په اړه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه کوي او فرمايي: باندېوال وايي: ايمان مو راوړی، ورته ووايه: ايمان مو نه دئ راوړی بلکي ووايئ: مونږ تسليم شوي يو، يا اسلام مو منلی، لا ايمان ستاسو په زړونو کي نه دئ ننوتی، که د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ نو الله به ستاسو د عملونو بشپړه بدله درکړي، که ايمان لرئ نو بايد د ايمان بدله له الله تعالى وغواړئ نه له کوم انسان، بايد پر دې حقيقت باور ولرئ چي الله تعالى ستاسو هيڅ نېك عمل بې بدلې نه پرېږدي، ستاسو معامله له هغه الله سره ده چي مهربان بخښونکی دئ.

ډېر خلك د دغو باندېوالو په څېر وي، له هغه چا د خپل ايمان راوړلو او مسلمانېدو بدله او معاوضه غواړي چي ايمان ته ئې دعوت کړی، په داسي حال کي چي په کار ده دوی خپل ځان د هغوی د احسان پوروړي ګڼلی. په دې مبارك آيت سره الله تعالى مؤمنان د خپل داعي او لارښود په وړاندي له داسي کچه چلن ځان ساتلو ته بللي.

إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمۡ يَرۡتَابُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ١٥

١٥- يقيناً مؤمنان خو يوازي هغه دي چي پر الله او د هغه پر پيغمبر ئې ايمان راوړی، بيا ئې هيڅ شك نه دئ کړی او په خپل مال او ځان سره ئې د الله په لار کي

جهاد کړی، همدا دوی رښتيني دي.

---

(۱۵)- په دې مبارک آيت کې د رښتيني مؤمن څو ځانګړتياوي راوښودل شوې:

- پر الله تعالی او د هغه پر پيغمبر ئې ايمان راوړی.
- ايمان ئې داسې د زړه تل ته لوېدلی چې د شک لپاره هيڅ ځای نه دئ پاته شوی، هيڅ څه او هيڅ حالت نه دئ توانېدلی چې د ده ايمان کمزوری او کمرنګی کړي او د الله، د هغه د دين او د هغه د وعدو او پرېکړو په اړه ئې شکمن کړي.
- په خپله ئې عملاً په جهاد کې برخه اخيستې ده او خپل مال ئې د الله په لار کې وقف کړی او د جهاد په چارو ئې لګولی.

قُلْ أَتُعَلِّمُونَ ٱللَّهَ بِدِينِكُمْ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٦﴾ يَمُنُّونَ عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوا۟ ۖ قُل لَّا تَمُنُّوا۟ عَلَىَّ إِسْلَٰمَكُم ۖ بَلِ ٱللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَىٰكُمْ لِلْإِيمَٰنِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٧﴾

۱۶- ووايه: آيا الله پر خپل دين پوهوئ (خبروئ)، په داسې حال کې چې الله په هغه څه هم پوه دئ چې په آسمانونو کې دي او په هغه څه هم چې په زمکې کې دي؛ او الله په هر څه ښه پوه دئ، ۱۷- له دې کبله پر تا احسان باروي چې مسلمان شوي، ووايه: پر ما د خپل اسلام منت مه ږدئ، بلکې الله پر تاسو منت ږدي چې د ايمان لوري ته ئې هدايت کړئ که رښتيني يئ.

(۱۶-۱۷)- په دې مبارکو آيتونو کې د پورتنۍ ډلې په اړه رسول الله صلی الله عليه و سلم ته دا لارښوونې شوې:

- دوی ته ووايه: آيا غواړئ په خپلې دغې وينا سره چې وايئ مور ايمان راوړی؛ الله تعالی په خپل دين او ايمان خبر کړئ، غواړئ هغه پوه شي چې تاسو مسلمان شوي يئ؟!! په داسې حال کې چې الله په هغه څه هم پوه دئ چې په آسمانونو کې دي او په هغه څه هم چې په زمکې کې دي، په هر څه ښه پوه دئ، ستاسو معامله خو له هغه عليم رب سره ده چې په هر څه پوهېږي، نو کومې خبرې دې ته اړ کړي يئ چې راځئ او په مکرره توګه رسول الله صلی الله عليه و سلم ته وايئ چې مور ايمان راوړی؟!
- دوی په دغې وينا سره غواړي ته ئې د دې احسان په وړاندې ځان پوروړی او ممنون وبولې چې ايمان ئې راوړی!! له تا د مسلمانېدو په بدل کې د معاوضې طمع او انتظار لري.

• دوی ته ووایه: پر ما د خپل اسلام منت مه ږدئ، بلکې الله پر تاسو احسان کړی او د هغه په وړاندي باید ځان ممنون وګڼئ چې د ایمان لوري ته ئې هدایت کړئ؛ که رښتیني یئ. که د ایمان په دعوی کې رښتیني یئ نو د الله تعالی د دې ستر احسان شکر به پر ځای کوئ چې د ایمان راوړلو توفیق ئې درکړ.

څوک چې د دعوت او مبارزې سابقه لري؛ له ډېرو داسې څېرو سره به هرومرو مخامخ شوی وي چې په دغو مبارکو آیتونو کې معرفي شوي، هغه چې له تا د ملګرتیا بدله او معاوضه غواړي، داسې لکه چې ته ئې پوروړی یې، ستا په شخصي کار کې درسره شریک شوی، ته به ئې ممنون وې، هغه به راضي ساتې، ژر ژر به مرور کېږي، هغه هم د دې لپاره چې د ده د خوښې امتیاز دي نه دئ ورکړی او د ده د ملګرتیا احسان ته دي اعتناء نه ده کړې، له تا به دا انتظار لري چې پخلا ئې کړې، هغه مهال به لازیات او ژر ژر مرور کېږي چې بل ورته غېږ پرانیزي، ګمان وکړي چې هلته به زیات څه تر لاسه کړي او تر دې ځای به ئې زیات قدر کېږي!! تل به له دوی شکایتونه اوري، خو ډېر ځله په داسې بڼې کې: دلته د خلکو سابقې ته اعتناء نه کېږي، موږ ئې هېر کړي یو!! مستحقو کسانو ته توجه نه کېږي.

إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ غَيۡبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٨

١٨- یقیناً چې الله د آسمانونو او زمکې په پټو پوه دئ او الله د هغه څه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ.

---

(١٨)- دا مبارك آیت د دې سورې جامع تتمه او خلاصه ده، د سورې له ټولو لارښوونو سره ژوري اړیکي لري، تأکید ئې پر دې دئ چې الله تعالی په غیب پوهېږي او د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ. تاسو پوهېږئ چې انسان هغه مهال په ګناه او بد کار لاس پوري کوي چې ګمان وکړي څوک ئې نه ګوري او نه پرې خبرېږي، د خلکو تر مخ او د کامرې په وړاندي نه یوازي له ګناه او غلط کار ځان ساتي بلکې له داسې حرکاتو هم ډډه کوي چې خلك ئې نه خوښوي، خو که هغه پر الله تعالی د زړه له تل ایمان ولري او په دې ئې باور وي چې الله تعالی د آسمانونو او زمکې په پټو پوه دئ او هر هغه څه ګوري چې دی ئې کوي؛ هیڅکله به دا جسارت ونه کړي چې د ګناه، فساد او ظلم مرتکب شي، له دې مبارکې سورې سره همداسې یوه جامع او ښکلې تتمه ښایي چې له پیل تر پای ئې اوچت اوچت اخلاقي مسئولیتونه د مسلمان په وړاندي اېښي.

ق

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (ق) دئ چې همدا سوره پرې پیل شوې، ٤٥ آیتونه لري، د ٣٦ آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (مجید)؛ او د پاتې ٩ ئې د شپږم آیت (فروج) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکي دور په متوسطو کلونو کې نازل شوي.

لکه څنګه چې دا سوره په یوه توري پیل شوې د سورې اساسي مضمون هم یو دئ، سوره د بیاژوندون په اړه د منکرینو ویناوي او د هغوی ځوابونه څېړي؛ او د اثبات لپاره ئې څو مضبوط دلائل وړاندي کوي. د سورې خلاصه د هغې د پای په دوو آیتونو کې راغلې او هلته ویل شوي: هغه ورځ حتماً راتلونکې ده چې انسانان به ژر ژر او په تلوار سره له زمکي راوځي، داسي لکه چې بوټي د زمکي له زړه سر راباسي، په همدې بوټو سره د زمکي خاورین پوستکی چوي او بوټي ژر ژر راټوکېږي. رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: اې پیغمبره! ته د بیاژوندون پر منکرینو باندي خپله خبره په زور او جبر سره نه منې، ستا دنده دا ده چې په قرآن سره هغه چا ته د قیامت د راتلو یادونه وکړې چې زما له ګواښونو وېرېږي.

دغه اساسي موضوع په ټولې سورې کې څېړل شوې، د اثبات لپاره ئې ګڼ شمېر دلائل وړاندي شوي، د آسمان او زمکي دقیق او هدفمن جوړښت، د دواړو تر منځ تنسیق او همغږي، له آسمان د اوبو ورېدا او په دغو اوبو سره د زمکي له زړه د بوټو راټوکېدا د بیاژوندن لپاره د څرګند او مشهود دلیل په توګه وړاندي شوي، د ګڼ شمېر باغي او طاغي ولسونو هلاکت او په الهي عذاب اخته کېدا زمونږ په وړاندي انځور شوې او ښیي چې دلته د مکافات او مجازات سلسله روانه ده او ظالمان مؤاخذه کېږي، همداسي به د مکافات او مجازات له اخروي پراو سره مخامخ کېږئ، دا سوره مونږ ته وایي: داسي نه ده چې د بیاژوندون منکرین د خپلي غلطي عقیدې لپاره کوم دلیل لري، بلکې دوی عمداً انکار کوي، په داسي حال کې چې د پېغمبر د وینا په حقیقت ښه پوهېدلي خو دا حقیقت عمداً تکذیبوي، له همدې کبله ده چې دوی په ګډو وډو او رنګا رنګو خبرو لګیا دي، کله یو څه

وايي او کله بل څه، ثابت دريځ او څرګنده وينا نه لري.

همدا راز په دې سورې کې د انسان مرګ، د قيامت په ورځ په شپېلۍ کې له پو کېدو سره سم د انسان بيا راژوندي کېدا، د حشر ميدان ته د ده ښول، له محاسبې وروسته د ځينو دوزخ ته تګ او د ځينو جنت ته تګ څېړل شوي، ويل شوي چې مرګ د آخرت د سفر لومړی پړاو دئ، ښيي چې داسي ذات شته چې انسان ئې ارادې ته منقاد دئ، د ده د مرګ پرېکړه کوي او دی ئې د مخالفت توان نه لري. بيا د انسان د اوږده سفر يو بل پړاو او د آخرت د منکرينو د هغې ورځې حالت انځور شوی چې د الله تعالى په وړاندي به ولاړ وي، خوا ته ئې هغه دواړه فرشتې چې د ده ځارنه ئې کوله، په پای کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د مخالفينو د معاندانه تبليغاتو په وړاندي دوه سپارښتني شوې: صبر کوه او د خپل رب په تسبيح او ستاينې لګيا اوسه.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قٓۚ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡمَجِيدِ ١ بَلۡ عَجِبُوٓاْ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡ فَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا شَيۡءٌ عَجِيبٌ ٢ أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗاۖ ذَٰلِكَ رَجۡعُۢ بَعِيدٞ ٣ قَدۡ عَلِمۡنَا مَا تَنقُصُ ٱلۡأَرۡضُ مِنۡهُمۡۖ وَعِندَنَا كِتَٰبٌ حَفِيظُۢ ٤ بَلۡ كَذَّبُواْ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ فَهُمۡ فِيٓ أَمۡرٖ مَّرِيجٍ ٥

١- قاف، قسم پر دې پرتمين قرآن، ٢- نه؛ بلکې له دې کبله هېښ شول چې د دوی له منځه يو ګواښونکی ورغی، نو کافرانو وويل: دا خو عجيب شی دئ، ٣- آيا کله چې ومرو او خاوري وو؟! دا خو (له امکان) لرې بيا راستنېدل دي، ٤- په داسي حال کې چې مور په هغه څه پوه شوي يو چې زمکه ئې تر کومې؛ او له مور سره ساتونکی کتاب دئ، ٥- نه؛ بلکې دا حق ئې هغه مهال تکذيب کړ چې ورغی، نو له همدې کبله دوی په ګډ وډ کار اخته شوي.

(١-٥)- د دې مبارکو آيتونو په لارښوونو د سنه پوهېدا لپاره لاندې مطالب په پام کې ولرئ:

- لکه څنګه چې دا سوره په يوه توري پيل شوې د سورې اساسي مضمون هم يو دئ، سوره د بياژوندون په اړه د منکرينو وينا‌وي او د هغوی ځوابونه څېړي، د سورې خلاصه د هغې د پای په دوو آيتونو کې په دې توګه راغلې:

يَوْمَ تَشَقَّقُ ٱلْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ۚ ذَٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِجَبَّارٍ ۖ فَذَكِّرْ بِٱلْقُرْءَانِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ ﴿٤٥﴾

هغه ورځ چې زمکه به په داسي توګه ترې وچوي چې دوی به تلوار کوونکي وي، دا پاڅون پر موږ آسان دئ، موږ په هغه څه ښه پوه یو چې دوی ئې وایي؛ او ته پرې جبر کوونکی نه یې، نو هغه ته په قرآن سره پند ورکړه چې زما له وعید وېرېږي.

یعني هغه ورځ حتماً راتلونکې ده چې انسانان به ژر ژر او په تلوار سره له زمکې راوځي، داسي لکه چې بوټي د زمکې له زړه سر راباسي، په همدې بوټو سره د زمکې خاورین پوستکی چوي او بوټي ژر ژر راټوکېږي. ته اې پیغمبره! پر دغو منکرینو باندې خپله خبره په زور او جبر سره نه منې، ستا دنده دا ده چې په قرآن سره هغه چا ته د قیامت د راتلو یادونه وکړې چې زما له ګواښونو وېرېږي.

- په لومړي آیت کې پر دې درووند قرآن لوړه شوې او د یوې داسي ادعاء د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندي شوی چې په وروستیو آیتونو کې له غور وروسته راته جوته کېږي، دلته قرآن یو ځل بیا د یس او ص د سورتونو په څېر د شاهد په توګه وړاندي شوی خو ورپسې او په لوړي پسي متصل دا نه دي ویل شوي چې دا قرآن د کومې مدعاء د اثبات شهادت ورکوي، د قرآن په نورو دا ډول قسمونو کې تل د قسم ځواب په قسم پسي متصل راځي او مخاطب پوهېږي چې د لوړي موخه څه ده او د کومې وینا د اثبات لپاره شوې، په قرآن کې معمولاً هغه څه د شاهد په توګه وړاندي کېږي چې لوړه پرې کوي، ځواب ئې ورپسې او په څرګندو الفاظو سره راځي، دلته له لوړي وروسته ویل شوي: خبره داسي نه ده لکه چې دوی ئې وایي، بلکې حقیقت دا دئ چې دوی له دې کبله هېښ او حیران شول چې د دوی له منځه یو ګواښونکی ورغی، نو کافرانو وویل: دا خو عجیب شی دئ، آیا کله چې ومرو او خاوري وو؟! دا خو (له امکان) لرې بیا راستنېدل دي، له دې الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دوی بیا ژوندون محال ګڼلو او د پیغمبر دې وینا ته حیران شوي چې ویل ئې: بیا به راژوندي کېږئ، په اصل کې دغه وینا د قسم ځواب دئ، الله تعالی د دوی وینا تردیدوي او فرمایي: دا قرآن شاهد دئ چې تاسو به بیا راژوندي کېږئ، قرآن هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم د رسالت په حقانیت ګواهي ورکوي او هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم پر دې وینا چې انسانان به بیاراژوندي کېږي، قرآن کافي شمېر مضبوط دلائل وړاندي کړي او دا ئې ثابته کړې چې انسانان به بیاراژوندي کېږي، په دې مبارکې سورې کې به تاسو د دغو مضبوطو دلائلو څو بېلګې وګورئ، همدا راز دوی ته

ويل شوي: الله تعالى په هغه څه شه پوه دئ چې انسان له مړيني وروسته او تر خاورو لاندي ورسره مخامخ کېږي، پوهېږي زمکه د ده له بدنه څه کموي، له الفاظو داسي معلومېږي چې زمکه د انسان يوه برخه ترې کموي، هو؛ انسان له دوو برخو جوړ شوی: روح او بدن، له مړيني وروسته خاوري يوازي د ده بدن ترې کم کړي، روح ئې روغه رمټه پاته شي، الله تعالى پوهېږي چې څنګه د روح دا کالبوت په زمکي کې تجزيه شي، په داسي څه تجزيه شي چې الله تعالى انسانان له هغه پيدا کوي، د انسان بدن له مړيني وروسته خاوري شي او الله تعالى هره ورځ انسانان له همدغي خاوري پيدا کوي!!

- پر دې سربېره د عالم پېښې او حوادث تصادفي او له منصوبې پرته نه دي، هر څه ئې په يوه خوندي کتاب کې ثبت شوي، لکه څنګه چې ستاسو ژوند د الهي ثابتو سننو مطابق پيل شي او پای ته ورسېږي همداسي به ستاسو بياژوندون د همدې ثابتو الهي سننو مطابق وي.
- داسي نه ده چې د بياژوندون منکرين د خپلې غلطي عقيدې لپاره کوم دليل لري، بلکې دوی عمداً انکار کوي، په داسي حال کې چې د پيغمبر د وينا په حقيقت شه پوهېدلې دا حقيقت عمداً تکذيبوي، له همدې کبله ده چې دوی په ګډو وډو او رنګا رنګو خبرو لګيا دي، کله يو څه وايي او کله بل څه، ثابت دريځ او څرګنده وينا نه لري. قرآن د ګڼ شمير آيتونو په ترڅ کې وايي چې د آخرت او بياژوندون منکرين د انکار لپاره هيڅ دليل نه لري، خيالات ئې ګډ وډ او بېل بېل دي، لکه چې فرمايي:

عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ۝١ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلۡعَظِيمِ ۝٢ ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ مُخۡتَلِفُونَ ۝٣ النبأ

له څه يو بل پوښتي، له هغي سترې خبرې، کوم چې دوی په کې په خپله مختلف دي.

...قُلۡ هَلۡ عِندَكُم مِّنۡ عِلۡمٖ فَتُخۡرِجُوهُ لَنَآۚ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَخۡرُصُونَ ۝١٤٨ الانعام

... ووايه: آيا کوم علمي سند درسره شته چې موږ ته ئې راوړاندي کړئ، تاسو خو يوازي په ګمانونو پسې درومئ او يوازي په خوشو دروغجنو خبرو بوخت يئ.

أَفَلَمۡ يَنظُرُوٓاْ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوۡقَهُمۡ كَيۡفَ بَنَيۡنَٰهَا وَزَيَّنَّٰهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٖ ۝٦ وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ۝٧ تَبۡصِرَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِكُلِّ عَبۡدٖ مُّنِيبٖ ۝٨ وَنَزَّلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ مُّبَٰرَكٗا فَأَنۢبَتۡنَا

بِهِۦ جَنَّٰتٖ وَحَبَّ ٱلۡحَصِيدِ ٩ وَٱلنَّخۡلَ بَاسِقَٰتٖ لَّهَا طَلۡعٞ نَّضِيدٞ ١٠ رِّزۡقٗا لِّلۡعِبَادِۖ وَأَحۡيَيۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ كَذَٰلِكَ ٱلۡخُرُوجُ ١١

٦- نو آيا د خپل سر له پاسه آسمان ته نه گوري چې څنګه مو هغه جوړ کړ او هغه مو ښايسته کړ، داسي چې هيڅ چاود ئې نشته، ٧- او زمکه مو داسي چې هغه مو خوره کړه او په هغې کې مو غرونه واچول او په هغې کې مو هر ډول جوړه جوړ بوټي راوټوکول، ٨- هر رجوع کوونکي بنده ته د بصيرت او پند په توګه، ٩- او له آسمان مو برکتناکي اوبه نازلې کړې چې په همدې سره مو باغونه او ربړ کډونکي دانه وال بوټي راشنه کړل، ١٠- او د خرما هسکي وني چې وړې ئې ډك يو پر بل پراته، ١١- د بندګانو لپاره د رزق په توګه؛ او په همدې سره مو مړ ټاټوبی ژوندی کړ، هغه بيا راوتل به همداسي وي.

(٦-١١)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- آيا د بياژوندون منکرين دې ته پام نه کوي چې د دوی د سر له پاسه دا ستر او پراخ آسمان له دومره بې شمېرو ستورو سره څنګه پيدا شوی، چا په رښو او ځلاندو ستورو سره ښايسته کړی، داسي چې په هيڅ برخې کې ئې کوم چاود، تشه او خلأ نشته، هر څه ئې په منظمه توګه ساتل کېږي؟ او زمکه داسي چې يوه برخه ئې پلنه او آواره او په بلې برخې کې ئې لوړ لوړ غرونه، په هغې کې ډول ډول بوټي، ټول جوړه جوړ، په لوړو کې ښل ښل ډولونه او په آوارو کې ښل ښل، که زمکه داسي نه وی جوړه شوې چې ځيني ئې لوړي او ځيني آواري نو د ټولې زمکې موسم به يو ډول وو او يوازي يو ډول بوټي به په کې راشنه کېدل، د آسمان او زمکې په دې جوړښت کې هر رجوع کوونکي بنده ته د بصيرت او پند څرګندي او ځلانده نښې ځان ښيي. دا کافي دي چې د بصيرت خاوندان په دې باور وکړي چې په دې پراخ عالم کې هيڅ خوشی او بې هدفه شی نشته، پر آخرت عدم باور داسي دئ لکه چې څوك ووايي: هم دا پراخ عالم خوشی پيدا شوی او هم انسان، حال دا چې دا غلط باور او ناسمه عقيده له هغې انتباه سره قطعاً اړخ نه لګوي چې د بصيرت خاوند انسان ئې له دې عالم تر لاسه کوي.
- نه يوازي د هر يوه په جوړښت کې څرګندي نښې دي بلکې د دوی دواړو تر منځ په ژور تنسيق او همغږي کې څومره ځلانده نښې بربښي، نه گورئ چې الله تعالى له آسمان برکتناکي اوبه نازلې کړي او په همدې سره د ډول ډول ونو باغونه او ډول ډول دانه وال بوټي راشنه کړي، د خرما داسي هسکي وني چې وړې ئې ډك يو پر بل پراته؛ او دا ټول د

انسانانو په خدمت کې، دوی ته رزق برابروي، خوندوري او ګټوري مېوې او دانې.

- او ګورئ چې په همدې اوبو سره مړه زمکه، سپېره ډاګونه، وچې بیدیاوي زرغونه شي او هر لوري ته د ژوند آثار راڅرګند شي.
- بیا ژوندون او له قبرونو بیا راوتل به همداسي وي.
- د دې هېښوونکو او عقل پاروونکو صحنو له لیدو سره سره څنګه له بیاژوندون انکار کوې؟!

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَأَصْحَٰبُ ٱلرَّسِّ وَثَمُودُ ﴿١٢﴾ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ وَإِخْوَٰنُ لُوطٍ ﴿١٣﴾ وَأَصْحَٰبُ ٱلْأَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ ۚ كُلٌّ كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ﴿١٤﴾ أَفَعَيِينَا بِٱلْخَلْقِ ٱلْأَوَّلِ ۚ بَلْ هُمْ فِى لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٥﴾

۱۲- تر دوی وړاندې د نوح قوم، د هغه زاړه کوهي خاوندانو او ثمودیانو تکذیب (غوره) کړ، ۱۳- او عادیانو، فرعون، د لوط وروڼو، ١٤- د هغه ځنګله خاوندانو او د تبع قوم، ټولو پیغمبران تکذیب کړل، نو زما وعید (ګواښ) محقق شو، ۱۵- نو آیا موږ په لومړي پیدایښت سره ستومانه او ناتوانه شوو؟ نه؛ بلکې دوی د نوي پیدایښت په اړه په شك کې دي.

(۱۲-۱۵)- په دې مبارکو آیتونو کې د بیاژوندون او آخرت لپاره یو بل مضبوط دلیل وړاندې شوی، مخکینیو مجرمو او مفسدو قومونو ته سزا ورکول، له هر یوه سره محاسبه، د خپل جرم او فساد مطابق مناسبه سزا، د دوی د ژوند او اقتدار ټغر ټولول او د دوی پر ځای نور راوستل ښیي چې دلته د الله تعالی له لوري د مکافات او مجازات لړۍ روانه ده، وایي:

- آیا د بیاژوندون منکرین دې ته پام نه کوي چې تر دوی وړاندې د نوح قوم، د هغه کوهي خاوندان، ثمودیانو، عادیانو، فرعونیانو، د لوط وروڼو، د هغه ځنګله خاوندانو او د تبع قوم د تکذیب لار غوره کړه، ټولو خپل خپل پیغمبران تکذیب کړل، د همدې تکذیب او مخالفت له کبله په الهي عذاب اخته شول، هغه الهي وعید او ګواښ محقق شو چې دروغ ئې ګڼلو، دوی د خپلو پیغمبرانو دا وینا نه منله چې الله تعالی خپلو بندګانو ته د هغوی د کړنو بدله او سزا ورکوي، په دنیا کې هم او په آخرت کې هم، هر یوه د خپلو کړنو دنیایي سزا وکتله، آیا د بصیرت خاوندانو ته دا تاریخي پېښې د عبرت او پند لپاره کافي نه دي؟!!

- آیا د بیاژوندون منکرین هغه رب چې دا ټول مخلوقات ئې په لومړي وار پیدا کړي له

دې عاجز ګڼي چې بيا ئې راپيدا کړي؟! آيا داسې انګېرې چې په لومړي پيدايښت سره ستومانه شوی او د بيا پيدا کولو توان ئې ختم شوی؟!! نه؛ داسې نه ده؛ بلکې دوی د نوي پيدايښت په اړه شکمن دي، کوم دليل نه لري، همسې د شك په بيماري اخته دي.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِۦ نَفْسُهُۥ ۖ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ ٱلْوَرِيدِ ﴿١٦﴾ إِذْ يَتَلَقَّى ٱلْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ ٱلْيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴿١٧﴾ مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴿١٨﴾

١٦- او يقيناً چې موږ انسان پيدا کړی او په هغه څه پوهېږو چې خپل نفس ئې دی پرې وسوسه کوي؛ او موږ د غاړې تر رګ ورنژدې يو، ١٧- هغه مهال چې ښي او کيڼ لوري ته ناست دوه تر لاسه کوونکي لاسته راوړنه کوي، ١٨- هيڅ وينا نه وايي مګر دا چې خوا ته ئې چمتو څارونکی وي.

(١٦-١٨)- د بياژوندون منکرينو ته د دې مبارکو آيتونو لاربښوونې دا دي:

- الله تعالی د انسان پيدا کوونکی دئ، د ده د زړه له وسوسو او خيالاتو خبر دئ.
- الله تعالی انسان ته د هغه د غاړې تر رګ هم ډېر ورنژدې دئ.
- د انسان خوا ته ئې د ده ښي او کيڼ لوري ته داسې دوه فرشتې ګمارلې چې دنده ئې نظارت دئ، د انسان هر څه په دقت سره ثبتوي، هيڅ وينا ئې له خولې نه وځي مګر دا چې خوا ته ئې ناست او ليکلو ته چمتو څارونکی ئې ثبتوي.

په دې مبارکو آيتونو سره د بياژوندون منکرينو ته ويل شوي چې د قيامت په اړه ستاسو انکار په حقيقت کې له هغه ذات انکار دئ چې انسان ئې پيدا کړی، هغه چې د انسان د زړه له وسوسو خبر دئ، هغه چې نه يوازې د ده د هرې وينا منشأ ورته معلومه ده بلکې د ده د هرې وينا د ضبطولو او ليکلو لپاره ئې داسې فرشتې ټاکلې چې د ده ښي او کيڼ لوري ته چمتو ناستي دي، د ده مراقبت کوي او هر څه ئې ليکي.

د ١٦ آيت په پای کې ويل شوي چې الله تعالی انسان ته د هغه د غاړې تر رګ هم ډېر ورنژدې دئ، دا مطلب د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې په بېلابېلو الفاظو راغلی، ټول پر دې حقيقت تأکيد کوي چې الله تعالی انسان ته ډېر نژدې دئ، يوه ډله چې د اهل ظاهر په نامه يادېږي او الله تعالی او افعال او صفات ئې له انسان سره تشبيه کوي؛ د دا ډول آيتونو په تعبير کې له سختي ستونزي سره مخامخ شي او دې ته ځان اړ ګڼي چې هغه تأويل کړي، د دغه آيت په اړه وايي چې الله تعالی په خپل علم سره انسان ته نژدې دئ،

نه په خپل ذات سره؛ ګواکې د اقرب معنی اعلم ده او د آیت معنی دا ده چې الله تعالی د انسان پر حالت ښه پوه دئ!! دوی ته وایو: که الله تعالی غوښتی هغه څه ووایي چې تاسو ئې وایئ نو د اقرب پر ځای به ئې د اعلم صیغه راوړې وه، په نورو ځایونو کې به ئې هم د قرب او معیت صیغې نه کارولې، ستاسو اصلي ستونزه دا ده چې الله تعالی له انسان سره تشبیه کوئ، دا درته ګرانه ده چې ومنئ چې الله تعالی هم پر عرش استوی کړې او په عین وخت کې له موږ سره په هر ځای کې دئ او انسان ته د هغه د غاړې تر رګ هم زیات ورنژدې دئ، ځکه تاسو مخلوق داسې موندلی چې په یوه وخت کې یوازې په یوه ځای کې اوسېدی شي، الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوئ نو ځکه هغه آیتونه تأویلوئ چې تل په هر ځای کې د الله تعالی په حضور تأکید لري، موږ وایو: الله تعالی پر عرش استوی کړې او په عین وخت کې انسان ته د هغه تر غاړې زیات ورنژدې دئ او په هر ځای کې له موږ سره دئ، خو نه عرش یوه کټ ته ورته شی دئ او نه د الله تعالی استوی پر عرش ښر یوه کټ د انسان ناستي ته؛ او نه الله تعالی د مخلوق په څېر په مکان او زمان محدود او مقید دئ.

وَجَآءَتۡ سَكۡرَةُ ٱلۡمَوۡتِ بِٱلۡحَقِّۖ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنۡهُ تَحِيدُ ﴿١٩﴾ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِۚ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلۡوَعِيدِ ﴿٢٠﴾ وَجَآءَتۡ كُلُّ نَفۡسٖ مَّعَهَا سَآئِقٞ وَشَهِيدٞ ﴿٢١﴾ لَّقَدۡ كُنتَ فِي غَفۡلَةٖ مِّنۡ هَٰذَا فَكَشَفۡنَا عَنكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ ٱلۡيَوۡمَ حَدِيدٞ ﴿٢٢﴾

١٩- د مرګ بې سدي حقیقت (په څرګنده توګه) راوړ، دا همغه څه دي چې تا ترې ډډه کوله، ٢٠- او په شپېلۍ کې به پو کړی شي، دا همغه د وعید ورځ ده، ٢١- او هر نفس به په داسې توګه راشي چې له هغه سره به یو بوونکی وي او یو ګواه، ٢٢- یقیناً چې ته له دې په غفلت کې وې نو ستا پرده مو اوچته کړه چې له کبله به ئې نن ستا سترګي تېزي وي.

(١٩-٢٢)- دلته د موضوع د بل اړخ په اړه بحث پیل شوی، دا بحث تر ٣٥ آیت پورې دوام کوي، په دې کې د انسان مرګ، د قیامت په ورځ په شپېلۍ کې له پو کېدو سره سم د انسان بیا راژوندي کېدا، د حشر میدان ته د ده ښول، له محاسبې وروسته د ځینو دوزخ ته تګ او د ځینو جنت ته تګ څېړل شوي، په پورتنیو مبارکو آیتونو کې ویل شوي:

- د مرګ سکرات او بې سدي د هغه حقیقت په لوري د انسان د سفر پیل دئ چې ده ئې له منلو ډډه کوله، مرګ د آخرت د سفر لومړی پړاو دئ، ښیي چې داسې ذات شته چې انسان ئې ارادې ته منقاد دئ، د ده د مرګ پرېکړه کوي او دی ئې د مخالفت توان نه لري.

- کله چې د مرګ داعي د ده خوا ته راشي او په وه شي چې د ده ژوند پای ته رسېدلی او د بلې نړۍ لوري ته د ده سفر پیل شوی ورته وبه ویل شي: دا همغه څه دئ چې تا ترې ډډه کوله، تا مرګ نه غوښتلو ځان دي ترې ساتلو خو ستا د خوښي او رضاء خلاف درته راغی، په هغه لوري دي بیایي چې تا ترې انکار کولو.
- بیا کله چې د قیامت ورځ راشي او په شپېلۍ کې پو کړی شي، دوی به له قبرونو راپاڅي او ورته وبه ویل شي: دا د وعید همغه ورځ ده چې پیغمبرانو ترې وېرولئ او تاسو ترې انکار کولو.
- هر یو به په داسي توګه د الله تعالی لوري ته بېول کېږي چې له هغه سره به یو بېوونکی وي او یو ګواه، یوه فرشته به ئې د محشر په لوري تللو ته اړ باسي او بله به د ده پر ټولو کړنو شهادت ورکوي، ده په دنیا کې له دوو خبرو انکار کولو: د الله په لوري تګ، له مړیني وروسته بیاژوندون او د الله تعالی په وړاندي ودرېدل، محاسبه او مکافات او مجازات، نو ځکه به نن یوه فرشته دی د خپل انتظار خلاف مخ په وړاندي تګ ته اړ کوي او بله به د ده پر کړنو ګواهي ورکوي.
- ده ته به وویل شي: یقیناً چې ته له دې په غفلت کې وې، پر خپلو سترګو دي د خپلو غلطو باورونو توره پرده غوړولې وه، پر دې څرګند حقیقت له اعتراف دي ډډه کوله، اوس مو ستا هغه توره پرده اوچته کړه، د دې پردې د څېري کېدو له کبله ستا سترګي تېزي شوې او هغه څه لیدلی شې چې په دنیا کې ئې له لیدلو عاجز وې، هغه پرده تا په خپله پر خپلو سترګو غوړولې وه.

وَقَالَ قَرِينُهُۥ هَٰذَا مَا لَدَىَّ عَتِيدٌ ﴿٢٣﴾ أَلۡقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلۡخَيۡرِ مُعۡتَدٍ مُّرِيبٍ ﴿٢٥﴾ ٱلَّذِي جَعَلَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَأَلۡقِيَاهُ فِي ٱلۡعَذَابِ ٱلشَّدِيدِ ﴿٢٦﴾ قَالَ قَرِينُهُۥ رَبَّنَا مَآ أَطۡغَيۡتُهُۥ وَلَٰكِن كَانَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٍ ﴿٢٧﴾ قَالَ لَا تَخۡتَصِمُواْ لَدَيَّ وَقَدۡ قَدَّمۡتُ إِلَيۡكُم بِٱلۡوَعِيدِ ﴿٢٨﴾ مَا يُبَدَّلُ ٱلۡقَوۡلُ لَدَيَّ وَمَآ أَنَا۠ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴿٢٩﴾

٢٣- او همځنګی به ئې ووایي: دا هغه څه دي چې له ما سره تیار حاضر دي، ٢٤- تاسو دواړه هر ډېر کفر کوونکی عنادګر په دوزخ کې وغورځوئ، ٢٥- همغه د خیر ډېر مانع، تېرې کوونکی، شك کوونکی، ٢٦- هغه چې له الله سره ئې بل معبود نیولی، په

شديد عذاب کې ئې وغورځوئ، ۲۷- همځنګی به ئې ووايي: اې زمونږ ربه! ما سرغړاوي ته نه دئ اړ کړی بلکې په خپله په ژوري تېروتني کې وو، ۲۸- وبه وايي: زما په وړاندي شخړه مه کوئ؛ په داسې حال کې چې لا له وړاندي مې وعيد درلېږلی وو، ۲۹- زما خوا ته وينا نه بدلېږي؛ او زه پر خپلو بندګانو ظلم کوونکی نه يم.

(۲۳-۲۹)- په دې مبارکو آيتونو کې د انسان د اوږده سفر يو بل پړاو او د آخرت د منکرينو د هغې ورځ حالت انځور شوی چې د الله تعالی په وړاندي به ولاړ وي، خوا ته ئې هغه دواړه فرشتې چې د ده ځارنه ئې کوله، د دې هيبتناکې صحنې څو برخې داسې دي:

- د الهي محکمې په وړاندي د حاضر کړی شوي همځنګی به ووايي: دا هغه څه دي چې له ما سره تيار حاضر دي، د دې الفاظو دوه تعبيرونه کېدی شي: که دا د شاهد فرشتې وينا وګڼو نو معنی ئې دا ده چې د ده په اړه شواهد دا دي او که ئې د سائق فرشتې وينا وګڼو نو معنی ئې دا ده چې دا همغه کس دئ چې ما دلته حاضر کړی او محاسبې او محاکمې ته حاضر دئ. خو د (من) پر ځای د (ما) راوړل ښيي چې دا د شاهد فرشتې وينا ده.
- الله تعالی به دواړو فرشتو ته امر وکړي: هر ډېر کفر کوونکی عنادګر په دوزخ کې وغورځوئ، همغه د خير ډېر مانع، تېری کوونکی، شك کوونکی، هغه چې له الله سره ئې بل معبود نيولی، په شديد عذاب کې ئې وغورځوئ. لکه چې ګورئ دلته د هغه چا څو خصلتونه په ګوته شوي چې له بياژوندون انکار کوي؛ او دا ښيي چې له آخرت انکار په انسان کې دغه بد بد او کرکجن خصلتونه زېږوي، ډېره ناشکري، له حق او حقيقت سره نه پخلا کېدونکی عناد او دښمني، د خير له چارو ممانعت، د نورو پر حقوقو تېری، څرګندو حقائقو ته د شك په سترګه کتل؛ او تر ټولو ستر جرم شرك او له الله سره بل معبود نيول او د هغه په وړاندي سر ټيټول، د قيامت په ورځ به الله تعالی د دغه ستر مجرم په اړه حکم وکړي: په شديد عذاب کې ئې وغورځوئ.
- دلته يو ځل بيا ويل شوي چې همځنګی به ئې ووايي: اې زمونږ ربه! ما سرغړاوي ته نه دئ اړ کړی بلکې په خپله په ژوري تېروتني کې وو، پوښتنه راولاړېږي چې دا کوم همځنګی دئ، مخکينۍ دوه فرشتې که کوم بل قرين؟ د قرآن نورو آيتونو ته پام سره ويلی شو چې دا د انسان هغه همځنګی دئ چې په دنيا کې ئې دی شرك، کفر، له آخرت انکار، طغيان او ګناهونو ته هڅولی وو، قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې هغې شخړې ته اشاره کړې چې د قيامت په ورځ او حتی دوزخ کې به د دوزخيانو تر منځ روانه وي، يو به بل ملامتوي، کشران به خپل مشران د خپلې تېروتني عامل او د دوه برابره عذاب مستحق ګڼي، له الله

تعالی به دوی ته د هغي ګناه سزا هم غواړي چې دوی ئې بې لاري کړل، دې ته د تخاصم اهل النار نوم ورکوي او فرمايي: إِنَّ ذَٰلِك لحَقٌّ تخَاصمُ أَهْلِ النَّارِ ص:٦٤: دا د دوزخيانو شخړه يو حقيقت دئ. دلته له قرين د دوزخيانو هغه مشران مراد دي چې نورو ته ئې د شرك او کفر لوري ته بلنه ورکوله، نور ئې طغيان ته هڅول، د قيامت په ورځ به وايي: ما طغيان ته نه دئ اړ کړی په خپله ئې د طغيان او سرغړاوي لار غوره کړې وه.

- الله تعالی به وفرمايي: زما په وړاندي شخړه مه کوئ؛ اوس او دلته د تخاصم او شخړې ځای او وخت نه دئ، تر دې وړاندي مي د دې ورځې له راتلو خبر کړي وئ، ما خپله پرېکړه کړې، دا پرېکړې بدلېدونکي نه دي، مَا يُبَدَّلُ ٱلْقَوْلُ لَدَيَّ: زما خوا ته وينا نه بدلېږي، تخاصم او يو بل ملامتول ګټه نه لري، د الله تعالی پرېکړې نه شي بدلولی، لکه چې د الله سنن ثابت دي او نه بدلېږي همداسي ئې پرېکړې او ويناوي ثابتي دي او تغيير نه مومي، د هغه چا پرېکړې بدلېږي چې علم ئې ناقص وي، نن يوه خبره سمه ورته معلومه شي او سبا پوه شي چې هغه سمه نه وه بدله ئې کړي، الله تعالی عالم الغيب و الشهاده دئ، وينا او پرېکړه ئې بدلون نه مومي، هره پرېکړه ئې عادلانه وي، پر خپلو بندګانو ظلم نه کوي.
- دې ته مو پام وي چې د دې آيت دغه فقره (مَا يُبَدَّلُ ٱلْقَوْلُ لَدَيَّ) د معراج اړوند يوه کمزوري روايت کې په دې توګه راغلی چې ګواکې الله تعالی د ورځني فرض لمونځونو د شمېر په اړه نه يا پنځه ځله خپله پرېکړه بدله کړه او له پنځوسو ئې شمېر پنځو ته راکم کړ او بيا ئې وفرمايل: ما يبدل القول لدی!! اميد دئ د دې تفصيل د الاسراء سورې د لومړي آيت په تفسير کې وګورئ.

يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ ٱمْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ ﴿٣٠﴾ وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴿٣١﴾ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ ﴿٣٢﴾ مَّنْ خَشِيَ ٱلرَّحْمَٰنَ بِٱلْغَيْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ ﴿٣٣﴾ ٱدْخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ۖ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْخُلُودِ ﴿٣٤﴾ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴿٣٥﴾

۳۰- هغه ورځ چې دوزخ ته به ووايو: آيا ډك شوې؟ او هغه به ووايي: آيا مزيد څه شته؟! ۳۱- او جنت به متقيانو ته نژدې کړی شي له کوم لري والي پرته، ۳۲- دا هغه څه دي چې له تاسو سره ئې وعده کېږي، له هر ډېر ډېر ستنېدونکي (توبه کوونکي) او ښه ساتونکي سره، ۳۳- هغه چې له رحمن رب په غياب کې وېرېدلی او له انابت کوونکي زړه سره راغلی، ۳٤- په سلامتۍ سره ورننوځئ، دا د تل پاته کېدو ورځ ده،

۳۵- دوی ته به په هغه کې هر هغه څه وي چې دوی ئې غواړي په داسې حال کې چې له موږ سره لازیات دي.

(۳۰-۳۵)- په دې مبارکو آیتونو کې د دوزخ او دوزخیانو او د جنت او جنتیانو په اړه داسې ویل شوي:

• هغه ورځ چې دوزخ ته به ووایو: آیا ډک شوې؟ او هغه به ووایي: آیا مزید څه شته؟! د دوزخ د دې وینا چې وایي (هل من مزید) دوه تعبیرونه کېدی شي، لومړی دا چې آیا نور دوزخیان هم شته چې په ما کې واچول شي؛ او دوهم دا چې آیا په ما کې مزید ځای شته چې نور هم قبول کړی شم، دې ته په پام سره چې په قرآن کې شیطان او د ده انسي تابعینو او ملګرو ته د الله تعالی دا وینا راغلې چې جهنم به له تاسو دواړو ډک کړم، ویلی شو چې د دوزخ د وینا دوهم تعبیر دقیق دئ او مراد ئې دا دئ چې له دوزخیانو داسې تر خولې ډک شوی یم چې هیڅ تش ځای راپه کې نشته. خو دا چې آیا دا خطاب او ځواب مجازي دئ که حقیقي، باید ووایو چې د دواړو احتمال شته، په قرآن کې دا هم راغلي چې جهنم به دوزخیان په خپل نامه یادوي او د ځان لوري ته به ئې بلي:

تَدۡعُواْ مَنۡ أَدۡبَرَ وَتَوَلَّىٰ ١٧ وَجَمَعَ فَأَوۡعَىٰٓ ١٨ المعارج: ١٧-١٨

هغه به ځان ته بولي چې شا ئې اړولې او ډډه ئې کړې او راغونډول ئې، بیا ئې ساتل.

جنت به متقیانو ته نژدې کړی شي، د دوی او جنت تر منځ به کوم لري والي نه وي، دا هغه څه دي چې الله تعالی له مؤمنانو سره د هغه وعده کړې، له هغو سره چې ډېر ډېر د خپل رب لوري ته ستنېږي او ډېره توبه کوي، هغه چې کله ئې نفس او شیطان کومي ګناه، غلطي او حرام کار او وینا ته وهڅوي د نفس او شیطان غوښتني ته د تسلیمېدو پر ځای د خپل رب لوري ته ستنېږي او هغه څه کوي چې خپل رب ئې ورته لارښوونه کړې، هغه چې حفیظ وي، د خپل رب لارښوونې په پام کې نیسي، د دیني حدودو او ضوابطو سره ساتونکی وي، پر خپلو ژمنو ودرېږي، پر عهد وفا کوي، هغه چې له رحمن رب په غیاب کې وېرېدلی او له انابت کوونکي زړه سره راغلی، دوی ته به وویل شي: په سلامتۍ سره جنت ته ننوځئ، دا د تل پاتې کېدو ورځ ده، دوی ته به په هغه کې هر هغه څه وي چې دوی ئې غواړي، ټولو جنتیانو ته د ټولو هغو نعمتونو له ورکولو سره سره چې د دوی زړه ئې غواړي، بیا به هم له الله تعالی سره لازیات نعمتونه پاتې وي.

وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّن قَرۡنٍ هُمۡ أَشَدُّ مِنۡهُم بَطۡشٗا فَنَقَّبُواْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ هَلۡ مِن

مُّحِيصٍ ﴿٣٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُۥ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى ٱلسَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾

۳۶- او تر دوی وړاندې مو څومره هغه نسلونه هلاك کړل چې تر دوی په لاس اچونو کې ډېر شدید ول؛ له همدې کبله ښارونو ته ننوتل، آیا کوم پناه ځی (ئې) وو، ۳۷- یقیناً چې په دې کې هغه ته حتماً پند دئ چې زړه ئې وي او په داسې حال کې غوږ ږدي چې (په توجه سره) حاضر وي.

(۳۶-۳۷)- په دې مبارکو آیتونو کې د قریشو په اړه ویل شوي:

- د قریشو مشران هسې خپل زور ځواك مغرور کړي او د مسلمانانو په ضد زور زیاتي ته ئې هڅولي، نه ګوري چې تر دوی وړاندې مو څومره هغه نسلونه هلاك کړل چې تر دوی په لاس اچونو کې ډېر شدید ول؛ همدغه زور ځواك مغرور کړل، پر نورو تېري او د نورو هېوادونو نیولو ته ئې وهڅول، د ښارونو د نیولو لپاره ئې بریدونه وکړل، الله تعالی ونیول او عذاب پرې نازل شو، آیا داسې پناه ځی ئې ومومو چې پناه وروړي او وژغورل شي؟!
- په دغو تاریخي پېښو کې هغه چا ته د پند او عبرت درس دئ چې زړه ئې زړه وي، د انسان زړه؛ نه د څاروي زړه، هغه چې له حق وینا اغېزمن شي نه هغه چې د تور کاڼي په څېر وي؛ او هغه چا ته چې خبره په دقت سره اوري، په داسې حال کې حق وینا ته غوږ ږدي چې زړه او ذهن ئې متوجه وي.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴿٣٨﴾ فَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ وَقَبْلَ ٱلْغُرُوبِ ﴿٣٩﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَٰرَ ٱلسُّجُودِ ﴿٤٠﴾

۳۸- او یقیناً چې مور آسمانونه او زمکه او هغه څه چې په دوی کې دي په شپږو ورځو کې پیدا کړل په داسې حال کې چې کومه ستوماني راباندې رانه غله، ۳۹- نو پر هغه څه صبر وکړه چې دوی ئې وایي او تر لمر ختو وړاندې او تر (لمر) لوېدو وړاندې د خپل رب په ستاینې لګیا اوسه، ۴۰- او د شپې په یوې برخې کې د هغه تسبیح وایه او په سجدو پسې هم.

(۳۸-۴۰)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

• الله تعالى آسمانونه او زمکه او هغه څه چې په دوی کې دي په شپږو ورځو کې پیدا کړل په داسې حال کې چې پرې ستومانه شوی نه دئ، د بیاژوندون منکرین څنګه د آسمانونو او زمکې خالق ذات د انسان له بیا راژوندي کولو عاجز ګڼي؟!

• رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د مخالفینو د معاندانه تبلیغاتو په وړاندي دوه سپارښتني شوې: صبر کوه او د خپل رب په تسبیح او ستاینې لګیا اوسه.

• د حمد او تسبیح څو وختونه په ګوته شوي: تر لمر ختو وړاندي، تر لمر لوېدو وړاندي، د شپې یوه برخه او له سجدو وروسته. له دې معلومېږي چې دلته د تسبیح او حمد مراد لمونځ دئ، تر لمر ختو وړاندي د فجر لمونځ، تر لمر لوېدو وړاندي د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه او د شپې یوه برخه د ماښام او ماخستن لمونځونه افاده کوي، خو دا چې تر سجدو وروسته د تسبیح معنی څه ده، څو تعبیرونه درلودی شو:

• دلته د سجود مراد لمونځ دئ؛ او له سجدو وروسته تسبیح هغه تسبیحات دي چې تر لمانځه وروسته ویل کېږي او تفصیل ئې په روایاتو کې مومو، لکه له فرض لمانځه وروسته ۳۳ ځله سبحان الله، ۳۳ ځله الحمد لله، ۳٤ ځله الله اکبر؛ او دې ته ورته نور تسبیحات، که سجود د لمانځه په معنی ونیسو نو معنی ئې دا ده چې یوازې یو رکعت بشپړ لمونځ نه شو ګڼلی ځکه په یوه رکعت کې سجود (تر دوه زیاتې سجدې) نه وي بلکې یوازې سجدتین (دوه سجدې) وي.

• مراد ئې له هرې سجدې وروسته تسبیح ویل دي؛ او په دې سره هغو تسبیحاتو ته اشاره شوې چې د دوو سجدو تر منځ ویل کېږي.

د ادبار السجود مراد د ستورو د پرېوتو وخت دئ، یعنی د ستورو پرېوتا له سجدې سره تشبیه شوې؛ او په دې سره د تهجد لمونځ ته اشاره شوې، دا مطلب د الطور په سورې کې په دې صیغه راغلی:

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡهُ وَإِدۡبَٰرَ ٱلنُّجُومِ ﴿٤٩﴾

او د شپې په یوې برخې کې د هغه تسبیح وایه او د ستورو د ادبار (شا اړولو) په وخت کې هم.

دې ته په پام سره چې تر ادبار السجود وړاندي څو وختونه په ګوته شوي، تر لمر ختو وړاندي، تر لمر لوېدو وړاندي، د شپې یوه برخه، د آیتونو تر منځ د تړاو او نظم غوښتنه دا ده چې دا (ادبار السجود) هم د نورو په څېر وخت وي.

وَٱسۡتَمِعۡ يَوۡمَ يُنَادِ ٱلۡمُنَادِ مِن مَّكَانٖ قَرِيبٖ ﴿٤١﴾ يَوۡمَ يَسۡمَعُونَ ٱلصَّيۡحَةَ بِٱلۡحَقِّۚ

ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلۡخُرُوجِ ﴿٤٢﴾ إِنَّا نَحۡنُ نُحۡيِۦ وَنُمِيتُ وَإِلَيۡنَا ٱلۡمَصِيرُ ﴿٤٣﴾ يَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلۡأَرۡضُ عَنۡهُمۡ سِرَاعٗاۚ ذَٰلِكَ حَشۡرٌ عَلَيۡنَا يَسِيرٞ ﴿٤٤﴾ نَّحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَقُولُونَۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِجَبَّارٖۖ فَذَكِّرۡ بِٱلۡقُرۡءَانِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ ﴿٤٥﴾

٤١- او واوره؛ هغه ورځ چې منادي به له نژدې ځای غږ کړي، ٤٢- هغه ورځ چې په رښتيني توګه به هغه چيغه اوري، همدا د بياراوتلو ورځ ده، ٤٣- يقيناً چې موږ ژوندي کول او مړ کول کوو او زموږ لوري ته ستنېدا ده. ٤٤- هغه ورځ چې زمکه به داسي تړې وچوي چې دوی به تلوار کوونکي وي، دا پاځون پر موږ آسان دئ، ٤٥- موږ په هغه څه ښه پوه يو چې دوی ئې وايي؛ او ته پرې جبر کوونکی نه يې، نو هغه ته په قرآن سره پند ورکړه چې زما له وعيد وېرېږي.

(٤١-٤٥)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- **دلته قرآن خپل هر مخاطب ته وايي: په غور سره واوره؛ هغه ورځ هرومرو راتلونکې ده چې منادي به له نژدې ځای غږ کړي، هر څوك به داسي انګېرې چې دا منادي ئې خوا ته دئ، ټول به په دې ورځ د دغه منادي لوړه چيغه په سمه توګه اوري، د ده بلني ته به لبيك وايي، له قبرونو به راوځي، همدا به د بياراوتلو هغه ورځ وي چې نن ځينې ترې انکار کوي.**
- **دا خو الله تعالى دئ چې د ژوند او مرګ پرېکړه کوي، د ټولو ستنېدا د ده لوري ته ده. هغه ذات چې نن له مړې خاورې ډول ډول ژوي پيدا کوي، هغه چې ټول ژوي د ده په اراده او له هغو سننو سره سم مري چې ده وضع کړي، د مرګ له پرېکړې د سرغړاوي توان نه لري، ټول ناچار د ده په لور درومي، همدا ذات به ټول انسانان بيا راژوندي کوي. ولې بياژوندون ګران او محال درته برېښي؟!!**
- **بياژوندون او له قبرونو راوتل به داسي وي چې زمکه به د انسانانو په راوتلو سره چوي او انسانان به په تلوار سره راوځي، همغسي لکه چې نن د يوې تالندي غږ شي، د باران ورېدل پيل شي، تر خاورو لاندي بوټي راژوندي شي، وخوځېږي، وده وکړي، د زمکې خاورين پوټکی وچوي او د زمکې له زړه سر راوباسي، په همدې بوټو سره د زمکې خاورين پوستکی چوي او بوټي ژر ژر راټوکېږي، لکه چې اوس په مسلسل او پر له پسې توګه د بياژوندون شاهد يو د قيامت د ورځې بياژوندون الله تعالى ته تر دې هم ډېر آسان دئ. هغه ورځ حتماً راتلونکې ده چې انسانان به ژر ژر او په تلوار سره له زمکې راوځي، داسي**

لکه چې بوټي په پسرلي کې له زمکې سر راباسي.

- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته اطمئنان ورکړی شوی چې د الله تعالی تر رعایت او عنایت لاندې یې، په هغه څه ښه پوهېږي چې ستا دښمنان ئې وایي، د دوی د تبلیغاتو او مخالفتونو پروا مه کوه.
- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ویل شوي: ستا دنده دا نه ده چې دوی د حق منلو ته اړ کړې، له مخالفتونو او غلطو تبلیغاتو ئې منصرف کړې، ته پر دغو منکرینو باندې خپله خبره په زور او جبر سره نه منې، ستا دنده دا ده چې په قرآن سره هغه چا ته د قیامت د راتلو یادونه وکړې چې د الله تعالی له ګواښونو وېرېږي.

لکه چې ګورئ د سورې دوه وروستي آیتونه د دې سورې جامع تتمه او خلاصه زمونږ په وړاندې ږدي او د سورې له ټولو لارښوونو سره ژوري اړیکي لري، تأکید ئې پر دې دئ چې هغه ورځ حتماً راتلونکې ده چې انسانان به ژر ژر او په تلوار سره له زمکې راوځي، داسې لکه بوټي چې په پسرلي کې له زمکې سر راباسي؛ همدا موضوع په ټولې سورې کې په مختلفو الفاظو څېړل شوې، همدا راز لکه څنګه چې دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ویل شوي چې د دوی د تبلیغاتو او مخالفتونو پروا مه کوه، ستا دنده دا نه ده چې دوی د حق منلو ته اړ کړې، دنده دي دا ده چې په قرآن سره هغه چا ته د قیامت د راتلو یادونه وکړې چې د الله تعالی له ګواښونو وېرېږي، د سورې په سر کې هم ویل شوي: قسم پر دې پرتمین قرآن؛ نه؛ بلکې له دې کبله هېښ شول چې د دوی له منځه یو ګواښونکی ورغی؛ نو کافرانو وویل: دا خو عجیب شی دئ، آیا کله چې ومرو او خاوري وو؟! دا خو (له امکان) لرې بیا راستنېدل دي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الذاريات

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الذاريات) دئ چې همدا سوره پرې پیل شوې، ٦٠ آیتونه لري، د لومړیو څلورو آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (ذروا) ته، د پنځو ورپسې آیتونو ئې (صادق) او (حبُك) ته او د نورو ئې د لسم آیت (خراصون) او د دولسم آیت (الدين) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکي دور په لومړیو کلونو کې نازل شوي.

دا مبارکه سوره په څلورو قسمونو پیل شوې، د قسمونو په پای کې ویل شوي: إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٞ ٥ وَإِنَّ ٱلدِّينَ لَوَٰقِعٞ ٦: بېشکه چې له تاسو سره کېدونکي وعده رښتینې ده او دین (د قیامت د ورځې مکافات او مجازات) حتماً واقع کېدونکی دئ. همدا مطلب د دې سورې د بحث اصلي موضوع ده، ټول آیتونه ئې پر دغې اساسي خبرې ترکیز کوي چې د قیامت او بیاژوندون وعده رښتینې ده او مکافات او مجازات حتماً تر سره کېږي، د سورې د ټولو مبارکو آیتونو خلاصه په آخري آیت کې په دې توګه راغلې:

فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن يَوۡمِهِمُ ٱلَّذِي يُوعَدُونَ ٦٠

نو هغو ته به افسوسناك حالت وي چې کفر ئې کړی؛ د خپلې هغې ورځې له کبله چې وعده ئې ورکول کېږي.

لکه چې په لومړیو مبارکو آیتونو کې دا موضوع څېړل شوې؛ تاسو به وګورئ چې په دولسم آیت کې راغلي: ستا مخاطبین پوښتنه کوي چې دا د مکافات او مجازات ورځ به کله وي، هغه ورځ چې دوی به په اور معذب شي، د دوی دې پوښتني ته ځواب ویل شوی او د دوی د اقناع لپاره په ټولې سورې کې مضبوط دلائل وړاندي شوي، د هغو ولسونو یادونه شوې چې د کفر، ظلم او له قیامت د انکار له کبله په الهي عذاب اخته شوي، لکه د لوط علیه السلام قوم، فرعونیان، عادیان، ثمودیان او د نوح علیه السلام قوم، په آسمانونو او زمکې کې خورې نښې، د آسمان او زمکې تر منځ دقیق او ژور تنسیق، په خپله د انسان په وجود کې د ده د خالق او پالونکي رب د قدرت او صفاتو مظاهر د داسې قانع کوونکو دلائلو په توګه وړاندي شوي چې هیڅ عقلمن انسان ترې انکار نه شي کولی.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلذَّٰرِيَٰتِ ذَرۡوٗا ١ فَٱلۡحَٰمِلَٰتِ وِقۡرٗا ٢ فَٱلۡجَٰرِيَٰتِ يُسۡرٗا ٣ فَٱلۡمُقَسِّمَٰتِ أَمۡرًا ٤ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٞ ٥ وَإِنَّ ٱلدِّينَ لَوَٰقِعٞ ٦

۱- قسم په خوروونکو د خورولو په حال کې، ۲- بیا د درانه پېټي پر شا وړونکو، ۳- بیا په آسانۍ خوځېدونکو، ٤- بیا د یوه کار په وېشونکو، ۵- بېشکه چې له تاسو سره کېدونکې وعده رښتینې ده ٦- او دین (مکافات او مجازات) حتماً واقع کېدونکی دئ.

(۱-٦)- لکه چې ګورئ د الذاریات د سورې په لومړیو څلورو آیتونو کې په څلورو شیانو

لوړه شوې: په الذاريات، الحاملات، الجاريات او المقسمات او له قسمونو وروسته ويل شوي: إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ ٥ وَإِنَّ ٱلدِّينَ لَوَٰقِعٌ ٦: بېشکه چې له تاسو سره کېدونکې وعده رښتينې ده او دين (د قيامت د ورځې مکافات او مجازات) حتماً واقع کېدونکی دئ.

راشئ وګورو چې دلته په څه څه لوړه شوې او دا قسمونه څنګه پدې خبرې شهادت ورکوي چې د قيامت وعده رښتينې او هرو مرو واقع کېدونکې ده؟

څو خبرې بايد په پام کې ولرو:

- د بيان له فحوى او انداز معلومېږي چې دلته د يوه شي په څلورو حالتونو لوړه شوې، په وروستيو دريو آيتونو کې د (فاء) توری همدا خبره په ګوته کوي.
- دا شی بايد څرګند، واضح او د قرآن هرمخاطب ته جوت وي.
- لومړی بايد په قرآن کې د دې لټه وکړو چې څه ئې پدې صفاتو ياد کړي چې شيندل کوي، دروند پيټی حمل کوي، په آسانۍ خوځېږي او د يوه څه د وښلو دنده تر سره کوي؟
- دا شی بايد د دې ادعاء لپاره واضح دليل وي چې (شوې وعده رښتينې ده او حساب کتاب تر سره کېدونکی دئ)

که قرآن ته مراجعه وکړو نو په ګڼ شمېر آيتونو کې به وموږ چې بادونه ئې په همدې صفاتو ياد کړي چې دوړي شيندي، ورېځې په سر اخلي، لري لري سيمو ته ئې وړي، په ښلو ښلو لوريو ئې وښي، د باران د ورولو سبب کېږي، چې بيا پدې باران سره مړه زمکه راژوندۍ کېږي او وني او بوټي راشنه کېږي. او قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې په باران سره د مړې زمکې په راژوندي کېدو استدلال کوي او وايي چې تاسو به هم دغسي بيا راژوندي کېږئ. دا څو آيتونه ئې مثالونه دي:

وَهُوَ ٱلَّذِى يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦٓ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنَٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَنزَلْنَا بِهِ ٱلْمَآءَ فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ ۚ كَذَٰلِكَ نُخْرِجُ ٱلْمَوْتَىٰ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٥٧﴾ الاعراف

او دی هغه ذات دئ چې بادونه تر خپل رحمت (باران) وړاندي د زېرې په توګه لېږي، تر هغه چې درنې ورېځې اوچتي کړي، د مړه ټاټوبي په لوري ئې وخوځوو، نو په هغه سره اوبه راووروو او پدې سره هرراز ميوې راوباسو، همدا راز به مړي راباسو، ښايي پند واخلئ.

دا مبارك آيت په څو مهمو خبرو تأکيد کوي:

- هغه ذات چې د ده په حکم بادونه خوځېږي، ورېځې هغو لرو لرو سيمو ته انتقالوي

چې باران ته اړي او سترګې په لار دي، په هغوی باران وروي او په همدې باران سره د زمکې له زړه راز راز دانې او میوې راشنې کوي، همدا ذات به مړي همداسي بیا راژوندي کوي.

- تاسو چې هره ورځ د یوې سیلې په ذریعه د بیا ژوندون بېلګې په خپلو سترګو ګورئ؛ نو څنګه د قیامت په ورځ بیا ژوندون درته ګران برېښي؟ له هرې سیلې وروسته د ژوندون د لړۍ پیل کېدل خو باید تاسو ته هره شېبه د قیامت ورځ دریادولی.
- هغه ذات چې مړه زمکه په یوې سیلې او ورپسې باران سره ژوندۍ کوي او ډول ډول نباتات ترې راباسي، تا هم ېبرته راژوندی کولی شي.

وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ فَأَصۡبَحَ هَشِيمٗا تَذۡرُوهُ ٱلرِّيَٰحُۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقۡتَدِرًا ٤٥ الكهف

د دنیايي ژوند مثال ورته تېر کړه چې داسي دی لکه هغه اوبه چې موږ ئې له آسمان راوورووا او په همدې سره د زمکې بوټي ګڼ ګڼ راوټوکېږي؛ او (ژر) داسي مات مات شي چې باد ئې الوځوي؛ او الله په هر څه توانمن دی.

ٱللَّهُ ٱلَّذِي يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابٗا فَيَبۡسُطُهُۥ فِي ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ يَشَآءُ وَيَجۡعَلُهُۥ كِسَفٗا فَتَرَى ٱلۡوَدۡقَ يَخۡرُجُ مِنۡ خِلَٰلِهِۦۖ فَإِذَآ أَصَابَ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ إِذَا هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ٤٨ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيۡهِم مِّن قَبۡلِهِۦ لَمُبۡلِسِينَ ٤٩ فَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحۡمَتِ ٱللَّهِ كَيۡفَ يُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٥٠ الروم

الله همغه ذات دی چې دغه سیلې رالېږي چې ورېځې خوځوي، بیا ئې څنګه چې غواړي په آسمان کې ئې خورې ورې او ټوټې ټوټې کړي، بیا ګورې چې له منځه ئې څاڅکي راوځي او چې کله ئې خپلو هغو بندګانو ته ورسوي چې دی ئې غواړي؛ ناڅاپه (پرې) خوشحالېږي، په داسي حال کې چې تر دې وړاندې چې پرې ووربېږي ناهیلي ول. نو د الله د رحمت آثارو ته وګوره چې څنګه زمکه له مړینې ئې وروسته راژوندۍ کوي، یقیناً چې همدا ذات د مړو ژوندی کوونکی دی؛ او هغه پر هر څه ښه توانمن دی.

وَٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابٗا فَسُقۡنَٰهُ إِلَىٰ بَلَدٖ مَّيِّتٖ فَأَحۡيَيۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ ٩ فاطر

او الله هغه ذات دئ چې بادونه ئې راولېږل چې ورېځې خوځوي، نو د مړه ټاټوبې په لور مو بوتلې، بيا مو زمکه د هغې له مړيني وروسته پرې راژوندۍ کړه، خورېدا (بياژوندون) به همداسې وي.

- د قسمونو په ځواب کې دوه خبرې شوې: ۱- له تاسو سره شوې وعده رښتينې ده. او ۲- دين (د قيامت د ورځې مکافات او مجازات) واقع کېدونکی دئ.
- د قسمونو په سر کې د بادونو د شيندلو او خورولو صفت ته اشاره شوې او په پای کې د تقسيم او وېشلو صفت، لومړی صفت ئې د قيامت په ورځ د دې دنيا د ختمېدو له صحنې سره او وروستی صفت ئې د مکافات او مجازات له قضيې سره اړخ لګوي، شيندونکي بادونه طوفانونه راولاړوي او تقسيموونکي بادونه هرچا او هري سيمې ته خپله مناسبه برخه لېږدوي، يو پدې دلالت کوي چې په يوه ستر ورانوونکي طوفان سره به دا دنيا ختمېږي او بل پدې چې له هرچا سره به مناسبه معامله تر سره کېږي او مکافات مجازات به تحقق مومي.

زه ورېځې ګورم چې په آسمان کې سره تقسيم شي، په ېلو ېلو لارو روانې شي، هري خوا ته يوه مناسبه برخه وخوځېږي، په غرونو ډېرې واورې وورويې او په آوارو زمکو د ضرورت په اندازه باران، هلته ډېرو واورو ته ضرورت دئ چې کافې مقدار ذخيره شي او بيا په دوبې کې ورو ورو ويلې شي او د چينو، کاريزونو او ويالو په ښه کې وبهېږي او په هغه وخت کې انسان، حيوان او نبات خړوبه کړي چې بارانونه نه ورېږي، خو په آوارو سيمو کې باران ته اړتيا زياته وي او ورېځې همدا کار کوي!!

که له دې سره سره چې قرآن د نومورو قسمونو شرح او تفسير زمونږ مخې ته ږدي، څوك راپورته شي او له خپلې رأيې او خيال دغو قسمونو ته داسې تعبير وړاندې کړي چې نه له قرآن ورته څه دليل لري او نه د قسمونو او ځواب تر منځ ئې ارتباط او تړاو شوډلی شي، نو پر قرآن د ايمان تقاضا خو دا ده چې داسې تعبيرونو ته هيڅ اعتناء ونه کړو.

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡحُبُكِ ۝٧ إِنَّكُمۡ لَفِي قَوۡلٖ مُّخۡتَلِفٖ ۝٨ يُؤۡفَكُ عَنۡهُ مَنۡ أُفِكَ ۝٩ قُتِلَ ٱلۡخَرَّٰصُونَ ۝١٠ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي غَمۡرَةٖ سَاهُونَ ۝١١

۷- قسم د لارو خاوند آسمان باندې، ۸- يقيناً چې تاسو په مختلفې وينا کې يئ، ۹- هغه ترې اړول کېږي چې اړول شوی، ۱۰- مړه دي وي دا دروغجن اټکل کوونکي، ۱۱- هغه چې په ژور جهالت کې ببخوده دي.

(۷-۱۱)- دلته د قرآن د يوې بلې لورې شاهد يو، پر آسمان لوړه شوې او يوه ځانګړې صفت ته ئې اشاره شوې او ويل شوي: قسم د لارو خاوند آسمان باندي او ورپسې ويل شوي: يقيناً چې تاسو په مختلفي وينا کې ياست.

د قسم او ځواب تر منځ ئې د ارتباط په اړه تر څه ويلو وړاندي بايد څو ټکي واضح شي:

- د آسمان دا صفت چې د لارو خاوند دئ؛ بايد داسې څرګند صفت وي چې د قرآن هر مخاطب ته قابل درک او قابل فهم وي.
- پدې صفت استدلال سره بايد دا خبره ثابته کړی شي چې د بياژوندون په اړه د مخالفينو باور د حقيقت خلاف دئ.

که لږ دقت وکړو نو په آسمان کې يوازې هغه لاري په نظر راځي چې ستوري او آسماني اجرام پرې دروميږ، له هغو لارو پرته چې د آسمان د هر ستوری لپاره بېله بېله ټاکلې شوې او هر ستوری يوې خوا بلې خوا ته له انحراف پرته په کې دروميږ، نوري لاري نه شو ليدلی. قرآن د لمر او سپوږمۍ په اړه وايي چې هر يو په خپل خپل خاص فلک او مدار کې دروميږ:

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسۡبَحُونَ ﴿٣٣﴾ الانبياء

او دی هغه ذات دئ چې شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ ئې پيدا کړل، داسې چې هر يو په يوه فلک کې لامبو وهي (خوځي).

لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِى لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسۡبَحُونَ ﴿٤٠﴾ يس

نه لمر ته ښايي چې سپوږمۍ لاندي کړي او نه شپه پر ورځ وړاندي کېدونکې ده؛ او هر يو په خپل خپل فلک کې لامبي (په فضاء کې دروميږ).

دا مبارک آيت وايي:

- لمر د سپوږمۍ د جذبولو، له خپل ځانګړي مداره د هغې د ايستلو فرصت نه تر لاسه کوي، يو د بل په مدار کې نه ننوځي، هر يو په خپل مسير کې خوځېږي، د دوی تر منځ ټکر او تصادم نه راځي، په دې وسيع کائنات کې دا بې شمېره اجرام، هر يو په يوه معين مدار کې خوځېږي، يو بل نه مومي چې له هغه سره ټکر وکړي او هغه جذب کړي، هر يو خپل حد پېژني، له هغه تېری او تجاوز نه شي کولی، نه لمر له خپل ټاکلي مدار او مستقر بل لوري ته خوځېدلی شي او د سپوږمۍ په مدار کې داخليدلی شي او نه هغه جذبولی شي، نه

د دغو دواړو تر منځ تصادم او ټکر راځي او نه هم شپه په ورځ باندی سبقت کولی شی، برعکس هره یوه په خپل وخت او نېټه راځي، دا د سپوږمۍ او لمر لپاره معین حدود چا وضع کړي چې له هغه د یوې ذرې په اندازه د تجاوز او تېرې توان نه لري، دا څنګه او د چا د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي؟

- ګورئ چې لمر زرګونه کاله په پرله پسې او منظمه توګه؛ له یوه ځایه طلوع کوي او په یوه ځای کې غروب کوي!! دغه معین مسیر طوعاً او کرهاً پلی کوي او له هغه یوه خوا بله خوا د انحراف قدرت نه لري، دا څوك اداره کوي؟ دا په وسیع آسمان کې د ستورو تر منځ ټکر او تصادم ولې نه راځي؟ ولې یو د بل مسیر ته نه داخلېږي؟ دا هر یو په خپل خپل مسیر کې څوك اداره کوي؟ د دې تر شا د چا اراده ده؟ د چا د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي چې په داسې منظم ډول او په ټول انقیاد سره په خپل معین مدار کې خوځېږي او یو انچ له هغه یوه او بل لوري ته انحراف نه شي کولی؟!
- همدا راز شپه او ورځ خپل هغه حد پېژني چې ورته ټاکل شوی، له هغه تېرې نه شي کولی، نه اوږدېږي او نه هم لنډېږي، یوه له بلې سبقت نه کوي چې د شپې پر ځای ورځ راشي یا د ورځې پر ځای شپه راشي او یوه له بلې سبقت وکړي، بلکې هره یوه خپل حد پېژني او په خپل وخت کې راځي.
- آیا دا دلیل د دې خبرې د ثبوت لپاره کفایت نه کوي چې دا هر څه یو مالك ټولواك اداره کوي؛ او هر څه د هغه مالك الله د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي؟
- که لږ ځیر شو نو راته جوته به شي چې د آسمان په غېږ کې د ملیاردونو اجرامو لاري غځېدلې دي، د آسمان لپاره دا صفت ډېر موزون او مناسب صفت دئ (ذات الحبك: د لارو خاوند).
- پدې خور او ستر آسمان کې، دا دقیق او کلك نظم، دا بې شمېره ستوري چې هر یو ئې په خپل خپل مدار کې ساتل کېږي، له تصادم او ټکر ئې مخنیوی کېږي او نه پرېږدي چې ستر ستر ستوري واړه واړه جذب کړي، یو د بل په مدار کې داخل شي او هر څه سره ګډ وډ شي، دا پدې دلالت کوي چې پدې عالم کې نظم حاکم دئ، خوشی او بېهوده او بې هدفه نه دئ پیدا شوی، خپلې مخې ته نه دئ پرېښودل شوی، دا ټول داسې واکمن ذات اداره کوي چې هرڅه ئې په واك کې دي او په هر څه قادر دئ.

له دې شرحي وروسته د قسم او ځواب تر منځ ئې تړاو په ډېره آساني موندلی شو. له قیامت منکر انسان چې په څه باور لري او د دې باور له مخې څه وایي، دا له هغه څه سره اختلاف لري چې له دې منظم او ستر آسمان هر سترګور انسان او هر د عقل او پوهې

خاوند ئې تر لاسه کوي، دا په يوه څه دلالت کوي او دوی د دې خلاف بل څه وايي، دوی عالم بې هدفه، بې مقصده، نامنظمه، خپلې مخې ته پرېښودل شوې مجموعه ګڼي، چې نه خالق لري او نه واکمن او ځواکمن ساتونکی او اداره کوونکی!! همدا غلطه انګېرنه ئې له قيامت او الهي محاسبې انکار ته تياروي خو آسمان او د آسمان پدې بې شمېره لارو باندې تلونکي ستوري د دې بې بنسټه تصور خلاف په بل څه حکم کوي. له دې څرګند حقيقت به يوازي هغه انکار کوي او بل لوري ته به اړول کېږي چې معيارونه ئې بدل شوي، له سمې لارې ئې مخ بل لوري ته اړول شوی او سالم انساني فطرت ئې کور شوی، قضاوتونه ئې تل دروغجن او د ګمان او اټکل له مخې وي، مړه دي وي دا دروغجن اټکل کوونکي، هغه چې په ژور جهالت کې ښخوده دي.

يَسْـَٔلُونَ أَيَّانَ يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴿١٢﴾ يَوْمَ هُمْ عَلَى ٱلنَّارِ يُفْتَنُونَ ﴿١٣﴾ ذُوقُواْ فِتْنَتَكُمْ هَـٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٤﴾

۱۲- پوښتي چې دا د مکافات او مجازات ورځ به کله وي، ۱۳- هغه ورځ چې دوی به په اور معذب شي، ۱٤- د خپلې فتنې خوند وڅکئ؛ دا هغه څه دي چې تاسو په تلوار غوښتلو.

(۱۲-۱٤)- دا مبارك آيتونه د قيامت د منکرينو په اړه وايي: دوی پوښتنه کوي چې دا د محاسبې او مکافات او مجازات ورځ به کله وي؟ له هغه وروسته دا پوښتنه کوي چې په مخکينيو آيتونو کې ډېر مضبوط او انکار نه منونکي دلائل دوی ته وړاندې شوي، خو د دې پر ځای چې دا دلائل يا ومني او يا ئې رد کړي د استنکار په توګه وايي: قيامت به کله راځي، ولې تر نن پورې رانه غی، دا ګڼ شمېر پيغمبران راغلي او هر يوه د قيامت د راتلو خبره کړې؛ ولې يوه هم رښتيا نه شوه؟!! د دوی په ځواب کې ويل شوي: هغه چې په دغو مضبوطو عقلي دلائلو هم نه قانع کېږي؛ پرې ئې ږده چې هغه ورځ په خپلو سترګو وګوري، هغه ورځ چې دوی به په اور معذب شي؛ او ورته وبه ويل شي: د خپلې فتنې خوند وڅکئ؛ هغه فتنه چې ستاسو غلط باورونه او له قيامت انکار ئې باعث شو، هغه عذاب چې دغې فتنې ورسره مخامخ کړئ، دا همغه څه دي چې تاسو په تلوار غوښتلو، تاسو له الهي مکافات او مجازات انکار کولو او ويل مو: که الهي محاسبه او مجازات حقيقت لري نو ولې ځنډېږي، دا دئ ستاسو غوښتنه تر سره شوه!!

إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٥﴾ ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَبْلَ ذَٰلِكَ مُحْسِنِينَ ﴿١٦﴾ كَانُوا۟ قَلِيلًا مِّنَ ٱلَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَبِٱلْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿١٨﴾ وَفِىٓ أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ ﴿١٩﴾

۱۵- یقیناً چې متقیان به په جنتونو او چینو کې وي، ۱۶- هغه څه به تر لاسه کوي چې د دوی رب ورکړي، دوی تر دې وړاندې نېکان ول، ۱۷- د شپې لږ برخه به په اړخ پرېوتل، ۱۸- او سحر مهال به ئې مغفرت غوښتو، ۱۹- او په مالونو کې ئې د سائل او محروم لپاره ځانګړی حق وو.

(۱۵-۱۹)- په دې مبارکو آیتونو کې متقیان او په جنت کې د دوی حالت داسې انځور شوی:

- متقیان به په جنتونو او چینو کې وي،
- هغه څه به تر لاسه کوي چې د دوی رب ورکړي،
- دوی تر دې وړاندې نېکان ول،
- د شپې لږ برخه به د خوب لپاره په اړخ پرېوتل،
- خو سره له دې به ئې سحر مهال له خپل رب مغفرت غوښتو،
- او په مالونو کې ئې د سائل او محروم لپاره ځانګړی حق وو.

وَفِى ٱلْأَرْضِ ءَايَٰتٌ لِّلْمُوقِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَفِىٓ أَنفُسِكُمْ ۚ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٢١﴾ وَفِى ٱلسَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ﴿٢٢﴾ فَوَرَبِّ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ أَنَّكُمْ تَنطِقُونَ ﴿٢٣﴾

۲۰- او په زمکي کې د یقین کوونکو لپاره ډېري ځرګندي نښې دي، ۲۱- او ستاسو په خپل وجود کې هم، نو آیا ستر ګورتیا نه کوئ، ۲۲- او په آسمان کې ستاسو رزق دئ او هغه څه چې وعده ئې درکول کېږي، ۲۳- نو د آسمان او زمکي پر رب قسم چې دا په یقیني توګه داسې حقیقت دئ لکه چې تاسو خبرې کوئ.

(۲۰-۲۳)- دا مبارك آیتونه مورِ ته وایي:

- هم په زمکي کې د یقین کوونکو لپاره ډېري ځرګندي نښې دي او هم ستاسو په خپل وجود کې، نو آیا ستر ګورتیا نه کوئ، د زمکي هر لوري او هر څه ته چې ځیر شئ تاسو ته به د حال په ژبه په جګ غږ وایي چې خالق، پالونکی او ساتونکی ئې علیم او حکیم رب دئ،

هر لوري ته به له مړيني وروسته د بياژوندي کېدو ببلګي وګورئ، همغه رب دئ چې ژوي له مړې خاوري پيدا کوي، بوټي او وني ومري او بيا راژوندي شي، د انسان په خپل وجود کې د الله تعالى د صفاتو مظاهر ګورو، له خاوري د ده پيدايښت، په ټاکلې نېټې د مور د رحم له نړۍ د دنيا نړۍ ته د ده تګ، له ماشومتوب تر زړښت د ده وده او عروج او زوال، د مرګ په وړاندي د ده ناچاري او په ټاکلې نېټې د مرګ داعي ته لبيك ويل، هغه څرګندي نښې دي چې د بصيرت خاوندانو ته د ايمان او يقين تلقين کوي، څه چې د دې سورې په سر کې ويل شوي د بصيرت خاوندان ئې هم د زمکې له هر څه تر لاسه کوي او هم د انسان له جوړښت. انسان سترګي لري او دا ښيي چې خالق ئې بصير دئ، انسان د ښه او بد تر منځ د قضاوت کولو صفت لري او دا ښيي چې خالق ئې حتماً په دې صفت متصف دئ، د انسان علم د الله تعالى د علم د صفت مظهر دئ، د انسان په جوړښت کې د علم او حکمت دومره پراخ، دقيق او حيرانوونکي مظاهر ګورو چې په جګ غږ مورږ ته وايي: خالق ئې عليم او حکيم ذات دئ، د مثال په توګه د انسان سترګه دومره ظريفه او پر علمي بنسټونو جوړه شوې وسيله ده چې که د نړۍ ټول ساينسپوهان راغونډ شي، د يويشتمي پېړۍ ټول پر مخ تللي وسائل په واك کې ورکړی شي، په يوه مجهز لابراتوار کې سل کاله شپه ورځ کار وکړي؛ داسي وسيله نه شي جوړولی چې د سترګي د يوې وړې برخي کار تر سره کړی شي، د انسان دماغ دومره پېچلی نظام دئ چې که د نړۍ ټول پر مختللي کامپيوترونه راغونډ کړئ او داسي ستر کامپيوتر ترې جوړ کړئ چې د نيويارك په څېر ستر ښار په اندازه ځای ونيسي نو همدا ستر کمپيوتر دومره څه نه شي کولی چې د انسان د مغز يوه برخه ئې کوي، د انسان د وينې سپين کرويات د ميکروبونو په تشخيص او د هغوی په ضد د ضروري دوا په توليد کې دومره مهارت لري چې د نړۍ ستر ستر لابراتوارونه او د ادويې د توليد ستري ستري کمپنۍ ترې عاجز دي.

- ستاسو رزق له آسمان راځي، پرېکړه ئې په آسمان کې کېږي، اوبه او د لمر رڼا او تودوخه چې د رزق تر ټولو مهم توکي او د بوټو، مېوو او دانو د راټوکېدو اساسي عوامل دي له آسمان رادرومي؛ او دا ښيي چې آسمان او زمکه د يوه خالق له لوري پيدا شوي، د دوی تر منځ دا تنسيق او همغږي د ده له لوري رامنځته شوې.
- د جنت وعدې د همغه ذات له لوري دي چې همدا نن له آسمان او زمکې تاسو ته روزي درکوي.
- نو د آسمان او زمکې پر رب قسم چې دا په يقيني توګه داسي حقيقت دئ لکه چې تاسو خبرې کوئ، په زمکې او آسمان کې د ربوبيت مظاهر شهادت ورکوي چې د دې سورې

په سر کې راغلې وينا يو داسې څرګند حقيقت دئ او انکار ترې ګران لکه د انسان خپلې خبرې چې هم ئې څرنګوالی ورته جوت وي او هم ترې انکار ورته ګران.

هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ﴿٢٤﴾ إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ﴿٢٥﴾ فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجۡلٖ سَمِينٖ ﴿٢٦﴾ فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيۡهِمۡ قَالَ أَلَا تَأۡكُلُونَ ﴿٢٧﴾ فَأَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ خِيفَةٗۖ قَالُواْ لَا تَخَفۡۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ ﴿٢٨﴾ فَأَقۡبَلَتِ ٱمۡرَأَتُهُۥ فِي صَرَّةٖ فَصَكَّتۡ وَجۡهَهَا وَقَالَتۡ عَجُوزٌ عَقِيمٞ ﴿٢٩﴾ قَالُواْ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٣٠﴾ قَالَ فَمَا خَطۡبُكُمۡ أَيُّهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٣١﴾ قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ ﴿٣٢﴾ لِنُرۡسِلَ عَلَيۡهِمۡ حِجَارَةٗ مِّن طِينٖ ﴿٣٣﴾ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ لِلۡمُسۡرِفِينَ ﴿٣٤﴾ فَأَخۡرَجۡنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٣٥﴾ فَمَا وَجَدۡنَا فِيهَا غَيۡرَ بَيۡتٖ مِّنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٣٦﴾ وَتَرَكۡنَا فِيهَآ ءَايَةٗ لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٣٧﴾

٢٤- آيا د ابراهيم د درنو مېلمنو خبر دررسېدلی، ٢٥- هغه مهال چې خوا ته ئې ورغلل او وئې ويل: سلام، ده (ورته) وويل: سلام، ناآشنا وګړي، ٢٦- نو غلی خپل ټبر ته ورغی او څورب سخوندر ئې (وريت کړی) راوړ، ٢٧- نو دوی ته ئې په داسې حال کې ورنژدې کړ چې وئې ويل: آيا نه ئې خورئ؟ ٢٨- نو له دوی ئې يو ډول وېره احساس کړه، وئې ويل: مه وېرېږه؛ او د يوه پوه ځوانکي زېری ئې ورکړ، ٢٩- مېرمني ئې مخ وروړاوو او په حيرانتيا سره ئې په داسې حال کې په جګ غږ وويل چې خپل مخ ئې په څپېړه وواهو: يوه شنډه بوډۍ (او د زوی زېری)؟!، ٣٠- وئې ويل: ستا رب همداسې ويلي، يقيناً چې هغه پوه باحکمت دئ، ٣١- وئې ويل: نو اې استازو! مأموريت مو څه دئ؟ ٣٢- وئې ويل: د يوه مجرم قوم لورې ته لېږل شوي يو، ٣٣- چې خټيني ډبرې پرې ووروو، ٣٤- هغه چې د مسرفينو لپاره ستا د رب خوا ته نښه شوې دي، ٣٥- نو هغه مؤمنان مو ترې وايستل چې په هغه (ښار) کې ول، ٣٦- نو موږ په هغه کې د مسلمانانو له يوې کورنۍ پرته (بله) ونه موندله، ٣٧- او په دوی کې مو د هغو لپاره څرګنده (د عبرت) نښه پرېښوده چې له دردناک عذاب وېرېږي.

(۲٤-۳۷)- دلته او تر دې وروسته څو آيتونو کې د سورې اساسي موضوع په څو تاريخي قصو کې څېړل شوې، په دغو قصو کې د مکافات او مجازات الهي سنت ځلېږي، په سر کې د ابراهيم عليه السلام د قصې دا برخه راوړل شوې چې په زړښت کې او په داسي حال کې د زوی زېرې ورکړی شو چې مېرمن ئې شنډه وه، د همدې زېرې تر څنګ ئې پر يوه مجرم ولس د الهي عذاب نازلېدو خبر ورکړ، قصه داسي پيل شوې:

- آيا د ابراهيم د درنو مېلمنو خبر دررسېدلی، هغه مهال چې د فرشتو يو ټولګی د ځوانانو په بڼې کې ورغی، پر ده ئې سلام واچاوو، د سلام ځواب ئې په سلام سره ورکړ، نابلد او ناآشنا ئې وموندل، غلی خپل ټبر ته ورغی او وريت شوی څورب سخوندر ئې راوړ او د مېلمنو مخې ته ئې کښېښود، متوجه شو چې هغوی لاس نه وروړي، وئې ويل: آيا نه ئې خورئ؟ د دوی دا حرکت باعث شو چې پرې شکمن شي او له دوی يو ډول وېره احساس کړي، ګمان ئې وکړ چې ښايي د دښمنۍ اراده لري او له همدې امله له خوراک ډډه کوي، هغوی ورته وويل: مه وېرېږه؛ او ورپسې ئې د يوه پوه ځوانکي زېرې ورکړ، مېرمني ئې مخ وراړاوو او په حيرانتيا سره ئې په داسي حال کې چې جګ غږ ووېل چې خپل مخ ئې په څپېړه وواهو: يوه شنډه بوډۍ او د زوی زېرې؟!، هغوی ورته وويل: دا زېرې ستا د رب له لوري دئ، يقيناً چې هغه پوه باحکمت دئ، ابراهيم عليه السلام ورته وويل: نو اې استازو! مأموريت مو څه دئ؟ وئې ويل: د يوه مجرم قوم لوري ته لېږل شوي يو چې ختيني ډبري پرې ووروو، هغه چې د مسرفينو لپاره ستا د رب خوا ته نښه شوې دي، همداسي وشول، د الله تعالی له پرېکړې سره سم پر هغه مجرم ولس عذاب نازل شو او ابراهيم عليه السلام ته ئې په زړښت کې زوی ورکړ.
- د دې مجرم ولس ټاټوبی وران، چتونه پرې راپرېوتل او زمکه ئې خسف شوه، ټول مجرمين په سخت الهي عذاب اخته شول، خو هغه چې ايمان ئې راوړی وو وژغورل شول، سره له دې چې په هغې سيمې کې د مسلمانانو له يوې کورنۍ پرته بله ونه موندل شوه.
- په دې تاريخي پېښې کې د هغو لپاره د عبرت څرګنده نښه ده چې له دردناک الهي عذاب وېرېږي.

دا مطلب د هود په سوره کې په دې الفاظو راغلی:

وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُواْ سَلَٰمًا ۖ قَالَ سَلَٰمٌ ۖ فَمَا لَبِثَ أَن جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا رَءَآ أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۚ قَالُواْ لَا تَخَفْ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٠﴾ وَٱمْرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَٰهَا بِإِسْحَٰقَ وَمِن وَرَآءِ

إِسۡحَٰقَ يَعۡقُوبَ ٧١ قَالَتۡ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٞ وَهَٰذَا بَعۡلِي شَيۡخًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عَجِيبٞ ٧٢ قَالُوٓاْ أَتَعۡجَبِينَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۖ رَحۡمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِۚ إِنَّهُۥ حَمِيدٞ مَّجِيدٞ ٧٣ هود

او یقیناً چې زمونږ استازو ابراهیم ته زېرى ورور، سلام ئې پرې واچاوو، ده هم ورته سلام ووایو؛ او له څه ځنډه پرته ئې وریت شوى سخوندر راوړ، خو چې د دوى لاسونو ته ئې پام شو چې نه ورخوځي ناآشنا ئې وګڼل او ترې ووېرېدو، وئې ویل: مه وېرېږه، مونږ د لوط د قوم په لورې لېږل شوي یو، مېرمن ئې ولاړه وه او وئې خندل، نو د اسحاق او تر اسحاق وروسته د یعقوب زېرى مو ورکړ، وئې ویل: واى واى، آیا په داسې حال کې به زوى زېږوم چې په خپله بوډۍ او خاوند مې بوډا دئ! دا خو عجیبه خبره ده؟! وئې ویل: آیا د الله له کاره تعجب کوې، د الله رحمتونه او برکتونه دي پر تاسو وي اې د دې کور اوسېدونکو! بې شکه چې هغه ستایل شوى د عظمت خاوند دئ.

په دې آیتونو کې د ابراهیم علیه السلام د قصې ځینې برخې د یوې بلې تاریخي بېلګې په توګه زمونږ مخې ته اېښودل شوې، چې مهمې او اساسي لارښوونې ئې دا دي:

- د الله تعالى له لورې لېږل شوو فرشتو ابراهیم علیه السلام ته زېرى راوړ، فرشتې د زلمیو یوه ټولګي ته ورته وې، سلام ئې پرې واچاوو، ده هم ورته سلام ووایو، ابراهیم د مېلمنو ګمان پرې وکړ، له څه ځنډه پرته ئې وریت شوى سخوندر ورته راوړ، خو چې د دوى لاسونو ته ئې پام شو چې نه ورخوځي ناآشنا ئې وګڼل او ترې ووېرېدو، ګمان ئې وکړ چې ښایي دا زلمیان به په ښه نیت نه وي راغلي چې زما د ډوډۍ له خوړلو ډډه کوي، قرآن په دې سره مونږ ته وایي چې د ابراهیم علیه السلام په څېر ستر شخصیت؛ له هغه لوړ معنوي مقام سره په غیب له پوهېدا دومره عاجز وو چې کور ته ئې راغلې فرشتې ونه پېژندې، د زلمیو ګمان ئې پرې وکړ، وریت شوى سخوندر ئې ورته راوړ، ترې ووېرېدو او ګمان ئې وکړ چې ښایي د دښمنۍ په نیت راغلي؛ او دا همغه مطلب دئ چې د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې راغلى او ښیي چې له الله تعالى پرته هیڅوك به غیب نه پوهېږي.
- فرشتو ورته وویل: مه وېرېږه، مونږ د لوط د قوم په لورې لېږل شوي یو، دا فرشتې د لوط علیه السلام د هغې دعاء په ځواب کې او د ده مرستې ته لېږل شوې وې چې له الله تعالى ئې د خپل مفسد قوم په خلاف مرسته غوښتې وه، مأموریت ئې د ده او د ده د مؤمنې کورنۍ ژغورنه او د ده پر مفسد قوم د عذاب نازلول او په ضمن کې ئې د ده تره ابراهیم علیه السلام ته زېرى ورکول وو، خو ابراهیم علیه السلام نه یوازې دوى ونه

پېژندې، بلکې د دوی له مأموريته هم خبر نه وو او پوښتنه ئې تړې وکړه چې د څه لپاره راغلې يئ؟ هغه مهال په دې پوه شو چې فرشتو په خپله ورته وويل: مونږ د لوط د قوم په لوري لېږل شوي يو.

• د ابراهيم عليه السلام مېرمن هملته ولاړه وه، دا هر څه ئې ليدل او د دوی تر منځ خبرې ئې اورېدې، دا هم په لومړي سر کې پرېشانه وه، خو هغه مهال ئې تشويش رفع شو چې د فرشتو ځواب ئې واورېدو، د دغو آيتونو ترتيب داسې دئ چې ښيي د ابراهيم عليه السلام مېرمني د زېږي له اورېدو د مخه او هغه مهال خندلې چې فرشتو خپل ځان معرفي کړی او په دې سره د دوی تشويش رفع شوی خو کله چې فرشتو د الله تعالى له لوري د اسحاق او تر اسحاق وروسته د يعقوب زېږی ورکړ، وئې ويل: وای وای، آيا په داسې حال کې به زوی زېږوم چې په خپله بوډۍ او خاوند مي بوډا دئ! دا خو عجيبه خبره ده؟! فرشتو وويل: آيا د الله له کاره تعجب کوې، د الله رحمتونه او برکتونه دي پر تاسو وي اې د کور مېرمنې! بې شکه چې هغه ستايل شوی د عظمت خاوند دئ.

• د الحجر د سورې په (۵۲-۶۰) آيتونو کې ويل شوي چې ابراهيم عليه السلام ته هم دا زيری عجيب غوندې برېښېدلی او ويلې ئې دي: آيا په داسې حال کې د زوی او لمسي زيری راکوئ چې زوړ شوی يم؟ بيا ئې له فرشتو پوښتلې چې ستاسو مأموريت څه دئ؟ هغوی ورته ويلې: د يوه مجرم او بدکار قوم په لوري لېږل شوي يو، د لوط له کورنۍ پرته به نور؛ د ده د مېرمني په شمول؛ د الله تعالى په عذاب اخته کېږي. او په دې سره قرآن مورږ ته وايي چې ابراهيم عليه السلام او د ده مېرمني ته د غيب خبرې د حيرت او تعجب وړ وې، حتى په دې هم نه پوهېدل چې الله تعالى به دوی ته زوی او لمسی ورکوي، په دې هم نه پوهېدل چې د لوط عليه السلام پر قوم به الهي عذاب نازلېږي، د لوط عليه السلام کورنۍ به ژغورل کېږي او مېرمن به ئې د نورو په څېر په الهي عذاب اخته کېږي!!

که څه هم ځينو مفسرينو ويلې چې ښايي ابراهيم عليه السلام له دې امله د مېلمنو له لوري خوړو ته د لاس نه اوږدولو په سبب وېرېدلی چې په همدې سره پوه شوی چې دا انسانان نه بلکې فرشتې دي او ښايي د الهي عذاب نازلولو لپاره راغلې وي، خو دا تفسير نه له الفاظو سره اړخ لګوي او نه له مضمون سره، په الفاظو کې (نکرهم) راغلي چې ښيي دا ميلمانه له راتلو سره سم ناآشنا په نظر ورغلي او هغه مهال لازيات ناآشنا چې ډوډۍ ته ئې لاس نه دئ اوږد کړی؛ او مضمون خو له ابراهيم عليه السلام په غيب د پوهېدا نفي ده؛ او داسې تفسير نه ورسره ښايي.

وَفِي مُوسَىٰٓ إِذۡ أَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ٣٨ فَتَوَلَّىٰ بِرُكۡنِهِۦ وَقَالَ سَٰحِرٌ أَوۡ مَجۡنُونٞ ٣٩ فَأَخَذۡنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ وَهُوَ مُلِيمٞ ٤٠

۳۸- او د موسی د هغه مهال په قصې کې چې فرعون ته مو له یوه څرګند دلیل سره ولېږو، ۳۹- نو پر خپل رکن (ارخ) واوښت او وئې ویل: کوډګر دئ یا مجنون، ٤٠- نو دی او د ده لښکري مو ونیول او په داسې حال کې مو په سمندر کې وغورځول چې ملامتولو وړ وو.

(۳۸-٤٠)- په دې مبارکو آیتونو کې د موسی علیه السلام او فرعون اوږده قصه په څو الفاظو کې خلاصه شوې او د سورې د اساسي موضوع لپاره د یوې تاریخي بېلګې او شاهد په توګه وړاندې شوې، وایي: د موسی علیه السلام د هغه مهال په قصې کې ستاسو لپاره یوه بله څرګنده نښه ده چې فرعون ته مو ولېږو په داسې حال کې چې له (مبین سلطان: څرګند برهان) پرته بله څه ورسره نه وو، فرعون چې پر خپل زور ځواك مغرور وو نه یوازې د ده دعوت ته منفي ځواب ورکړ او پر خپل رکن او ارخ واوښت بلکې وئې ویل: دا کوډګر دئ یا مجنون، د دې لپاره ئې د کوډګر په نامه یاد کړ چې پر خلکو د ده د دعوت اغېز غلط تعبیر کړي، ولس تحمیق کړي چې دا اغېز د کوډو له کبله دئ نه له دې کبله چې د ده رښتینی دعوت اغېزمن دئ؛ او له دې کبله ئې د مجنون او لېونې نوم ورکړ چې ګواکې د یوه تش لاسي داعي مقابله د فرعون په څېر له یوه مطلق العنان او مغرور ځواکمن سره د یوه مجنون کار کېدی شي نه د یوه عقلمن کار!!

خو د مقابلې پایله د فرعونیانو د انګېرنو خلاف وه، فرعون او د ده لښکري په شدید الهي عذاب اخته شول او الله تعالی په داسې حال کې په سمندر کې وغورځول چې ملامت کړی شوی وو، له هر لوري د ملامتۍ ګوټي د ده لوري ته نیول شوې وې.

وَفِي عَادٍ إِذۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلرِّيحَ ٱلۡعَقِيمَ ٤١ مَا تَذَرُ مِن شَيۡءٍ أَتَتۡ عَلَيۡهِ إِلَّا جَعَلَتۡهُ كَٱلرَّمِيمِ ٤٢

٤١- او د عادیانو په قصې کې هغه مهال چې شنډه سیلۍ مو پرې راوسته، ٤٢- پر هر څه چې ورتله داسې به ئې وګرځاوو لکه وروست.

(٤١-٤٢)- دلته د عادیانو د هلاکت قصه د یوې بلې بېلګې په توګه وړاندې شوې، الله تعالی داسې تباه کوونکې سیلۍ پرې مسلطه کړه چې له هر خیر عاري او شنډه وه، پر هر

څه چې لګېدله داسې به ئې کړ لکه وروست شوی او زوړ لرګی، هډوکی او بوټی.

وَفِي ثَمُودَ إِذْ قِيلَ لَهُمْ تَمَتَّعُواْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٤٣﴾ فَعَتَوْاْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَهُمْ يَنظُرُونَ ﴿٤٤﴾ فَمَا ٱسْتَطَعُواْ مِن قِيَامٍ وَمَا كَانُواْ مُنتَصِرِينَ ﴿٤٥﴾

۴۳- او د ثمودیانو په قصې کې هغه مهال چې ورته وویل شول: تر یوې نېټې برخمن او متمتع شئ، ٤٤- نو د خپل رب له امر ئې سرغړاوی وکړ چې په نتیجه کې ئې په داسې حال کې تندر ونیول چې (ورته) کتل ئې، ٤٥- نو نه په کوم پاڅون وتوانېدل او نه غچ اخیستونکي ول.

(٤٣-٤٥)- دلته د ثمودیانو د هلاکت قصه د بلې بېلګې په توګه وړاندې شوې، دوی ته ویل شوي وو چې که توبه ونه کړئ او له کفر او عصیان لاس وانه خلئ لنډ مهلت به درکړی شي او تر یوې ټاکلې نېټې به برخمن او متمتع شئ، بیا به د الله په سخت عذاب اخته شئ، دوی د خپل رب له امر سرغړاوی وکړ چې په نتیجه کې ئې په داسې حال کې تندر ونیول چې ورته کتل ئې، نو نه په دې وتوانېدل چې پاڅي او له الهي عذاب ځان وژغوري، نه ئې له ځانه دفاع کولی شوی او نه غچ اخیستونکي ول.

وَقَوْمَ نُوحٍ مِّن قَبْلُ ۖ إِنَّهُمْ كَانُواْ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٤٦﴾

٤٦- او تر دې وړاندې د نوح قوم، یقیناً چې دوی فاسق وګړي ول.

(٤٦)- د نوح قوم بد برخلیك او په سخت الهي عذاب د دوی اخته کېدل د دې الهي سنت یوه بله بېلګه وه.

وَٱلسَّمَآءَ بَنَيْنَٰهَا بِأَيْيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿٤٧﴾

۴۷- او آسمان مو په خپلو لاسونو جوړ کړ او مونږ (ئې) پراخوونکي یو.

(٤٧)- دا مبارك آیت د قرآن یو ستر علمي اعجاز زمونږ په وړاندې ږدي او وایي: الله تعالی دا آسمان جوړ کړ او هغه ئې پراخوونکی دئ، یعني په پر له پسې او مسلسله توګه پراخوالی ورکوي!!

ساینس وایي چې دا عالم د پیدایښت له لومړنۍ چاودنې وروسته تر نن پورې په سریع او مسلسله توګه پراخېږي، ستورلیکي په خپلو منځونو کې او د هر ستورلیکي ستوري یو له بل لرې کېږي او په دې توګه د عالم لمن پراخېږي، وایي: ځینې ستوري زمونږ له زمکې په

دومره سرعت سره لري کېږي چې نور ئې تر موږ نه رارسېږي. يعني د لري کېدو سرعت ئې د نور تر سرعت زيات دئ!! او دا همغه خبره ده چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي کړې وه او علم نن د شلمي پېړۍ په پای کې پرې پوه شو!! هر با انصافه عالم او هر باشعوره انسان به په دې اعتراف وکړي چې دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ.

دې ته مو بايد پام وي چې دا نظريه ځيني لوازم لري او موږ دې ته اړ کوي چې په ځينو داسې خبرو باور وکړو چې بنسټ ئې همدا نظريه ده، يوه ئې دا چې يو مهال به د عالم د اجرامو تر منځ موجود واټن ورو ورو زيات شي او داسې پراو ته به ورسېږي چې د دوی تر منځ جاذبه به کمزورې شي او دا به د دوی په بېلېدو او جلا کېدو منتج شي؛ او دا همغه حالت دئ چې قرآن ئې د قيامت په نامه يادوي او وايي چې ستوري به توی شي، د جاذبې هغه ځواك به کمزوری او له منځه ولاړ شي چې دا ستوري ئې په خپل خپل مدار کې ساتلي او د شلېدو او پرېوتو مخه ئې نيولې. د دې نظريې بله تقاضا او نتيجه دا ده چې که موږ هر څومره له نن ورځې شا ته دورمو نو عالم به تر نن ووړ او محدود مومو. محققين او د ژور علمي نظر خاوندان او څېړونکي دې حقيقت ته په پام سره چې کائنات په مسلسل او پرله پسې توګه پراخېږي، دې نتيجې ته رسېدلي چې که موږ هر څومره شا ته نظر وکړو او څو مليونه کاله وړاندي د کائنات حجم معلوم کړو نو دا به راته جوته شي چې هر څومره شا ته دورمو د کائنات پراخوالی او حجم ووړ مومو، په دې شا ته تګ کې به سلګونو او زرګونو مليونه کاله مخکې ټول کائنات د يوې وړې کُرې په اندازه او تر هغه مخکې د فټبال د يوه توپ په اندازه او د بيګ بينګ له هغې سترې چاودنې څو ثانيې وړاندي به ئې د يوې منې په اندازه وومو. ښايي دا خبره به ځينو ته ډېره حيرانوونکي او حتی د نه منلو وړ وبرېښي، قرآن وايي چې د زمکې او آسمان د اوسني نظام له متلاشي کېدو وروسته به نوی آسمان او نوې زمکه پيدا کړی شي، په نوي نظام کې به له يوې خوا زمکه آواره وي او له بلې خوا تر اوسنۍ کچې ډېره پراخه، راشئ د دې مطلب په وړاندي هم لږ توقف وکړو او وګورو چې ننني علم او ساينس په دې اړه څه وايي؟ آيا له اوسني مقداره د زمکې د مزيد پراخېدو امکان ردوي او که ئې تأييدوي؟!!

ساينسپوهان وايي: که د اتم د زړه (مرکز) او هغو الکترونونو تر منځ چې په چاپېر ئې راچورلي؛ موجود او اوسنی واټن لږ زيات کړی شي، نو زموږ د زمکې حجم به له اوسني مقداره په مليونونو ځله زيات شي او که دا واټن لږ له اوسني مقداره راکم کړو نو حجم به ئې د اوسني حجم مليونمه برخه شي. په اتم کې د الکترون او پروتون تر منځ اوسنی واټن د پروټون د جاذبې له ځواك او د الکټرون د فرار له ځواك سره تړاو لري، د دغو

دواړو ځواکونو تر منځ موجود تناسب په دې منتج شوی چې تر منځ ئې اوسنی واټن وي، په دې ځواك کې تغییر د اتم په حجم کې د تغییر باعث کېږي؛ او د اتم په حجم کې معمولي تغییر د اجسامو د حجم د ډېر زیاتوالي او کموالي باعث کېږي.

دې ته مو هم پام وي چې په آیت کې د (ايد) لفظ په اړه په تفسیرونو کې دوه تعبیرونه مومو: أید د لاسونو په معنی او د قوت او ځواك په معنی، دې ته په پام سره چې دا لفظ په قرآن کې تل د لاس په معنی راغلی او د دې بېلګه نه مومو چې د ځواك او قوت په معنی راغلی وي نو غوره تعبیر لومړنی تعبیر دئ، همدا راز د (موسعون) لفظ په اړه دوه تعبیرونه مومو: پراخوونکي او توانمن، دا لفظ په قرآن کې په دواړو معانیو راغلی، خو دلته د ورپسې آیت د ماهدون لفظ ته په پام سره غوره دا ده چې د پراخوونکو په معنی تعبیر شي، همدا تعبیر د آیت له سیاق سره مناسب برېښي، معنی ئې دا ده چې الله تعالی آسمان په پرله پسې توګه پراخوي او زمکه په پر له پسې توګه آواروي او د انسان مهد ترې جوړوي، مور عملاً د دواړو (پراخولو او آوارولو او مهد ګرځولو) شاهد یو، دا لړۍ د آسمانونو او زمکې له پیدایښت تر نن پورې دوام لري، د زمکې پر سر په زرګونو درې ورو ورو او وروسته وروسته جوړې شوې دي، غرونه او غونډۍ له منځه تللې دي او په آوارو زمکو بدل شوي. اوس هم هره ورځ له لوړو د بارانو او سېلابونو له کبله غرونه سولېږي او خاوري ئې د زمکې هغو برخو ته وړل کېږي چې ژوري دي.

وَٱلْأَرْضَ فَرَشْنَٰهَا فَنِعْمَ ٱلْمَٰهِدُونَ ﴿٤٨﴾

۴۸- او زمکه مو وغوړوله نو څومره غوره آوارووونکي.

---

(٤٨)- الله تعالی زمکه داسې پیدا کړې چې د انسان د کور فرش ته ورته ده، غوړېدلې او آواره، تګ راتګ ته ئې مساعده، نه د ډېرې په څېر ډېره کلکه او نه د خټې په څېر ډېره نرمه، معتدله؛ نه ډېره سړه او نه ډېره توده، د ده لپاره یوه ښکلې او آرامه زانګو، دا کار ئې یوازې یو ځل او همغه د زمکې د پیدایښت پر مهال نه دئ کړی بلکې په پر له پسې توګه ئې کوي، مور چې د زمکې هر لوري ته سترګي وغړوو نو د یوه داسې رب د تصرف مظاهر او آثار ګورو چې په مسلسله توګه زمکه د انسان لپاره تیاروي او په هغې کې ضروري شرائط برابروي.

وَمِن كُلِّ شَىْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٤٩﴾

۴۹- او د هر څه مو دوه ګونې جوړې پیدا کړې هیله ده پند واخلئ.

---

(٤٩)- دا آيت مورِ ته وايي: الله تعالى هر څه جوړه جوړه پيدا کړي، د دې معنى دا ده چې د قرآن له نظره انسان، حيوان او ټول ژوي او د عالم هر څه جوړه جوړه پيدا شوي؛ او دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ، تر دې وروستيو پوري هيڅوك په دې نه پوهېدو چې د ژوو او حيواناتو په څېر په نباتاتو (ونو او بوټو) کې هم نر او ښځه شته او مېوه د نر او ښځي د نطفو له يو ځای کېدو راپيدا کېږي، دا نرينه او ښځينه نطفې ئې په ګلانو او نورو برخو کې وي، د دوی القاح يا د بادونو په واسطه تر سره کېږي او يا د موچيو په څېر حشراتو په واسطه، د مختلفو نباتاتو او ونو ګلان د تذکير او تأنيث له پلوه درې ډوله وي: مذکر، مؤنث؛ او خنثى چې په هغوی کې هم د نارينتوب خصلت وي او هم ښځينه خصلت، د دواړو له القاح مېوه رامنځته کېږي. د مثال په توګه د خرما وني چې مذکر او مؤنث لري او د جوار په يوه بوټي کې دواړه ډوله راپيدا کېږي. نن ساينس په دې اعتراف کوي چې دا د زوجيت اصل په ټولو مخلوقاتو کې صدق کوي، که تاسو د قرآن دا وينا د کوم ساينس پوه مخي ته کېږدئ نو يقيناً چې دا به د قرآن يو ستر علمي اعجاز ګڼي.

قرآن د طبيعت د ټولو توکو تر منځ (زوجيت) د کمال او دوام باعث ګڼي. دا دقيقه نظريه د هغه بې بنسټه او غلط تصور کاملاً خلاف ده چې د کمونيستانو ماتريالستي فلسفه ئې د تکامل د عواملو په اړه وړاندي کوي، هغوی (تضاد) او د متضادو توکو تر منځ دائمي (نزاع) د تکامل وسيله ګڼي!! دا په داسي حال کې چې ټول عالم د (ازواج) او جوړه جوړه توکو مجموعه ده، د دې خور عالم په هيڅ برخي کې د تضاد او عدم زوجيت بېلګه نه شو موندلى، د عالم په هري برخي کې د دې حقيقت شاهد يو چې تکامل د ازواج او جوړو تر منځ د ګډ کار او ژور تنسيق نتيجه ده، په حيواناتو او نباتاتو کې په څرګنده ګورو چې يو ئې څه د (ورکولو) لپاره لري او بل ئې د (اخيستلو) لپاره، د يوه ورکول يوه اړتيا وي او د بل اخيستل، همدغه احساس يو بل ته نژدې کړي، يو د بل نقص او اړتيا ته ځواب وايي او ضرورت ئې رفع کړي، همدا د دواړو تر منځ د راکړي ورکړي رابطه او تنسيق د نوي موجود د پيدابښت باعث شي او د دغي (جوړې او زوج) د نسل دوام او بقاء ميسر او ممکن کړي. د طبيعت په عناصرو کې هم ګورو چې دوه توکي يوازي هغه وخت يو له بل سره ترکيب کېدى شي او نوى او ځوان توکى رامنځته کولى شي چې يو ئې د بل مکمِل وي، يو ئې د ورکړي لپاره کوم اضافي شى ولري او بل ئې د اخيستو لپاره تش ځای، دا دواړه يو بل ته لاس ورکړي، سره يو شي، يو د بل مکمِل شي، يو ئې د بل بار په اوږو واخلي او بل ئې د خپلي جوړې تشه ډکه کړي او په همدې سره نوى ترکيب رامنځته کړي، د عالم ټول مرکبات همداسي جوړ شوي، د (تضاد) نظريه؛ واهي او بې بنسټه ده او

په عالم کې د تکامل د عواملو له توجيه سخت عاجزه او ناتوانه او د هيڅ څه د تکامل د څرنګوالي په اړه صدق نه کوي.

ماترياليستان وايي ماده ازلي او ابدي ده قرآن او علم وايي پيدا شوې او له منځه تلونکې ده، دوی عالم د اضدادو مجوعه ګڼي او قرآن ئې د ازواجو مجموعه، دوی په تدريجي تکامل باور لري، مورِ په بشپړ او کامل پيدايښت له لومړۍ ورځي، دوی له خالق انکار کوي، حال دا چې د عالم هر څه د خالق په شته والي شهادت ورکوي، دوی په تصادف باور لري او قرآن او علم تصادف منتفي ګڼي.

فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ٥٠ وَلَا تَجۡعَلُواْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ٥١

۵۰- نو د الله په لوري تلوار وکړئ، يقيناً چې زه تاسو ته د هغه څرګند نذير يم، ۵۱- او له الله سره بل (څوك) معبود مه ګرځوئ؛ يقيناً چې زه تاسو ته د هغه څرګند نذير يم.

(۵۰-۵۱)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته سپارښتنه شوې چې خلکو ته ووايي: له جعلي معبودانو د الله لوري ته وتښتئ، يوازې هغه ته مخ کړئ، د هغه لوري ته په تلو کې تلوار وکړئ، يقيناً چې زه تاسو ته د الله تعالى له لوري يو څرګند نذير يم، له دې مو وېروم چې پر خپلو مخکينيو شرکي او خرافي عقائدو نښتلي پاته وئ او د خپل رب لوري ته له تګ ډډه وکړئ.
- له الله تعالى پرته بل معبود مه لمانځئ، بل چا او بل څه ته د معبود په سترګه مه ګورئ، يقيناً چې زه تاسو ته د الله تعالى له لوري يو څرګند نذير يم، له دې مو وېروم چې له دې وروسته له الله تعالى پرته بل څوك ولمانځئ.

كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُواْ سَاحِرٌ أَوۡ مَجۡنُونٌ ٥٢ أَتَوَاصَوۡاْ بِهِۦۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ طَاغُونَ ٥٣ فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ فَمَآ أَنتَ بِمَلُومٖ ٥٤ وَذَكِّرۡ فَإِنَّ ٱلذِّكۡرَىٰ تَنفَعُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٥٥

۵۲- همداسي هغه چې تر دوی وړاندي ول هيڅ پيغمبر نه دئ ورغلی مګر دا چې

وئې ويل: يا کوډګر دئ يا مجنون، ٥٣- آيا يوه بل ته د همدې سپارښتنه کړې؟! نه؛ بلکې دوی طغيان کوونکي وګړي دي، ٥٤- نو مخ ترې واړوه چې په دې سره به ته ملامت نه وې، ٥٥- او پند ورکوه چې يقيناً پند ورکول مؤمنانو ته ګټه رسوي.

(٥٢-٥٥)- دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي:

- تر قريشو وړاندې نورو قومونو د خپلو پيغمبرانو په اړه همغه څه ويلي چې فرعونيانو د موسى عليه السلام په اړه وويل او قريشو ستا په اړه (يا کوډګر دئ يا مجنون)!! آيا دغو مخکينيو او وروستنيو د حق معاندينو يوه بل ته د همداسې څه ويلو سپارښتنه کړې، نو ځکه ئې وينا سره ورته ده؟! نه؛ سپارښتنه ئې نه ده کړې؛ بلکې يوه ځانګړتيا ئې سره ورته ده او همدغې ځانګړتيا ورته وينا د دوی په خوله جاري کړې ده، دوی طغيان کوونکي وګړي دي، دا د دوی ګډ خصلت دئ، طغيان ئې د پيغمبرانو عليهم السلام په خلاف دښمنۍ ته هڅوي.
- نو مخ ترې واړوه، د دوی تبليغاتو ته اعتناء مه کوه او اهميت مه ورکوه، په دې مخ اړولو سره به ته د الله تعالى په وړاندې ملامت نه وې، ستا دنده دا ده چې ايمان راوړونکو ته پند ورکړې نه هغو ته چې د پند قبلولو استعداد ئې په بشپړه توګه ځپل شوی او هيڅ اغېز پرې نه کوي، يقيناً چې پند ورکول دغو مؤمنانو ته ګټه رسوي.

وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ مَآ أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ﴿٥٧﴾ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ ﴿٥٨﴾

٥٦- او پېريان او انسانان مي له دې پرته د بل څه لپاره نه دي پيدا کړي چې زما عبادت وکړي، ٥٧- نه له دوی کوم رزق غواړم او نه دا ترې غواړم چې خواړه راکړي، ٥٨- يقيناً چې الله د مضبوط ځواک خاوند روزي ورکوونکی دئ.

(٥٦-٥٨)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالى فرمايي چې پېريان او انسانان مي يوازې د دې لپاره پيدا کړي چې زما عبادت وکړي، دلته بايد لږ ودرېږو او په دې ځان پوه کړو چې دا کوم عبادت دئ او معنى ئې څه ده چې زمونږ ټول ژوند احتواء کوي او زمونږ د پيدايښت هدف او مقصد دئ! داسې چې که له هغه پرته بل کار وکړو نو د خپل پيدايښت د هدف او مقصد خلاف کار مو کړی؟!! آيا دا خبره صحيح ده چې عبادت په لمانځه، روژې، زکات، حج، جهاد او اذکارو کې راخلاصه کړو؟! که داسې وي نو هغه شېبې به څنګه تعبيروو چې دا کارونه په

کې نه کوو؟! د دې او دې ته ورته پوښتنو دقیق او صحیح ځواب هغه مهال موندلی شو چې د (عبادت) په معنی پوه شو، عبادت عربي لفظ دئ، اصل ئې عبد دئ، عبد یعني مربی او عبادت یعني مرییتوب؛ او ته پوهېږې چې مربی هغه چا ته ویل کېږي چې:

- په بل خرڅ شوی وي او خپل واك ئې په بشپړه توګه هغه ته سپارلی وي.
- د ده په واك کې چې څه وي هغه د ده نه بلکې د ده د آقا او مالك وي.
- هیڅ کار په خپله خوښه او د خپلې مرضي مطابق نه شي کولی، یوازې هماغه څه کوي چې خپل آقا ورته امر کړی وي.
- په خپلو ټولو کړو وړو کې د خپل مالك او بادار رضاء لټوي، د خپلې رضاء لپاره هیڅ نه شي کولی.
- مربی نه شخصي دوست لري او نه دښمن، د آقا دوست ئې دوست او دښمن ئې دښمن وي.

نو عبادت یعني د الله تعالی په وړاندې داسې مرییتوب چې پورتنۍ ځانګړتیاوې ولري، عبادت یعني داسې ژوند چې الله تعالی ئې تا ته لارښوونه کړې، په خپل ټول ژوند کې هغه کړنلاره او تګلاره غوره کول چې الله تعالی درښودلې، دا عبادت ستا ټول ژوند احتواء کوي، یوه شېبه ئې له دې دائرې نه وځي، په دې صورت کې ستا ناسته او ولاړه، ویښه او خوب، په پټي او دفتر کې کار، لیکل او لوستل، خوراك او څښاك او ټول نور ورځني کارونه عبادت ګڼل کېږي، خو که کوم کار دي او د ژوند کومه شېبه دي د عبادت مغایر او د الهي لارښوونو خلاف وه نو تا بغاوت کړی، هغه کار دي کړی چې ستا د ژوند د هدف او مقصد خلاف دئ.

له دې مهمي لارښوونې وروسته او متصل ویل شوي چې نه له دوی کوم رزق غواړم او نه دا ترې غواړم چې خواړه راکړي، یقیناً چې الله د مضبوط ځواك خاوند روزي ورکوونکی دئ، دلته هم په کار ده لږ درنګ وکړو او وګورو چې د دې وینا تړاو له مخکینۍ سره څنګه دئ او معنی ئې څه ده!! په سطحي نظر سره خو داسې معلومېږي چې الله تعالی مونږ د عبادت لپاره پیدا کړي یو، ټوله توجه باید دې لوري ته واړوو، نه یوازې الله تعالی له مونږ روزي نه غواړي بلکې زمونږ د روزي ذمه وال هم دئ، هغه د داسې مضبوط ځواك خاوند دئ چې هر چا ته په شه توګه روزي ورکولی شي، خو که لږ ځیر شو او د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کې د دې دقیقه معنی ولټوو نو راته جوته کېږي چې دا مطلب په خاصه موخه دلته راوړل شوی، مونږ د نړۍ اکثر ادیان داسې مومو چې د ځینو لپاره دام او دکان ترې جوړ شوی، له غولېدلو د الله په نامه ډېر څه اخلي او په خپل جیب او خپټي کې ئې

اچوي، د دوی روزي له هغه څه تأمينېږي چې د الله په نامه ئې د الله له مظلومو او غولېدلو بندګانو تر لاسه کوي. له هر الهي دين سره همدا معامله شوې، تل الهي دين د يوې مکاري ډلې د رزق وسيله ګرځېدلی، د همدې لپاره ګورو چې هر پيغمبر د توحيد لوري ته د بلنې تر څنګ او متصل خپل قوم ته ويلي: له تاسو هيڅ اجر نه غواړم، زما اجر پر رب العالمين دئ، دلته ځکه تر دې مهمي او اساسي خبرې وروسته چې انسانان او پېريان مې يوازې د عبادت لپاره پيدا کړي متصل ويل شوي چې الله تعالى له تاسو هيڅ روزي نه غواړي، د دې عبادت معنى دا نه ده چې څوک د الله په نامه له تاسو څه تر لاسه کړي.

فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ ذَنُوبًا مِّثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَٰبِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُونِ ﴿٥٩﴾

۵۹- نو يقيناً هغو ته چې ظلم ئې کړى داسې ټاکلى عذاب دئ لکه د دوی د يارانو ټاکلى عذاب، نو په تلوار دې له ما نه غواړي.

(۵۹)- په دې مبارك آيت کې د تاريخ د ټولو ظالمانو برخليك يو شان ګڼل شوى، اوسني ظالمان به هرو مرو له هغه تور برخليك او شديد الهي عذاب سره مخامخ کېږي چې د دوی سلف او مخکيني ياران ورسره مخامخ شوي، نو تلوار دي نه کوي، ظالمان دي داسې نه انګېري چې په دې ټاکلي عذاب کې ځنډ يا له دې کبله دئ چې د دوی تدبيرونه اغېزمن دي، يا د عذاب وړ نه دي، يا شايي له هغه څه سره به مخامخ نه شي چې د دوی مخکيني ياران ورسره مخامخ شوي.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن يَوْمِهِمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴿٦٠﴾

٦٠- نو هغو ته به افسوسناك حالت وي چې کفر ئې کړى د خپلې هغې ورځې له کبله چې وعده ئې ورکول کېږي.

(٦٠)- دا مبارك آيت د دې سورې ښکلې تتمه او جامع خلاصه ده، که وغواړو د دې مبارکې سورې ټول پراخ مطالب په يوې جملې کې خلاصه کړو نو د وروستي آيت ژباړه کفايت کوي، ټوله سوره په دې راخرخي چې قيامت راتلونکی دئ، الهي محاسبه به هرو مرو تر سره کېږي، په دې اړه ئې ګڼ شمېر مضبوط دلائل زموږ مخي ته کښېښودل، په لومړيو آيتونو کې د قسمونو په پای کې ويل شوي: بېشکه چې له تاسو سره کېدونکې وعده رښتينې ده او دين (د قيامت د ورځې مکافات او مجازات) حتماً واقع کېدونکی دئ، په دولسم آيت کې راغلي: پوښتي چې دا د مکافات او مجازات ورځ به کله وي، هغه ورځ چې دوی به په اور معذب شي، بيا د هغو ولسونو يادونه شوې چې د کفر، ظلم او له قيامت د

انکار له کبله په الهي عذاب اخته شوي، دا دئ په وروستي آيت کې ويل شوي: هغو ته به افسوس وي چې کفر ئې کړی؛ د خپلې هغې ورځې له کبله چې وعده ئې ورکول کېږي.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الطور

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الطور) دئ چې همدا سوره پرې پيل شوې، ٤٩ آيتونه لري، د لومړيو اوو آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (الطور) ته ورته صيغې دي، د ورپسې دوو آيتونو ئې (واقع) او (دافع) دي، د نهم، لسم او دیارلسم ئې (موراً)، (سيراً) او (دعاً) دي او د نورو ئې د يولسم آيت (مکذبين) او د دولسم آيت (يلعبون) ته ورته دي، د آيتونو اوږدوالی ئې د الذاريات په څېر هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکي دور په لومړيو کلونو کې نازل شوي.

دا مبارکه سوره په داسي پنځو قسمونو پيل شوې چې د موسی عليه السلام او فرعون په قصې پوري مربوط دي، پدې قسمونو سره په حقيقت کې هغو سترو سترو پېښو ته اشاره شوې چې له فرعون سره د موسی عليه السلام د مقابلې د تاريخي قصې بارز نقاط او حساس او له پند او عبرت ډک پراوونه دي او د ټولې قصې خلاصه وړاندي کوي او همدا سلسله پدې شهادت ورکوي چې ستا د رب عذاب هرو مرو واقع کېدونکی دئ. که فرعون ونه توانېدو چې د الله له عذاب ځان وژغوري، نه قصرونو وژغورو، نه لښکرو او نه د مخالفينو تعذيب او ځورونو، نو په دې کې شك مه کوه چې ظالمان او فرعونان په هيڅ څه نه د الله تعالی حتمي عذاب دفع کولی شي او نه ئې ځنډولی. همدا حقيقت د قيامت او اخروي عذاب لپاره د يوه مضبوط او انکار نه منونکي دليل په توګه وړاندي شوی؛ او ويل شوي: دا محتوم الهي عذاب به هغه مهال ټول په خپلو سترګو وګوري چې قيامت راشي، آسمان په ځانګړې هيبتناکې خوځېدا سره وخوځېږي، غرونه په ځانګړې حيرتناکې روانېدا سره روان شي، هغه ورځ به د دغو درواغ ګټونکو حالت افسوسناك وي، هغه چې قيامت او الهي محاسبه ئې عمداً تکذيبولو، همدا بې باوري د دې سبب شوې وه چې دوی په چټې مشغولتياوو او لوبو کې مصروف وي، د يوه هدفمن او مسئول انسان په څېر ژوند کولو ته ئې پرې نږدي، داسي څوك ترې جوړ کړي چې د دوزخ د اور خس او خاشاك شي، هغه ورځ به په ځانګړې ټېل وهلو سره دوزخ ته ټېل وهل شي، همغسي لکه چې په دنيا

کې ستر ستر مجرمين او جنايتکاران د زندان لوري ته ټېل وهل کېږي، ورپسې د متقيانو په اړه ويل شوي: متقيان به په جنتونو او نعمتونو کې وي، پر هغه څه خوښي کوونکي چې خپل رب ورکړي او خپل رب د دوزخ له عذاب ساتلي، دوی ته به وويل شي: د هغه څه له امله چې تاسو کول په خوند خوند وخورئ او وڅښئ، پر داسې تختونو به ډډه وهلي ناست وي چې په منظمه توګه او په ليکه برابر به اېښودل شوي وي.

د سورې په پای کې په ٤٧ آيت کې ويل شوي: وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٤٧: او هغو ته چې ظلم ئې کړی پر دې علاوه بل عذاب دئ خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

يعني هغو ته چې د ظلم، کفر او شرک لار ئې غوره کړې تر هغه ستر اخروي عذاب وړاندې بل دنيايي عذاب دئ خو د دوی ډېری نه پوهېږي. او د سورې په تتمه کې ويل شوي:

وَٱصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعۡيُنِنَاۖ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ٤٨ وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡهُ وَإِدۡبَٰرَ ٱلنُّجُومِ ٤٩

او د خپل رب حکم ته صبر وکړه چې يقيناً ته زموږ تر سترګو لاندې يې؛ او د خپل رب په ستايني سره تسبيح وايه هغه مهال چې پاڅېږې او د شپې په يوې برخې کې او د ستورو شا اړولو پر مهال.

په دې کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې د صبر لمن کلکه ونيسه، تر هغه چې ستا رب خپله وروستۍ پرېکړه وکړي، مطمئن اوسه چې د دښمنانو په وړاندې يوازې نه يې بلکې د خپل رب تر رعايت لاندې يې.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلطُّورِ ١ وَكِتَٰبٖ مَّسۡطُورٖ ٢ فِي رَقّٖ مَّنشُورٖ ٣ وَٱلۡبَيۡتِ ٱلۡمَعۡمُورِ ٤ وَٱلسَّقۡفِ ٱلۡمَرۡفُوعِ ٥ وَٱلۡبَحۡرِ ٱلۡمَسۡجُورِ ٦ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٞ ٧ مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٖ ٨

قسم په طور، ٢- قسم په ليکل شوي کتاب، ٣- په نشر شوو پاڼو کې، ٤- قسم په آباد شوي کور، ٥- قسم په لوړ شوي چت، ٦- قسم په ډک شوي بحر، ٧- بې شکه چې

ستا د رب عذاب حتماً واقع کېدونکی دئ، ۸- هیڅ دفع کوونکی ئې نشته.

(۱-۸)- لکه چې ګورئ دلته پر الطور، کتاب مسطور في رق منشور، البیت المعمور، السقف المرفوع او البحر المسجور لوړه شوې او له قسمونو وروسته ویل شوي: بې شکه چې ستا د رب عذاب حتماً واقع کېدونکی دئ، هیڅ دفع کوونکی ئې نشته. تر هر څه وړاندي باید وګورو چې دلته په څه څه لوړه شوې؛ او دا شیان څنګه پدې شهادت ورکوي چې ستا د رب عذاب حتماً واقع کېدونکی دئ او هیڅ دفع کوونکی ئې نشته.

په دې اړه باید څو خبرې په پام کې ولرو:

- د دغو قسمونو د تفسیر لپاره باید تر هر څه د مخه قرآن ته رجوع وکړو، باید په خپله د قرآن په متن کې د دې قسمونو تفسیر ولټوو او د قرآن په مرسته د هغوی په مطلب ځان پوه کړو. خو باید وګورو چې په قرآن کې د دغو شیانو اصلي مطلب موندلی شو که نه؛ که په قرآن کې پدې اړه څه وضاحت شوی وي نو دا باید مورِ بلي هري مرجع ته له مراجعې مستغني کړي.
- اکثراً یو لفظ د ډېرو شیانو لپاره استعمالېږي او بېلي بېلي معاني تري اخیستل کېږي، په یوه محل کې یوه معنی او په بل کې بله معنی، د موقعیت او محل له مخې د لفظ معنی تغییر کوي. اصولاً د هر لفظ معنی او مفهوم باید تر ټولو د مخه په هغې جملې کې ولټوو چې دا لفظ پکې راغلی او بیا تر همدې جملې مخکې او وروسته جملو کې او بیا په ټول مضمون کې. د قرآن د هر لفظ معنی هم باید ترټولو مخکې په هغه آیت کې ولټوو چې دا لفظ په کې راغلی، بیا په مخکینیو او وروستنیو آیتونو کې، بیا په مربوطه سورې کې او بیا په ټول قرآن کې.
- د الطور د سورې پدې قسمونو کې یو ئې ډېر واضح دئ او په قرآن کې مکرر یاد شوی: الطور، هغه غر چې موسی علیه السلام په کې په پیغمبرۍ مبعوث شو او د الله له لورې د فرعون مقابلې ته ولېږل شو. د قرآن په څېر د بلیغ کلام تقاضا دا ده چې دا وروستي شیان هم باید د موسی علیه السلام له قصې سره تړاو ولري. راشئ وګورو چې د موسی علیه السلام په قصې کې دا پاتې شیان موندلی شو که نه. که په قرآن کې له فرعوني نظام سره د موسی علیه السلام د مقابلې د قصې بېلي بېلي برخي وڅېړو نو څو ترټولو ستړي او حساسي پېښې او ډېر بارز نقاط د هر لوستونکي پام جلبوي:
- موسی علیه السلام د طور په غره کې هغه مهال په پیغمبرۍ مبعوث او د فرعون مقابلې ته ولېږل شو چې له تقریباً لسو کلونو هجرت وروسته له مدین د مصر په لور روان وو، د شپې په تیاره کې ئې لار ورکه کړه، لږ لرې د غره په ډډه کې رڼا په نظر ورغله،

پدې هیلې هغه لور ته روان شو چې هلته به شپانه وي او ده ته به لار وښیي او یا به د اور کومه سکروټه تر لاسه کړي او خپل ماشومان به له یخنۍ وژغوري، خو هلته د الله تعالی له لوري په پیغمبرۍ مبعوث شو او د فرعون د مقابلې هغه ستره دنده ورپه غاړه شوه چې ترخپل توان ئې ډېره ستره او درنه ګڼله.

- په ټولو پیغمبرانو کې یوازې موسی علیه السلام ته داسې کتاب ورکړی شوی چې تیار په لوحو کې لیکل شوی او مسطور وو، نورو ته د کتابونو او صحیفو یوازې وحي شوې، مسطور او لیکل شوي کتابونه او صحیفې نه دي ورکړی شوي. همدا کتاب بني اسرائیلو په (رق) کې ولیکلو او منتشر ئې کړ، رق د غرځه هغه پوستکي ته وایي چې له وچولو او آړ ورکولو وروسته ښه نرۍ کړی شوی او د نرۍ پاڼې په څېر شوی وي، هغه مهال به سپیڅلي کتابونه او مهمې لیکنې په داسې پوستکو باندې لیکل کېدل چې تر اوږدې مودې ئې وساتلی شي.
- د فرعون مېرمني آسیه په موسی علیه السلام ایمان راوړ، فرعون تر شدید تعذیب لاندې ونیوله، د هغې په پښو او لاسونو ئې مېخونه ټکوهل، چې له ایمان لاس واخلي، خو دغه مؤمنه او پر خدای مینه ښځه د همدې شدید عذاب په وخت کې نه یوازې پر خپل ایمان ټینګار کوي او د فرعون په قصر کې او د ده تر څنګ له ژوند خپله بېزاري اعلانوي، بلکې له خپل رب غواړي چې خپل لوري ته ئې وبلي او په خپلې خوا کې ورته (بیت: کور) جور کړي. او الله تعالی ئې سوال مني او په جنت کې ورته دا کور جوړوي. په قرآن کې د (بیت المعمور: جوړ شوی کور) لپاره بل تعبیر نه شو موندلی، پدې سره قرآن غواړي مونږ پوه کړي چې فرعون د خپل اقتدار د بقاء او د خپلو مخالفینو د ځپلو لپاره څه څه کول او په څنګه څنګه سختو عذابونو ئې تعذیبول، چې له یوې ښځې سره او هغه هم د ده مېرمن، داسې سلوك کېږي نو له نورو مخالفینو سره به د فرعون معامله څنګه وه؟ له دې په ښه توګه معلومېدی شي چې فرعون به له خپلو مخالفینو سره څه کول!!
- فرعون خپل وزیر هامان ته وایي: د پخو خښتو لوړ (صرح: مانۍ او قصر) راته جوړ کړه چې بر آسمان ته وخېژم او وګورم چې هلته د موسی رب شته که نه!! هغه فرعون ته داسې (مرفوع سقف)، نه د اوسېدو قصر، جوړ کړ چې په تاریخ کې ئې مثال نه لیدل کېږي.
- د موسی علیه السلام او د فرعون د مقابلې قصه هلته پای ته رسېږی چې فرعون له خپل لښکر سره په بحر کې غرق شو، ټول بحر د دوی په مړو (مسجور: ډك) شو او الله تعالی موسی علیه السلام او د ده ملګرو ته په همدې بحر کې نجات ورکړ.

- اوس او له دې توضيح وروسته پدې خبرې پوهېدل آسان دي چې پدې قسمونو سره په حقيقت کې هغو سترو سترو پېښو ته اشاره شوې چې له فرعون سره د موسى عليه السلام د مقابلې د تاريخي قصې بارز نقاط او حساس او له پند او عبرت ډك پراوونه دي او د ټولې قصې خلاصه وړاندي کوي او همدا سلسله پدې شهادت ورکوي چې ستا د رب عذاب هرو مرو واقع کېدونکى دئ. که فرعون ونه توانېدو چې د الله له عذاب ځان وژغوري، نه قصرونو وژغورو، نه لښکرو او نه د مخالفينو تعذيب او ځورونو، نو په دې کې شك مه کوه چې ظالمان او فرعونان په هيڅ څه نه د الله تعالى حتمي عذاب دفع کولى شي او نه ئې ځنډولى.
- که په قرآن کې د دې قسمونو په اړه له دې ټول وضاحت سره سره څوك د خپلې خوښې او رأيې تفسير کوي او له کتاب مسطور، بيت المعمور، سقف المرفوع او بحر المسجور داسې تعبيرونه وړاندي کوي چې نه په قرآن کې کوم شاهد او دليل ورته په ګوته کولى شي او نه د قسمونو او ځواب تر منځ تړاو او رابطه ښودلى شي، دا تفسير تفسير بالرأى دئ، که هر مفسر ته منسوب شوى وي د منلو نه دئ، کوم معتبر مفسر ته د دې رأيې د انتساب په وجه د دې پر ځاى چې د قرآن پدې وضاحتونو او د قرآن په رڼا کې د دې قسمونو د تفسير په اړه شك وکړو بايد برعکس دې منلي شخص ته دا انتساب غلط وګڼو او په پوره ډاډ او اطمئنان سره ووايو چې يا دغه مفسر اشتباه کړې او يا راوي غلط شوى. بايد پدې کې هيڅ شك ونه کړو چې له دې قسمونو مراد فقط او فقط همدا د موسى عليه السلام او د فرعون د قصې هغه پنځه مهمې پېښې دي چې په قرآن کې ذکر شوې دي نه بل څه. دا سمه خبره نده چې څوك د قرآن په مقابل کې د بل چا خبرې ته اعتناء وکړي او د هغه په خاطر د يوه آيت داسې تفسير ومنې چې له قرآن سره اړخ نه لګوي.

د الطور د سورې د قسمونو له دې شرحې څو نتيجې تر لاسه کوو:

- قسمونه د يوې مهمې مدعا د اثبات لپاره راغلي.
- دا قسمونه هم په خپل منځ کې او هم د قسمونو له ځواب سره ژوري اړيکي لري.
- لکه څنګه چې انسان په خپلې مدعا د خپل مخاطب د قانع کولو لپاره شاهد وړاندي کوي؛ په قسم سره هم په حقيقت کې هغه څه د شاهد په توګه وړاندي کېږي چې مخاطب قانع کړي او د قسم کوونکي خبره ومني، لکه چې انسان د خپل مخاطب قانع کولو لپاره قسم ته پناه وړي او پداسې څه لوړه کوي چې د مخاطب زړه ته ئې له قسم وروسته دا خبره ولوېږي چې اوس نو دى حتماً رښتيا وايي، همدا راز قرآن د خپلو مهمو ادعاګانو د اثبات لپاره له همدې اسلوب کار اخلي، پداسې څه لوړه کوي چې مخاطب ته

واضح او څرګند وي او د مدعا د اثبات په اړه د دليل حيثيت ولري، مخاطب متقاعد کړي او د شك مجال ورته پرې نژدي.

- هيڅوك د خپلې ادعاء د اثبات لپاره داسې دليل نه وړاندي کوي چې مخاطب ته ئې مجهول، غيرقابل فهم او تر اصل مدعا زيات ناڅرګند وي. قرآن د لمر، سپوږمۍ، آسمان، زمکې، شپې، ورځې، سباوون، ستوري او دې ته ورته په څرګندو او واضح شيانو لوړه کوي او د خپلې ادعاء د ثبوت لپاره ئې د څرګند دليل په توګه د مخاطب مخې ته ږدي.
- د دې نتائجو له مخې د هغو کسانو په اړه چې وايي: له سقف المرفوع مراد آسمان دئ او له بيت المعمور مراد هغه بيت المعمور (جوړه شوې خونه) چې په آسمان کې ده او له بحر المسجور مراد د قيامت په ورځ په بحرونو اور ګډېدل او د نورو قسمونو په اړه دې ته ورته نظريات لري، وايو: پدې سره دوی څو اشتباهات کوي:
- د کلام د نظم، يووالي او همغږۍ غوښتنو ته ئې پام نه دئ کړی، نه ئې د قسمونو تر منځ يووالي ته اهتمام کړی او نه د قسمونو او ځواب تر منځ ارتباط ته.
- آسمان او په آسمان کې بيت المعمور څنګه پدې شهادت ورکوي چې د الله عذاب حتماً راتلونکی دئ؟
- کافر خو نه بيت المعمور مني او نه د قيامت په ورځ د بحرونو اور اخيستل، نو څنګه به پدې باندې قسم سره پدې خبرې قانع شي چې په رښتيا د الله عذاب واقع کېدونکی دئ؟!
- د (مسجور) اصلي معنی (ډك) ده نه اور اخيستی.
- دا خو تفسير بالرأی شو، دا دوی ولې د قرآن په وضاحت اکتفاء نکوي او هرومرو داسې رأيه وړاندي کوي چې په قرآن کې ورته دليل نه شي موندلی.
- که په قرآن کې د موسی عليه السلام او فرعون په هغې قصې کې چې له (طور) پيل او په (بحرالمسجور) پای ته ورسېده، مونږ دا ټول قسمونه موندلی شو، نو بيا ولې پدې اکتفاء ونه کړو؟! دا پداسې حال کې چې يوازې پدې سره هم د قسمونو تر منځ او هم د قسمونو او ځواب تر منځ ژور ارتباط مراعات کېږي او دا خبره په ډاګه کېږي چې د الله د واقع کېدونکي عذاب مخه هيڅوك نه شي نيولی، په بحر کې د فرعون غرقېدل ئې ښه واضح مثال دئ. هو؛ هيڅوك او هيڅ څه ظالمان د الله له عذابه نه شي ژغورلی، دا دئ په دې سورې کې د پورتنۍ خبرې د اثبات لپاره د فرعون غرقېدل او د يوه داسې چا په لاس د ده ظالمانه واکمني نسکورېدل د دليل په توګه وړاندي شوي چې له کتاب پرته ئې بل څه په لاس کې نه وو.

که وروستيو مبارکو آيتونو ته ځير شو نو راته جوته کېږي چې دلته هم د قرآن د نورو مواردو په څېر په دنيا کې له فرعونيانو سره الهي محاسبه او د خپلو ظلمونو له کبله په شديد عذاب اخته کېدل د قيامت او اخروي عذاب لپاره د يوه مضبوط او انکار نه منونکي دليل په توګه وړاندي شوی.

دې ته مو پام وي چې د بيت المعمور په اړه دوه رأيي وړاندي شوې: ځينو ترې کعبه مراد کړې او ځينو د آسمان بيت المعمور، خو دا ئې نه دي ويلي چې دا بيت المعمور څنګه په دې ګواهي ورکوي چې د الله عذاب حتماً واقع کېدونکی دئ، د البحر المسجور ګڼ شمېر تعبيرونه شوي، ځينو ډک، ځينو تش، ځينو اور اخيستی، ځينو مختلط، ځينو محبوس معنی کړی؛ او دا ئې په قيامت پوري مربوط حالت ګڼلی، خو دا ئې نه دي ويلي چې د قيامت اړوند پېښې څنګه د دې دليل کېدی شي چې الهي عذاب هيڅوک نه شي ستنولی، د قرآن هغه مخاطب چې آخرت او قيامت نه مني څنګه به د قيامت اړوند پېښې د ګواه په توګه قبلوي؟ ځينو السقف المرفوع د آسمان په معنی نيولی، په داسي حال کې چې د سقف اصلي معنی د خوني چت دئ، په قرآن کې آسمان د السقف په نامه نه دئ ياد شوي بلکې سقف ته ورته ګڼل شوی (سقفاً محفوظاً) ګڼل شوی، دلته ويل شوي: و السقف المرفوع: قسم په هغه لوړ شوي چت، دا سقف بايد د يوې خوني معروف چت وي نه آسمان، قرآن مورِ ته دا مرفوع خونه او سقف ئې راښودلی، په قرآن کې د دې لوړي خوني يادونه شوې، د قرآن هر مخاطب ته معروف سقف دئ، قرآن مورِ ته د فرعون هغه صرح راښودلی چې هامان ورته جوړ کړ او په حقيقت کې له لوړ چت پرته بل څه نه دئ، دلته او د الطور او کتاب مسطور په څنګ کې د هغه يادونه مورِ ته په واضح توګه ښيي چې مراد ئې همدا مرفوع سقف دئ نه آسمان، همدا سقف په دې ګواهي ورکوي چې فرعون ونه شو توانېدی د الله عذاب دفع کړي.

همدا راز البيت المعمور د معرفه په صيغې راغلی، د دې بيت المعمور يادونه بايد په قرآن کې شوې وي، آيا له هغه بيت پرته چې د فرعون مېرمني له الله تعالی غوښتې وه بل البيت المعمور موندلی شو؟!!

يَوْمَ تَمُورُ ٱلسَّمَآءُ مَوْرًا ۝٩ وَتَسِيرُ ٱلْجِبَالُ سَيْرًا ۝١٠ فَوَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ۝١١ ٱلَّذِينَ هُمْ فِى خَوْضٍ يَلْعَبُونَ ۝١٢ يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ۝١٣ هَٰذِهِ ٱلنَّارُ ٱلَّتِى كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ۝١٤ أَفَسِحْرٌ هَٰذَآ أَمْ أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ ۝١٥

ٱصۡلَوۡهَا فَٱصۡبِرُوٓاْ أَوۡ لَا تَصۡبِرُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡكُمۡۖ إِنَّمَا تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٦

۹- کومه ورځ چې آسمان په ځانګړې خوځښدا سره وخوځېږي، ۱۰- او غرونه په ځانګړې روانښدا سره روان شي، ۱۱- نو افسوس په دې ورځ دغو درواغ ګڼونکو ته، ۱۲- هغه چې په چټې مشغولتیاوو کې لوبې کوي، ۱۳- هغه ورځ چې په ځانګړې ټبل وهلو سره به دوزخ ته ټبل وهل شي، ١٤- دا همغه اور دئ چې تاسو تکذیبولو، ۱۵- نو آیا دا کوم جادو دئ او که تاسو داسي یئ چې نه وینئ، ١٦- ورننوځئ، نو که صبر کوئ یا صبر نه کوئ درته یو شان دئ، یوازې د هغه څه له مخې سزا درکول کېږي چې تاسو کولو.

(۹-١٦)- لکه چې ګورئ په مخکینیو مبارکو آیتونو کې ویل شوي چې ستا د رب عذاب حتماً واقع کېدونکی دئ، داسي څوک نشته چې هغه دفع کړي، همدا حقیقت د قیامت او اخروي عذاب لپاره د یوه مضبوط او انکار نه منونکي دلیل په توګه وړاندې شوی. په دې مبارکو آیتونو کې ویل شوي:

دا محتوم الهي عذاب به هغه مهال ټول په خپلو سترګو وګوري چې قیامت راشي، آسمان په ځانګړې هیبتناکې خوځښدا سره وخوځېږي، غرونه په ځانګړې حیرتناکې روانښدا سره روان شي، هغه ورځ به د دغو درواغ ګڼونکو حالت افسوسناك وي، هغه چې قیامت او الهي محاسبه ئې عمداً تکذیبولو، همدا بې باوري د دې سبب شوې وه چې دوی په چټې مشغولتیاوو او لوبو کې مصروف وي، د یوه هدفمن او مسئول انسان په څېر ژوند کولو ته ئې پرې نږدې، داسي څوک ترې جوړ کړي چې د دوزخ د اور خس او خاشاك شي، هغه ورځ به په ځانګړې ټبل وهلو سره دوزخ ته ټبل وهل شي، همغسي لکه چې په دنیا کې ستر ستر مجرمین او جنایتکاران د زندان لوري ته ټبل وهل کېږي، دغه مهال به ورته وویل شي: دا همغه اور دئ چې تاسو تکذیبولو، نو آیا دا کوم جادو دئ او که تاسو داسي یئ چې نه وینئ، آیا ستاسو هغه دروغجن تبلیغات صحیح وو چې د پیغمبر په اړه به مو ویل: جادوګر دئ؛ او که ستاسو سترګې ړندې وې او د دې حقیقت له درك عاجز وئ، اوس په خپله قضاوت وکړئ، دا تاسو او دا ئې هغه دوزخ چې تاسو ترې انکار کولو، ورننوځئ، اوس که صبر کوئ یا صبر نه کوئ درته ګټه نه رسوي، ستاسو د صبر او نه صبر پایله یو شان ده، یوازې د هغه څه له مخې سزا درکول کېږي چې تاسو کولو، نه کم او نه زیات، ستاسو عملونه داسي ول چې دغه سزا ورسره ښایي.

إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَٰكِهِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٨﴾ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ ۖ وَزَوَّجْنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾

۱۷- یقیناً چې متقیان به په جنتونو او نعمتونو کې وي، ۱۸- پر هغه څه خوښي کوونکي چې خپل رب ورکړي او خپل رب د دوزخ له عذاب ساتلي، ۱۹- د هغه څه له امله چې تاسو کول په خوند خوند وخورئ او وڅښئ، ۲۰- په داسي حال کې چې پر لیکه شوو تختونو به ډډه وهلي ناست وي او له حور عین سره به ئې جوړه جوړه کړو.

(۱۷-۲۰)- په دې مبارکو آیتونو کې په جنت کې د متقیانو حالت داسي انځور شوی:

- متقیان به په جنتونو او نعمتونو کې وي،
- پر هغه څه خوښي کوونکي چې خپل رب ورکړي او خپل رب د دوزخ له عذاب ساتلي،
- دوی ته به وویل شي: د هغه څه له امله چې تاسو کول په خوند خوند وخورئ او وڅښئ،
- پر داسي تختونو به ډډه وهلي ناست وي چې په منظمه توګه او په لیکه برابر به اېښودل شوي وي.
- الله تعالی به ئې له حور عین سره جوړ جوړه کړي. مېرمني به ئې ښایسته وي او ښکلې غټې توري سترګې به ئې وي.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَٰنٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَآ أَلَتْنَٰهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَىْءٍ ۚ كُلُّ ٱمْرِئٍۭ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿٢١﴾ وَأَمْدَدْنَٰهُم بِفَٰكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢٢﴾ يَتَنَٰزَعُونَ فِيهَا كَأْسًا لَّا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ ﴿٢٣﴾ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴿٢٤﴾

۲۱- او هغه چې ایمان ئې راوړی او زوزات (اولاد) ئې په ایمان کې د دوی متابعت کړی؛ اولاد به ئې ورسره یوځای کړو او د دوی د عملونو هیڅ څه به ورته کم نه کړو، هر کس د هغه څه ګرو کې دئ چې کړي ئې دي، ۲۲- داسي مېوه او غوښه به ورکړو

چې د دوی زړه ئې غواړي، ۲۳- یو له بل به داسې جامونه تر لاسه کوي چې نه به په هغه کې چټې وینا وي او نه ګناه کول، ۲٤- داسې ځوانکي به ئې پرې راچورلي چې خوندي ساتل شوو ملغلرو ته به ورته وي.

(۲۱-۲٤)- په دې مبارکو آیتونو کې د جنتیانو په اړه مزید ویل شوي:

- هغه چې ایمان ئې راوړی او اولاد ئې په ایمان کې د دوی متابعت کړی؛ الله تعالی به د دوی اولاد ورسره یوځای کړي، چې له خپل اولاد د بېلوالي اندېښنه ئې ونه ځوروي، که څه هم د دواړو تر منځ د مقام او منزلت له پلوه ډېر توپیر وي او درجې ئې سره متفاوتې وي، خو داسې نه چې دوی له خپل لوړ مقام راټیټ کړي، نه؛ د دوی د عملونو د بدلې هیڅ څه به ترې کم نه کړي، له هر چا سره به د هغه د کړنو مطابق معامله کېږي، یو به د بل د ګناه بار په اوږو نه شي وړلی، که څوک جنت ته درومي نو د خپل ایمان او نېک عمل له کبله به درومي او که ئې دوزخ په برخه کېږي خپل غلط باورونه او بد عملونه به ئې دوزخ ته بیایي، نَسَبي او نسلي اړیکي نه څوک جنت ته بیایي او نه دوزخ ته، هر کس د خپل عمل په ګرو کې دئ. خو الله تعالی د ځینو لپاره په دې عامي الهي قاعدې اوضابطې کې استثناء اېښې ده، له هغوی سره معامله تر عدل لوړه او د فضل له مخې وي، لکه چې قرآن فرمایي:

كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ ﴿٣٨﴾ إِلَّآ أَصْحَٰبَ ٱلْيَمِينِ ﴿٣٩﴾ فِى جَنَّٰتٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٤٠﴾ عَنِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٤١﴾ المدثر

هر نفس د هغه څه له امله په ګرو کې دئ چې کړي ئې دي؛ له اصحاب الیمین پرته، چې په جنتونو کې به یو له بل د مجرمینو په اړه پوښتي.

- هره هغه مېوه او هره هغه غوښه به ورته میسر وي چې د دوی زړه ئې غواړي.
- یو له بل به د څښاك او شربتونو داسې جامونه تر لاسه کوي چې نه به په هغه کې چټې وینا وي او نه ګناه کول، د دنیا د شرابو په څېر به نه وي چې انسان بې سده کوي، ژبه ئې له واکه وځي او په چټې خبرو لګیا کېږي، حواس ئې مخدوش کوي او ګناه ته ئې هڅوي.
- داسې ځوانکي به ئې په خدمت کې وي چې د دوی شاوخوا به تاوېږي او هره شېبه به خدمت ته چمتو وي، په ښایست او صفایي کې به داسې ملغلرو ته ورته وي چې په صدف کې خوندي ساتل شوې وي.

وَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ ٢٥ قَالُوٓاْ إِنَّا كُنَّا قَبۡلُ فِيٓ أَهۡلِنَا مُشۡفِقِينَ ٢٦ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ ٢٧ إِنَّا كُنَّا مِن قَبۡلُ نَدۡعُوهُۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ٢٨

۲۵- او ځینې به پر ځینو نورو مخ راواړوي په داسې حال کې چې یو به بل پوښتي، ۲۶- وایي به: موږ تر دې وړاندې په خپل خپل ټبر کې (له خپل رب) وېرېدونکي وو، ۲۷- نو الله پر موږ احسان وکړ او موږ ئې له سوزوونکي عذاب وساتلو، ۲۸- موږ داسې وو چې وړاندې مو دی بللو (لمانځلو)، یقیناً چې دی مهربان احسان کوونکی دئ.

(۲۵-۲۸)- په دې مبارکو آیتونو کې د جنتیانو خپل منځي خبرې داسې انځور شوې:

- ځینې به ځینو نورو ته مخ وروړوي په داسې حال کې چې یو به بل پوښتي، وایي به: موږ تر دې وړاندې په خپل خپل ټبر کې له خپل رب وېرېدونکي وو، د همدې وېرې له کبله مو له هغه څه ځان ساتلو چې نور ئې دوزخ ته ورسول.
- د همدغې وېرې له کبله الله تعالی پر موږ احسان وکړ او موږ ئې له سوزوونکي عذاب وساتلو.
- موږ په دنیا کې داسې وو چې الله تعالی مو بللو او لمانځلو، یقیناً چې دی مهربان احسان کوونکی دئ، په خپل رحمت او احسان سره ئې موږ دې مقام ته راورسولو.

فَذَكِّرۡ فَمَآ أَنتَ بِنِعۡمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٖ وَلَا مَجۡنُونٍ ٢٩ أَمۡ يَقُولُونَ شَاعِرٞ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيۡبَ ٱلۡمَنُونِ ٣٠ قُلۡ تَرَبَّصُواْ فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُتَرَبِّصِينَ ٣١

۲۹- نو پند ورکوه چې ته د خپل رب د پېرزویني له امله نه کوم کاهن یې او نه کوم مجنون، ۳۰- آیا وایي: یو شاعر دئ چې موږ ورته (د داسې حالت) انتظار کوو چې شك قطع کوي (له منځه وړي)، ۳۱- ووایه: انتظار وکړئ چې زه هم له تاسو سره یو ځای د انتظار کوونکو په ډلې کې یم.

(۲۹-۳۱)- د دې مبارکو آیتونو په معنی د ښه پوهېدو لپاره لاندې ټکي په پام کې ولرئ:

- دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې پند ورکولو ته دوام ورکړه، ته د خپل رب د پېرزویني له امله نه کوم کاهن یې او نه کوم مجنون، دا د دښمن

غلط تورونه دي، کله ستا ويناوي له هغو کاهنانو سره ورته بولي چې خلکو ته به ئې په درواغو د غيب خبري کولې او په بدل کې به ئې شکراني تر لاسه کولې؛ او کله ستا سترو سترو ويناوو ته په پام سره د لېونې او پېرياني نوم درباندې ږدي.

- آيا دوی ستا په اړه کله بيا دا وايي: يو شاعر دئ چې موږ ورته د داسې حالت انتظار کوو چې شك قطع کوي او له منځه ئې وړي او حقيقت څرګندېږي، يعني ډېر ژر به د ده په اړه زموږ شکونه له منځه ولاړ شي او ثابته به شي چې دی يا کاهن دئ، يا مجنون دئ او يا يو شاعر، وايي د (ريب المنون) انتظار ورته کوو، د ريب معنی شك او د المنون قطع کوونکی ده، په دې اړه ګڼ شمېر تعبيرونه زموږ مخي ته راځي: د زماني بدلون، د مرګ نزول، مشکوك مرګ، خو دغو تعبيرونو ته د انسان د زړه دړه نه پرانيستل کېږي، له الفاظو چې کوم څرګند مطلب اخيستل کېږي همغه پورتنی مطلب دئ او دا ئې مصداقونه ګڼل شو.

- رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چې ورته ووايي: انتظار وکړئ چې زه هم له تاسو سره يو ځای د انتظار کوونکو په ډله کې يم، دواړه به وګورو چې زه څوك يم او تاسو څوك؛ او په راتلونکي کې به له کوم کوم برخليك سره مخامخ کېږو.

أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَٰمُهُم بِهَٰذَآ أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٣٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُۥ ۚ بَل لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوا۟ بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِۦٓ إِن كَانُوا۟ صَٰدِقِينَ ﴿٣٤﴾ أَمْ خُلِقُوا۟ مِنْ غَيْرِ شَىْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا۟ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ ٱلْمُصَيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ فِيهِ ۖ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُم بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾ أَمْ لَهُ ٱلْبَنَٰتُ وَلَكُمُ ٱلْبَنُونَ ﴿٣٩﴾ أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٠﴾ أَمْ عِندَهُمُ ٱلْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤١﴾ أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ هُمُ ٱلْمَكِيدُونَ ﴿٤٢﴾ أَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ ۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٣﴾

۳۲- آيا خپل عقلونه ئې پر دې ګماري، يا دوی طغيان کوونکي وګڼي دي، ۳۳- آيا وايي: له ځانه ئې جوړ کړی؟ نه؛ بلکي ايمان راوړونکي نه دي، ۳٤- نو د ده په څېر

کومه وینا دي راوړي که رښتیني وي، ۳۵- آیا له کوم شي (خالق) پرته پیدا شوي او که دوی په خپله پیدا کوونکي دي، ۳۶- آیا دا آسمانونه او دا زمکه ئې پیدا کړي؟! نه؛ بلکي یقین کوونکي نه دي، ۳۷- آیا ستا د رب خزانې له دوی سره دي یا دوی په خپله واکمن دي؟! ۳۸- آیا کومه زینه ورسره ده چې پرې (بر درومي او) اورېدل کوي؟! نو د دوی کوم اورېدونکی دي څرګند دلیل راوړاندي کړي. ۳۹- آیا لونې ده ته او زامن تاسو ته دي؟! ۴۰- آیا کومه بدله ترې غواړې داسي چې دوی ئې له تاوان درانه کړی شوي؟! ۴۱- آیا د غیب (علم) ورسره دئ چې دوی ئې لیکي؟! ۴۲- آیا د پټ تدبیر اراده لري، نو هغه چې کفر ئې کړی دوی په خپله د پټ تدبیر په منګولو کې دي، ۴۳- آیا له الله پرته بل معبود لري، الله ته له هغه څه سپېڅلتیا ده چې دوی ئې (ورسره) شریکوي.

(۳۲-۴۳)- په دې مبارکو آیتونو کې د منکرینو او مکذبینو په اړه داسي پوښتني شوې چې د دعوت په وړاندي د دوی د دریځونو حقیقت جوتوي، پوښتني داسي دي:

- آیا خپل عقلونه ئې پر داسي غلطو وینا وو او ناروا وو دریځونو ګماري؟ یا سرکښ دي او طغیان ئې دې ته هڅوي؟!!
- آیا دا ادعاء کوي چې دا قرآن رسول الله صلی الله علیه و سلم له ځانه جوړ کړی؟ او که د دې غلطي ادعاء اصلي وجه دا ده چې دوی په هیڅ توګه او هیڅکله ایمان راوړونکي نه دي، که دوی په خپلې ادعاء کې رښتیني وي نو د قرآن په څېر کومه وینا دي راوړي،
- آیا له کوم خالق پرته پیدا شوي او که دوی په خپله پیدا کوونکي دي؟ نه له خالق پرته د مخلوق پیدا کېدا ممکنه ده او نه انسان په خپله د ځان خالق دئ، د انسان عقل نه دا خبره منلی شي چې کوم مخلوق دي له خالق پرته پیدا شوی وي او نه دا چې انسان ته د خالق په سترګه وګوري، انسان د هیڅ څه پیدا کولو توان نه لري.
- آیا دا آسمانونه او دا زمکه ئې پیدا کړي؟! آیا د آسمانونو او زمکې په پیدایښت کې کومه ونډه لري او کوم څه ئې پیدا کړي؟!! ښه پوهېږي چې نه ئې څه پیدا کړي او نه د څه پیدا کولو توان لري، د دوی اصلي ستونزه دا ده چې یقین کولو او ایمان راوړلو ته چمتو نه دي.
- آیا ستا د رب خزانې له دوی سره دي یا دوی په خپله واکمن دي؟! آیا الله تعالی د خپلو نعمتونو او رحمت خزانې دوی ته سپارلې او کلیاني ئې له دوی سره دي او وېش ئې دوی ته سپارل شوی؛ او که دوی په خپله د خزانو واکمن او خاوند دي، دا پرېکړه د دوی په واك کې ده چې څوك مستحق وګڼي او څوك غیرمستحق؟! که داسي نه وي او الله تعالی

د خپلو پېرزوينو او رحمت وېش بل چا ته نه وي سپارلی او دا پرېکړه په خپله کوي چې چا ته څه ورکړي؛ نو ولې له تا سره له دې کبله حسادت کوي او ستا مخالفت او دښمنۍ ته ئې ملا تړلې چې الله تعالی ته د پيغمبر په توګه غوره کړې؟!!

- آيا کومه زينه ورسره ده چې د آسمان په لوري پرې بر درومي او اورېدل کوي؟! بر په آسمان کې ئې داسې څه اورېدلې چې د دوی ويناوي تصديقوي، که داسې وي نو د دوی کوم اورېدونکی دي څرګند دليل راوړاندي کړي.
- آيا لونې ده ته او زامن تاسو ته دي؟! آيا عجيبه نه ده چې تاسو الله تعالی ته لونې منسوبوئ او ځان ته زامن خوښوئ؟! زامن تر لونو غوره ګڼئ او لونې ټيټې، خو سره له دې ځان ته زامن خوښوئ او الله تعالی ته لونې منسوبوئ!!! د دې وينا يو بل تعبير هم محتمل دئ او هغه دا چې تاسو د زامنو پيدايښت ځان او د خپلې مېرانې قوت ته منسوبوئ نو ځکه ئې پر پيدا کېدو خوښ وئ او د لونو په پيدايښت کې د خپلې مېرانې نښه نه ګورئ او الله تعالی ته ئې منسوبوئ نو ځکه پرې ناراض وئ او ځان ته ئې پېغور ګڼئ!!
- آيا کومه بدله ترې غواړې داسې چې دوی ئې تاوان ګڼي او پر خپلو اوږو دروند بار؟! نو ځکه ئې مخالفت ته ملا تړلې؟!!
- آيا د غيب (علم) ورسره دئ چې دوی ئې ليکي؟! نو ځکه پر تا د بدو ورځو راتلو انتظار کوي!!
- آيا د پټ تدبير اراده لري، ستا په ضد توطئې جوړوي او غواړي تاوان درورسوي، نو ځکه خلکو ته وايي: لږ انتظار وکړئ او وګورئ چې څه ورسره کېږي؟!! خو په دې دي پوه شي چې دا تدبيرونه به ئې د ګټې پر ځای تاوان ورورسوي، د خپل کفر له کبله د پټ الهي تدبير په منګولو کې دي.
- آيا له الله پرته بل معبود لري؟ آيا له الله تعالی پرته ئې داسې معبود موندلی چې د لمانځنې وړ وي؟!! الله ته له هغه څه سپېځلتيا ده چې دوی ئې ورسره شريکوي.

وَإِن يَرَوْاْ كِسْفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ سَاقِطًا يَقُولُواْ سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴿٤٤﴾ فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى فِيهِ يُصْعَقُونَ ﴿٤٥﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِى عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٦﴾ وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٧﴾

٤٤- او که د آسمان کومه ټوټه وګوري چې راپرېوتونکې ده وایي به: متراکمه ورېځ ده، ٤٥- نو تر هغه ئې پرېږده چې له خپلې هغې ورځې سره مخامخ شي چې په هغې کې به بې سده کړی شي، ٤٦- هغه ورځ چې پټ تدبیر به ئې هیڅ څه نه شي ترې دفع کولی او نه به ئې مرسته کېدی شي، ٤٧- او هغو ته چې ظلم ئې کړی پر دې علاوه بل عذاب دئ خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

(٤٤-٤٧)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي:

- ستا د عنادي مخاطبینو او د قیامت او الهي محاسبې د منکرینو حالت داسې دئ چې که د دوی له غوښتني سره سم له آسمان کوم عذاب د نازلېدو په حال کې وګوري، د آسمان کومه ټوټه وګوري چې راپرېوتونکې ده نو د دې په ځای چې عذاب ئې وګڼي او له کفر او شرك لاس واخلي؛ متراکمه ورېځ به ئې ګڼي چې پر دوی به تېز باران ووروي، د دوی بصیرت ځپل شوی او د زړه سترګې ئې رڼدې شوې، نعمت ته د نقمت په سترګه ګوري او عذاب ته د نعمت په سترګه.
- تر هغه ئې پرېږده چې د عذاب ورځ ئې راورسېږي، له هغې ورځې سره مخامخ شي چې له هیبته به ئې بې سده شي، هغه ورځ چې پټ تدبیر به ئې هیڅ څه نه شي ترې دفع کولی او نه به داسې څوك مومي چې د دوی مرسته وکړي.
- هغو ته چې د ظلم، کفر او شرك لار ئې غوره کړې تر هغه ستر اخروي عذاب وړاندې بل دنیایي عذاب دئ خو د دوی ډېری نه پوهېږي. دا مطلب په بل ځای کې په دې توګه راغلی:

وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَدْنَىٰ دُونَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢١﴾ السجده

او هرو مرو به تر لوی عذاب وړاندې وړو (رالنډ دنیایي) عذاب وروڅکو؛ چې راوګرځي.

یعني دوی ته به د آخرت تر لوی عذاب وړاندې په دنیا کې وړو او لنډ دنیایي عذاب وروڅکل شي؛ او دا په دې موخه چې د خپل رب لوري ته راوګرځي او له کفر او عصیان لاس واخلي.

وَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا ۖ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٤٨﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَٰرَ ٱلنُّجُومِ ﴿٤٩﴾

٤٨- او د خپل رب حکم ته صبر وکړه چې یقیناً ته زموږ تر سترګو لاندې یې؛ او د خپل رب په ستاینې سره تسبیح وایه هغه مهال چې پاڅېږې؛ ٤٩- او د شپې په یوې

برخي کې او د ستورو شا اړولو پر مهال.

(٤٨-٤٩)- دا دواړه آيتونه چې سره تړلي دي او په ګډه يو آيت ترې جوړېږي د دې سورې ښکلې تتمه او جامع خلاصه ده، په دې کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې:

- د خپل رب حکم ته صبر کوه، تر هغه د دعوت په چارو کې د صبر لمن کلکه ونيسه او د خپل رب احکام پلي کوه چې ستا رب خپله پرېکړه وکړي، د حق له دښمنانو سره د محاسبې وخت راشي او هغه مهلت پای ته ورسېږي چې ستا رب دوی ته ورکړی.
- مطمئن اوسه چې ته د خپل رب تر رعايت او عنايت لاندي يې او يوازي دي نه پرېږدي .
- د خپل رب په ستايني لګيا اوسه، هغه مهال هم چې پاڅېږې او د شپې په يوې برخي کې هم او د ستورو شا اړولو پر مهال هم.

باید وګورو چې په دغو دريو وختونو سره کومو کومو مشخصو وختونو ته اشاره شوې. دې ته په پام سره چې (من الَّيل: د شپې يوه برخه) خاص وخت افاده کوي نو دوه نور (حين تقوم) او (ادبار النجوم) هم دوه خاص وختونه دي، په کلام کې د نظم تقاضا دا ده چې (حين تقوم) سحر له خوبه پاڅېدل وي، (من الَّيل) ماښام او ماخستن او (ادبار النجوم) تر فجر وړاندي هغه مهال چې د ستورو شا اړول پيل شي، له ختيزه ځې لمن په ټولېدو شي او د رڼا په زياتېدو سره يو په بل پسې له سترګو پټېږي، چې دا د تهجد د لمانځه وخت دئ.

لکه چې ګورئ د سورې په پيل کې ويل شوي: ستا د رب عذاب واقع کېدونکی دئ، هيڅ دفع کوونکی ځې نشته، د دې مهم مطلب د اثبات لپاره د فرعون تور برخليك د شاهد او ګواه په توګه وړاندي شو، همدا حقيقت د قيامت او اخروي عذاب لپاره د يوه مضبوط او انکار نه منونکي دليل په توګه زمونږ مخي ته کښېښودل شو او په ټولې سورې کې دغه موضوع په تفصيل سره وڅېړل شوه چې د حق دښمنان به هم په دنيا کې خپل عذاب ګوري او هم په آخرت کې، دا دئ د سورې په پای کې هم رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې د صبر لمن کلکه ونيسه، تر هغه چې ستا رب خپله وروستۍ پرېکړه وکړي، مطمئن اوسه چې د دښمنانو په وړاندي يوازي نه يې بلکې د خپل رب تر رعايت لاندي يې.

النجم

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (النجم) دئ چې همدا سوره پرې پیل شوې، ٦٢ آیتونه لري، له لومړي آیت تر ٥٦ پورې د ټولو آیتونو فواصل د لومړي آیت (هوىٰ)، ته ورته دي، د ٥٧ او ٥٨ ئې (الأزفة) او (كاشفة) دي، د ورپسې دریو آیتونو (تعجبون) ته ورته دي؛ او آخري آیت ئې په (واعبدوا) پای ته رسېدلی او ټولې سورې ته ئې ډېر ښکلی او په زړه پورې غږ او وزن ورکړی. د آیتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په لومړیو کلونو کې نازل شوي.

د دې مبارکې سورې د بحث محوري موضوع دا ده چې قیامت رانژدې شوی، د دې ادعاء د اثبات لپاره د ستورو غورځېدا د شاهد او دلیل په توګه وړاندې شوې، په لومړي آیت کې په هغه ستوري لوړه شوې چې په ناڅاپي توګه پرېوځي، له خپل مسیر وځي او لاندې لوېږي، د ستورو راغورځېدا ښیي چې د عالم دا ستره مانۍ زړه شوې، له چت او دېوالونو ئې خښتي یوه په بلې پسې راغورځي، له دې معلومېږي چې د ورانېدو وخت ئې رانژدې شوی.

ورپسې ویل شوي چې ستاسو ملګری نه ټېروتی او نه بې لارې شوی او نه له خپلې هوی او هوس خبرې کوي، کوم قرآن چې د ده په لاس تاسو ته وړاندې شوی دا د ده خپل کتاب نه بلکې د الله تعالی کتاب دئ، ویناوي ئې د ده خپلې ویناوي نه دي د الله تعالی کلام دئ چې ده ته د فرشتې له لورې وحي کېږي، د سورې په پای کې او د ګڼ شمېر اړوند قضایاوو له څېړلو وروسته راغلې: قیامت رانژدې شوی، نو اې د قیامت منکرینو! آیا له دې خبرې تعجب کوئ او د ژړا پر ځای خاندئ؟ کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم تاسو ته د قیامت د رانژدې کېدو خبره کوي ورپورې خاندئ، په داسې حال کې چې کبر کوونکي یئ، په ډېر غرور او مستۍ سره پر ده او د ده پر خبرې خاندئ!! که د سورې دا دواړه برخې څنګ په څنګ کې کېږدو نو راته جوته کېږي چې قریشو د پیغمبر علیه السلام پدې خبرې تعجب کولو او په استهزاء او تمسخر سره به ئې هغه ردوله چې ده ورته ویل: د قیامت ورځ رانژدې شوې، دا دنیا به له منځه ځي او ټول به د حساب او کتاب او د جزاء

او سزا عالم په لور دروموِ، پر دې خبرې به ئې نه يوازې تعجب کولو بلکې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته به ئې د تېروتې او لار ورکې خطاب کولو!! نو ځکه په دوهم آيت کې ويل شوي (مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ ۝٢: ستاسو ملګرى نه تېروتى او نه بې لارې شوى؛ او د سورې په پاى کې ويل شوي: آيا له دې خبرې تعجب کوئ چې قيامت رانژدې شوى او د ژړا پر ځاى خاندئ؟

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ ۝١ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ ۝٢ وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ۝٣ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحَىٰ ۝٤ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلْقُوَىٰ ۝٥ ذُو مِرَّةٍ فَٱسْتَوَىٰ ۝٦ وَهُوَ بِٱلْأُفُقِ ٱلْأَعْلَىٰ ۝٧ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ۝٨ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ۝٩ فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ أَوْحَىٰ ۝١٠ مَا كَذَبَ ٱلْفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ ۝١١

١- قسم په ستوري چې کله ناڅاپه وغورځي، ٢- ستاسو ملګرى نه تېروتى او نه بې لارې شوى، ٣- او نه له خپلې هوى او هوس خبرې کوي، ٤- دا نه دئ مګر داسې وحي چې وحي کېږي، ٥- د مضبوط ځواك خاوند ورښودلى، ٦- د مکنت او متانت خاوند، چې برابر شو؛ ٧- حال دا چې هغه په لوړ پاس کې وو، ٨- بيا نژدې شو نو کوز راغى، ٩- نو د دوو لينديو په واټن وو يا تر دې هم ورنژدې، ١٠- نو د ده بنده ته ئې هغه څه وحي کړ چې وحي ئې کړ، ١١- نو دغه زړه هغه څه دروغ ونه ګڼل چې ليدلي ئې وو.

(١-١١)- د دې مبارکو آيتونو په لاړښوونو د سُبه پوهېدو لپاره دا ټکي په پام کې ولرئ:

- په لومړي آيت کې په هغه ستوري لوړه شوې چې په ناڅاپي توګه پرېوځي، له خپل مسير وځي او لاندې لوېږي، ورپسې ويل شوي چې ستاسو ملګرى نه تېروتى او نه بې لارې شوى؛ او نه له خپلې هوى او هوس خبرې کوي، دا نه دئ مګر داسې وحي چې وحي کېږي، د دې لپاره چې د دغه قسم او د هغه د ځواب تر منځ ارتباط په صحيح توګه درک کړى شو بايد څو پوښتنې ځواب شي: د مکې مشرکينو پيغمبر عليه السلام ته د ده د کومى خبرې په وجه ويل چې (ضل و غوى: تېروتى او بې لارې شوى)؟ آيا پدې سورې يا ټول

قرآن کې دغه خبره موندلی شو؟ دلته خو ویل شوي چې دا قرآن د ده د خپلو ویناوو مجموعه نه ده، بلکې د الله له لوري وحي ده، تاسي هسي د دې خبرې په وجه ده ته بد او رد وایئ. د ستوري ناڅاپي پرېوتل، نه آرام غروب، څنګه پدې شهادت ورکوي چې د ده دا خبره رښتیا ده؟

- که لږ ځیر شو نو د دې سورې په پای کې له۵۷ آیت تر ٦۰ آیت پورې داسي لولو:

أَزِفَتِ ٱلْآزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ أَفَمِنْ هَٰذَا ٱلْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴿٦٠﴾

نژدې راتلونکې رانژدې شوه، له الله پرته بل څرګندونکی ورته نشته، نو آیا له دې خبرې تعجب کوئ او خاندئ او ژاړئ نه؟

- له دې آیتونو په څرګنده توګه او په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې قریشو د پیغمبر علیه السلام پدې خبرې تعجب کولو او په استهزاء او تمسخر سره به ئې هغه ردوله چې ده ورته ویل: د قیامت ورځ رانژدې شوې، دا دنیا به له منځه ځي او ټول به د حساب او کتاب او د جزاء او سزا عالم په لور دروموِ. په قرآن کې دې ته ورته ګڼ شمېر آیتونه همدا مطلب په ګوته کوي چې قریشو ته د پیغمبر علیه السلام په ټولو خبرو کې د زیاتې حیرانتیا او تعجب وړ خبره دا وه چې قیامت به راځي، د نړۍ دا موجود نظام به له منځه ځي، بله دنیا، له ځانګړي نظام سره به راځي، مړه به راژوندي کېږي او د خپلو عملونو سزا او جزاء به ګوري، پدې خبرې پورې به ئې خندل او د همدې خبرې په وجه به ئې کله پیغمبر علیه السلام ته مجنون ویل او کله ضال.

خو دا خبره چې د ستوري ناڅاپه پرېوتل څنګه د دغې ورځې راتګ په ګوته کوي او څنګه د دې ورځې په اړه د پیغمبر علیه السلام د وینا په ارتباط د قریشو ناروا دریځ ردوي، ځواب ئې دا دئ: د یوه ستوري ناڅاپي پرېوتل، له خپل ټاکلي مسیر وتل او په لایتناهي فضاء کې ورکېدل، داسي دئ لکه له یوی سترې مانۍ چې یوه خښته راپرېوځي او زمکې ته په رارسېدو سره ذره ذره شي، د همدغې یوې خښتې راپرېوتل دا په ګوته کوي چې دا مانۍ زړه شوې، نوري خښتې به ئې هم یوه په بلې پسې راپرېوځي او یوه ورځ به دا ټوله مانۍ رانسکورېږي. نو اوس که څوک د پیغمبر علیه السلام دا وینا چې قیامت رانژدې شوی نه مني او د ده په اړه وایي چې یا غلط شوی یا قصداً دا غلطه خبره کوي، پداسي حال کې چې دا د ده خپله خبره نه؛ بلکې د الله له لوري د وحي خبره ده او د ستورو نابېره پرېوتل د هغې پر حقانیت شهادت ورکوي، آیا دا کس له خپل عقل سره جفا نه

کوي؟ آيا له څرګند دليل انکار نه کوي؟ آيا د دوی په عقل او عمدي انکار ژړا نده په کار؟ همغسي چې قرآن د دوی په اړه فرمايي: أَفَمِنْ هَٰذَا ٱلْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ٥٩ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ٦٠: نو آيا له دې خبرې تعجب کوئ او خاندئ او ژاړئ نه؟

د دې تعبير په تأييد کې دوه اساسي دلائل لرو:

- د (هویٰ) لغوي معنی ناڅاپي پرېوتل او راغورځېدل دي نه د معمول مطابق غروب. دا پرېوتل د قيامت د نژدې کېدو نښه کېدی شي نه بل څه.
- د سورې په ۵۷ آيت کې د قيامت ورځ د (الآزِفَةُ: نژدې راتلونکې) په نامه يادە شوې او ويل شوي چې رانژدې شوې ده؛ له دې په څرګنده معلومېږي چې اصلي موضوع د قيامت رانژدې کېدل دي.

په درېيم او څلورم آيتونو کې ويل شوي: له خپل هوس راټوکېدلې خبرې نه کوي، دا له داسي وحي پرته بل څه نه دي چې (ده ته) وحي کېږي، د دې مبارکو آيتونو معنی دا ده چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم له لوري وړاندي شوی قرآن د ده خپل کتاب او د ده د ويناوو مجموعه نه دئ، دا خو يوازې هغه وحي ده چې د يوه پياوړي او شديدالقوی ملك له لوري ده ته وحي شوی، دلته په (هو) سره قرآن ته اشاره شوې نه بل څه ته او نه د رسول الله صلی الله عليه و سلم هري وينا ته، د رسول الله صلی الله عليه و سلم ډېرې ويناوي نه وحي وې او نه د وحي شرح او تفسير، بلکې د ده خپلې خبرې وې، دا درې بايد سره خلط نه کړو، قرآن وحي ده، حديث د وحي شرح او تفسير دئ؛ او پر دې دواړو سربېره رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپل شخصي ورځني ژوند کې ډېرې داسي خبرې کړې چې نه د وحي نوم ورکولی شو او نه ئې د وحي شرح او تفسير ګڼلی شو، لکه دا چې رسول الله صلی الله عليه و سلم هره ورځ چا ته د کوم کار کولو سپارښتنه کړې، څه ئې د خوراك او څښاك لپاره غوښتي، د کوم جنګ پرېکړه ئې کړې، کومه ډله ئې کوم لوري ته لېږلې، د ډلې غړي ئې غوره کړي؛ او دې ته ورته نور کارونه، آيا ويلی شو چې دا هره وينا ئې د وحي له مخې وه؟! جبرئيل عليه السلام ورته راغلی او دا لارښوونې ئې هغه ته کړې؟!!

په پنځم آيت کې ويل شوي: د مضبوط ځواك خاوند ورښودلی، د متانت خاوند، چې برابر شو حال دا چې هغه په لوړ پاس کې وو، بيا نژدې شو نو کوز راغی، نو د دوو لېندیو په واټن وو يا تر دې هم ورنژدې، نو د ده بنده ته ئې هغه څه وحي کړ چې وحي ئې کړ، نو دغه زړه هغه څه دروغ ونه ګڼل چې ليدلې ئې وو. که څه هم د دې مبارکو آيتونو الفاظ ډېر واضح او مطلب ئې ډېر څرګند دئ او د صاف زړه خاوند په آسانۍ سره پرې

پوهېږي چې دلته څو خبرو ته اشاره شوې: د جبرئيل عليه السلام له لوري د قرآن وحي، په لومړي ځل په خپلې اصلي بڼې کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ځان ښودل، هغه هم د آسمان په لوړې غېږ کې، بيا دومره ورنژدې کېدل لکه د دوو لېندیو تر منځ واټن، خو متأسفانه ځېنې تور زړي او د کږې سليقې خاوندان دا آيتونه تحريفوي او وايي: الله تعالى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ځان ښودلی، ورنژدې شوی، دا پېښه د معراج په سفر پورې تړي او دا مخامخ ملاقات په لامکان کې او د عرش له پاسه ګڼي!!! راشئ وګورو چې دا تحريف څومره کوږ او د قرآن د څرګندو لارښوونو خلاف دئ. لاندې مطالبو ته ځير شئ:

- د التکوير په سوره کې د النجم د سورې دغه مطالب په دې صيغه راغلي:

إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ١٩ ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ ٢٠ مُّطَاعٖ ثَمَّ أَمِينٖ ٢١

بې شکه چې دا (قرآن) د عزتمن استازي وينا ده، د عرش خاوند ته مخور او ځواکمن، هلته منل شوی او امين.

لکه چې ګورئ دلته د وحي حامل ملك په څو صفتونو ياد شوی: کريم، ذي قوة، مکين يعني د عرش خاوند ته مخور او ځواکمن، مطاع، امين او همدا فرشته د النجم د سورې په آيتونو کې په دې صفتونو يادە شوې: شديدالقوی، ذومره، لکه چې په دې دواړو سورتونو کې دا دوه صفات د وحي حامل فرشتې ته منسوب شوي همدراز د قرآن په هيڅ آيت کې الله تعالى د (شديدالقوی) او (ذومره) په صفت نه دئ ياد شوی.

رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د فرشتې دا نژدې کېدا په هغه حديث کې هم په څرګنده توګه راغلې چې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم د وحي د نزول پېل زموږ مخې ته په دې الفاظو ږدي: ...

حَتَّى فَجِئَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ. فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "مَا أَنَا بِقَارِئٍ". قَالَ "فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ اقْرَأْ. قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ. فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ اقْرَأْ. قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ. فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ (ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ٤)". إِلَى قَوْلِهِ (عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ٥). صحيح ابن حبان، مسلم و ...

ترهغه چې وحي په داسې حال کې ورته راغله چې د حراء په غار کې وو فرشته ورته راغله

ورته وئې ویل: ولوله! رسول الله صلی الله علیه و سلم وویل: (زه خو لوستونکی نه یم)، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: فرشتې په غېږ کې داسي کلك ونیوم چي وس او زغم مي په پای ته رسېدو شو، هغې پرېښودم او راته وئې ویل: ولوله، ما وویل: (زه لوستونکی نه یم)، رسول الله صلی الله علیه و سلم وایي: هغي فرشتې بیا ونیوم او دومره ئې ټینګ کړم چي خومره مي تحمل کولی شو، بیا ئې پرېښودم او وئې ویل: ولوله، ما وویل: (زه لوستونکی نه یم)، درېیم ځل ئې بیا ونیوم، دومره ئې ټینګ کړم چي زغم مي په پای ته رسېدو شو، بیا ئې خوشی کړم او راته وئې ویل: (اقرأ باسم ربک.....) (ولوله د خپل هغه رب په نامه چي هر څه ئې پیدا کړي دي. انسان ئې له ځوړند توکي پیدا کړی، ولوله ستا رب له ټولونه زیات کریم او د زیات عزت خاوند دئ).

دا حدیث په ډېر صراحت سره د پورتنیو مبارکو آیتونو شرح زمونږ په وړاندي ږدي او ښیي چي د فرشتې هغه نژدې کېدا څنګه وه.

ځیني دا مبارك آیتونه غلط تعبیروي او وایي الله تعالی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دومره ورنژدې شوی لکه د دوو لیندیو په واټن!! دوی نه یوازي د قرآن څرګنده وینا تحریفوي او د دې آیتونو هغه تفسیر ردوي چي قرآن په خپله وړاندي کړی بلکي هغه څه وایي چي د توحید له عقیدې سره تصادم کوي.

دوی ادعاء کوي چي ګواکي دلته د رسول الله صلی الله علیه و سلم معراج ته او د معراج په سفر کې له الله تعالی سره ملاقات ته اشاره شوې!!! حال دا چي دا سوره د معراج له روحاني سفر نژدې اته کاله وړاندي نازله شوې، ډېر ناپوه او په غرض او مرض اخته انسان به دا جسارت کوي چي دا مبارك آیتونه د معراج په سفر پوري وتړي!!

متأسفانه ځیني د قرآن دا ټول وضاحتونه له پامه غورځوي او د خپل غلط تعبیر په تأیید کې دا استدلال کوي چي په آیت کې فاوحی الی عبده ما اوحی راغلي؛ ګواکي په (عبده) کې ضمیر هغه چا ته راجع دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې مخامخ وحي کوله نو دا وحي د الله تعالی له لوري وه او دا نژدې کېدا هم د ده له لوري!! په داسي حال کې چي دا تعبیر له یوې خوا د النجم او التکویر د سورتو له اړوند آیتونو سره په بشپړه توګه مغایرت لري او له بلې خوا داسي صحیح الاسناد روایت نه مومو چي په سلف کې دا غلط تعبیر ورته منسوب شوی وي، په دې اړه ټول متفق دي چي په عبده کې ضمیر الله تعالی ته راجع دئ او د اوحی فاعل د وحي حامل فرشته ده، د دې اعتراض چي ولي ضمیر الله تعالی ته راجع کېږي په داسي حال کې چي تر دې وړاندي د الله نوم نه دئ یاد شوی؛ ځواب دا دئ چي د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې کله چي د ضمیر مرجع کوم څرګند شی یا

شخص وي نو هلته ضمیر همدې مرجع ته راجع شوی که څه هم د هغه نوم په څرګنده توګه وروسته یا وړاندي نه وي یاد شوی؛ لکه د النجم سورې په څلورم آیت کې (هو) قرآن ته راجع دئ که څه هم تر دې وړاندي د قرآن یادونه نه ده شوې؛ او لکه د التکویر د سورې په پورتني آیت کې په (إنه) سره قرآن ته اشاره شوې، یا د القدر د سورې په (انزلنٰه) کې قرآن ته اشاره شوې سره له دې چې په ټولې سورې کې د قرآن یادونه نه ده شوې.

دې ته مو پام وي چې قرآن موږ ته په ډېر صراحت سره وایي چې انسان ته په دنیا کې او په دغو سترګو د الله تعالی لیدل محال دي، د هغه چا په اړه چې ویلي ئې دي: خدای راوښیئ چې په خپلو سترګو ئې وګورو!! داسې فرمایي: ځان ورته ستر برېښېدلی!!

وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ نَرَىٰ رَبَّنَاۗ لَقَدِ ٱسۡتَكۡبَرُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ وَعَتَوۡ عُتُوّٗا كَبِيرٗا ٢١ الفرقان

او هغو چې زموږ د ملاقات هیله نه لري؛ وویل: ولې پر موږ فرشتې نه نازلېږي او خپل رب نه ګورو، یقیناً چې د خپل ځان په اړه ئې د لوی والي احساس وکړ؛ او په سترې سرکښۍ سره ئې سرکښي وکړه.

په دې مبارك آیت کې لاندي الهي ارشادات زموږ مخې ته ځلېږي:

- هغه چې په ګناهونو کې غرق دي، د همدې ګناهونو له کبله له الله تعالی سره د ملاقات پایلو ته هیڅ هیله نه شي درلودی نو ځکه قیامت او له الله تعالی سره مخامخېدا تکذیبوي، په دې اړه د نورو بې بنسټو دلائلو تر څنګ وایي: دا د وحي فرشتې ولې یوازې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازلېږي؛ ولې مخامخ پر موږ نه نازلېږي؟ څنګه ومنو چې هغه ته راځي او موږ ته نه؛ هغه ئې لیدی شي او موږ نه؟!! ولې الله تعالی موږ ته خپل ځان نه ښیي او په خپله مخامخ زموږ لارښوونه نه کوي؟ ولې په خپله موږ ته نه وایي چې دا مي پیغمبر دئ او دا مي پیغام؟!!
- الله تعالی د دوی د وینا او مطالبې په ځواب کې فرمایي: یقیناً چې دوی ته خپل ځان ډېر ستر برېښي، غواړي د عالمونو ستر رب په خپلو وړو او ضعیفو سترګو وګوري، د دوی په وړاندي ودرېږي او دا غوښتنه ترې وکړي چې لطفاً زما پیغمبر ومنئ او زما پیغام قبول کړئ!! دا وړوکی او کمزوری انسان چې په خپلې زمکې کې ئې حیثیت د یوې وړې ذرې دئ، د ټول عالم په پرتله خو د ده او د ده د ټولې زمکې او شمسي نظام د حیثیت ټاکلو لپاره نه کومه تله موندی شو او نه کوم وزن او معیار، دا وړوکی او حقیر انسان څنګه په ډکه خوله دا مطالبه کوي چې د آسمانونو او زمکې رب دي وګوري او د دوی په وړاندي دي حاضر

شي؟!!!

قرآن وايي: موسی علیه السلام د الله تعالی د لیدلو هیله وکړه او الله تعالی په ځواب کې ورته وفرمایل: هیڅکله مي لیدلی نه شې:

وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِيٓ أَنظُرۡ إِلَيۡكَۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِي وَلَٰكِنِ ٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡجَبَلِ فَإِنِ ٱسۡتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوۡفَ تَرَىٰنِيۖ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلۡجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكّٗا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقٗاۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٤٣

الاعراف

او کله چې موسی زمونږ میقات ته راغی او رب ئې ورسره خبرې وکړې، وئې ویل: اې زما ربه! ما ته (ځان) راوښیه چې درته وګورم، وئې فرمایل: هیڅکله مي لیدی نه شې، خو دې غره ته وګوره، که په خپل ځای ثابت پاته شو، نو ته به مي هم حتماً وګورې، خو کله چې د ده رب د غره په لوري تجلي وکړه، ټوټې ټوټې شو او موسی بې سده پرېووت، کله چې راپه سد شو وئې ویل: پاکي تا لره ده، تا ته مي توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم (د دې خبرې چې هیڅوک الله تعالی په خپلو سترګو نه شي لیدی)

دلته څو ډېرې اساسي او مهمې خبرې زمونږ توجه جلبوي:

- الله تعالی له موسی علیه السلام سره تکلم او خبرې کړې، مونږ د دې خبرو په کیفیت او څرنګوالي نه پوهېږو، دومره ویلی شو چې موسی علیه السلام دا خبرې اورېدلې دي او پرې پوه شوی.
- خبرې په داسي حالت کې شوې چې موسی علیه السلام خپل رب نه لیدو، د لیدو تمنی ئې کړې او الله تعالی ورته فرمایلي چې زما د لیدو توان او استعداد نه لرې، ستا په څېر یو انسان خو پرېږده ستر غر هم د الله تعالی د تجلي په وړاندي مقاومت نه شي کولی، که دا غر زما د تجلي په وړاندي تم شو نو ته مي هم لیدی شې.
- کله چې الله تعالی د غره په لوري تجلي کړې غر ټوټې ټوټې شوی او موسی علیه السلام بې سده شوی.
- کله چې راپه سد شو وئې ویل: پاکي تا لره ده، تا ته مي توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم، یعنی له زما غلطي وشوه، ته تر دې ډېر لوړ یې چې انسان دي په خپلو کمزورو سترګو ولیدی شي، تا ته مي توبه ده، زه لومړنی کس یم چې دې نتیجې ته رسېدلی چې هیڅوک الله تعالی په خپلو سترګو نه شي لیدی.

د قرآن دا وینا او هغه هم د موسی علیه السلام د قصې په ترڅ کې د یهودانو او د

بايبل د هغو پلويانو په خوله سخت سوك دئ چې د بايبل دا غلطه خبره مني چې د دوی ګڼ شمېر انبياوو الله تعالی په خپلو سترګو ليدلی او حتی ډوډۍ ئې ورسره خوړلې!!

دا آيت د ټولو هغو ټګمارانو ادعاء هم ردوي چې د (شهود) او (حضور) په نامه د الله تعالی د ليدو خبره کوي. که د موسی عليه السلام په څېر اولوالعزمه پيغمبر نه شي کولی الله تعالی وګوري بل څوك به ئې څنګه وليدی شي، بخاري روايت کوي چې عائشې رضي الله عنها د محمد عليه السلام په اړه وويل:

مَنْ حَدَّثَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَبَّهُ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ (لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ) (وَ مَا كَانَ لِبَشرٍ أَن يُكلِّمَهُ اللهُ إلا وحياً أَوْ مِن وَرَاء حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسولاً فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشاءُ) وَمَنْ حَدَّثَكَ أَنَّهُ يَعْلَمُ الْغَيْبَ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ لَا يَعْلَمُ الْغَيْبَ إِلَّا اللهُ * بخاری

که چا درته وويل چې محمد صلی الله عليه وسلم خپل رب ليدلی دئ نو پوه شه چې دا شخص دروغ وايي، ځکه الله تعالی فرمايي: "سترګی ئې نه شي ليدلی"، "او هيڅ انسان ته نه شايي چې الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي سره، يا د حجاب له شا او يا کومه فرشته ولېږي نو هغه د الله په حکم هغه څه ورته وحي کړي چې غوښتي ئې وي" او که چا درته وويل چې هغه علم غيب لري، نو دا هم دروغ وايي ځکه الله تعالی فرمايي: له الله پرته هيڅوك علم غيب نه لري.

موسی عليه السلام لومړی او وروستی شخص دئ چې الله تعالی ورسره تکلم کړی او دا ئې په خپلو سترګو ليدلي چې نه غر او نه انسان د الله تعالی د تجلي په وړاندي مقاومت کولی شي.

متأسفانه ځيني ضال او مضل مبلغين دا هم وايي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د معراج په سفر کې نه يوازي الله تعالی په خپلو سترګو ليدلی او مخامخ ئې خبري ورسره کړې بلکې هغه ئې د عرش له پاسه د ځان خوا ته کښېنولی!! دوی دا د قرآن خلاف خبري له محرف بايبل اخيستې دي، بايبل د عيسی عليه السلام په اړه دغه غلطي، شرك لړلې او د الهي دين خلاف خبري کوي، د شيطان په لومو کې نښتي متصوفين د بايبل په وينا کې يوازي دومره تصرف کوي چې د عيسی عليه السلام نوم په محمد عليه السلام بدلوي، د دې پروا نه کوي چې دا وينا هم د قرآن خلاف ده، هم د رسول الله صلی الله عليه و سلم د ارشاداتو خلاف او هم د ايمان او عقل خلاف. ځيني ئې په داسې رواياتو استناد کوي چې د سند له پلوه کمزوري او ضعيف او د متن له پلوه هم له قرآن سره متعارض او هم له

صحيح رواياتو سره. راشئ دا روايات هم وګورئ چې په دې اړه څه وايي:

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ قَالَ « نُورٌ أَنَّى أَرَاهُ ». مسلم

- له ابو ذر رضی الله عنه روایت دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم مې وپوښتل: آیا خپل رب دي لیدلی؟ وئې فرمایل: هغه نور دئ څنګه به ئې ګورم!!

عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَ جِبْرِيلَ: " هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ . فَانْتَفَضَ جِبْرِيلُ وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ إِنَّ بَيْنِي وَبَيْنَهُ سَبْعِينَ حِجَابًا مِنْ نُورٍ لَوْ دَنَوْتُ مِنْ أَدْنَاهَا لَاحْتَرَقْتُ "

عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال لِجِبْرِيلَ: هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ فَانْتَفَضَ جِبْرِيلُ وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ إِنَّ بَيْنِي وَبَيْنَهُ سَبْعِينَ حِجَابًا مِنْ نُورٍ لَوْ دَنَوْتُ مِنْ بَعضِهَا لَاحْتَرَقْتُ. الدارمی و المصابیح

له زراره بن اوفی روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم جبرئیل ته وویل: آیا خپل رب دي لیدلی؟ جبرئیل وپوړېدو او وئې ویل: اې محمده! زما او د الله تر منځ د نور اویا پردې دي که ئې یوې برخې ته ورنژدې شم سوزېږم!! او په بل روایت کې (که ئې لاندینۍ ته ورنژدې شم سوزم).

أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ﴿١٢﴾ وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ﴿١٣﴾ عِندَ سِدْرَةِ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴿١٤﴾ عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ ﴿١٥﴾ إِذْ يَغْشَى ٱلسِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ﴿١٦﴾ مَا زَاغَ ٱلْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ﴿١٧﴾ لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلْكُبْرَىٰٓ ﴿١٨﴾

١٢- نو آیا د هغه څه په اړه ورسره شخړه کوئ چې دی ئې وینې؟!! ١٣- په داسې حال کې چې هغه ئې یو ځل بل هم لیدلی وو، ١٤- د سدرة المنتهى (وروستۍ بېرۍ) خوا ته، ١٥- چې هغې ته څېرمه جنت المأوى (د جنت استوګنځی) دئ، ١٦- هغه مهال چې سدرة المنتهى ځانګړي شي پوښلې وه، ١٧- نه سترګې کاږه لیدل کړي او نه تېروتې، ١٨- یقیناً د خپل رب ځینې ستر ستر آیتونه ئې لیدلي.

(١٢-١٨)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

• قريشو ته ويل شوي: آيا له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د هغه څه په اړه شخړه کوئ چې دی ئې وينې؟!! دی درته وايي: ما جبرئيل ليدلی، زه په خوب کې د معراج په سفر تللی وم، په دې سفر کې له اوو آسمانو آخوا تر سدرة المنتهى ورسېدم، د الله تعالى د قدرت ستري ستري نښې مي وليدلې، آيا تاسو په همدې اړه له ده سره مناقشه او مجادله کوئ؟!! دا آيت ښيي چې قريشو د معراج د رؤيا له امله له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره سخته شخړه او مجادله پيل کړې، هغه څه ئې نه منل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې رؤيا کې ليدلي وو.

• رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې رؤيا کې جبرئيل عليه السلام په خپل اصلي بڼه کې ليدلی او دا د ده دوهم ځل ليدل وو.

روايات هم په دې تأکيد کوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم دلته جبرئيل عليه السلام ليدلی:

حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الشَّيْبَانِيُّ قَالَ سَأَلْتُ زِرَّ بْنَ حُبَيْشٍ عَنْ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى (فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى * فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى) . قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ مَسْعُودٍ أَنَّهُ رَأَى جِبْرِيل لَهُ سِتُّمِائَةِ جَنَاحٍ . رواه البخارى

له ابو اسحاق الشيباني روايت دئ چې له زر بن حبيش مي د الله تَعَالَى د دې قول (فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى * فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى) وپوښتل؛ وئې ويل: ابن مسعود رضى الله عنه موږ ته وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم جبرئيل ليدلی چې شپږ سوه وزري ئې وې.

عائشه رضى الله عنها وايي:

.... وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ لَمْ يَرَهُ فِي صُورَتِهِ إِلاَّ مَرَّتَيْنِ مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَمَرَّةً فِي جِيَادٍ لَهُ سِتُّمِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الأُفُقَ. الترمذى

... خو رسول الله صلى الله عليه و سلم جبرئيل ليدلی چې په خپلې اصلي بڼې کې ئې له دوه ځلې پرته بيا نه دئ ليدلی؛ يو ځل په سدرة المنتهى کې او بل ځل په جياد کې چې شپږ سوه وزري ئې وې؛ ټوله فضاء ئې نيولې وه.

• قرآن هم وايي چې دا ليدنه په سدرة المنتهى کې شوې، د سدرة المنتهى له نامه معلومېږي چې دا د آسمانونو پای او انتهاء ده، له دې آخوا نه لوړه شته او نه مخلوق شته، دا داسي وګڼئ لکه چې د يوه جګ غره په ډډه کې د ونو ځنګل وي، دا وني تر هغه ځايه راټوکېدلې وي چې تر هغه لوړ د هوا د سوړوالي او د آکسيجن د کموالي له امله نه

بوټي راشنه کېږي او نه وني، د دې ځنګله د وروستۍ وني په يادولو سره همدا مطلب افاده کېږي چې تر دې آخوا نوري وني نشته، سدرة المنتهى همداسې ده.

- د قرآن د وينا له مخې جنت المأوى هم دلته دئ، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم هم اُوه آسمانونه ليدلي او هم جنت المأوى. رسول الله صلى الله عليه و سلم تر دغه ځايه تللى او همدلته ئې دا روحاني سفر پای ته رسېدلى.
- سدرة المنتهى داسې څه پوښلې وه چې د انسان په قاموس کې د هغه د تشريح لپاره الفاظ نشته.
- په دې رؤيا کې ئې د الله تعالى نور ستر ستر آيتونه هم ليدلي.

د قرآن دا صريح آيتونه مورِ ته لارښوونه کوي چې پيغمبر عليه السلام دوه ځلي جبرئيل عليه السلام په خپلې اصلي څېرې کې ليدلى، يو ځل داسې چې د آسمان افق پرې ډک وو، خو ده ته ډېر (د قاب قوسين په اندازه) ورنژدې شوى او د الله تعالى وحي ئې وررسولې؛ او بل ځل په سدرة المنتهى کې او د معراج په شپه.

د مفسرينو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چې له جنت المأوى مراد همغه جنتونه دي چې په آخرت کې به د مؤمنانو په برخه کېږي که هغه جنت چې اوس او تر آخرت مخکې د شهداوو ارواح په کې اوسي، په سلف کې هم ځيني يوه رأيه لري او ځيني بله، قتاده رحمه الله په دوهمې رأيې دئ او ابن عباس رضى الله عنهما هم دغه رأيه لري او دا پرې اضافه کوي چې د آخرت جنت به په زمکې کې وي نه په آسمان کې، حسن بصري رحمه الله وايي چې جنت المأوى همغه جنت دئ چې مؤمنان به په آخرت کې ورننوځي. د قرآن له ويناوو معلومېږي چې د انسان جنت او دوزخ به په زمکې کې وي، خو په هغې زمکې کې چې تر قيامت وروسته به د اوسنۍ زمکې پر ځای رامنځته کېږي، په همدغې زمکې کې به هم خپل جنت ګوري او هم دوزخ.

په اولسم او اتلسم آيتونو کې ويل شوي: نه سترګې کاږه ليدل کړي او نه تېروتې، يقيناً د خپل رب ځيني ستر ستر آيتونه ئې وليدل. د دې معنى دا ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د معراج په روحاني سفر کې د الله تعالى ستر ستر آيتونه ليدلي نه الله تعالى په خپله، جبرئيل عليه السلام ئې يو ځل بيا په خپلې اصلي بڼې کې ليدلى، د اوو آسمانونو انتهاء (سدرة المنتهى) ته رسېدلى، د سدرة المنتهى له نامه معلومېږي چې دا د آسمانونو پای او انتهاء ده، له دې آخوا نه لوړه شته او نه مخلوق شته، د قرآن د وينا له مخې جنتونه هم دلته دي، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم هم اُوه آسمانونه ليدلي او هم جنت. هغه روايات صحيح نه دي چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم دلته الله تعالى په خپلو

سترګو لیـدلی، دا خبره هم له قرآن سره په بشپړه توګه تعارض لري او هم له ګڼ شمېر هغو روایاتو سره چې وایي: انسان نه شي کولی په دنیا کې او په دغو سترګو الله تعالی وګوري، قرآن دلته وایي چې هغه ئې یو ځل مخکې هم لیدلی وو، له دې په صراحت سره معلومېږي چې دا جبرئیل علیه السلام وو چې تر دې د مخه ئې هم لیدلی وو چې دې لیدني ته د التکویر د سورې په۲۳ آیت کې داسې اشاره شوې: وَلَقَدۡ رَءَاهُ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡمُبِينِ ۲۳: او بې شکه چې هغه ئې په افق کې په څرګنده توګه لیدلی.

دې ته په پام سره چې په سدرة المنتهی کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم او جبرئیل علیه السلام لیدنه د معراج په روحاني سفر کې تر سره شوې او اړوند سوره تر هجرت نژدې دوه کاله وړاندې نازله شوې نو د النجم د سورې دغه آیتونه چې د سدرة المنتهی لیدني ته اشاره کوي باید تر معراج وروسته نازل شوي وي.

أَفَرَءَيۡتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلۡعُزَّىٰ ١٩ وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ ٢٠ أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلۡأُنثَىٰ ٢١ تِلۡكَ إِذٗا قِسۡمَةٞ ضِيزَىٰٓ ٢٢ إِنۡ هِيَ إِلَّآ أَسۡمَآءٞ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَمَا تَهۡوَى ٱلۡأَنفُسُۖ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ ٱلۡهُدَىٰٓ ٢٣

۱۹- نو آیا پام مو کړی دغه لات او عزی ته؟ ۲۰- او دغه بل درېیم منات ته؟ ۲۱- آیا تاسو ته نارینه دي او ده ته ښځینه؟!! ۲۲- دا نو بیا ډېر ظالمانه وېش دئ، ۲۳- دا خو له هغو څو نومونو پرته بل څه نه دي چې تاسو او ستاسو پلرونو نومولي، الله د هغوی په اړه هیڅ دلیل نه دئ نازل کړی، دوی یوازې د ګمان او هغه څه متابعت کوي چې هوی او هوس ئې خوښوي، په داسې حال کې چې د دوی د رب له لوري لارښوونه ورغلې.

(۱۹-۲۳)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- د لات، عزی او منات په نامه د قریشو درې معروف او ستر ستر بتان ول، درې واړه ښځینه مجسمې وې، د خدای ځای ناستې ئې ګڼلې او باور ئې دا وو چې دا بتان د دوی او خدای تر منځ وسیله او واسطه دي، د دوی دعاء د دغو له لارې الله ته رسي او د دغو په سپارښتنه ئې قبلوي، دا ئې د فرشتو انځورونه ګڼل او د خدای د لونې په سترګه ئې ورته کتل، دلته دغو قریشو ته ویل شوي: آیا تاسو ته نارینه دي او ده ته ښځینه؟!! ځان ته

نارينه اولاد خوښوئ او الله تعالى ته ښځينه اولاد منسوبوئ، په داسې حال کې چې لونې ته په سپکه سترګه ګورئ او په خپلې کورنۍ کې د هغې پيدايښت د پېغور سبب ګڼئ!! دا وېش خو بيا ډېر ظالمانه وېش دئ!!

- د دوی د بتانو په اړه ويل شوي: دا خو هسې څو نومونه دي، تاسو او ستاسو پلرونو وضع کړي، تاسو دا نومونه پرې اېښي چې لات ئې په دغو چارو کې د خدای ځای ناستې ده او عزى او منات ئې دغو دغو کې، د الله تعالى په هيڅ کتاب او هيڅ الهي لارښوونې کې د داسې جعلي ځای ناستو او واسطې او وسيلې په اړه کوم دليل نه دئ نازل شوى، د الله په هيڅ کتاب کې به د دې لپاره جواز ونه مومئ، په دې اړه د الله تعالى لارښوونه همغه وه او ده چې قرآن ئې د دوی په وړاندې ږدي او وايي چې الله هيڅ شريك، ځای ناستى او وسيط نه لري.
- دا مشرکين د کوم الهي کتاب او کوم عقلي دليل متابعت نه کوي بلکې يا د وهم او ګمان متابعت کوي او يا هغه څه چې هوى او هوس ئې خوښوي، د ښځينه معبودانو په غوراوي کې د وهم او ګمان تر څنګ د دوی هوس او شهوت هم خپل اغېز لري!! قرآن فرمايي چې دا مشرکين په حقيقت کې ښځي لمانځي:

إِن يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثًا وَإِن يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَٰنًا مَّرِيدًا ﴿١١٧﴾ النساء

دوی خو له الله پرته يوازې د ښځو عبادت کوي او له سرکښ شيطان پرته د بل څه عبادت نه کوي.

د دې مبارك آيت ستر ستر ارشادات دا دي:

- مشرکانو د ښځو په څېره کې ځان ته معبودان جوړ کړي او عبادت ئې کوي، دوی يوازې د ښځو عبادت کوي، جنسي بې لاريتوب ئې هغه ځای ته ورسوي چې پر زړه او ذهن ئې بې مهاره جنسي تمايلات مسلط شي، ټول ژوند ئې د دې تر اغېز لاندې راشي، هر څه له دغې زاويې ګوري، د جنسي هوس بنده شي، هم ئې دوستي د دې لپاره وي او هم ئې دښمني، له دې پرته بله مينه نه پېژني، شراب دا اور لا تېز کړي، د ښځو او نارينه وو آزاد اختلاط او بربنډتوب وربانډي مزيد تيل توی کړي، مسته موسيقي، رقص او نڅا او د عشق او شهوت په ستايني کې سندري لازيات ورته لمن ووهي، هم ئې بتان او هم ئې مجسمې د ښځو انځورونه شي. که تاسو دا اوس غربي ټولنې ته لږ په دقت سره ځير شئ نو د قرآن د دغه آيت مصداق به په خپلو سترګو وګورئ، هرې خوا ته به دي د ښځو مجسمې ترسترګو شي، هم په معبد کې او هم په مغازه کې، هم د کشيش په وينا کې او هم د ټلويزيون په تجارتي اعلاناتو کې، هلته د تجارت لپاره ښځه او د دې ښايست استعمالېږي،

هلته لوړو مراتبو ته رسېدل د ښځو له لاري وي، هلته مور او پلار هېر شوي، د دې مينې ټغر ټول شوی، ځای ئې جنسي هوس او تعلق ته خالي شوی، له نکاح او د کورنۍ له جوړولو ډډه کېږي دا ځکه چې نکاح د آزاد جنسي تعلقاتو مانع کېږي، له اولاد سره د ښځي او مېړه علاقه او مینه نشته او دا د دې لپاره چې اولاد ساتل او روزل زحمت غواړي او د جنسي تلذذ او خوند اخیستو په وړاندي خنډ کېږي، مېړه او ښځه د دې پر ځای چې اولاد ولري؛ سپی او پشۍ ساتي، هلته به تاسو له کشیشانو هم واورئ چې مریم علیها السلام په زنا تورنوي او په دې خبري خاص تأکید کوي او وایي چې هغې توبه وکړه او بیا ئې دا مقام تر لاسه کړ او دا د دې لپاره چې د یوه زناکار ولس معبود هم باید د زنا سمبول وي، هلته به تاسو د فروید په څېر د دوی له فیلسوفانو هم واورئ چې وایي: د انسان د ټولو کړو وړو، اړیکو او روابطو منشأ جنسي تمایل دئ، د پلار مینه له لور سره او د مور مینه له زوی سره له دغه تمایل راولاړېږي، هم د انسان د ویښې ټول فعالیتونه او هم ئې د خوب خوبونه جنسي منشأ لري.

- دوی په اصل کې د شیطان عبادت کوي، شیطان غولولي، څوك ئې دې ته هڅولی چې د مریمې علیها السلام مجسمه جوړه کړي او څوك ئې دې ته چې د مناة، نائلة او عزیٰ په څېر ښځینه بتان معبودان ونیسي او په وړاندي ئې ګونډه شي.

په داسي حال کې چې د دې مبارکو آیتونو الفاظ ډېر واضح دي او د قرآن هر مخاطب په آسانۍ سره واضح او څرګند مطلب ترې اخلي خو متأسفانه د ځینو متعارضو روایاتو له کبله د دې مبارکو آیتونو په اړه دومره ابهامات او اختلافات راولاړ شوي چې انسان ورته حیران شي. په دې اړه د الحج سورې د ۵۲ آیت په تفسیر کې کافي وضاحت شوی؛ خو دلته د هغه بحث لاندي برخه راانتقالول ګټور ګڼم:

ځیني وایي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره دا هیله راپیدا شوه چې کاش په قرآن کې داسي څه راغلي وی چې له کبله ئې د اسلام په اړه د کفارو قریشو مخالفت او کرکه کمه شوې وی او مسلمانانو ته رانژدې شوي وی، یا لږ تر لږه د دوی د دین په خلاف داسي سخت تنقید نه کېدی چې دوی پاروي. همدا تمنی ئې په زړه کې وه چې یوه ورځ په داسي حال کې چې د قریشو په یوې لویې غونډې کې ناست وو او د النجم سوره پرې نازله شوه؛ او هغه په جګ ږغ د هغې لوستل پیل کړل، کله چې دې آیت ته ورسېد: افرأیتم اللات و العزی و مناة الثالثة الاخری نو ناڅاپي ئې دا الفاظ پر ژبه جاري شول: تلك الغرانقة العلی و إن شفاعتهن لترجی: دا لوړ لوړ سپین مارغان (سپېڅلي ذوات) دي او هرومرو ئې د شفاعت هیله کېږي، بیا ئې همداسي د النجم د سورې پاته برخه ولوسته، تر

هغه چې د سورې په پای کې ئې سجده وکړه نو ټولو خلکو (کفارو او مسلمانانو) هم سجده وکړه، مشرکینو وویل: اوس نو زمور او د محمد (علیه السلام) تر منځ کوم اختلاف پاته نه شو، مور خو همدا ویل چې اصلي خالق او رازق الله دئ خو زمور دا معبودان د الله په وړاندي زمور شفاعت کوونکي دي، ماښام جبرئیل علیه السلام راغی او هغه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: دا تا څه کړي؟ دغه دوه جملې خو ما نه دي درته راوړې، په دې سره رسول الله صلی الله علیه و سلم ډېر غمجن شو، بیا الله تعالی دا آیتونه نازل کړل:

وَإِن كَادُواْ لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ لِتَفْتَرِىَ عَلَيْنَا غَيْرَهُۥ ۖ وَإِذًا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلًا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَٰكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾ إِذًا لَّأَذَقْنَٰكَ ضِعْفَ ٱلْحَيَوٰةِ وَضِعْفَ ٱلْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ الاسراء

او نژدې وه په فتنه کې دي واچوي او له هغه څه دي واړوي چې تا ته مو دروحي کړي، په دې توګه چې د وحي خلاف خبره له ځانه مور ته منسوب کړې او هغه مهال به ئې ته نژدې دوست نیولې, او که مو مضبوط کړی نه وی نو یقیناً چې نژدې وه لږ شانته د دوی لوري ته متمایل شې، چې په هغه صورت کې به مو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درڅکلی وو او له مرګ وروسته هم دوه برابره، بیا به دي زمونږ په خلاف کوم ملاتړی نه شو موندلی.

د دې آیتونو په اوږدو سره د رسول الله صلی الله علیه و سلم اندېښنه او خفګان لازیات شو، تر هغه چې د الحج د سورې هغه آیتونه نازل شول چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې اطمئنان ورکړ چې تر تا وړاندي پر نورو پیغمبرانو هم داسې حالت راغلی. د قریشو او مسلمانانو د دې یو ځایې سجدې خبر د حبشې مهاجرینو ته ورسېد، هغوی ګمان وکړ چې د مسلمانانو او قریشو تر منځ روغه جوړه شوې، نو ځکه ځینې ببرته مکې ته راستانه شول، خو دلته ورته معلومه شوه چې د روغې جوړې خبره حقیقت نه لري او د مسلمانانو او قریشو تر منځ دښمني د سابق په څېر دوام لري.

ګڼ شمېر مفسرین او محدثین دا روایت د اعتبار وړ نه ګڼي، د ابن کثیر، بیهقي، ابن خزیمه، قاضي ابو بکر، امام رازي، قرطبي، بدرالدین عیني، شوکاني او آلوسي په څېر شخصیتونه د دوی له ډلې دي، ابن کثیر وایي: په څومره سندونو سره چې دا روایت راغلی ټول ئې مرسل او منقطع دي او ما د هغه صحیح او متصل سند ونه موندو، بیهقي وایي: د روایاتو له مخې دا قصه صحیح او ثابته نه ده، ابن خزیمه وایي: دا قصه د زندیقانو له

لوري جوړه شوې، قاضي عياض وايي: د دې روايت د ضعف لپاره دا هم کافي ده چې د صحاح سته په مؤلفينو کې هيڅوا د راوړلو وړ نه دئ ګڼلی او نه دا له صحيح، متصل او بې عيب سند سره د ثقه راويانو له لوري نقل شوی. خو په مقابل کې ئې د حافظ ابن حجر، ابو بکر جصاص، زمخشري او ابن جرير په څېر شخصيتونه دا روايت صحيح بولي او د الحج د سورې د دغه آيت شرح او تفسير ئې ګڼي!!

په دې اړه د يوه روايت الفاظ دا دي:

عن محمد بن كعب القرظى ومحمد بن قيس قالا جلس رسول الله صلى الله عليه وسلم فى ناد من أندية قريش كثير أهله فتمنى يومئذ أن لا يأتيه من الله شىء فينفروا عنه فأنزل الله عليه: (وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَى مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَى) فقرأها رسول الله صلى الله عليه وسلم حتى إذا بلغ: (أَفَرَأَيْتُمُ اللاتَ وَالْعُزَّى وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الأُخْرَى) ألقى عليه الشيطان كلمتين: تلك الغرانقة العلى وإن شفاعتهنّ لترجى فتكلم بها. ثم مضى فقرأ السورة كلها. فسجد فى آخر السورة وسجد القوم جميعا معه ورفع الوليد بن المغيرة ترابا إلى جبهته فسجد عليه وكان شيخا كبيرا لا يقدر على السجود. فرضوا بما تكلم به وقالوا: قد عرفنا أن الله يحيي ويميت وهو الذى يخلق ويرزق ولكن آلهتنا هذه تشفع لنا عنده إذ جعلت لها نصيبا فنحن معك قالا فلما أمسى أتاه جبرائيل عليه السلام فعرض عليه السورة; فلما بلغ الكلمتين اللتين ألقى الشيطان عليه قال: ما جئتك بهاتين فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: افْتَرَيْتُ عَلى الله وَقُلْتُ عَلى الله ما لَمْ يَقُلْ فأوحى الله إليه: (وَإِنْ كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِى أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِىَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ) ... إلى قوله:(ثُمَّ لا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا). فما زال مغموما مهموما حتى نزلت عليه:(وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ وَلا نَبِيٍّ إِلا إِذَا تَمَنَّى أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِي أُمْنِيَّتِهِ فَيَنْسَخُ اللهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللهُ آيَاتِهِ وَاللهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ). قال: فسمع من كان من المهاجرين بأرض الحبشة أن أهل مكة قد أسلموا كلهم فرجعوا إلى عشائرهم وقالوا: هم أحبّ إلينا فوجدوا القوم قد ارتكسوا حين نسخ الله ما ألقى الشيطان.

خو که تاسو د همدې قصې په اړه نور روايات وګورئ نو د دوی تر منځ به څو ستر

ستر توپيرونه ومومئ، ځيني ئې وايي چې دا الفاظ (تلك الغرانقة العلى و إن شفاعتهن لترجى) د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ژبه راغلي، ځيني ئې وايي چې دا الفاظ د شيطان له لوري د ده د غږ په منځ کې ويل شوي، ځيني ئې وايي چې د وحي په دوران کې شيطان دا خبره کړې او رسول الله صلى الله عليه و سلم داسې ګمان کړی چې دا د جبرئيل عليه السلام له لوري ورته ويل شوي، ځيني ئې وايي چې دا خبرې رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپلې هغې ټمنى له کبله کړې دي چې غوښتل ئې د قريشو دښمني او عداوت راکم شي. په ځينو کې د ترجى، په ځينو کې د ترتجى، په ځينو کې ترضى او په ځينو کې د ترتضى الفاظ راغلي، په ځينو کې د العرانقة پر ځاى الغرانيق او الغرانقة؛ او په ځينو کې ويل شوي إن الآلهة التي تدعي أن شفاعتها لترتجى وإنها للغرانيق العلى راغلي، تفهيم القرآن په دې رواياتو د جدي او دقيقو اعتراضاتو په ضمن کې ليکي چې په الفاظو کې ئې پنځلس ژور توپيرونه تر سترګو کېږي. دا روايات نه يوازې د سند له پلوه کمزوري او د متن له پلوه په خپلو منځونو کې ژور توپيرونه او تعارضات لري بلکې له قرآن سره په جدي توګه متعارض دي، هغه څه وايي چې د قرآن له اساسي اصولو سره تضاد لري، قرآن وايي چې پيغمبر يوازې هغه خبره کوي چې د الله تعالى له لوري ورته وحي کېږي:

وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ۝٣ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحَىٰ ۝٤ النجم

خو دا روايات وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د قرآن د صريح حکم خلاف د بُتانو ستاينه کړې!! د النجم د سورې په سر کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه ويل شوي چې هغه هيڅ خبره د هوى او هوس له مخې نه کوي، يوازې هغه څه وايي چې د الله تعالى له لوري ورته وحي کېږي، څنګه ومنو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به د الله تعالى د دغې وينا خلاف په همدې سوره کې داسې خبرې کړې وي چې هغه له کفر سره مترادفې خبرې دي؟!! قرآن وايي چې وحي د داسې فرشتو په لاس تر پيغمبر پورې رسي چې شاوخوا ئې ساتونکي وي او په بشپړ امانت او حفاظت سره ئې تر پيغمبر پورې رسوي:

... فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا ۝٢٧ لِيَعْلَمَ أَنْ قَدْ أَبْلَغُوا۟ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصَىٰ كُلَّ شَىْءٍ عَدَدًا ۝٢٨ الجن

خو دا روايات وايي چې شيطان وتوانېدو د جبرئيل عليه السلام د وينا په منځ کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسې څه القاء کړي چې د بُتانو ستاينه وکړي!! دا روايات نه يوازې رسول الله صلى الله عليه و سلم د بُتانو د ستايني په څېر په ستري ګناه تورنوي بلکې وايي چې ټولو پيغمبرانو عليهم السلام داسې غلطي کړې!! دا روايات د پيغمبرانو د

عصمت او د دین د حفاظت عقیده تر سوال لاندي راولي او د ټول شریعت په اړه دا شکوك راولاړوي چې ښایي رسول الله صلی الله علیه و سلم او نورو پیغمبرانو علیهم السلام به د داسي شیطاني مداخلاتو له کبله ډېر داسي څه ویلي وي چې د وحي خلاف دي. قرآن تل (تمنی) د هیلي په معنی کارولې، دا لفظ د قرآن په هیڅ آیت کې د وینا او مقال په معنی نه دئ راغلی، خو دا روایات تمنی د وینا په معنی نیسي!! که تاسو هغه درې آیتونه چې په دغو روایاتو کې په دې قصې پوري تړل شوي ښه ښه او دغو روایاتو ته له پام پرته وڅېړئ نو هیڅکله به هغه معنی ترې وانه خلئ چې په دې روایاتو کې راغلې، چا چې دا آیتونه په دغي قصې پوري تړلي په ډېر تکلف سره توانېدلي چې د دغه روایاتو په ګټه ئې تعبیر کړي. دې ته ئې هم پام نه دئ کړی چې د النجم د سورې آیت د بعثت په لومړیو کلونو کې، د الاسراء د سورې آیت په یولسم یا دولسم کال کې او د الحج د سورې هغه آیت له هجرت وروسته په مدینه کې نازل شوی، کوم بې عقله انسان به دا خبره ومني چې دا درې واړه آیتونه په یوې قضیې پوري تړلي دي، داسي چې ګواکې رسول الله صلی الله علیه و سلم دغه اشتباه د بعثت په پیل کې کړې، الله تعالی لږ تر لږه شپږ کاله وروسته پرې تنبیه کړی او بیا ئې نژدې نه کاله وروسته هغه ته خپله عفو اعلان کړې او دا تسلیت ئې ورکړی چې باك نه لري داسي اشتباهات تر تا وړاندي نورو پیغمبرانو هم کړي!!! د الاسراء د سورې اړوند آیت دا نه وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم کومه اشتباه کړې او پر الله تعالی ئې افتراء کړې، بلکې وایي:

وَإِن كَادُواْ لَيَفۡتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ لِتَفۡتَرِيَ عَلَيۡنَا غَيۡرَهُۥۖ وَإِذٗا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلٗا ٧٣ وَلَوۡلَآ أَن ثَبَّتۡنَٰكَ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا ٧٤ إِذٗا لَّأَذَقۡنَٰكَ ضِعۡفَ ٱلۡحَيَوٰةِ وَضِعۡفَ ٱلۡمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيۡنَا نَصِيرٗا ٧٥ الاسراء

او نژدې وه په فتنه کې دي واچوي او له هغه څه دي واړوي چې تا ته مو دروحي کړي، په دې توګه چې د وحي خلاف خبره له ځانه موږ ته منسوب کړې او هغه مهال به ئې ته نژدې دوست نیولې، او که مو مضبوط کړی نه وی نو یقیناً چې نژدې وه لږ شانته د دوی لوري ته متمایل شې، چې په هغه صورت کې به مو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درڅکلی وو او له مرګ وروسته هم دوه برابره، بیا به دي زمونږ په خلاف کوم ملاتړی نه شو موندلی.

د دې آیتونو وینا په بشپړه توګه د روایت د ادعاء خلاف ده، دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: که د دښمن دا غوښتنه دي منلې وی چې په الهي وحي کې د لږ

قدري تغيير مطالبه ئې کوله او له ځانه دي څه ويلي وی نو هم به مو په دنيا کې تا ته دوه برابره عذاب درځکلی وو او هم په آخرت کې!! خو د الله تعالی د پېرزويني له امله پر خپل دريځ ثابت او ټينګ پاته شوې او د دوی غلطي غوښتنې ته تسليم نه شوې!! له دې آيتونو معلومېږي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم له ځانه څه نه دي ويلي، بلکې نژدې وه داسي څه ووايي، حال دا چې روايت وايي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم داسي څه ويلي وو او د بُتانو ستاينه ئې کړې وه، دا آيتونه وايي چې که رسول الله صلی الله عليه و سلم داسي څه ويلي وی نو الله تعالی به په دنيا او آخرت کې دوه برابره عذاب ورکړی وو، حال دا چې روايت وايي: د بُتانو له ستايني سره سره تر پنځو شپږو کلونو پورې الله تعالی حتی هغه ته کوم عتاب هم نه دئ کړی او په پای کې ئې نه کاله وروسته هغه ته عفو اعلان کړه!!

زه داسي حدس وهم چې که دا روايت سل په سلو کې جعلي او موضوعي نه وي، همغسي لکه چې ابن خزيمه وايي: دا قصه د زنديقانو له لوري جوړه شوې؛ او واقعاً چا له ابن عباس رضی الله عنهما دا قصه اوربدلې وي نو ښايي قضيه به داسي وه: کله چې د النجم سوره نازله شوې او په هغې کې د قريشو د سترو سترو معبودانو لات، عزی او مناة په سختو الفاظو غندنه شوې او ويل شوي چې دا خو له تشو نومونو پرته بل څه نه دي، نو د قريشو ځينو شرارتيانو دا افواه خوره کړې چې محمد (عليه السلام) د دغو بُتانو د يادولو پر مهال دا الفاظ وويل: تلك الغرانيق العلى و إن شفاعتهن لترجى، دا دروغجنه افواه ئې دومره زياته خوره کړې چې حتی تر حبشې پورې رسېدلې او ځينو مهاجرينو گمان کړی چې همداسي به شوي وي نو ځکه مکې ته راستانه شوي، ډېرو نورو به هم دا خبره منلې وي، د سپيناوي فرصت به ئې هم نه وي تر لاسه کړی، همدا خبره به څو کاله وروسته ابن عباس رضی الله عنهما ته په مدينه کې رسېدلې وي، دا فرصت به ئې نه وي موندلی چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم د دې قصې په اړه پوښتنه وکړي، د دغو روایاتو له اسنادو هم معلومېږي چې ابن عباس رضی الله عنهما دا قصه له رسول الله صلی الله عليه و سلم نه ده اوربدلې؛ او يا دا چې هغه د دغي دروغجني افواه يادونه کړې خو راوي داسي گمان کړی چې گواکې همداسي شوي.

أَمْ لِلْإِنسَٰنِ مَا تَمَنَّىٰ ﴿٢٤﴾ فَلِلَّهِ ٱلْءَاخِرَةُ وَٱلْأُولَىٰ ﴿٢٥﴾

آيا انسان ته هر هغه څه دي چې تمنی ئې کوي، ۲۵- په داسي حال کې چې وروستنۍ او لومړنۍ د الله دي!

(٢٤-٢٥)- دا مبارك آيتونه وايي:

- آيا انسان ته د هر هغه څه ويلو او کولو حق دئ چې د ده زړه ئې غواړي، حق لري د ځان، الله تعالى او عالم په اړه هغه څه ووايي چې د ده له هيلو او تمنياتو راټوکېدلي؟ کوم شي پر يوې داسې مجسمې چې په خپل لاس ئې جوړه کړې د خداى او د خداى د ځاى ناستي نوم کېږدي؟!! د خپلې خوښې معبود غوره کړي که څه هم له ډبرې جوړه شوې د ښځې په بڼې کې مجسمه وي؟!! آيا کوم شي د دغو جعلي معبودانو له لارې خپلو موخو او هيلو ته ورسېږي؟!!
- په داسې حال کې چې د آخرت او دنيا ټولواك الله تعالى دئ، دا پرېکړه د الله تعالى له لورې کېږي چې د چا کومه هيله په دنيا او آخرت کې تر سره شي او کومه نه؛ د دنيا او آخرت د چارو اړوند پريکړې نه د انسان د تمنياتو له مخې کېږي او نه د انسان د ذهن زېږنده معبودانو په واك کې دي.

وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ لَا تُغۡنِي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـًٔا إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ أَن يَأۡذَنَ ٱللَّهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرۡضَىٰٓ ٢٦

٢٦- او په آسمانونو کې څومره فرشتې داسې دي چې شفاعت ئې هيڅ ګټه نه شي رسولى مګر له هغه وروسته چې الله اجازه ورکړي هغه چا ته چې دى ئې غواړي او راضي شي.

---

(٢٦)- په دې مبارك آيت کې مشرکينو ته ويل شوي: تاسو د فرشتو مجسمې لمانځئ او دا هيله ترې لرئ چې ستاسو هيلې به تر سره کړي، خو په دې نه پوهېږئ چې په آسمانونو کې څومره فرشتې داسې دي چې شفاعت ئې هيڅ ګټه نه شي رسولى مګر په دوو صورتونو کې: ١- الله تعالى د شفاعت کولو اجازه ورکړي، ٢- او شفاعت ئې داسې وي چې الله تعالى پرې راضي شي، يعنې د شفاعت وړ کس په اړه صحيح او سم شفاعت وکړي. نو د دغو بتانو په درشل کې به ستاسو هيلې څنګه تر سره شي؟!! ولې د هغه رب په وړاندې د دعاء لاسونه نه لوړوئ چې د دنيا او آخرت ټولواك دئ او د ده له إذن او اجازې پرته د آسمانو فرشتې هم د چا شفاعت نه شي کولى او شفاعت ئې هيڅ ګټه نه شي ورسولى؟!!

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ لَيُسَمُّونَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ تَسۡمِيَةَ ٱلۡأُنثَىٰ ٢٧ وَمَا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّۖ وَإِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغۡنِي مِنَ ٱلۡحَقِّ شَيۡـًٔا ٢٨

فَأَعۡرِضۡ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكۡرِنَا وَلَمۡ يُرِدۡ إِلَّا ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ مَبۡلَغُهُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱهۡتَدَىٰ ﴿٣٠﴾

۲۷- یقیناً هغه چې پر آخرت ایمان نه لري حتماً فرشتې په ښځینه نومونو نوموي، ۲۸- په داسې حال کې چې په دې اړه هیڅ علم نه لري، یوازې د ګمان متابعت کوي؛ او یقیناً چې ګمان د کوم حقیقت (له هیڅ څه څوك) نه مستغني کوي، ۲۹- نو له هغه چا اعراض وکړه چې زموږ له ذکر ځې مخ اړولی او د دنیا له ژوند پرته بل څه نه غواړي، ۳۰- همدا د دوی د علم وروستی پړاو دئ، یقیناً چې همدا ستا رب پر هغه چا ښه پوه دئ چې د ده له لارې تېروتی او دی پر هغه ښه پوه دئ چې هدایت شوی.

(۲۷-۳۰)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- **هغه چې پر آخرت ایمان نه لري حتماً فرشتې په ښځینه نومونو نوموي، همدا پر آخرت عدم باور ئې هغه ځای ته رسوي چې د فرشتو په اړه دغه انګېرنه ولري او د خدای لونې ئې وګڼي، دا په داسې حال کې چې په دې اړه هیڅ علم نه لري، یوازې د ګمان متابعت کوي، نه د فرشتو له جوړښت خبر دي او نه ئې په کوم الهي کتاب کې دا لوستلي، یوازې د زعم او ګمان له مخې دا خبره کوي، خو ګمان ېهل شی دئ او د یوه حقیقت په اړه علم درلودل ېهل، ګمان د کوم حقیقت په پېژندو کې له هیڅ څه څوك نه مستغني کوي، ګمان د حقیقت په پېژندو کې کفایت نه کوي.**
- **رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې له هغه چا اعراض وکړي چې الله تعالی ئې هېر کړی، د الله هغه کتاب ته ئې شا کړې چې اغېزمن پند په خپلې ژبې کې لري، هغه چې تر آخرت دنیا ته او تر خپل رب خپلو منحطو دنیایي اغراضو ته ترجیح ورکوي، په خپل ژوند کې هیڅ سپېڅلی هدف نه لري، فقط دا غواړي چې په دنیا کې سوکاله ژوند ولري که څه هم له حرامو لارو او د بل پر حق د تېرې له لارې ئې تر لاسه کړي، همدا د دوی د علم وروستی پړاو او د دوی د هیلو او تمنیاتو وروستۍ پوله ده!!**
- **دا ستا د هغه رب وینا ده چې هم د حق له لارې کاږه شوي ښه پېژني او هم هغه چې هدایت ئې په برخه شوی.**

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ بِمَا عَمِلُواْ وَيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ بِٱلۡحُسۡنَى ٣١ ٱلَّذِينَ يَجۡتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡفَوَٰحِشَ إِلَّا ٱللَّمَمَۚ إِنَّ رَبَّكَ وَٰسِعُ ٱلۡمَغۡفِرَةِۚ هُوَ أَعۡلَمُ بِكُمۡ إِذۡ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَإِذۡ أَنتُمۡ أَجِنَّةٞ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡۖ فَلَا تُزَكُّوٓاْ أَنفُسَكُمۡۖ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ ٣٢

۳۱- او هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هغه څه چې په زمکي کې دي د الله دي؛ د دې لپاره (ئې پیدا کړي) چې بدچلنو ته د هغه څه مطابق سزا ورکړي چې کړي ئې دي او هغو ته چې نېکي ئې کړې په غوره توګه بدله ورکړي، ۳۲- هغه چې د ګناهونو له لویو لویو او فحش کارونو ډډه کوي مګر له وړکیو، یقیناً چې ستا رب د پراخي بخښني خاوند دئ، هغه ستاسو په اړه هغه مهال هم ښه پوهېدو چې تاسو ئې له زمکي پیدا کړئ او هغه مهال چې د خپلو میندو په ګېډو کې جنین وئ (وړوکي چې په سترګو نه لیدل کېږي)، نو خپل ځانونه مه ستایئ، دی په هغه ښه پوه دئ چې ځان ساتنه ئې کړې.

(۳۱-۳۲)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- د آسمانونو او زمکي هر څه د الله تعالی دي، هم ئې خالق دئ او هم ئې مالك، د دې لپاره ئې پیدا کړي چې بدچلنو ته د هغه څه مطابق سزا ورکړي چې کړي ئې دي او هغو ته په غوره توګه بدله ورکړي چې نېکي ئې کړې، هغه چې د ګناهونو له لویو لویو او فحش کارونو ډډه کوي مګر له وړکیو، یعني د خلقت هدف د نېك او بد تفکیك او هر یوه ته د خپلو کړنو مطابق سزا او جزاء ورکول دي، مکافات او مجازات د خلقت اساسي موخه او هدف دئ، خو دا مکافات او مجازات د هغه رب له لوري دي چې له خپلو بندګانو سره ئې معامله د بخښني او مغفرت له مخي ده، هغه چې د پراخي بخښني خاوند دئ، که د ده پراخه بخښنه نه وی نو خپلو بندګانو ته به ئې د هري لویي او وړې ګناه سزا ورکوله، په (لمم) به ئې هم نیول، د لمم لغوي معنی لږ ده، دلته د کبیره ګناهونو او فواحشو په مقابل کې راغلی نو د وړکیو او صغیره ګناهونو معنی ورکوي. دا مطلب د النساء د سورې په ۳۱ آیت کې په دې توګه راغلی:

إِن تَجۡتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنۡهَوۡنَ عَنۡهُ نُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَنُدۡخِلۡكُم مُّدۡخَلٗا

كَرِيمًا ﴿٣١﴾

که مو له سترو سترو منع شوو ډډه وکړه؛ بد بد به درنه ورژوو او د ننوتو په عزتمن ځای کې به مو داخل کړو.

دلته سیئات د کبائرو په مقابل کې ذکر شوي او دا مطلب افاده کوي چې که له سترو سترو ګناهونو ډډه وکړئ نو الله تعالی به سیئات یا واړه واړه ګناهونه درته معاف کړي، خو دا ستر ګناهونه کوم دي او واړه ئې کوم؟ له لویو ګناهونو د اجتناب په صورت کې د وړو ګناهونو د معافي تفصیل همغه دئ چې د ابو هریره رضي الله عنه په روایت کې راغلی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ: " كَتَبَ اللهُ عَلَى بن آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَى أَدْرَكَ ذَلِكَ لَا مَحَالَةَ: فَزِنَى الْعَيْنُ النَّظَرُ، وَزِنَى اللِّسَانِ النُّطْقُ، وَالنَّفْسُ تَتَمَنَّى ذَلِكَ وَتَشْتَهِي، وَيُصَدِّقُ ذَلِكَ الْفَرْجُ أو يكذبه" رواه ابن حبان

له ابو هریرة رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی چې د بني آدم لپاره د زنا کومه برخه ټاکلې هغه به هرمرو بیا مومي، نو د سترګو زنا کتل دي، د ژبې زنا ئې د هغې خبرې دي، نفس ئې تمنی او تلوسه کوي، خو فرج ئې د دې تصدیق یا تکذیب کوي.

یعني د انسان ټول اعضاء په یوې ګناه کې خپله خپله وندې لري، سترګي، ژبه، لاس پښې او زړه، که په پای کې دا ګناه تر سره شي نو ټول شریك اندامونه به خپله خپله سزا ګالي او که تر سره نه شوه نو د دغو اندامونو کړې ګناه هم معاف کېږي.

- په ۳۲ آیت کې ویل شوي: الله تعالی ستاسو په اړه هغه مهال هم ښه پوهېدو چې تاسو ئې له زمکې پیدا کړئ او هغه مهال هم چې د خپلو میندو په ګېډو کې دومره وړوکي وئ چې په سترګو نه لیدل کېږي، (دلته نطفې د اجنة په نامه یادي شوې؛ جن هغه څه ته وایي چې په سترګو نه لیدل کېږي، پېریان هم د همدې لپاره په دغه نامه یاد شوي چې په سترګو نه لیدل کېږي)، یعني ستاسو د پیدایښت له لومړۍ شېبې ستاسو په جوړښت او حالت پوه وو، هغه مهال هم چې ستاسو لومړۍ نطفه د مور او پلار په بدن کې له خاوري جوړېده، بیا هغه مهال هم چې تاسو د مور په رحم کې داسې جنین وئ چې انسان ئې په خپلو سترګو نه شي لیدلی، ستاسو جوړښت او فطرت ته په پام سره ئې ستاسو ځینې ګناهونه د بخښنې وړ ګڼلي، داسې نه یئ لکه فرشتې چې هیڅ ګناه نه شي کولی، خطأ، غلطي، اشتباه، سهو او ګناه د انسان له فطري جوړښت سره تړلی نقص او عیب دئ، که

انسان له سترو سترو ګناهونو ځان وساتي نو د دې هیله دي ولري چې واړه واړه به ئې بخښونکی رب ورته وبخښي. دا مطلب په دې مبارك حدیث کې څومره ښکلی انځور شوی:

عن أنس بن مالك رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه و سلم: كُل بَنِی آدم خطاء و خَيْرُ الْخَطَّابِينَ التَّوَّابُونَ . شعب الإيمان

له انس رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د آدم هر زوی خطاکار دئ او د خطاکارانو غوره توبه کوونکي دي.

- نو خپل ځانونه مه ستایئ، الله تعالی په هغه چا ښه پوه دئ چې ځان ساتنه ئې کړې.

مه خپل ځان ستایئ او مه یو بل، قضاوت الله تعالی ته پرېږدئ، هغه ته ښه معلومه ده چې څوك تر نورو زیات متقي دئ، دې ته مو پام وي چې دلته تزکیه د ځان ستاینې په معنی راغلې نه د ځان تزکیه کولو په معنی، مسلمان کولی شي د تور او اتهام په وړاندې له ځان یا له خپل مسلمان ورور دفاع وکړي او خپل برائت او د خپل مسلمان ورور برائت ثابت کړي، د یوه مسلمان ښېګڼې هم د نورو په وړاندې یادولی شي، د ده په اړه هم ښه ګمان کولی شي او دا ګمان څرګندولی شي، دا نه یوازې ناجائز نه دي بلکې د ثواب کار دئ؛ او نېکیو ته د نورو هڅول او تشویقول دي، هغه څه چې ممانعت ئې شوی د ځان ستاینه او د بل په وړاندې د هغه مدح او داسې ستاینه ده چې د حقیقت خلاف وي او یا مبالغه په کې وشي، بې ځایه او بې ضرورته ستاینه په غرور منتج کېږي، نو ځکه الله تعالی ترې ممانعت کړی. لکه چې په روایت کې راغلي:

عَنْ أَبِی مُوسَى قَالَ: سَمِعَ النَّبِیُّ صلی الله علیه و سلم رَجُلا يُثْنِی عَلَى رَجُلٍ وَيُطْرِيهِ فِی الْمِدْحَةِ فَقَالَ لَقَدْ أَهْلَكْتُمْ أَوْ قَطَعْتُمْ ظَهْرَ الرَّجُلِ. رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ وَمُسْلِمٌ

له ابو موسی رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له یوه سړي واورېدل چې د یوه کس ستاینه کوي او په ستاینې کې ئې مبالغه کوي نو وئې فرمایل: هلاك دي کړ (یا د هغه ملا دي ورماته کړه).

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِی بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَثْنَى رَجُلٌ عَلَى رَجُلٍ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؛ فَقَالَ: «وَيْلَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ صَاحِبِكَ، قَطَعْتَ عُنُقَ صَاحِبِكَ» مِرَارًا، ثُمَّ قَالَ: «مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَادِحًا أَخَاهُ لاَ مَحَالَةَ، فَلْيَقُلْ أَحْسِبُ فُلاَنًا، وَاللَّهُ حَسِيبُهُ، وَلاَ أُزَكِّی عَلَى اللَّهِ أَحَدًا أَحْسِبُهُ كَذَا وَكَذَا، إِنْ كَانَ يَعْلَمُ ذَلِكَ مِنْهُ» رواه البخاری

له عبدالرحمن بن ابي بکرة روایت دئ چې پلار ئې وویل: د رسول الله صلی الله علیه و

سلم په وړاندي يوه سړي د بل سړي ستاينه وکړه، نو وئې فرمايل: افسوس پر تا، د خپل ملګري غاړه دي پرې کړه، د خپل ملګري غاړه دي پرې کړه، دا خبره ئې مکرر وکړه، بيا ئې وفرمايل: که څوك مجبور وي د خپل ورور ستاينه وکړي نو ودي وايي: فلانی داسي ګڼم، الله د حساب لپاره ورته کافي دئ، هيڅوك د الله په وړاندي نه ستايو، داسي او داسي راته برېښي، که په رښتيا د هغه په دغو صفاتو پوه وي.

أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾ وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰٓ ﴿٣٤﴾ أَعِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْغَيْبِ فَهُوَ يَرَىٰٓ ﴿٣٥﴾ أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِى صُحُفِ مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَإِبْرَٰهِيمَ ٱلَّذِى وَفَّىٰٓ ﴿٣٧﴾ أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴿٣٨﴾ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَنَّ سَعْيَهُۥ سَوْفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزَىٰهُ ٱلْجَزَآءَ ٱلْأَوْفَىٰ ﴿٤١﴾ وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴿٤٢﴾

٣٣- آيا هغه ته دي پام کړی چي شا ئې واړوله، ٣٤- لږ ئې ورکړل او لاس ئې تم کړ، ٣٥- آيا د غيب علم ورسره دئ نو (په خپلو سترګو ئې) ګوري، ٣٦- او آيا په هغه څه نه دئ خبر کړی شوی چي د موسی صحيفو کې وو؛ ٣٧- او د ابراهيم چي وفا ئې وکړه، ٣٨- دا چي هيڅوك به د بل (د ګناه) پېټی په اوږو نه وړي، ٣٩- او دا چي انسان ته له خپلي هڅي پرته بل څه نه ورپه برخه کېږي؛ ٤٠- او دا چي هڅي به ئې حتماً وکتل شي، ٤١- او بيا به په بشپړي بدلې سره بدله ورکړی شي؛ ٤٢- او دا چي انتهاء ستا د رب په لوري ده.

(٣٣-٤٢)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- آيا هغه ته دي پام کړی چي حق ته ئې شا واړوله، لږ څه ئې ورکړل او بيا ئې خپل لاس له ورکړي تم کړ، آيا د غيب علم ورسره دئ او د دې علم په رڼا کې په خپلو سترګو ګوري چي تګلاره ئې سمه او پايلې به ئې داسي وي چي دی ئې غواړي؟!!
- آيا دا د حق منکر او بخيل په هغه څه نه دئ خبر کړی شوی چي د موسی عليه السلام په تورات کې راغلي وو او د هغه ابراهيم عليه السلام په صحيفه کې چي وفا ئې وکړه او خپل رسالت ئې په بشپړه توګه تر سره کړ؛ او هغه دا چي هيڅوك به د بل د ګناه پېټی په اوږو نه وړي؛ او دا چي انسان ته له خپلي هڅي پرته بل څه نه ورپه برخه کېږي او دا چي هڅي به ئې حتماً وکتل شي، هم ئې الله تعالی ويني او هم به مؤمنانو ته څرګندي شي، هيڅ څه ئې پټ او بې بدلې نه پاته کېږي، الله تعالی هر چا ته د خپلو کړنو بشپړه

بدله ورکوي، د ټولو انتهاء د الله تعالی په لوري ده.

په دې مبارکو آیتونو کې د ټولو الهي کتابونو څو اساسي خبري مور ته ښودل شوې: ۱- هیڅوک به د بل د ګناه پېټی پر اوږو نه وړي، ۲- انسان ته له خپلې هڅې پرته بل څه نه ورپه برخه کېږي، ۳- د هر چا هڅې او کړنې حتماً کتل کېږي، ٤- هر چا ته د خپلو کړنو بشپړه بدله ورکول کېږي، ۵- د ټولو انتهاء د الله تعالی په لوري ده.

په دې لارښوونو کې لومړۍ ئې دا ده چې د هر چا د ښه او بد عمل پایله په خپله ده ته ورګرځي، که په سمه لار ولاړ ګټه ئې ده ته رسي او که له سمي لاري منحرف شو تاوان ئې ده ته رسي، الله تعالی یو د بل په ګناه نه نیسي، هر څوک به د قیامت په ورځ د خپلو کړنو پېټی په شا وړي، نه پلار د زوی پېټی سپکولی شي او نه زوی د پلار پېټی، نه نسبي اړیکي څوک ژغورلی شي او نه د چا سپارښتنه او لاس نیوی.

په دې مبارک آیت کې چې د مجازات په اړه کومه عادلانه ضابطه او پر حق او عدالت ولاړ قانون تر سترګو کېږي چې وایي جرم یو داسي شخصي عمل دئ چې له مجرم پرته هیڅوک نه شي پرې مؤاخذه کېدی؛ دا هغه څه دي چې نړۍ وال اوس د هغه پر اهمیت پوه شوي او نن د نړۍ په ټولو مدني او اساسي قوانینو کې د هغه یادونه کېږي!!!

وَأَنَّهُۥ هُوَ أَضۡحَكَ وَأَبۡكَىٰ ﴿٤٣﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَمَاتَ وَأَحۡيَا ﴿٤٤﴾ وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾ مِن نُّطۡفَةٍ إِذَا تُمۡنَىٰ ﴿٤٦﴾ وَأَنَّ عَلَيۡهِ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰ ﴿٤٧﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَغۡنَىٰ وَأَقۡنَىٰ ﴿٤٨﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ ٱلشِّعۡرَىٰ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّهُۥٓ أَهۡلَكَ عَادًا ٱلۡأُولَىٰ ﴿٥٠﴾ وَثَمُودَاْ فَمَآ أَبۡقَىٰ ﴿٥١﴾ وَقَوۡمَ نُوحٖ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ هُمۡ أَظۡلَمَ وَأَطۡغَىٰ ﴿٥٢﴾ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَةَ أَهۡوَىٰ ﴿٥٣﴾ فَغَشَّىٰهَا مَا غَشَّىٰ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارَىٰ ﴿٥٥﴾

٤٣- او دا چې دی همغه دئ چې خندول او ژړول ئې کړي، ٤٤- او دا چې دی همغه دئ چې مړول او ژوندي کول ئې کړي، ٤۵- او دا چې ده نرینه او ښځینه جوړې پیدا کړي، ٤٦- له یوې نطفې کله چې وڅڅول شي، ٤٧- او دا چې بل پاڅون د ده پر ذمه دئ، ٤٨- او دا چې دی همغه دئ چې غني کول او نېستمن کول ئې کړي، ٤٩- او دا چې دی همغه دئ چې د شعری ستوري رب دئ، ۵۰- او دا چې ده لومړني عادیان

هلاك کړل، ۵۱- او ثمودیان چې باقي ئې پرې نژدول، ۵۲- او د نوح قوم لا له وړاندې، یقیناً چې دوی ډېر ظالم او ډېر سرکښ ول، ۵۳- او هغه نسکور شوي چې لاندې ئې وغورځول، ٥٤- نو هغه څه وپوښلو چې وئې پوښلو، ۵۵- نو د خپل رب د کوم کوم نعمت په اړه شك کوې؟!!

(٤٣-۵۵)- په دې مبارکو آیتونو کې د ټولو الهي کتابونو نور اساسي مطالب په دې توګه راغلي:

- الله تعالی همغه ذات دئ چې خندول او ژړول کوي، د خندا او ژړا دا لړۍ له هغې ورځې پیل شي چې انسان دنیا ته راشي او تر هغې دوام کوي چې په مرګ سره ئې لړۍ پای ومومي. خندا د خوشحالۍ زېږنده او نښه او ژړا د خفګان زېږنده او نښه ده، خو انسان د پیدایښت په لومړۍ ورځ او هغه مهال چې نه ئې د غم صحنې لیدلې او نه د ښادۍ؛ هم خاندي او هم ژاړي، مور او پلار به خپل نوي زېږیدلي ګران بچي ته ګوري چې په خواږه خوب ویده دئ؛ کله ئې تندۍ تریو شي، په ښکلو شونډو ئې د ژړا نښې راخرګندې شي، داسې چې خپله مور لالهانده کړي او غواړي له خوبه ئې راویښ کړي او بیا څو شېبې وروسته د هغه تندی وغوړېږي، په شونډو کې ئې د موسکا نښې راخرګندې شي او مور پلار داسې خوند ترې اخلي چې ښایي په ټولې نړۍ کې به له هیڅ څه دومره خوند وانه خلي!! دا ماشوم څوك او څه ژړوي او خندوي؟! دې مبارك آیت دغې پوښتنې ته ځواب ویلی، دا الله تعالی دئ چې د انسان په فطرت کې ئې د ژړا او خندا مَلَکه ایښې ده.
- الله تعالی هغه ذات دئ چې د مرګ او ژوند پربکړې د ده له لورې کېږي.
- الله تعالی هغه ذات دئ چې نرینه او ښځینه جوړې پیدا کوي، له داسې نطفې چې وځځول شي، له څڅېدو ئې وروسته دا پربکړه دی کوي چې ماشوم ترې جوړ شي که نه؛ نارینه وي که ښځینه.
- دا چې بیاژوندون د الله تعالی پر ذمه دئ،
- دا پربکړه د الله تعالی له لورې کېږي چې څوك غني کړي او څوك نېستمن، که څه هم ځینو درنو مفسرینو د (اقنى) لفظ د (قنية) مشتق بولي او د شتمني په معنی ئې نیسي، خو ځیني ئې د (أفقر: نېستمن ئې کړ) په معنی نیسي (ابن زید، الاخفش او الحضرمي) په دې ډلې کې دي، د آیت سیاق و سباق ته پام سره دا دوهمه رأیه ارجح برېښي ځکه په مخکینیو آیتونو کې دوه دوه متفاوت حالتونه انځور شوي؛ اضحك و ابکى، امات و احیا، الذکر والانثى، نو دلته هم باید اغنى د اقنى مقابل وي، دواړه په یوه معنی نیول موزون نه برېښي.

- د شعرى ستوري په څېر د هغو جعلي معبودانو رب هم الله تعالى دئ چې مشرکان ئې لمانځي.
- مخکيني ظالم او سرکښ ولسونه د الله تعالى په امر هلاك شوي، لکه لومړني عاديان، ثموديان، تر دوى وړاندي د نوح عليه السلام قوم، د لوط عليه السلام هغه قوم چې کورونه ئې پرې نسکور شول، کلي ئې خسف شول او ډبري پرې وورېدې،
- نو د خپل رب د کوم کوم نعمت په اړه شك کوې؟!!

هَٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ ٱلنُّذُرِ ٱلْأُولَىٰٓ ﴿٥٦﴾

٥٦- دا د لومړنيو ګواښونکو (پيغمبرانو) له ډلې يو نذير دئ.

---

(٥٦)- په دې مبارك آيت کې د قرآن هر مخاطب ته ويل شوي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د مخکينيو پيغمبرانو په څېر يو نذير دئ، تاسو ته ئې وينا او پيغام همغه دئ چې د مخکينيو پيغمبرانو په کتابونو او صحيفو کې راغلي، ستاسو پايله به همغسې وي لکه چې د پيغمبرانو مخکيني امتونه ورسره مخامخ شوي،

أَزِفَتِ ٱلْآزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ أَفَمِنْ هَٰذَا ٱلْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴿٦٠﴾ وَأَنتُمْ سَٰمِدُونَ ﴿٦١﴾ فَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ وَٱعْبُدُوا۟ ﴿٦٢﴾

٥٧- نژدې راتلونکې رانژدې شوه، ٥٨- له الله پرته بل څرګندونکى ورته نشته، ٥٩- نو آيا له دې خبرې تعجب کوئ، ٦٠- او خاندئ او ژاړئ نه؟ ٦١- په داسې حال کې چې تاسو کبر کوونکي يئ، ٦٢- نو الله ته سجده کوئ او عبادت ئې کوئ.

(٥٧-٦٢)- دا مبارك آيتونه وايي:

- قيامت رانژدې شوى، خو د راتلو ثابته نېټه ئې له الله تعالى پرته هيڅا ته معلومه نه ده، بل څرګندونکى نه لري، د رانژدې کېدو دليل ئې همغه دئ چې د سورې په لومړي آيت کې راغلى: د ستورو راغورځېدا، چې ښيي د عالم دا سټره ماڼۍ زړه شوې، له چت او دېوالونو ئې خښتي يوه په بلې پسې راغورځي.
- نو اې د قيامت منکرينو! آيا له دې خبرې تعجب کوئ او د ژړا پر ځاى خاندئ؟ کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم تاسو ته د قيامت د رانژدې کېدو خبره کوي ورپورې

خاندئ، په داسې حال کې چې کبر کوونکي یئ، په ډېر غرور او مستي سره پر ده او د ده پر خبرې خاندئ!!

- د قیامت د نښو راڅرګندېدو تقاضا دا ده چې تاسو د الله تعالی په وړاندې سجده وکړئ او د هغه په عبادت لګیا شئ. (دا د سجدې آیت دئ؛ په لوستلو او اورېدلو سره ئې باید سجده وشي)

که دا مبارك آیتونه د سورې د لومړیو آیتونو په څنګ کې کېږدو نو راته جوته کېږي چې قریشو د پیغمبر علیه السلام پدې خبرې تعجب کولو او په استهزاء او تمسخر سره به ئې هغه ردوله چې ده ورته ویل: د قیامت ورځ رانژدې شوې، دا دنیا به له منځه ځي او ټول به د حساب او کتاب او د جزاء او سزا عالم په لور درومو، پر دې خبرې به ئې نه یوازې تعجب کولو بلکې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته به ئې د ټبروټي او لار ورکې خطاب کولو!! نو ځکه په دوهم آیت کې ویل شوي (مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ ٢: ستاسو ملګری نه ټبروتی او نه بې لارې شوی؛ او د سورې په پای کې ویل شوي: آیا له دې خبرې تعجب کوئ چې قیامت رانژدې شوی او د ژړا پر ځای خاندئ؟

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

القمر

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (القمر) دئ چې د سورې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۵۵ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (القَمَر)، د دوهم آیت (مستَمِر)؛ او د پنځم آیت (النُذُر) ته ورته دي، ډېر ډېر ښکلی او په زړه پوري غږ او وزن لري. د آیتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکي دور په وروستیو کلونو کې نازل شوي.

د دې مبارکې سورې د بحث محوري موضوع هم د النجم په څېر دا ده چې قیامت رانژدې شوی، لکه څنګه چې د النجم په سورې کې د ستورو غورځېدا د قیامت د رانژدې کېدو نښه ګڼل شوې همداسې په دې سورې کې د سپوږمۍ چاودل د قیامت د نژدې والي دلیل ګڼل شوی.

سوره په دې پیل شوې چې قیامت رانژدې شوی، د سپوږمۍ چاودېدا ئې څرګنده نښه ده، په ټولې سورې کې همدا موضوع له یوه او بله اړخه او په اغېزناکو الفاظو او قانع کوونکو دلائلو سره څېړل شوې، په ٦-٨ آیتونو کې ویل شوي: نو مخ ترې واړوه، کومه ورځ

چې هغه بلونکی د یوه کرکجن شي لوري ته بلنه ورکوي، سترګي به ئې ټیټې او خړي وي، له قبرونو به داسي وځي لکه چې خواره ملخان وي، د بلونکي لوري ته ځغلېدونکي، کافران به وایي: دا یوه ډېره سخته ورځ ده!

بیا له نهم آیت تر ٤٢ پوري د هغو عاصي ولسونو بدي پایلي د قیامت او مکافات او مجازات د اثبات لپاره د دلائلو په توګه وړاندي شوې چې له قیامت انکار؛ ګناه او عصیان ته هڅولي او په الهي عذاب ئې اخته کړي. د دې لړۍ په پای کې د خطاب مخ د قریشو په لوري اوړي او ورته ویل کېږي:

- آیا ستاسو کافران تر هغو غوره دي چې په مخکینیو آیتونو کې د دوی سپېره برخلیك ستاسو مخي ته کښېښودل شو، له کومه پلوه غوره دي، له اخلاقي پلوه، له فکري پلوه، له مذهبي پلوه، د تګلاري او کړنلاري له پلوه، آیا دوی له هر پلوه هغوی ته ورته نه دي؟
- آیا په کوم الهي کتاب کې مو لوستلي چې تاسو به له هغه برخلیك سره نه مخامخ کېږئ چې مخکیني ورسره مخامخ شول؟ د برائت دا سند کوم دئ؟
- یا پر خپل زور ځواك غره شوي یئ او وایئ: موږ مضبوط او برلاسي او یو د بل مرستندوی ټولی یو، هیڅوك ماته نه شي راکولی؟!!
- په وئ شئ چې دا مغرور ټولی به هرومرو ماته خوري او شاګاني به اړوي.
- نه؛ یوازي دا کافي نه ده چې له ماتې سره به مخامخ کېږي او د مبارزې له ډګر به تښتي بلکې د دوی د تعذیب وروستی موعد د قیامت ساعت دئ، هغه ساعت چې هیبتناك او ستر آفت دئ او ډېر تریخ ساعت.

او د سورې په پای کې ویل شوي چې متقیان به په جنتونو او ویالو کې وي، داسي جنتونه چې تر ونو او بنګلو لاندي به ئې ډول ډول ویالې بهېږي، په هغه مقام کې چې د رښتینولۍ او رښتینو لپاره غوره شوی، مقتدر ټولواك ته نژدې.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ ۝١ وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةٗ يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحۡرٞ مُّسۡتَمِرّٞ ۝٢ وَكَذَّبُواْ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُمۡۚ وَكُلُّ أَمۡرٖ مُّسۡتَقِرّٞ ۝٣

۱- (د قیامت) ساعت رانژدې شو او سپوږمۍ وچاوده، ۲- او که کومه څرګنده نښه وګوري ډډه کوي او وایي: یو مستمر جادو، ۳- او درواغ ګڼله ئې وکړه او د خپلو

هوسونو متابعت ئې وکړ په داسې حال کې چې هر امر (کار) پلی کېدونکی دئ.

(١-٣)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- قیامت رانژدې شو او سپوږمۍ وچاوده، یعني د قیامت رانژدې کېدا له دې معلومېږي چې سپوږمۍ وچاوده، د دې دواړو خبرو تر منځ د تړاو په اهمیت هغه څوك ښه پوهېږي چې د لمر چاپېر د زمکې خوځېدا او د لمر او زمکې تر منځ واټن کې د سپوږمۍ له وندې خبر وي، که سپوږمۍ نه وی نو زمونږ زمکه به هم د واټن له پلوه او هم پر خپل محور د خوځېدو له پلوه په اوسني حالت کې نه وه، هم به له لمر لرې وه او هم به ئې سرعت زیات وو، نو نه به ئې شپه او ورځ د نن په څېر وه او نه د حرارت درجه؛ او تاسو پوهېږئ چې د زمکې په اوسني حالت کې معمولي تغییر د دې باعث کېږي چې د زمکې پر سر د ژوند امکانات له منځه ولاړ شي، د سپوږمۍ چاودېدل ستره طبیعي پېښه ده، دومره چې زمونږ په شمسي نظام کې د یوه ستر بدلون سبب او د قیامت پیلامه کېدی شي.
- خو د قیامت منکرین داسې دي چې که هره څرګنده نښه وګوري له منلو ئې ډډه کوي، د سپوږمۍ د چاودېدو په څېر ستره نښه هم نه یوازې دوی ته قناعت نه شي ورکولی بلکې هغه به په غلطه توګه تعبیروي او حتی وایي به: دا هم د هغه جادو یوه کرشمه ده چې لړۍ ئې له پخوا راروانه ده.
- تکذیب او درواغ ګڼل د هغه چا خصلت جوړ شي چې د هوس تابع وي، کله چې د دوی هوس یو څه غواړي او حق بل څه نو حق تکذیبوي او د خپل هوس خبره مني، هغه څوك به قیامت او د قیامت د ورځې محاسبه څنګه مني چې د ګناه او د بل پر حق د تېرې پرېکړه ئې کړې، هوس ئې نه پرېږدي چې د خپل عقل خبره ومني.
- خو د دې عالم چارې داسې نه دي چې د دوی په هوس پورې تړلې وي، هغه څه وشي چې دوی ئې غواړي او هغه څه نه چې د دوی هوس ئې نه خوښوي، د دوی هوس دا نه خوښوي چې قیامت راشي او دوی د الله تعالی په وړاندې د محاسبې او محاکمې لپاره ودرېږي، خو دا کار حتماً کېدونکی دئ.
- دلته ویل شوي چې سپوږمۍ وچاودله، راشئ وګورو چې آیا په رښتیا دا کار شوی؛ او که دا یوه وړاندوینه ده او تر قیامت وړاندې به تر سره کېږي؟ آیا دا یوه پېښه وه او که د رسول الله صلی الله علیه و سلم یوه معجزه؟ د دې آیتونو له الفاظو څه انتباه اخیستل کېږي او کومه وینا تأییدوي؟ آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې معجزې درلودې؟ که ئې درلودې نو ولې په قرآن کې د هغوی داسې واضح او څرګنده یادونه نه ده شوې لکه چې د نورو پېغمبرانو معجزې ئې په څرګندو الفاظو یادې کړې؟ روایات په دې اړه څه

وايي؟ دغو پوښتنو ته دقيق او صحيح ځواب هغه مهال موندلی شو چې څو خبرې په پام کې ولرو:

- د قرآن له الفاظو په ډېر صراحت سره معلومېږي چې دلته د سپوږمۍ چاودېدا د قيامت د رانژدې کېدو نښه ګڼل شوې نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم د رسالت د اثبات معجزه.
- په ټول قرآن کې نه يوازې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسې کومه معجزه نه ده منسوب شوې چې د نورو پيغمبرانو معجزو ته ورته وي بلکې هغه نفي شوې، قرآن په مکرره توګه وايي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخالفينو د ده په اړه ويلي: ولې داسې معجزې نه دي ورکړی شوې چې مخکينيو پيغمبرانو ته ورکړی شوې وې، الله تعالى د دوی په ځواب کې فرمايي: دا ځکه چې ستاسو سلف پر هغو معجزو ايمان رانه وړ نو تاسو به څنګه ايمان راوړئ؟ په بل ځای کې د دوی دې پوښتنې ته داسې ځواب ورکوي: آيا دا قرآن د معجزې په توګه کافي نه دئ؟ په بل ځای کې دا ځواب ورکوي: که له آسمان داسې کتاب ورته راوړې چې دوی ئې په خپل لاس کې ونيسي او حتى مړي پرې راژوندي شي بيا به هم ايمان رانه وړي!! د دې پوښتنو او ځوابونو اړوند څو آيتونه دا دي:

فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ عِندِنَا قَالُواْ لَوۡلَآ أُوتِيَ مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ مُوسَىٰٓۚ أَوَ لَمۡ يَكۡفُرُواْ بِمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ مِن قَبۡلُۖ قَالُواْ سِحۡرَانِ تَظَٰهَرَا وَقَالُوٓاْ إِنَّا بِكُلّٖ كَٰفِرُونَ ٤٨ القصص

نو کله چې زمور له لوري حق ورغی وئې ويل: ولې ده ته هم موسى ته د ورکړی شوو (معجزو) په څېر (معجزې) نه دي ورکړی شوې؟! آيا تر دې د مخه په هغه څه کافران نه شول چې موسى ته ورکړی شوي وو؟

دا آيت ښيي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم هغسې معجزې نه درلودې چې موسى عليه السلام ته ورکړی شوې وې.

وَلَوۡ نَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ كِتَٰبٗا فِي قِرۡطَاسٖ فَلَمَسُوهُ بِأَيۡدِيهِمۡ لَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٧ الانعام

او که مو داسې کوم کتاب؛ په کاغذ کې (ليکلی) پر تا نازل کړی وی چې لاس ئې پرې راکاږلی، نو دغو کافرانو به ويل: دا خو له څرګند سحر پرته بل څه نه دئ!!

يعنې دا د حق او حقيقت لجوج منکران چې د قرآن په دلائلو هم نه قانع کېږي، که له آسمان داسې کتاب هم ورته راشي چې په کاغذ کې ليکلی وي، له آسمان د دوی د سترګو په وړاندې راکوز شي او دوی ته په لاس کې ورکړی شي، نو دغه کافران به وايي: دا خو له

څرګند سحر پرته بل څه نه دئ!!

أَوَ لَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ العنكبوت

او وئې ویل: ولې د ده د رب له لوري څرګندي نښې نه دي پرې نازلې شوې؟ ووایه: یقیناً چې نښې خو له الله سره دي؛ او زه یوازې یو څرګند نذیر یم، آیا دا ورته کفایت نه کوي چې مونږ پر تا هغه کتاب نازل کړی چې پر دوی لوستل کېږي، یقیناً چې په دې کې د ایمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً رحمت او ذکر دئ.

یعني چا چې له حق سره د مخالفت پرېکړه کړې وي؛ هغه نه په دلائلو قانع کېږي او نه په معجزو، دا دئ ګورئ چې د قریشو په وړاندي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر ستر شخصیت ولاړ دئ، د الله تعالی لوري ته بلنه ورکوي، د قرآن په څېر له معجزو ډک کتاب ورته وړاندي شوی، خو هغوی نه یوازې له ایمان راوړو ډډه کوي بلکې د داسي خارق العاده معجزو غوښتنه کوي چې شیطان ئې پرې قانع شي، وایي: ولې د ده د رب له لوري څرګندي معجزې نه دي ورکړی شوې؟ الله تعالی د دوی په ځواب کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه کوي چې ورته ووایي: یقیناً چې نښې او معجزې خو له الله سره دي؛ او زه یوازې یو څرګند نذیر یم، له ما سره نه معجزې شته او نه ئې د شودلو واك، زه فقط یو نذیر یم چې د کفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پایلو تاسو ته خبرداری درکوم. د دوی د غلطي غوښتني په ځواب کې فرمایي: آیا د دوی د قناعت لپاره دا له اعجازونو ډك کتاب چې ته ئې پرې لولې کفایت نه کوي؟!! یقیناً چې په دې کې د ایمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً (رحمت) او (ذکر) دئ، هغه چې د ایمان راوړو استعداد او وړتیا ئې نه ده ځپل شوې هغوی به هرومرو دا کتاب د الله تعالی یوه لویه پېرزوینه ګڼي او له هغه به پند اخلي.

یعني په چا کې چې د ایمان راوړولو استعداد وي هغه ته دا کتاب په خپله د معجزې او دلیل په توګه کافي دئ، تر دې لویه او ستره معجزه نشته. که څوك لږ له شفاف ذهن سره او د حق موندلو له تلوسې او تندي سره قرآن ته رجوع وکړي نو یقیناً چې د قرآن هره وینا به د دې عالم او د عالم د هر څه په اړه هومره علمي او دقیقه ومومي چې ورته ثابتوي دا کتاب هغه چا نازل کړی چې د دې ټول عالم او د عالم د هر څه په اړه جامع علم لري، دا کتاب د هغه چا له لوري راغلی چې علم ئې په زمان او مکان پوري محدود نه دئ، هیڅ شی او حقیقت ئې تر پټ نه دئ، د ده د علم په وړاندي داسي حجاب نشته

چې د يوه شي په حقيقت د پوهېدو مانع شي، مور په دې کتاب کې ګورو چې د هر څه په باب ئې هره وينا او قضاوت دقيق او صحيح دئ، دا دقيق او سل په سلو کې صحيح او علمي قضاوتونه او پرېکړې مور ته ثابتوي چې د دې کتاب لېږونکی د هر څه په اړه جامع او کامل علم لري، له دې ناحيې قرآن معجزه ده او د پيغمبر عليه السلام په حقانيت شهادت ورکوي.

وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾ أَوۡ يَكُونَ لَكَ بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٤﴾ قُل لَّوۡ كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ لَنَزَّلۡنَا عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا رَّسُولٗا ﴿٩٥﴾ الاسراء

او وئې ويل: تر هغه درباندې ايمان نه راوړو چې له زمکې کومه چينه راته ونه بهوې؛ او يا دې د خرما او انګورو داسې باغ نه وي چې په منځ کې ئې ويالې رواني کړې؛ او يا لکه څنګه چې ګمان کوې دا آسمان پر مور ټوټې ټوټې راپرې باسې او الله او ملائکې مور ته مخامخ راحاضر کړې او يا دې د سرو سپينو زرو کور وي او يا آسمان ته وخيژې او ختل دې هم تر هغه نه منو چې کوم داسې ليکلی کتاب راته راوړې چې مور ئې لوستی شو، ورته ووايه: سبحان الله! مګر زه له يوه لېږل شوي انسان پرته بل څه يم؟! او د هدايت له راتلو وروسته؛ خلك له دې پرته بل څه له ايمان راوړلو منع نه کړل چې ويل ئې: آيا الله يو انسان د پيغمبر په توګه مبعوث کړی؟ ورته ووايه: که په زمکې کې ملائکې اوسېدی او ډاډمنه ګرځېدی، نو هرومرو به مو له آسمان پر دوی يوه ملائکه د پيغمبر په توګه لېږلې وه.

دا مبارك آيتونه څو مهمې او اساسي لارښوونې زمور مخې ته ږدي:

- منکرينو نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دعوت او بلنې محتوى ته کتل، نه د ده دلائلو ته، نه د ده لارښوونو ته، نه د ده شخصيت ته، نه د ده ويناوو او کړنو ته، نه د قرآن اغېزناکو او ځلاندو څرګندونو او روښانه لارښوونو ته او نه هغو شخصيتونو ته چې د قرآن په غېږ کې او د رسول الله صلى الله عليه و سلم په لاس وروزل شول او هر يو ئې د

یوه ځلانده ستوري په څېر وو، له رسول الله صلی الله علیه و سلم ځې داسي معجزې غوښتې چې خارق العاده او حیرتناکې وي، لکه: له زمکې کومه روانه چینه راوخوټوه، ځان ته د خرما او انګورو داسي باغ راپیدا کړه چې په منځ کې ځې ویالې روانې کړې، لکه څنګه چې ته ګمان کوې دا آسمان به پر موږ ټوټې ټوټې راپرېوځي دا کار همدا اوس زموږ په وړاندې تر سره کړه، الله او ملائکې موږ ته مخامخ راحاضر کړه، ځان ته د سرو سپینو زرو کور جوړ کړه، آسمان ته وخېژه، ختل دي هم تر هغه نه منو چې کوم داسي لیکلی کتاب راته راوړې چې موږ ځې لوستی شو!! د الاسراء سورې په ۵۹ آیت کې د دوی د داسي غوښتنو په اړه ویل شوي: له دې پرته بل څه موږ د معجزو له لېږلو منع نه کړو چې مخکینیو هغه تکذیب کړې، دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې د دوی د دغو غوښتنو په ځواب کې ورته ووایه: سبحان الله! مګر زه له یوه لېږل شوي انسان پرته بل څه یم؟!

- ګورئ چې (خلك) دغي خبرې له ایمان راوړلو منع کړي چې پیغمبر ځې د نورو انسانانو په څېر یو انسان موندلی، داسي چې حیرتناك او خارق العاده کارونه نه شي کولی، د ده په خوا کې نه څوك خدای په څرګنده ګوري او نه د فرشتو لښکري، آسمان ته نه شي ختلی، له زمکې چینې نه شي راخوټولی، سره او سپین زر ځې په لاس کې نشته، د باغونو او بنګلو خاوند نه دئ!! د یهودانو مذهبي مشرانو د خپلو پیغمبرانو په اړه خلکو ته همدا ویلي وو چې دوی دغه ټول کارونه کولی شو، نو ځکه ځې د عیسی علیه السلام په څېر په هغه پیغمبر هم ایمان رانه ووړ چې معجزې ځې تر ټولو پیغمبرانو زیاتې وې!!
- مشرکینو هم له دې کبله پر پیغمبر علیه السلام له ایمان راوړو ډډه کړې چې هغه ځې د ځان په څېر یو انسان موندلی، د دوی انګېرنه او انتظار دا وو چې د الله تعالی پیغمبر باید له انسانانو په هر څه کې توپیر ولري او داسي ستر ستر او خارق العاده کارونه وکړی شي چې عادي انسانان ترې عاجز وي!! د دوی په اړه ویل شوي: کله چې خلکو ته د الله تعالی له لوري او د کوم پیغمبر په لاس هدایات راغلي نو دوی له ایمان راوړلو بل څه منع نه کړل مګر دې خبرې چې ویل ئې: آیا الله یو انسان د پیغمبر په توګه مبعوث کړی؟ ورته ووایه: که په زمکه کې ملائکې اوسېدی او ډاډه په کې ګرځېدی نو مونږ به حتماً له آسمان یوه فرشته د پیغمبر په توګه رالېږلې وه. دا ځکه چې فرشته د فرشتې په ژبه پوهېدی شي او انسان د انسان په ژبه.
- که الله تعالی غوښتی چې پیغمبر علیه السلام داسي معجزې وښیي نو دغو کافرانو ته به ځې ورښودلې وې، ځکه معجزه په اصل کې د مخالفینو د عاجزولو او پر کولو لپاره وي،

د همدې لپاره د پيغمبرانو عليهم السلام خارق العاده کارونو ته د معجزې نوم ورکړی شوی. د موسی عليه السلام د عصا په يوه ګوزار سره له تېرې دولس چينې راوخوټېدې، خو هغه معجزه د همغه وخت لپاره وه، اوس هغه چينې نشته، که رسول الله صلی الله عليه و سلم ته داسې معجزې ورکول کېدی نو دا به تر قيامت پورې تلپاته وې، ځکه د ده دعوت تلپاته دئ او تر قيامت دوام کوي. که الله تعالی غوښتی چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د مخکينيو پيغمبرانو عليهم السلام په څېر معجزې ورکړي نو دا معجزې به هم تر مخکينيو ستړي وې او هم تلپاتې، دا ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم رسالت د همدې تقاضاء کوي، دا معجزې بايد تر قيامت ليدل کېدی، که ئې غوښتی چې د موسی عليه السلام په څېر معجزه ورکړي نو له يوې ډبرې به ئې داسې چينه ورته راخوټولې وه چې تر قيامت به اوبه ترې راخوټېدې، له آسمان به ئې داسې ليکلی قرآن پرې نازل کړی وو چې د خلکو په وړاندې به په فضاء کې ولاړ وو، هر چا به په خپلو سترګو ليدو، دا کار الله تعالی ته ډېر آسان دئ، که لمر، سپوږمۍ او دا ټول بې شمېره ستوري په فضاء کې ساتلی شي د يوه کتاب ساتل به څه ګران کار وي!! که ئې غوښتي وی چې د عيسی عليه السلام په څېر کومه معجزه ورکړي او مړي ورته راژوندي، ړانده سترګور او بيماران روغ کړي نو د قرآن په لوستلو سره به ئې په حقيقي معنی تل مړي راژوندي کول؛ او ناروغان به ئې روغول، الله تعالی ته دا ټول کارونه آسان دي، څوك چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته وړې وړې معجزې ثابتوي هغوی په حقيقت کې د هغو خلکو د تبليغاتو تر اغېز لاندې تللي چې ويل ئې: ولې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د مخکينيو پيغمبرانو په څېر معجزې نه دي ورکړی شوې؟ خو دې ته ئې پام نه دئ چې الله تعالی د کافرانو د دغې غوښتنې څه ځواب ورکړی؟ ځواب دا دئ: که له آسمان مو داسې کتاب دربانديې نازل کړی وی چې کافرانو په خپل لاس لمس کولی شوی، مړي پرې راژوندي شوي وی، بيا هم دوی ايمان نه راوړ.

له دې مبارکو آيتونو معلومېږي چې د مشرکينو او اهل کتاب ټګمارو او دوکه مارو مذهبي مشرانو خلکو ته ويل: مخکينيو پيغمبرانو، د الله مقربو بندګانو او اولياء کرامو دغسې خارق العاده او حيرتناك کارونه کولی شو، هغه څوك د پيغمبر په توګه مه منئ چې دا کارونه ونه کړی شي. د دوی په ځواب کې ويل شوي: معجزه د پيغمبر په خوښه نه رامنځته کېږي، د ده په واك کې نه وي، د الله تعالی په إذن او هغه مهال رامنځته کېږي چې الله تعالی ئې وغواړي او پيغمبر ته ئې د شودلو امر، اجازه او واك ورکړي.

له دې مبارکو آيتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې رسول الله صلی الله عليه و

سلم ته له هغو معجزو چې مخکینیو پیغمبرانو ته ورکړی شوې وې یوه هم نه وه ورکړی شوې، خو داسې عظیم کتاب ورکړی شوی چې له سترو سترو معجزو ډک دئ.

د دې پوښتنې په ځواب کې چې آیا په رښتیا سپوږمۍ د دې آیت تر راتلو وړاندې چاودلې او که دا یوه وړاندوینه ده او تر قیامت وړاندې به تر سره کېږي، باید ووایو: که څه هم ځینو درنو مفسرینو ویلي چې دا یوه وړاندوینه ده او شیي چې سپوږمۍ به تر قیامت وړاندې وچوي. خو دا تعبیر نه یوازې د دې آیتونو له الفاظو سره اړخ نه لګوي بلکې له هغوی سره تعارض لري، د دوی تعبیر داسې دئ لکه چې څوک ووایي: قیامت رانژدې شوی دا ځکه چې سپوږمۍ به وچوي!! داسې وینا نه څوک په دې قانع کولی شي چې قیامت رانژدې شوی او نه په دې چې سپوږمۍ به وچوي!! حال دا چې قرآن غواړي خپل مخاطب په دې پوه کړي چې قیامت رانژدې شوی او دا دلیل ئې مخې ته ږدي چې سپوږمي وچوله، همغسې لکه چې د النجم په سورې کې ئې د ستورو غورځېدا د قیامت د رانژدې کېدو دلیل وګڼلو، دلته هم ګورئ چې لومړی آیت وایي: سپوږمۍ وچاوده، دوهم آیت وایي: که هره څرګنده نښه وګوري له منلو ئې ډډه کوي، درېیم آیت وایي: دوی تکذیب کړ او د خپلو هوسونو متابعت ئې وکړ، له دې ویناوو په بشپړ صراحت سره معلومېږي چې دا پېښه واقع شوې او خلکو په خپلو سترګو لیدلې خو د قیامت منکرینو د تکذیب لار غوره کړې او د هغه څه له منلو ئې ډډه کړې چې دا پېښه ئې ثابتوي او هغه دا چې قیامت رانژدې شوی.

له دغو آیتونو معلومېږي چې د شق القمر پېښه یوازې په روایاتو پورې منحصره نه ده، د اړوند روایاتو لپاره دا آیتونه څرګند شاهد او ګواه دئ او اعتبار ته ئې قوت بخښي. راشئ وګورو چې دا روایتونه څه وایي او د متن او اسنادو له پلوه څومره معتبر دي. دغه روایت ته ځیر شئ:

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ وَنَحْنُ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَصَارَ فِرْقَتَيْنِ، فَقَالَ لَنَا « اشْهَدُوا، اشْهَدُوا » رواه البخارى

له عبد الله بن مسعود رضی الله عنه روایت دئ چې سپوږمۍ په داسې حال کې وچاودله چې موږ له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره وو نو دوه ټوټې شوه او موږ ته ئې وویل: وګورئ وګورئ.

دا روایت په بخاري کې پنځه ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٣٦٣٦، ٣٨٧١، ٤٨٦٤، ٤٨٦٥، ٣٨٦٩، په دوی کې یوازې دا توپیرونه تر سترګو کېږي: په ځینو کې ویل شوي مِنًى او په ځینو کې نه دي ویل شوي، په یوه کې وَذَهَبَتْ فِرْقَةٌ نَحْوَ الْجَبَلِ او په بل کې فَصَارَ فِرْقَتَيْنِ،

فِرْقَةً فَوْقَ الْجَبَلِ وَفِرْقَةً دُونَهُ په يوه کې فقال « اشْهَدُوا » او په بل کې فقال: « اشْهَدُوا، اشْهَدُوا »، په ځينو کې دا راغلي وَنَحْنُ مَعَ النَّبِيِّ او په ځينو کې نه دي راغلي، په يوه کې هم دا نه دي راغلي چې دا يوه معجزه وه او د قريشو په غوښتنه رامنځته شوې.

د دې پېښې اړوند روايات د احاديثو په نورو کتابونو کې هم راغلي، مسلم، ترمذي، ابو داؤد، عبدالرزاق، احمد، طيالسي، ابو عوانه، ابن جرير، بيهقي، طبراني، ابن مردويه او ابو نعيم اصفهاني، له ګڼ شمېر سندونو سره له امير المؤمنين علي، عبدالله بن مسعود، عبدالله بن عباس، عبدالله بن عمر، حذيفه، انس بن مالك او جبير بن مطعم رضى الله عنهم روايت کړي، په دوی کې درې (عبدالله بن مسعود، حذيفه او جبير بن مطعم رضى الله عنهم) داسې دي چې دا پېښه ئې په خپلو سترګو ليدلې، عبدالله بن عباس لا هغه مهال نه وو زېږېدلی او انس بن مالك ښايي اُوه اته کلن ماشوم وو؛ له نورو ئې اوربدلي خو دا وضاحت ئې نه دئ کړی چې له چا ئې اوربدلي، له رواياتو داسې معلومېږي چې دا پېښه تر هجرت پنځه کاله وړاندې په منٰسکي واقع شوې، د قمري مياشتې د منځنيو شپو په يوې شپه کې، سپوږمۍ دوه ټوټې شوې، څو شېبې يوه له بلې لرې شوې او بېرته سره ورغلې، پورتنی روايت وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم خپلو يارانو ته ويلي: وګورئ وګورئ، له دې معلومېږي چې پېښه ناڅاپي رامنځته شوې او داسې نه وه چې چا له رسول الله صلى الله عليه و سلم معجزه غوښتې وي او هغه دا معجزه ورښودلې وي، د پېښې له ټولو راويانو يوازې انس بن مالك رضى الله عنه دا خبره کړې چې ګواکې دا د معجزې په توګه وړاندې شوې پېښه وه، خو تاسو پوهېږئ چې انس بن مالك رضى الله عنه دا صحنه په خپلو سترګو نه ده ليدلې، دی هغه مهال په مدينه کې او وړوکی ماشوم وو، ده ته منسوب روايت ځکه د منلو وړ نه دئ چې له يوې خوا د قرآن له وينا سره تعارض لري او له بلې خوا له هغو رواياتو سره چې راويانو ئې پېښه په خپلو سترګو ليدلې، انس بن مالك رضى الله عنه ته همداسې يو بل ضعيف روايت هم منسوب شوی چې وايي د شق القمر پېښه دوه ځلي رامنځته شوې!! خو په صحابه وو کې هيڅوا دا خبره نه ده کړې. ده ته منسوب روايات هم داسې دي په ځينو کې ئې د مرتين (دوه ځلي) لفظ راغلی او په ځينو کې د فرقتين او شقتين (دوه ټوټې).

او دا چې آيا د داسې پېښې امکان او احتمال شته که نه او ساينس په دې اړه څه وايي، بايد ووايو: ساينسپوهان نه يوازې د داسې پېښو رامنځته کېدا د عالم په ډېرو اجرامو کې تأييدوي بلکې په خپله د سپوږمۍ په اړه وايي چې احتمالاً دا له زمکې جلا شوې يوه ټوټه ده، د پيدايښت په لومړنيو کې کوم بل ستر ستوري له زمکې سره تصادم کړی او په

نتيجه کې ئې سپوږمۍ رامنځته شوې!! ساینسپوهان د زهل ستوري په اړه وایي: د دې ستوري په چاپېر د ملاښد په څېر له وړو وړو متحرکو ډبرو جوړه شوې یوه سطح تر سترګو کېږي چې پلني کړۍ ته ورته برېښي خو په حقیقت کې د داسي ښلو ښلو متحرکو ډبرو مجموعه ده چې یوه د بلي خوا ته خوځي، د دې حلقې ضخامت او پرېږوالی نژدې نه کیلومتره دئ، دا ډبري د زهل د یوې سپوږمۍ د چاودلو له کبله رامنځته شوې دي، نو د سپوږمۍ چاودل نه یوازي د علم او عقل خلاف خبره نه ده بلکې په دې اړه د قرآن وینا یوه دقیقه علمي وینا ده. او دا چې آیا دا پېښه دغه مهال واقع شوې که نه؛ باید ووایو: له یوې خوا د قرآن وینا کافي ده چې ووایو: هو؛ دا پېښه یقیناً واقع شوې، له بلي خوا د داسي سترو سترو شخصیتو له شهادت او ګواهي معلومېږي چې دا پېښه همغه مهال رامنځته شوې، دا به ډېره عجیبه وي چې څوک د یوه عادي تاریخ لیکونکي په خبري باور کولی شي خو د داسي سترو سترو مؤمنو شخصیتونو په وینا باور نه کوي!! امید دئ هغه ورځ راشي چې محققین دا خبره هم وکړي چې څورلس پېړۍ وړاندي د یوې چاودنې په ترڅ کې د سپوږمۍ یوه ټوټه ترې ښله شوې او ښېرته ورسره نښتلې.

وَلَقَدْ جَآءَهُم مِّنَ ٱلْأَنۢبَآءِ مَا فِيهِ مُزْدَجَرٌ ۝٤ حِكْمَةٌۢ بَٰلِغَةٌ ۖ فَمَا تُغْنِ ٱلنُّذُرُ ۝٥ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ۘ يَوْمَ يَدْعُ ٱلدَّاعِ إِلَىٰ شَىْءٍ نُّكُرٍ ۝٦ خُشَّعًا أَبْصَٰرُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ۝٧ مُّهْطِعِينَ إِلَى ٱلدَّاعِ ۖ يَقُولُ ٱلْكَٰفِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ۝٨

٤- او یقیناً چې دوی ته له مهمو خبرو دومره څه ورغلي چې په هغه کې کافي تنبیه ده، ٥- بشپړ حکمت، خو انذارونه ګټه نه ورکوي، ٦- نو مخ ترې واړوه، کومه ورځ چې هغه بلونکی د یوه کرکجن شي لوري ته بلنه ورکوي، ٧- سترګې به ئې ټیټې او خړې وي، له قبرونو به داسي وځي لکه چې خواره ملخان وي، ٨- د بلونکي لوري ته ځغلېدونکي، کافران به وایي: دا یوه ډېره سخته ورځ ده!

(٤-٨)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- د قرآن مخاطبینو ته دومره مهمي مهمي لارښووني شوې چې د دوی د تنبیه لپاره کافي دي، داسي حکیمانه ویناوي چې د کمال او اعجاز له پلوه لوړې څوکې ته رسېدلې، خو دوی داسي دي چې انذارونه ګټه نه ورکوي.

- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې له داسې معاندينو مخ واړوه، دوی ته هيڅ اعتناء مه کوه، پرې ئې ږده چې قيامت په خپلو سترګو وګوري، هغه ورځ چې بلونکی به ئې د داسې څه لوري ته بلي چې دوی ترې کرکه لري، د هغې الهي محکمې په لوري به ئې بلي چې نن ترې انکار کوي او نه ئې خوښږي، سترګې به ئې ټيټې او خړې وي، له قبرونو به وځي او د زمکې پر سره به داسې برېښي لکه خواره ملخان، د بلونکي لوري ته ځغلېدونکي.
- هغه مهال به کافران وايي: دا يوه ډېره سخته ورځ ده!

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا۟ عَبْدَنَا وَقَالُوا۟ مَجْنُونٌ وَٱزْدُجِرَ ﴿٩﴾ فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَغْلُوبٌ فَٱنتَصِرْ ﴿١٠﴾

۹- تر دوی وړاندې د نوح قوم زمونږ بنده تکذيب کړ او وئې ويل: لېونی دئ او رټل شوی، ۱۰- نو خپل رب ته ئې دعاء وکړه چې زه مغلوب يم نو په خپله انتقام واخله.

(۹-۱۰)- دلته د نوح عليه السلام د قوم تور برخليك د يوې داسې تاريخي بېلګې په توګه زمونږ په وړاندې ږدول شوی چې ښيي د قيامت د تکذيب پايله ډېره سپېره او دردونکې ده: وايي: د قرآن تر مخاطبينو وړاندې د نوح قوم زمونږ بنده تکذيب کړ او وئې ويل: لېونی دئ او رټل شوی، هغه ته ئې د لېونې او پېرياني خطاب وکړ او له ولس د يوه رټل شوي په سترګه ئې ورته وکتل او له دې ئې منع کړ چې خلك د الله تعالى لوري ته وبلي او په دې ئې وګواښو چې که له دعوت لاس وانه خلي سنکسار به شي. هغه ئې له داسې سختي ورځې سره مخامخ کړ چې مجبور شو خپل رب ته د دعاء لاسونه لوړ کړي، پر خپلې بې وسۍ اعتراف وکړي او ووايي: زما ربه! زه مغلوب يم نو په خپله انتقام واخله.

فَفَتَحْنَآ أَبْوَٰبَ ٱلسَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴿١١﴾ وَفَجَّرْنَا ٱلْأَرْضَ عُيُونًا فَٱلْتَقَى ٱلْمَآءُ عَلَىٰٓ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ﴿١٢﴾ وَحَمَلْنَٰهُ عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَٰحٍ وَدُسُرٍ ﴿١٣﴾ تَجْرِى بِأَعْيُنِنَا جَزَآءً لِّمَن كَانَ كُفِرَ ﴿١٤﴾ وَلَقَد تَّرَكْنَٰهَآ ءَايَةً فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿١٥﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿١٧﴾

۱۱- نو د آسمان درې مو په رابهېدونکو اوبو پرانيستې، ۱۲- او زمکه مو رواني رواني چينې کړه؛ نو (دواړه) اوبه د داسې کار لپاره سره يوځای شوې چې له وړاندې مقدر

شوی وو، ١٣- او دی مو د تختو او مېخونو والي (بېړۍ) باندي حمل کړ، ١٤- زمونږ تر نظر لاندي خوځېدله، د هغه لپاره بدله چې کفران ئې شوی وو، ١٥- او یقیناً چې د یوې څرګندې نښې په توګه مو پرېښوده، نو آیا کوم عبرت اخیستونکی شته؟ ١٦- نو (وګوره چې) زما عذاب څنګه وو او زما ګواښنې څنګه؟، ١٧- او یقیناً چې مونږ قرآن د پند اخیستو لپاره آسان کړی نو آیا کوم عبرت اخیستونکی شته؟

(١١-١٧)- په دې مبارکو آیتونو کې د نوح علیه السلام ژغورنه او د ده د کافر قوم غرقېدا په عبرتناکې توګه انځور شوې، وایي: نو د دوی پر سر آسمان مو داسې پرانیستې دږي دږي کړ چې اوبه ئې د ورېدو پر ځای راوبهېږي؛ او زمکه مو رواني رواني چینې کړه؛ نو دواړه اوبه د هغه کار لپاره سره یوځای شوې چې له وړاندي مقدر شوی وو، چې هغه د نوح قوم غرقول وو؛ او نوح علیه السلام مو پر داسې بېړۍ سپور او وژغورو چې فقط تختې او مېخونه ئې درلودل، هغه چې د الله تعالی تر نظر او رعایت لاندي خوځېدله، دا د هغه نوح علیه السلام لپاره یوه الهي بدله وه چې کفران ئې شوی وو، د ایمان پر ځای انکار ترې شوی وو او د امتنان پر ځای د ده ناسپاسي شوې وه. نو دا پېښه او د دې قوم قصه او یا هغه بېړۍ مو وروستنیو ته د یوې څرګندې او عبرتناکې نښې په توګه پرېښوده، آیا کوم عبرت اخیستونکی شته؟ نو وګوره چې زما عذاب څنګه وو او زما ګواښنې څنګه؟؛ او یقیناً چې مونږ قرآن د پند اخیستو لپاره آسان کړی نو آیا کوم عبرت اخیستونکی شته؟

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته اطمئنان ورکړی شوی او ورته ویل شوي! ستا قوم ستا په اړه همغه کړنلاره غوره کړې چې د نوح علیه السلام قوم غوره کړې وه، کفران یعني عدم ایمان او ناسپاسي، د دوی برخلیك به د هغوی په څېر وي او الله تعالی به تا د نوح علیه السلام په څېر وژغوري.

دې ته مو پام وي چې په دې مبارکې سورې کې څلور ځلي ویل شوي چې یقیناً مونږ قرآن د پند اخیستو لپاره آسان کړی نو آیا کوم عبرت اخیستونکی شته؟ دا تکرار او تأکید ښیي چې قرآن واقعاً آسان، څرګند، واضح، له ابهام او اغماض خالي، هر مخاطب ته د فهم وړ، په خپله روښان او څرګند او د هر څه څرګندوونکی کتاب دئ، څوك چې د قرآن په اړه له دې پرته بله وینا کوي دروغ وایي، حقیقت مسخ کوي، خلك له قرآن لرې کوي او په نورو شیانو ئې مصروفوي، هغه چې خلکو ته وایي: د قرآن په ژبه هر څوك نه پوهېږي، قرآن ظاهر او باطن لري او باطن ئې بطون، له اهل بیت پرته بل څوك ئې په بطن او بطونو نه پوهېږي، لومړی څورلس علوم زده کړه بیا قرآن پرانیزه... دا ټول دروغ وایي او د قرآن خلاف خبره کوي، د قرآن لومړی حامل یو امي وو چې په لیك لوست نه پوهېدو او

لومړي مخاطبين او حاملان ئې امیان ول او په لیك لوست نه پوهېدل!! آیا د قرآن دغه څلور آیتونه کافي نه دي چې د قرآن په اړه د دغو ټګمارانو وینا پر دېوال ووهو؟!!

كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾ تَنزِعُ ٱلنَّاسَ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٢٢﴾

۱۸- عادیانو تکذیب وکړ، نو (وګوره چې) زما عذاب څنګه وو او ګواښنې څنګه، ۱۹- یقیناً چې موږ یوه تېزه هیبتناکه سړه سیلۍ پر دوی ولېږله، په یوې سپېرې پرله پسې ورځې کې، ۲۰- چې خلك ئې داسې راایستل لکه چې دوی د هغو کجورو ستې وي چې له جړو ایستل شوې، ۲۱- نو (وګوره چې) زما عذاب څنګه وو او زما ګواښنې څنګه؟، ۲۲- او یقیناً چې موږ قرآن د پند اخیستو لپاره آسان کړی نو آیا کوم عبرت اخیستونکی شته؟

(۱۸-۲۲)- په دې مبارکو آیتونو کې د عادیانو د تکذیب بده پایله او هغه هیبتناکه سیلۍ چې پر دوی مسلطه شوې وه داسې انځور شوې:

- عادیانو د تکذیب لار غوره کړه، په الهي عذاب اخته شول، تاریخ ته رجوع وکړه او وګوره چې د الله تعالی عذاب څنګه وو او ګواښنې ئې څنګه، الله تعالی تېزه هیبتناکه سړه سیلۍ پر دوی ولېږله، په یوې داسې سپېرې ورځې کې چې پرله پسې وه، اته ورځې ئې دوام وکړ، خلك ئې له خپلو پناه ځایونو راایستل، کورونه ئې ورورانول، نه د لوړو تر شا پټېدی شول او نه په کندو او سوړو کې، مړي ئې داسې پر زمکه هر لوري ته خواره پرېوتل لکه د کجورو ستې چې له جړو ایستل شوې وي، نو وګوره چې زما عذاب څنګه وو او زما ګواښنې څنګه؟
- یقیناً چې موږ قرآن د پند اخیستو لپاره آسان کړی نو آیا کوم عبرت اخیستونکی شته؟
- دې ته مو پام وي چې دلته د عادیانو د عذاب ورځې ته (یوم نحس مستمر) ویل شوي او د فصلت سورې په شپاړسم آیت کې أَيَّامٍ نحِساتٍ ویل شوي او د الحاقه سورې په اوم آیت کې اُوه شپې او اته ورځې ویل شوي، نو د مستمر معنی تر اتو ورځو د دې عذاب دوام دئ، دې ته مو هم پام وي چې دا ورځې په خپل ذات کې نحس او سپېرې نه وې بلکې د هغه ستر عذاب له کبله سپېرې وې، ورځې ټولې سره برابرې دي، الله تعالی هیڅ سپېره او بختوره ورځ نه ده پیدا کړې، هغه ورځ درته بختوره ده چې کوم ښه کار تر سره کړې او هغه

ورځ سپېره ده چې د بد کار له کبله له بد او سپېره برخليك سره مخامخ شې.

كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِٱلنُّذُرِ ﴿٢٣﴾ فَقَالُوٓاْ أَبَشَرًا مِّنَّا وَٰحِدًا نَّتَّبِعُهُۥٓ إِنَّآ إِذًا لَّفِى ضَلَٰلٍ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾ أَءُلْقِىَ ٱلذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنۢ بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ ﴿٢٥﴾ سَيَعْلَمُونَ غَدًا مَّنِ ٱلْكَذَّابُ ٱلْأَشِرُ ﴿٢٦﴾ إِنَّا مُرْسِلُواْ ٱلنَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَٱرْتَقِبْهُمْ وَٱصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾ وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ ٱلْمَآءَ قِسْمَةٌۢ بَيْنَهُمْ ۖ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾ فَنَادَوْاْ صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَٰحِدَةً فَكَانُواْ كَهَشِيمِ ٱلْمُحْتَظِرِ ﴿٣١﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٣٢﴾

۲۳- ثمودیانو دا ګواښونه تکذیب کړل؛ ۲٤- نو وئې ویل: آیا له خپلې ډلې د یوه انسان متابعت وکړو؛ یقیناً چې په دې صورت کې به موږ په تېروتني او لېونتیا کې وو، ۲۵- آیا دا ذکر زموږ له منځه (یوازې) پر ده نازل شوی، نه؛ بلکې دی ډېر دروغجن او ډېر جاه طلب دئ، ۲٦- سبا به حتماً پوه شي چې څوك ډېر دروغجن او ډېر جاه طلب دئ، ۲۷- یقیناً چې موږ دوی ته د یوې آزموینې په توګه د هغې اوښې لېږونکې یو؛ نو ورته انتظار وکړه او صبر کوه، ۲۸- او خبر ورکړه چې دا اوبه د دوی تر منځ وېشل شوې دي، د څښلو هر وار د (اوښې او د کلیوالو د) حضور نېټه ده، ۲۹- نو خپل ملګري ته ئې غږ کړ، نو لاس په کار شو او ټپي ئې کړه، ۳۰- نو وګوره چې زما عذاب څنګه وو او زما ګواښني څنګه؟ ۳۱- نو موږ یوه لوړه چیغه پرې ولېږله، نو داسې شول لکه د شپون په شپول کې کارول شوي مات مات ډکي، ۳۲- او یقیناً چې موږ قرآن د پند اخیستو لپاره آسان کړی نو آیا کوم عبرت اخیستونکی شته؟

(۲۳-۳۲)- دا مبارك آیتونه یوه بله تاریخي بېلګه د ثودیانو د قصې په ترڅ کې زموږ مخې ته ږدي او وایي:

- ثمودیانو نُذُر تکذیب کړل؛ نُذُر د نذیر(ګواښونکی) او انذار (ګواښ) جمع ده، دلته ځینو درنو مفسرینو د پېغمبرانو په معنی اخیستی او ځینو د ګواښونو په معنی، له مضمون سره دوهم تعبیر مناسب برېښي، یعني ثمودیانو د خپل پیغمبر انذارونه دروغجن وګڼل؛ او وئې

ویل: آیا له خپلې ډلې د صالح علیه السلام په څېر د یوه انسان متابعت وکړو؛ یقیناً چې په دې صورت کې به مونږ په تېروتنې او لېونتیا کې وو، آیا دا ذکر زمونږ له منځه یوازې پر ده نازل شوی، نه؛ بلکې دی ډېر دروغجن او ډېر جاه طلب دئ، یعني دوی د صالح علیه السلام د نه منلو لپاره دا دلائل وړاندې کړل: ۱- دی د نورو انسانانو په څېر یو انسان دئ، له نورو هیڅ توپیر نه لري، کوم مافوق انسان ذات نه دئ چې د خدای استازی ئې وګڼو، څنګه ومنو چې دی د الله تعالی پیغمبر دئ؟ ۲- هغه زمونږ د قوم یو فرد دئ، له نورو څه فضیلت لري چې د پیغمبر په توګه ئې ومنو؟ ۳- هغه یوازې دئ، کوم ستر مشر نه دئ چې ډېر پلویان ئې وي او د جاه او جلال او ځواك له پلوه د ولس د مشرۍ وړ وي، ٤- ولې او د کومې وړتیا له مخې الله تعالی دی د ټولو له منځه غوره کړی او د پیغمبرۍ مقام ئې ورکړی؟! ۵- دی دروغ وایي او جاه طلب دئ ځکه ئې د پیغمبرۍ ادعاء کړې.

- الله تعالی د هغوی په ځواب کې فرمایلي: د دوی د غلطو تبلیغاتو حقیقت به ډېر ژر جوت شي، دوی به ډېر ژر په خپلو سترګو وګوري چې څوك ډېر دروغجن او ډېر جاه طلب دئ.
- دوی له خپل پیغمبر صالح علیه السلام معجزه غوښتې وه، داسې چې له یوې ډبرې ژوندۍ اوښه جوړه شي، الله تعالی صالح علیه السلام ته وفرمایل: مونږ دوی ته د یوې آزمویني په توګه هغه اوښه پیدا کوو، ته منتظر او سه او صبر کوه؛ او ورته ووایه چې ستاسو د یوازیني ځاه اوبه ستاسو او اوښې تر منځ وېشل شوې دي، یوه ورځ ستاسو او بله د اوښې، هر لوری به په خپل خپل وار او ورځ ورته رادرومي.
- دوی څو ورځې دا حالت وزغملو، خو شیطان ئې دې ته وهڅول چې د دې وېش له ستونزې او د دې معجزې له مصیبت ځان وژغوري او پرې نژدې چې خلك پر صالح علیه السلام ایمان راوړي، نو تر ټولو شریر او پر ګناه جسور ته ئې غږ کړ چې دا دنده په غاړه واخلي، هغه تیار شو، لومړی ئې اوښه ټپي او بیا ئې ووژله، په همدې سره د دوی مهلت پای ته ورسېدو او په سخت الهي عذاب اخته شول، عذاب ئې په یوې لوړې چیغې سره پیل شو، داسې شول لکه په شپول کې کارول شوي مات مات ډکې، نو وګوره چې زما عذاب څنګه وو او زما ګواښنې څنګه؟
- د قصې په پای کې یو ځل بیا دا وینا تکرار شوې چې الله تعالی قرآن د پند اخیستو لپاره آسان کړی نو آیا کوم عبرت اخیستونکی شته؟

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍۭ بِٱلنُّذُرِ ﴿٣٣﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ ۖ نَّجَّيْنَٰهُم

بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾ نِّعْمَةً مِّنْ عِندِنَاۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى مَن شَكَرَ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ أَنذَرَهُم بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْاْ بِٱلنُّذُرِ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ رَٰوَدُوهُ عَن ضَيْفِهِۦ فَطَمَسْنَآ أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُواْ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُم بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾ فَذُوقُواْ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾

٣٣- د لوط قوم دا ګواښونه تکذیب کړل؛ ٣٤- یقیناً چې موږ کاڼي ورروونکې سیلۍ پر دوی ولېږله؛ د لوط له ټبر پرته، چې ګهیځ مهال مو وژغورل، ٣٥- له خپلې خوا یوه پېرزوینه، همداسې هغه چا ته بدله ورکوو چې شکر وکړي، ٣٦- او یقیناً چې زموږ له نیونې ئې وېرولې ول، خو دوی د ګواښونو په اړه شك وکړ، ٣٧- او یقیناً چې د ده د مېلمنو په اړه ئې له ده سره خبره (غوښتنه) کړې وه، نو موږ د دوی سترګې محو (ړندې) کړې نو زما عذاب او زما ګواښونه وڅکئ، ٣٨- او یقیناً چې سبا په سباوون کې ټمېدونکې عذاب ونیول، ٣٩- نو زما عذاب او زما ګواښونه وڅکئ، ٤٠- او یقینا چې موږ قرآن د پند اخیستو لپاره آسان کړی نو آیا کوم عبرت اخیستونکی شته؟

(٣٣-٤٠)- دلته د یوه مفسد قوم د بداخلاقۍ بده پایله د بلې تاریخي بېلګې په توګه زموږ مخې ته ږدول شوې:

- **د لوط قوم د خپل پیغمبر له لورې ورکړی شوي انذارونه تکذیب کړل؛ پایله ئې دا شوه چې موږ هغه سیلۍ ورباندې راوسته چې کاڼي ئې پرې ورول، ټول مو هلاك کړل؛ د لوط علیه السلام له ټبر پرته چې ګهیځ مهال مو وژغورل، دا د الله تعالی له لورې یوه پېرزوینه وه، همداسې هغه چا ته بدله ورکوو چې شکر وکړي.**
- **لوط علیه السلام دوی د الله تعالی له نیونې وېرولې ول، خو دوی د ګواښونو په اړه شك وکړ، دا شك ئې هغه مهال په یقین بدل شو چې عذاب ئې په خپلو سترګو ولید.**
- **دوی له لوط علیه السلام د ده هغه مېلمانه غوښتې ول چې فرشتې وې خو د ښکلو ځوانکیو په بڼې کې د ده کور ته ورغلې ول، الله تعالی د دوی سترګې محو او ړندې کړې، داسې چې د مېلمنو په موندلو موفق نه شول، د آیت له الفاظو او سیاق و سباق داسې معلومېږي چې د سترګو ړندېدا ئې داسې الهي عذاب وو چې تر اصلي عذاب وړاندې او هغه مهال پرې مبتلا شوي چې غوښتل ئې د لوط علیه السلام کور ته په زور ننوځي او مېلمانه تر لاسه کړي، د همدې عذاب له کبله هغوی نامراد بېرته ستانه شوي، په همدې مناسبت ورته ویل شوي: زما عذاب او زما ګواښونه وڅکئ.**

• سبا په سباوون کې تمبدونکي او پاته کېدونکي عذاب ونيول، هغه چې هر څه ئې پر دوی رانسکور کړل، کلي ئې خسف شول او له پاسه کانې پرې وورېدل او د دې ستر عذاب په مناسبت يو ځل بيا ورته وويل شول: زما عذاب او زما ګواښونه وڅکئ.

• د دې عبرتناکې قصې په پای کې يو ځل بيا ويل شوي: يقينا چې مورږ قرآن د پند اخيستو لپاره آسان کړی نو آيا کوم عبرت اخيستونکی شته؟

وَلَقَدْ جَآءَ ءَالَ فِرْعَوْنَ ٱلنُّذُرُ ﴿٤١﴾ كَذَّبُواْ بِـَٔايَـٰتِنَا كُلِّهَا فَأَخَذْنَـٰهُمْ أَخْذَ عَزِيزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾

٤١- او يقيناً چې فرعونيانو ته ګواښونه ورغلل، ٤٢- زمورږ ټول آيتونه ئې تکذيب کړل نو مورږ ونيول؛ د ځواکمن عزتمن ذات د نيولو په څېر.

(٤١-٤٢)- دلته د تاريخي بېلګو په لړ کې د فرعونيانو بده پايله او د الله تعالى له لوري د دوی کلکه نيونه د وروستۍ بېلګې په توګه وړاندې شوي او وايي: فرعونيانو ته هغه الهي ګواښونه ورغلل چې موسى او هارون عليهما السلام پرې ووېرول خو دوی ټول آيتونه، څرګندې نښې، معجزې او الهي لارښوونې تکذيب کړې، د دې تکذيب له کبله الله تعالى داسې ونيول او په ستر عذاب ئې اخته کړل چې له ځواکمن عزتمن رب سره نه شايي.

أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُوْلَـٰٓئِكُمْ أَمْ لَكُم بَرَآءَةٌ فِى ٱلزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴿٤٤﴾ سَيُهْزَمُ ٱلْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ ٱلدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ بَلِ ٱلسَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَٱلسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾ إِنَّ ٱلْمُجْرِمِينَ فِى ضَلَـٰلٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِى ٱلنَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُواْ مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾

٤٣- آيا ستاسو کافران تر هغوی غوره دي او که تاسو ته په کتابونو کې برائت په برخه شوی، ٤٤- يا وايي: مورږ برلاسي او يو د بل مرستندوی ټولی يو، ٤٥- دا ټولی به هرومرو ماته خوري او شاګانې به اړوي، ٤٦- نه؛ بلکې د قيامت ساعت ئې وروستی موعد دئ او دا ساعت ستر آفت او ډېر تريخ ساعت دئ، ٤٧- يقيناً چې مجرمين په تېروتني او لېونتوب کې دي، ٤٨- کومه ورځ چې په اور کې پرمخې کش کړی شي، (ورته وبه ويل شي:) د دوزخ (د لمبو) رسېدنې خوند وڅکئ!!

(٤٣-٤٨)- په دې مبارکو آیتونو سره د خطاب مخ د قریشو په لوري اوړي او ورته ویل کېږي:

- آیا ستاسو کافران تر هغو غوره دي چې په مخکینیو آیتونو کې د دوی سپېره برخلیك ستاسو مخي ته کښېښودل شو، له کومه پلوه غوره دي، له اخلاقي پلوه، له فکري پلوه، له مذهبي پلوه، د تګلاري او کړنلاري له پلوه، آیا دوی هغوی ته ورته نه دي؟
- آیا په کوم الهي کتاب کې مو لوستلي چې تاسو به له هغه برخلیك سره نه مخامخ کېږئ چې مخکیني ورسره مخامخ شول؟ د برائت دا سند کوم دئ؟
- یا پر خپل زور ځواك غره شوي یئ او وایئ: موږ مضبوط او برلاسي او یو د بل مرستندوی ټولی یو، هیڅوك ماته نه شي راکولی؟!!
- په هغه شئ چې دا مغرور ټولی به هرومرو ماته خوري او شاګاني به اړوي.
- نه؛ یوازي دا کافي نه ده چې له ماتې سره به مخامخ کېږي او د مبارزې له ډګر به تښتي بلکې د دوی د تعذیب وروستی موعد د قیامت ساعت دئ، هغه ساعت چې هیبتناك او ستر آفت دئ او ډېر تریخ ساعت.
- یقیناً چې دا مجرمین په تېروتني او لېونتوب کې دي، هغه مهال به په دې حقیقت پوه شي چې د دوزخ په اور کې پرمخي کش کړی شي؛ او ورته وویل شي: د دوزخ د هغو لمبو خوند وڅکئ چې پر تاسو راتاو دي!!
- آیا پوهېږئ چې دا مبارك آیتونه د قریشو او مسلمانانو تر منځ له لومړۍ نښتي نژدې ُوه کاله وړاندي نازل شوي وو، هغه مهال د مسلمانانو وضعیت داسي وو چې په مکې کې ئې د ټېکې او امن ځای نه درلود، ټوله مکه ورته د اور د کندي په څېر ګرځېدلې وه، ځینې وژل کېدل، ځینې زنداني کېدل او په درو وهل کېدل او ځینې هجرت ته مجبورېدل، ښایي ډېرو به پر دې وینا خندلي وي چې د قریشو مغرور ټولی به هرومرو ماته خوري او شاګاني به اړوي، خو د بدر په میدان کې دا الهي وړاندوینه تر سره شوه، د قریشو لوی او مجهز لښکر ماته وخوړله او د جګړې له میدان داسي تښتېدل لکه چې په دې آیت کې راغلي.

إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ ﴿٤٩﴾ وَمَآ أَمۡرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٞ كَلَمۡحِۭ بِٱلۡبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَآ أَشۡيَاعَكُمۡ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ شَيۡءٖ فَعَلُوهُ فِي ٱلزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَكُلُّ صَغِيرٖ وَكَبِيرٖ مُّسۡتَطَرٞ ﴿٥٣﴾

٤٩- یقیناً چې موږ هرڅه له ټاکلي تقدیر سره سم پیدا کړي، ٥٠- او زموږ امر یوازي

يو ځل او داسې وي لکه د سترګې يو وار رپول، ٥١- او يقيناً چې موږ ستاسو مخکيني امثال (سيالان) هلاك کړي نو آيا کوم عبرت اخيستونکی شته؟! ٥٢- او هر هغه څه چې دوی کړي په (عمل) پاڼو کې دي، ٥٣- او هر وړو او لوی (عمل) ليکل شوی دئ.

(٤٩-٥٣)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- الله تعالی د دې عالم هرڅه له ټاکلي تقدير سره سم پيدا کړي، هر څه ټاکلی پيل او پای لري، د دې عالم پيل او پای هم ټاکل شوی، قيامت به هرومرو راځي خو په خپل ټاکلي وخت به راځي، نه وړاندې کېږي او نه وروسته کېدی شي، تلوار مه کوئ، په راتلو کې ئې ځنډ د هغه ثابت الهي سنت له مخې دئ چې هر څه ته ئې خاص تقدير ټاکلی.
- د الله تعالی امر يو ځل وي، ډېر لنډ، دومره لکه د سترګې يو رپ، په همدې امر سره هر کار تر سره کېږي، د قيامت په راتلو کې ځنډ له دې کبله نه دئ چې الله تعالی وخت ته ضرورت لري، د (کن) په اندازه لنډ امر ئې کافي دئ چې د قيامت ستره پېښه رامنځته شي، د ځنډ وجه دا ده چې الله تعالی د هر څه لپاره مقدرات ټاکلي.
- الله تعالی ستاسو پخواني امثال او سيالان هلاك کړل، آيا د يوه عقلمن انسان لپاره دا کافي نه ده چې هم د دنيا په مکافات او مجازات باور وکړي او هم د آخرت؟!!
- هر هغه څه چې دوی کړي د دوی په عمل پاڼو کې درج دي او هر وړو او لوی عمل ليکل شوی دئ، د همدغو عملپاڼو له مخې به هر چا ته سزا او جزاء ورکول کېږي.

إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَنَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِى مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍۭ ﴿٥٥﴾

٥٤- يقيناً چې متقيان به په جنتونو او ويالو کې وي، ٥٥- د رښتينولې په ناستځای کې؛ د مقتدر ټولواك خوا ته.

(٥٤-٥٥)- دا مبارك آيتونه د سورې ښکلې تتمه ده، د سورې له ټولو مطالبو سره ژور ارتباط لري، سوره په دې آيت پيل شوې چې قيامت رانژدې شوی، د سپوږمۍ چاودېدا ئې څرګنده نښه ده، په ټولې سورې کې همدا موضوع له يوه او بله اړخه او په اغېزناکو الفاظو او قانع کوونکو دلائلو سره څېړل شوې او دا دئ د سورې په پای کې ويل شوي چې متقيان به په جنتونو او ويالو کې وي، داسې جنتونه چې تر ونو او بنګلو لاندې به ئې ډول ډول ويالې بهېږي، په هغه مقام کې چې د رښتينولې او رښتينو لپاره غوره شوی، مقتدر ټولواك ته نژدې.

الرحمن

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الرحمن) دئ چې همدا سوره پرې پیل شوې، که څه هم دا یوازې نوم دئ خو د سورې له مضامینو سره هم ژور ارتباط لري ځکه د سورې له سر تر پای پورې د رحمن رب ګڼ شمېر پېرزوینو او نعمتونو ته د مخاطب پام رااړوي، له دې پلوه دا نوم د سورې لپاره ښکلی او موزون عنوان هم دئ. ۷۸ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (الرحمن) ته ورته دي، ځینې ئې د لسم آیت د (انام) په څېر دي خو دا هم الرحمن ته نژدې وزن لري، دوه آیتونه ئې په (نار) او (فخار) پای ته رسېدلې چې دا هم انام ته ورته غږ او وزن لري، دغو هموزنو فواصلو سورې ته دومره ښکلی او په زړه پورې غږ او وزن ورکړی چې بېلګه ئې نه د انساني ادب په تاریخ کې موندلی شو او نه په کوم بل الهي کتاب کې، د آیتونو اوږدوالی ئې لنډ او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په لومړیو کلونو کې نازل شوي.

د دې مبارکې سورې د بحث محوري موضوع هغه ستر ستر نعمتونه دي چې رحمن رب پر انسان پېرزو کړي، د نعمتونو د معرفې لړۍ له دې پیل شوې چې الله تعالی انسان ته د قرآن سپېڅلی کتاب وښودو، دا ښیي چې لومړی او تر ټولو ستر نعمت د دې قرآن ښودنه ده، داسې ستر نعمت چې هیڅ څه ورسره برابري نه شي کولی، دا نعمت له انسان په واقعي معنی اشرف المخلوقات جوړوي، له دې پرته انسان د نورو ژوو په څېر یو حیوان دئ؛ او که دا قرآن د ده لارشود نه وي داسې حیوان ترې جوړېږي چې تر ټولو حیواناتو به زیات تېروتی او لار ورکی وي.

ورپسې د انسان پیدایښت راغلی او د دې معنی دا ده چې دوهم ستر نعمت د انسان پیدایښت دئ، د انسان پیدایښت په خپلې اوسنۍ بڼې او له دغو استعدادونو سره بل ستر نعمت دئ، انسان له داسې جوړښت سره پیدا شوی چې په ټولو مخلوقاتو کې ئې ده ته ځانګړتیا او پر ټولو ئې ده ته فضیلت او لوړتیا ورکړې، د انسان پیدایښت د ټول عالم د خلقت لوړه څوکه ده، هیڅ څه ورسره سیالي نه شي کولی، تر قرآن وروسته د انسان خلقت ته اشاره ښیي چې تر قرآن وروسته د خالق رب ستره معجزه د انسان پیدایښت دئ.

بيا انسان ته د بيان ښودنه په درېيمه درجه کې ستر نعمت ګڼل شوی، انسان ته ئې بيانول ورښودلي، داسي ئې پيدا کړی چې کولی شي د خپل زړه وينا او د خپل ذهن افکار نورو ته بيان کړي، له ژبې، قلم؛ او ډول ډول نورو طريقو او وسائلو په استفادې سره کولی شي خپله وينا بيان او نورو ته انتقال کړي، دا استعداد او په هغه کچه چې انسان ترې برخمن دئ بل هيڅ مخلوق ته نه دئ ورکړی شوی، د انسان له پيدايښت وروسته تر ټولو ستر نعمت دا دئ چې انسان ته ئې د بيان ځانګړتيا بخښلې، ورپسې د نورو نعمتونو درجه په درجه يادونه کېږي، په آسمان او زمکې کې او په دنيا او آخرت کې، سوره په دې پای ته رسي چې وايي: دا ستر ستر نعمتونه د هغه مهربان رب له لوري د انسان په برخه شوي چې د جلال او اکرام خاوند دئ، ټول برکتونه د ده له مبارك نامه سره غوټه شوي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلرَّحْمَٰنُ ۝١ عَلَّمَ ٱلْقُرْءَانَ ۝٢ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ ۝٣ عَلَّمَهُ ٱلْبَيَانَ ۝٤

١- آ ډېر ډېر مهربان، ٢- ښودلی ئې قرآن، ٣- پيدا ئې کړ انسان، ٤- ورزده ئې کړ بيان

(١-٤)- په دې مبارکو آيتونو کې د رحمن رب څو ستري ستري پېرزويني او نعمتونه زمونږ په وړاندې ځليږي:

- دا قرآن ئې ښودلی، د انسان لپاره لومړی او تر ټولو ستر نعمت د دې قرآن ښودنه ده، داسي ستر نعمت چې هيڅ څه ورسره برابري نه شي کولی، دا نعمت له انسان په واقعي معنی اشرف المخلوقات جوړوي، له دې پرته انسان د نورو ژوو په څېر يو حيوان دئ؛ او که دا قرآن د ده لارښود نه وي داسي حيوان ترې جوړېږي چې تر ټولو حيواناتو به زيات تېروتی او لار ورکی وي.
- انسان ئې پيدا کړی، د انسان پيدايښت په خپلې اوسنۍ بڼې او له دغو استعدادونو سره بل ستر نعمت دئ، انسان له داسي جوړښت سره پيدا شوی چې په ټولو مخلوقاتو کې ئې ده ته ځانګړتيا او پر ټولو ئې ده ته فضيلت او لوړتيا ورکړې، د انسان پيدايښت د ټول عالم د خلقت لوړه څوکه ده، هيڅ څه ورسره سيالي نه شي کولی، تر قرآن وروسته د انسان خلقت ته اشاره ښيي چې تر قرآن وروسته د خالق رب ستره پېرزوينه د انسان پيدايښت دئ.
- انسان ته ئې بيانول ورښودلي، داسي ئې پيدا کړی چې کولی شي د خپل زړه وينا او د

خپل ذهن افکار نورو ته بیان کړي، په ژبه، قلم؛ او له ډول ډول نورو طریقو او وسائلو په استفادې سره کولی شي خپله وینا بیان او نورو ته انتقال کړي، دا استعداد او په هغه کچه چې انسان ترې برخمن دئ بل هیڅ مخلوق ته نه دئ ورکړی شوی، د انسان له پیدایښت وروسته تر ټولو ستر نعمت دا دئ چې انسان ته ئې د بیان ځانګړتیا بخښلې، آیا پوهیږئ چې دا څومره ستر نعمت دئ او که انسان ته دا ځانګړتیا نه وی ورکړی شوې د ده حالت به څنګه وو او د دې عالم حالت څنګه؟!! د انسان ټوله پوهه او علم، تجارب او تحقیقات به له ده سره پاته کېدل او بل ته به ئې له انتقال عاجز وو، په دې عالم کې چې انسان کوم تصرفات کړي د دې یوه وړه برخه به هم ورته ممکنه نه وه، زموږ ننني علم د ټولو هغو علومو او تجاربو مجموعه ده چې انسان د خپل پیدایښت له لومړۍ ورځې تر نن پورې زده کړي، یوه بل ته بیان کړي او تر موږ پورې رارسېدلي، موږ ته به دا هم ممکن نه وو چې قرآن زده کړو او نورو ته ئې بیان کړو.

دې ته مو پام وي چې په اصل کې د دغو نعمتونو د بیان طبیعي ترتیب داسې دئ: انسان ئې پیدا کړی، بیانول ئې ورښودلي، د قرآن ښودنه ئې وکړه، ځکه الله تعالی لومړی انسان پیدا کړی بیا ئې هغه ته د بیان ملکه ورکړې او بیا ئې قرآن ورښودلی، خو د دې لپاره چې قرآن تر ټولو نعمتونو ستر نعمت دئ نو ځکه ئې دلته د نعمتونو اهمیت او ارزښت ته په پام سره لومړی د قرآن یادونه کړې.

ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ بِحُسۡبَانٖ ۝٥ وَٱلنَّجۡمُ وَٱلشَّجَرُ يَسۡجُدَانِ ۝٦ وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ ٱلۡمِيزَانَ ۝٧ أَلَّا تَطۡغَوۡاْ فِي ٱلۡمِيزَانِ ۝٨ وَأَقِيمُواْ ٱلۡوَزۡنَ بِٱلۡقِسۡطِ وَلَا تُخۡسِرُواْ ٱلۡمِيزَانَ ۝٩

٥- دا لمر او دا سپوږمۍ؛ حساب سره روان، ٦- که بوټي دي که وني؛ په سجده دي په هر آن، ٧- آسمان ئې دئ لوړ کړی؛ وضع کړی ئې میزان، ٨- چې تېری په کې ونه کړئ له میزان، ٩- او انصاف وکړئ تللو کې او کم نه کړئ اوزان.

(٥-٩)- په دې مبارکو آیتونو کې دا ستر ستر نعمتونه زموږ په وړاندې ښودل شوي:

- لمر او سپوږمۍ داسې پیدا شوي چې له دقیق حساب سره سم خوځي، تاسو به حتماً پوهیږئ چې په دې عالم کې زموږ لپاره د لمر او سپوږمۍ اهمیت او ارزښت څومره دئ، که لمر نه وی نو نه به شپه او ورځ وه، نه د زمکې پر سر انسان او نور ژوي او نه وني او بوټي او د انسان د رزق او روزي توکي، همدا لمر دئ چې زموږ زمکې ته رڼا او تودوخه ورکوي او

موږ ته د زمکې پر سر د ژوند ضروري شرائط برابروي.

• بوټي او وني په سجده لګيا او د خپل رب په وړاندي مطيع او منقاد، همغه کار کوي چې الله تعالى پرې ګمارلي، شپه ورځ په بشپړ انقياد سره لګيا دي انسان ته دانه او مېوه جوړوي؛ او دا هغه څه دي چې د انسان ژوند ورپوري تړلى دئ، دې ته مو پام وي چې الله تعالى لومړى د زمکې پر سر ټول هغه ضروري توکي پيدا کړي چې انسان ورته ضرورت لري، د ژوند شرائط ئې ورته برابر کړي او په پاى کې ئې انسان پيدا کړى، خو دلته د نعمتونو ارزښت او اهميت ته په پام سره د ونو او بوټو يادونه وروسته شوې. دې ته مو هم پام وي چې دلته د النجم په اړه دوه تعبيرونه زموږ مخي ته راځي، ځينو په خپلې معروفې معنى (ستورى) تعبير کړى او ځينو د هغه بوټي په معنى چې ساق او تنه نه لري او پر زمکه پروت وي، په اصل کې دا نوم د همداسي بوټو لپاره وضع شوى وروسته ستوري په همدې نامه ياد شوي، د دوى استدلال دا دئ چې دلته النجم او الشجر څنګ په څنګ راغلي او د نظم تقاضا دا ده چې دا دواړه سره ورته شيان دي، غوره تعبير همدا دوهم تعبير دئ، د آيت له سياق او سباق سره همدا تعبير مناسب برېښي. البته د ستورو د سجدې په اړه په قرآن کې بل ځاى يادونه شوې او د لمر او سپوږمۍ په څنګ کې:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسْجُدُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلْجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ ٱلْعَذَابُ ۗ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكْرِمٍ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿١٨﴾ الحج: ﴿١٨﴾

آيا پام دي نه دئ چې الله ته ټول هغه څه سجده کوي چې په آسمانونو او زمکې کې دي، لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، وني، حيوانات او ډېرى خلك؛ او په ډېرو ئې عذاب محقق شوى؛ او الله چې څوك سپك کړي نو هغه هيڅ عزت ورکوونکى نه لري، (هيڅوك اکرام او عزت نه شي ورکولى)، يقيناً چې الله همغه څه کوي چې وئې غواړي.

لکه چې ګورئ دلته د ستورو يادونه د لمر او سپوږمۍ په خوا کې راغلې او د ونو يادونه د ژوو او انسانانو په څنګ کې.

• آسمان ئې لوړ کړ، داسي چې د زمکې پر سر زموږ د کور لپاره د لوړ چت په څېر وي، آسمان له زمکې سره هممهال پيدا شوى خو لوړول، تسويه او برابرول ئې وروسته تر سره شوې، د آسمان دا جوړښت زموږ او زموږ د زمکې پر سر کور لپاره دومره ارزښت لري چې له دې پرته د زمکې پر سر نه د انسان ژوند ممکن وو او نه د نورو ژوو، په نورو ستورو او اجرامو کې د ژوند امکانات ځکه نشته چې زموږ د زمکې په څېر ځانګړى آسمان نه لري.

دې ته مو پام وي چې قرآن کله د زمکې پر سر نژدې فضاء د آسمان په نامه یادوي، کله د ستورو موقعیت او کله تر ټولو ستورو بره فضاء.

• میزان ئې وضع کړ، یعني الله تعالی په دې عالم کې ځانګړی توازن او تعادل رامنځته کړی، هر لوري ته چې سترګې واړوئ نو د دې توازن او تعادل مظاهر به وګورئ، د عالم هر څه د یوه عادلانه نظام مطابق دي، که په دې وضع شوي الهي تعادل او توازن کې معمولي تغییر راشي دا عالم له منځه ځي، نه یوازي د انسان ژوند په دې تعادل پوري تړلی دئ بلکې د ټول عالم بقاء ورپوري تړلې ده. د ستورو تر منځ د جذب او فرار ځواکونه داسې متعادل دي چې په نتیجه کې ئې هر ستوری په خپل خپل مدار کې خوځي او یو بل نه شي جذبولی، د زمکې د تودوخې او یخني درجه داسې ساتل کېږي چې نه تر اندازې زیاته توده شي او نه زیاته سړه، د شپې او ورځې تر منځ دا تعادل مراعات شوی چې زمونږ خوا ته د هرې یوې پاته کېدا د ضرورت په اندازه وي، د انسان جوړښت هم له فزیکي او مادي پلوه متعادل دئ او هم له معنوي پلوه، دوه سترګي، دوه غوږونه، دوه لاسونه، دوه پښې؛ او د بدن نور غړي ئې متوازن پیدا شوي، معمولي تغییر دا توازن له منځه وړي، په ژړا او خندا کې ئې، په رحم او قهر کې ئې، په مینې او نفرت کې ئې او په نورو فطري خصلتونو کې ئې تعادل مراعات شوی.

• د میزان او عدل د دې عام الهي سنت تقاضا دا ده چې انسان په میزان کې تېری ونه کړي، هر تېری ئې د ټول عالم له حاکم نظام او ضابطې د سرغړاوي او انحراف په معنی دئ، بغاوت دئ، له سمې لارې کږېدل دي، پایله ئې داسې لکه چې کوم ستوری له خپل مدار منحرف شي او وغورځي.

• او وزن په عدالت سره قائم کړئ او په میزان کې نقصان مه کوئ، کله چې تلل او پیمانه کول کوئ نو عدالت مراعات کړئ، څه له خپل جائز حد او حق مه کموئ. دې ته مو پام وي چې تلل او پیمانه کول یوازې په مادي شیانو او پېر پلور کې نه وي؛ د دې نطاق پراخ دئ او د انسان ټولو تصرفاتو او قضاوتونو ته غځېږي، معنی ئې دا ده چې په خپلو ټولو تصرفاتو او قضاوتونو کې عدل او قسط مراعات کړو، دې ته مو هم پام وي چې میزان هم د تللو وسیلې ته ویل کېږي، هم تللو ته او هم تلل شوي ته.

وَٱلْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ ﴿١٠﴾ فِيهَا فَٰكِهَةٌ وَٱلنَّخْلُ ذَاتُ ٱلْأَكْمَامِ ﴿١١﴾ وَٱلْحَبُّ ذُو ٱلْعَصْفِ وَٱلرَّيْحَانُ ﴿١٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٣﴾

۱۰- او دا زمکه ئې ده جوړه لپاره د انام؛ هر ساکښ حیوان ۱۱- وني د مېوو په کې او

وني د خرما؛ پوښلې په شه شان ١٢- بوټي د دانو؛ او (د خوږو وړمو) ریحان ١٣- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟

(١٠-١٣)- په دې مبارکو آیتونو کې دا ستر ستر نعمتونه د انسان په وړاندې ځلېږي:

- الله تعالی زمکه داسې جوړه کړې چې ټول ژوي په خپلې غېږ کې وساتي او اړتیاوې ئې رفع کړي، په هغې کې د کجورو په شمول ډول ډول مېوې دي، د ټولو حفاظت شوی، پوټکي وراغوستل شوي، ځینو ته نازك او نرم پوټکي او ځینو ته پرېږ او کلك، له دوړو، میکروبونو او مضرو حشراتو ئې ساتي.
- په زمکې کې ئې د ژوو د اړتیا وړ داسې بوټي پیدا کړي چې هم دانې لري او هم واښه؛ او هم شه وړمه.
- قرآن له خپل مخاطب؛ انسان او پېرې پوښتنه کوي: نو تاسو دواړه د خپل رب له کوم کوم نعمت انکار کوئ. آیا دا هر نعمت یوازې یوازې کافي نه دئ چې پر خپل منعم رب ایمان راوړئ او د هغه له لوري ئې وګنئ؟!! څنګه به انکار کوئ او د دې کرکجن انکار لپاره به څه دلیل او توجیه وړاندې کوئ؟

خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ كَٱلۡفَخَّارِ ١٤ وَخَلَقَ ٱلۡجَآنَّ مِن مَّارِجٖ مِّن نَّارٖ ١٥ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ١٦

١٤- له خټې کړنګېدونکې؛ په شاني د کودړې ئې پیدا کړ دا انسان، ١٥- د اور له سرو لمبو ئې پیدا کړي دا پېریان ١٦- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟

(١٤-١٦)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- الله تعالی انسان له (صلصال کالفخار) پیدا کړی، صلصال هغې کلکې شوې خټې ته وایي چې کړنګېږي او فخار کودړې ته ویل کېږي، نو د دې آیت معنی دا ده چې الله تعالی انسان له داسې توکي پیدا کړی چې کودړې ته ورته وو، همدا د ده د پیدایښت لومړۍ ماده وه، داسې لکه چې جن ئې د اور له بې دوده لمبې پیدا کړی، د ده د پیدایښت اصلي ماده صلصال ده، دغسې لکه د جن د وجود اصلي ماده چې اور دئ، یعني د انسان د وجود لومړنۍ ماده په سر کې صلصال وه، خاوره شوه، خټه شوه او الله تعالی تر ې انسان جوړ کړ. داسې نه دي ویل شوي چې دی ئې صلصال کړی او بیا ئې روح په کې پو کړې. د دې تفصیل د الحجر سورې د (٢٦-٢٧) آیتونو په تفسیر کې وګورئ.

• قرآن چې د انسان د پیدایښت د مختلفو پړاوونو او حالتونو په اړه څه ویلي؛ علم نن همدا خبره کوي او همغه څه وایي چې قرآن ویلي، علم وایي: زمکه په لومړي سر کې داسې سره او توده وه لکه لمر، دا تودوالی ئې ورو ورو لږ شوی او اوسنی حالت ئې غوره کړی، له ابتدائي سړېدو وروسته د زمکې سر داسې کلك او ډبرین وو لکه د اورشیندو (آتش فشان) په نتیجه کې چې د زمکې له زړه ویلي مواد راووځي، ساړه او کلك شي، (صلصال) ترې جوړ شوی، د زمکې دا ډبرین قشر د بارانونو له کبله ورو ورو په خاوره بدل شوی، بارانونو دا خاوري د زمکې ژورو سیمو ته انتقال کړې، لکه څنګه چې ګورو غرونه او لوړي تیږي او ډبري دي او آواره په خاورو پټه شوې، تر دې خاوري لاندې همغه ډبرین قشر دئ، چې د چاودلو په نتیجه کې ئې زلزلې رامنځته کېږي، دا خاوره په بوی ناکې خټې بدله شوې او دغه مهال د ژوو د پیدایښت لپاره مناسب او ضروري شرائط برابر شوي او الله تعالی د ټولو ژوو لومړۍ نطفه او بیا لومړۍ جوړه دغه مهال پیدا کړې.

رَبُّ ٱلۡمَشۡرِقَيۡنِ وَرَبُّ ٱلۡمَغۡرِبَيۡنِ ﴿١٧﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٨﴾

۱۷- رب د دوو ختیځو؛ رب د دوو لوېدیځو ۱۸- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟

(۱۷-۱۸)- په دې مبارکو آیتونو کې مشرقین او مغربین د الله تعالی د سترو نعمتونو په توګه معرفي شوي او انسانانو او پېریانو ته ویل شوي: نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ. باید وګورو چې د مشرقین او مغربین معنی څه ده او دا له کومه پلوه نعمتونه دي، که د لمر راختو ته ځیر شو نو ګورو چې لمر هره ورځ له یوه خاص ځای راخرګند او په یوه خاص ځای کې غائب شي، دا راختل او پرېوتل هره ورځ تر بلي توپیر لري، په کال کې یو ځل په ژمي کې سږ لاس ته په آخري ځای کې راخېژي او بل ځل په دوبي کې کېږ لاس ته په آخري ځای کې راخېژي، همداسي په ژمي او دوبي کې د لوېدو دوه آخري ځایونه سږ او کېږ لوري ته لري، د همدې لپاره قرآن کله ختیځ او لوېدیځ په مفرده توګه د مشرق او مغرب په نامه، کله د مشرقین او مغربین په صیغه او کله د مشارق او مغارب د جمع په صیغه یادوي. د همدغه تغییر له کبله په زمکې کې کله ژمی وي، کله پسرلی، کله دوبي او کله منی؛ او په همدې سره د زمکې پر سر د ژوو لپاره د ژوند شرائط برابر شوي، که دا نه وی نو د زمکې پر سر ژوند ممکن نه وو، د قرآن د دغې وینا په اهمیت هغه څوك سره پوهېږي چې د زمکې د هوا او موسم پر څرنګوالي د دې مشرقینو او مغربینو له ژور اغېز خبر وي، یقیناً چې د قرآن دا وینا زمور پر وړاندې یو ستر حقیقت او ژوره علمي

وينا اېښې.

مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ يَلۡتَقِيَانِ ﴿١٩﴾ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٞ لَّا يَبۡغِيَانِ ﴿٢٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢١﴾ يَخۡرُجُ مِنۡهُمَا ٱللُّؤۡلُؤُ وَٱلۡمَرۡجَانُ ﴿٢٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٣﴾

۱۹- دا دواړه سمندر چې ده پرېښي؛ څنګ په څنګ روان ۲۰- تر منځ ئې داسي ټرانګه چې يو نه شي رسولی بل ته زيان ۲۱- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ۲۲- له دوی دواړو راوځي مرغلري او مرجان. ۲۳- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟

(۱۹-۲۳)- دلته څو خبري توجه او دقت غواړي:

• په شلمي پېړۍ کې او هغه مهال چې انسانان وتوانېدل ستري ستري او سريع بېړۍ جوړې کړي او د سمندر ډېرې برخې تر خپل واك لاندې راولي، د زمکې هغو سيمو ته ورسېږي چې د واورو او کنګلونو سترو سترو غرونو پوښلې دي، شمالي او جنوبي قطبونو ته ورسېږي، په بحر کې ئې داسي سيمي ومونډې چې دوه ښپل ښپل سمندرونه يو د بل خوا ته پراته دي، د يوه اوبه مالګيني او تروې او د بل خوږې او خوندوري، تر منځ ئې د اوبو داسي پرده او حجاب چې دوی سره ښپل ساتي او د يوه اوبه په بل کې نه ننوځي، په هر يوه کې ئې د ژوو داسي ښپل ښپل ډولونه ومونډل چې د بل اوبو ته له ننوتو ډډه کوي، دا يو عجيب کشف وو، ساينسپوهانو پرې تحقيقات پيل کړل چې وګوري د دې بحرونو منشأ څه ده او د بېلوالي وجه ئې څه، ورته معلومه شوه چې اساسي عوامل ئې دوه دي: ۱- د تودو سيمو سمندرونه د تودوخې له کبله تبخير کېږي، د اوبو بخارات لوړ ځي، د اوبو د برنې برخې د املاح (ډول ډول مالګو) کچه او تريووالی او تيزابيت ئې ورو ورو زياتېږي، له لوړو چې دغو بحرونو ته د دريابونو له لاري کومي اوبه راځي له ځان سره ډېر املاح راانتقالوي او ورځ په ورځ د بحر د املاح او مالګو کچه زياتوي. ۲- د واوري کوم غرونه چې د زمکې په شمالي قطب کې دي او په دوبي کې ورو ورو ويلي کېږي، د دې ويلي شوې واوري اوبه د عادي اوبو په څېر خوندوري وي او هيڅ تريووالی نه لري، دا اوبه د سمندر د نورو سيمو په لوري خوځېږي، هلته د دغو اوبو او د سمندر د اوبو تر منځ د داسي اوبو يوه اوږده ګاره جوړېږي چې د کثافت او تريووالي کچه ئې د دواړو لوريو اوسط اندازه کې وي، نه د بحر د اوبو په څېر ډېرې تروې او نه د ويلي شوو واورو د صافو اوبو په څېر

خوندوري، دا ګاري دا دواړه تروې او خوندوري اوبه سره ښلوي، د اوبو په دغو دريو ښلو ښلو ډولونو کې د ژوو ښل ښل ډولونه ژوند کوي!!

- همدا راز کوم لوی لوی دريابونه چې په سمندر کې توئېږي، تر اوږدې مسافې پورې همداسې وړاندي درومي او د خپلو اوبو کيفيت او خوند له لاسه نه ورکوي، د مثال په توګه د امازون درياب له هغه وروسته چې د اطلس سمندر ته رسېږي نو نژدې دوه سوه کيلومترو پورې په سمندر کې وړاندي درومي او تر همغه ځايه د خپلو اوبو د خوند کيفيت خوندي ساتي. د علمي تحقيقاتو له دې وينا وروسته راشئ وګورو چې قرآن په دې مبارکو آيتونو کې په دې اړه څه ويلي،
- لکه چې ګورئ په پورتني مبارکو آيتونو کې د بحرونو د پيدا کولو (خلق) او جوړولو (جعل) پر ځای د (مرج) لفظ کارول شوی چې د پرېښودو معنی ورکوي، يعني الله تعالی دا دوه بحرونه په داسې حال کې پرېږدي چې د يوه اوبه په بل کې فوراً ګډې او خلط نه شي، تر منځ ئې پرده او مانع راپيدا کړي او هر يو خپله ځانګړتيا تر اوږدې مودې خوندي ساتي.
- دا نظام په مجموع کې د الله تعالی يو لوی نعمت دئ، د اوبو د تصفيې نظام، د سمندر په خوږو او تروو اوبو کې د بحري حيواناتو ښل ښل ډولونه، دومره چې له سمندر د انسان د خوراکې توکو تر ټولو ستره ذخيره جوړه شوې، قيمتي کانۍ، مرجان چې له يوه بحري حيوان تر لاسه کېږي.
- په سيندونو او بحرونو کې نه يوازې مرغلري او مرجان موندل کېږي بلکې نوري قيمتي تيږي هم موندل کېږي، علمي تحقيقات ښيي چې قيمتي ډبري د زمکې په هغې منځنۍ برخې کې جوړېږي چې د حرارت او فشار درجه ئې ډېره لوړه وي، دغه توکي د چاودنو او اورشيندو په وسيله د زمکې له زړه بهر راغورځېدلي، نو ځکه د غرونو په لوړو کې موندل کېږي، د غرونو له لوړو د نهرونو له لاري لاندي سيمو ته رارغړي، هغه مهال چې خلکو د کانونو د کيندلو پرمختللي وسائل نه درلودل نو دا قيمتي تيږي ئې په سيندونو کې لټولې او موندلې. يقيناً چې دا هم د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ چې سيندونه ئې د قيمتي ډبرو يوه منبع ښودلې.

وَلَهُ ٱلْجَوَارِ ٱلْمُنشَـَٔاتُ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَـٰمِ ﴿٢٤﴾ فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٥﴾

٢٤- دا د غرو غوندي ستر ستر جوړښتونه ئې په بحر کې روان ٢٥- نو له کوم نعمت د

خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟

(۲۴-۲۵)- په دې او مخکینیو مبارکو آیتونو کې نه یوازې هغه حقیقت ته اشاره شوې چې د دوو بېلو بېلو بحرونو په اړه انسان ته په شلمې پېړۍ کې معلوم شو بلکې د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز هم زمونږ په وړاندې ځلېږي؛ او هغه دا: دومره ستري ستري بېړۍ چې غرونو ته ورته وي، تر شلمې پېړۍ وړاندې نه وې جوړې شوې، په دغې پېړۍ کې داسې کښتۍ جوړې شوې چې د یوه لوی هوائي ډګر په څېر د فوځ یو لوی مجهز غونډ، له ګڼ شمېر جنګي جهازونو، هلیکوپټرو او توپونو سره حمل کوي، یقیناً چې دا د قرآن یوه وړاندوینه وه چې مصداق ئې اوس په خپلو سترګو ګورو، دې حقیقت ته د قرآن په یوه بل آیت کې داسې اشاره شوې:

وَءَايَةٌ لَّهُمْ أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِى ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقْنَا لَهُم مِّن مِّثْلِهِۦ مَا يَرْكَبُونَ ﴿٤٢﴾ يس

او دوی ته یوه څرګنده نښه دا ده چې د دوی زامن مو په ډکې کښتۍ کې سپاره کړل او دوی ته مو دې ته ورته داسې څه (بېړۍ) راپیدا کړې چې پرې سپرېږي.

دلته په ۴۱ آیت کې د نوح علیه السلام کښتۍ ته اشاره شوې او ورپسې په ۴۲ آیت کې داسې کښتیو ته اشاره شوې چې وروسته وروسته به ئې انسانان جوړوي.

او دا یقیناً چې د قرآن یو ستر علمي اعجاز او د رسول الله صلی الله علیه و سلم د نبوت یوه څرګنده نښه ده، ما ته وواېئ: رسول الله صلی الله علیه و سلم څنګه په هغو حقائقو پوه شوی وو چې انسانان څورلس پېړۍ وروسته پرې پوه شول؟ آیا یو عقلمن او منصف انسان کولی شي دا ستر حقیقت له پامه وغورځوي، عادي خبره ئې وګڼي او د رسول الله صلی الله علیه و سلم د نبوت واضح او څرګنده نښه ئې ونه ګڼي؟!!

كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿٢٦﴾ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴿٢٧﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٨﴾

۲۶- فناء کېدونکی دئ هر ژوی چې پر زمکې دئ ۲۷- پاتېږي به ستا رب؛ خاوند دئ د پرتم او د اکرام ۲۸- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟

(۲۶-۲۸)- په دې مبارکو آیتونو کې فناء او بقاء د الهي پېرزوینو په توګه ښودل شوې، دا چې له الله تعالی پرته د عالم هر څه فناء کېږي، د الله تعالی ستر نعمت دئ، د دې وینا په

اهميت هغه مهال ښه پوهېدی شو چې دا حقيقت په پام کې ولرو: الله تعالی هر ژوی د يوې وړې نطفې په بڼې کې پيدا کړي، ورو ورو ئې ستر کړي، د خپل کمال، قوت او نشاط وروستۍ پوړي ته ئې ورسوي، له دې ځايه ئې زوال پيل شي، خپل مأموريت بشپړ کړي، په مرګ محکوم شي؛ او خپل ځای نوي، نشيط او د ودې په حال کې توکې ته پرېږدي، هر زوړ خپل ځای نوي ته پرېږدي، اوس بايد دې ته ځير شو چې که په عالم کې دا الهي نظام نه وی نو د نړۍ وضعيت به څنګه وو!! يوه بېلګه ئې په پام کې ونيسئ، که انسان مرګ نه درلودی له څومره سترو سترو ستونزو سره به لاس او ګرېوان وو، يقيناً چې په زړښت کې مرګ يو نعمت دئ، که داسې نه وی نو زمکه به د پيدايښت په لومړيو کې له زړو ژوو ډکه شوې وه. د فناء په دې عام الهي سنت کې يوه استثناء هم شته، هر څه فناء کېږي خو د ټولو پالونکی رب د تل لپاره باقي وي، همدا الله به انسان بيا راژوندی کوي؛ او د ده هغه هيله به تر سره کوي چې د بقاء په اړه ئې لري، هر انسان له فناء کېدو وېرېږي او د بقاء هيله لري.

يَسْـَٔلُهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِى شَأْنٍ ﴿٢٩﴾ فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٠﴾

٢٩- له ده کاندي غوښتني؛ هر څه چې آسمان کې دي او زمکې؛ لګيا دئ په کارونو؛ هره ورځ؛ هر آن ٣٠- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟

(٢٩-٣٠)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی د زمکې او آسمانونو د ټولو مخلوقاتو اړتياوو ته په خپله ځواب وايي، دی ئې ضرورتونه رفع کوي او اړتياوي ئې پوره کوي.
- د دې عالم هر کار؛ هره شېبه؛ په خپله مالك الملك خدای تر سره کوي، الله تعالی داسې نه دئ چې د دنيا کارونه ئې خپلې مخې ته پرېښي وي او دی هيڅ تصرف په کې نه کوي، بلکې هر کار؛ که ستر وي او که ووړ؛ د ده په اراده، إذن، حکم، قدرت او مخامخ تصرف سره تر سره کېږي، هغه يوه شېبه هم د عالم د چارو له اداري، پالنې او ساتنې نه غافل کېږي.
- دا د رحمن رب ستره پېرزوينه ده چې د ټولو مخلوقاتو اړتياوو ته ځواب وايي او د دوی پالنه او ساتنه کوي او د عالم چاري سمبالوي.

سَنَفۡرُغُ لَكُمۡ أَيُّهَ ٱلثَّقَلَانِ ﴿٣١﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٢﴾

۳۱- ژر به دروزګار شو؛ اې دوه ګونو درانه شیان! ۳۲- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟

(۳۱-۳۲)- په دې مبارکو آیتونو کې څو لارښوونې شوې:

- **انسانان او پېریان د (ثقلان) په نامه یاد شوي، (ثَقَل) هر هغه څه ته وایي چې درونده وي، دلته ترې معنوي دروندوالی مراد دئ، دا دواړه د عالم دوه تر ټولو مهم مخلوقات دي، تر نورو ئې له معنوي پلوه مقام لوړ دئ.**
- **دوی ته په خطاب کې ویل شوي: حتماً به تاسو ته درفارغ شو؛ او همدا د الله تعالی یو بل نعمت ګڼل شوی، مطلب ئې دا دئ چې د عالم دا اوسنی حالت به پای ته ورسېږي، الله تعالی به ټول هغه کارونه متوقف کړي چې اوس د ده په اراده تر سره کېږي، یوازې له هغو سره به معاملې او محاسبې ته فارغ شي چې دلته ئې د ثقلان په نامه یاد کړي (انسانان او پېریان).**
- **یقیناً چې دا د الله تعالی ستر نعمت دئ چې له خپلو بندګانو سره محاسبه کوي، هر چا ته د خپلو کړنو بشپړه بدله ورکوي، هیڅ عمل ئې نه پرېږدي چې ضائع شي او بې بدلې پاته شي. آیا دا د یوې ټولنې لپاره لوي مصیبت او نقمت نه دئ چې هلته محاسبه نه وي، نه له ظالم پوښتنه کېږي او نه د مظلوم غږ اورېدل کېږي، نه هغه ته سزا ورکول کېږي چې د بل پر حقوقو ئې تېرى کړى او نه هغه ته خپل حق مسترد کېږي چې تېرى پرې شوى، د دې په مقابل کې هغه حالت یقیناً چې ستر نعمت دئ چې هر چا ته د خپلو کړنو بشپړه بدله ورکول کېږي او د هیچا هیڅ عمل نه ضائع کېږي او نه بې بدلې پاته کېږي.**

يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ﴿٣٣﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٤﴾ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴿٣٥﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٦﴾

۳۳- اې جمع د پېریانو، انسانانو! د آسمان زمکې له سور که تېرېدئ شئ؛ نو تېر شئ؛ تېرېدی نه شئ؛ مګر په خاص توان. ۳٤- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ۳۵- رالېږی به شي پر تاسو؛ د اور داسي لمبې او داسي ویلي توکي؛ چې

بريالي نه شئ هيڅكله په هيڅ شان. ٣٦- نو له كوم نعمت د خپل رب به انكار كړئ په څه شان؟

(٣٣-٣٦)- په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښوونې ځلېږي:

- انسانانو او پېريانو ته خطاب شوی چې که د آسمانونو او زمکې له قطرونو وتلی شئ نو ووځئ، خو دا وتل درته ممکن نه دي، هغه ځواك چې د دې کار لپاره ضروري دئ په واك کې ئې نه لرئ، که څه هم ځينو درنو مفسرينو د آيت دا برخه داسې تعبير کړې چې گواکې د لازم ځواك په تر لاسه کولو سره کولی شئ چې دا کار وکړئ، خو دې ته ئې توجه نه ده کړې چې په ورپسې آيت کې ويل شوي: فلاتنتصران: غالبېدی نه شئ، حقيقت دا دئ چې نه د آسمان له کنارو وتل ممکن دي او نه د زمکې له منځه له يوه سر بل سر ته وتل.

په دې آيتونو کې د قرآن دوه ستر ستر علمي اعجاز زمونږ مخې ته ځلېږي: يو دا چې وايي: که آسمان ته بر ولاړ شئ نو له داسې بې دوده لمبو سره به مخامخ شئ چې مقابله ئې نه شئ کولی، يعني د آسمان په برنې برخې کې د شهاب ثاقب تېزې او تودې لمبې دومره زياتې او زورورې دي چې تاسو ئې له مقابلې عاجز يئ!! او دا هغه حقيقت دئ چې انسان اوس او هغه مهال پرې پوه شو چې سپوږمۍ او ستورو ته ئې د ختلو لړۍ پيل کړه او متوجه شو چې دا شهاب ثاقب د فضائې سفرونو په وړاندې داسې ستر گواښ دئ چې مقابله ئې نه شي کېدی. يقيناً چې دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ، نن او له ډېرو ژورو تحقيقاتو وروسته انسان ته جوته شوې چې آسمان ته د لوړ تلو په لار کې تر ټولو ستره مانع او خنډ هغه شهاب ثاقب (د اور د لمبو په څېر لوېدونکې آسماني اجرام) دي چې هره شېبه، له هر لوري راغورځي، ځان ترې ساتل او خوندي ترې تېرېدل ممکن نه دي، د دغو لمبو حرارت، سرعت، زور او فشار دومره لوړ وي چې هر څه ويلي کوي او هيڅ څه ئې مخې ته تم کېدی نه شي. دې ته مو بايد پام وي چې انسان تر نن پورې د خپل واړه شمسي نظام څو ستورو ته رسېدلی يا نژدې شوی، تر دې وړاندې تگ يوازې په هغه صورت کې ورته ممکن دئ چې وسيله ئې له شهاب ثاقب سره له تصادم کولو خوندي پاته شي، ښايي ځينو ته به د قرآن د دې آيت له دغې فقرې (لاتنفذون الا بسلطان) دا وهم راپيدا شي چې انسان کولی شي د وسائلو او امکاناتو په مرسته د آسمان له اقطارو ووځي، له يوې خنډې ئې بلې ته ورسېږي او زمکه داسې سورې کړي چې له مرکزه ئې تېر شي او بل لوري ته ووځي!! دا واهمه به ئې هغه مهال يقين ته نژدې شوې وي چې انسان سپوږمۍ ته ورسېدو، خو بايد متوجه وو چې سپوږمۍ زمکې ته تر ټولو نژدې کُره ده، له زمکې ٢٤٠٠٠٠ کيلومتره واټن کې پرته ده، زمونږ لمر دغه تر نورو زمکې ته ډېره نژدې کُره په

دومره واټن کې پروت دئ چې که یو راکټ په ساعت کې ٦٠ کیلومتره لوړ ځي، نو لږ تر لږه ۳۰۰ کاله به شپه او ورځ مزل کوي چې لمر ته ورسېږي!! یوازې د یوه کهکشان قطر دومره اوږد دئ چې یو ارخ له بله څو سوه ملیونه نوري کاله فاصله لري، حال دا چې په آسمان کې زمونږ د ستور لیکې (کهکشان) په څېر نژدې یو سل شل ملیارډه ستور لیکې (کهکشانونه) شته!!

لمر له زمکې پنځه سوه نوري ثانیې فاصله لري؛ او ورپسې تر ټولو نژدې ستوری له زمکې نژدې څلور نوري کلونو واټن کې دئ؛ او نوري کال هغه واټن ته ویل کېږي چې نور ئې په یوه کال کې وهي، په داسې حال کې چې د نور سرعت په هره ثانیه کې درې سوه زره کیلومتره دئ. نو اوس ووایئ: آیا د آسمان له قطر وتل ممکن دي؟

همدا راز د زمکې د منځنۍ مرکزي برخې د تودوخې درجه دومره لوړه ده چې د زمکې ټول فلزات په کې ویلي دي او سوزي، انسان داسې مواد نه شي موندلی چې د دغې لوړې تودوخې په وړاندې مقاومت وکړي او انسان ته له دغه ځایه د تېریدو مجال ورپه برخه کړي.

د دې مبارك آیت بل علمي اعجاز دا دئ چې وایي: که د زمکې له یوه پلوه بل ته د وتلو هڅه وکړئ نو له (نحاس: ویلي شوي مس) سره به مخامخ شئ، یعني د زمکې په منځ او سینه کې هر څه ویلي دي، د تودوخې درجه دومره لوړه ده چې هر څه ئې ویلي کړي، تاسو نه شئ کولی له دې برخې د تېرېدو توان تر لاسه کړئ. او دا هغه څه دي چې ساینس اوس پرې پوه شوی!! د قرآن بل آیت دې مطلب ته داسې اشاره کوي:

ءَأَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يَخۡسِفَ بِكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ﴿١٦﴾ الملك

آیا له هغه چې په آسمان کې دئ له دې پلوه خوندي شوي یئ چې په زمکې کې مو سبخ کړي چې ناڅاپه به بیا خوځي؟

په دې مبارك آیت کې چې د قرآن یو ستر علمي اعجاز زمونږ مخې ته اېښودل شوی څو اساسي مطالبو ته اشاره شوې:

الف: مګر ګمان کوئ دا آواره زمکه چې تاسو ته ئې پر خپلو اوږو ځای درکړی؛ او ستاسو د رزق او روزي د تأمین وسیله ده، همداسې به د تل لپاره ستاسو په خدمت کې وي او دا اوسنی حالت ئې تلپاته، مستمر او ثابت دئ او هیڅکله به تغییر په کې نه راځي؟ مګر له دې هیڅ وېره نه لرئ چې د عالم ټولواك رب له بره دا فرمان صادر کړي چې د زمکې دا آرام او ډاډمن حالت بدل کړي، داسې چې نه نور ستاسو په خدمت کې وي، نه تاسو پر خپلو اوږو یوسي؛ او نه رزق او روزي درکړي، بلکې برعکس ستاسو په هدېرې بدله شي،

تاسو تر خاورو لاندي کړي، سخته خوځېدا او لړزېدا ئې په خپلو سترګو وګورئ؟!! څه شي ډاډه کړي يئ؟ څه شي د داسي حالت له راتلو مطمئن کړي يئ؟ د دې کاذب ډاډ او اطمئنان لپاره څه دليل لرئ؟

ب: په دې آيت کې د خسف: د زمکي کښېناستل او ننوتل له (لړزېدا او خوځېدا) سره يو ځای ذکر شوي، د بيان اسلوب داسي دئ چې ښيي که د زمکي کومي برخي کې خسف رامنځته شي نو لړزېدا به ورپسې وي؛ او دا هماغه خبره ده چې ساينس ئې نن د زمکي د زلزلو د عواملو په اړه کوي.

علمي تحقيقات ښيي چې د زلزلې يو اساسي سبب خسف دئ، وايي چې د زمکي منځنۍ برخه د سختي تودوخي په وجه د خوټېدو په حالت کې ده او هر څه ئې ويلي او ذوب شوي دي، دا توده او ويلي برخه په کلك پوټکي چې کلکي ډبرې ته ورته دئ احاطه شوې، د زمکي پورتنۍ خاورينه برخه د همدې ډبرين پوټکي په ذريعه له منځنۍ برخي بېله شوې، کله چې دا ډبرين پوټکی د زمکي په کومي برخي کې د برني يا داخلي فشار او د نورو عواملو په نتيجه کې مات شي او د زمکي هماغه برخه د مذاب او ويلي موادو د پاسه واقع شي؛ هلته زلزلې پيل شي. کوم مطلب چې په دې آيت کې د خسف او زلزلې په اړه ويل شوی؛ يوازي په تېري پېړۍ کې او له ژورو څېړنو او تحقيقاتو وروسته انسان ته معلوم شو.

همدا راز دا آيت ښيي چې کله زمکه خسف شي نو داسي برخه ئې راڅرګنده شي چې خوځېږي، د زمکي د زړه ويلي او خوځېدونکي توکي راڅرګند شي؛ او دا هغه حقيقت ته په واضح توګه اشاره کوي چې وايي: د زمکي د زړه توکي مذاب او ويلي دي.

په دغه حقيقت چې قرآن څوارلس پېړۍ مخکې ورته اشاره کړې د ساينس نړۍ اوس او په دې وروستۍ پېړۍ کې پوه شوه چې د آسمانونو په لوري او فضاء ته د ختلو په دوران کې به انسان له داسي مشتعل او سوزنده سماوي اجرامو سره مخامخ کېږي چې د اور لمبو ته ورته وي. هماغه څه چې قرآن کريم څوارلس پېړۍ د مخه د (شواظ من نار) په نامه ياد کړي. همدا راز د زمکي زړه ته د نفوذ او ننوتو په صورت کې به انسان د زمکي له بهرني او سور قشر وروسته ورو ورو هغې برخي ته رسېږي چې هلته هر څه د تودوخي د لوړي درجې له کبله ويلي او مذاب دي، چې قرآنکريم ورته (نحاس) ويلي.

دې پوښتني ته بايد ځواب ووايو چې قرآن ولې دې ته د نعمت نوم ورکړی، د آسمان او زمکي دا حالت له کومه پلوه يو نعمت دئ، ځواب ئې څرګند دئ او هغه دا چې د زمکي سر؛ دا د انسان د اوسېدو ځای؛ د دوو داسي موقعيتونو تر منځ واقع دئ چې په يوه کې

ئې شواظ من النار: د اور لمبې دي او په بل کې ئې نحاس: ويلي مس، خو د ده کور له دواړو خوندي ساتل شوی.

فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتۡ وَرۡدَةٗ كَٱلدِّهَانِ ﴿٣٧﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٨﴾ فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يُسۡـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ إِنسٞ وَلَا جَآنّٞ ﴿٣٩﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٠﴾ يُعۡرَفُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ بِسِيمَٰهُمۡ فَيُؤۡخَذُ بِٱلنَّوَٰصِي وَٱلۡأَقۡدَامِ ﴿٤١﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٢﴾ هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٤٣﴾ يَطُوفُونَ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَ حَمِيمٍ ءَانٖ ﴿٤٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٥﴾

۳۷- نو چې وچوي آسمان؛ او شي داسي سور رنګی؛ لکه غوړ چې وي غليان ۳۸- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ۳۹- نو دا ورځ به پوښتی نه شي؛ له خپل جرم؛ نه انسان او نه پيريان ٤٠- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٤١- له څېرو به پېژندی شي؛ له پښو او له وېښتانو به نيوی شي مجرمان. ٤٢- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٤٣- دا هغه دوزخ دئ چې منکر وو ترې همدغه مجرمان ٤٤- د دوزخ او جوش اوبو تر منځ به چورلې مجرمان. ٤٥- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟

(۳۷-٤٥)- په دې مبارکو آيتونو کې د قيامت د دوو مرحلو ځيني حالات انځور شوي او وايي:

- کله چې آسمان وچوي، د دې چاودنې له کبله به ئې رنګ تك سور شي او هر څه به ئې داسي ويلي شي لکه سره غوړي، د دې وينا په اهميت او علمي ابعادو هغه څوك پوهېږي چې د سترو سترو تلسکوپونو له لارې ئې د ستورو چاودل او په آسمان کې ستري ستري چاودنې ليدلې وي، هغه شه پوهېږي چې د يوه ستوري چاودل دومره ستر وي لکه څو زره ځواکمن اتمي بمونه چې وچوي، هغه پوهېږي چې که آسمان وچوي او ستوري په خپلو کې تصادم وکړي څه حالت به رامنځته کېږي، قرآن په دغو مختصرو الفاظو کې هغه حالت په ډېره دقيقه توګه انځور کړی، ټول آسمان به د سور رنګي ګل په څېر تك سور واوړي او د آسمان ټول اجرام به د لوړي تودوخي له کبله ويلي شي، خو دا چې ورپسې ويل شوي: نو

تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ، دا حالت له کومه پلوه د الله تعالی یو نعمت ګڼل کېدی شي ځواب ئې دا دئ چې الله تعالی نن دا آسمان نه یوازې له داسې چاودلو خوندي ساتلی بلکې هغه ئې ستاسو د کور خوندي چت ګرځولی.

- د قیامت په دوهم پړاو کې به خلك د الله تعالی په وړاندې محاسبې ته حاضر کړی شي، دا محاسبه به داسې وي چې نه به کوم انسان د خپل جرم په اړه پوښتل کېږي او نه کوم پېرۍ، د هر چا کړي جرمونه به په عملپاڼې کې لیکل شوي وي، له مخې به ئې د ده برخلیك ټاکل کېږي، دا د الله تعالی یوه پېرزوینه ده چې مجرم محاکمه کوي او د خپل جرم سزا ورکوي، قرآن دې ته د یوه نعمت په سترګه ګوري چې مجرم ته هم په دنیا کې سزا ورکوي او هم په آخرت کې.
- مجرمین به له خپلو څېرو پېژندل کېږي، د جرم آثار او علائم به ئې په څېرو کې څرګند وي، پوښتنې او ګروېرنې ته به ضرورت نه وي، فرشتې به ئې په دوزخ کې غورځوي، داسې چې ځینو به دوی د تندي له وېښتانو نیولې وي او ځینو له پښو.
- هلته به دغو مجرمینو ته ویل کېږي: دا همغه دوزخ دئ چې مجرمینو به تکذیبولو، مجرمین به د دوزخ او خوټېدونکو اوبو تر منځ چورلي، کله به د اور په لمبو کې غورځول کېږي او کله به خوټېدونکې جوش اوبه پرې څښل کېږي.

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٧﴾ ذَوَاتَآ أَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٩﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴿٥٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥١﴾ فِيهِمَا مِن كُلِّ فَٰكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴿٥٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٣﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ فُرُشٍۭ بَطَآئِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍۚ وَجَنَى ٱلْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٥﴾ فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٥٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٧﴾ كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴿٥٨﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٩﴾ هَلْ جَزَآءُ ٱلْإِحْسَٰنِ إِلَّا ٱلْإِحْسَٰنُ ﴿٦٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦١﴾

٤٦- او هغو ته به وي دوه جنتونه چې ئې وېره وه د خپل مولا په وړاندې له قیام

٤٧- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٤٨- څانګور ګڼ ګڼ باغان، ٤٩- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٥٠- په دواړو کې روانې دوه چینې ٥١- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٥٢- دې کې به د هر ډول مېوې جوړې وي ٥٣- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٥٤- تکیه به ئې وهلې؛ ناست په داسې فرش چې؛ استر یې د ورېښمو وي؛ مېوې به د باغونو وي پخې نژدې نژدې ٥٥- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٥٦- دوی کې به وي آ چې له حیاء ئې سترګې ټیټې؛ نه تر دوی وړاندې کوم جن دئ لاس وروړی نه انسان ٥٧- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٥٨- برېښې به په شاني د یاقوت او د مرجان ٥٩- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٦٠- آیا وي به د احسان بدله؛ پرته له احسان؟ ٦١- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟

(٤٦-٦١)- په دې مبارکو آیتونو کې د جنتیانو په اړه ویل شوي:

- هغه چا ته چې په دنیا کې د خپل رب په وړاندې د ودرېدو له نېټې وېرېدلی او د دغې وېرې له کبله ئې هغه عملونه کړي چې جنت ته ئې ورسوي؛ دوه داسې سمسور جنتونه (بڼونه) به ئې په برخه شي چې وني به ئې ګڼې ګڼې او څانګوري وي، په دواړو کې دوه روانې چینې، په هغوی کې د هر ډول مېوې دوه ګونې جوړې، په داسې فرشونو به تکیه وهونکي ناست وي چې استرونه به ئې د پرېږو ورېښمو وي، مخونه خو ئې څه کوې، مېوې به ئې په هر موسم کې رسېدلې او خوراك ته چمتو وي او جنتیانو ته نژدې نژدې، داسې چې له هرې څانګې به ئې په آسانۍ سره راشکولی شي، ستا د عمل په پرتله ډېره ډېره لوړه بدله، هر څه ئې د مهربان رب ستره پېرزوینه، نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ.
- په دې جنتونو کې به داسې حیاناکې مېرمني وي چې یوازې ئې پر خپل خاوند نظر وي، هغه هم له حیاء په ډکو سترګو سره، داس چې تر دې وړاندې نه کوم انسان لاس وروړی او نه کوم پېري، داسې به برېښي لکه یاقوت او مرجان. دا د ټولو ژوو په جبلت او خټې کې تعبیه شوی تمایل دئ چې غواړي مېرمن ئې یوازې په ده پوري مختص وي او د بل لاس ورباندې ونه لګېږي، مرغان داسې دي چې دوه دوه سره جوړه شي، بېل کور جوړ کړي؛ او د ژوند تر پایه یو ځای ژوند کوي، تر منځ ئې مینه او وفاء وي، د وچې او اوبو ډېر ژوي همداسې دي، هیڅ نارینه ئې دا نه خوښوي چې بل د ده مېرمني ته ورنژدې شي، د ډېرو تر منځ د خونړیو نښتو وجه همدا وي او همدا د نسل د دوام یو اساسي ضرورت. په جنت

کې به د جنتیانو دغه ټمایل ته هم ځواب ویل شوی وي. دې ته مو پام وي چې د جنتي مېرمنو په اړه د قرآن له دې وینا معلومېږي چې هم به د انسانانو مېرمني په دې صفت متصفي وي او هم د پېریانو، نه به د انسان مېرمني ته تر ده وړاندي بل انسان لاس وروړی وي او نه د پېري مېرمني ته تر ده وړاندي بل پېري لاس وروړی وي.

- د احسان بدله له احسان پرته بل څه نه وي، چا چې احسان کړی الله تعالی به احسان ورسره کوي، چا چې په دنیا کې له حرامو ډډه کړې وه الله تعالی به په بدل کې د جنت مېوې ورکوي، د چا مېرمني چې په دنیا کې پاك ملنې وي په جنت کې به ئې هم مېرمني حیاناکې وي، د پردي لاس به نه وي پرې لګېدلی.
- دا هر نعمت د الله تعالی یوه ستره پېرزوینه، نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟

دې ته مو پام وي چې دلته د دوو جنتونو او په هغوی کې د دوو چینو یادونه شوې، باید وګورو چې آیا دلته د دوو جنتونو مراد دا دئ چې هر جنتي به دوه دوه جنتونه لري او که ئې مراد دا دئ چې هر جنتي انسان ته به ښل جنت وي او هر جنتي پېري ته ښل جنت؟ د آیتونو له فحوی داسې معلومېږي چې مراد ئې همدا دوهم مطلب دئ، انسانانو ته به د خپل جبلت او فطرت سره سم جنتونه وي او پېریانو ته د خپل فطرت مطابق جنتونه، نو د دوو جنتونو مراد دوه ډوله جنتونه دي، یو ډول ئې د انسانانو مقربینو ته مختص دئ او بل ډول ئې د پېریانو مقربینو ته، له راتلونکو آیتونو معلومېږي چې دا یاد شوي دوه جنتونه به د مقربینو جنتونه وي او ورپسې ئې د اصحاب الیمین جنتونه.

همدا راز د دوو چینو په اړه په قرآن کې راغلي چې یوه د (تسنیم) په نامه یاده شوې او بله د (سلسبیل) په نامه، تسنیم د مقربینو لپاره مختص شوې چینه ده او سلسبیل د اصحاب الیمین لپاره، نو په لومړۍ درجه جنت کې به د تسنیم چینه وي او په دوهمې درجې جنت کې د سلسبیل چینه. د مطففین په سوره کې داسې راغلي:

يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَـٰمُهُۥ مِسْكٌ ۚ وَفِى ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ ٱلْمُتَنَـٰفِسُونَ ﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾ المطففين

خړوبېږي په خالصو سرمُهر شوو شرابونو. مُهر به ئې مشك وي، نو په دې کې دي سیالي وکړي سیالان. او له تسنیم ئې ګډونه. آ چینه چې ئې په خوا کې څښل کا مقربان.

وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ﴿٦٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٣﴾ مُدْهَآمَّتَانِ ﴿٦٤﴾

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٥﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ ﴿٦٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٧﴾ فِيهِمَا فَٰكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ ﴿٦٨﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٩﴾ فِيهِنَّ خَيْرَٰتٌ حِسَانٌ ﴿٧٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧١﴾ حُورٌ مَّقْصُورَٰتٌ فِى ٱلْخِيَامِ ﴿٧٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٣﴾ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٧٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِىٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٧﴾ تَبَٰرَكَ ٱسْمُ رَبِّكَ ذِى ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴿٧٨﴾

٦٢- او ترې ټيټ به وي دوه ګوڼي نور باغونه د جنان ٦٣- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٦٤- تك شنه توربخن شانته باغان ٦٥- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٦٦- په دوی کې دوه چینې داري وهونکې په هر آن ٦٧- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٦٨- په دواړو کې دي وڼي د مېوو؛ او د کجورو او انار ٦٩- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٧٠- په دوی کې ښایسته مېرمني ښکلې په جمال ٧١- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٧٢- تور سترګې، ملتزمي، حیاناکې په خیمو کې ٧٣- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٧٤- چې نه دئ لاس وروړی ترې دې وړاندې؛ نه کوم جن او نه انسان ٧٥- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٧٦- په شنو شنو بالښتونو څنګ وهلي، په ښکلو قیمتي فرشونو ناست ٧٧- نو له کوم نعمت د خپل رب به انکار کړئ په څه شان؟ ٧٨- مبارك دئ ستا د رب نوم؛ چې څښتن دئ د پرتم او د اکرام.

(٦٢-٧٨)- په دې مبارکو آیتونو کې دوه نور جنتونه توصیف شوي چې تر مخکینیو د مقام او منزلت له پلوه لاندې دي او له ورایه معلومېږي چې دا به د جنتیانو د هغې دوهمې ډلې په برخه کېږي چې قرآن ئې د اصحاب الیمین په نامه یادوي، د دې جنتونو په اړه ویل شوي:

- **تر مخکینیو رالاندې دوه نور جنتونه، تك شنه داسې چې له ډېر شینوالي ئې رنګ توربخن شوی، په دواړو کې دوه داري وهونکې چینې، په هغوی کې ډول ډول مېوې د خرما**

او انار په شمول، په هغوی کې د سیرت له پلوه ښې او د صورت او جمال له پلوه ښکلې مېرمني، سترګې ئې غټې، توري او ښایسته، په خپلو خپلو خیمو کې ملتزمي، تر دې وړاندې نه کوم انسان لاس وروړی او نه کوم پېري، دې جنتیانو به پر شنو بالښتونو تکیه وهلې وي، تر پښو لاندې ئې ښکلي ډېر قیمتي حیرت پارووونکي فرشونه، د دې فرشونو لپاره د عبقري لفظ غوره شوی، عربو د پېریانو پلازمېنه د عبقر په نامه یادوله، هر حیرت پارونکي نادر شي ته به ئې د عبقري نوم ورکولو، دلته له عبقري هغه فرشونه مراد دي چې د نفاست، ښکلي رنګ او بڼې له پلوه حیرت پارووونکي او ډېر قیمتي وي.

- دا ستر ستر نعمتونه د هغه مهربان رب له لوري د انسان په برخه شوي چې د جلال او اکرام خاوند دئ، دا ټول برکتونه د ده له مبارك نامه سره غوټه شوي.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الواقعه

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الواقعه) دئ چې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۹٦ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (الواقعة)، د څلورم آیت (رجاً)، د لسم آیت (السابقون)، د څوارلسم آیت (الاولین) او د اته ویشتم آیت (مخضود) ته ورته دي، یوازې یو څلوېښتم آیت په الشمال پای ته رسېدلی، خو دا هم له ورپسې آیت سره تړلی دئ او په ګډه په حمیم پای ته رسي، د غږ مد و جزر سورې ته ډېر ښکلی او په زړه پورې غږ او وزن ورکړی، د آیتونو اوږدوالی ئې لنډ او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکي دور په لومړیو کلونو کې نازل شوي.

- د دې مبارکې سورې د بحث محوري موضوع د قیامت ستره واقعه ده، دا سوره له سر تر پایه د قیامت د ستري واقعې په اړه تفصیلي بحث کوي، په لومړیو آیتونو کې ویل شوي:
- کله چې د قیامت هغه ستره پېښه رامنځته شي، هغه چې د پېښېدو تکذیبوونکی ئې نشته، هیڅوك نه شي کولی د دې پېښې راتګ دروغ ثابت کړي، هغه چې ټیټوونکې لوړوونکې ده، په هغه ورځ به ځینو ته لوړ لوړ مقامونه ورپه برخه شي او ځینې به ټیټ او سپك وګڼل شي.
- دا پېښه به هغه مهال رامنځته شي چې زمکه په ځانګړې ډچولو سره وړچول شي، سخته زلزله به ئې ولړزوي؛ او غرونه به داسې ټوټه ټوټه کړی شي چې خورې شوې دوړې

به شي.

• بيا به د قيامت په دوهم پړاو کې خلك د خپلو باورونو او عملونو له مخې په دريو ډلو ووېشل شي: يوه ډله د اصحاب الميمنة په نامه، دوهمه ډله د اصحاب المشئمة په نامه، دريمه ډله د السابقون په نامه. ورپسې په آخرت کې د دغو دريو ډلو حالت انځور شوی.

• په دې سورې کې هم د النجم په څېر د قيامت د اثبات لپاره د ستورو پر موقعيتونو لوړه شوې، د مخاطب توجه دې ته اړول شوې چې ستورو ته ځير شي، دغو ستورو ته چې هر يو ئې ځانته ټبل ټبل مدار لري، پدې مدار کې په منظمه توګه، يوې بلې خوا ته له انحراف پرته خوځي، له يوې شېبې وروسته او وړاندې کېدو پرته طلوع او غروب کوي، دا بې حسابه ستوري، پدې بې انتهاء فضاء کې، دا ټول څوك اداره کوي؟ څوك هر يو په خپل خپل مدار کې ساتي؟ آيا د دې خور او پراخ عالم ساتونکی او اداره کوونکی ذات له دې عاجز ګڼئ چې تاسو بيا راژوندي کړي؟!!

• تر دې قسم مخکې د قيامت د منکرينو په ځواب کې چې وايي: آيا مونږ به له هغه وروسته بيا راژوندي کېږو چې په خاورو او هډوکو بدل شو او آيا زمونږ مخکيني پلرونه به هم راژوندي کېږي؟ دوی ته ويل شوي، هو؛ تاسو او ستاسو پلرونه به ټول د قيامت معلومي ورځې ته راغونډ کړی شئ، بيا ورته ويل شوي: تاسو خو مونږ پيدا کړي يئ، ولې بيا ژوندون رښتيا نه ګڼئ؟! ورپسې د بيا ژوندون په اړه څو مهم دلائل وړاندې کوي: دا ستاسو د مني نطفه تاسو په يوه ژوندي مخلوق بدلوئ که الله؟ دا په زمکې کې شيندلې او کرل شوې دانه تاسو د بوټې په څېر رازرغونوئ که الله؟ دا له ورېځو اوبه تاسو رانازلوئ که الله؟ که الله وغواړي چې بارانونه ونه شي او په بحر کې ستاسي اوبه همداسي تروې پرېږدي، څوك به باران ووروي او څوك به دا د بحر تروې اوبه خوږې کوي؟ تاسو چې اور بلوئ؛ دا د سون ونه او بوټی ئې تاسو پيدا کړي که الله؟

• څوك چې دا حقائق په خپلو سترګو ګوري؛ څنګه د بيا ژوندون خبره ورته ګرانه او د نه منلو بربښي؟ څنګه هغه ذات له دې عاجز ګڼي چې دا ټول ستر ستر کارونه د ده په اراده تر سره کېږي؟

د سورې په وروستيو آيتونو کې د سورې تتمه او خلاصه زمونږ په وړاندې ځلېږي او په آخرت کې د يادو دريو ډلو حالت زمونږ په وړاندې انځوروي او وايي: څوك چې د مقربينو له ډلې وي هلته به ئې هوسايي، خوږورمه ګلان او له نعمتونو ډك جنت په برخه شي، هغه چې د بختورو له ډلې وي ورته وبه ويل شي: تا ته د بختورو له لوري سلام دئ. او هغه چې د تبروتو درواغ ګڼونکو له ډلې وي نو په تودو خوټېدونکو اوبو به ئې استقبال

کېږي او په دوزخ کې به غورځول کېږي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ۝١ لَيۡسَ لِوَقۡعَتِهَا كَاذِبَةٌ ۝٢ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۝٣ إِذَا رُجَّتِ ٱلۡأَرۡضُ رَجّٗا ۝٤ وَبُسَّتِ ٱلۡجِبَالُ بَسّٗا ۝٥ فَكَانَتۡ هَبَآءٗ مُّنۢبَثّٗا ۝٦ وَكُنتُمۡ أَزۡوَٰجٗا ثَلَٰثَةٗ ۝٧ فَأَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ ۝٨ وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ ۝٩ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ۝١٠ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡمُقَرَّبُونَ ۝١١ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ۝١٢ ثُلَّةٞ مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ۝١٣ وَقَلِيلٞ مِّنَ ٱلۡأٓخِرِينَ ۝١٤

کله چې هغه پېښه رامنځته شي، ٢- د پېښېدو تکذیبوونکی ئې نشته، ٣- ټیټوونکې لوړوونکې، ٤- هغه مهال چې زمکه په ځانګړي ډول سره وړچول شي، ٥- او غرونه په ځانګړي وړه کېدو سره وړه وړه کړی شي، ٦- نو خوړې شوې دوړي به شي، ٧- او تاسو به درې ډلې شئ، ٨- نو د میمنت خاوندان؛ څومره عجیب دي د میمنت خاوندان! ٩- او د مشئمت خاوندان څومره عجیب دي د مشئمت خاوندان! ١٠- او وړاندي تلونکي به وړاندي تللي وي، ١١- همدا دوی مقربین دي، ١٢- له نعمتونو ډک جنت کې، ١٣- ډېری د ړومبنیو ١٤- او لږ د وروستنیو.

(١-١٤)- په دې مبارکو آیتونو کې دا لارښوونې شوې:

- کله چې د قیامت هغه ستره پېښه رامنځته شي، هغه چې د پېښېدو تکذیبوونکی ئې نشته، هیڅوک نه شي کولی د دې پېښې راتګ دروغ ثابت کړي، هغه چې ټیټوونکې لوړوونکې ده، په هغه ورځ به ځینو ته لوړ لوړ مقامونه ورپه برخه شي او ځینې به ټیټ او سپك کړی شي.
- دا پېښه به هغه مهال رامنځته شي چې زمکه په ځانګړي ډول وړچول شي، سخته زلزله به ئې ولړزوي؛ او غرونه به داسې ټوټه ټوټه کړی شي چې خوړې شوې دوړي به شي.
- بیا به د قیامت په دوهم پړاو کې خلك د خپلو باورونو او عملونو له مخې په دریو ډلو ووېشل شي: یوه ډله د اصحاب المیمنة په نامه، میمنه هم د ښې لاس په معنی راځي او

هم د سعادت او بختورتوب په معنی، نو دوی یا هغه دي چې بختور ګڼل شوي یا هغه چې عمل پاڼي به ئې په ښي لاس کې ورکړی شي، څومره به بختور وي، دوهمه ډله د اصحاب المشئمة په نامه، مشئمة هم د کیڼ لوري په معنی راځي او هم د شقاوت او سپېره توب په معنی، نو دوی یا هغه دي چې بدبخت او شقي ګڼل شوي یا هغه چې عمل پاڼي به ئې په کیڼ لاس کې ورکړی شي، څومره به بدبخت او سپېره وي، درېیمه ډله د السابقون په نامه، سابقون هغه دي چې تر نورو له معنوي پلوه وړاندي تللي، دوی د ښېګڼو لوري ته سبقت کړی وو په هغه ورځ به هم د دوی مقام او منزلت تر نورو وړاندي او لوړ وي او د الله تعالی خوا ته مقرب او نژدې، داسې جنتونه به ئې په برخه شي چې له ډول ډول نعمتونو به ډک وي، د دوی ډېری به د هر الهي دین له لومړنیو پلویانو وي او لږ ئې له وروستنیو.

عَلَىٰ سُرُرٍ مَّوْضُونَةٍ ﴿١٥﴾ مُّتَّكِـِٔينَ عَلَيْهَا مُتَقَٰبِلِينَ ﴿١٦﴾ يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَٰنٌ مُّخَلَّدُونَ ﴿١٧﴾ بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ ﴿١٩﴾ وَفَٰكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢١﴾ وَحُورٌ عِينٌ ﴿٢٢﴾ كَأَمْثَٰلِ ٱللُّؤْلُوِ ٱلْمَكْنُونِ ﴿٢٣﴾ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴿٢٥﴾ إِلَّا قِيلًا سَلَٰمًا سَلَٰمًا ﴿٢٦﴾

۱۵- پر سینګار شوو تختونو باندي، ۱۶- پر هغوی تکیه کوونکي یو بل ته مخامخ، ۱۷- تل پاته ځوانکي به ئې پر شاوخوا راچورلي، ۱۸- د روان څښاك له پیالو، کوزو او جامونو سره، ۱۹- نه به له هغه په سرخوړي اخته کړی شي او نه به بې سده کېږي، ۲۰- او له داسې مېوو سره چې دوی ئې غوره کوي، ۲۱- او د مارغانو له داسې غوښې سره چې زړه ئې ورته کېږي، ۲۲- او غټ سترګې حوري، ۲۳- په صدف کې (خوندي) مرغلرو ته ورته، ۲۴- د هغه څه یوه بدله چې دوی کولو، ۲۵- نه به په هغه کې کومه بېهوده خبره اوري او نه کومه د ګناه خبره، ۲۶- مګر د سلام سلام وینا.

(۱۵-۲۶)- په دې مبارکو آیتونو کې په جنت کې د سابقینو مقربینو حالت داسې انځور شوی:

- پر سینګار شوو تختونو به یو بل ته مخامخ تکیه وهلي وي.
- داسې ځوانکي به ئې د خدمت لپاره پر شاوخوا راچورلي چې تل به ځوان پاته وي، ځینې ئې د جنت د روانو چینو د داسې څښاك له پیالو، کوزو او جامونو سره چې نه به له

هغه په سرخوړي اخته کېږي او نه به بې سده کېږي، ځينې ئې له داسي مېوو سره چې دوی به ئې غوره کوي، ځينې ئې د مارغانو له داسي غوښې سره چې زړه ئې ورته کېږي.

- داسي حوري به ئې په واك کې وي چې ښکلې غټې سترګې به ئې وي، داسي به ښکلې او سُتره وي لکه په صدف کې ساتل شوې مرغلري.
- دوی ته به ویل کېږي چې دا د هغو عملو یوه بدله ده چې تاسو په دنیا کې کول.
- په دې جنت کې به نه کومه بېهوده خبره اوري او نه کومه د ګناه خبره، یوازې د سلام سلام وینا به ئې تر غوږ کېږي.

وَأَصْحَٰبُ ٱلْيَمِينِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْيَمِينِ ﴿٢٧﴾ فِى سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴿٢٨﴾ وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ ﴿٢٩﴾ وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴿٣٠﴾ وَمَآءٍ مَّسْكُوبٍ ﴿٣١﴾ وَفَٰكِهَةٍ كَثِيرَةٍ ﴿٣٢﴾ لَّا مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ ﴿٣٣﴾ وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾ إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً ﴿٣٥﴾ فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴿٣٧﴾ لِّأَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿٣٨﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٩﴾ وَثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْءَاخِرِينَ ﴿٤٠﴾

۲۷- او د یمین خاوندان (بختور)، څه عجیب دي دا بختور، ۲۸- په بې اغزیو بېرو کې، ۲۹- او د کېلو په ګڼ مېوو ونو کې، ۳۰- او په خورو سیورو کې، ۳۱- او تل روانو اوبو کې، ۳۲- او ډېرو مېوو کې، ۳۳- نه قطع کېدونکې او نه منع کېدونکې، ۳٤- او په لوړو لوړو پالنګونو کې، ۳۵- یقیناً چې موږ په ځانګړي پنځولو سره پنځولې دي، ۳٦- نو باکرې (پېغلې) مو ګرځولې دي، ۳۷- مینه ناکې همزولې، ۳۸- د اصحاب المین لپاره، ۳۹- ډېرې له لومړنیو ٤۰- او ډېرې له وروستنیو.

(۲۷-٤۰)- په دې مبارکو آیتونو کې په جنت کې د اصحاب الیمین وضعیت داسي انځور شوی:

- دا بختور ښې لاسي به داسي وي چې حالت به ئې هر څوك په حیرت کې اچوي،
- د داسي بېرو په باغونو کې به وي چې وني ئې اغزي نه لري، د داسي ونو بېري ډېري خوندوري وي.
- د کېلو په داسي بڼونو کې چې مېوې ئې ګڼې یوه پر بلې منظمي پرتې.
- د ونو په خورو او خوندورو سیورو کې.
- خوا ته ئې تل روانې اوبه.
- ډول ډول ډېري مېوې، داسي چې نه ئې د پیدا کېدو لړۍ شلېږي او نه به څوك او څه

دوی تړې منع کوي، په هر موسم کې او هر وخت د دوی په واك کې.

- په لوړو لوړو پالنګونو کې د خپلو مېرمنو خوا ته، هغه مېرمني چې الله تعالی په ځانګړې بڼې کې پیدا کړې، تل پاته پېغلې، له خپل خاوند سره مینه ناکې او همزولې.
- دا هغه نعمتونه دي چې د دغو بختورو به په برخه شي، د دوی ډېرى به له لومړنیو وي او ډېرى له وروستنیو.

وَأَصۡحَٰبُ ٱلشِّمَالِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلشِّمَالِ ﴿٤١﴾ فِي سَمُومٖ وَحَمِيمٖ ﴿٤٢﴾ وَظِلّٖ مِّن يَحۡمُومٖ ﴿٤٣﴾ لَّا بَارِدٖ وَلَا كَرِيمٍ ﴿٤٤﴾ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُتۡرَفِينَ ﴿٤٥﴾ وَكَانُواْ يُصِرُّونَ عَلَى ٱلۡحِنثِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٤٦﴾ وَكَانُواْ يَقُولُونَ أَئِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ ﴿٤٧﴾ أَوَ ءَابَآؤُنَا ٱلۡأَوَّلُونَ ﴿٤٨﴾

٤١- او کېڼ لاسي، څه حېرتناك (حالت کې) دي کېڼ لاسي، ٤٢- په سوزنده لمبو او جوشو اوبو کې، ٤٣- د تور او تود دود په سیوري کې، ٤٤- نه سوړ نه ګټور، ٤٥- یقیناً چې دوی تر دې وړاندي سوکاله ول، ٤٦- او په سترې ګناه ټینګار کولو، ٤٧- او ویل به ټې: آیا کله چې ومرو او خاوري او هډوکي وو آیا حتماً به راپاڅول کېږو؟! ٤٨- او آیا زمور لومړني پلرونه هم؟!

(٤١-٤٨)- په دې مبارکو آیتونو کې کېڼ لاسي او د دوی حالت داسي انځور شوی:

- کېڼ لاسي او د دوی حالت به حېرتناك وي، کله به په سوزنده لمبو کې وي، کله په تودو جوشو اوبو کې او کله د تور او تود دود په سیوري کې چې نه به سوړ وي او نه به کومه ګټه ورسوي.
- دوی تر دې وړاندي په دنیا کې مترفین ول، د ټولني جوړښت دوی ته رفاه او سوکالي ورپه برخه کړې وه.
- د شرك په شمول په سترو سترو ګناهونو ټې ټینګار کولو.
- له بیا ژوندون ټې انکار کولو او ویل به ټې: آیا کله چې ومرو او خاوري او هډوکي شو بیا به راژوندي کېږو؟! او آیا زمور لومړني پلرونه به هم بیاراژوندي کېږي؟!

قُلۡ إِنَّ ٱلۡأَوَّلِينَ وَٱلۡأٓخِرِينَ ﴿٤٩﴾ لَمَجۡمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَٰتِ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ﴿٥٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمۡ أَيُّهَا ٱلضَّآلُّونَ ٱلۡمُكَذِّبُونَ ﴿٥١﴾ لَأٓكِلُونَ مِن شَجَرٖ مِّن زَقُّومٖ ﴿٥٢﴾

فَمَالِـُٔونَ مِنۡهَا ٱلۡبُطُونَ ﴿٥٣﴾ فَشَٰرِبُونَ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡحَمِيمِ ﴿٥٤﴾ فَشَٰرِبُونَ شُرۡبَ ٱلۡهِيمِ ﴿٥٥﴾ هَٰذَا نُزُلُهُمۡ يَوۡمَ ٱلدِّينِ ﴿٥٦﴾

۴۹- ووایه: یقیناً چې لومړني او وروستني به، ۵۰- هرومرو د یوې معلومي ورځې میقات ته غوند کړی شوي وي، ۵۱- بیا به تاسو اې تېروتو دروغ ګڼونکو؛ ۵۲- حتماً د زقوم له وني خوړونکي وئ، ۵۳- نو خپلي خېټي ترې ډکوونکي، ٥٤- له پاسه ئې د اېشېدلو اوبو څښونکي، ۵۵- د تږو اوښانو د څښلو په څېر څښونکي، ٥٦- همدا به د سزا او جزاء په ورځ د دوی مېلمستیا وي.

(۴۹-٥٦)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته سپارښتنه شوې چې د قیامت او بیاژوندون منکرینو ته ووایي:

- یقیناً چې لومړني او وروستني به هرومرو هغه ورځ په ټاکلي ځای کې راغوند کړی شي چې الله تعالی ټاکلې.
- بیا به تاسو اې تېروتو دروغ ګڼونکو؛ حتماً د زقوم وني ترخه مېوه خورئ، خپلي خېټي به ترې ډکوئ، له پاسه به ئې جوش اوبه څښئ، د هغو تږو اوښانو د څښلو په څېر چې د تندي په بیماري اخته شوي وي او مړښت نه لري.
- همدا به د مکافات او مجازات په ورځ د دوی مېلمستیا وي.

نَحۡنُ خَلَقۡنَٰكُمۡ فَلَوۡلَا تُصَدِّقُونَ ﴿٥٧﴾ أَفَرَءَيۡتُم مَّا تُمۡنُونَ ﴿٥٨﴾ ءَأَنتُمۡ تَخۡلُقُونَهُۥٓ أَمۡ نَحۡنُ ٱلۡخَٰلِقُونَ ﴿٥٩﴾ نَحۡنُ قَدَّرۡنَا بَيۡنَكُمُ ٱلۡمَوۡتَ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوقِينَ ﴿٦٠﴾ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ أَمۡثَٰلَكُمۡ وَنُنشِئَكُمۡ فِي مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٦١﴾ وَلَقَدۡ عَلِمۡتُمُ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأُولَىٰ فَلَوۡلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾

۵۷- مور پیدا کړي یئ نو ولي (بیا پیدا کول) رښتینی نه بولئ، ۵۸- آیا د هغه څه په اړه مو پام کړی چې (په رحم کې ئې) څڅوئ، ۵۹- آیا تاسو ئې پنځوئ او که مور پنځوونکي یو، ٦٠- مور په تاسو کې مرګ مقدر کړی او تر مور وړاندې کېدونکی نشته، ٦١- په دې کې چې ستاسو په عوض کې ستاسو امثال راپیدا کړو او په داسې بڼې کې مو پیدا کړو چې نه پرې پوهېږئ، ٦٢- او یقیناً چې تاسو د لومړني پیدایښت په څرنګوالي پوه شوي یئ نو ولي پند نه اخلئ؟!

(۵۷-۶۲)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- په داسې حال کې چې الله تعالی پیدا کړي یئ نو ولې بیا پیدا کېدا رښتینې نه بولئ، څنګه د همدې خالق له لوري خپل بیاژوندون محال ګڼئ؟!!
- آیا د هغې نطفې په اړه مو غور کړی چې تاسو ئې د خپلو مېرمنو په رحم کې څڅوئ، آیا تاسو له هغې یو بشپړ ماشوم جوړوئ که الله تعالی؟ په داسې حال کې چې تاسو د یوه ژوندي مخلوق په پیدا کېدو کې له دې پرته بله وندې نه لرئ چې یوه نطفه وڅڅوئ، دا نطفه هم د الله تعالی له لوري ستاسو په بدن کې او له هغو توکو جوړېږي چې له خاورو ئې پیدا کړي، نو ولې له دې خاوري د انسان بیا پیدا کېدا محال ګڼئ؟!
- په انسانانو او ټولو ژوو کې دا د مرګ سنت چا اېښی؟ ولې نه شئ کولی ټاکلی او مقدر مرګ مو وځنډوئ؟ دا څوك دئ چې تاسو ئې د ارادې په وړاندې مقهور یئ او ناچار د مرګ هغه داعي ته لبیك وایئ چې د ده له لوري مأمور شوی؟ ولې الله تعالی له دې عاجز ګڼئ چې ستاسو په عوض کې ستاسو امثال راپیدا کړي، په داسې نوې بڼې کې مو پیدا کړي چې نه پرې پوهېږئ، په داسې حال کې چې د لومړني پیدایښت څرنګوالی درته جوت شوی، ولې بیا پیدایښت ګران او محال ګڼئ، ولې پند نه اخلئ؟!

أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴿٦٣﴾ ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ﴿٦٤﴾ لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَٰهُ حُطَٰمًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ ﴿٦٥﴾ إِنَّا لَمُغْرَمُونَ ﴿٦٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٦٧﴾

۶۳- آیا هغه څه ته مو پام کړی چې تاسو ئې کرئ، ۶۴- آیا تاسو ئې رازرغونوئ او که موږ زرغونوونکي یو؟ ۶۵- که وغواړو مات مات ډکي به ئې کړو داسې چې تاسو به هك پك شئ، ۶۶- (بیا به وایئ) موږ تاواني شوي یو، ۶۷- بلکې محروم کړی شوي یو.

(۶۳-۶۷)- په دې مبارکو آیتونو کې د قیامت او بیاژوندون منکرینو په وړاندې یو بل څرګند او انکار نه منونکی دلیل اېښودل شوی او ورته ویل شوي: آیا هغه څه ته مو پام کړی چې تاسو ئې کرئ، ووایئ: دا تاسو رازرغونوئ او که الله تعالی؟ په دې کې ستاسو وندې یوازې دومره ده چې دانې تر خاورو لاندې کړئ، په یوه ښکلي او سمسور بوټي او وني د هغې بدلول د چا کار دئ؟ ولې ستاسو سترګې د هغه نامرئي لاس له لیدو عاجزي دي چې دا بوټي او وني له زمکې راټوکوي، سپېره ډاګ په سمسور ورشو بدلوي؟!! ووایئ: که الله تعالی وغواړي چې دا بوټي مات مات ډکي کړي؛ داسې چې تاسو ورته هك پك شئ څوك به ئې مخنیوی وکړي؟ تاسو له دې پرته بل څه کولی شئ چې د خپل پټي له وچېدو وروسته

ووايئ: تاواني شوو، محروم شوو!! آيا عجيبه نه ده چې د دې عبرتناکو صحنو له ليدو وروسته له بياژوندون انکار کوئ؟!

أَفَرَءَيْتُمُ ٱلْمَآءَ ٱلَّذِى تَشْرَبُونَ ﴿٦٨﴾ ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ ٱلْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنزِلُونَ ﴿٦٩﴾ لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنَـٰهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ ﴿٧٠﴾

٦٨- آيا هغو اوبو ته مو پام کړی چې تاسو ئې څښئ؟! ٦٩- آيا تاسو ئې له ورېځو راکوزوئ او که ئې مونږ راکوزوونکي يو؟! ٧٠- که وغواړو تروې به ئې کړو؛ نو ولې شکر نه کوئ؟

(٦٨-٧٠)- قرآن په دې مبارکو آيتونو کې د خپلو مخاطبينو پام هغو اوبو ته رااړوي چې دوی ئې څښي، ورته وايي: آيا دا اوبه تاسو له ورېځو لاندې راوروئ او که الله تعالى؟ څوك د سمندر تروې اوبه په ورېځو اړوي او له دغو ورېځو د څښاك خوږې اوبه راوروي؟!! آيا په ټول عالم کې له الله تعالى پرته داسې څوك مومئ چې په دې ستر کار کې څه ونډه او اغېز ولري؟! که الله تعالى وغواړي دا نظام له منځه يوسي، نه تروې اوبه په ورېځو بدلې شي او نه له ورېځو خوږې اوبه وورېږي څه به کوئ، دا ستونزه به څوك درته حل کوي؟!! ولې د خپل منعم رب شکر نه کوئ؟

أَفَرَءَيْتُمُ ٱلنَّارَ ٱلَّتِى تُورُونَ ﴿٧١﴾ ءَأَنتُمْ أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَآ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنشِـُٔونَ ﴿٧٢﴾ نَحْنُ جَعَلْنَـٰهَا تَذْكِرَةً وَمَتَـٰعًا لِّلْمُقْوِينَ ﴿٧٣﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾

٧١- آيا هغه اور ته مو پام کړی چې تاسو ئې بلوئ، ٧٢- آيا تاسو ئې ونه پنځولې ده او که پنځوونکي مونږ يو؟! ٧٣- مونږ هغه يوه يادونه ګرځولې او حاجتمنو ته يوه متاع، ٧٤- نو د خپل ستر رب د نامه تسبيح وايه.

(٧١-٧٤)- په دې مبارکو آيتونو کې يوه بل حقيقت ته د منکرينو پام اړول شوی او دا پوښتنه تري شوې: آيا هغه وني او بوټي تاسو پيدا کړي چې د اور په موخه ئې سوزوئ، آيا د اور سون تاسو پيدا کړي که الله تعالى؟ چا په شنو بوټو او ونو کې د سوزېدو خصلت اېښی؟ اور ستاسو د ژوند يوه سترە اړتيا، له هغه پرته ژوند ډېر ډېر درته ګران، ستاسو ډېر خوراکونه داسې دي چې که اور نه وی نو تاسو به ئې له خوړلو محروم وئ، ستاسو ماشينونه هم په هغې انرژي او طاقت چلېږي چې د ډبزل، پترول او سکرو له سوزېدو

راپيدا کېږي، دغه توکي هم له ونو او بوټو پيدا کېږي، که وني او بوټي نه وی نو مور به ډبزل، پټرول او سکاره هم نه درلودل، که اور نه وی او انسان د هغه د بلولو او له هغه د استفادې کولو توان نه درلودی نو د ژوند په ډېرو برخو کې به نورو ژوو ته ورته وو، دا پرمختګ به ئې هيڅکله نه وو په برخه شوی چې نن ترې برخمن دئ!! د اور بلولو پر مهال بايد هغه الله تعالی درياد کړئ چې دا ستر نعمت ئې درپېرزو کړی، هغه نعمت چې د ښار او بيديا اوسېدونکو او قوي او کمزوري حاجتمنو ته يوه ځانګړې متاع ده، د دې نعمت تقاضا دا ده چې د خپل ستر رب د نامه تسبيح ووايئ او له هر عيب او نقص ئې منزه او سپېڅلی وبولئ.

فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٞ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ ﴿٧٦﴾ إِنَّهُۥ لَقُرۡءَانٞ كَرِيمٞ ﴿٧٧﴾ فِي كِتَٰبٖ مَّكۡنُونٖ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ ﴿٧٩﴾ تَنزِيلٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾

۷۵- نو نه؛ د ستورو په موقعيتونو لوړه کوم ۷۶- او دا خو يقيناً چې ستر قسم دئ که پوه شئ، ۷۷- بې شکه چې دا عزتمن قرآن دئ، ۷۸- په پوښل شوي کتاب کې، ۷۹- له پاکانو پرته ئې بل څوک نه شي مس کولی، ۸۰- د رب العالمين له لوري نازل شوی.

(۷۵-۸۰)- د دې مبارکو آيتونو په لاړښوونو د ښه پوهېدو لپاره بايد لاندي مطالب په پام کې ولرو:

- دلته لومړی د منکرينو ادعاء او انګېرنه د (لا: نه) په وينا سره رد شوې او بيا د ستورو په موقعيتونو (تم ځايونو) لوړه شوې او ورپسې ويل شوي چې بې شکه دا پرتمين او عزتمن قرآن دئ، تر د دې وړاندي چې وګورو د دې قسم او د هغه د ځواب تر منځ څه تړاو دئ او د ستورو موقعيتونه څنګه پر دې ګواهي ورکوي چې قرآن پرتمين کتاب دئ، بايد دا وضح کړو چې ځينو درنو مفسرينو په (فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ) کې (لا) زائد ګڼلی او تعبير ئې دا دئ: نو زه لوړه کوم، دا تعبير دوه ستونزي لري: لومړی دا چې ولې او په کوم دليل به ئې زائد ګڼو؟ د زائد توري راوړلو ته څه ضرورت دئ؟ دوهمه دا چې په قرآن کې د زائد او ناقص ادعاء کول بې ځايه جسارت دئ، په قرآن کې نه زائد شته او نه ناقص. ځيني نور وايي چې دلته (لا) نافيه ده او معنی ئې دا ده: نو زه قسم نه کوم!! دا تعبير تر مخکيني هم ډېر ستوزمن دئ ځکه له ورپسې آيت سره تعارض لري، په ورپسې آيت کې ويل شوي چې دا ستر قسم دئ، عجيبه ده چې دوی دې ته هم پام نه دئ کړی!! صحيح

او دقيق تعبير دا دئ چې په (لا) سره د مخاطب ادعاء رد شوې او ورپسې د ستورو په موقعيتونو لوړه شوې او د دې مطلب لپاره د شاهد او ګواه په توګه وړاندې شوي چې قرآن پرتمين کتاب دئ. د خطابت په حالت کې ډېر ځلې انسان همدا اسلوب کاروي او وايي: نه؛ هيڅکله نه؛ داسې نه ده، زه ستا د ادعاء د رد لپاره او د خپلې وينا په تأييد کې دليل او شاهد لرم، دلته قرآن همدا اسلوب کارولی. د النساء د سورې په ٦٥ آيت کې دې ته ورته اسلوب ګورو: فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ... نو نه؛ ستا په رب قسم چې دوی تر هغه ايمان نه لري چې تا په خپلمنځيو شخړو کې حکم ونه ګرځوي. حقيقت دا دئ چې په فلا اقسم کې د هغو مفسرينو رأيه مضبوطه او دقيقه ده چې لا نه زائد ګڼي او نه ئې د قسم د نفي په معنی نيسي، بلکې د مخاطب د باور او ادعاء د نفي په معنی ئې نيسي.

- که د دې سورې ټولو مطالبو ته ځير شو نو راته جوته کېږي چې د دې سورې د بحث اصلي موضوع قيامت دئ؛ او په دې سورې کې هم د النجم په څېر د قيامت د اثبات لپاره د ستورو پر موقعيتونو لوړه شوې.
- دا سوره له سر ترپايه د قيامت د ستري واقعې په اړه تفصيلي بحث کوي، تر دې قسم مخکې د قيامت د منکرينو په ځواب کې چې ويل به ئې آيا مونږ به له هغه وروسته بيا راژوندي کېږو چې په خاورو او هډوکو بدل شو او آيا زمونږ مخکيني پلرونه به هم راژوندي کېږي؛ دوی ته ويل شوي، هو؛ تاسو او ستاسو پلرونه به ټول د قيامت معلومي ورځې ته راغونډ کړی شئ، بيا ورته ويل شوي: تاسو خو مونږ پيدا کړي يئ، ولې بيا ژوندون رښتيا نه ګڼئ؟! ورپسې د بيا ژوندون په اړه څو مهم دلائل وړاندې کوي:
  - دا ستاسو د مني نطفه تاسو په يوه ژوندي مخلوق بدلوئ که الله؟
  - دا په زمکې کې شيندلې او کرل شوې دانه تاسو د بوټې په څېر رازرغونوئ که الله؟
  - دا له وربڅو اوبه تاسو رانازلوئ که الله؟
  - که الله وغواړي چې بارانونه ونه شي او په بحر کې ستاسي اوبه همداسي تروې پربږدي، څوک به باران وروي او څوک به دا د بحر تروې اوبه خوږې کوي؟
  - تاسو چې اور بلوئ؛ دا د سون ونه او بوټی ئې تاسو پيدا کړي که الله؟
  - څوک چې دا حقائق په خپلو سترګو ګوري؛ څنګه د بيا ژوندون خبره ورته ګرانه او د نه منلو بربښي؟ څنګه هغه ذات له دې عاجز ګڼي چې دا ټول ستر ستر کارونه د ده په اراده تر سره کېږي؟
- له دې وروسته د ستورو په مواقع لوړه شوې، ګورئ چې هر ستوری ځانته ښل ښل

مدار لري، پدې مدار کې په منظمه توګه، يوې بلې خوا ته له انحراف پرته خوځي، له يوې شېبې وروسته مخکې کېدو پرته طلوع او غروب کوي، دا بې حسابه ستوري، پدې بې انتهاء فضاء کې، دا ټول څوک اداره کوي؟ څوک هر يو په خپل خپل مدار کې ساتي؟ آيا د دې خور او پراخ عالم ساتونکی او اداره کوونکی ذات له دې عاجز ګڼئ چې تاسو بيا راڅوندي کړي؟

د قرآن په ډېرو نورو آيتونو کې هم دې ته ورته ويل شوي چې آيا د دې آسمانونو پيدا کول ګران کار دئ که ستاسو بياڅوندي کول؟ لکه چې فرمايي:

ءَأَنتُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُۚ بَنَىٰهَا ﴿٢٧﴾ النازعات

آيا ستاسو پيدايښت ګران کار دئ که آسمان چې جوړ ئې کړ؟

لَخَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ أَكۡبَرُ مِنۡ خَلۡقِ ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٥٧﴾ غافر

د آسمانونو پيدايښت د خلکو تر پيدايښت ډېر ستر او لوی کار دئ خو اکثر خلك نه پوهېږي.

له دې شرحي وروسته د دغه قسم او ځواب تر منځ د ارتباط په څرنګوالي پوهېدل آسان دي او هغه دا چې: قرآنکريم وايي چې الله تعالی به مړي بياراڅوندي کوي، د آسمانونو دا بې شمېره ستوري چې هر يو ئې په خپل خپل مدار کې ساتل کېږي پدې شهادت ورکوي چې دا عالم يو قدير او ځواکمن ساتونکی او پالونکی لري، قرآن د همدغه رب العالمين له لوري رالېږل شوی، دغه قرآن چې د کومي خبرې دعوی کوي د ستورو مواقع د هغه په حقانيت شهادت ورکوي، خو پدې قرآن هغه څوك پوهېدی شي او د هغه اسرارو ته ئې لاس رسي چې پاك وي، ناپاکان؛ هغه چې افکار ئې ګنده وي، عزائم ئې ګنده وي، د زړه او دماغ سلول سلول ئې له ګنده رزق روزي جوړ شوی وي، هغوی د قرآن په حقائقو له پوهېدو عاجز دي، له قيامت د دوی د انکار وجه دا نده چې کافي او قانع کوونکي دلائل ئې مخي ته نه دي اېښودل شوي، قرآن کافي دلائل نه دي وړاندي کړي يا پدې عالم کې خواره دلائل د منکرينو د قانع کولو لپاره کافی نه دي، برعکس د دوی ګندګي، ګنده زړه او دماغ او ګنده افکار او عزائم پدې حقيقت باندي د باور او ايمان مانع ګرځي.

دې ته مو پام وي چې ځينو درنو مفسرينو ګمان کړی چې له (کتاب مکنون) لوح محفوظ مراد دئ او له (مطهرون) فرشتې، ځينو نورو داسي انګېرلې چې د لامسه معنی په لاس مسح کول دي؛ او ځينو نورو بيا ويلي چې دلته (لا) د نهي په معنی ده نه د نفي په معنی، ګواکې معنی ئې دا ده: قرآن ته به يوازي هغه څوك لاس ورورې چې اودس لري، دا

ټول تعبيرونه ستونزي لري، د الفاظو صريح، واضح او له تکلف پرته مطلب دا دئ: د ستورو تم ځايونه گواهي ورکوي چې قرآن پرتمين دئ، هره وينا ئې درنه او پرتمينه، په داسي مکنون (خوندي ساتل شوي) کتاب کې چې له پاکانو پرته بل څوك د هغه اسرارو ته لاس رسی نه لري، د قرآن په پيغام پوهېدا هغه چا ته ممکنه نه ده چې پاك نه وي، ناپاکان، چې افکار ئې گنده وي، عزائم ئې گنده وي، د زړه او دماغ سلول سلول ئې له گنده رزق روزي جوړ شوی وي، هغوی د قرآن په حقائقو له پوهېدو عاجز دي، د (مکنون) له لفظ په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چې د (لايمسه) مطلب لاس ورورل نه بلکې لاس رسی دئ، يعني يوازي پاکان پرې پوهېدی شي.

په آيت کې داسي نه دي ويل شوي چې دا کتاب دي له پاکانو پرته بل څوك نه مس کوي، بلکې ويل شوي له پاکانو پرته ئې بل څوك نه شي مس کولی، که مس د لاس ورورلو په معنی ونيسو نو د آيت معنی به داسي وي: له پاکانو پرته بل څوك لاس نه ورورې!! داسي تعبير د واقع خلاف دئ ځکه مورِ عملاً گورو چې هم پاکان قرآن ته لاس ورورې شي او هم ناپاکان.

په اتيايم آيت کې ويل شوي: د رب العالمين له لوري نازل شوی؛ يعني د دې قرآن ټول مطالب په ډېر وضاحت سره ښيي چې دا کتاب د رب العالمين له لوري نازل شوی.

خو دا چې د قرآن کتاب او مصحف ته په جنابت او بې اودسۍ کې د لاس ورورلو حکم څه دئ او فقهاء په دې اړه څه وايي، ښه به وي دا مطالب ستاسو مخي ته کښېږدو:

ځيني گمان کوي چې دا آيت د الشعراء د سورې دغو آيتونو ته ورته دئ:

وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ ٱلشَّيَـٰطِينُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾ إِنَّهُمْ عَنِ ٱلسَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ ﴿٢١٢﴾ الشعراء

او شيطانانو نه دئ راکوز کړی؛ او دوی ته نه ښايي او نه شي توانېدی، يقيناً چې دوی ئې له اورېدو هم گوښه کړی شوي.

خو دا تعبير د دغو آيتونو له الفاظو سره قطعاً اړخ نه لگوي، د دواړو مطالب بېل بېل دي، د الشعراء د سورې تر دغو آيتونو وړاندي ويل شوي چې دا قرآن روح الامين راکوز کړی، دلته ويل شوي چې شيطانانو نه دئ راکوز کړی، له دوی سره دا نه ښايي چې داسي وينا وړاندي کړي او که احياناً وغواړي چې داسي کلام وړاندي کړي نو نه شي توانېدی، دوی ئې حتی له اورېدو هم معزول او محروم کړی شوي. يعني قرآن او د هغه لارښوونو ته ځير شئ، څومره لوړ شأن لري، څومره له فضيلتونو او معنويت ډك کلام دئ، حرف

حرف ئې په دې دلالت کوي چې دا د رب العالمين له لوري نازل شوی کتاب دئ، هم ئې له آسمان تر زمکې پورې حامل روح الامين دئ او هم ئې د زمکې پر سر حامل د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر ستر شخصیت، څنګه ګمان کوئ چې دا عظیم الشأن کتاب به د شیطاني القاءاتو په نتیجه کې یو چا له ځانه جوړ کړی وي؟!! په دې کتاب کې مو کوم څه داسې موندلې چې دا شك درته راپیدا کړي. د هر کلام محتوی ښیي چې ویونکی ئې څنګه شخصیت دئ او څه مواصفات لري، تګلاره ئې رحماني ده که شیطاني.

خو د الواقعه سورې په دغو آیتونو کې ویل شوي چې دا مکنون کتاب دئ او له پاکانو پرته بل څوك نه شي پرې پوهېدی.

ځینو درنو مفسرینو په لایمسه کې لا د نهي په معنی نیولی په داسې حال کې چې دا د نفي لپاره راغلی، د دوی تعبیر د آیت له سیاق و سباق سره قطعاً اړخ نه لګوي، دلته د آیت مخاطبین کفار او د آخرت منکرین دي، د بحث اصلي موضوع د آخرت اثبات دئ، د پرتمین قرآن وینا او دلائل د دوی مخي ته اېښودل شوي؛ او ورپسې دا ویل شوي چې د قرآن په دلائلو هغه څوك پوهېدی شي چې پاك وي، د معاندینو د انکار وجه د دوی ناپاك زړونه او ناولي عزائم دي نه دا چې قرآن کافي او قانع کوونکي دلائل نه دي وړاندي کړي.

په جنابت، حیض او بې اودسۍ کې د قرآن تلاوت یا قرآن ته لاس وروړلو په اړه د فقهاءو تر منځ ځینې اختلافات دي چې تفصیل ئې داسې دئ:

احناف وایي: لکه څنګه چې بې اودسه لمونځ جائز نه دئ همداسې له اودس پرته قرآن ته لاس وروړل جائز نه دي، مګر دا چې هغه په غلاف کې وي، ماشومان له دې مستثنی کوي. د جنب، حائضې او نفاسې لپاره ئې لوستل هم جائز نه ګڼي.

د امام شافعي مسلك رأیه دا ده: د لمانځه او طواف په څېر مصحف ته بې اودسه لاس وروړل یا ئې په کومې پاڼې لاس راکاړل حرام دي، همداسې د قرآن جلد، یا داسې کڅوړې، غلاف او صندوق ته لاس وروړل جائز نه دي چې قرآن په کې ساتل کېږي، که د تدریس لپاره د قرآن کومه برخه پر تختې لیکل شوې وه هغه ته هم لاس وروړل جائز نه دي. د امام مالك مسلك دا دئ: مصحف ته د لاس وروړلو لپاره اودس شرط دئ، خو د تعلیم او تدریس پر مهال ئې استاد او متعلم ته جائز ګڼي، د جنابت په حالت کې د قرآن لوستل ناجائز ګڼي خو حائضه ښځه د دې لپاره تر مستثنی کوي چې زیاته موده له قرآن لرې پاته نه شي.

حنابله وایي: د جنابت، حیض او نفاس په حالت کې قرآن یا د هغه کوم بشپړ آیت لوستل جائز نه دي، خو د بسم الله او الحمد لله په څېر الفاظ ویل که څه هم د قرآن یوه

برخه ده جائز دي؛ ځکه دا د قرآن لوستلو په موخه نه وي؛ او قرآن ته بې اودسه لاس ورورل په هيڅ صورت کې جائز نه دي، خو که د قرآن کوم آيت په کوم ليك يا کوم کتاب کې ليکل شوی وي هغه ته لاس ورورل ممنوع نه دي، که قرآن په کوم څه کې اېښودل شوی وي اخيستل ئې مانع نه لري، د تفسير کتابونو ته له اودس پرته لاس ورورل هم جائز دي، که څوك د کوم ضرورت له مخي دې ته اړ شو چې قرآن ته لاس ورورې نو تيمم دي وکړي. ماشومان به هم د تعليم په وخت کې له اودس وروسته قرآن ته لاس ورورې.

د اهل ظاهر مسلك دا دئ: د قرآن لوستل او هغه ته لاس ورورل په هر حالت کې جائز دي، که څه هم انسان بې اودسه وي، د جنابت په حالت کې وي يا ښځه د حيض په حالت کې وي، ابن حزم د المحلى په لومړي جلد صفحه ۷۷ کې په دې اړه تفصيلي بحث کړی، د خپلې رأيې په تأييد کې ئې ګڼ شمېر دلائل وړاندي کړي او ليکلي ئې دي: فقهاءو چې د قرآن لوستلو او هغه ته د لاس ورورلو په اړه کوم شرائط وضع کړي يو ئې هم د قرآن او سنت له مخي نه شي ثابتېدی، هغه وايي: وأما مس المصحف فان الآثار التى احتج بها من لم يجز للجنب مسه فانه لا يصح منها شئ، لانها اما مرسلة واما صحيفة لا تسند وإما عن مجهول وإما عن ضعيف: او قرآن ته د لاس ورورلو په اړه چې په کومو رواياتو استناد شوی هغه چې جنب ته دا جائز نه ګڼي چې قرآن ته لاس ورورې هيڅ يو ئې صحيح نه دئ، له دې کبله چې يا مرسل دي، يا داسې صحيفه چې اسناد نه لري، يا له مجهول کس روايت شوي او يا له ضعيف.

د رسول الله صلى الله عليه و سلم له سنت دا ثابت دي چې د کفارو مشرانو ته په خپلو ځينو ليکونو کې ئې هم بسم الله الرحمن الرحيم ليکلي او هم ځيني آيتونه، هرقل ته ئې چې کوم ليك استولى وو داسې وو:

(بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ . مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللهِ وَرَسُولِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ: سَلاَمٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى، أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَدْعُوكَ بِدِعَايَةِ الإِسْلاَمِ، أَسْلِمْ تَسْلَمْ، يُؤْتِكَ اللهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ، فَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَإِنَّ عَلَيْكَ إِثْمَ الأَرِيسِيِّينَ وَ (يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَنْ لاَ نَعْبُدَ إِلاَّ اللهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ)

(بسم الله الرحمن الرحيم: د الله د بنده او رسول محمد صلى الله عليه و سلم له خوا د روم مشر (هرقل) ته! په هغه چا دي سلام وي چې د هدايت متابعت کوي، له دې وروسته؛ زه د اسلام بلنه درکوم، اسلام راوړه چې په امن شې، الله تعالى به دوه برابره اجر

درکړي؛ او که دي مخ واړاوو نو د بزګرانو ګناه به دي هم پر غاړه وي، اې د کتاب خاوندانو! د هغي کلمې خوا ته راشئ چې زمونږ او تاسي تر منځ شریکه او برابره ده او هغه دا ده چې له الله پرته د بل چا عبادت ونکړو، هیڅ شی ورسره شریک نه کړو؛ او له مونږ هیڅ یو بل په خدایۍ ونه نیسي، نو که ځې ډډه وکړه نو ورته ووایاست چې په دې شاهدان اوسئ چې مونږ مسلمانان یو).

دا روایت په بخاري کې دولس ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۷، ۵۱، ۲٦۸۱، ۲۸۰٤، ۲۹٤۱، ۲۹۷۸، ۳۱۷٤، ٤٥٥۳، ٥۹۸۰، ٦۲٦۰، ۷۱۹٦، ۷٥٤۱

په دې لیک کې د قرآن درې آیتونه راغلي، رسول الله صلی الله علیه و سلم پوهېدو چې په دې لیک به د ډېرو کافرانو لاس لګېږي، په پای کې به د هرقل لاس ته ورشي، که د قرآن لوستلو او مس کولو لپاره اودس او د بدن پاکي شرط وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به هیڅکله په خپلو لیکونو کې د قرآن آیتونه نه وو لیکلي. یو آیت، درې آیتونه او ټول قرآن د لوستلو او لاس وروړلو له پلوه هیڅ توپیر نه لري، هغه رأیه قطعاً د منلو وړ نه ده چې په دې کې په توپیر او تفاوت باور لري، قرآن یوازې د لمانځه لپاره اودس شرط ګڼي، په ټول قرآن کې داسي کوم آیت نه مومو چې په صراحت سره یا اشارتاً ځې له لمانځه پرته د بل څه لپاره اودس شرط ګڼلی وي، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي چې انسان په جنابت سره نه نجس کېږي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم لَقِيَهُ فِي بَعْضِ طَرِيقِ الْمَدِينَةِ وَهْوَ جُنُبٌ، فَانْخَنَسْتُ مِنْهُ، فَذَهَبَ فَاغْتَسَلَ، ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ « أَيْنَ كُنْتَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ » . قَالَ كُنْتُ جُنُبًا، فَكَرِهْتُ أَنْ أُجَالِسَكَ وَأَنَا عَلَى غَيْرِ طَهَارَةٍ . فَقَالَ « سُبْحَانَ اللهِ، إِنَّ الْمُؤْمِنَ لاَ يَنْجُسُ » .

له ابو هریره رضی الله عنه روایت دئ چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د مدینې په یوې لارې کې په داسي حال کې مخامخ شو چې په خپله جنب وو، نو پټ ترې لري شوی، نو تللی او غسل ځې کړی بیا راغلی او رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته ویلي: چېرې وې اې ابو هریره؟! وئې ویل: جنب وم، دا مي بده وګڼله چې له تا سره په داسي حال کې کښېنم چې پاک نه وم، رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: سبحان الله! مؤمن نه نجس کېږي، (نه په جنابت سره، نه په بې اودسۍ سره او نه په مړیني سره، په هر حالت کې له معنوي پلوه پاک دئ).

که د جنابت په حالت کې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ناسته جائز وي،

خوراك او څښاك جائز وي، خوراك په بسم الله پيلول جائز وي؛ نو قرآن لوستل او لاس وروړل به ولې ناجائز وي، عبدالله بن عباس رضى الله عنه د جنابت او حيض په حالت کې د قرآن تلاوت جائز ګڼي او وايي: کوم قرآن چې ستا په زړه کې دئ (په ژبه) تلاوت به ئې ولې ناجائز وي؟! که د عبدالله بن عباس رضى الله عنهما د رأيي مطابق د قرآن لوستل جائز وي نو لاس وروړل به ولې ناجائز وي؟!! آيا د لاس وروړلو اهميت زيات دئ که د تلاوت؟!

ما نه په قرآن کې داسي نص موندلى چې د قرآن لوستلو او تلاوت لپاره د اودس شرط ترې ثابت شي او نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په سنت کې، په دې اړه مې د ابن حزم رأيه تر ټولو مضبوطه او مستنده موندلې، سره له دې چې په ډېرو نورو مواردو کې ورسره موافق نه يم. ابن حزم په خپلې رأيې کې يوازې نه دئ؛ د ابن قيم جوزي په څېر علماء هم ده ته ورته رأيه لري، دې ته مو هم پام وي چې دا شرط ډېر خلك د قرآن له لوستلو او تلاوت محروموي، غوره دا ده چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې لارښوونې عمل وشي چې فرمايي: تل دي ژبه د الله په ذکر لمده لره.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ، قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيًّا قال لرسول الله صلى الله عليه وسلم: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّ شَرَايِعَ الإِسْلامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ فَأَخْبِرْنِي بِأَمْرٍ أَتَشَبَّثُ بِهِ قَالَ: لا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا بِذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ مصنف ابن ابى شيبة

له عبدالله بن بسر روايت دئ چې يو باندوال رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغى او وئې ويل: يا رسول الله! د اسلام لارښوونې راباندي زياتې شوې دي داسي يو کار راوښيه چې پرې عمل وکړم، وئې فرمايل: تل دي ژبه د الله په ذکر لمده لره.

دې او دې ته ورته رواياتو ته په پام سره ځينو علماءو دا هم ويلي چې که څوك په بيت الخلا کې وپرنچېږي الحمد لله ويلى شي.

أَفَبِهَٰذَا ٱلْحَدِيثِ أَنتُم مُّدْهِنُونَ ﴿٨١﴾ وَتَجْعَلُونَ رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُونَ ﴿٨٢﴾

٨١- نو آيا د دې قرآن په اړه بې اعتنائي کوونکي يئ، ٨٢- او دا خپله روزي (برخه) ګرځوئ چې تاسو (ئې) تکذيبوونکي وئ؟

(٨١-٨٢)- په دې مبارکو آيتونو کې له منکرينو پوښتل شوي: آيا عجيبه نه ده چې تاسو د دې کريم او پرتمين قرآن په اړه بې اعتنائي کوئ؟ آيا د دې ستري الهي پېرزويني له پراخي او له لارښوونو ډکې لمنې هيڅ څه نه شئ تر لاسه کولى، يوازې دا مو په برخه شوي چې د قيامت په اړه د هغه وينا تکذيب کړئ؟! څومره کم بخت دئ هغه چې له دې ستر الهي

نعمت محروم وي.

فَلَوْلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلْحُلْقُومَ ﴿٨٣﴾ وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ﴿٨٥﴾ فَلَوْلَآ إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرْجِعُونَهَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٨٧﴾

۸۳- نو کله چې (سا) ستوني ته ورسېږي ۸۴- او هغه مهال تاسو (ورته) ګورئ، ۸۵- او موږ هغه ته تر تاسو ډېر ورلنډ وو خو تاسي نه وینئ. ۸۶- نو که تاسو دین (الهي حکم) ته منقاد نه یئ ۸۷- ستنه ئې کړئ که رښتیني یئ.

(۸۳-۸۷)- په دې مبارکو آیتونو کې لاندې مهمې خبرې زموږ مخې ته اېښودل شوې:

- که تاسو د هغه الله تعالی د ارادې په وړاندې مقهور او محکوم نه یاست چې د مرګ او ژوند واکمن دئ، نو کله چې ستاسو روح ستوني ته ورسېږي، مړی د نزعې په حالت کې ګورئ، هڅه مو دا وي چې هغه له مرګ وژغورئ، خپل ټول توان طاقت په کار وړئ، نو که کولی شئ دا د وتو په حال کې روح بېرته وګرځوئ، دا عزیز مو له مرګ وژغورئ که رښتیني یئ!!
- تاسو چې کله د خپل هغه عزیز خوا ته راغونډ یئ چې روح ئې د وتو په حال کې وي او دا ټمنی کوئ چې هغه له مرګ وژغورل شي یا لږ تر لږه څه نور مهلت ورکړی شي، یا ئې دردناك حالت بدل او سا ئې په آسانۍ ووځي، خو یوه ټمنی مو هم نه شي تر سره کېدی، فقط د ناهیلۍ او بې وسۍ په حال کې د ده سخت حالت ته حیران حیران ګورئ، پوه شئ چې پدې وخت کې الله جل شأنه همدلته، د ده خوا ته، تر تاسو هغه ته نژدې او قریب وي.
- که له خدای منکر انسان په خپلې غلطې عقیدې کې رښتینی وی او د هغه رب په وړاندې مقهور او محکوم نه وی چې د مرګ ژوند پربکړه کوي نو د مرګ چاره به ئې کړې وه او د دغه قاهر ذات پربکړه به ئې ځنډولې وه.
- که تاسي د الله د ارادې په وړاندې محکوم نه یئ، د مکافات او مجازات هغه سنت (دین) چې الله وضع کړی، هغه سنن او ضوابط چې الله جل جلاله په دې عالم کې اېښي، که تاسو د هغه په وړاندې محکوم نه یئ نو کله چې ستاسو روح ستوني ته ورسېږي بېرته ئې ستنه کړئ که رښتیني یاست؟ ستاسي مرګ په دې دلالت کوي چې د یوه چا د ارادې په وړاندې محکوم یئ، نه غواړئ په مرګ محکوم شئ، انسان نه غواړي په زړښت محکوم

شي، د هغه قوتونه او استعدادونه کمزوري يا ختم شي او کله چې د خپل قوت لوړي څوکې او معراج ته ورسېږي بېرته دي په زوال محکوم شي، نه غواړي له مرګ سره مخامخ شي، خو څه چاره لري؟ دا چې کله ستا روح ستوني ته ورسېږي له بېرته ستنولو ئې عاجز يې؛ دا ثابتوي چې ته د يوه چا د ارادې په وړاندي محکوم يې. که داسې نه وي نو بېرته ئې ستنه کړئ که رښتيني يئ.

- لکه چې ګورئ دلته يو ځل بيا ويل شوي چې الله تعالى انسان ته ورنژدې وي، هم د ده په ژوند کې او هم ئې د مرګ په وخت کې، د آيت په پاى کې ويل شوي (و لکن لاتبصرون: خو تاسو نه وينئ) له دې فقرې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې الله تعالى هملته حاضر وي خو موږ ئې نه شو ليدلى. که څوك له دې انکار وکړي چې الله تعالى په هر ځاى کې له موږ سره دئ، زموږ تر غاړې موږ ته رانژدې دئ، نو د قرآن له داسې څرګندو آيتونو ئې انکار کړى چې د هيڅ ډول تأويل مجال په کې نشته. دوى په دې نه پوهېږي چې د الله تعالى په وړاندي مکان او زمان، فوق او تحت، ماضي او مستقبل، شاهد او غائب، نژدې او لرې مطرح نه دي، دا ټول نسبي مفاهيم دي چې يوازې د مخلوق په اړه صدق کوي.

فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ ﴿٨٩﴾ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿٩٠﴾ فَسَلَٰمٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿٩١﴾ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُكَذِّبِينَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٩٣﴾ وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ ﴿٩٤﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ حَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴿٩٥﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٩٦﴾

۸۸- نو که هغه د مقربينو له ډلې وي، ۸۹- نو هوسايي، خوږوږمه ګلان او له نعمتونو ډك جنت (به ئې وي) ۹۰- او که د بختورو (اصحاب اليمين) له ډلې وي نو (ورته وبه ويل شي) تا ته د بختورو له لوري سلام دئ، ۹۲- او که د لار ورکو دروغ ګڼونکو له ډلې وي، ۹۳- نو بيا مېلمستيا به (ئې) تودې خوټېدونکې اوبه وي، ۹٤- او په دوزخ کې غورځول، ۹۵- يقيناً چې دا يو يقيني حقيقت دئ، ۹٦- نو د خپل ستر رب د نامه تسبيح وايه.

(۸۸-۹٦)- په دې مبارکو آيتونو کې د دې سورې تتمه او خلاصه زموږ په وړاندي ځلېږي او په آخرت کې د يادو دريو ډلو حالت داسې انځوروي:

- څوك چې د مقربينو له ډلې وي هلته به ئې هوسايي، خوږوږمه ګلان او له نعمتونو ډك جنت په برخه شي.
- هغه چې د بختورو له ډلې وي نو ورته وبه ويل شي: تا ته د بختورو له لوري سلام دئ.
- او هغه چې د تېروتو درواغ ګڼونکو له ډلې وي نو په تودو خوټېدونکو اوبو به ئې استقبال ېږي او په دوزخ کې به غورځول کېږي.
- څه چې په دې سورې کې راغلي او څه چې د دغو دريو ډلو په اړه دلته ويل شوي يقيني حقيقت دئ، داسې حقيقت چې د يقين او باور تقاضا کوي، د باور کولو وړ حقيقت، هرومرو به همداسې کېږي. قرآن د يقين درې حالتونه او پړاوونه راښيي، حق اليقين، علم اليقين او عين اليقين، د دلائلو له مخې په څه باور کولو ته حق اليقين وايي، د شواهدو او آثارو له مخې په يوه څه باور کولو ته علم اليقين وايي او په خپلو سترګو ليدو سره په هغه باور کولو ته عين اليقين وايي، مثالونه ئې دا دي: تاسو د يوې مانۍ په اړه اورئ چې پنځوس کاله وړاندې له خامو خښتو جوړه شوې او په سيمې کې ډېر بارانونه هم ورېدلي نو له ځان سره وايئ: دا مانۍ به نسکورېدو ته نژدې شوې وي، دې ته حق اليقين وايي، هلته ورځئ او مانۍ له نژدې ګورئ چې ځيني خښتي ئې راپرېوتې دي نو دې نتيجې ته رسېږئ چې عمر ئې پای ته رسېدلی، دې ته علم اليقين وايي، خو څو ورځې وروسته ورځئ او په خپلو سترګو ګورئ چې مانۍ نسکوره شوې؛ دې ته عين اليقين وايي.
- نو د خپل ستر رب د نامه تسبيح وايه، د دې حقيقت تقاضا دا ده چې د خپل ستر رب د نامه تسبيح ووايې او له هر عيب او نقص ئې منزه او سپېڅلی وبولې.

د دې سورې د آخري آيت په اړه په يوه روايت کې داسې راغلي:

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ (فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ) قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم:« اجْعَلُوهَا فِي رُكُوعِكُمْ ». فَلَمَّا نَزَلَتْ (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الأَعْلَى) قَالَ لَنَا:« اجْعَلُوهَا فِي سُجُودِكُمْ ». البيهقى

له عقبة بن عامر رضى الله عنه روايت دئ چې وايي: کله چې دا آيت نازل شو (فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ) نو رسول الله صلى الله عليه و سلم موږ ته وويل: دا په خپلو رکوع ګانو کې وايئ؛ او کله چې دا آيت نازل شو (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الأَعْلَى) راته وئې ويل: په خپلو سجدو کې ئې وايئ.

له دې او دې ته ورته آيتونو معلومېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د لمانځه

هر څه له قرآن اخيستي، نه يوازي رکوع، سجده، قيام، قرائت ... بلکي د سجدې او رکوع تسبيحات هم.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الحديد

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الحديد) دئ چې له ۲۵ آيت اخيستل شوی، ۲۹ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (الحکيم)، د دوهم آيت (قدير)، د پنځم آيت (الامور)؛ او د اتم آيت (المؤمنين)، ته ورته دي، ديارلسم آيت ئې په (عذاب) پای ته رسېدلی خو دا له ورپسې آيت سره ټرلی دئ او دواړه په (الغرور) پای ته رسېږي، ۲۶ او ۲۷ آيتونه په (الفاسقون) پای ته رسېدلي چې (الامور) ته ورته وزن او غږ لري. د آيتونو د غږ مد و جزر سورې ته ډېر ښکلی او په زړه پوري غږ او وزن ورکړی، د آيتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په منځنيو کلونو کې نازل شوي. د سورې له لسم آيت معلومېږي چې دا سوره د حديبيې له هغې صلحي وروسته نازله شوې چې قرآن ئې د فتح مبين په نامه يادوي.

... لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ ٱلْفَتْحِ وَقَٰتَلَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ ٱلَّذِينَ أَنفَقُوا۟ مِنۢ بَعْدُ وَقَٰتَلُوا۟ ۚ وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١٠﴾

.... ستاسو هغه چې تر فتحي وړاندي ئې انفاق کړی او جنګېدلي (له نورو سره) برابر نه دي، دوی د درجې له پلوه تر هغو ستر دي چې ترې وروسته ئې انفاق کړی او جنګېدلي؛ او الله له هر يوه سره غوره وعده کړې؛ او الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

په دې اړه ځيني متعارض روايات هم مخي ته راځي چې ځيني ئې د دې سورې نزول د بعثت په لومړي کال، ځيني په څلورم کال او ځيني په اولسم کال کې ګڼي، روايات داسي دي:

عون بن عبدالله بن سلام له خپل پلار روايت کوي چې عبد الله بن مسعود وويل: زمونږ د مسلمانېدو او د دې تر منځ چې الله په دې آيت سره (أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ) مونږ معتوب کړو يوازي څلور کاله ول. ګواکې دا آيت په مکه کې

او د بعثت په څلورم کال نازل شوی.

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ته منسوب بل روایت وایي: زمونږ د مسلمانېدو او د دې تر منځ چې الله پر مونږ عتاب وکړ یوازې څلور میاشتې تېرې شوې وې تر هغه چې دا آیت نازل شو (أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ)!!

انس رضی الله عنه ته منسوب روایت وایي چې د قرآن د نزول له پیل اولس کاله وروسته دا آیت نازل شو ((أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ)،

په دې متعارضو روایاوتو کې یو ئې هم د اعتبار وړ نه دئ، دا ځکه چې د سورې له متن، محتوی، اسلوب او د آیتونو له اوږدوالي په وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره په مدینه کې او د الفتح له سورې وروسته نازله شوې.

د دې مبارکې سورې په لومړیو آیتونو کې د الله تعالی ځینې صفات بیان شوي، ورپسې پر الله تعالی او پیغمبر ئې ایمان او د الله په لار کې انفاق ته بلنه راکړی شوې، د انفاق په اړه تفصیلي بحث کېږي، ورپسې په آخرت کې د مؤمنانو او منافقینو حالت انځور شوی، بیا مؤمنانو ته ویل شوي چې اوس باید هغه وخت رارسېدلی وي چې د الله د نامه او د قرآن د آیتونو په اورېدلو سره ستاسو زړونه وپوړېږي، بیا د آخرت په پرتله د دنیایي ژوند معنوي ارزښت په ډېري اغېزناکي بڼې کې څېړل شوی، ورپسې د بخل یادونه شوې، بیا د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت خلاصه او د دوی د بعثت موخه مونږ ته راښیي؛ په پای کې هغو ته چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر بعثت وړاندې ئې پر الله تعالی د ایمان ادعاء کوله ویل شوي: اې هغو چې ایمان ئې راوړی! له الله ووېرېږئ او د ده پر پیغمبر ایمان راوړئ، د دې ایمان له امله به الله تعالی تاسو ته د خپل رحمت دوه سهمه او برخې درکړي، هم د مخکینې ایمان اجر او هم د نوي ایمان اجر، داسې رڼا به درپه برخه کړي چې په مرسته ئې په سم لوري تګ وکړی شئ، حق او باطل او ښه او بد سره تفکیک کړی شئ؛ او تاسو ته به د مهربان بخښونکي رب له لوري بخښنه وشي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١﴾ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ يُحْيِۦ وَيُمِيتُ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢﴾ هُوَ ٱلْأَوَّلُ وَٱلْآخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلْبَاطِنُ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٣﴾ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ

ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۖ وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٤ لَّهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٥ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۚ وَهُوَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٦

١- څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي د الله تسبیح وایي او هغه باحکمت عزتمن دئ، ٢- د آسمانونو او زمکې ټولواکي د ده ده، ژوند ورکوي او مرګ ورکوي او هغه په هر څه توانمن دئ، ٣- دی هم لومړی دئ او هم وروستی، هم څرګند دئ هم پټ؛ او دی په هر څه پوه دئ، ٤- دی همغه دئ چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پیدا کړل او بیا پر عرش برابر شو؛ پر هغه څه هم پوهیږي چې په زمکې کې ننوځي او پر هغه څه هم چې ترې وځي او پر هغه څه هم چې له آسمان راکښته کیږي او پر هغه څه هم چې په کې لوړ ځي؛ او هغه په هر ځای کې چې تاسو وئ درسره دئ؛ او الله د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ. ٥- د آسمانونو او زمکې ټولواکي د ده ده؛ او چاري د الله لوري ته ستنول کیږي، ٦- شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي او هغه د سینو په شته وو ښه پوه دئ.

(١-٦)- په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی داسې معرفي شوی:

- څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي د الله په عبادت بوخت دي او هغه له هر عیب او نقص منزه ګڼي، د حال او قال په ژبه وایي چې الله تعالی باحکمت عزتمن دئ.
- د آسمانونو او زمکې ټولواکي د ده ده، هر څه د ده دي، واك ئې له ده سره دئ.
- د ژوند او مرګ پرېکړه د ده له لوري کیږي، ژوو ته دی ژوند ورکوي او بېرته ئې په مرګ محکوموي.
- په هر څه توانمن دئ،
- دی لومړی دئ؛ تر ده وړاندې هیڅ څه نه وو.
- دی وروستی دئ؛ له ده پرته به هر څه له منځه ځي؛ یوازې دی تلپاته دئ او ازلي او ابدي دئ. دا عالم او په هغه کې هر څه له عدم او نېست پیدا شوي، بېرته به له منځه ځي، داسې چې له الله تعالی پرته به هیڅ څه نه وي پاته، بیا به ئې الله تعالی په نوې بڼې کې

راپيدا کوي، په نوي عالم کې به جنتيان په جنت کې تلپاته وي او دوزخيان په دوزخ کې، هغه خلود او تلپاينه له دې سره کوم تعارض نه لري چې الله تعالى اول او آخر دئ، قرآن دا هم وايي چې دوی به په جنت او دوزخ کې تر هغه وي چې الله تعالى ئې غواړي، يعني د دوی هغه خلود ذاتي نه دئ بلکې د الله تعالى له لوري دئ.

- دی څرګند دئ؛ يعني هر لوري ته او په هر څه کې د ده د قدرت او شتون نښې او آثار له ورايه ځليږي او سترګور ئې ګوري. دې ته مو پام وي چې دلته ظاهر د باطن په مقابل کې راغلی؛ له څرګند پرته ئې په بله معنى نه شو اخيستلى، هغه رأيه صحيح نه ده چې د قاهر او برلاسي په معنى ئې نيسي.
- دی پټ دئ؛ داسي چې هيڅ سترګي ئې د ليدو توان نه لري.
- په هر څه پوه دئ؛ نه په زمکي کې څه ترې پټ ي او نه په آسمانونو کې، هيڅ څه د ده د علم په وړاندي نه شي حجاب کېدى.
- آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پيدا کړل او بيا پر عرش برابر شو، يعني الله تعالى هم د آسمانونو او زمکي خالق دئ او هم ټولواك، هر څه ئې پيدا کړي او هر څه د ده تر واك لاندي دي او د ده حکم ته منقاد دي، دا عالم د ده ملك دئ او دی ئې مالك او حاكم. لومړی ئې زمکه او آسمانونه پيدا کړي بيا ئې پر عرش استوى کړې؛ يعني چې عرش له ده سره لازم او ملزوم نه دي؛ تر عرش وړاندي وو؛ عرش ئې د زمکي او آسمانونو له پيدايښت وروسته پنځولى؛ او پر عرش د استوى قضيه هغه مهال مطرح شوې چې الله تعالى خپل ملك (آسمانونه او زمکه) پيدا کړى؛ دغه مهال ئې د ملك د پاللو، ساتلو او اداره کولو لپاره د ټولواك په توګه پر عرش استوى کړې. يعني د خالق صفت ئې د عالم له پېدا کولو جوت شوى او د مَلِك (ټولواکۍ) صفت ئې پر عرش له استوى. پر عرش استوى يعني دا چې الله تعالى د عالم يوازينى ټولواك دئ.
- پر هغه څه هم پوهېږي چې په زمکي کې ننوځي او پر هغه څه هم چې ترې وځي او پر هغه څه هم چې له آسمان راکښته کېږي او پر هغه څه هم چې په کې لوړ ځي، يعني الله تعالى نه يوازي ټول عالم پيدا کړى بلکې د عالم ذره ذره د ده تر رعايت لاندي ده، هغه وړه دانه چې په زمکي کې ننوځي، هغه بوټى چې له زمکي راوځي، د باران هر څاڅکى چې له آسمان وربږي؛ او د اوبو هغه بخار چې لوړ ځي، ټول د الله تعالى په حکم، اراده او رعايت سره رامنځته او تر سره کېږي،
- په هر ځاى کې له تاسو سره دئ؛ داسي نه چې پر عرش استوى داسي تعبير کړې چې هغه ئې مکان دئ؛ او په همدې مکان پورې محدود دئ؛ نه؛ بلکې هلته هم دئ او

هممهاله له تا سره او له بل هر انسان سره په هر ځای کې هم. دا چې دا دواړه مطالب په یوه آیت کې پر له پسې راغلي نو معنی ئې فقط همدا ده؛ هم ئې پر عرش استوی کړې او هم له خپلو ټولو متحرکو بندګانو سره په هر وخت او هر ځای کې وي.

- د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ؛ یعني علم ئې کامل او جامع دئ؛ هر څه ورته څرګند؛ د انسان د علم په څېر نه دئ چې هم محدود دئ او هم اکتسابي؛ د الله تعالی علم هم ذاتي دئ او هم لا محدود.
- د آسمانونو او زمکې ټولواکي د ده ده؛ او د عالم ټولي چاري ده ته راجع کېږي،
- شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي، شپه او ورځ د ده په اراده ځي راځي،
- پر ټولو هغو اسرارو پوه دئ چې د خلکو په سینو کې پټ دي.

یعني:

- هر مخلوق داسي دئ چې نه وي، پیدا شي او بېرته له منځه ولاړ شي؛ خدای داسي نه دئ.
- هر مخلوق د مکان او زمان تابع دئ؛ هم مکان ته اړ وي او هم زمان ته، که راځرګندېږي نو په یوه ځای کې به وي نه دوو ځایونو کې او نه هر ځای کې؛ او که له یوه ځای بل ته خوځي وخت او زمان ترې نیسي. په یوه وخت کې یوازي یو ځای اوسېدی شي نه هممهاله په دوو ځایونو کې او هر ځای کې. لاندي او باندي، فوق او تحت، مخ او شا، ښی او کین، پرون، نن او سبا، ماضي، حال او مستقل لري؛ خو الله تعالی په دې ټولو کې له هیڅ مخلوق سره ورته نه دئ؛ نه د مکان تابع دئ او نه د زمان؛ هممهاله هم پر عرش وي او هم په هر ځای کې له موږ سره.

که یو تعمیر ړنګ شي او خښتي ئې خورې ورې؛ څوک دې ړنګي ماڼۍ او خورو خښتو ته ئې وګوري او ووایي: دا خښتي له دې تعمیر پیدا شوې؛ او بل ورته ووایي: نه جنابه! دا تعمیر له دغو خښتو جوړ شوی، لومړۍ خښتي پیدا شوې؛ بیا دا ماڼۍ ترې جوړه شوې؛ نو له شك پرته دا دوهم تعبیر دقیق دئ؛ که وحدت الوجودي وایي: دا ټول تر سترګو کېدونکي اشیاء د واحد ذات اجزاء او مظاهر دي؛ نو د دې غلطي ادعاء معنی فقط دا ده چې لومړی همدا اجزاء پیدا شوي او بیا واحد ذات ترې جوړ شوی؛ یعني چې د ده خدای حادث دئ؛ له خپلو اجزاءو وروسته رامنځته شوی، نه اول دئ او نه آخر؛ او دا دئ ګورئ چې قرآن دا ټولي خبري په قاطع او صریح الفاظو ردوي.

ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُواْ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسۡتَخۡلَفِينَ فِيهِۖ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَأَنفَقُواْ لَهُمۡ أَجۡرٞ كَبِيرٞ ٧ وَمَا لَكُمۡ لَا تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلرَّسُولُ يَدۡعُوكُمۡ لِتُؤۡمِنُواْ بِرَبِّكُمۡ وَقَدۡ أَخَذَ مِيثَٰقَكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٨

۷- پر الله او د ده پر پیغمبر ایمان راوړئ او له هغه څه انفاق وکړئ چې تاسو ئې په هغه کې ځای ناستي (د نورو وارث) کړي یئ، نو چا چې ستاسو له ډلې ایمان راوړ او انفاق ئې وکړ دوی ته ستر اجر دئ، ۸- او څه درباندې شوي چې پر الله ایمان نه راوړئ حال دا چې پیغمبر تاسو بلي چې پر خپل رب ایمان راوړئ او په داسې حال کې چې ستاسو ژمنه ئې تر لاسه کړې؛ که مؤمنان یئ.

(۷-۸)- قرآن په دې مبارکو آیتونو کې خپلو مخاطبینو ته وایي:

- پر الله او د ده پر پیغمبر ایمان راوړئ،
- له خپلو هغو شتمنیو انفاق کوئ چې الله تعالی تاسو په هغوی کې ځای ناستي کړي یئ، له نورو تاسو ته په میراث پاته شوې؛ او الله تعالی تاسو ته سپارلې دي، دا ستاسو اصلي ملکیت نه دئ، د الله له لوري یو امانت دئ، څو ورځې تاسو ته سپارل شوی، د اصلي مالك د خلیفه او نائب په توګه،
- له تاسو چې چا ایمان راوړ او انفاق ئې وکړ دوی ته ستر اجر دئ،
- څه درباندې شوي چې پر الله ایمان نه راوړئ حال دا چې پیغمبر تاسو ته بلنه درکوي چې پر خپل رب ایمان راوړئ.
- ولې هغه څه نه کوئ چې ستاسو ایمان ئې غوښتنه کوي، په داسې حال کې چې پیغمبر له تاسو دا ژمنه تر لاسه کړې چې د خپل ایمان له غوښتنو سره سم به عمل کوئ، د ایمان په لومړۍ ورځې تاسو دا ژمنه کړې ده چې د الله او د ده د پیغمبر اطاعت به کوئ، داسې نه شي کېدی چې څوك دي حقیقتاً مؤمن وي او په عمل کې دي د خپل ایمان خلاف عمل وکړي.

لاندې روایات په ډېرې ښکلې او اغیزناکې بڼې کې د قرآن دا مطلب زموږ مخې ته ږدي:

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهُمْ ذَبَحُوا شَاةً فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم « مَا بَقِيَ مِنْهَا ». قَالَتْ مَا بَقِيَ مِنْهَا إِلاَّ كَتِفُهَا. قَالَ « بَقِيَ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا ». الترمذى

له عائشې رضی الله عنها روایت دئ چې دوی یوه مېږه ذبح کړې وه (او له یوې اوږې پرته ئې نوره ټوله غوښه په مستحقینو وېشلې وه)، رسول الله صلی الله علیه و سلم

وفرمايل: څه ترې پاته شول؟ هغې ورته وويل: له يوې اوږې پرته بل څه نه دي ترې پاته شوي، وئې فرمايل: ټول پاته شول له اوږې پرته.

يعني په حقيقت کې هغه څه پاته شول چې د الله تعالى په لار کې وقف شول.

عن أَبُى هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَىُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا قَالَ «أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ، تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمُلُ الْغِنَى، وَلاَ تُمْهِلُ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ قُلْتَ لِفُلاَنٍ كَذَا، وَلِفُلاَنٍ كَذَا، وَقَدْ كَانَ لِفُلاَنٍ » بخارى او مسلم

له ابو هريره رضى الله عنه روايت دئ چې يو سړى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغى او وئې ويل: يا رسول الله! د کومې صدقې اجر تر ټولو زيات دئ؟ وئې فرمايل: دا چې ته په داسې حال کې صدقه ورکړې چې روغ وې، (پرې) حريص وې، له فقر وېرېږې، د شتمنې هيله لرې، تر هغه ځنډ مه کوه چې سا ستونې ته ورسېږي بيا ووايې: د فلان لپاره دا او د فلان لپاره دا، په داسې حال کې چې عملاً د فلانې شوى.

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « يَقُولُ الْعَبْدُ مَالِى مَالِى إِنَّمَا لَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلاَثٌ مَا أَكَلَ فَأَفْنَى أَوْ لَبِسَ فَأَبْلَى أَوْ أَعْطَى فَاقْتَنَى وَمَا سِوَى ذَلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِكُهُ لِلنَّاسِ ». مسلم و شعب الإيمان

له ابو هريره رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: بنده وايي: زما مال، زما مال، په داسې حال کې چې ده ته د خپل مال درې ګوڼې دي: هغه چې خوړلې ئې دي او له منځه ئې وړي، هغه چې اغوستې ئې دي او زاړه کړې ئې دي؛ او هغه چې (د الله لپاره ئې) بخښلې او خوندي ئې ساتلې، له دې پرته نور داسې دئ چې هغه تلونکى دئ او خلکو ته ئې پرېښودونکى.

هُوَ ٱلَّذِى يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦٓ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖ لِّيُخۡرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ بِكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٩

۹- دى همغه دئ چې پر خپل بنده ئې خرګند آيتونه نازل کړل چې تاسو له تيارو د نور لورې ته وباسي؛ او يقيناً چې الله پر تاسو مهربان لوروونکى دئ.

---

(۹)- په دې مبارکو آيتونو کې د الله تعالى يوې ستري پېرزويني ته زمونږ پام اړول شوى او

هغه دا چې الله تعالى زموږ د لارښوونې لپاره د خپل پيغمبر په لاس څرګند آيتونه، لارښوونې او احكام راولېږل، د دې لپاره چې موږ له تيارو د نور لورې ته وباسي، موږ په تياره کې وو، د ځان او جهان، مفيد او مضر، دوست او دښمن، ښه او بد له پېژندو عاجز او دې ته اړ وو چې څوك مو مخه روښانه کړي او داسي مشعل په لاس کې راکړي چې په رڼا کې ئې له تيارو د نور لورې ته ووځو، مهربان لوروونکی رب پر موږ دا لورېنه وکړه او دا مشعل ئې پر موږ پېرزو کړ.

وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَا يَسْتَوِى مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ ٱلْفَتْحِ وَقَٰتَلَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ ٱلَّذِينَ أَنفَقُوا۟ مِنۢ بَعْدُ وَقَٰتَلُوا۟ ۚ وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١٠﴾

۱۰- او څه درباندي شوي چې د الله په لار کې انفاق نه کوئ په داسي حال کې چې د آسمانونو او زمکې ميراث د الله دئ، ستاسو هغه چې تر فتحي وړاندي ئې انفاق کړی او جنګېدلي (له نورو سره) برابر نه دي، دوی د درجې له پلوه تر هغو ستر دي چې ترې وروسته ئې انفاق کړی او جنګېدلي؛ او الله له هر يوه سره غوره وعده کړې؛ او الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

---

(۱۰)- په دې مبارك آيت کې د هغه چا حالت د حيرانتيا وړ ګڼل شوی چې د ايمان دعوی کوي خو د الله تعالى په لار کې له انفاق ډډه کوي، خطاب ئې دا دئ: څه درباندي شوي چې د الله په لار کې انفاق نه کوئ په داسي حال کې چې د آسمانونو او زمکې هر څه د الله دي او ده ته په ميراث پاته کېږي، که نن څه موقتاً ستاسو په واك کې دي سبا به ئې اصلي مالك ته په ميراث پرېږدئ او تش لاس به د ده په لوري درومئ. له تاسو چې چا تر فتحي وړاندي انفاق کړی او جنګېدلي مقام ئې د الله تعالى په وړاندي تر نورو ډېر لوړ دئ، هيڅوك ورسره برابري نه شي کولی، دوی د درجې او مقام له پلوه تر هغو ستر او لوړ دي چې تر دوی وروسته ئې د الله تعالى په لار کې انفاق کړی او جنګېدلي، په داسي حال کې چې الله له هر يوه سره غوره وعده کړې؛ او الله تعالى ښه خبر دئ چې تاسو څه کوئ او د کوم مقام او بدلې وړ يئ.

دا بايد په پام کې ولرو چې په دې آيتونو کې کومي فتحي ته اشاره شوې؛ د حديبيې

فتح که د مکې فتح؟ دې ته په پام سره چې دا سوره د مکې تر فتحي وړاندي نازله شوې؛ نو په یقین سره ویلی شو چې دلته د حدیبیې فتحي ته اشاره شوې؛ هغه رأی کمزورې ده چې د مکې له فتحې وروسته ایمان راوړونکي او جهاد کوونکي ئې مصداق ګڼي.

دا مطلب په یوه مبارك حدیث کې داسې انځور شوی:

عَنْ يُوسُفَ بن عَبْدِ اللهِ بن سَلامٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَنَحْنُ خَيْرٌ أَمْ مَنْ بَعْدَنَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"لَوْ أَنَّ لأَحَدِهِمْ مِثْلُ أُحُدٍ ذَهَبًا يُنْفِقُهُ فِي سَبِيلِ اللهِ، مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدَكُمْ وَلا نَصِيفَهُ". الطبرانی

یوسف بن عبدالله بن سلام له خپل پلار روایت کوي چې ومو ویل: یا رسول الله! آیا موږ غوره یو او که هغه چې تر موږ وروسته راځي؟ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: که د هغوی کوم یو د الله په لار کې د احد د غره په اندازه سره زر وقف کړي؛ ستاسو د یوه تن مد (یوه لپه) او د هغې نیمایي ته به ونه رسېږي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فَذَكَرَ حَدِيثًا طَوِيلًا فِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَيَأْتِيَنَّ أَقْوَامٌ تَحْقِرُونَ أَعْمَالَكُمْ مَعَ أَعْمَالِهِمْ " قُلْنَا: مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ، أَقُرَيْشٌ؟ قَالَ: " لَا أَهْلُ الْيَمَنِ هُمْ أَرَقُّ أَفْئِدَةً وَأَلْيَنُ قُلُوبًا " فَقُلْنَا: هُمْ خَيْرٌ مِنَّا يَا رَسُولَ اللهِ؟ فَقَالَ:: " لَوْ كَانَ لِأَحَدِهِمْ جَبَلٌ مِنْ ذَهَبٍ فَأَنْفَقَهُ مَا أَدْرَكَ مُدَّ أَحَدِكُمْ وَلَا نَصِيفَهُ إِنَّ فَضْلَ مَا بَيْنَنَا، وَبَيْنَ النَّاسِ هَذِهِ الْآيَةُ: {لَا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَنْ أَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ} [الحديد: ۱۰] الطحاوی

له ابو سعید خدري روایت دئ چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د حدیبیې په کال ووتلو، ...اوږد روایت دئ چې په ضمن کې ئې راغلي ... رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: داسې وګړي به راشي چې د هغوی د عملونو په پرتله به خپل عملونه ډېر لږ او حقیر شمېرئ، ومو ویل: دا به څوك وي یا رسول الله! آیا قریش به وي؟ وئې فرمایل: نه؛ دوی یمنیان دي چې ډېر نرم زړي او ډېر ملائم زړي دي، ومو ویل: یا رسول الله! دوی تر موږ غوره دي؟ وئې فرمایل: که د هغوی کوم یو د الله په لار کې د احد د غره په اندازه سره زر وقف کړي ستاسو د یوه تن مد (یوه لپه) او د هغې نیمایي ته به ونه رسېږي، زموږ او د هغو خلکو تر منځ د فضیلت ملاك دا آیت دئ: لَا يَسۡتَوِي مِنكُم مَّنۡ أَنفَقَ مِن قَبۡلِ ٱلۡفَتۡحِ وَقَٰتَلَۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَعۡظَمُ دَرَجَةٗ مِّنَ ٱلَّذِينَ أَنفَقُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَقَٰتَلُواْۚ.

په دې آیت کې ویل شوي چې له فتحي وروسته او وړاندي انفاق او قتال سره برابر نه

دي، له دې وينا په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره له يوې ستري فتحي وروسته نازله شوې، د دې فتحي اطلاق نه د بدر پر فتحي کېدی شي او نه د مکې پر فتحي، يوازي د حديبيې فتح ئې مصداق دئ. د پورتني روايت له فحوی هم دغه حقيقت معلومېږي.

مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقۡرِضُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنًا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥ وَلَهُۥٓ أَجۡرٞ كَرِيمٞ ﴿١١﴾ يَوۡمَ تَرَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ يَسۡعَىٰ نُورُهُم بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِم بُشۡرَىٰكُمُ ٱلۡيَوۡمَ جَنَّٰتٞ تَجۡرِى مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٢﴾ يَوۡمَ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱنظُرُونَا نَقۡتَبِسۡ مِن نُّورِكُمۡ قِيلَ ٱرۡجِعُواْ وَرَآءَكُمۡ فَٱلۡتَمِسُواْ نُورٗاۖ فَضُرِبَ بَيۡنَهُم بِسُورٖ لَّهُۥ بَابُۢ بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحۡمَةُ وَظَٰهِرُهُۥ مِن قِبَلِهِ ٱلۡعَذَابُ ﴿١٣﴾ يُنَادُونَهُمۡ أَلَمۡ نَكُن مَّعَكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمۡ فَتَنتُمۡ أَنفُسَكُمۡ وَتَرَبَّصۡتُمۡ وَٱرۡتَبۡتُمۡ وَغَرَّتۡكُمُ ٱلۡأَمَانِيُّ حَتَّىٰ جَآءَ أَمۡرُ ٱللَّهِ وَغَرَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ﴿١٤﴾

۱۱- هغه څوك دئ چې الله ته کوم پور د حسنه قرض په توګه ورکړي، چې ده ته به ئې څو برابره کړي او ده ته به پرتمين اجر وي، ۱۲- هغه ورځ چې مؤمنين او مؤمناني به داسي وي چې رڼا به ئې مخي او ښي لوري ته وي، نن به ستاسو زېرى هغه جنتونه وي چې ترې لاندي ويالې بهېږي؛ په هغه کې تلپاته، همدا ستره بريا ده، ۱۳- هغه ورځ چې منافقين او منافقاني به هغو ته چې ايمان ئې راوړی وايي: مورږ ته تم شئ چې ستاسو له رڼا څه ځلا تر لاسه کړو، وبه ويل شي: شا لوري ته مو ستانه شئ او هلته کوم نور ولټوئ، نو د دوی تر منځ به داسي دېوال ووهل شي چې يوه دروازه به ئې وي، منځ ئې داسي چې په هغه کې به رحمت وي او ظاهر ئې داسي چې په وړاندي ئې عذاب، ۱٤- دوی ته به چيغي وهي: آيا مورږ له تاسو سره نه وو؟! وبه وايي: هو؛ خو تاسو خپل ځان په فتنې کې وغورځاوو او انتظار مو وکړ او شك مو وکړ او هيلو دوکه کړئ تر هغه چې د الله حکم راغی او د الله په اړه غولوونکي وغولولئ.

(۱۱-۱٤)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

• څوك چې كوم څه په اخلاص سره او له كوم ناوړه غرض پرته د الله تعالى په لار كې وقف كړي، موخه ئې د خپل رب رضاء تر لاسه كول وي؛ الله تعالى د ده دا قرباني داسې ګڼي لكه الله تعالى ته پور وركول، الله تعالى دا پر خپلې ذمې د داسې پور په توګه قبلوي چې پور وركوونكي ته ئې څو برابره زياتوي او پر دې سر بېره غوره او پرتمين اجر وركوي.

• داسې ورځ هرومرو راتلونكې ده چې مؤمنين او مؤمناني به داسې وي چې رڼا به ئې مخې او ښي لوري ته وي، د دوى مخونه به ځلېږي، هغه رڼا چې د ايمان له كبله د دوى په برخه شوې په تلوار سره د جنت په لوري تلو ته به ئې لارښوونه كوي، د بريا سند به ئې په ښي لاس كې ځلېږي، د داسې جنتونو زېرى به وركول كېږي چې د ونو او قصرونو لاندي به ئې ويالې بهېږي، په هغه كې به تلپاته وي، همدا ستره بريا ده،

• هغه ورځ چې منافقين او منافقاني به هغو ته چې ايمان ئې راوړى وايي: مورږ ته تم شئ چې ستاسو له رڼا څه ځلا تر لاسه كړو، وبه ويل شي: شا لوري ته مو ستانه شئ او هلته كوم نور ولټوئ، دا رڼا يوازې په دنيا كې تر لاسه كېدى شوه، هغه به ترې محروم وي چې هلته په تيارو كې پاته شوى او د ايمان له رڼا محروم شوى.

• د مؤمنانو او منافقانو تر منځ به داسې دېوال ووهل شي چې يوه دروازه به ئې وي، يوې خوا ته ئې مؤمنان او بلې ته ئې منافقان، پر يوه لوري به د رحمت وزر غوړېدلى وي او بل لوري ته د عذاب سيورى، ترې وړاندې دوزخ،

• منافقين به مؤمنانو ته له لري او د دېوال له شا چيغې وهي: آيا مورږ له تاسو سره نه وو؟! وبه وايي: هو؛ خو تاسو خپل ځان په فتنې كې وغورځاوو او مترصد او منتظر وئ چې د مؤمنانو او كافرانو تر منځ به نښتې په څه منتج كېږي، چې بيا تاسو د بريالي لوري خوا ته ودرېږئ، د الله تعالى د وعد او وعيد په اړه شكمن وئ، اوږدو اوږدو دروغجنو هيلو دوكه كړئ، تر هغه په دې حالت كې پاته شوئ چې ستاسو د مرګ په اړه د الله تعالى حكم نافذ شو، د الله تعالى په اړه هم غلوونكي (شيطان) وغولولئ.

فَٱلۡيَوۡمَ لَا يُؤۡخَذُ مِنكُمۡ فِدۡيَةٞ وَلَا مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ مَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُۖ هِيَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٥

١٥- نو نن به نه له تاسو فديه اخيستل كېږي او نه له هغو چې كفر ئې كړى، استوګنځى مو اور، همدا مو مل؛ او د ورتلو څومره بد ځاى!

---

(١٥)- منافقينو ته به وويل شي: نن ورځ به هيڅ څه تاسو له الهي عذاب ونه ژغوري، نه

فديه او نه د چا مرسته او سپارښتنه، ستاسو او د هغو برخليك سره ورته دئ چې كفر ئې كړی، استوګنځی مو اور، همدا درسره وړ، تاسو په دنيا كې يوه د بل ملتيا كوله نن مو اور مل دئ، د ورتلو څومره بد ځای!

أَلَمۡ يَأۡنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن تَخۡشَعَ قُلُوبُهُمۡ لِذِكۡرِ ٱللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ ٱلۡحَقِّ وَلَا يَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلُ فَطَالَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَمَدُ فَقَسَتۡ قُلُوبُهُمۡۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ١٦

١٦- آيا هغو ته چې ايمان ئې راوړی د دې وخت نه دئ رارسېدلی چې زړونه ئې د الله په يادولو او د هغه حق له كبله وپوړېږي چې الله نازل كړی او د هغو په څېر نه شي چې تر دې وړاندې كتاب ورکړی شوی وو او وخت پرې اوږد شو نو زړونه ئې سخت شول او د دوی ډېری فاسقان ول؟!

(١٦)- د دې مبارك آيت په اړه څو خبرې توجه غواړي:

- د آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره هغه مهال نازله شوې چې پر مسلمانانو كافي موده تېره شوې نو ځكه دوی ته ويل شوي چې د دومره اوږدې مودې له تېرېدو وروسته اوس بايد د دوی حالت داسې وي چې د الله تعالى د نامه په يادولو او د قرآن د هغو زياتو برخو له كبله ئې په زړونو كې د الله تعالى وېره وي چې تر دې مودې پورې نازلې شوې، هغه روايات د قرآن له دې وينا سره تعارض لري چې ځينې وايي د بعثت له پيل څلور مياشتې يا څلور كاله وروسته دا آيت نازل شوی!! روايتونه دا دي:

عَنْ عَوْنِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ قَالَ مَا كَانَ بَيْنَ إِسْلاَمِنَا وَبَيْنَ أَنْ عَاتَبَنَا اللهُ بِهَذِهِ الآيَةِ (أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ) إِلاَّ أَرْبَعُ سِنِينَ. رواه مسلم

عون بن عبدالله بن سلام له خپل پلار روايت كوي چې عبد الله بن مسعود وويل: زموږ د مسلمانېدو او د دې تر منځ چې الله په دې آيت سره (أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ) موږ معتوب كړو يوازې څلور كاله ول. گواكې دا آيت په مكه كې او د بعثت په څلورم كال نازل شوی.

دا بل روايت وايي چې د بعثت په لومړي كال نازل شوی:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: " كَانَ بَيْنَ إِسْلَامِنَا وَبَيْنَ أَنْ عَاتَبَنَا اللهُ عَزَّ وَجَلَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ حَتَّى نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: {أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ}

له عبد الله بن مسعود روايت دئ چې زمونږ د مسلمانېدو او د دې تر منځ چې الله پر مونږ عتاب وکړ يوازې څلور مياشتې تېرې شوې وې تر هغه چې دا آيت نازل شو (أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ)!!

نه پوهېږو چې خلك څنګه داسې متعارض روايات معتبر ګڼي او د احاديثو په کتابونو کې راوړل شوي!! په داسې حال کې چې په دې سورې کې د قتال، نفاق او فتحې په څېر هغه اصطلاحات راغلي چې په مدني سورتونو پورې مختص دي او په مکي سورتونو کې ئې هيڅ نه شو موندلی او دا په ډېر وضاحت سره ښيي چې دا سوره په مدينه کې او هغه هم له يوې مهمې فتحې وروسته نازله شوې.

همدا راز انس رضی الله عنه ته منسوب روايت وايي چې د قرآن د نزول له پيل اولس کاله وروسته دا آيت نازل شو ((أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ!! لکه چې ګورئ په دې روایاتو کې ژور توپيرونه او تعارضات تر سترګو کېږي، په دې متعارضو روایاوتو کې يو ئې هم د اعتبار وړ نه دئ، دا ځکه چې د سورې له متن، محتوی، اسلوب او د آيتونو له اوږدوالي په وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره په مدينه کې او د الفتح له سورې وروسته نازله شوې.

له دې مبارك آيت دا هم جوتېږي چې د ايمان يوه لويه تقاضا دا ده چې د الله تعالی د نامه په يادولو او د قرآن په اورېدو سره به د مؤمن په زړه کې د الله تعالی وېره راپيدا کېږي، هغه څوك په قرآن زيات پوه دئ او د قرآن له لارښوونو ئې زياته برخه په نصيب شوې چې له خپل رب زيات وېرېږي، دا آيت مؤمنانو ته وايي: د هغو په څېر مه کېږئ چې تر دې وړاندې کتاب ورکړی شوی وو خو کله چې وخت پرې اوږد شو او ژر خپلو موخو ته ونه رسېدل نو زړونه ئې سخت شول او د دوی ډېری فاسقان شول.

ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ١٧

١٧- په دې پوه شئ چې الله زمکه له خپلې مړينې وروسته ژوندۍ کوي، يقيناً چې خپل آيتونه مو درته بيان کړل د دې لپاره چې تعقل وکړئ.

---

(١٧)- د دې آيت او مخکينيو مطالبو تر منځ يو خاص ارتباط دئ چې پرې پوهېدل لږ غور

او دقت غواړي، دلته ويل شوي چې الله تعالى زمكه د هغې له مړينې وروسته ژوندۍ كوي، په مخكيني آيت كې ويل شوي: آيا هغو ته چې ايمان ئې راوړى د دې وخت نه دئ رارسېدلى چې زړونه ئې د الله په يادولو او د هغه حق له كبله وپوړېږي چې الله نازل كړى، د دې دواړو تر منځ تړاو دا دئ چې د الله له ياد او له الهي لارښوونو د غفلت او لري والي له كبله زړونه مري، خپل حساسيت له لاسه وركوي، له معنوي پلوه ئې نرمښت له منځه ولاړ شي او سخت شي، د داسې زړه خاوند د فسق، عصيان او گناه لوري ته درومي، دا مړه او سخت زړونه د الله په ذكر او د الهي لارښوونو په وړمې راژوندي كېږي همغسي لكه چې مړه زمكه په باران سره راژوندۍ كېږي، په دې حقيقت هغه څوك پوهېدى شي چې تعقل كوي.

إِنَّ ٱلْمُصَّدِّقِينَ وَٱلْمُصَّدِّقَٰتِ وَأَقْرَضُوا۟ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴿١٨﴾

۱۸- يقيناً چې صدقه وركوونكي نارينه او ښځينه او هغه چې الله ته ئې كوم پور د حسنه قرض په توگه وركړى؛ څو برابره به ئې ورته زيات كړي او دوى ته پرتمين اجر دئ.

---

(۱۸)- په دې مبارك آيت كې يو ځل بيا ويل شوي چې الله تعالى به د صدقه وركوونكو صدقات او د هغو انفاق چې الله ته ئې كوم پور د حسنه قرض په توگه وركړى څو برابره زيات كړي او دوى ته به پرتمين اجر وركړي، په صدقاتو او د الله په لار كې د مال لگولو په نتيجه كې به هم د دوى مال او صدقات زياتېږي او هم به غوره اجر تر لاسه كوي.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦٓ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصِّدِّيقُونَ ۖ وَٱلشُّهَدَآءُ عِندَ رَبِّهِمْ لَهُمْ أَجْرُهُمْ وَنُورُهُمْ ۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٩﴾

۱۹- او هغه چې پر الله او د ده پر پيغمبرانو ئې ايمان راوړى؛ دوى د الله په وړاندې ډېر رښتيني او شهادت وركوونكي دي، دوى ته خپل خپل اجر او رڼا ده؛ او هغه چې كفر ئې كړى او زما آيتونه ئې تكذيب كړي دوى دوزخيان دي.

---

(۱۹)- د دې مبارك آيت لارښوونې دا دي:

- هغه څوك د الله تعالى په وړاندي او د الهي معيارونو له مخي هم ډېر رښتينى دئ او هم د حقيقت په نفع شهادت وركوونكى؛ چې پر الله تعالى او د ده پر پيغمبرانو ئې ايمان راوړى، په خپله ډېر صادق دئ او ايمان او باور ئې پر صدق او رښتينولې ولاړ دئ او د نورو په وړاندي د حق او حقيقت مدافع، د خپل باور او ايمان عيني تجسم، قول او عمل ئې د حق ملاك او معيار.
- الله تعالى به دوى ته د خپل (صدق) او (شهادت) بشپړ اجر وركوي او په دنيا او آخرت كې به ئې ځانګړې رښا په برخه كېږي. كه څه هم ځينو درنو مفسرينو داسې انګېرلې چې دلته د شهداء معنى هغه مؤمنان دي چې د الله په لار كې شهيدان شوي، په داسې حال كې چې د شاهد او شهيد اصلي معنى خرګند، ليدونكى، تر سترګو كېدونكى او ګواهي وركوونكى دئ، د الله په لار كې وژل شوى د دې لپاره د شهيد په نامه ياد شوى چې د هغه قرباني د ده د ايمان په رښتينولې ګواهي وركوي، قرآن مؤمنان د شهداء على الناس په نامه ياد كړي، دا ځكه چې دوى په خپل قول او عمل سره د اسلام پر حقانيت ګواهي او شهادت وركوي، دوى او د دوى وينا او عمل د حق لپاره ملاك او معيار شي. پر دې سربېره د دغو درنو مفسرينو تعبير د آيت په سياق كې تشتت رامنځته كوي او ادبي ښكلا او نظم ته ئې صدمه رسوي.
- او هغه چې د كفر لار ئې غوره كړې او د الله آيتونه ئې تكذيب كړي دوى دوزخيان دي.

ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا لَعِبٞ وَلَهۡوٞ وَزِينَةٞ وَتَفَاخُرُۢ بَيۡنَكُمۡ وَتَكَاثُرٞ فِي ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَوۡلَٰدِۖ كَمَثَلِ غَيۡثٍ أَعۡجَبَ ٱلۡكُفَّارَ نَبَاتُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصۡفَرّٗا ثُمَّ يَكُونُ حُطَٰمٗاۖ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٞ شَدِيدٞ وَمَغۡفِرَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٞۚ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ ٢٠

۲۰- په دې پوه شئ چې د دنيا ژوند يوازې لوبه، بېهوده مشغولتيا، سينګار، ستاسو تر منځ يو پر بل فخر كول، د مال او اولاد په اړه يو تر بل زيات درلودل دئ، لكه هغه باران چې بوټي ئې كرونكي حيران كړي، بيا وچ شي چې ته ئې زېړ شوى ګورې، بيا مات مات شي؛ او په آخرت كې هم شديد عذاب دئ او هم د الله مغفرت او رضاء؛ او د دنيا ژوند له غولوونكې متاع پرته بل څه نه دئ.

---

(۲۰)- په دې مبارك آيت کې هغه دنيايي ژوند انځور شوی چې د کافر لپاره وروستی هدف وي نه د آخرت لپاره يوه مزرعه، فرمايي: په دې پوه شئ چې د دنيا دا ژوند داسي دئ لکه د ماشومانو لوبه، لکه يوه بې هدفه او بېهوده مشغولتيا، د يوه سينګار په توګه ترې استفاده کول، يو پر بل د فخر او مباهات وسيله ترې جوړول، د مال او اولاد په اړه يو تر بل د زيات درلودلو مسابقه، دا ژوند د هغو بوټو ژوند ته ورته دئ چې د باران له کبله له زمکې سر راوباسي، سمسور شي، خپل کرونکي حيران کړي، خو ژر وچ شي داسي چې ته ئې تك زېر ګورې او په پای کې مات مات شي، د دې ژوند په مقابل کې آخرت داسي دئ چې هلته هم شديد عذاب دئ او هم د الله مغفرت او رضاء، د دنيا دا ژوند داسي دئ چې انسان غولوي او له آخرت ئې غافلوي.

سَابِقُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا كَعَرۡضِ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أُعِدَّتۡ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٢١

۲۱- د خپل رب بخښنې او هغه جنت لوري ته تلوار وکړئ چې سور ئې د آسمان او زمکې د سور په اندازه دئ، هغو ته تيار کړی شوی چې پر الله او د ده پر پيغمبرانو ئې ايمان راوړی، همدا د الله فضل دئ، هغه چا ته ئې ورکوي چې دی ئې غواړي؛ او الله د ستر فضل خاوند دئ.

---

(۲۱)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

مؤمنانو ته سپارښتنه کوي چې د خپل رب بخښنې او هغه جنت لوري ته تلوار وکړي چې سور ئې د آسمان او زمکې د سور په اندازه دئ، يعني دنيا بايد دغه ستر او لوړ هدف ته د رسېدو وسيله کړئ، د هغو په څېر مه کېږئ چې دنيايي ژوند ئې داسي وي لکه د ماشومانو لوبه، لکه يوه بې هدفه او بېهوده مشغولتيا، تاسو کولی شئ چې د خپل رب بخښنه او داسي جنت تر لاسه کړئ چې سور به ئې د آسمان او زمکې د سور په اندازه وي، دا پوښتنې راولاړېږي چې يو انسان به له خپل دغه واړه جسم او دغو وړو وړو استعدادونو سره له دومره ستر او پراخ جنت سره څه کوي او څنګه به له هغه خوند او لذت اخلي؟!! او دومره جنتونه به له کومه کېږي چې ټولو جنتيانو ته ورکړی شي؟ ډېرو ته به دا خبره مبالغه معلومه شي، خو هغه څوك چې پوهېږي دا اوس د آسمان په غېږ کې د هغو ستورو شمېر څومره دئ چې هر يو ئې د زمکې په اندازه يا تر زمکې غټ دئ!! ستور

پېژاندي وايي چې په آسمان کې شاوخوا يو سل شل ملياردە ستورليکي دي، چې په هر ستورليکي کې تر سل ملياردە زيات ستوري دي!! آيا دا نه ښيي چې د قرآن په هيڅ وينا کې نه د حقيقت خلاف خبره شوې او نه غير دقيقه او له مبالغې ډکه وينا.

دې ته مو هم بايد پام وي چې په جنت کې به نه د انسان حواس اوسني حواس وي او نه ئې د درک ساحه دومره محدوده لکه نن، هم به ئې لري ليد ډېر پراخ وي او هم حواس دومره حساس چې له داسي جنت سره ښايي، قرآن د دغه حقيقت د بيانولو لپاره د هغه چا حالت په جنت کې انځوروي چې په دنيا کې ئې له يوه دوزخي سره پېژندل، هغه ئې د غولولو هڅه کوله خو دی د الله تعالی په فضل تري خوندي پاته شوی وو، په جنت کې به ورپه ياد شي، زړه به ئې وغواړي چې له حاله ئې خبر شي، خپلو ملګرو ته به ووايي زما داسي يو دوست وو، راشئ وګورو چې هغه چېرې دئ، په يو نظر سره به هغه د ټولو دوزخيانو له منځه د دوزخ په يوې کندې کې ومومي او له جنته به پرې غږ کړي؛ او د دوی تر منځ به څو خبرې تبادله شي، دا داسي وګڼئ لکه څوک چې نن خپل کوم ملګری زمونږ په شمسي نظام يا ستورليکي کې ولټوي او د سترګو په رپ کې ئې په يوه لري ستوري کې ومومي!! له دې معلومېږي چې هلته به د انسان حواس څومره ځواکمن وي!!

خو آيا پوهېږئ چې په داسي خبرو به يو مهال د اسلام مخالفينو څومره ملنډې وهلې وي او هغه به ئې دروغجني او د حقيقت خلاف او له مبالغو ډکې ګڼلې وي؟!! خو دا دئ نن د افغانستان له يوه لري پراته کلي يو کس د يوه وړوکي مبايل په مرسته د نړۍ په لري ګوټ کې له خپل دوست سره داسي خبرې کوي چې هم ئې غږ اوري او هم ئې مخ ګوري!! دا نن د يوه قوي او ستر تلسکوپ خوا ته ناست ستور پېژاندی د ستور ليکې په لري اړخ کې يو ستوری ګوري او وايي: دا ستوری زمونږ له زمکې په دومره واټن کې پروت دئ، حجم ئې زمونږ د زمکې په پرتله دومره ځله زيات دئ!! آيا د قرآن دا وينا داسي نه ده چې د ساينس د ننني معيارونو له مستوی هم وړاندي ده؟!!

دا جنت هغو ته تيار کړی شوی چې پر الله او د ده پر پيغمبرانو ايمان راوړي، همدا د الله فضل دئ، تاسو کولی شئ د خپل رب دا ستر فضل تر لاسه کړئ، پر الله تعالی او د هغه پر پيغمبرانو ايمان او د دې ايمان له کبله د خپل رب بخښنه او هغه ستر جنت تر لاسه کول د هغه چا په برخه کېږي چې الله تعالی ئې د دې وړ وموميِ.

الله د ستر فضل خاوند دئ، تاسو کولی شئ د دې الهي فضل تر لاسه کولو سعادت مو په برخه شي.

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٢٢ لِّكَيۡلَا تَأۡسَوۡاْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا تَفۡرَحُواْ بِمَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٍ ٢٣ ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ وَيَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبُخۡلِۗ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٢٤

۲۲- نه په زمکي کې کومه پېښه رامنځته کېږي او نه ستاسو په خپل ځان کې مګر دا چې په کتاب کې (ثبت شوې) تر هغه وړاندې چې پیدا ئې کړو، یقیناً چې دا الله ته آسان دئ، ۲۳- د دې لپاره چې د هغه څه له کبله ناهیلي ونه کړئ چې له لاسه مو وتلي او نه پر هغه څه خوښي وکړئ چې تاسو ته ئې درکړي؛ او الله هر فخر کوونکی متکبر نه خوښوي، ۲٤- هغه چې بخل کوي او خلك پر بخل ګماري؛ او څوك چې مخ واړوي نو یقیناً چې الله همغه ذات دئ چې ستایل شوی غني دئ.

(۲۲-۲٤)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- **الله تعالی د عالم په هري پېښې له وړاندې علم لري، هغه ئې تر رامنځته کېدو وړاندې په لیکلې بڼې کې ثبت کړې، یقیناً چې دا کار الله تعالی ته آسان دئ، دا ځکه چې هر څه الله تعالی پیدا کوي، هره پېښه د الله تعالی په اراده رامنځته کېږي، الله تعالی ته ماضي، حال او مستقبل یو شان دي، د ده علم نه په زمان پورې محدود دئ او نه په مکان پورې.**
- **دا لارښوونه د دې لپاره شوې چې مونږ د هغه څه له کبله ناهیلي ونه کړو چې له لاسه مو وتلي او نه پر هغه څه خوښي وکړو چې مونږ ته ئې راکړي.**
- **الله تعالی هر فخر کوونکی متکبر نه خوښوي، هغه چې بخل کوي او خلك پر بخل ګماري، هغه چې پر الله تعالی او پر الهي مقدراتو ایمان نه لري، په دې باور نه لري چې هره پېښه د الله تعالی په اراده رامنځته کېږي او هره ورکړه د ده له لوري ده، داسې انسان که څه له لاسه ورکړي مأیوس شي او که ئې مال او دولت زیات شو هم کبر کوي او هم بخل، نور هم پر بخل ګماري، الله تعالی هر فخر کوونکی متکبر نه خوښوي.**
- **څوك چې پر دغو حقائقو له ایمان راوړلو ډډه وکړي ځان ته زیان رسوي، الله تعالی ته نه کومه ګټه رسي او نه کوم تاوان، الله تعالی غني دئ او په خپل ذات او صفاتو کې د ستاینې وړ.**

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَأَنزَلۡنَا ٱلۡحَدِيدَ فِيهِ بَأۡسٞ شَدِيدٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ٢٥

۲۵- یقیناً چې خپل پیغمبران مو له څرګندو نښو سره ولېږل او له دوی سره مو کتاب او میزان ولېږلو چې خلك پر عدالت قائم وي او هغه اوسپنه مو رالېږلې (پیدا کړې) چې په هغې کې شدید جنګ دئ او خلکو ته (ډېرې) ګټې؛ او چې الله هغه خلك معلوم کړي چې په غیاب کې د ده او د ده د پیغمبرانو ملتیا کوي، یقیناً چې الله عزتمن ځواکمن دئ.

---

(۲۵)- د دې مبارك آیت لارښوونې دا دي:

- الله تعالی خپل پیغمبران له څرګندو لارښوونو او دلائلو سره رالېږلي او د دوی په لاس ئې (کتاب: احکام او قوانین) او (میزان: د حق او باطل د تفکیك او تشخیص معیار) لېږلي، په دې موخه چې خلك په خپلو کړنو او تصرفاتو کې عدالت مراعات کړي.
- اوسپنه ئې پیدا کړې چې په هغې کې د شدید جنګ امکانات هم شته او خلکو ته د ډېرو ګټو امکانات هم، داسې وسائل هم ترې جوړېدی شي چې د سختو جګړو باعث کېږي او داسې وسائل هم چې خلکو ته ډېرې ګټې رسوي.
- له بیناتو، کتاب او میزان سره د پیغمبرانو لېږنه او له دغو خصوصیاتو او ځانګړتیاوو سره د اوسپنې پیدایښت د دې لپاره دي چې الله تعالی هغه خلك معلوم کړي چې په غیاب کې د ده او د ده د پیغمبرانو ملتیا کوي.
- الله تعالی عزتمن ځواکمن دئ.

دا مبارك آیت نه یوازې د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت خلاصه او د دوی د بعثت موخه مور ته راښیي بلکې د اوسپنې په اړه یوه وړاندوینه زمور مخې ته ږدي، هغه مهال چې دا آیت نازلېدو نه له اوسپنې د سختو سختو جګړو په اړه پراخه استفاده کېدله او نه د نورو ګټورو وسائلو په جوړولو کې، له اوسپنې پراخه استفاده ډېره وروسته پیل شوه او په یوویشتمې پېړۍ کې خپل اوج ته ورسېده، همدا راز په دې آیت کې د هغو مجاهدینو په اړه هم یوه دقیقه وړاند وینه زمور په وړاندي ځلېږي چې دغه مهال به د الله تعالی په لار کې جهاد کوي، ځکه دلته د هغو مجاهدینو یادونه شوې چې د پیغمبر په غیاب کې او هغه مهال به د الله تعالی په لار کې جهاد کوي چې اوسپنه به د سختو جګړو مهمه وسیله

وي!!

علمي څېړنې وايي چې په زمکې کې د اوسپني مقدار تر ټولو نورو فلزاتو زیات دئ، نن د وسلو او نورو آلاتو په جوړولو کې له اوسپني تر بل هر فلز زیاته استفاده کېږي، د اوسپني ځانګړتیاوو دا امتیاز ورکړی چې په صنعت کې زیاته استفاده ترې وشي، خو د اوسپني دا اهمیت هغه مهال جوت شو چې انسان له علمي پلوه ډېر وړاندې ولاړ او د ډول ډول وسائلو د جوړولو پوهه او امکانات ئې په برخه شول، که څوک اوس د اوسپني په اړه ووایي چې د جنګي وسائلو په جوړولو کې د اوسپني لویه ونډه ده او د انسان جنګ ته ئې شدت او پراخ ابعاد ورکړل او انسان تر نورو فلزاتو زیاته ګټه ترې اخلي نو دا نه د تعجب خبره ده او نه د حقیقت خلاف، خو که چا دا خبره دوه درې پېړۍ وړاندې کړې وی؛ نه چا ورسره منله او نه ئې صحیح ګڼله!! خو قرآن څوارلس پېړۍ وړاندوینه وکړه او دا دئ تر سره شوه.

دې ته مو هم پام وي چې اوسپنه د انسان د ویني یو مهم عنصر دئ، د چا په ویني کې چې دا ماده له ضروري حده کمه شي په سختو ناروغیو اخته کېږي، دا عادي خبره نه ده چې قرآن د اوسپني ګټو ته اشاره کوي او د قرآن یوه سوره په همدې نامه (الحديد) یاده شوې.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحٗا وَإِبۡرَٰهِيمَ وَجَعَلۡنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلۡكِتَٰبَۖ فَمِنۡهُم مُّهۡتَدٖۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ٢٦ ثُمَّ قَفَّيۡنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِرُسُلِنَا وَقَفَّيۡنَا بِعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡإِنجِيلَۖ وَجَعَلۡنَا فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ رَأۡفَةٗ وَرَحۡمَةٗۚ وَرَهۡبَانِيَّةً ٱبۡتَدَعُوهَا مَا كَتَبۡنَٰهَا عَلَيۡهِمۡ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ رِضۡوَٰنِ ٱللَّهِ فَمَا رَعَوۡهَا حَقَّ رِعَايَتِهَاۖ فَـَٔاتَيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۡهُمۡ أَجۡرَهُمۡۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ٢٧

۲۶- او یقیناً چې نوح او ابراهیم مو ولېږل او د دواړو په اولاد کې مو نبوت او کتاب وټاکلو نو د دوی ځینې لار موندونکي شول او د دوی ډېرې فاسقان شول، ۲۷- بیا مو د دوی پر پلونو خپل پیغمبران ورپسې کړل او عیسی د مریمې زوی مو ورپسې کړ او ده ته مو انجیل ورکړ او د هغو په زړونو کې مو زړه سوی، رحمت او رهبانیت راپیدا کړ چې د ده متابعت ئې وکړ، هغه رهبانیت چې دوی په خپله رامنځته کړ او موږ د الله د رضاء له لټولو پرته بل څه نه وو پرې فرض کړي؛ نو په داسې توګه ئې هغه

مراعات نه کړ چې ورسره وړ وو، نو د دوی هغو ته مو خپل خپل اجر ورکړ چې ایمان ئې راوړی وو او د دوی ډېری فاسقان ول.

(٢٦-٢٧)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- الله تعالی نوح علیه السلام او ابراهیم علیه السلام د پیغمبرانو په توګه راولېږل او تر دوی وروسته ئې د دواړو په اولاد کې د نبوت او لارښود کتاب لېږلو لړۍ جاري وساتله، ځینو د دوی دعوت ته لبیک ووایو او د حق لوري ته هدایت شول او ډېری ئې فاسقان شول.
- په دوی پسې ئې نور پیغمبران ولېږل او د دې لړۍ په پای کې ئې عیسی د مریمې زوی ورپسې کړ، ده ته ئې انجیل ورکړ او د ده د پلویانو په زړونو کې ئې زړه سوی، رحمت او هغه رهبانیت راپیدا کړ چې دوی په خپله رامنځته کړ او الله تعالی نه وو پرې فرض کړی، الله تعالی یوازې دا پرې لازم کړي وو چې د خپل رب رضاء ولټوي، دوی د خپل ذهن زېږنده رهبانیت غوښتني تر سره نه کړې، هغه څه ئې ونه کړل چې له دې رهبانیت سره وړ ول، نو الله تعالی د دوی هغو ته خپل خپل اجر ورکړ چې ایمان ئې راوړی وو او د دوی ډېری فاسقان شول.

لکه چې ګورئ د قرآن له نظره رهبانیت یو بدعت دئ، خلکو رامنځته کړی، په هیڅ الهي دین کې ئې منشأ نه شو موندلی، مسیحیانو رامنځته کړ، په ښه نیت او د الله د رضاء تر لاسه کولو په موخه، خو بیا ئې د هغه غوښتني تر سره نه کړی شوې، د مسیحیانو یوه وړه ډله د ایمان په سمي لاري روانه شوه او ډېری ئې فاسقان شول، رهبانیت له (رهب: ترهي او وېرې) اخیستل شوی، هغه سلوك ته وایي چې څوك د الله له وېرې دنیا ترك کړي، له خلکو بېل شي، غرونو او ځنګلو ته پناه یوسي او په یوې ګوښې کې په عبادت بوخت شي، ګمان ئې دا وي چې له دې لاري کولی شي په ګناهونو کې له پرېوتو ځان وژغوري او د الله تعالی رضاء تر لاسه کړي، په دین کې څه زیاتول او د الله د رضاء تر لاسه کولو تر نامه لاندې له خپله ځانه نوې لاري غوره کول؛ یو کرکجن بدعت او خطرناك آفت دئ چې تل الهي ادیان ورسره مخامخ شوي، ډېر ئې له سمي لاري کاږه کړي، د دین ښکلې څېره ئې بدرنګه کړې او خلك ئې له الهي دین لرې کړي. دین بشپړ دئ، تراشلو او توږلو، کموني او زیاتوني ته اړتیا نه لري، هر هغه څه ئې مور ته راښودلي چې د الله تعالی رضاء، د دنیا عزت او د آخرت سعادت پرې تر لاسه کولی شو، چا چې په دین کې لاسوهنې کړې تېروتی، په کږو لارو سر شوی او نورو ته ئې ستونزې راولاړې کړې.

دا مطلب په دې روایاتو کې څومره ښه انځور شوی:

عن انس رضى الله عنه قال: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَقُولُ « لاَ تُشَدِّدُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ فَيُشَدَّدَ عَلَيْكُمْ فَإِنَّ قَوْمًا شَدَّدُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ فَشَدَّدَ اللهُ عَلَيْهِمْ فَتِلْكَ بَقَايَاهُمْ فِى الصَّوَامِعِ وَالدِّيَارِ (رَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ) ». ابو داؤد

له انس رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به ويل: پر خپل ځان سختي مه کوئ که نه نو سختي به درسره وشي، يقيناً چې يوه قوم پر خپل ځان سختي وکړه نو الله پر دوی سختي وکړه چې دا ئې د دوی په صومعو او ديرونو (عبادت ځايونو) کې پاته شوني دي (هغه رهبانيت چې دوی په خپله رامنځته کړ مونږ نه وو پرې فرض کړی).

عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَجُلاً جَاءَهُ فَقَالَ أَوْصِنِى فَقَالَ سَأَلْتَ عَمَّا سَأَلْتُ عَنْهُ رَسُولَ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- مِنْ قَبْلِكَ « أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ فَإِنَّهُ رَأْسُ كُلِّ شَىْءٍ وَعَلَيْكَ بِالْجِهَادِ فَإِنَّهُ رَهْبَانِيَّةُ الإِسْلاَمِ وَعَلَيْكَ بِذِكْرِ اللهِ وَتِلاَوَةِ الْقُرْآنِ فَإِنَّهُ رَوْحُكَ فِى السَّمَاءِ وَذِكْرٌ لَكَ فِى الأَرْضِ ». مسند احمد

له ابو سعيد خدري رضى الله عنه روايت دئ چې يو سړی ورته راغی او وئې ويل: کومه سپارښتنه راته وکړه، وئې ويل: د داسې څه په اړه دي پوښتنه وکړه چې ما ئې په اړه تر تا وړاندي له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتلي ول: تا ته له الله تعالى د وېرې درلودو سپارښتنه کوم چې هغه د ټولو چارو سر دئ، جهاد دربانديې لازم کړه چې هغه د اسلام رهبانيت دئ؛ او د الله ذکر او د قرآن تلاوت پر ځان لازم کړه چې دا په آسمان کې درته هوسايي او په زمکې کې ستا لپاره د شرف باعث دئ.

رسول الله صلى الله عليه و سلم د رهبانيت په اړه فرمايلي: لا رهبانية في الاسلام: په اسلام کې رهبانيت نشته. رهبانية هذه الأمة الجهاد في سبيل الله: د دې امت رهبانيت د الله په لار کې جهاد دئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَءَامِنُواْ بِرَسُولِهِۦ يُؤۡتِكُمۡ كِفۡلَيۡنِ مِن رَّحۡمَتِهِۦ وَيَجۡعَل لَّكُمۡ نُورٗا تَمۡشُونَ بِهِۦ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢٨ لِّئَلَّا يَعۡلَمَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ أَلَّا يَقۡدِرُونَ عَلَىٰ شَيۡءٖ مِّن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٢٩

۲۸- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! له الله ووېرېږئ او د ده پر پیغمبر ایمان راوړئ، چې د خپل رحمت دوه برخي درکړي او داسې رڼا درته وټاکي چې په هغه سره تګ وکړئ او تاسو ته بخښنه وکړي؛ او الله مهربان بخښونکی دئ، ۲۹- د دې لپاره چې اهل کتاب داسې ونه انګېري چې د الله د فضل په هیڅ څه به برلاسي نه شي؛ او دا چې فضل د الله په واك کې دئ هغه چا ته ئې ورکوي چې دی ئې وغواړي؛ او الله د ستر فضل خاوند دئ.

(۲۸-۲۹)- دا مبارك آیتونه چې د سورې تتمه زمور په وړاندې ږدي څو لارښوونې مور ته لري:

- هغو ته چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر بعثت وړاندې ئې پر الله تعالی د ایمان ادعاء کوله ویل شوي: اې هغو چې ایمان ئې راوړی! له الله ووېرېږئ او د ده پر پیغمبر ایمان راوړئ.
- د دې ایمان له امله به الله تعالی دوی ته د خپل رحمت دوه سهمه او برخي ورکړي، هم د مخکیني ایمان اجر او هم د نوي ایمان اجر؛ او هم د دې اجر چې د دوی د ایمان له کبله به ډېر نور د ایمان لوري ته هدایت شي، د دې اجر په څنګ کې به الله تعالی دوی ته داسې رڼا ورپه برخه کړي چې په مرسته ئې په سم لوري تګ وکړی شي، حق او باطل او ښه او بد سره تفکیك کړی شي؛ او دوی ته به د مهربان بخښونکي رب له لوري بخښنه وشي.
- د دوی ایمان او په بدل کې ئې د الله تعالی له لوري دا دوه سهمه اجر، رڼا او بخښنه به د دې باعث شي چې اهل کتاب داسې ونه انګېري او نور هم د دوی په اړه داسې ګمان ونه کړي چې د الله فضل یوازې په دوی پوري مختص دئ، له دوی پرته به نور په الهي فضل کې هیڅ برخه نه لري او له اهل کتاب پرته به بل څوك په دې موفق نه شي چې د خپل رب فضل تر لاسه کړي، دا حقیقت به جوت شي چې الله تعالی د ستر فضل خاوند دئ، فضل په بشپړه توګه د الله په واك کې دئ، هغه چا ته ئې ورکوي چې دی ئې وغواړي. اهل کتاب داسې انګېري چې دوی د الله تعالی دوستان او زامن دي، دوی د جنت لپاره پیدا شوي او جنت د دوی لپاره، الله تعالی یوازې د دوی له منځه پیغمبران غوره کوي او پر پیغمبرانو ایمان او د هغوی ملګرتیا یوازې د دوی په برخه کېږي، یهودان دغو غلطو خبرو غولولي، د همدې لپاره پر غیر یهودي پیغمبر له ایمان راوړلو ډډه کوي، که د دوی له منځه ځینې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم ایمان راوړي په دې سره دا غلطي یهودي ادعاءګاني شنډېږي، د ډېرو له ذهنه دا واهمه له منځه ځي او د ایمان راوړلو لار ورته

پرانيستل کېږي، نو ځکه الله تعالى له داسي مؤمنانو سره د دوه سهمه اجر وعده کړې. د دې آيت بل تعبير داسي هم کېدى شي: دوى ته د دوه سهمه اجر وعده د دې لپاره شوې چې اهل کتاب داسي ونه انګېري چې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم د ايمان په نتيجه کې به له الهي فضل محروم شي، فضل د الله تعالى په واك کې دئ هغه چا ته ئې ورکوي چې دى ئې په خپله وغواړي.

- دې ته مو پام وي چې ځينو درنو مفسرينو په (لِّئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ) کې (لا) زائد ګڼلى او دا آيت ئې داسي ژباړلى: د دې لپاره چې اهل کتاب پوه شي چې د الله د فضل په هيڅ څه قادر نه دي؛ او دا چې فضل د الله په واك کې دئ هغه چا ته ئې ورکوي چې دى ئې وغواړي، د دې تعبير اساسي ستونزه دا ده چې د آيت يوه برخه زائد ګڼي، په داسي حال کې چې په قرآن کې نه زائد شته او نه ناقص، قرآن هم د معنى له پلوه بشپړ دئ او هم د الفاظو او ادبي ترکيب له پلوه، غوره تعبير همغه دئ چې تر دې وړاندي توضيح شو.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

المجادله

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (المجادله) دئ چې د لومړي آيت له (تجادلك) اخيستل شوى، ۲۲ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (سميع بصير) او د دوهم آيت (عفو غفور) ته ورته دي، دې ته بايد متوجه وو چې د (اليم) او (مهين) په څېر صيغې د غږ له پلوه بصير ته ورته دي او د (مؤمنون) او (تعملون) په څېر صيغې د غږ له پلوه غفور ته ورته دي، د آيتونو اوږدوالى ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په منځنيو کلونو کې نازل شوي.

د سورې په پيل کې د يوې مېرمني په اړه ويل شوي چې الله تعالى د هغې وينا هغه مهال واورېده چې د خپل مېړه په اړه ئې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مجادله کوله او الله ته ئې خپل شکايت وړاندي کولو!! الله تعالى د همدې مېرمني د مجادلې او شکايت په ځواب کې د ظهار مخکينى جاهلي دود لغو کړ او وئې فرمايل: څوك چې له خپلو مېرمنو ظهار کوي؛ ورته وايي: ته راباندي داسي شوې لکه د خپلې مور شا، په دې وينا سره ئې مېرمني د دوى ميندي نه ګرځي، ميندي ئې يوازي هغه دي چې دوى ئې زېږولې، د دوى وينا حقيقت نه شي بدلولى، د دوى دا وينا هم کرکجنه ده او هم دروغجنه

او د حقیقت خلاف. بیا د دې دروغجني وینا کفاره بیان شوې او ویل شوي: داسي کرکجنه او دروغجنه وینا د سختي سزا وړ ده خو له دې کبله چې الله بخښونکی عفو کوونکی دئ له سختي سزا تېرېږي.

ورپسې د هغو وګړو برخلیك څېړل شوي چې له الله تعالی او د هغه له پیغمبر سره د دښمنۍ لار غوره کوي، وایي: دوی به هرو مرو له سپکاوي او ذلت سره مخامخ کېږي، همغسي لکه چې د دوی وړاندیني له ذلت او سپکاوي سره مخ شوي ول. دوی ته ویل شوي چې ګمان مه کوئ الله تعالی ستاسو له پټو مرکو او غونډو خبر نه دئ، نه داسي پټه مرکه شته چې د دریو تر منځ وي او الله تعالی ئې څلورم نه وي او نه د پنځو تر منځ چې دی ئې شپږم نه وي او نه تر دې کم یا زیات مګر دا چې دی ورسره وي، هرچېرې چې وي، ورپسې د همدوی په اړه ویل شوي چې له پټو مرکو منع شول خو دوی بیا هم پټې مرکې کوي، مرکې ئې هم د داسي څه په اړه چې ګناه، تېری او له پیغمبر سرغړاوی ګڼل کېږي. خو کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورتلل نو په داسي الفاظو به ئې پر ده سلام اچولو او د ده ستاینه به ئې کوله چې الله تعالی نه په هغو الفاظو پر رسول الله صلی الله علیه و سلم سلام ویلی او نه ئې ستایلی، پټو غونډو کې د ګناه، تېري او له رسول الله صلی الله علیه و سلم د بغاوت خبرې خو مخامخ له مبالغې ډکه ستاینه، په داسي الفاظو سره د رسول الله صلی الله علیه و سلم ستاینه چې الله تعالی نه دئ پرې ستایلی!!

بیا مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې کله پټې مرکې کوئ نو پام کوئ چې دا د ګناه، تېري او له پیغمبر د سرغړاوي په اړه نه وي، بلکې باید د ښېګڼې او تقوی په اړه وي. تل او د خپلو پټو مرکو په دوران کې هم له هغه الله وېره لرئ چې د ده لوري ته به ورغونډ کړی شئ. نجوی اکثراً شیطاني منشأ لري، هغه څوك د پټو مرکو ضرورت احساسوي او د خپلو خبرو له څرګندولو وېرېږي چې موخې او عزائم ئې بد وي. شیطان خپل ملګري د دې لپاره پټو مرکو ته هڅوي چې غواړي مؤمنان پرې غمجن کړي. شیطان او ملګري ئې په دې پټو غونډو او نجوی سره مؤمنانو ته هیڅ تاوان نه شي رسولی، مګر د الله په إذن.

بیا د غونډو ځینې ضروري آداب ښودل شوي؛ او ویل شوي: اې مؤمنانو! کله چې د غونډو په دوران کې تاسو ته وویل شي: د ناستي په ځای کې پراخوالی وکړئ؛ ځانونه درټول کړئ او نورو ته ځای ورکړئ؛ نو ځای پراخ کړئ چې په بدل کې به ئې الله تعالی پراخوالی درپه برخه کړي؛ او کله چې درته وویل شي: له خپل ځای اوچت شئ او په بل ځای کې کښېنئ؛ یا د غونډې په پای کې درته وویل شي چې جلسه پای ته ورسېده، اوچت شئ او لاړ شئ نو همدا کار وکړئ، داسي مه انګېرئ چې په دې سره ستاسو سپکاوی شوی او د

خلکو په سترګو کې به ستاسو مقام او منزلت راټیټ کړي.

ورپسې د منافقینو په اړه ویل شوي: د دوی مالونه او اولادونه به هیڅکله د الله کوم عذاب ترې دفع نه کړی شي. دوی دوزخیان دي، په هغه کې به تلپاتې وي، په ورپسې آیت کې د الله تعالی یو ثابت او نه بدلېدونکی سنت زموږ په وړاندې ځلېږي او هغه دا چې د الله او د ده د رسول دښمنان به هرومرو له ذلت او سپکاوي سره مخامخ کېږي، برخلیك به ئې حتماً همغسي وي لکه چې تر دوی وړاندې ځینو له الله او د ده له پیغمبرانو سره دښمني کړې او له سپکاوي سره مخامخ شوي،

او د سورې په پای کې د الله حزب او د دې حزب د غړو یوه اساسي ځانګړتیا راښودل شوي چې دا ده: له هغه چا سره دوستي نه کوي چې د الله او د هغه له پیغمبر سره ئې دښمني کړې وي که څه هم هغوی د دوی پلرونه وي، زامن ئې وي، وروڼه ئې وي او خپلوان ئې وي. د آیت الفاظ داسي دي چې ښیي د ایمان خاوند هیڅکله د الله له دښمنانو سره دوستي نه کوي که څه هم د ده ډېر نژدې خپلوان وي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَآ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ۝١

۱- یقیناً چې الله د هغې مېرمني وینا اورېدلې ده چې د خپل مېړه په اړه ئې له تا سره مجادله کوله او الله ته ئې شکایت کولو؛ او الله ستاسو دواړو محاوره اورېدله، یقیناً چې الله ښه لیدونکی اورېدونکی دئ.

---

(۱)- په دې مبارك آیت کې د یوې مېرمني په اړه ویل شوي چې الله تعالی د هغې وینا هغه مهال واورېده چې د خپل مېړه په اړه ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره مجادله کوله او الله ته ئې خپل شکایت وړاندې کولو!! راشئ وګورو دا کومه بختوره مېرمن وه چې الله تعالی د هغې دومره درناوی وکړ، په قرآن کې ئې د دې یادونه وکړه، د هغې د وینا او شکایت اورېدو او دعاء قبلېدو ډاډ ئې ورکړ؟! آیا له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د دې مجادله دومره ارزښتمنه وه چې په قرآن کې ئې یادونه وشي؟! آیا د دې وینا د الله تعالی په وړاندې دومره اهمیت درلود چې د هغې د اورېدو په اړه درې ځلي ووایي: (قَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ)، (وَٱللَّهُ يَسْمَعُ

تَحَاوُرَكُمَآۚ)، (إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ)؟!! د دې وينا، مجادلې او محاورې ته دومره جدي اهتمام د څه لپاره؟!

لومړی بايد په دې پوه شو چې د دې مېرمني ستونزه او شکايت څه وو او بيا دې پوښتني ته ځواب ولټوو چې ولې دومره اهميت ورکړی شوی. د قصې تفصيل داسې دئ چې تر اسلام وړاندې او د جاهليت په دوران کې معمول دا وه چې چا به د خپلې مېرمني د طلاق په موخه هغې ته وويل: ته له نن وروسته پر ما داسې شوې لکه خپله مور، نو نه يوازې مېرمن به پرې طلاقه شوه بلکې د دوی بيا نکاح به د تل لپاره حرامه ګڼله کېده، په مدينه کې يوه صحابي چې اوس بن الصامت نومېدو خپلې مېرمني خوله بنت ثعلبه رضی الله عنها ته همدا خبره وکړه، خو ډېر ژر په خپلې خبرې پښېمان شو، طلاق واقع شوی وو، د بېرته ستنېدو لاري ئې پر خپلې مخې بندي موندلې، خوله رضی الله عنها رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ورغله، د آيت له الفاظو معلومېږي چې په دې اړه ئې له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره مجادله کړې، دلائل ئې وړاندې کړي چې د دې خبرې او طلاق تر منځ څه فرق دئ، بايد د خاوند وينا ئې يو طلاق وګڼل شي او د بيا نکاح حق ورکړی شي، رسول الله صلی الله عليه و سلم هغې ته ويلې: ما ته لا تراوسه په دې اړه لارښوونه نه ده شوې، خو داسې انګېرم چې طلاق واقع شوی او هغه له تاسره نه شي يو ځای کېدی، خوله رضی الله عنهاد خپل اولاد په اړه پرېشانه وه، که ئې له ځان سره ساتي نو د هغوی د پاللو او ساتلو توان نه لري، که ئې خاوند ته پرېږدي دا اندېښنه ورسره وه چې ضائع به شي، هغه اعتناء به ورته نه کوي چې يوه زړه سوانده مور ئې د اولاد په اړه لري، د همدې لپاره ئې له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره مجادله او محاوره کوله، الله تعالی د دې دا مجادله او محاوره دومره خوښه شوه چې په قرآن کې ئې د هغې يادونه وکړه؛ او همدا مهال او د دغې پېښې په ارتباط ئې د جاهليت د دور هغه ناوړه او جاهلي دود لغو کړ او مسلمانانو ته ئې ضروري لارښوونه وکړه. له دې په څرګنده توګه معلومېږي چې په الهي دين کې د يوې کورنۍ له شړېدو مخنيوی څومره ارزښت لري. د دې ارزښت په عظمت هغه مهال ښه پوهېدی شو چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د يوه حديث په رنا کې ورته ځېر شو، حديث دا دئ:

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلی الله عليه و سلم « إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا فَيَقُولُ مَا صَنَعْتَ شَيْئًا قَالَ ثُمَّ يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ مَا تَرَكْتُهُ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ

امْرَأَتِهِ - قَالَ - فَيُدْنِيهِ مِنْهُ وَيَقُولُ نِعْمَ أَنْتَ ». رواه مسلم

له جابر رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: یقیناً چې شیطان خپل تخت پر اوبو ږدي بیا خپل ټولګي (د شر او فساد خورولو لپاره) لېږي، نو ده ته تر ټولو نژدي ئې د مقام او منزلت له پلوه هغه وي چې تر ټولو لویه فتنه ئې رامنځته کړې وي، یو ئې ورشي او ووایي: دا او دا مي وکړل، هغه ورته ووایي: هیڅ دي نه دي کړي، بیا د دوی یو ورشي او ووایي: تر هغه مي پرېنښود چې د ده او د ده د مېرمني تر منځ مي بېلتون راوست، رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: نو شیطان ئې ځان ته ورنژدې کړي او ورته ووایي: ته ډېر ښه یې!!

له دې مبارك حدیث معلومېږي چې شیطان ته تر قتل، غلا، شراب او نورو سترو سترو ګناهونو دا کار مهم برېښي چې یوه کورنۍ له منځه ولاړه شي او د یوې مېرمني او مېړه تر منځ بېلتون راشي. حقیقت دا دئ چې کورنۍ د یوې ټولني د بنسټ لومړۍ خښته ده، یوه ټولنه هغه مهال د تباهۍ په درشل ودرېږي، له بشپړې شړېدا سره مخامخ کېږي او مانۍ ئې نسکورېږي چې د بنسټ دا لومړۍ خښتي ئې وشړېږي. او دا هغه څه دي چې نن غربي ټولني او د غرب لادینه تمدن ورسره مخامخ دئ، په غرب کې هر کال د نکاح شمېر تر طلاق په سرعت سره کمېږي، نوی نسل ئې له نکاح ډډه کوي، نکاح او ازدواج د آزادو جنسي اړیکو په وړاندي خند ګڼي، زړه سواند مفکرین ئې د بدو پایلو وړاندوینې کوي او وایي: که د دې خطرناك بهیر مخنیوی ونه شي نو غربي ټولنه به ډېر ژر او په نژدې راتلونکي کې له بشپړې تباهۍ سره مخامخ شي!!

ٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَآئِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَٰتِهِمۡۖ إِنۡ أُمَّهَٰتُهُمۡ إِلَّا ٱلَّٰٓـِٔي وَلَدۡنَهُمۡۚ وَإِنَّهُمۡ لَيَقُولُونَ مُنكَرٗا مِّنَ ٱلۡقَوۡلِ وَزُورٗاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٞ ۝٢ وَٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِن نِّسَآئِهِمۡ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُواْ فَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مِّن قَبۡلِ أَن يَتَمَآسَّاۚ ذَٰلِكُمۡ تُوعَظُونَ بِهِۦۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ۝٣ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ شَهۡرَيۡنِ مُتَتَابِعَيۡنِ مِن قَبۡلِ أَن يَتَمَآسَّاۖ فَمَن لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ فَإِطۡعَامُ سِتِّينَ مِسۡكِينٗاۚ ذَٰلِكَ لِتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۗ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٤

۲- ستاسو هغه چې له خپلو مېرمنو ظهار کوي (داسې ئې پر ځان حراموي لکه خپله مور)؛ هغوی ئې میندي نه دي، میندي ئې له شك پرته یوازې هغه دي چې دوی ئې زېږولي؛ او یقیناً چې دوی کرکجنه او دروغجنه خبره کوي او یقیناً چې الله بخښونکی عفو کوونکی دئ. ۳- او هغه چې له خپلو مېرمنو ظهار کوي بیا هغه څه ته ستنېږي چې ویلي ئې دي، نو د یوې غاړې آزادول دي؛ وړاندې تر دې چې یو له بل سره نژدېکت وکړي، دا هغه څه دي چې تاسو ته پرې وعظ کېږي؛ او الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ، ٤- او څوك چې ونه مومي نو دوه میاشتي پرله پسې روژه نیول دي، وړاندې تر دې چې یو له بل سره نژدېکت وکړي؛ او څوك چې ونه توانېږي نو شپېتو مسکینانو ته خوراك ورکول دي؛ دا د دې لپاره چې پر الله او د هغه پر پیغمبر ایمان ولرئ؛ او دا الهي پولې دي؛ او کافرانو ته دردوونکی عذاب دئ.

(۲-٤)- د دې مبارکو آیتونو لاړښوونې دا دي:

- څوك چې له خپلو مېرمنو ظهار کوي؛ ورته وایي: ته راباندې داسې شوې لکه د خپلې مور شا، په دې وینا سره ئې مېرمني د دوی میندي نه ګرځي، میندي ئې یوازې هغه دي چې دوی ئې زېږولي، د دوی وینا حقیقت نه شي بدلولی، د دوی دا وینا هم کرکجنه ده او هم دروغجنه او د حقیقت خلاف.
- داسې کرکجنه او دروغجنه وینا د سختې سزا وړ ده خو له دې کبله چې الله بخښونکی عفو کوونکی دئ له سختې سزا تېرېږي.
- هغه چې له خپلو مېرمنو ظهار کوي، په حرمت کې ئې له خپلې مور سره ورته بولي، بیا خپلې خبرې ته ستنېږي چې بدله ئې کړي، پر خپلې خبرې پښیمان کېږي، کفاره ئې دا ده: تر هغه وړاندې چې په خپلو کې نژدېکت وکړي؛ یا به یو مړی آزادوي، که په دې ونه توانېږي دوه میاشتي به پر له پسې روژه نیسي؛ او که په دې هم ونه توانېږي نو شپېتو مسکینانو ته به یو ورځنی خوراك ورکوي، وړاندې تر دې چې یو له بل سره نژدېکت وکړي، د (یعودون لما قالوا) ځینې نور تعبیرونه هم شوي، لکه دا چې ځینو ویلي: د ظهار وینا بیا اعاده کړي، یعني یو وار څه باك نه لري خو په تکرار سره ئې دا کفاره لازمېږي، ځینو ویلي چې له خپلې خبرې راوګرځي، دا تعبیرونه له الفاظو سره اړخ نه لګوي، الفاظ دا افاده کوي چې (خپلې خبرې ته ستنېږي)، یعني پر خپلې خبرې د ودرېدو او عمل کولو پر ځای غواړي ښېرته ورستون شي او بدله ئې کړي.
- دا لاړښوونه د دې لپاره ده چې پر الله او د هغه پر پیغمبر د ایمان له غوښتنو سره سم عمل وکړئ. دا د الله تعالی له لورې ټاکل شوې هغه پولې دي چې باید ترې تېر نه شئ.

- هغو کافرانو ته چې پر الله او پيغمبر ايمان نه لري او دا الهي پولې نه مراعاتوي دردوونکی عذاب دئ.
- که څه هم دلته د ظهار په اړه د مينډو يادونه شوې او داسې برېښي چې خپلې مېرمني په حرمت کې له مينډو سره تشبيه کول د دې حکم مصداق دئ؛ خو دا حکم يوازې په مينډو پورې مختص نه دئ بلکې د نورو محارمو لپاره يوه بېلګه ده، له خور، لور او نورو محارمو سره ئې تشبيه کول پرې قياس کېږي؛ او حکم ئې سره ورته دئ، دا په طلاق کې غلظت او تشدد کول او د هغو شرعي آدابو نه مراعاتول دي چې د طلاق په اړه دين راښودلي، لکه چې د يو ځل طلاق ورکولو او درې ځلي طلاق ورکولو تر منځ توپير شته؛ همداسې د طلاق ورکولو پر مهال داسې څه ويل چې مېرمن له محارمو سره تشبيه کړی شي له عادي طلاق توپير لري او حکم ئې بېل دئ.
- د قرآن له دې لارښوونې معلومېږي چې په يوه مجلس کې درې ځلي مېرمني ته طلاق ورکول درې طلاقه ګڼل کېږي نه يو طلاق، هغه رأيه کمزورې ده چې داسې طلاق په يوه طلاق حسابوي، که په طلاق کې الفاظ معتبر ګڼل کېږي نو تکرار به څنګه معتبر نه وي؟!!

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ كُبِتُواْ كَمَا كُبِتَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ وَقَدۡ أَنزَلۡنَآ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۚ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٞ مُّهِينٞ ۝٥ يَوۡمَ يَبۡعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓاْۚ أَحۡصَىٰهُ ٱللَّهُ وَنَسُوهُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ۝٦

۵- يقيناً هغه چې له الله او د ده له پيغمبر سره دښمني کوي همغسې سپك او ذليل شوي لکه هغه چې تر دوی وړاندي سپك شوي ول؛ او يقيناً چې څرګند آيتونه مو نازل کړي؛ او دغو کافرانو ته سپکوونکی عذاب دئ، ٦- هغه ورځ چې الله به دوی ټول راپاڅوي او په هغه څه به ئې خبروي چې دوی کړي، هغه چې الله شمېرلي او دوی هېر کړي او الله په هر څه ناظر دئ.

(۵-٦)- په دې مبارکو آيتونو کې د هغو وګړو برخليك څېړل شوي چې له الله تعالی او د هغه له پيغمبر سره د دښمنۍ لار غوره کوي، وايي: دوی به هرو مرو له سپکاوي او ذلت سره مخامخ کېږي، همغسې چې د دوی وړاندينې له ذلت او سپکاوي سره مخ شوي ول، د وړاندينيو سپېره برخليك د قرآن په څرګندو آيتونو کې بيان شوی، دغو کافرانو ته هم په دنيا کې سپکوونکی عذاب دئ او هم هغه ورځ چې الله به دوی ټول له خپلو قبرونو راپاڅوي او په هغه څه به ئې خبروي چې دوی کړي، په هغو چې الله تعالی شمېرلي او

دوی هېر کړي، دا ځکه چې الله تعالی په هر څه ناظر دئ.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۖ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا۟ ۖ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٧﴾

۷- آیا پام دي نه دئ چې الله په هر هغه څه پوهېږي چې په آسمانونو او په زمکي کې دي، نه داسي نجوی شته چې د دریو تر منځ وي او دی ئې څلورم نه وي او نه د پنځو تر منځ چې دی ئې شپږم نه وي او نه تر دې کم یا زیات مګر دا چې دی ورسره وي، هرچېرې چې وي، بیا به ئې د قیامت په ورځ په هغه څه خبر کړي چې دوی کولو، بې شکه چې الله په هر څه ښه پوه دئ.

(۷)- د دې مبارك آیت لارښوونې دا دي:

- دې ته مو تل پام وي چې الله تعالی په هر هغه څه پوهېږي چې په آسمانونو او په زمکي کې دي.
- نه داسي نجوی (پټه مرکه) شته چې د دریو تر منځ وي او دی ئې څلورم نه وي او نه د پنځو تر منځ چې دی ئې شپږم نه وي او نه تر دې کم یا زیات مګر دا چې دی ورسره وي، هرچېرې چې وي.
- بیا به الله تعالی دوی د قیامت په ورځ په خپلو اعمالو خبر کړي، بې شکه چې الله په هرڅه پوه دئ.
- لکه چې ګورئ په دې آیت کې په ډېر صراحت او وضاحت سره ویل شوي چې الله تعالی نه یوازي ستاسو په هر څه پوه دئ بلکې که تاسو درې وئ نو څلورم مو خدای دئ او که پنځه وئ شپږم مو خدای دئ، که تر دې لږ یا ډېر وئ خدای درسره دئ په هر ځای کې چې وئ، د (علم) خوا ته د (معیت) خبره کوي او وایي: الله تعالی هم په هر څه پوه دئ او هم په هر ځای کې درسره دئ، څوك چې پر قرآن ایمان لري نو د الله تعالی په اړه به ئې باور همدا وي، نه دا چې د الله تعالی (علم) مني خو له (معیت) ئې انکار کوي، یو مؤمن انسان باید هیڅکله د دې جسارت ونه کړي چې د الله تعالی د دې صریح کلام په خلاف کومه وینا په خوله راوړي او ووایي: الله تعالی په هر ځای کې له موږ سره نه دئ!! او د

الله تعالی د معیت معنی علم دئ!! زمونږ باور باید دا وي: الله تعالی د پرېږو پرېږو حجابو له آخوا مونږ ګوري او زمونږ پر حالت پوهېږي، زمونږ پر ماضي او مستقبل داسي پوهېږي لکه زمونږ پر حال، خو د دې علم او پوهي په څرنګوالي له الله تعالی پرته هیڅوک نه پوهېږي، همدا راز الله تعالی په هر ځای کې له مونږ سره وي خو د دې معیت او نژدېوالي په کیفیت او څرنګوالي له الله تعالی پرته هیڅوک نه پوهېږي.

دا مطلب د الحدید په سوره کې په دې صیغه راغلی:

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۖ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤﴾ الحدید

دی همغه دئ چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پیدا کړل او بیا پر عرش برابر شو، په هغه څه هم پوهېږي چې په زمکې کې ننوځي او په هغه څه هم چې تر وځي او په هغه څه هم چې له آسمان راکښته کېږي او په هغه څه هم چې په کې لوړ ځي؛ او هغه په هر ځای کې چې تاسو وئ درسره دئ؛ او الله د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ.

په دې مبارک آیت کې هم په ډېر وضاحت سره ویل شوي چې الله تعالی له تاسو سره دئ په هر ځای کې چې وئ. دا په داسي حال کې چې د آیت په لومړۍ برخي کې ویل شوي چې الله تعالی د آسمانونو او زمکې له پیدا کولو وروسته پر عرش استوی وکړه، د دې معنی دا ده چې پر عرش استوی د دې منافي نه ده چې الله تعالی په هر ځای کې له مونږ سره هم دئ. په یوه آیت کې د دواړو خبرو یادونه همدا مطلب په ګوته کوي، یعني الله تعالی د مخلوق په څېر نه دئ چې په خاص مکان پورې محدود وي، یو ځای وي او بل ځای نه؛ دا د مخلوق ځانګړتیا ده چې په یوه وخت کې یوازي یو ځای کې وي.

څوک چه قدیر او عظیم خدای په مخلوق قیاس کړي او د خالق په اړه ئې هم په خپل ذهن کې مخلوق ته ورته تصویر جوړ کړی وي، دا کسان مجبورېږي د قرآنکریم الفاظ تأویل کړي او له هر لفظ داسي معنی راوباسي چې د دوی له ذهن او تصور سره برابره وي، دلته هم د آیت یوه برخه مني او بله برخه ئې تأویلوي او داسي معنی ترې راباسي چې وښیي الله تعالی په هر ځای کې له مونږ سره نه دئ، بلکې یوازي د عرش په محدوده کې محدود دئ.

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نُهُواْ عَنِ ٱلنَّجۡوَىٰ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ وَيَتَنَٰجَوۡنَ بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ وَمَعۡصِيَتِ ٱلرَّسُولِۖ وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوۡكَ بِمَا لَمۡ يُحَيِّكَ بِهِ ٱللَّهُ وَيَقُولُونَ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ لَوۡلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُۚ حَسۡبُهُمۡ جَهَنَّمُ يَصۡلَوۡنَهَاۖ فَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٨

٨- آيا هغو ته دي پام نه دئ کړی چې له پټې مرکې منع شول بيا هغه څه ته ستنېږي چې ترې منع شوي او د ګناه، تېري او له پيغمبر د سرغړاوي په اړه پټې مرکې کوي؛ او کله چې درته راشي نو په داسي الفاظو سلام درته وايي چې الله په هغه سره پر تا سلام نه دئ ويلی او له ځان سره وايي: الله مو ولې پر هغه څه نه تعذيبوي چې مور ئې وايو! هغه دوزخ ورته بس دئ چې ورننوځي به، نو د ورتګ څومره بد ټاټوبی!

---

(٨)- په دې مبارك آيت کې د منافقينو د پټو مرکو په اړه داسي ويل شوي:

- آيا هغو ته دي پام نه دئ کړی چې له پټو مرکو منع شول خو دوی بيا هم پټې مرکې کوي، مرکې ئې هم د داسي څه په اړه چې ګناه، تېری او له پيغمبر سرغړاوی ګڼل کېږي.
- خو کله چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ورتلل نو په داسي الفاظو به ئې پر ده سلام اچولو او د ده ستاينه به ئې کوله چې الله تعالی نه په هغو الفاظو پر رسول الله صلی الله عليه و سلم سلام ويلی او نه ئې ستايلی، پټو غوندو کې د ګناه، تېري او له رسول الله صلی الله عليه و سلم د بغاوت خبري خو مخامخ له مبالغې ډکه ستاينه، په داسي الفاظو سره د رسول الله صلی الله عليه و سلم ستاينه چې الله تعالی نه دئ پرې ستايلی!! که څه هم ځينو درنو مفسرينو داسي انګېرلې چې په دې سره د يهودو هغو الفاظو ته اشاره شوې چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د ملاقات پر مهال به ئې کارول، لکه د السلام عليك پر ځای السام عليك ويل او د راعنا پر ځای راعينا ويل، خو دا تعبير د آيت له سياق و سباق سره اړخ نه لګوي، دلته بحث د منافقينو په اړه دئ نه د اهل کتاب په اړه، د منافقينو پټ او څرګند چلن انځور شوی، په پټه عاصي او په څرګنده او مخامخ غوړه مال، په پټو غوندو کې د ګناه، تېري او سرغړاوي خبري کوي خو کله چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره مخامخ شي د هغه په ستايني کې غلو کوي او په داسي الفاظو ئې ستايي چې الله تعالی نه دئ پرې ستايلی. له ورپسې آيتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دلته د بحث موضوع د منافقينو چلن دئ نه د اهل کتاب چلن.

- دا منافقين له ځان سره وايي: الله مو ولې پر هغه څه نه تعذيبوي چې مورږ ئې وايو! که محمد عليه السلام د خداى پيغمبر وي، هغه څوك د عذاب وړ وي چې د ده مخالفت كوي، ولې زمورږ له پټو مركو نه خبرږي او ولې زمورږ د څرګندو خبرو په ماهيت نه پوهږي؟!! ولې د ده خداى مورږ ته سزا نه راكوي.
- الله تعالى د دوى په ځواب كې فرمايي: هغه دوزخ ورته بس دئ چې دوى به هرومرو ورننوځي، د ورتګ څومره بد ټاټوبى!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَنَٰجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَٰجَوْاْ بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَمَعْصِيَتِ ٱلرَّسُولِ وَتَنَٰجَوْاْ بِٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ۝٩ إِنَّمَا ٱلنَّجْوَىٰ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ لِيَحْزُنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَيْسَ بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ۝١٠

۹- اې هغو چې ايمان ئې راوړى! كله چې پټې مركې كوئ نو د ګناه، تېرې او له پيغمبر د سرغړاوي په اړه پټې مركې مه كوئ؛ او د سېګنې او تقوى په اړه پټې مركې كوئ؛ او له هغه الله ووېرږئ چې د هغه لورې ته به ورغونډ كړى شئ، ۱۰- دا نجوى يوازې د شيطان له لورې وي چې غواړي هغه پرې غمجن كړي چې ايمان ئې راوړى؛ په داسې حال كې چې هغوى ته د كوم ضرر رسوونكى نه دئ مګر د الله په إذن، نو مؤمنان دي پر الله توكل وكړي.

(۹-۱۰)- په دې مبارکو آيتونو کې مؤمنانو ته د نجوى په اړه دا لارښوونې شوې:

- كله چې پټې مركې كوئ نو پام كوئ چې دا د ګناه، تېرې او له پيغمبر د سرغړاوي په اړه نه وي، بلكې بايد د سېګنې او تقوى په اړه وي.
- تل او د خپلو پټو مركو په دوران كې هم له هغه الله وېره ولرئ چې د ده لورې ته به ورغونډ كړى شئ.
- نجوى اكثراً شيطاني منشأ لري، هغه څوك د پټو مركو ضرورت احساسوي او د خپلو خبرو له څرګندولو وېرږي چې موخې او عزائم ئې بد وي.
- شيطان خپل ملګري د دې لپاره پټو مركو ته هڅوي چې غواړي مؤمنان پرې غمجن كړي.
- شيطان او ملګري ئې په دې پټو غونډو او نجوى سره مؤمنانو ته هيڅ تاوان نه شي

رسولی، مگر د الله په إذن.

- مؤمنان دي پر الله توکل وکړي.

په لاندي روايت کي د نجوی په اړه مؤمنانو ته داسي لارښوونه شوې:

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم « إِذَا كُنْتُمْ ثَلاَثَةً فَلاَ يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الآخَرِ حَتَّى تَخْتَلِطُوا بِالنَّاسِ مِنْ أَجْلِ أَنْ يُحْزِنَهُ ».

له عبدالله رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: کله چې تاسو درې تنه وئ نو دوه دي له درېیم پرته په خپلو کې پټې خبرې نه کوي، تر هغه چې له خلکو سره مختلط شئ، له دې کبله چې دا کار ئې اندېښمن کوي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمۡ تَفَسَّحُواْ فِي ٱلۡمَجَٰلِسِ فَٱفۡسَحُواْ يَفۡسَحِ ٱللَّهُ لَكُمۡۖ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُواْ فَٱنشُزُواْ يَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ دَرَجَٰتٖۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ١١

۱۱- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! کله چې درته وویل شي: د ناستي په ځای کې پراخوالی وکړئ؛ نو پراخوالی وکړئ چې الله پراخوالی درپه برخه کړي؛ او کله چې درته وویل شي: اوچت شئ؛ نو اوچت شئ، الله به ستاسو د هغو درجې لوړي کړي چې ایمان ئې راوړی او هغه چې علم ورکړی شوی؛ او الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

---

(۱۱)- په دې مبارك آیت کي د غونډو ځینې ضروري آداب مور ته راښودل شوي، مور ته وایي: اې مؤمنانو! کله چې د غونډو په دوران کي تاسو ته وویل شي: د ناستي په ځای کې پراخوالی وکړئ؛ ځانونه درټول کړئ او نورو ته ځای ورکړئ؛ نو ځای پراخ کړئ چې په بدل کې به ئې الله تعالی پراخوالی درپه برخه کړي؛ او کله چې درته وویل شي: له خپل ځای اوچت شئ او په بل ځای کې کښېنئ؛ یا د غونډې په پای کې درته وویل شي چې جلسه پای ته ورسېده، اوچت شئ او لاړ شئ نو همدا کار وکړئ، داسي مه انګېرئ چې په دې سره ستاسو سپکاوی شوی او د خلکو په سترګو کې به ستاسو مقام او منزلت راټیټ کړي، الله تعالی به د هغو درجې لوړي کړي چې ایمان ئې راوړی او علم ورکړی شوی، یعني مقام او منزلت په (ایمان) او (علم) پورې تړل شوی، هغه څوك د لوړ مقام او منزلت خاوند دئ چې د ایمان او علم له پلوه ترنورو وړاندي او لوړ وي. دا د هغه الله تعالی لارښوونې دي

چې ستاسو د ټولو کړنو په څرنګوالي او د هغوی په ماهیت او ارزښت ښه پوه دئ.

په دې روایت کې هم د مجلس د دغو آدابو په اړه مورِ ته لارښوونه شوې:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم « لاَ يُقِيمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهِ فَيَجْلِسَ فِيهِ وَلَكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا ». مسند احمد

له ابن عمر رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: یو سړی دې بل سړی له خپل ځای پورته کېدو ته نه اړباسي چې دی ئې په ځای کې کښېني، بلکې (د ناستې په ځای کې) پراخوالی او وسعت وکړئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَٰجَيْتُمُ ٱلرَّسُولَ فَقَدِّمُواْ بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَىٰكُمْ صَدَقَةً ذَٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ فَإِن لَّمْ تَجِدُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾ ءَأَشْفَقْتُمْ أَن تُقَدِّمُواْ بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَىٰكُمْ صَدَقَٰتٍ فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُواْ وَتَابَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٣﴾

۱۲- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! کله چې له پیغمبر سره پټه مرکه کوئ نو له خپلې پټې مرکې وړاندې کومه صدقه ورکړئ، همدا ستاسو لپاره غوره او زیات سپېڅلی دئ؛ او که ئې ونه مومئ نو الله مهربان بخښونکی دئ، ۱۳- آیا له دې ووېرېدئ چې تر خپلو پټو مرکو وړاندې صدقات ورکړئ، نو که داسې مو ونه کړل او الله پر تاسو پېرزوینه وکړه (درته معاف ئې کړ) نو لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او د الله او د ده د پیغمبر اطاعت وکړئ؛ او الله په هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو ئې کوئ.

(۱۲-۱۳)- په دې مبارکو آیتونو کې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې کله له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د پټو خبرو ضرورت احساس کړئ نو له پټې مرکې وړاندې کومه صدقه ورکړئ، دا صدقه ورکول درته غوره او زیات سپېڅلی کار دئ، په دې سره به ستاسو له زړونو هغه خیري ووځي چې د داسې نجوی هیله ئې د انسان په زړه کې راولاړوي، ځینې غواړي د نجوی په ترڅ کې له رسول الله صلی الله علیه و سلم مالي مطالبات وکړي او ځینې بیا په دې سره غواړي په مسلمانانو کې وجاهت تر لاسه کړي، تر نجوی وړاندې صدقه ورکول به د داسې وسوسو مخنیوی وکړي، خو که د صدقې لپاره څه ونه مومئ نو

الله مهربان بخښونکی دئ. که دا کار درته ګران برېښي چې تر خپلو پټو مرکو وړاندې صدقات ورکړئ؛ او داسې مو ونه کړل او الله تعالی ئې درته معاف کړي؛ نو لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او د الله او د ده د پیغمبر اطاعت وکړئ؛ او په دې باور ولرئ چې الله تعالی په هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو ئې کوئ.

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْاْ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ عَلَى ٱلْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾ ٱتَّخَذُوٓاْ أَيْمَٰنَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٦﴾

آیا هغو ته دې پام نه دئ کړی چې له داسې وګړو سره ئې دوستي کړې چې الله پرې غضب کړی، نه دوی ستاسې له ډلې دي او نه د هغوی له ډلې، په داسې حال کې په درواغو لوړه کوي چې پوهېږي، ١٥- الله سخت عذاب ورته تیار کړی، هغه څه له شك پرته ډېر بد دي چې دوی ئې کوي، ١٦- له خپلو قسمونو ئې ډال جوړ کړی او د الله له لارې ئې ډډه کړې چې له کبله ئې دوی ته سپکوونکی عذاب دئ.

(١٤-١٦)- په دې مبارکو آیتونو کې د منافقینو په اړه دا لارښوونې شوې:

- آیا هغه پېژنې چې دوستي او ملګرتیا ئې له هغو سره ده چې الله پرې غضب کړی، همغه چې د الله او د ده دین له دښمنانو سره دوستي کوي؟
- د دوی دوهم خصلت دا دئ چې له هیڅا سره ئې دوستي رښتینې او صادقانه نه وي، نه د مؤمنانو له ډلې دي او نه د دوی د دښمنانو له ډلې، له هر یوه سره د خپل غرض لپاره ملګرتیا کوي.
- درېیم خصلت ئې دا دئ چې دروغ وایي او دروغجن قسمونه کوي، په داسې حال کې چې پوهېږي وینا او ادعاء ئې دروغجنه ده خو لوړه کوي چې رښتیا وایي!!
- دغو منافقینو ته الله تعالی سخت عذاب تیار کړی، په دنیا او آخرت کې به له شدید الهي عذاب سره مخامخ کېږي.
- د دوی کړنې ډېرې بدې دي، دروغجني لوړي، د الله له دښمنانو سره دوستي؛ او نورې کړنې ئې بدې دي.
- دوی له خپلو قسمونو ډال جوړ کړی، په قسمونو سره له ځان دفاع کوي، چې پر بدو

کړنو ئې اعتراض وشي نو د قسم ډال راوړاندي کړي او وايي: د الله په نامه لوړه کوو چې مور مؤمنان يو، په زړه کې اخلاص لرو که څه هم د عمل له پلوه کمی لرو.

- دوی به تل داسي وموميږ چې د ژوند په ډېرو برخو کې د الله له لاري عدول کوي، په کړو لارو درومي، په جهاد کې برخه نه اخلي، په لمانځه کې کسل وي، له انفاق ډډه کوي.
- د دغه نفاق له کبله الله تعالی دوی ته سپکوونکی عذاب ټاکلی.

لَّن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔاۚ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١٧﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًا فَيَحْلِفُونَ لَهُۥ كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ عَلَىٰ شَىْءٍۚ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْكَٰذِبُونَ ﴿١٨﴾ ٱسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ ٱلشَّيْطَٰنُ فَأَنسَىٰهُمْ ذِكْرَ ٱللَّهِۚ أُو۟لَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱلشَّيْطَٰنِۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱلشَّيْطَٰنِ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿١٩﴾

١٧- هيڅکله به نه د دوی مالونه د الله کوم څه (کوم عذاب) ترې دفع کړی شي او نه ئې اولادونه، دوی دوزخيان دي، په هغه کې تلپاته، ١٨- هغه ورځ چې الله به دوی ټول راپاڅوي نو ده ته به همغسي لوړي کوي لکه چې تاسو ته قسمونه خوري؛ او داسي به انګېري چې دوی په کوم څه (موفق کېدونکي) دي، پام چې يقيناً همدا دوی دروغجن دي، ١٩- شيطان پرې مسلط شوی نو د الله يادونه ئې ترې هېره کړې، دا ډله د شيطان حزب دئ، پام چې يقيناً همدا د شيطان د حزب (غړي) تاوانيان دي.

(١٧-١٩)- په دې مبارکو آيتونو کې د منافقينو په اړه دا لارښوونې شوې:

- د دوی مالونه او اولادونه به هيڅکله د الله کوم عذاب ترې دفع نه کړی شي.
- دوی دوزخيان دي، په هغه کې به تلپاتې وي.
- هغه ورځ چې الله تعالی به ټول انسانان له قبرونو راپاڅوي، هغه مهال به دا منافقين د الله تعالی په وړاندي داسي لوړي کوي لکه چې نن ئې تاسو ته کوي، داسي به انګېري چې په دې قسمونو سره کولی شي څه تر لاسه کړي او کوم موفقيت ئې په برخه شي.
- اې مؤمنانو! له دغو منافقينو سره په خپلې معاملې کې محتاط اوسئ، په خبرو ئې باور مه کوئ، دوی دروغجن دي،
- شيطان پرې مسلط شوی، همدې شيطان په خپلو وسوسو سره الله تعالی او د هغه يادونه او ذکر ترې هېر کړی.

- دا ډله د شیطان حزب دئ، پام چې یقیناً همدا د شیطان د حزب (غړي) تاوانیان دي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ فِى ٱلْأَذَلِّينَ ﴿٢٠﴾ كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِىٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٢١﴾

۲۰- یقیناً هغه چې له الله او د ده له رسول سره دښمني کوي همدا دوی د ډېرو سپکو په ډلې کې دي، ۲۱- الله دا لیکلي چې هم به زه هرومرو برلاسی کېږم او هم زما پیغمبران، یقیناً چې الله عزتمن ځواکمن دئ.

(۲۰-۲۱)- په دې مبارکو آیتونو کې د الله تعالی یو ثابت او نه بدلېدونکی سنت زمونږ په وړاندې ځلېږي او هغه دا چې د الله او د ده د رسول دښمنان به هرومرو له ذلت او سپکاوي سره مخامخ کېږي، برخلیك به ئې حتماً همغسې وي لکه چې تر دوی وړاندې ځینو له الله او د ده له پیغمبرانو سره دښمني کړې او له سپکاوي سره مخامخ شوي، الله تعالی دا لیکلي چې هم به زه حتماً برلاسی کېږم او هم زما پیغمبران، د حق او باطل تر منځ جګړې کې به حقپال هرو مرو بریالي کېږي، دا د الهي مقدراتو نه بدلېدونکې برخه ده، د بریا او ماتې دا پرېکړه نه د دواړو لوریو په عدد او عدة پورې تړلې ده او نه د دوی په زور او ځواك پورې، یقیناً چې الله عزتمن ځواکمن دئ، قوي دئ د خپلې هرې پرېکړې پر پلي کولو قادر دئ، عزیز دئ هیڅوك ئې د ارادې په وړاندې نه شي ځنډ کېدی.

لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ يُوَآدُّونَ مَنْ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوْ كَانُوٓا۟ ءَابَآءَهُمْ أَوْ أَبْنَآءَهُمْ أَوْ إِخْوَٰنَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَتَبَ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱللَّهِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٢٢﴾

۲۲- هغه قوم چې پر الله او پر آخرت ئې ایمان وي؛ هیڅکله به ئې داسي ونه مومې چې له هغه چا سره دوستي وکړي چې له الله او د هغه له پیغمبر سره ئې دښمني کړې وي، که څه هم دوی ئې پلرونه وي، زامن ئې وي، وروڼه ئې وي او خپلوان ئې وي، همدغه کسان دي چې الله د دوی په زړونو کې ایمان ثبت کړی او په خپله روح

(غيبي فيض) سره ئې د هغوی مرسته کړې، هغوی به داسي جنتونو ته داخل کړي چې ترې لاندي ويالې بهېږي، په هغه کې تلپاته، الله له هغوی راضي شوی، دوی له الله راضي شوي، همدا د الله حزب دئ، (دغه کسان د الله د حزب غړي دي) يقيناً چې د الله حزب بريالی دئ.

---

(۲۲)- په دې مبارك آيت کې د الله حزب او د دې حزب د غړو يوه اساسي ځانګړتيا راښودل شوې چې دا ده: له هغه چا سره دوستي نه کوي چې د الله او د هغه له پيغمبر سره ئې دښمني کړې وي که څه هم هغه د دوی پلرونه وي، زامن ئې وي، وروڼه ئې وي او خپلوان ئې وي. د آيت الفاظ داسي دي چې ښيي د ايمان خاوند هيڅکله د الله له دښمنانو سره دوستي نه کوي که څه هم د ده ډېر نژدې خپلوان وي، يعني دا په بشپړه توګه د ايمان منافي عمل دئ چې څوك د الله او د هغه د دين له دښمنانو سره دوستي وپالي او هغوی ته د دوستي لاس اوږد کړي، د حزب الله د متعهدو غړو يوه اساسي ځاتنګړتيا دا ده چې د دين دښمنانو ته د دوست په سترګه نه ګوري، دوستي او دښمني ئې د ايمان په رڼا کې وي، د الله دوست ئې دوست او د الله دښمن ئې دښمن وي، نو که داسي څوك په نظر درشي چې د الله له دښمنانو سره دوستي پالي او هغوی ته د دښمن په سترګه نه ګوري او سره له دې دعوی کوي چې پر الله او د آخرت پر ورځي ايمان لري پوه شئ چې دوی دروغ وايي، د ايمان دعوی ئې دروغجنه ده او په الهي معيارونو کې هيڅ ارزښت نه لري. د ايمان واقعي او رښتيني خاوندان هغه دي چې دوستي او دښمني ئې د ايمان له مخې وي، الله تعالی يوازي همدغو مؤمنانو ته واقعي ايمان ورپه برخه کړی، د دوی په زړونو کې ئې ايمان ثبت کړی او په خپله روح او غيبي فيض سره ئې د هغوی مرسته کړې، هغوی به داسي جنتونو ته داخل کړي چې ترې لاندي ئې ويالې بهېږي، په هغه کې تلپاتې، الله له هغوی راضي شوی، دوی له الله راضي شوي، همدا د الله حزب دئ او دغه کسان د الله د حزب غړي دي، يقيناً چې د الله حزب بريالی دئ او الله تعالی د دې حزب د بريا ذمه وال دئ.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الحشر

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الحشر) دئ چې د سورې له دوهم آیت اخیستل شوی، ٢٤ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (الحکیم)، د دوهم آیت (الأبصار) او د اتم آیت (الصادقون) ته ورته دي، دې ته باید متوجه وو چې د (الفاسقین) او (القدیر) په څېر صیغې د غږ له پلوه (الحکیم) ته ورته دي او د (العقاب) په څېر صیغې د غږ له پلوه (الأبصار) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په منځنیو کلونو کې نازل شوي. د معتبرو روایاتو له مخې دا سوره له هغه وروسته نازله شوه چې د بني نضیر په نامه یوه یهودي قبیله له مدینې وایستل شوه، دا پېښه هغه مهال رامنځته شوه چې د دغې قبیلې مشرانو د رسول الله صلی الله علیه و سلم د وژلو منصوبه جوړه کړې وه، رسول الله صلی الله علیه و سلم د یوې لانجې د حل و فصل په موخه د دوی کلي ته ورغلی وو، دوی یو سړی ګمارلی وو چې د بام له سره به هغه مهال د مېچني یوه لویه ډبره پر رسول الله صلی الله علیه و سلم راغورځوي چې هغه به د خبرو لپاره له دوی سره د دېوال خوا ته ناست وي، خو تر اقدام څو شېبې وړاندي الله تعالی خپل پیغمبر خبر کړ، توطئه شنډه شوه، رسول الله صلی الله علیه و سلم مدینې ته ستون شو، له ستنېدو سره سم او له ضروري مشورو وروسته ئې دوی ته احوال ولېږو چې په لسو ورځو کې له مدینې ووځي، څوك چې ونه وتلو هغه به وژل کېږي، د منافقینو مشر عبدالله بن ابی بن سلول هغوی ته احوال ولېږو چې د خپلو پلویانو په دوه زره جنګیالیو سره به د دوی مرسته کوي، د بني قریظه او بني غطفان قبیلې به هم د دوی مرستي ته رادانګي، له وتلو ډډه وکړئ او پر خپل ځای ټینګ پاته شئ، دغو دروغجنو وعدو او ډاډېینو دوی دوکه کړل او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې ځواب ولېږو چې مور نه وځو، څه چې دي له وسه پوره وي هغه وکړه، رسول الله صلی الله علیه و سلم د څلورم هجري کال د ربیع الاول په میاشت کې د دوی سیمه محاصره کړه، له شپږو یا پنځلسو ورځو محاصرې وروسته هغوی په دې شرط له مدینې وتلو ته چمتو شول چې له وسلو پرته به یوازي دومره سامان له ځان سره وړي چې یو اوښ ئې وړلی شي، په دې توګه مدینه د یهودانو له یوې

بلې شريري قبيلې تصفيه شوه، د دې قبيلې يوازي دوو تنو ايمان راوړ نور ټول د شام او خيبر په لوري ولاړل. په دې اړه بايد څو مهمې خبرې په پام کې ولرو:

يهودان د مدينې او د حجاز اصلي اوسېدونکي نه ول، دوی هغه مهال له فلسطين دې سيمې ته راغلي ول چې روميانو د دوی سيمه ونيوله، د دوی معبدونه ئې وران کړل، کتابونه ئې وسوزول، څوک چې د دښمن لاس ته ورغی ووژل شو، نور ئې يوې خوا بلې خوا ته وتښتېدل، ډېری ئې د جنوب په لوري شام او بيا حجاز ته کوز شول، دوی چې چېرې اوبه وموندلې هملته مېشت شول، د څو پېړيو په تېرېدو سره ئې خپله اصلي ژبه هېره کړه، نه يوازې عربي ژبه ئې خپله کړه بلکې ورو ورو ئې نومونه هم عربو ته ورته شول، خو خپل قومي هويت او تعصب ئې هېر نه کړ، دوی له يوې نسبتاً متمدنې سيمې د کوچې عربو سيمې ته راکوز شوي وو، په لنډې مودې کې په دې وتوانېدل چې د سيمې اقتصادي زېرمې تر لاسه کړي، د سود او د عربو د بېلو بېلو قبيلو د جنګولو له لارې ئې د کرنې سمسورې زمکې، تجارت او بازار تصرف کړ، کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د مدينې د دوو مهمو قبيلو اوس او خزرج د ګډ پلاوي په بلنه مدينې منورې ته هجرت وکړ، دواړو قبيلو د ايمان لار غوره کړه او د رسول الله صلى الله عليه و سلم د کلکې او صادقانه ملګرتيا لپاره ئې ملا وتړله، خپلې هغه مخکينۍ خپلمنځۍ جګړې ئې د تل لپاره هېرې کړې چې نژدې دوه پېړۍ ئې دوام کړی وو، يهودو دا انکشافات پر مدينې خپلې اقتصادي، مذهبي او اجتماعي سلطې ته ستر ګواښ وګڼلو، د اوس او خزرج له جګړو دوی ته ډېرې ګټې رسېدې، د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اهتمام له کبله د يهودانو مشران دې ته اړ شول چې له مسلمانانو سره په مدينه کې د ګډ ژوند او له مدينې د ګډې دفاع داسې يوه معاهده لاسليک کړي چې مهم بندونه ئې دا وو:

.... عَلَى الْيَهُودِ نَفَقَتُهُمْ، وَعَلَى الْمُسْلِمِينَ نَفَقَتُهُمْ، وَأَنَّ بَيْنَهُمُ النَّصْرَ عَلَى مَنْ حَارَبَ أَهْلَ هَذِهِ الصَّحِيفَةِ، وَأَنَّ بَيْنَهُمُ النُّصْحَ وَالنَّصِيحَةَ وَالْبِرَّ دُونَ الْإِثْمِ، وإنَّه لَمَ يَأثَم امرؤ بِحَلِيفِهِ وَ إن النَّصْرَ لِلْمَظْلُومِ وإن اليهود يُنفِقُون مَعَ المؤمنين مَا دَامُوا محاربين وإن يَثرِب حَرَامٌ جَوفُها لأهل هذه الصحيفة .... وَإنه مَا كَان بَينَ أَهْلِ هذِهِ الصَحِيفَةِ من حدث أو اشتجار يخاف فساده فإن مرده إلى الله عز و جل وإلى محمد رسول الله صلى الله عليه و سلم وإنه لا تجار قريش ولا من نصرها وإن بينهم النصر على من دهم يثرب .... على كل أناس حصتهم من جانبهم الذي قبلهم ...

... د يهودانو خپل لګښتونه به د دوی په غاړه او د مسلمانانو به د دوی په غاړه وي، تر منځ به ئې د هغه چا په ضد ملتيا وي چې د دې معاهدې له کوم لوري سره جنګېږي؛

او دا چې د دوی تر منځ به د خواخوږۍ او ښېګڼې تعلق وي نه د ګناه او تېرې؛ او دا چې هیڅ یو به پر خپل حلیف تېری نه کوي، د مظلوم مرسته به کېږي، کله چې دوی جنګېږي یهودان به له مؤمنانو سره یو ځای د جګړې په لګښت کې برخه اخلي، د دې معاهدې لوري به د مدینې منځ محترم ګڼي (په دې کې به له فساد او فتنې راولاړولو ډډه کوي)، که د دې معاهدې د لوریو تر منځ داسې شخړه او لانجه راولاړه شوه چې له فساد ځې وېره کېده نو الله تعالی او محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم ته به راجع کېږي، نه به قریشو ته پناه ورکول کېږي او نه هغو ته چې د دوی مرسته ځې کړې، د دواړو لوریو تر منځ به د هغه چا په خلاف مرسته وي چې پر مدینې تېری وکړي... په هر یوه به د خپلې مخې لوري دفاع لازمه وي...

یهودانو د دغې معاهدې درناوی ونه کړ، تر ټولو وړاندې د بني قینقاع قبیلې خپلې ژمنې تر پښو لاندې کړې، دوی د ښار په یوې ښې سیمې کې مېشت ول، د لوښو او وسلو جوړول ځې دنده وو، په وسلو ښه سنبال ول، نژدې اُوه سوه وسله وال جنګیالي ځې درلودل، په خپلو منځو او وسلو غره ول، د خزرج قبیله ځې حلیفه او عبدالله بن ابی بن سلول ځې حامي وو، د بدر په جګړې کې د مسلمانانو د بریا له کبله دومره تحریك شوي وو چې د دوی سیمې ته ورتلونکي مسلمانان به ځې ځورول، خبره ځې دې حد ته ورسېده چې یوه ورځ ځې یوه مسلمانه مېرمن په بازار کې بربنډه کړه، نښته رامنځته شوه، په نښتې کې یو مسلمان او یو یهودي ووژل شول، رسول الله صلی الله علیه و سلم هلته ورغی، دوی ځې راغونډ کړل او نصیحت ځې ورته وکړ، خو هغوی ورته وویل: اې محمده! (صلی الله علیه و سلم) ته به پر موږ د قریشو ګمان کوې، هغوی په جګړې نه پوهېدل نو ځکه تاسو ماته ورکړه، خو که له موږ سره مخامخ شوئ نو پوه به شئ چې مېړنی څنګه وي، ... د دوی شرارتونه هغه ځای ته ورسېدل چې رسول الله صلی الله علیه و سلم مجبور شو د د درېیم هجري کال د شوال یا ذي القعدې په میاشت کې د دوی سیمه محاصره کړي، لا د محاصرې پنځلس ورځې نه وې تېرې شوې چې هغوی وسله پر زمکه کښېښوده، تسلیم شول او جنګیالي ځې ونیول شول، عبدالله بن ابي د دوی حمایت ته راوړاندې شو او له رسول الله صلی الله علیه و سلم ځې په الحاح او اصرار سره غوښتل چې هغوی ته عفو وکړي، رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې شرط دوی ته عفو وکړه چې د بني قینقاع قبیله خپل ټول مال، وسله او سامان پرېږدي او له مدینې به ووځي.

د بني نضیر د قبیلې د مفتن مشر کعب بن اشرف په اړه هم په روایاتو کې داسې راغلي:

له عبدالله بن کعب بن مالك روایت دئ چې یهودي کعب بن الاشرف شاعر وو او په

خپلو شعرونو کې به ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم هجو کوله او قريش کفار به ئې هڅول، رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسې حال کې مدينې ته راغی چې اوسېدونکي ئې سره ګډ وډ ول، ځينې ئې مسلمانان ول چې د پيغمبر عليه السلام بلنې راغوند کړي ول؛ او ځينې ئې مشرکان ول چې بُتان ئې لمانځل؛ او ځينې يهودان ول چې د حصارونو او کلاګانو خاوندان ول، چې د اوس او خزرج حليفان ول، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وغوښتل چې د دوی تر منځ صلح او روغه جوړه حاکمه وي، وضعيت داسې وو چې يو سړی به مسلمان وو، پلار به ئې مشرك وو، بل به مسلمان خو ورور به ئې مشرك وو، کله چې پيغمبر عليه السلام راغی نو د مدينې مشرکانو او يهودو رسول الله صلى الله عليه و سلم او د هغه ياران ډېر ځورول، الله تعالى خپل رسول او مسلمانانو ته د دې اذيتونو په وړاندې د صبر او عفوې کولو امر وکړ، چې په همدې اړه ئې دا آيت راولېږو: (... ولتسمعن من الذين اوتوا الكتاب من قبلكم ومن الذين اشركوا اذى كثيرا...) او د دوی په اړه ئې وفرمايل: (ود كثير من اهل الكتاب لو يردونكم من بعد ايمانكم كفارا حسدا من عند انفسهم من بعد ما تبين لهم الحق فاعفوا واصفحوا)، نو کله چې کعب بن الاشرف د پيغمبر عليه السلام او مسلمانانو له ځورولو لاس وانه خيست؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم سعد بن معاذ ته امر وکړ چې د هغه د وژلو لپاره يو ټولګی ولېږي، نو سعد بن معاذ داسې يو پنځه کسيز ټولګی ولېږو چې دا کسان هم په کې وو: محمد بن مسلمة الانصاري، ابو عبس الانصاري او حارث د سعد بن معاذ وراره. نو ماخستن د هغه مجلس په دوران کې ورغلل چې په خپلې پورتنۍ خونې کې ئې جوړ کړی وو، کله چې کعب بن الاشرف وليدل ناآشنا ورته معلوم شول او ترې ووېرېدو؛ او ورته وئې ويل: څه شي دلته راوستئ؟ ورته وئې ويل: تا ته يوه حاجت راوستي يو، وئې ويل: نو له تاسو دي څوك رانژدې شي چې ما ته ئې ووايي، ځينې ورنژدې شول او وئې ويل: تا ته د دې لپاره راغلي يو چې خپلې زغرې درباندې وپلورو او پيسې ئې په خپلو اړتياوو ولګوو، هغه وويل: والله سې به وي که دا کار وکړئ، ځکه تاسو د دې سړي له درتلو وروسته له کړاوونو سره مخامخ شوي يئ، نو وعده ئې ورسره وکړه چې ماخستن داسې مهال ورشي چې خلك ترې تللي وي، نو ورغلل او يوه ئې ورېرغ کړ، نو له خپله ځايه پورته شو چې ووځي، مېرمني ئې ورته وويل: په دې وخت کې به څوك دروازه د داسې کار لپاره نه درټکوي چې ستا د خوښي کار وي، وئې ويل: نه؛ دوی خپله خبره ما ته کړې ده، نو ورووت، مُحَمَّدُ بن مَسْلَمَةَ غېږ ورکړه او خپلو ملګرو ته ئې وويل: که ما هم له ده سره يو ځای وژئ پروا ئې نشته خو چې درنه خلاص نه شي، نو ځينو په خپلو تورو په شا کې وواهو، کله چې ئې هغه وواژو نو مشرکين او

يهودان ووېرېدل، سبا پيغمبر عليه السلام ته ورغلل؛ او وئې ويل: تېره شپه زموږ دوست چې زموږ له مشرانو وو ووژل شو، رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه خبرې ورپه ياد کړې چې ده به په خپلو اشعارو کې کولې، په دې سره ئې دوی له داسې کولو منع کړل او دې ته ئې وبلل چې د پيغمبر عليه السلام، دوی او مسلمانانو تر منځ يوه پاڼه وليکل شي چې ټول به دغې معاهدې ته التزام کوي، نو پيغمبر عليه السلام د لسو کلونو لپاره داسې يوه معاهده وليکله.

يهودانو نه يوازې د دغې معاهدې هيڅ درناوی نه دئ کړی بلکې تل ئې په پټه دښمن د مسلمانانو په ضد جنګ ته هڅولی او د خپلې مرستې او ملګرتيا ډاډ ئې ورکړی!! دوی د احد د جګړې په دوران کې هم د معاهدې پروا ونه کړه او له مدينې دفاع ته چمتو نه شول، نه يوازې دا بلکې بنې نضيرو د رسول الله صلى الله عليه و سلم د وژلو منصوبه جوړه کړه او هغه هم هغه مهال چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د يوې لانجې د حل و فصل لپاره د دوی سيمې ته ورغلی وو.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١﴾

څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي الله ته تسبيح کوي او هغه باحکمت عزتمن دئ.

---

(١)- په دې مبارك آيت کې قرآن عظيم الشأن د آسمانونو او زمکې هر څه د دې مطلب د اثبات لپاره د ګواه او شاهد په توګه وړاندې کوي چې الله له هر عيب او نقص منزه، عزيز او حکيم دئ.

د تسبيح لفظ په قرآن کې په څو معنی وو راغلی:

١ - په پاکۍ اعتراف کول، له عيب او نقص منزه ګڼل او دا اعتراف او تنزيه او تزکيه د مخصوصو الفاظو په ذريعه څرګندول.

٢ - د حال په ژبه د خپل صانع او پالونکي په پاکۍ او سپېځلتيا شهادت ورکول او ليدونکي ته دا انتباه ورکول چې د دې توکي پيداکوونکی له عيب او نقص اوچت او لوړ دئ.

٣ - لامبو وهل او په سرعت او عجلې سره د يوه کار د سرته رسولو هڅه کول.

د تسبيح دغو درې ګونو معانيو ته په پام سره د حشر سورې لومړی آيت دا مطالب

افاده کوي:

۱ - د آسمانونو او زمکې هر څه الله په پاکۍ یادوي، هغه له هر عیب او نقص منزه ګڼي او ذکر ئې کوي.

۲ - د دې کائناتو هر څه په کامل انقیاد سره د الله تعالی په عبادت او بندګۍ لګیا دي، په هماغه مسیر کې خوځي چې الله ورته ټاکلی او هماغه څه کوي چې الله تعالی وربانديي ګمارلي او هر یو د خپلې مشخصې دندې په سرته رسولو کې مصروف دئ.

۳ - د زمکې او آسمانونو هر څه په دې شهادت ورکوي چې الله له هر عیب او نقص منزه دئ.

دا چې د الله تعالی په زمکې او آسمانونو کې بېهوده او بې هدفه شی نه شې موندلی، هر څه سم، سالم او په خپل حد کې کامل پیدا شوی، هر څه د یوه معین هدف د تحقق لپاره پیدا شوی، د عالم ټول موجودات له خاصو ضوابطو او سننو سره سم د ټاکلې منهج مطابق د معین هدف په لوري په منظم او مستمر حرکت سره هغه تر سره کوي او خاص نتائج وړاندي کوي. دا نظم، تعادل، ښایست او هدفمني په خپله ثابتوي چې د دې عالم صانع، مدبر، پالونکی او ساتونکی له عیب او نقص منزه دئ، علیم او حکیم دئ او په هر کار کې ئې مصلحت او حکمت مضمر دئ. د دې خور، ستر او پراخ عالم اداره او د هر جزء حرکت سمبالول او د بې انتهاء اجزاوو د ټکر او تصادم مخنیوی په خپله ثابتوي چې د دې عالم پالونکی رب، عزیز او غالب دئ او په هر کار قادر او توانا.

هُوَ ٱلَّذِیٓ أَخۡرَجَ ٱلَّذِینَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن دِیَٰرِهِمۡ لِأَوَّلِ ٱلۡحَشۡرِۚ مَا ظَنَنتُمۡ أَن یَخۡرُجُواْۖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمۡ حُصُونُهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَأَتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِنۡ حَیۡثُ لَمۡ یَحۡتَسِبُواْۖ وَقَذَفَ فِی قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَۚ یُخۡرِبُونَ بُیُوتَهُم بِأَیۡدِیهِمۡ وَأَیۡدِی ٱلۡمُؤۡمِنِینَ فَٱعۡتَبِرُواْ یَٰٓأُوْلِی ٱلۡأَبۡصَٰرِ ۝٢ وَلَوۡلَآ أَن كَتَبَ ٱللَّهُ عَلَیۡهِمُ ٱلۡجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمۡ فِی ٱلدُّنۡیَاۖ وَلَهُمۡ فِی ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابُ ٱلنَّارِ ۝٣ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۖ وَمَن یُشَآقِّ ٱللَّهَ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِیدُ ٱلۡعِقَابِ ۝٤

دی همغه ذات دئ چې د اهل کتاب هغه کافران شوي ئې له لومړي غونډېدو سره سم له خپلو کورونو وایستل، تاسو دا ګمان نه کولو چې دوی به ووځي او دوی ګمان

کولو چې کلاګاني به ئې د الله په وړاندي د دوی ساتونکې وي، نو الله په داسي توګه ورغی چې دوی ئې ګمان نه وو کړی؛ او د دوی په زړونو کې ئې وېره واچوله، خپلې خونې ئې په خپل لاس او د مؤمنانو په لاس ورانولې، نو اې سترګورو! عبرت واخلئ، ۳- او که الله د دوی په اړه وطن پرېښودل نه وی لیکلي نو دوی به ئې حتماً په دنیا کې تعذیب کړي ول، په داسي حال کې چې دوی ته په آخرت کې د اور عذاب دئ، ٤- دا له دې کبله چې دوی د الله او د ده د رسول مقابله وکړه او څوک چې د الله مقابله وکړي نو الله سخت سزا ورکوونکی دئ.

(۲-٤)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی همغه ذات دئ چې د اهل کتاب هغه کافره ډله ئې ستاسو له راغونډېدو سره سم له خپلو کورونو وایستله، تاسو دا ګمان نه کولو چې دوی به دومره ژر او له کوم مقاومت او جګړې پرته ووځي او دوی ګمان کولو چې کلاګاني به ئې د برید په وړاندي د دوی ساتنه وکړي او د دوی په اړه به د الله تعالی پرېکړه وځنډوي، دلته ویل شوي چې دوی ګمان کولو کلاګاني به ئې له الله وساتي، ځینو درنو مفسرینو داسي انګېرلې چې ګواکې یهودانو همدا عقیده درلوده، دا ځکه چې په خپلو مذهبي کتابونو کې ئې راغلي وو چې د دوی جد یعقوب علیه السلام له خدای سره غږېږي نیولې وې او خدای نه وو توانېدلی هغه ځملوي، ځینو بیا داسي انګېرلې چې ګواکې دلته د الله یادونه په مجازي توګه شوې او مراد ترې د مؤمنانو لښکر دئ، دا دواړه تعبیرونه ستونزي لري، غوره تعبیر دا دئ چې دوی ګمان کولو د خپلو مضبوطو کلاګانو په مټ به الهي مقدرات بدل کړي او د الله تعالی د هغې پرېکړې د تحقق مخه به ونیسي چې د دوی د ماتې په اړه ئې کړې وه. همدا راز (لِأَوَّلِ ٱلْحَشْرِ) په اړه ځینو درنو مفسرینو حشر د بني نضیر قبیلې ته منسوب کړی او ویلي ئې دي چې مراد ئې د دوی راغونډول او ایستل دي، لومړي ځل د دغې نښتې په ترڅ کې له مدینې وایستل شول او دوهم ځل د عمر رضی الله عنه په زمانه کې د یهودو د نورو قبیلو په شمول له ټول حجاز وایستل شول، غوره تعبیر دا دئ چې په الحشر سره د مسلمانانو د لښکر راغونډېدو ته اشاره شوې او د (لِأَوَّلِ ٱلْحَشْرِ) معنی د راغونډېدو په همغه لومړي سر کې ده، یعني دښمن ډېر ژر او له کوم مقاومت او جګړې پرته د مسلمانانو له راغونډېدو سم وتلو ته چمتو شو.
- دوی پر خپلو وسلو او کلاګانو غره ول، محاسبه ئې دا وه چې هیڅ یرغلګر نه شي کولی د دوی مضبوطې مورچلې او کلاګاني فتح کړي، خو الله تعالی له داسي لاري او په داسي توګه د دوی د ماتې بندوبست وکړ چې دوی په خپلو محاسباتو کې په پام کې نه وه

نیولې، الله تعالی د دوی په زړونو کې وېره واچوله، دغه وېره په دې منتج شوه چې تسلیم شي، وسله پر زمکه کښېږدي، خپلې کلاګاني مسلمانانو ته تسلیمي کړي، دلته ویل شوي چې خپلې خونې ئې په خپل لاس وراني کړي؛ ځینو درنو مفسرینو ویلي چې دا کار ئې له معاهدې وروسته او هغه مهال کړی چې دوی ته له وسلې پرته د یوه اوښ سامان وړلو اجازه ورکړی شوه، نو ځینو ئې د خپلو خونو دروازې او کړکۍ ایستلې دي او له ځان سره ئې وړې دي، خو له وضعیت او الفاظو داسې معلومېږي چې دوی د برید په سر کې هغه کورونه او خونې پرېښې دي چې په خوندي ځایونو کې نه ول، له حصار او کلاګانو بهر ول، دا ئې یا په خپله وران کړي یا ترې پاته شوي او مسلمانانو وران کړي. داسې معلومېږي چې بني نضیرو دا هیله درلوده چې د مدینې منافقین او نوري قبیلې به د دوی مرسته وکړي خو د څو ورځو محاصرې په دوران کې ئې د دې هیلې تر سره کېدو هیڅ څرک ترسترګو نه شو، تر دې پېښې وړاندې دوو نورو پېښو هم دوی سخت وېرولي ول: تر محاصرې وړاندې د دوی ستر مشر کعب بن اشرف ووژل شو، دوی ته معلومه شوه چې دی د مسلمانانو د یوې ډلې په لاس په خپل کور کې وژل شوی، همدا راز تر دې برید لنډه موده وړاندې د یهودو بله قبیله بني قَینُقاع د مسلمانانو په لاس ځپل شوې وه؛ او تش لاس له مدینې ایستل شوې وه. نو ځکه ئې همت ویلي شو او د مسلمانانو شرائطو ته ئې غاړه کښېښوده.

- په دې پېښې کې د هغو لپاره د عبرت درس دئ چې د بصیرت خاوندان وي.
- که الله تعالی د دوی په اړه دا پرېکړه نه وی کړې چې د وطن پرېښودل او له مدینې ایستل ورته کافي وګڼي نو دوی به ئې حتماً په دنیا کې تعذیب کړي ول، په داسې حال کې چې دوی ته په آخرت کې د اور عذاب دئ.
- دوی له دې کبله له دغه برخلیك سره مخامخ شول چې د الله او د ده د رسول مقابله ئې وکړه؛ او دا د الله تعالی ثابت سنت دئ چې څوك له الله تعالی سره د دښمنۍ لار غوره کړي نو د ده له سختي نیوني او عذاب سره به مخامخ شي.

مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ ٱللَّهِ وَلِيُخْزِىَ ٱلْفَـٰسِقِينَ ۝٥ وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْهُمْ فَمَآ أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ وَلَـٰكِنَّ ٱللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ۝٦ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِى

ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةًۢ بَيْنَ ٱلْأَغْنِيَآءِ مِنكُمْۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ۝٧

۵- د کجورو کومي وني چې تاسو قطع کړې او یا مو پر خپلو جړو ولاړې پرېښودې نو دا د الله په إذن او د دې لپاره وو چې دا فاسقان سپك کړي، ٦- او الله چې د دوی کوم څه پر خپل پیغمبر ولورول نو تاسو نه کوم آس پرې ځغلولی او نه کوم اوښ، خو الله خپل پیغمبران پر هغه څه مسلطوي چې دی ئې غواړي او الله پر هر څه توانا دئ، ۷- د دغو کلیو د هستوګنو کوم څه چې الله پر خپل پیغمبر لورولي نو دا د الله، د پیغمبر، د خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو او د مسافرانو دي، دا د دې لپاره چې هغه ستاسو د غنیانو تر منځ لاس په لاس نه شي، پیغمبر چې تاسو ته څه درکړي هغه واخلئ او له څه ئې چې منع کړئ له هغه ډډه وکړئ او له الله ووېرېږئ، یقیناً چې الله شدید العقاب دئ.

(۵-۷)- له دې مبارکو آیتونو څو مهم مطالب تر لاسه کوو:

- د بني نضیر د کلاګانو شاوخوا د کجورو وني وې، د جنګي مقاصدو لپاره د هغو ونو قطع کول ضروري وو چې د مجاهدینو په وړاندي خنډ کېدې، رسول الله صلی الله علیه و سلم د داسي ونو د وهلو اجازه ورکړې، نوري ئې پر خپل حال پرېښې.
- له جګړې وروسته منافقینو دا تبلیغات کړي چې مسلمانانو ولې دا کار وکړ او وني ئې ووهلې، دلته د دوی په ځواب کې ویل شوي چې دا د الله په إذن سره او د دې لپاره وو چې دا فاسقان سپك کړي، یعني په داسي حالاتو او مواردو کې دا کار جائز دئ.
- دلته هغه مال (غنیمت) ته د فيء نوم ورکړی شوی چې له جګړې پرته د مسلمانانو لاس ته ورځي، دا د الله تعالی یوه لوړینه ده چې د مسلمانانو د سورو او پلیو له برید او جګړې پرته ئې پر دوی پېرزو کوي، مجاهدین به دې ته د غنیمت په ستړګه نه ګوري او د برخي تر لاسه کولو هڅه به نه کوي. الله تعالی پر هر څه قادر دئ کولی شي مسلمانانو ته داسي وړیا بریاوي او غنیمتونه ورپه برخه کړي. د غنیمت په اړه حکم دا دئ چې په پنځو برخو به وېشل کېږي، څلور برخي په جګړې کې د برخوالو او یوه برخه د بیت المال، وضاحت ئې د الانفال سورې په ٤١ آیت کې راغلی؛ او د فيء حکم دا دئ چې ټول به دغو مواردو ته مختص کېږي چې په اوم آیت کې ښودل شوي، فقهاءو د دې مزید وضاحت کړی

او ویلي ئې دي: غنیمت یوازي هغه منقول اموال دي چې د جګړې په ترڅ کې د دښمن له لښکر تر لاسه کېږي، د دښمن نور منقول او غیرمنقول اموال لکه زمکې، کورونه، سامان او وسائل چې د دښمن په ملك او استوګنځي کې تر لاسه کېږي د غنیمت په ضمن کې نه ګڼل کېږي.

- کوم څه چې د دې محاصرې په نتیجه کې الله تعالی پر خپل پیغمبر لوروي دا د الله، د پیغمبر، د خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو او د مسافرانو دي، وېش به ئې له الهي لارښوونو سره سم، د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لوري او په دغو مواردو کې وي.
- دلته د فيء لومړی سهم الله او د هغه رسول ته مختص شوی، د روایاتو په رڼا کې معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به د فيء له اموالو یوازي دومره څه ځان ته ګرځول چې د ده او د ده د عیال د یوه کال نفقه شي نور به ئې د جهاد په چارو او مجاهدینو ته د وسلو او سورلیو برابرولو لپاره لګول، د رسول الله صلی الله علیه و سلم له رحلت وروسته دا برخه بیت المال ته انتقال شوې.
- دوهم سهم خپلوانو ته مختص شوی چې مراد ترې د رسول الله صلی الله علیه و سلم خپلوان بني هاشم او بني مطلب دي، دا سهم د دې لپاره ټاکل شوی وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغو خپلوانو مالي مشکلات حل کړی شي چې د ده مرستي ته اړ وو یا ده په خپله له هغوی سره د مرستي ضرورت احساسولو، د رسول الله صلی الله علیه و سلم له رحلت وروسته دا برخه هم منتفي شوې، البته د دوی د مسکینانو او حاجتمنو حقوق د نورو حاجتمنو او مستحقینو په څېر له بیت المال ورکول کېږي، دې ته په پام سره چې بني هاشم زکات نه شي اخیستی نو له نورو مواردو باید د دوی ستونزه حل شي.
- دلته د اسلام د اقتصادي نظام یو بنسټیز او اساسي اصل زمونږ مخي ته ځلېږي، وایي: فيء ځکه غنیمت نه ګڼل کېږي او باید په حاجتمنو ووېشل شي چې شتمني د غنیانو تر منځ لاس په لاس نه شي، یعني مال او دولت د څو شتمنو او غنیانو په لاس کې محصور او محدود نه شي بلکې په پراخه پیمانه ووېشل شي او د څو کسانو په لاس کې د شتمنیو له تمرکز مخنیوی وشي، دا اصل که له یوې خوا مونږ ته لارښوونه کوي چې د غنیمت او فيء د وېش قوانین د دې لپاره وضع شوي چې د مفتوحه سیمو زمکې، مالونه، وسائل او نوري شتمنۍ یوازي د هغو لاس ته ورنه شي چې وسله لري او په فتوحاتو کې ئې برخه اخیستې، بلکې د حاجتمنو اړتیاوو ته په پام سره په ضروري مواردو کې وکارول شي، له بلې خوا مونږ ته وایي چې د اغنیاوو په لاس کې د شتمنیو تمرکز هغه څه دي چې الله تعالی ئې نه خوښوي او دا باید د اسلامي نظام د مهمو اهدافو په ضمن کې وي چې د شتمنیو وېش

عادلانه وي او د اغنياوو په واك كې د هغوى له تمركز مخنيوى وشي، داسې نه لكه اوسنى غربي پانګوال نظام چې په هغه كې غني ورځ تر بلې لازيات غني كېږي او فقير لازيات فقير كېږي، دا نن په امريكا كې پانګوال نظام په دې منتج شوى چې د متحده ايالاتو اتيا سلنه شتمني د څو شتمنو په واك كې ده، كه پر امريكا باندې داسې قهرجن او ځواكمن پوليسي نظام حاكم نه وى چې هر پاڅون ئې په شدت او قهر سره ځپلى نو ډېر پخوا به دا نظام ړنګ شوى وو، دا نژدې دوهم كال دئ چې په امريكا كې د دې نظام په ضد تر دې نامه لاندې پاڅون پيل شوى چې (وال ستريټ محاصره كړئ)، وال ستريټ د امريكايي پانګوال نظام د ملا تير دئ، كه امريكا د وسلو د خرڅلاو بازارونه له لاسه وركړي، كه ډالر په جهاني تجارتي تبادلاتو كې خپل ځاى نورو اسعارو ته پرېږدي او اوسنى اعتبار ئې له منځه ولاړ شي، كه امريكا په خپلو مستعمراتو كې خپل ماركيټونه له لاسه وركړي، نو امريكا به نه يوازې خپل اوسنى حالت د لنډې مودې لپاره ونه شي ساتلى بلكې ډېر ژر به د شوروي اتحاد په برخليك اخته شي.

- اسلام دې هدف ته د رسېدو لپاره چې شتمني د اغنياوو تر منځ لاس په لاس نه شي، ځانګړې جامع او اغېزمنه تګلاره غوره كړې، سود او احتكار ئې حرام كړي چې دا دواړه د پانګوال نظام دوه اساسي بنسټونه دي، د ميراث داسې قانون ئې وضع كړى چې د هر شتمن له وفات وروسته د هغه شتمني د ډېرو تر منځ ووېشل شي، زكات ئې فرض كړى، صدقات او كفارې ئې لازم كړې، اغنياوو ته وايي: ستاسو په مالونو كې د مسكينانو يو ثابت حق دئ چې بايد اداء ئې كړئ، حكومت په دې ګماري چې د نېستمنو متكفل وي او د دولت له بيت المال د دوى حاجتونه رفع كړي.
- په اُوم آيت كې د اسلام يوه بل اساسي او بنيادي اصل ته هم اشاره شوې او هغه دا چې مؤمنانو ته ويل شوي: پيغمبر چې تاسو ته څه دركړي هغه واخلئ او له څه ئې چې منع كړئ له هغه ډډه وكړئ، په دې وينا سره يوازې د غنائمو د وېش په اړه لارښوونه نه ده شوې بلكې ميدان ئې ډېر پراخ دئ او د ژوند ټول ابعاد احتواء كوي، مطلب ئې دا دئ چې د جائز او ناجائز، حلال او حرام، روا او ناروا په اړه به د رسول الله صلى الله عليه و سلم وينا او پرېكړه معيار او ملاك ګڼئ، د هغه څه تر لاسه كولو حق به ځان ته وركوئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم درته جائز كړي او له هغه څه به ډډه كوئ چې ده درته ناروا ګڼلي.
- د اوم آيت په پاى كې ويل شوي: له الله تعالى ووېرېږئ، يقيناً چې الله شديد العقاب دئ. يعني په خپلو ټولو تصرفاتو او كړنو كې محتاط اوسئ او له داسې څه ځان وساتئ چې

الله تعالى پرې ناراض کېږي او د شديدالعقاب رب له نيوني او مؤاخذې سره مو مخامخ کوي.

لِلْفُقَرَآءِ ٱلْمُهَٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ أُخْرِجُوا۟ مِن دِيَٰرِهِمْ وَأَمْوَٰلِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنًا وَيَنصُرُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ﴿٨﴾ وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلْإِيمَٰنَ مِن قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِى صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ أُوتُوا۟ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٩﴾ وَٱلَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلْإِيمَٰنِ وَلَا تَجْعَلْ فِى قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠﴾

۸- د مهاجرينو هغو فقيرانو ته چې له خپلو کورونو او مالونو ايستل شوي، د الله فضل او رضاء لټوي او د الله او د ده د رسول ملتيا کوي، همدا دوی رښتيني دي، ۹- او هغه چې تر دوی وړاندي ئې په دې کور او د ايمان (غېږ) کې ځای نيولی، له هغو سره محبت لري چې د دوی لوري ته ئې هجرت کړی؛ او په خپلو سينو کې هغه څه ته اړتيا نه مومي چې دوی ته ورکړی شوي او پر خپل ځان نورو ته ترجيح ورکوي که څه هم په خپله ډېر حاجتمن وي؛ او څوک چې د خپل نفس له حرص او بخل خوندي پاته شو همدا دوی بريالي دي، ۱۰- او هغه چې تر دوی وروسته راغلي او وايي: اې زمونږ ربه! مونږ او زمونږ هغو ورونو ته بخښنه وکړه چې پر مونږ ئې د ايمان لوري ته سبقت کړی او زمونږ په زړونو کې هغو ته رخه او کينه مه ګرځوه چې ايمان ئې راوړی؛ اې زمونږ ربه! يقيناً چې ته مهربان لوروونکی يې.

(۸-۱۰)- په دې مبارکو آيتونو کې د فيء نور مستحقين په دې توګه معرفي شوي:

- د مهاجرينو هغه فقيران چې له خپلو کورونو او مالونو ايستل شوي، د الله فضل او رضاء لټوي او د الله او د ده د رسول ملتيا کوي، همدا دوی رښتيني دي.
- د مدينې هغه هستوګن چې انصار نومول شوي او تر دغو مهاجرينو وړاندي په مدينه کې مېشت شوي او د ايمان غېږ کې ئې ځای نيولی، له هغو سره محبت لري چې د دوی

لوري ته ئې هجرت کړی؛ او په خپلو سینو کې هغه څه ته اړتیا نه مومي چې دغو مهاجرینو ته ورکړی شوي، پر خپل ځان نورو ته ترجیح ورکوي که څه هم په خپله ډېر حاجتمن وي، څوک چې د دوی په څېر د خپل نفس له حرص او بخل خوندي پاته شو همدا دوی بریالي دي.

• هغه چې تر دوی وروسته ئې ایمان راوړی او مدینې ته راغلي او وایي: اې زمونږ ربه! مونږ او زمونږ هغو وروڼو ته بخښنه وکړه چې پر مونږ ئې د ایمان لوري ته سبقت کړی او زمونږ په زړونو کې هغو ته رخه او کینه مه راپیدا کوه چې ایمان ئې راوړی؛ اې زمونږ ربه! یقیناً چې ته مهربان لوروونکی یې.

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُواْ يَقُولُونَ لِإِخْوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِن قُوتِلْتُمْ لَنَنصُرَنَّكُمْ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١١﴾ لَئِنْ أُخْرِجُواْ لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ وَلَئِن قُوتِلُواْ لَا يَنصُرُونَهُمْ وَلَئِن نَّصَرُوهُمْ لَيُوَلُّنَّ ٱلْأَدْبَٰرَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٢﴾

۱۱- آیا هغو ته دي پام نه دئ کړی چې منافقت ئې کړی او خپلو هغو کافران شوو وروڼو ته چې د اهل کتاب له ډلې دي وایي: که وایستل شوئ حتماً مونږ هم درسره وځو او ستاسو په اړه به د هیچا هیڅکله اطاعت ونه کړو او که جګړه درسره وشوه هرومرو ستاسو ملتیا کوو په داسې حال کې چې الله ګواهي ورکوي چې دوی یقیناً دروغجن دي، ۱۲- که وایستل شي نه ورسره وځي او که جګړه ورسره وشي مرسته ئې نه کوي او که ئې مرسته وکړي حتماً به شاګاني اړوي او بیا به ئې مرسته ونه شي.

(۱۱-۱۲)- په دې مبارکو آیتونو کې د بني نضیر له یهودي قبیلې سره د منافقینو پټو مرکو او د مسلمانانو په وړاندې مقاومت او مخالفت ته د دوی د هڅولو په اړه داسې راغلي:

• آیا هغو ته دي پام نه دئ کړی چې د نفاق لار ئې غوره کړې، کافرو یهودانو ته د خپلو وروڼو په سترګه ګوري او هغوی ته وایي: که مسلمانانو دا هڅه وکړه چې تاسو له مدینې وباسي نو مونږ به ئې مخه نیسو او که ونه توانېدو له تاسو سره به یو ځای وځو، ستاسو په اړه به هیڅکله د چا خبره ونه منو؛ او اطاعت به ئې ونه کړو او که جګړه درسره وشوه هرومرو ستاسو ملتیا کوو!!

• الله تعالی د دوی وینا تکذیبوي او فرمایي: دوی یقیناً دروغجن دي، که وایستل شي

نه ورسره وځي او که جګړه ورسره وشي مرسته ئې نه کوي او که ئې مرسته وکړي حتماً به تښتي او بیا به نه منافقین داسي څوك وموميِ چي د دوی مرسته وکړي او نه د دوی کافر ورونه.

لَأَنتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِي صُدُورِهِم مِّنَ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿١٣﴾ لَا يُقَٰتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرًى مُّحَصَّنَةٍ أَوْ مِن وَرَآءِ جُدُرٍۚ بَأْسُهُم بَيْنَهُمْ شَدِيدٌۚ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿١٤﴾ كَمَثَلِ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَرِيبًاۖ ذَاقُواْ وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٥﴾ كَمَثَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَٰنِ ٱكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيٓءٌ مِّنكَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ عَٰقِبَتَهُمَآ أَنَّهُمَا فِي ٱلنَّارِ خَٰلِدَيْنِ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٧﴾

۱۳- یقیناً چي تاسو د دوی په سینو کي د وېرې له پلوه تر الله هم سخت یئ، دا له دې کبله چي دوی هغه وګړي دي چي نه پوهېږي، ۱٤- په ګډه به له تاسو سره ونه جنګېږي مګر په حصار لرونکو کلیو کي یا د دېوالونو له شا، خپلمنځۍ جګړې ئې سختي وي، متحد ئې انګېرې په داسي حال کي چي زړونه ئې جلا جلا دي، دا له دې کبله چي دوی هغه وګړي دي چي تعقل نه کوي، ۱۵- د هغو په څېر چي تر دوی لږ وړاندي ول، د خپلو چارو سزا ئې وڅکله؛ او دوی ته دردناك عذاب دئ، ۱٦- لکه د شیطان په څېر چي انسان ته ئې وویل: کافر شه، نو کله چي کافر شو وئې ویل: یقیناً چي زه له تا بې زار یم، یقیناً چې زه له رب العالمین الله وېرېږم، ۱۷- نو د دواړو پایله دا وه چي دواړه به په اور کي وي، په هغه کي تلپاته؛ او همدا د دغو ظالمانو سزا ده.

(۱۳-۱۷)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- منافقین او د دوی کافر ملګري له الله تعالی دومره نه وېرېږي لکه له مؤمنانو، د دې وېرې وجه دا ده چي دوی نه پوهېږي.
- دوی به هیڅکله په ګډه او په یوه سنګر کي او تر یوې قومندې لاندي له تاسو سره

ونه جنګېږي مګر دا چې کلکو کلاګانو راغونډ کړي وي او د دېوالونو شا ته ئې مورچلي نیولې وي.

- د دوی خپلمنځي جګړې سختې وي خو ستاسو په ضد په جګړو کې نه هغه سختوالی لري او نه هغه جذبه او زړورتیا.
- تا ته متحد برېښي، داسې ئې انګېرې چې دوی به ستاسو په ضد متفق وي خو حقیقت دا دئ چې د دوی موخې بېلې بېلې دي او زړونه ئې جلا جلا، دا له دې کبله چې دوی له تعقل بې برخې دي.
- دوی د خپلې تګلارې او د دې تګلارې د پایلو له پلوه د هغو په څېر دي چې تر دوی لږ وړاندې ئې د خپلو بدو چارو او کړنو سزا وڅکله؛ او دوی ته دردناك عذاب دئ، ځینې مفسرین دا مخکینۍ ډله قریش بولي چې په بدر کې ئې د ماتې خوند وڅکلو، ځینې نور ئې د یهودو بني قینقاع قبیله ګڼي، دې ته په پام سره چې د بني قینقاع قبیله تر دې پېښې لږ وړاندې ځپل شوې غوره تعبیر د مفسرینو د دوهمې ډلې دئ.
- د منافقینو له لوري د بني نضیر هڅونه داسې وه لکه د شیطان هغه هڅونه چې انسان ته ئې وویل: کافر شه؛ او کله چې هغه د ده د وینا او هڅونې له امله کافر شو وئې ویل: یقیناً چې زه له تا بې زار یم، یقیناً چې زه له رب العالمین الله وېرېږم.
- د دواړو پایله د دوزخ اور دئ، په هغه کې به تلپاته وي،
- همدا د دغو ظالمانو سزا ده.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٨ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ نَسُواْ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمۡ أَنفُسَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ١٩ لَا يَسۡتَوِيٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۚ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ٢٠

۱۸- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! له الله ووېرېږئ او (ستاسې) هر کس دي وګوري چې د سبا لپاره ئې څه وړاندي کړي؛ او له الله ووېرېږئ یقیناً چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ، ۱۹- او د هغو په څېر مه کېږئ چې الله ئې هېر کړ نو الله د دوی خپل ځانونه ترې هېر کړل، همدا دوی فاسقان دي، ۲۰- د اور خاوندان (دوزخیان) او د جنت خاوندان (جنتیان) سره برابر نه دي، یوازې همدا جنتیان بریالي دي.

(۱۸-۲۰)- په دې مبارکو آیتونو کې مؤمنانو ته دا لارښوونې شوې:

- له الله ووېرېږئ او ستاسو هر یو باید دې ته متوجه وي چې د آخرت لپاره ځې څه چمتو کړي، له هر یوه سره باید دا وېره وي چې د الله تعالی په وړاندې ودرېدونکی او له الهي محاسبې سره مخامخېدونکی دئ.
- همدا اوس او د خپلو ټولو کړنو په اړه له الله تعالی ووېرېږئ یقیناً چې الله ستاسو په ټولو کړنو ښه خبر دئ،
- د هغو په څېر مه کېږئ چې الله ځې هېر کړ، چې له کبله ځې الله تعالی د دوی خپل ځانونه تري هېر کړل، خدای هېرونه ځې په ځان هېروني منتج شوه، په داسي مشغولتیاوو بوخت او مصروف شول چې خپل سعادت ته اعتناء نه شي کولی، ځیني اقتدار مست کړل او ځیني دولت بې سده کړل، د ژوند په ټولو برخو کې له الهي او فطري حدودو او پولو واوښتل او فاسقان شول.
- دوزخیان او جنتیان سره برابر نه دي، یوازي هغه چا رښتینې بریا او فلاح تر لاسه کړې چې جنت ځې په برخه او له دوزخ وژغورل شي.

لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ۚ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾

۲۱- که مو دا قرآن په کوم غره نازل کړی وی نو حتماً به دي د الله له وېري وېرجن ټوټې ټوټې کېدونکی لیدلی وو؛ او دا هغه مثالونه دي چې خلکو ته ځې په دې موخه بیانوو چې تفکر وکړي.

(۲۱)- دلته د قرآن له عظمت غافل انسان ته ویل شوي: دا قرآن دومره ستر دئ، وینا ځې دومره اغېزناکه ده او عظمت او دروندوالی ځې دومره زیات او لوړ دئ چې که پر کوم غره نازل شوی وی نو د هغه له هیبته به داسي پوړېدو چې چاودېدو ته به نژدې وو، خو ستا زړه دومره سخت شوی چې نه د قرآن اغېزناکه وینا پرې اغېز کوي او نه ځې عظمت او دروندوالی احساسولی شي، د دې مثال موخه دا ده چې خلك په قرآن کې تفکر او تدبر ته وهڅوي، دوی په خپلو لوبو او مشغولتیاوو کې داسي بوخت دي چې د تفکر لپاره فرصت نه لري، که په قرآن کې د تدبر او تفکر فرصت پیدا کړي نو یقیناً چې د دې باعظمته الهي لارښود کتاب په وړاندې به ځې چلن بېل او داسي نه وي لکه نن چې بې اعتنائي کوي، د خپل زړه او دماغ دړه ورته نه پرانیزي او له اغېزمنو ویناوو ځې نه متأثر کېږي.

هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِۖ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلْمُؤْمِنُ ٱلْمُهَيْمِنُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْجَبَّارُ ٱلْمُتَكَبِّرُۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٢٣﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَٰلِقُ ٱلْبَارِئُ ٱلْمُصَوِّرُۖ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٤﴾

۲۲- دی هغه الله دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، په پټ او څرګند پوه، دی ډېر مهربان رحم کوونکی دئ، ۲۳- دی هغه الله دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، ټولواك، سپېڅلی، بشپړ، امان ورکوونکی، احاطه کوونکی، عزټمن، برلاسی او د لویي څښتن دئ، الله ته له هغه څه سپېڅلتیا ده چې دوی ئې ورسره شریکوي، ۲٤- دی پنځوونکی الله، پیدا کوونکی او انځوروونکی دئ، هر هغه څه ده ته تسبیح وایي چې په آسمانونو او زمکي کې دي؛ او هغه باحکمت عزټمن دئ.

(۲۲-۲٤)- په دې مبارکو آیتونو کې د الله تعالی د صفاتو په اړه دا لارښوونې شوې:

- **الله تعالی هغه ذات دئ چې په دغو صفاتو متصف دئ: په غیب او شهادت (پټ او څرګند) پوه، ډیر ډېر مهربان رحم کوونکی، له ده پرته بل داسي معبود نشته چې په دغو صفاتو متصف وي.**
- **الله تعالی هغه ذات دئ چې په دغو صفاتو متصف دئ: ټولواك، قدوس، سلام، امان ورکوونکی، احاطه کوونکی، عزټمن، برلاسی او د لویي څښتن، له ده پرته بل داسي معبود نشته چې په دغو صفاتو متصف وي. ځینو درنو مفسرینو مؤمن او مهیمن سره ورته ګڼلي، خو مؤمن امان ورکوونکي او مهیمن احاطه کوونکي ته وایي، یعني الله تعالی هم د عالم هر څه ته امان ورکوي او خوندي ئې ساتي او هم د عالم هر څه د ده تر سیطرې لاندي دي، د الله تعالی اقتدار او واکمني د عالم هر څه احتواء کړي، همدا راز ځینو قدوس د سپېڅلي په معنی او سلام د بشپړ په معنی نیولي او تعبیر ئې دا دئ چې الله تعالی له هر عیب پاك او له هر نقص منزه دئ، خو دې ته په پام سره چې دا دواړه صفات د داسي صفاتو په لړ کې راغلي چې له ټولواکۍ سره تړلي دي نو معنی ئې باید د الله تعالی ذاتي صفات نه بلکې فعلي صفات وي، لکه څنګه چې مور په دې عالم کې د ټولواك رب د واکمنۍ نښي او آثار له ورایه ګورو همداسي د دې هم شاهد یو چې دلته د هر څه د پاك او رغنده او سالم**

ساتلو انتظام شوی، په قدوس او سلام سره د ټولواك رب دغو دوو صفتونو ته اشاره شوې، همدا راز الله تعالی عزیز دئ، داسي ځواکمن ټولواك چې هیڅوك ئې د ارادې او پرېکړې په وړاندي نه شي خنډ کېدی، هغه جبار دئ هر څه د خپلې ارادې په وړاندي خشوع او خضوع ته اړ کوي، هغه متکبر دئ هر څه د خپلې لویي او عظمت په وړاندي سر ټیټولو ته اړ باسي.

- الله تعالی ته له هغه څه سپېځلتیا ده چې دوی ئې ورسره شریکوي، دا وینا د الله تعالی د پورتنیو صفاتو په تړاو راغلې او ښیي چې مشرکین اکثراً په دغو صفاتو کې خپل جعلي او دروغجن معبودان له الله تعالی سره شریکوي او د الله تعالی مختص صفات نورو ته منسوبوي.
- دی خالق (پنځوونکی)، پیدا کوونکی او انځوروونکی دئ، هر هغه څه ده ته تسبیح وایي چې په آسمانونو او زمکې کې دي؛ او هغه باحکمت عزتمن دئ. دلته د خلقت او پېدایښت په تړاو د الله تعالی پنځو صفاتو ته اشاره شوې: خالق، بارئ، مصور، عزیز او حکیم، مور د پیدایښت څو ښکارندویي په خپلو سترګو ګورو: په لومړي ځل او له نشت د یوه شي پیدایښت، په پر له پسې توګه او بیا بیا د هغه پیدایښت، له یوه خاص انځور او شکل سره د هغه پیدایښت، د خلقت او پیدایښت دا درې حالتونه د الله تعالی د دغو دریو صفاتو (خالق، بارئ او مصور) مظاهر دي، د دې ستر عالم پیدایښت او بیا د ټولو ساتنه ښیي چې الله تعالی عزیز دئ او د مخلوقاتو په پیدایښت کې د علم او حکمت نښې او مظاهر ښیي چې الله تعالی حکیم دئ.

لکه چې ګورئ دلته د الله تعالی صفات په دریو برخو وېشل شوي، هره برخه ئې د الله تعالی ټول هغه صفات احتواء کوي چې په همدې لړ کې راځي، د فاتحې د سورې په لومړیو دریو آیتونو کې هم ګورو چې د الله تعالی دریو صفاتو ته اشاره شوې: رب العالمین، الرحمن الرحیم، مالك یوم الدین، لکه څنګه چې د فاتحې سوره د ټول قرآن خلاصه ده همداسي دا درې صفات هم د الله تعالی د ټولو صفاتو خلاصه ده.

- د رب نوم په ټولو هغو نومونو او صفاتو شامل دئ چې د خالق، بارئ، بدیع او مصور په څېر دي.
- د رحمن نوم په ټولو هغو نومونو او صفاتو احتواء کړې چې د پېرزویني او رحمت له صفاتو سره اړخ لګوي، لکه غفور، کریم، عفو، حلیم...
- او د مالك نوم ټول هغه صفات او نومونه احتواء کوي چې له پاچایي، ټولواکۍ او اقتدار سره تعلق لري، لکه قهار، جبار، عزیز، قدیر، غالب، مؤمن، مهیمن...

دوه ویشتم آیت د الله تعالی په دې صفاتو احتواء لري:
الرحمن، الرحیم، الروْوف، الاکرم، البر، التواب، الحلیم، العفو، الغفور، الکریم، اللطیف، المجیب، الودود، الوهاب، الولي، المولی، الرفیق، الشافي، المحسن، المعطي، المنان، القریب، الجمیل، الطیب، الشاکر، الشکور، الواسع، النصیر، البصیر، الخبیر، السمیع، العلیم، العالم، الشهید، الحافظ، الحفیظ، الرقیب.

دې ته مو پام وي چې په قرآن کې اکثراً د سمیع، بصیر او علیم صفات هلته ذکر شوي چې الله تعالی خپلو بندګانو ته دا خبره کوي چې الله ستاسو دعاګاني اوري، پر تاسو ئې نظر دئ، ستاسو په حالت پوه دئ، یوازي مو نه پرېږدي، هغه د رحمت او پېرزویني خاوند دئ. دلته د الحشر د سورې په ۲۲ آیت کې هم ګورئ چې د عالم الغیب و الشهادة صفت د الرحمن الرحیم په څنګ کې راغلی.

درویشتم آیت په ټولو لاندنیو نومونو شامل دئ:
الملك، المليك، القاهر، القهار، القادر، القوي، الکبیر، القدیر، المؤمن، المهیمن، المقتدر، المتعال، المتکبر، المجید، المعز، المذل، المقدم، المؤْخر، الحکم، الحکیم، الباسط، القابض، الرزاق، الجبار، الاعلی، العزیز، القیوم، العلي، القدوس، السلام، السبوح، الحمید، الوارد، الغني، المحیط، الفتاح، الوکیل، المقیت.

څلرویشتم آیت دغه صفات او نومونه احتواء کوي:
الرب، الخالق، البارئ، المصور، الله، الاله، الواحد، الاحد، الوتر، الاول، الآخر، الظاهر، الباطن، الحق، المبین، الحي، الصمد.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الممتحِنه

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الممتحِنه) دئ چې د سورې له لسم آیت اخیستل شوی، ۱۳ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (السبیل)؛ او د دوهم آیت (تکفرون) ته ورته دي، دې ته باید متوجه وو چې د (بصیر) او (حکیم) په څېر صیغې د غږ له پلوه (السبیل) ته ورته دي او (القبور) د غږ له پلوه (تکفرون) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په وروستیو کلونو کې نازل شوي.

د دې سورې له دوو برخو معلومېږي چې دا سوره د حدیبیې له معاهدې وروسته او د

مکې تر فتحې وړاندې نازله شوې، لومړۍ آیت دښمن ته د سړي پیغامونو لېږلو ته اشاره کوي او ښیي چې د دې سورې د نزول په شپو ورځو کې داسې کومه پېښه رامنځته شوې، روایات وایي چې په دې سره د حاطب بن ابي بلتعه هغه لیك ته ګوته نیول شوې چې ده قریشو ته لېږلی وو او په هغه کې ئې دوی ته لیکلي وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم پر دوی د برید لپاره تیاری نیسي. په لسم آیت کې د هغو مېرمنو په اړه لارښوونه شوې چې مؤمنانو ته پناه راوړي؛ دا لړۍ هم په وروستیو کلونو کې پیل شوه او د حدیبیې له معاهدې وروسته دا پوښتنه راولاړه شوه چې که داسې مېرمني مسلمانانو ته پناه راوړي نو څه به ورسره کوي، د معاهدې هغه بند به د دوی په اړه څنګه تعبیروي چې د قریشو د فراریانو د بېرته ستنولو په اړه دئ.

د دې سورې د بحث محوري او اساسي موضوع دا ده چې مؤمنان باید د الله له دښمنانو سره له موالات ډډه وکړي، دا د قرآن د هغو اساسي موضوعاتو په ضمن کې شمېرل کېږي چې په ګڼ شمېر آیتونو کې څېړل شوې، د ایمان یوه اساسي غوښتنه ګڼل شوې او هغه څوك د ایمان له دائرې وتلی ګڼل شوی چې د الله، اسلام او مسلمانانو له دښمنانو سره دوستي پالي، که ووایو چې د دې سورې په دیارلسو آیتونو کې د ټولو هغو آیتونو خلاصه راغلې چې په ټول قرآن کې له کافرانو سره د موالات د څرنګوالي په اړه راغلي نو مبالغه مو نه ده کړې، د سورې په وروستي آیت کې د هغو وګړو دوه اساسي ځانګړتیاوې مور ته راښودل شوې چې مسلمانان له هغوی سره له موالات منع شوي:

- د عمل له پلوه داسې دي چې د الله تعالی د غضب وړ ګرځېدلي،
- په آخرت نه یوازې باور نه لري بلکې هیڅ طمع او هیله ورته نه لري، آخرت ته یوازې هغه څوك طمع او هیله درلودی شي چې په راتلو ئې باور لري او عملونه ئې داسې وي چې له الله تعالی د نېکې بدلې طمع کولی شي.
- د سورې په لومړي آیت کې مؤمنانو ته داسې خطاب شوی: اې هغو چې ایمان ئې راوړی! زما دښمنان او خپل دښمنان په دوستۍ مه نیسئ، همدا مطلب د سورې په آخري آیت کې چې د ټولې سورې جامع خلاصه ده؛ په دې صیغه راغلی: اې هغو چې ایمان ئې راوړی! له هغو وګړو سره دوستي مه کوئ چې الله پرې غضب کړی او له آخرت داسې ناهیلي دي لکه په قبرونو کې پراته مخکیني کافران چې ترې مأیوس ول.

مفسرین په دې اړه متفق دي چې د سورې په لومړي آیت کې د حاطب بن ابي بلتعه رضی الله عنه هغه لیك ته اشاره شوې چې قریشو ته ئې لېږلی وو، قصه ئې داسې وه: کله چې قریشو د حدیبیې معاهده نقض کړه نو رسول الله صلی الله علیه و سلم پر مکې د

یوه لوی برید لپاره تیاری پیل کړ، له څو محدودو صحابه وو پرته هیڅوك نه پوهېدو چې دا تیاری د څه لپاره دئ، دغه مهال له مکې یوه مېرمن مدینې ته راغله، له مسلمانانو ئې څه مرسته تر لاسه کړه، د ستنېدو په وخت کې حاطب رضی الله عنه هغې ته یو لیك وسپارو، لس دینار ئې هم ورکړل چې دا خط په پټه د قریشو ځینو مشرانو ته ورسوي، مېرمن له مدینې وتلې او روضه خاخ ته چې له مدینې په دولس میله واټن پرته ده د رسېدو په حال کې وه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم پرې خبر شو، علي، زبیر او مقداد بن اسود رضی الله عنهم ئې ولېږل چې دا خط تر لاسه کړي، ورته وئې ویل: که ئې خط درکړ نو هغه خپلې مخې ته پرېږدئ، هغوی په سرعت سره هغه ځای ته ځان ورسولو، مېرمن ئې وموندله، د خط سپارلو مطالبه ئې وکړه، هغې انکار وکړ او وئې ویل: له ما سره کوم خط نشته، هغوی وپلټله خو خط ئې ونه موندو، هغه ئې تهدید کړه چې که خط ونه سپاري نو بربنډه به ئې کړي، مجبوره شوه خط راوباسي او دوی ته ئې ورکړي، خط ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورسولو، په هغه کې لیکل شوي وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ستاسو په ضد د برید لپاره تیاری نیسي، په روایاتو کې د لیك د محتوی او الفاظو په اړه ېېل ېېل مطالب راغلي، په ځینو کې ویل شوي چې د سیل په څېر یا د شپې د تیارې په څیر درروان دئ، خو د ټولو خلاصه همدا ده چې د برید تیاری نیسي، رسول الله صلی الله علیه و سلم حاطب رضی الله عنه وروغوښت او پوښتنه ئې ترې وکړه چې دا څه دي او ولې دي دا کار کړی؟ هغه وویل: یا رسول الله صلی الله علیه و سلم زما په اړه تلوار مه کوه، ما دا خط له دې کبله نه دئ لېږلی چې خدای مه کړه مرتد شوی یم، خبره دا ده چې زما خپلوان په مکه کې پاته دي، زه د مکې اصلي استوګن نه یم، د ځینو قریشو تر حمایت لاندي اوسېدم، نور مهاجرین داسي دي چې هلته خپلوان لري او د کورنۍ غړي ئې د هغوی په حمایت کې دي خو زه په مکه کې داسي څوك نه لرم، غوښتل مي د دې خط په لېږلو سره هغوی مننډوباو د خپل احسان مرهون او مرسته ئې تر لاسه کړم چې زما کهول اذیت نه کړي، ما باور درلود چې دا لیك مسلمانانو ته هیڅ تاوان او قریشو ته هیڅ ګټه نه رسوي، هغه الهي وعدې به هرومرو تر سره کېږي چې له مسلمانانو سره شوې دي، له روایاتو معلومېږي چې د ده مور، مېرمن، بچي او ورونه په مکه کې پاته ول، رسول الله صلی الله علیه و سلم د ده د وینا له اورېدو وروسته حاضرو صحابه وو ته وفرمایل چې حاطب تاسو ته رښتیا وویل، یعني هغه دا کار د همدې مجبوریت له مخي کړی، عمر رضی الله عنه وویل: یا رسول الله! اجازه راکړه چې د دې منافق سر ووهو، هغه له اسلام سره خیانت کړی، رسول الله صلی الله علیه و سلم

وفرمايل: ده د بدر په غزا کې برخه اخيستې ده، کېدی شي الله تعالی د بدريانو په اړه فرمايلي وي: ستاسو مخکيني او وروستني ګناهونه به درته وبخښم، عمر رضی الله عنه د دې وينا په اوږدو سره وژړل او وئې ويل: الله او د هغه رسول ښه پوهېږي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمۡ أَوۡلِيَآءَ تُلۡقُونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلۡحَقِّ يُخۡرِجُونَ ٱلرَّسُولَ وَإِيَّاكُمۡ أَن تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ رَبِّكُمۡ إِن كُنتُمۡ خَرَجۡتُمۡ جِهَٰدٗا فِي سَبِيلِي وَٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِيۚ تُسِرُّونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعۡلَمُ بِمَآ أَخۡفَيۡتُمۡ وَمَآ أَعۡلَنتُمۡۚ وَمَن يَفۡعَلۡهُ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ١

١- اې هغو چې ايمان ئې راوړی! زما دښمنان او خپل دښمنان؛ دوستان مه نيسئ، داسي چې د دوستۍ (پيغام) ورړسوئ، حال دا چې دوی په هغه حق کافران شوي چې تاسو ته درغلی، پيغمبر او تاسو له دې کبله باسي چې پر خپل رب مو ايمان راوړئ، که (په رښتيا) زما په لار کې د جهاد لپاره او زما د رضاء په لټه کې وتلي يئ؛ په پټه هغوی ته د دوستۍ (پيغام) استوئ په داسي حال کې چې زه په هغه څه هم ښه پوهېږم چې تاسو ئې پټوئ او په هغه څه هم چې تاسو ئې څرګندوئ؛ او له تاسو چې هر څوك دا کار وکړي نو يقيناً چې سمه لار ئې ورکه کړې.

---

(١)- د دې مبارك آيت لارښوونې دا دي:

- هغه څوك د دوست په توګه مه نيسئ او دوستي ورسره مه پالئ چې له الله تعالی سره دښمني کوي، تګلاره ئې د الله د دښمنانو تګلاره ده، کړنې ئې د الله د قهر او غضب باعث دي، الله هغه د حق دښمن ګڼي او دی له الله، د هغه له دين او الهي سننو سره عناد او دښمني کوي. لومړی اصل چې له يو چا سره د موالات او دوستي په اړه بايد مراعات شي او همدې ته په پام سره خپل دوست او دښمن وټاکئ دا دئ چې وګورئ هغه ستاسو د رب په وړاندي کوم دريځ او تګلاره غوره کړې، د خدای دوست دئ که دښمن، داسي نه چې شخصي ګټې، قومي او نسبي اړيکي او سياسي مصالح د ملاك او معيار په

توګه ونيسئ او هغه څوك خپل دوست وګڼئ چې د خداى دښمن دئ. همدا راز د مسلمانانو دښمن ته د دوست په سترګه مه ګورئ؛ څوك چې له مؤمنانو سره دښمني کوي، د زمکې په هر ګوټ کې، د زمانې په هر پراو کې او د مسلمانانو له هري ډلې او ملت سره؛ له هغه سره به دوستي نه پالئ.

- هغو دښمنانو ته د دوستۍ پيغامونه او د حسن نيت هيئتونه مه لېږئ چې له حق او حقيقت انکار کوي، ستاسو د دين په اړه ئې د کفر او انکار لار غوره کړې، پيغمبر عليه السلام او مؤمنان يوازي له دې کبله له خپل کلي، کور او وطن باسي چې پر خپل رب ئې ايمان راوړى، دا هغه ناوړه او ناروا کار دئ چې نه د الله د لاري له مجاهدينو سره ښايي او نه له هغو سره چې د الله تعالى د رضاء په لټه کې وي.
- مه په پټه هغوى ته د دوستۍ پيغام استوئ او مه په څرګنده؛ بايد دې ته متوجه وئ چې ستاسو معامله له هغه رب سره ده چې په هر څه پوهېږي؛ په هغه څه هم چې تاسو ئې پټوئ او په هغه څه هم چې تاسو ئې څرګندوئ.
- له تاسو چې څوك دا کار وکړي نو يقيناً چې سمه لار ئې ورکه کړې، له هغي لاري کوږ شوى چې د الله تعالى په لور درومي، هغه چې په دنيا کې بريا او په آخرت کې سعادت او فلاح ورپورې تړلې ده. په حقيقت کې د الله او د دين له دښمن سره موالات داسې معيار او ملاك دئ چې له مخې ئې د هر چا ايمان ارزولى شو، چا چې د دين دښمنو ځواکونو په وړاندې خپل حساسيت، نفرت او عداوت له لاسه ورکړ، کرکه او عداوت ئې په محبت او مؤدت بدل شو، هغوى له ده سره او ده له هغوى سره خواخوږي څرګنده کړه، هغوى ته ئې د دوستۍ لاس اوږد کړ، نه د کفر جبهه له ده د خطر احساس وکړي او نه دى دغې جبهې ته د دښمن په سترګه وګوري، دواړه يو بل ته طمع او هيله ولري، دې کس په حقيقت کې د کفر په وړاندې خپل حساسيت له لاسه ورکړى، ايمان ئې صدمه ليدلې، د ايمان ځلا ئې تته شوې، له فکري او اخلاقي پلوه د کفر جبهې ته نژدې شوى، د ايمان دعوى ئې دروغجنه ده، په زړه کې ئې هغه حساسيتونه ځپل شوي چې منشأ ئې رښتينى ايمان وي. د ايمان له کرښې د انسان د انحراف وروستۍ نښه دا ده چې د کفر په وړاندې ئې حساسيت تت شي او په خپل قول او عمل کې د کفارو په اړه خپله خواخوږي او موالات ښکاره کړي، د دې نښې له څرګندېدو وروسته د ده او د کفر تر منځ د پام او اعتبار وړ واټن نه دئ پاته.

إِن يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُواْ لَكُمْ أَعْدَآءً وَيَبْسُطُوٓاْ إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُم

بِٱلسُّوٓءِ وَوَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ ٢

٢- كه په لاس ورشئ نو دښمنان به مو وي او خپل لاسونه او ژبې به د تاوان په موخه ستاسو په لوري دراوږدوي او دا به خوښوي چې تاسو هم كافران شئ.

(٢)- د دې مبارك آيت لارښوونې دا دي:

- كه مناسب فرصت تر لاسه كړي او پر تاسو ئې لاس بر شي نو حتماً به ئې دښمني درته جوته شي، له لاس او ژبې به ئې تاسو ته تاوان رسېږي او دا به خوښوي چې تاسو د دوى په څېر كافران شئ.
- هغه چا ته د دوست په سترګه مه ګورئ چې مسلمانان ئې له لاس او ژبې خوندي نه دي، له هر فرصت په استفادې سره غواړي په خپل لاس او ژبې سره مسلمانانو ته تاوان ورسوي، په كمين كې دئ، كه تاسو په داسې حالت كې وموميې چې د خپل تېرې له نتائجو ډاده وي نو له تېرې به ډډه ونه كړي، دښمني به ئې جوته شي، پوه به شئ چې دى د دوست په جامه كې مناسب فرصت ته منتظر دښمن دئ، هڅه او خوښه ئې دا ده چې تاسو د دوى په څېر شئ، د ايمان له لاري ستاسو د كړولو، د دوى په لاري د تګ لپاره ستاسو د چمتو كولو او له فكري او اخلاقي پلوه په دوى پورې ستاسو د ټرل كېدو لپاره پراخې او خطرناكې منصوبې لري، يعني هم له هغه چا سره له دوستي ډډه وكړئ چې مسلمانان ئې له لاس او ژبې خوندي نه وي او هم له هغه چا سره چې له فكري پلوه د مسلمانانو مقابله كوي او د دوى د انحراف په لټه كې وي.

لَن تَنفَعَكُمۡ أَرۡحَامُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡۚ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَفۡصِلُ بَيۡنَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٣

٣- هيڅكله به نه ستاسو خپلوان ګټه درورسوي او نه مو اولاد، د قيامت په ورځ به ستاسو تر منځ بېلوالى راولي؛ او الله د هغه څه ښه ليدونكى دئ چې تاسو ئې كوئ.

(٣)- يعنى داسې نه چې د خپلوۍ تر اغېز لاندې هغه څوك د دوست په توګه ونيسئ چې په كار ده د خپل ايمان په حكم هغه دښمن وګڼئ، د چا عقيده او تګلاره چې له تاسو بېله وي او په پاى كې به ئې ټولې اړيكې درسره قطع كېږي او ستاسو تر منځ به بېلتون رامنځته كېږي؛ هغه ته هيڅكله د دوست په سترګه مه ګورئ.

قرآن خپل مخاطب ته لارښوونه كوي چې خپلې اجتماعي اړيكې د ايمان او عقيدې له

مخې وټاکي، نوري پولې او پیوندونه لغو او باطل وګڼي، ورته وایي: د قیامت په ورځ او هغه مهال چې وروستۍ حقیقي او عادلانه پرېکړه به کېږي؛ ټول خلك به د خپل ایمان او عقیدې له مخې سره بېلېږي، نوري اړیکي به ئې شلېږي، هلته به نسبي اړیکي نه څوك له عذاب ژغورلی شي او نه جنت ته رسولی، نو چې پایله داسې ده او دا د ویني، رنګ او نسب پیوندونه ګټه نه رسوي او د قیامت په ورځ به شلېږي؛ ولې به د دې سستو او شلېدونکو اړیکو د بقاء او تحکیم لپاره له ظالم، مشرك او کافرو خپلوانو سره دوستي پالو؛ او په دې سره به خپل ایمان له خطر سره مخامخ کوو او له الله تعالی سره به خپلې اړیکي شلوو؟!!

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُواْ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥٓ إِلَّا قَوْلَ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمْلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ ۖ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٤﴾ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ وَٱغْفِرْ لَنَا رَبَّنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٥﴾ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيهِمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُواْ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ ۚ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٦﴾

٤- بې شکه چې تاسو ته په ابراهیم او د ده په ملګرو کې غوره بېلګه شته؛ هغه مهال چې خپل قوم ته ئې وویل: له تاسو او له ټولو هغو معبودانو بې زاره یو چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ، له تاسو منکر یو، زمونږ او ستاسو تر منځ به عداوت او دښمني د تل لپاره او تر هغه څرګنده وي چې تاسو یوازي پر یوه الله ایمان راوړئ، مګر خپل پلار ته د ابراهیم هغه وینا چې حتماً به تا ته بخښنه غواړم په داسې حال کې چې له الله تا ته کوم څه په واك کې نه لرم، اې زمونږ ربه! پر تا مو توکل کړی، ستا لوري ته مو رجوع کړې او بېرته ستنېدا ستا لوري ته ده، ٥- اې زمونږ ربه! مونږ هغو ته یوه آزموینه مه کړې چې کفر ئې غوره کړی او اې زمونږ ربه! مونږ ته بخښنه وکړه، یقیناً چې ته باحکمت عزتمن یې، ٦- یقیناً چې تاسو ته په هغوی کې ښکلې اقتداء ده، هغه چا ته چې الله او د آخرت ورځې ته هیله ساتي؛ او چا چې مخ واړاوو نو یقیناً چې

الله ستايل شوى غني دئ.

(٤-٦)- دلته د مخكينيو اساسي مطالبو لپاره يوه تاريخي بېلگه زمونږ په وړاندي انځور شوې، د كافر او مشرك قوم او خپلوانو په وړاندي د ابراهيم عليه السلام او د ده د موحدو ملگرو دريځ زمونږ مخي ته ږدي چې په ترڅ كې ئې د موالات په څرنگوالي ښه پوه شو او د هر ډول ابهام او شك مجال له منځه ولاړ شي، مونږ ته وايي:

- د ابراهيم عليه السلام او د ده د خداى پالو ملگرو په تگلاري كې د مؤمنانو لپاره غوره بېلگه شته؛ راشئ وگورو چې د خداى پالو او موحدينو ستر جد ابراهيم عليه السلام چې قرآن د خليل الله لقب وركړى، ستر موحد، د مسلمان ملت جد، د تاريخ اتل بت ماتوونكى، د بيت الله معمار، د حج لومړنى مؤذن، د خلكو امام او لارښود، په سختو سختو الهي آزموينو كې بريالى؛ او د ده رښتيني او مؤمنو ملگرو له خپل مشرك قوم او كافرو خپلوانو سره څه كړي او قرآن مونږ ته د دوى د قصې په ترڅ كې څه درس راكوي؟! څه دريځ او تگلاره ئې غوره كړې؟ قرآن مونږ ته وايي چې دوى خپل قوم ته وويل: له تاسو او له ټولو هغو معبودانو بې زار يو چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ، يعني له دې وروسته له ټولو هغو اړيكو بې زار يو چې تر نن پورې مو له تاسو سره درلودې، نور زمونږ او ستاسو تر منځ د دوستۍ او خپلوۍ هيڅ اړيكه نه شته، ټولې اړيكې مو شلولې دي، ستاسو له دروغجنو آلهه او معبودانو كركه لرو، له هر هغه څه خپل برائت او بېزاري اعلانوو چې تاسو ئې له الله تعالى پرته لمانځئ. گورئ چې ابراهيم عليه السلام او د ده خداى پال او مؤمن ياران هم له (مشرك قوم) خپله بې زاري اعلانوي او هم د دوى له (كاذبو اصنامو او معبودانو)، نور نو نه قومي او نسبي اړيكو ته ارزښت وركوي او نه د مشرك قوم معبوادنو ته احترام او درناوى!! داسي نه وايي چې د (نمرود) په خلاف د (ولس) د حمايت او مرستي تر لاسه كولو لپاره كه د ولس پر (اصنامو) د درناوي څادر وغوړوو او د گلانو گډې ئې مخي ته كېږدو دا كار جائز دئ او كومه شرعي مانع نه لري!!! بر عكس وايي:

وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَـٰمَكُم بَعْدَ أَن تُوَلُّوا۟ مُدْبِرِينَ ﴿٥٧﴾ فَجَعَلَهُمْ جُذَٰذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ﴿٥٨﴾ الانبياء

او پر الله قسم چې ستاسو د بتانو څه بندوبست به كوم، له هغه وروسته چې تاسو مخ واړوئ او تر شا شئ، نو له ستر پرته ئې هغوى ټوټې ټوټې كړل، د دې لپاره چې هغه ته به رجوع وكړي.

- نه يوازي دا چې له خپل مشرك قوم سره خپلې اړيكې شلوي او د دوى له دروغجنو

معبودانو انکار کوي بلکې نفي او انکار کافي نه ګڼي او په صريحو الفاظو اعلان کوي چې له نن وروسته به زمونږ او ستاسو تر منځ (عداوت) او (بغض) تر هغه په مستمره او انقطاع نه منونکې توګه ادامه کوي چې تاسو له شرك او کفر لاس واخلئ او پر يوازيني رب ايمان راوړئ، دا دئ ګورئ چې د شرك او کفر د جبهې په وړاندي د ابراهيم عليه السلام او د ده د خداى پالو پلويانو او امتيانو په چلن کې د (دوستۍ) پر ځاى (عداوت) او د (نرمښت او مداهنت) پر ځاى (بغض او کرکه) اعمال کېږي، هغوى ته وايي: له تاسو منکر يو، زمونږ او ستاسو تر منځ به عداوت او دښمني د تل لپاره او تر هغه څرګنده وي چې تاسو يوازي پر يوه الله ايمان راوړئ.

مؤمنانو ته ويل شوي: تاسو ته دا سپارښتنه نه ده شوې او الله تعالى پر دې نه يئ مکلف کړي چې په هغي وينا کې به د ابراهيم عليه السلام متابعت کوئ چې خپل پلار ته ئې وويل: حتماً به تا ته له الله تعالى بخښنه غواړم په داسې حال کې چې له الله تا ته کوم څه په واك کې نه لرم، يعني تاسو له دې منع شوي يئ چې د خداى له دښمنانو سره خواخوږي ولرئ، له هيڅا په دې اړه متابعت مه کوئ، که څه هم ابراهيم عليه السلام ستاسو لپاره غوره بېلګه او ستاسو امام او لارښود دئ چې بايد په هغه پسې اقتداء وکړئ خو نه په دې کار کې، ځکه هغه له خپل پلار سره د يوې ژمنې له مخې دا کار کولو خو کله چې پوه شو هغه د خداى دښمن دئ له دعاء ئې لاس واخيست او خپل برائت ئې اعلان کړ: قرآن په دې اړه فرمايي:

وَمَا كَانَ ٱسْتِغْفَارُ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ ۚ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٌ ﴿١١٤﴾ التوبه

او خپل پلار ته د ابراهيم بخښنه غوښتل خو يوازي د هغي وعدې له مخې وو چې له ده سره ئې د هغې ژمنه کړې وه، خو کله چې ورته جوته شوه چې هغه د الله دښمن دئ نو تړې بې زاره شو، يقيناً چې ابراهيم ډېر نرم زړى او د زغم خاوند وو.

له هغه وروسته چې ابراهيم عليه السلام او ياران ئې له خپل قوم او د دوى له دروغجنو معبودانو خپل برائت څرګندوي، خپل مستمر بغض او عداوت اعلانوي؛ په دې تلپاته او نه پخلا کېدونکې مبارزې کې؛ سره له دې چې تش لاسي دي او سره له دې چې د دوى او دښمن تر منځ د ځواك، عدد و عدة له پلوه ژور توپيرونه شته، خو هغوى پر خپل رب توکل کوي، له الله تعالى پرته بل ته د مرستې لاس نه اوږدوي، بل درشل ته پناه نه وړي، خداى ځان ته کافي ګڼي او په خپلې دعاء کې وايي: اې زمونږ ربه! پر تا مو توکل کړى،

ستا لوري ته مو رجوع کړې او بېرته ستنېدا ستا لوري ته ده، اې زمونږ ربه! مونږ هغو ته يوه آزموينه مه کړې چې کفر ئې غوره کړی او اې زمونږ ربه! مونږ ته بخښنه وکړه.

- يعني پر خپل رب توکل کوي، له بل هر چا او هر لوري په بشپړي بې نيازۍ او استغناء سره د الله تعالی لوري ته رجوع کوي، هره پېښه او حادثه له دې کبله په ورين تندي مني او پر نتائجو ئې راضي او قانع وي او په وړاندي ئې صبر کوي چې مطمئن دي په پای کې د خپل رب لوري ته درومي او اجر به ئې تر لاسه کوي، له الله تعالی مرسته غواړي چې دوی د کافرانو په وړاندي د ابتلاء او آزمېښت وسيله ونه ګرځوي داسي چې مسلمانان ضعيف او کمزوري وګڼي، ځينې ئې پرې تېرې وکړي او تر تعذيب لاندي ئې ونيسي، ځينې نور سره له دې چې د اسلام پر حقانيت پوه شوي خو د مسلمانانو ضعف او پرېشان حالت ته په پام سره له دې ډډه وکړي چې خپل ايمان څرګند کړي، له دې وېرې چې دا کار به ئې له هغو کړاوونو سره مخامخ کړي چې مونږ ورسره مخامخ يو، داسي نه چې زمونږ پرېشان حالت نور له ايمان راوړلو منصرف کړي او د کفر په غېږ کې پاته شي!!
- دوی په دې باور دي چې الله تعالی عزيز او حکيم دئ، په دې قادر دئ چې دوی ته پر دښمن برى ورکړي که څه هم د زور ځواك، عدد و عدة او وسائلو او ذرائعو له پلوه دښمن برلاسی دئ، عزيز خدای د مغرور او په ظاهر کې ځواکمن او برلاسي دښمن په ماتولو او ځپلو او په ظاهر کې کمزورو او تش لاسو مؤمنانو ته د بريا په ورکولو قادر دئ، همدا راز په دې باور دي چې په هري پېښې کې دوی ته خير او مصلحت مضمر دئ، دا ځکه چې پېښې د هغه الله تعالی په اراده رامنځته کېږي چې حکيم دئ، نه د ضعف او ناتوانۍ احساس کوي ځکه پر عزيز او غالب رب باور لري او هغه ته ئې پناه وروړي؛ او نه ئې پېښې او حوادث وېرولی او مأيوس کولی شي ځکه ولي او نصير رب ئې حکيم دئ او په هري پرېکړې کې ئې خير او مصلحت مضمر دئ، خپل رب ته ئې په هر حالت کې وينا دا وي: يقيناً چې ته باحکمت عزټمن يې!!

مؤمنانو ته يو ځل بيا ويل شوي: يقيناً چې تاسو ته په هغوی کې ښکلې اقتداء ده، هغه چا ته چې الله او د آخرت ورځې ته هيله ساتي؛ او چا چې مخ واړاوو نو يقيناً چې الله ستايل شوی غني دئ. يعنی هغو مؤمنانو ته چې د خپل رب له تأييد او رحمت مأيوس نه دي او د خپل ايمان او نېك عمل اخروی اجر ته هيله لري، د ابراهيم عليه السلام او د ده د خدای پالو يارانو تګلاره ئې غوره کړې او په هغوی پسې ئې اقتداء کړې، دوی به د دښمن په وړاندي قاطع او پرېکنده دريځ غوره کوي، دا وېره به نه لري چې له دښمن سره مقاطعه، د کفري ځواکونو په وړاندي د عداوت او بغض اعلان به نه د دوی د ماتې

باعث شي او نه د دوی د هلو ځلو او قربانیو د ضائع کېدو باعث، که څه هم د دښمنانو جبهات متعدد او سنګرونه ئې ځواکمن برېښي، غیور او د مؤمنانو مدافع رب به دوی د دښمنانو په وړاندي یوازي نه پرېږدي، څوك چې د داسي تګلاري او دریځ له غوره کولو ډډه وکړي، (طمع) یا (خوف) ئې له دښمن سره روغي جوړي ته وهڅوي، له الله تعالی مأیوس شي او بل درشل ته لاس اوږد کړي، (غني) او (حمید) رب له داسي ضعیف النفس او مأیوس وګړو بې نیاز دئ او له دې ډېر لوړ چې د خپل مؤمن بنده پر داسي کړنې راضي شي؛ او داسي وګړي په خپل (غالب حزب) او (منصور جند) کې ومني.

عَسَى ٱللَّهُ أَن يَجۡعَلَ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَ ٱلَّذِينَ عَادَيۡتُم مِّنۡهُم مَّوَدَّةٗۚ وَٱللَّهُ قَدِيرٞۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٧

۷- ښایي الله به ستاسو او د دوی د هغو وګړو تر منځ دوستي راپیدا کړي چې دښمني مو ورسره کړې، الله قدیر دئ او الله مهربان بخښونکی دئ.

(۷)- په دې مبارك آیت کې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې تلوار او عجله مه کوئ، داسي نه چې د جګړې ژر پای ته رسېدو تلوسه مو له دښمن سره ناسمي روغي جوړي ته وهڅوي، هیله ده ستاسو همدا اوسنی قاطع او نه پخلا کېدونکی دریځ د دې باعث شي چې الله تعالی دا جګړه په دې توګه پای ته ورسوي چې هغوی ته د ایمان راوړلو او له مسلمانانو سره د یو ځای کېدو توفیق ورکړي، الله تعالی هم قدیر دئ او هم مهربان بخښونکی.

لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَلَمۡ يُخۡرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ أَن تَبَرُّوهُمۡ وَتُقۡسِطُوٓاْ إِلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ٨ إِنَّمَا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ قَٰتَلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَأَخۡرَجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ وَظَٰهَرُواْ عَلَىٰٓ إِخۡرَاجِكُمۡ أَن تَوَلَّوۡهُمۡۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٩

۸- الله تاسو له هغو نه منع کوي چې له تاسو سره نه دي جنګېدلي او تاسو ئې له خپلو مېنو نه یئ ایستلي؛ له دې چې ښېګڼه ورسره وکړئ او عادلانه چلن ورسره وکړئ؛ یقیناً چې الله داسي مقسطین خوښوي. ۹- یقیناً چې الله یوازي له هغو سره له موالات منع کړي یئ چې د دین له کبله له تاسو سره جنګېدلي، تاسو ئې له خپل ټاټوبي ایستلي یئ او ستاسو په ایستلو کې ئې د (دښمن) ملتیا کړې؛ او څوك چې له

هغوی سره موالات وکړي همدا دوی ظالمان دي.

(۸-۹)- په دې مبارکو آیتونو کې کافران له مسلمانانو سره د خپل چلن او دریځ له مخې په څو ډلو وېشل شوي او د هري ډلې په وړاندې د مسلمانانو دریځ په دې توګه توضیح شوی:

- هغه چې نه په خپله له مسلمانانو سره جنګېدلي، نه ئې د بل مرسته کړې، نه ئې په خپله مسلمانان له خپل کور کلي ایستلي او نه ئې د دوی په ایستلو کې د بل مرسته او ملګرتیا کړې. د دوی په اړه مسلمانانو ته ویل شوي: الله تعالی تاسو له دغو سره؛ نه له (بر: سېګنې) منع کړي یئ او نه له (قسط: انصاف او عدالت)؛ نه یوازې نه یئ منع شوي بلکې الله تعالی دا خوښوي چې له دوی سره په خپل چلن کې عدالت او قسط مراعات کړئ.
- هغه چې له مسلمانانو سره جنګېدلي، مسلمانان ئې له خپلو استوګنځیو ایستلي او له نورو سره ئې د مسلمانانو په ایستلو کې مرسته کړې، د دوی په اړه مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې له دې محارب دښمن سره به له موالات ډډه کوئ. موالات هغې دوستي ته وایي چې په متقابلې دفاع ولاړه وي، داسې دوستي له محاربو دښمنانو او د دوی له ملاتړو سره ناروا ده.
- قرآن مورِ ته ځینې نور هم راښیي چې که څه هم د دښمن په خوا کې او د هغه تر سلطې لاندې اوسېږي خو مورِ د هغوی په ضد له جګړې منع شوي یو، دې مبارک آیت ته ځیر شئ:

إِلَّا ٱلَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٌ أَوۡ جَآءُوكُمۡ حَصِرَتۡ صُدُورُهُمۡ أَن يُقَٰتِلُوكُمۡ أَوۡ يُقَٰتِلُواْ قَوۡمَهُمۡۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَسَلَّطَهُمۡ عَلَيۡكُمۡ فَلَقَٰتَلُوكُمۡۚ فَإِنِ ٱعۡتَزَلُوكُمۡ فَلَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ وَأَلۡقَوۡاْ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَمَ فَمَا جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ سَبِيلَۢا ٩٠ النساء

له هغو پرته چې له کوم داسې قوم سره پیوست کېږي چې ستاسو او د دوی تر منځ کومه معاهده وي او یا تاسو ته په داسې حال کې راشي چې سینې ئې له دې تنګې شوې وي چې له تاسو سره وجنګېږي او یا له خپل قوم سره وجنګېږي او که الله غوښتی نو دوی به ئې درباندې مسلط کړي وو او بیا به حتماً درسره جنګېدل؛ نو که درنه یوې خوا ته شول او درسره ونه جنګېدل او روغه جوړه ئې دروړاندې کړه؛ نو بیا الله تاسو ته پر دوی (د تېرې) کومه لار ګودر نه دئ ټاکلی.

دا مبارک آیت وایي: په دوو صورتو کې د هغو خلکو له نیولو او وژلو ډډه وکړئ چې د کافرانو تر سلطې لاندې اوسي:

- له داسي قوم سره ئې خپل پيوستون اعلان کړی وي چې تاسو ورسره د عدم تعرض معاهده لرئ.
- تاسو ته په داسي حال کې راشي چې له جګړو کرکه څرګندوي، ستومانه دي، نه له تاسو سره جنګېدل غواړي او نه له خپل قوم سره.

يعني دا چې کله يوه ډله ستاسو په خلاف له جګړې لاس اخلي؛ دا د الله يوه پېرزوينه وګڼئ، فوراً مثبت ځواب ورکړئ، غوښتنه ئې ومنئ او د دوی په خلاف له جګړې ډډه وکړئ. که دوی يوې خوا ته شول، درسره ونه جنګېدل او روغه جوړه ئې دروړاندي کړه؛ نو بيا پر دوی باندي د تعرض هيڅ حق نه لرئ؛ الله تعالى د دې اجازه نه ده درکړې چې د دوی په خلاف وسله استعمال کړئ.

متأسفانه ځيني داسي دي چې موالات، مودة او ميثاق په يوه معنى تعبيروي، د ميثاق د لفظ په رد کې پر داسي آيتونو استناد کوي چې له محاربو کافرانو سره د موالات او مودة په اړه راغلي!! دوی پرته له دې چې لومړی د دغو قرآني مفاهيمو په معنى ځان پوه کړي، بيا د هغو آيتونو تفسير ولولي چې دغه مفاهيم په کې راغلي، بيا په خپل خپل ځای او مورد کې هغوی وکاروي او استناد پرې وکړي، په دې ځان پوه کړي چې د ميثاق معنى (ټرون) ده؛ ټرون هم له محارب دښمن سره کېدی شي او هم له بل هر لوري سره؛ البته له خپلو شرائطو سره سم؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم تر بعثت وړاندي هم له قريشو سره ميثاقونه کړي او تر بعثت وروسته هم، له يهودو او نورو قومونو سره ئې په مدينه کې ځانګړي ميثاقونه درلودل؛ موالات د متقابلي دفاع ټرون ته وايي چې له محارب دښمن سره ئې نه مجال شته او نه جواز؛ مودة دوستي او محبت ته وايي چې له محارب دښمن سره حرام او له خپلوانو کافرانو سره جائز دئ؛ متأسفانه دوی د قرآن ښې ښې آيتونه سره خلط کړي!! کله له محارب دښمن سره د موالات د نهي آيت باندي استناد کوي او نور له پامه غورځوي او د هر کافر وژل جائز او حتى فرض ګڼي؛ او کله له غير محارب کافر سره د ږ او ښېګڼې اړوند آيت باندي استناد کوي او له محارب دښمن سره موالات هم جائز انګېري!! خو قرآن له يوې خوا د هغو (کچه او له چټې وتلي انقلابيونو) پر غلط تصور د بطلان کرښه کاږي چې د کافرانو تر سلطې لاندي هر استوګن واجب القتل ګڼي!! او له بلې خوا د هغو منافقينو دريځ په کلکه ردوي چې له محارب دښمن سره موالات هم روا ګڼي.

په دې مبارکو آيتونو د لاښه پوهېدو لپاره دا مطالب په پام کې ولرئ:

- د اوم آيت له فحوی معلومېږي چې له کفارو سره موالات او دوستي پالل؛ د هغه چا کار دئ چې د جګړې له دوام ستړي شوي، په جنګ کې له بري مأيوس شوي، ګمان نه کوي

چې له دښمن سره به د مسلمانانو ستونزه د مقاومت د دوام او له تفاهم او روغې جوړې د اجتناب او ډډې کولو له لارې حل شي؛ دوی ته ویل شوي: ښايي الله به ستاسو او د دوی د هغو وګړو تر منځ مودة (دوستي) راپیدا کړي چې دښمني مو ورسره کړې، الله قدیر دئ او الله مهربان بخښونکی دئ.

- یعني داسي مه انګېرئ چې له محارب دښمن سره د عدم موالات او شرائطو ته ئې له غاړې اېښودو پرته به د صلحې او روغې جوړې احتمال او د نښتو پای ته رسولو امکان د تل لپاره له منځه ولاړ شي؛ او تاسو به د خپلې بریا او اسلام ته د خلکو راباللو امکانات له لاسه ورکړئ؛ بر عکس باید مطمئن اوسئ چې پر همدې تګلاري د ټینګار او له مشروطې روغې جوړې د اجتناب په نتیجه کې به الله تعالی دا (جګړه) ستاسو په ګټه پای ته ورسوي، د اسلام بریا به محققه کړي؛ باید عجله او تلوار ونه کړئ او داسي حل ته غاړه مه ږدئ چې له خپلو اصولو او اهدافو د تنازل په معنی وي، باید صبر وکړئ، مقاومت ته دوام ورکړئ، تر هغه چې د دښمن د بشپړې ماتې په نتیجه کې ستونزه د تل لپاره حل شي او ډاډمنه صلح تأمین شي.

حقیقت دا دئ چې هیڅ اسلامي نهضت د دښمن د تشدد، د مؤمنو او وفادارو دعوتګرانو او مبارزینو په نیولو، ټرلو او وژلو سره نه مري؛ بلکې د دښمن په وړاندې د دعوتګرانو او مبارزانو د انعطاف او تنازل او له خپلې اصلي تګلاري د انحراف، په نیمې لارې کې ستړیا او د مبارزې له دوام ناهیلي کېدا ئې وژني؛ په هره پیمانه چې دعوتګر په خپل دریځ او مورچلې کې صابر، ثابت او استوار وي، د ستونزو او کړاوونو له ګاللو سره سره له خپلو سپېڅلو اهدافو تنازل نه کوي او د ایمان له کرښې ښې او کیڼ لوري ته نه کږېږي؛ او د دښمن په وړاندې انعطاف نه کوي؛ په همدې پیمانه د خپل دعوت حقانیت خلکو ته ثابتوي، خپل مخاطبین اقناع کوي او د خپلې مبارزې د بریا لار آواروي.

ورپسې په اتم آیت کې هغه کسان ښودل شوي چې له دې مقاطعې مستثنی شوي او له دوی سره د ښېګڼې او قسط سپارښتنه شوې. باید متوجه وو چې ځینې دا څرګند آیت غلط تعبیروي او له محارب دښمن سره د موالات د جواز په اړه پرې استناد کوي؛ حال دا چې د دې آیت لارښوونې دا دي:

الف: دا استثناء د هغو په اړه ده چې له اسلام او مسلمانانو سره د زمکې په هیڅ ګوټ کې په جګړې کې مخامخ یا بالواسطه ښکېل نه وي، هیڅ مسلمان ئې له خپل ټاټوبي نه وي ایستلی، نه په خپله د مسلمانانو په ضد جګړې او د دوی په اخراج کې ښکېل وي او نه له بل سره په دې تېري کې ملګرتیا کوي.

ب: له داسي خلکو سره له (بر) او (قسط) نه یئ منع شوي، (بر) د ښېګڼې، مواسات،

حسن معاشرت او نېك چلن په معنى دئ او په هيڅ توګه د (موالات)، (استعانت) او (تناصر) معنى نه افاده كوي؛ معنى ئې يا دا ده چې دا غير محارب خلك د دعوت مخاطبين دي چې بايد د اسلام لوري ته د دوى د بلني په موخه او له دې كبله چې دوى له اسلام او مسلمانانو سره له دښمنۍ ډډه كړي؛ نېك او ښه چلن ورسره وشي؛ او يا په دې سره شخصي او انفرادي مواسات ته اشاره شوې په دې معنى چې كه څه هم د دوى له عقيدې او عمل كركه لرئ؛ خو د شخصي تعلقاتو او خپلوۍ په حد كې له هغوى سره احسان او ښه چلن وكړئ. د (قسط) له صيغې هم دوه مطلبه تر لاسه كېدى شي؛ لومړى دا چې تاسو د قسط او عدالت په مراعات مكلف يئ، د دې مكلفيت تقاضى دا ده چې له هغه چا سره ونه جنګېږئ چې له تاسو سره نه جنګېږي؛ او هغه څوك له خپل ټاټوبي ونه باسئ چې ستاسو په ايستلو كې ئې څه برخه نه وه؛ دوهم دا چې دا سپارښتنه د مسلمانانو د غلبې په پراو پوري مربوطه ده او معنى ئې دا ده چې كله تاسو غالب او غير محارب كفار مغلوب وي؛ نو ستاسو مسئوليت دا دئ چې د ټولو په اړه به قسط او عدل مراعاتوئ؛ داسي نه چې په خپلو تعلقاتو او تصرفاتو كې د قسط له پولو تجاوز وكړئ، د عقيدې او مذهب د اختلاف له كبله كوم انسان له خپلو انساني حقوقو محروم كړئ؛ له محارب دښمن سره د (موالات) تحريم بايد داسي تعبير نه كړئ چې د دوى په اړه د قسط او عدل له مراعات هم منع شوي يئ!!

يو روايت دا مطلب ډېر ښه واضح كوي: د ابو بكر رضى الله عنه مېرمني قتيله بنت عبدالعزى له ايمان راوړلو ډډه وكړه او د ابو بكر رضى الله عنه له هجرت وروسته په مكه كې پاته شوه، د حديبيې له صلحي وروسته چې د مكې او مدينې تر منځ د تګ راتګ لړۍ پيل شوه هغه د خپلې لور اسماء بنت ابو بكر رضى الله عنهما د ليدلو په موخه مدينې ته ورغله، خپلې لور ته ئې ځيني هديې هم له ځان سره درلودې، اسماء رضى الله عنها تر ملاقات وړاندې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغله او پوښتنه ئې وكړه: يا رسول الله! زما مور راغلې او هغه مشركه ده آيا زه ورسره خپلوي وپالم؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هو؛ خپلوي ورسره وپاله.

عَنْ عُرْوَةَ، أَنَّ أَسْمَاءَ بنتَ أَبِي بَكْرٍ، قَالَتْ: قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ رَاغِبَةٌ مُشْرِكَةٌ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ أُمِّي قَدِمَتْ وَهِيَ رَاغِبَةٌ مُشْرِكَةٌ أَفَأَصِلُهَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صِلِيهَا. سنن البيهقى

له عروه د اسماء رضى الله عنهما زوى روايت دئ چې وايي: زما مور په سر كې له خپلې مشركې مور سره له ملاقات ډډه كوله خو له هغه وروسته چې رسول الله صلى الله عليه و سلم اجازه وركړه له هغې سره ئې وليدل.

دا روايت له مشرکينو سره د صحابه وو چلن په ښه او واضح توګه زمونږ په وړاندي انځوروي، يوه لور له خپلې هغې مور سره له ليدلو ډډه کوي چې له اوږدې مودې وروسته او له لري واټن، له شپو ورځو مزل وروسته د دې ليدلو ته ورغلې، له دې کبله ډډه کوي چې وېرېږي دا ليدنه له کافر او مشرک سره د موالات په ضمن کې رانه شي، له هغه وروسته ورسره ګوري چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپلوې پاللو اجازه ورکړه!!

د قرآن ګڼ شمېر آيتونه مؤمنانو ته په جدي او قاطع الفاظو سپارښتنه کوي چې له کافرانو سره له موالات ډډه وکړي، لکه چې فرمايي:

وَلَا تَرۡكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ١١٣ هود

او د ظالمانو په لوري تمايل مه کوئ که نه نو په اور به اخته شئ، په داسي حال کې چې له الله پرته هيڅ اولياء نه لرئ، بيا به مو هيڅوک مرسته ونه کړی شي.

په دې مبارک آيت کې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې د ظالمانو په لوري تمايل مه کوئ که نه نو د دوزخ اور به مو په برخه شي او د الله تعالى له تأييد او ملاتړ به محروم شئ او داسي څوک به ونه مومئ چې ستاسو مرسته وکړی شي. دلته مؤمنانو ته ويل شوي چې نه يوازي د ظالمانو ملګرتيا ونه کړي او له دوی سره له دوستۍ ډډه وکړي بلکې د دوی په لوري له ميلان او پر دوی له باور او اعتماد هم ځان لري وساتي، د کافرانو او مشرکانو په ځای د ظالمانو صيغه راوړل ښيي چې له هر ظالم سره له تمايل ښودو ممانعت مراد دئ.

د دې آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې مسلمانان له کافرانو سره له داسي (موالات) منع شوي چې د اتکاء او تناصر په معنى وي، الله تعالى د نهي په صيغه فرمايي چې پر ظالمانو اتکاء مه کوئ او هغوی ځان ته تکيه او رکن مه جوړوي که نه نو د الله تعالى له تأييد او نصرت به محروم شئ او بيا به داسي څوک ونه مومئ چې ستاسو د ولي او نصير په توګه عمل وکړي او ستاسو مرستي ته دروړاندي شي. نو داسي نه چې د ظالمانو د مرستي تر لاسه کولو په موخه داسي کار وکړئ چې له کبله ئې د خيرالناصرين رب له حمايې او تأييد محروم شئ!!

همدا راز فرمايي:

لَّا يَتَّخِذِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَلَيۡسَ مِنَ ٱللَّهِ فِي شَيۡءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُواْ مِنۡهُمۡ تُقَىٰةٗۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥۗ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨

آل عمران

مؤمنان دي له مؤمنانو علاوه کافران په دوستۍ نه نيسي او څوك چې دا کار وکړي نو په هيڅ څه کې له الله سره نه دئ، مگر دا چې له دوی څه وېره ولرئ او الله خو تاسو له خپل ځان په حذر کوي او ورگرځېدا خو د الله په لوري ده.

يعني مؤمنان به يوازي له مؤمنانو سره دوستي کوي، له دوی پرته به نور خلك دوستان نه گڼي، له کافرانو سره به دوستي نه کوي، هر څوك چې له کافرانو سره دوستي وکړي نو خپلې ټولې اړيکې ئې له الله سره شلولې دي، د الله له حزب وتلی دئ، نه د الله د دين په حلقه کې دئ او نه ئې له الله سره کوم تعلق پاته دئ، مگر دا چې د کافرانو په لاس کې پرېوتی وي، له کوم سخت خطر سره مخامخ وي، هغوی ئې په مرگ تهديدوي، د دوی له وېرې دې ته اړ شوی وي چې د دوستۍ الفاظ ورته ووايي، داسې څه ورته ووايي چې هغوی ئې خپل دوست وگڼي او په دې سره هغه خطر دفع کړي او د دوی له شر ځان وژغوري. په داسې سخت او اضطراري حالت کې تاسو ته د داسې الفاظو د ويلو اجازه او رخصت درکړی شوی، الله تعالی په داسې حالت کې حتی د کفر د کلمې په ويلو او له اسلام د انکار په کولو هم تاسو نه نيسي. خو په دې حالت کې هم څو خبرې په پام کې ولرئ:

له دښمن د وېرې پر ځای له الله ووېرېږئ، که په خپل دين د ټينگار په نتيجه کې وژل کېږئ، نو څه پروا لري، مرگ خو هسې هم راځي، هسې به هم خپل رب ته ورگرځئ، آيا دا غوره نه ده چې دا مرگ مو د شهادت مرگ وي؟

له دوی ستاسو وېره بايد هومره نه وي چې له الله ستاسو په وېرې غالبه شي او په تاسو باندې هغه کار وکړي چې الله تعالی ئې اجازه نه ده درکړې، مبادا د کوم مسلمان د وژلو او يا اسلام او مسلمانانو ته تاوان رسولو په بيع دا کار وکړئ.

دا مبارك آيت که له يوې خوا مور ته لارښوونه کوي چې له کافرانو سره به له دوستۍ ډډه کوو او له دوی سره د دوستۍ په سبب زمور ټولې اړيکې له الله سره قطع کېږي، له بلې خوا د وېرې په حالت کې او هلته چې يو مسلمان د کافرانو په لاس کې پرېوتی وي او په مرگ ئې گواښي، هغه ته دا اجازه ورکوي چې دښمن ته د دوستۍ او ملگرتيا خبره وکړي، خو په دې شرط چې په دې کار سره به اسلام او مسلمانانو ته تاوان نه رسوي، يوازي د ځان ژغورلو لپاره به کومه چاره او حيله لټوي، دا رخصت د ده د ضعف، ناتوانۍ او مجبوريت له مخې ورکړی شوی، د عزيمت او قوي ايمان تقاضا دا ده چې په دې حالت کې هم د ثبات او استقامت لار غوره کړي، په خپل ايمان ټينگ پاته شي او د دښمن پر ځای

یوازې له یوه الله وېره ولري او دا ئې په پام کې وي چې مرګ د ده د ژوندون پای نه دئ بلکې د بل ژوندون مقدمه ده، په دې مرګ سره هغه د الله په لور درومي.

له مشرکو خپلوانو سره د عدم موالات په اړه فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَابَآءَكُمۡ وَإِخۡوَٰنَكُمۡ أَوۡلِيَآءَ إِنِ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡكُفۡرَ عَلَى ٱلۡإِيمَٰنِۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢٣ التوبه

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! که مو پلرونو او وروڼو کفر تر ایمان غوره وګڼلو نو هغوی خپل دوستان مه نیسئ؛ او له تاسو چې هرچا له دوی سره دوستي وکړه، نو هغوی ظالمان دي.

دا مبارک آیت څو لارښوونې زمونږ مخې ته ږدي:

- مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې له خپلو خپلوانو سره به په هغه صورت کې دوستي نه پالي چې کفر ته پر ایمان ترجیح ورکوي؛ که څه هم د دوی پلرونه او وروڼه وي.
- څوک چې د خپلوې په وجه له داسې کافرانو سره دوستي پالي؛ ظالم دئ، پر خپل ځان ظلم کوي، له خپل دین او ایمان سره جفا کوي؛ او له خپل رب سره ئې چلن ظالمانه دئ، ځکه د خدای له دښمن سره دوستي کوي.

د عبد او مریي یو مهم خصوصیت دا دئ چې هغه به خپل دوست او دښمن د خپلو تمایلاتو په بنسټ او د هوی او هوس له مخې نه ټاکي، په دې اړه له ده اختیار سلب شوی او هغه د خپل آقا او مالک د پرېکړې او حکم محکوم دئ، که کوم غلام او مریې د خپل آقا دښمن په دوستۍ ونیسي؛ هغه بغاوت کړی؛ او که هغه د خپل آقا دوست دښمن وګڼي بیا ئې هم بغاوت کړی. نو ځکه دلته هغه څوک ظالم ګڼل شوی چې له کافرو خپلوانو سره دوستي پالي.

له دې مبارک آیت په څرګنده توګه معلومېږي چې د اسلام له نظره له کافر سره دوستي د ایمان منافي او داسې خطرناک عمل دئ چې ایمان نفي کوي.

له اهل کتاب سره د عدم موالات په اړه فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوۡلِيَآءَۘ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٥١ المائده

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! یهود او نصاری په دوستۍ مه نیسئ، دوی په خپلو کې یو د بل دوستان دي او له تاسو چې چا له دوی سره دوستي وکړه، نو هغه یقیناً چې د دوی له ډلې دئ او یقیناً چې الله د ظالمانو دا ډله هیڅکله نه هدایت کوي.

په دې آیت کې مؤمنانو ته ویل شوي چې یهود او نصاری په دوستۍ مه نیسئ، چا چې له دوی سره دوستي وکړه، د مؤمنانو له ډلې وتلی او د یهودو او نصرانیانو په ډلې کې شامل شوی!!

تاسو پوهیږئ چې نصاری او یهود تر نورو ټولو خلکو له اعتقادي پلوه مسلمانانو ته ورنژدې دي، خو د همدوی په اړه هم حکم شوی چې دوستي به ورسره نه پالئ که نه نو د دوی له ډلې شمېرل کېږئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ۖ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّ ۖ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ ۖ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ۖ وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُواْ ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۚ وَلَا تُمْسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ وَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقُواْ ۚ ذَٰلِكُمْ حُكْمُ ٱللَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۖ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

۱۰- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! کله چې مؤمني ښځي د مهاجرو په توګه درشي نو هغوی وآزمویئ، الله د دوی پر ایمان ښه پوه دئ، که مو هغوی مؤمني ومومندلې نو د کفارو لوري ته ئې مه ستنوئ، نه دوی هغوی ته حلالي دي او نه هغوی دوی ته حلال کېږي؛ او هغه څه ورکړئ چې هغوی لګولي؛ او پر تاسو کومه ګناه نشته چې دوی هغه مهال په نکاح کړئ چې مَهر ئې ورکړئ؛ او د کافرو مېرمنو په نکاح پوري منګولي مه ټینګوئ او هغه څه وغواړئ چې تاسو لګولي او هغوی دي هغه څه وغواړي چې دوی لګولي، همدا د الله حکم دئ، چې ستاسو تر منځ حکم کوي او الله باحکمت پوه دئ.

(۱۰)- په دې مبارك آیت کې د موالات د تحریم یوه بېلګه زمونږ په وړاندي ابښودل شوې، د مېړه او مېرمني تر منځ د نکاح ټړون داسي دئ چې مېرمن د مېړه تر حمایت او ولایت لاندي راځي، یو له بل دفاع د دې ټړون بنسټ وي، قرآن د مؤمن او کافر تر منځ موالات تحریم کړي نو ځکه د مؤمن او کافر مېړه او مېرمني تر منځ د نکاح ټړون هم اعتبار نه لري، کله چې یو ئې ایمان راوړي او بل ئې کافر شي د دوی تر منځ د نکاح ټړون فسخ

کېږي، فرمايي:

- اې مؤمنانو! کله چې مؤمني ښځې د مهاجرو په توګه درشي نو هغوی وآزمويئ، ځان مطمئن کړئ چې د ايمان په غوښتنه ستاسو خوا ته درغلې، د دوی د ايمان په حقيقت خو الله تعالی ښه پوهېږي خو تاسو خپله هڅه وکړئ او د دوی له ايمان درلودلو ځان مطمئن کړئ.
- که درته معلومه شوه چې هغوی ايمان راوړی نو د کفارو لوري ته ئې مه ستنوئ، دا ځکه چې نه مؤمنه مېرمن کافر ته روا ده او نه کافر مېړه مؤمني مېرمني ته روا دئ، مېړونو ته ئې هغه مهر مسترد کړئ چې دغو مېرمنو ته ئې ورکړي.
- تاسو ته دا جائزه ده چې دا مېرمني د مهر په بدل کې نکاح کړئ.
- د کافرو مېرمنو په نکاح ټينګار مه کوئ، خپل مهر ترې وغواړئ او رخصتي ئې کړئ.
- مؤمني مېرمني دي هم د کافرو خاوندانو پر نکاح ټينګار نه کوي خپل مهر ئې ورکړئ او دا نکاح فسخ کړئ.
- همدا د هغه الله تعالی حکم دئ چې هم پوه دئ او هم د حکمت خاوند، ستاسو خير او مصلحت په همدې کې مضمر دئ چې د دغه الهي حکم مطابق عمل وکړئ.

وَإِن فَاتَكُمۡ شَيۡءٞ مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ إِلَى ٱلۡكُفَّارِ فَعَاقَبۡتُمۡ فَـَٔاتُواْ ٱلَّذِينَ ذَهَبَتۡ أَزۡوَٰجُهُم مِّثۡلَ مَآ أَنفَقُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ ١١

۱۱- او که د مېرمنو د مهر کومه برخه مو د کفارو لوري ته له لاسه ووتله، بيا مو سزا ورکړه؛ نو هغو ته چې مېرمني ئې تللې دي دومره څه ورکړئ چې دوی لګولي؛ او له هغه الله ووېرېږئ چې تاسو پرې ايمان لرونکي يئ.

---

(۱۱)- په دې مبارك آيت کې د هغو مېرمنو په اړه مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې د کافرانو په لوري دروميِ، فرمايي: که ستاسو له مېرمنو کومه يوه د کفارو لوري ته ولاړه، هغه مهر مو تر لاسه نه کړ چې هغې ته مو ورکړی، نو کله چې تاسو له دغو کافرانو غنائم تر لاسه کړئ د هغو مؤمنانو دا تاوان جبران کړئ چې مېرمني ئې د کفارو لوري ته تللې وي. په دې معامله کې دي ستاسو دواړه لوري له هغه الله ووېرېږي چې تاسو پرې ايمان لرونکي يئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ يُبَايِعۡنَكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشۡرِكۡنَ بِٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَلَا

يَسۡرِقۡنَ وَلَا يَزۡنِينَ وَلَا يَقۡتُلۡنَ أَوۡلَٰدَهُنَّ وَلَا يَأۡتِينَ بِبُهۡتَٰنٖ يَفۡتَرِينَهُۥ بَيۡنَ أَيۡدِيهِنَّ وَأَرۡجُلِهِنَّ وَلَا يَعۡصِينَكَ فِي مَعۡرُوفٖ فَبَايِعۡهُنَّ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُنَّ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٢

۱۲- اې پېغمبره! کله چې مؤمني ښځې درشي د دې لپاره چې له تا سره په دې بیعت وکړي چې نه به له الله سره کوم څه شریکوي، نه به غلا کوي، نه به زنا کوي، نه به خپل اولاد وژني، نه به داسي دروغجن تور لګوي چې د خپلو لاسونو او پښو منځ کې ئې افتراء کوي؛ او نه به په کوم معروف کار کې له تا سرغړونه کوي، نو بیعت ورسره وکړه او له الله بخښنه ورته وغواړه، یقیناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.

---

(۱۲)- په دې مبارك آیت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د مېرمنو د بیعت په اړه دا لارښوونه شوې:

- **اې پېغمبره! کله چې مؤمني ښځې د دې لپاره درشي چې له تا سره په دغو خبرو بیعت وکړي چې نه به له الله سره کوم څه شریکوي، نه به غلا کوي، نه به زنا کوي، نه به خپل اولاد وژني، نه به داسي تور لګوي چې د خپلو لاسونو او پښو منځ کې ئې افتراء کوي؛ او نه به په کوم معروف کار کې له تا سرغړونه کوي، نو بیعت ورسره وکړه.**
- **دوی ته له الله تعالی بخښنه غواړه، یقیناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.**

دلته د څو خبرو وضاحت په کار دئ: لومړی دا چې باید وګورو د دې خبرې معنی څه ده چې (نه به داسي تور لګوي چې د خپلو لاسونو او پښو منځ کې ئې افتراء کوي)؟ آیا مراد ئې دا دئ چې له داسي دروغجن تور لګولو به ډډه کوي چې له خپله ځانه ئې جوړ کړی او هیڅ حقیقت نه لري، د لاسونو او پښو منځ یعني خپل نفس او هوس؟ او که ئې مراد دا دئ چې خپلې مخې ته ولاړ کوم بل انسان په اړه له افتراء ډډه کول او په خپل رحم کې اولاد په اړه له افتراء ځان ساتل؟ داسي معلومېږي چې دوهم تعبیر دقیق دئ، دا ځکه چې که مراد دا وی چې لومړی مطلب افاده شي نو بیا دې ته څه اړتیا نه وه چې د (بین ایدیهن و ارجلهن) فقره هم راوړل شوې وی، یوازې یفترینه کافي وو. دوهم دا چې رسول الله صلی الله علیه و سلم کله د غونډې په ترڅ کې له مېرمنو په دغو خبرو بیعت اخیستی او کله په انفرادي توګه، پرته له لاس ورکولو، داسي هم شوي چې د یوه ټوکر یوه پیڅه بیعت کوونکې مېرمني په لاس کې نیولې او بله پیڅه رسول الله صلی الله علیه و سلم.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَوَلَّوۡاْ قَوۡمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ قَدۡ يَئِسُواْ مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِ كَمَا يَئِسَ ٱلۡكُفَّارُ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡقُبُورِ ١٣

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! له هغو وګړو سره دوستي مه کوئ چې الله پرې غضب کړی، له آخرت داسې ناهیلي دي لکه چې د قبرونو خاوندان کفار ناهیلي دي.

(۱۳)- دا مبارك آیت د سورې ښکلې تتمه او جامع خلاصه زمونږ په وړاندې ږدي، د سورې د بحث محوري او اساسي موضوع دا ده چې مؤمنان باید د الله له دښمنانو سره له موالات ډډه وکړي، که ووایو چې د دې سورې په دیارلسو آیتونو کې د ټولو هغو آیتونو خلاصه راغلې چې په ټول قرآن کې له کافرانو سره د موالات د څرنګوالي په اړه راغلي نو مبالغه مو نه ده کړې، د سورې په وروستي آیت کې د هغو وګړو دوه اساسي ځانګړتیاوي مونږ ته راښودل شوې چې مسلمانان له هغوی سره له موالات منع شوي:

- د عمل له پلوه داسې دي چې د الله تعالی د غضب وړ ګرځېدلي،
- په آخرت نه یوازې باور نه لري بلکې هیڅ طمع او هیله ورته نه لري، آخرت ته یوازې هغه څوك طمع او هیله درلودی شي چې په راتلو ئې باور لري او عملونه ئې داسې وي چې له الله تعالی د نېکې بدلې طمع کولی شي، ظالم، فاسق، عاصي او بدکار انسان هیڅکله آخرت ته کومه طمع نه شي درلودی، که عقل ئې پر آخرت ایمان ته بلي نو نفس ئې د آخرت تکذیب ته هڅوي، نفس ئې دا نه خوښوي چې له محاسبې سره مخامخ شي، ځکه هغه آخرت ته هیڅ طمع نه لري، پر آخرت د عدم باور اصلي وجه همدا له آخرت یأس او ناهیلیتوب وي.

تاسو د سورې په لومړي آیت کې ولیدل چې مؤمنانو ته ویل شوي: اې هغو چې ایمان ئې راوړی! زما دښمنان او خپل دښمنان په دوستۍ مه نیسئ، په آخري آیت کې همدا مطلب په دې صیغه راغلی: اې هغو چې ایمان ئې راوړی! له هغو وګړو سره دوستي مه کوئ چې الله پرې غضب کړی او له آخرت داسې ناهیلي دي لکه په قبرونو کې پراته مخکیني کافران چې ترې مأیوس ول.

د آیت د دې فقرې (كَمَا يَئِسَ ٱلۡكُفَّارُ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡقُبُورِ) په اړه څو تعبیرونه زمونږ مخې ته راځي: ځینو ویلي چې له (الکفار) په خپله همدغه کافران مراد دي چې په مخکینۍ فقره کې د (غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ) په صیغه یاد شوي او تعبیر ئې دا دئ چې دوی د آخرت له راتلو داسې مأیوس دي لکه چې د مړو له راژوندي کېدو مأیوس دي، ځینو ویلي چې له (الکفار) نور له آخرت منکر کافران مراد دي، ځینو ویلي چې مراد ئې په قبرونو کې

پراته کافران دي خو تعبير ئې دا دئ چې هغوی له هر خير مأيوس شوي؛ غوره او دقيق تعبير دا دئ چې مراد ئې مخکيني کافران دي چې د اوسنيو په څېر له آخرت ناهيلي او مأيوس ول، يعني دا اوسني کافران د آخرت په اړه همغسي انګېري لکه چې د دوی پلرونو انګېرل.

دې ته مو پام وي چې له آخرت انکار د انسان د ټولو غلطو عقائدو او بدو اعمالو بنسټ جوړوي، نو ځکه دلته د دوزخيانو د همدې يوې ځانګړتيا په بيانولو اکتفاء شوې.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الصف

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الصف) دئ چې د سورې له څلورم آيت اخيستل شوی، ١٤ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (الحکيم) او د دوهم آيت (تفعلون) ته ورته دي، دې ته بايد متوجه وو چې د (الفاسقين) په څېر صيغې د غېر له پلوه (الحکيم) ته ورته دي او د (مرصوص) په څېر صيغې د غېر له پلوه (تفعلون) ته ورته دي، د آيتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په لومړيو کلونو کې نازل شوي.

د سورې مضامينو ته په پام سره داسې معلومېږي چې (الصف) نه يوازې د دې سورې نوم دئ بلکې د مطالبو لپاره ئې عنوان هم دئ، په دې کې د يوه اسلامي صف اساسي ځانګړتياوي څېړل شوې دي، په لومړی آيت کې د اسلامي صف اعتقادي مباني او د الله تعالی او د عالم په اړه د دې صف د غړو لېد لوری توضيح شوی، په دوهم آيت کې د دوی د قول او عمل تر منځ يووالي ته اشاره شوې، په درېيم آيت کې ويل شوي چې د قول او عمل تر منځ تناقض د الله تعالی په نزد کې داسې سترە ګناه ده چې تر هري بلې ګناه زيات پرې قهر کېږي، په څلورم آيت کې د دې صف يووالی او نظم له اوسپنيز دېوال او کلکې مانۍ سره تشبيه شوی او ويل شوي چې الله تعالی له هغو سره مينه لري چې د ده په لار کې په منظمه توګه جنګېږي، ورپسې د موسی عليه السلام او عيسی عليه السلام په څېرو کې د دې صف د زعامت او مشرتابه ځيني مهمي ځانګړتياوي او د دوی په وړاندې د مخالفينو کړنې ښودل شوې، ورپسې ويل شوي چې تر هغه به لوی ظالم څوک وي چې د الله تعالی په اړه په داسې حال کې افتراء کوي چې د اسلام لوري ته بلل کېږي، داسې ظالمان له الهي هدايت محروم دي، بيا د مخالفينو هغو تبليغاتو ته اشاره شوې چې غواړي د حق

دين رښا تته کړي په داسي حال کې چې الله تعالى د دې نور د بشپړولو اراده کړې، بيا د پيغمبر د دعوت دوه اساسي برخې توضيح کوي او وايي: الله تعالى خپل پيغمبر له (حق دين) او (هدايت) سره لېږلى په دې موخه چې پر ټولو اديانو ئې غالب کړي، ورپسې مؤمنانو ته په خطاب کې ويل شوي: آيا غواړئ هغه تجارت دروښيم چې د دنيا او آخرت له دردناك عذاب مو ژغوري، هغه پر الله او د ده پر پيغمبر ايمان او په خپل مال او نفس سره د الله په لار کې جهاد دئ، که پوه شئ نو همدا درته غوره دئ، گناهونه به مو درته وبخښي او داسي جنتونه به درپه برخه کړي چې ترې لاندې ويالې بهېږي، همدا ستره بريا ده، د دې تر څنگ به هغه څه هم تر لاسه کړئ چې مينه ورسره لرئ؛ د الله مرسته او نژدې فتح، ورپسې ورته ويل شوي: د الله داسي ملتيا وکړئ لکه چې د عيسى عليه السلام حواريونو د هغه ملتيا وکړه، هغه مهال چې هغه ورته وويل: څوك مي د الله لوري ته ملتيا کوي، هغوى په ځواب کې ورته وويل: مورږ د الله ملتيا کوو، يوې ډلې ايمان راوړ او د عيسى عليه السلام ملگرتيا ئې وکړه او بلې ډلې د کفر لار غوره کړه، د دوى تر منځ سخته مقابله شوې او د دې مقابلې پايله دا وه چې الله تعالى د مؤمنانو مرسته وکړه او پر خپلو دښمنانو ئې هغوى ته غلبه او بريا ورپه برخه کړه.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١

۱- څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي الله ته تسبيح کوي او هغه باحکمت عزتمن دئ.

---

(۱)- په دې مبارك آيت کې څو مهمې لارښوونې شوې:

• د تسبيح ټولو معانيو ته په پام سره د آيت لومړۍ برخه دا مطالب افاده کوي: د آسمانونو او زمکې هر څه د الله تعالى په تسبيح بوخت دي، يعني دا چې د عالم هر څه الله تعالى له هر عيب او نقص منزه گڼي او د ده په سپېځلتيا اعتراف کوي او دا اعتراف، تنزيه او تزکيه د مخصوصو الفاظو په ذريعه څرگندوي، همدا راز د حال په ژبه د خپل صانع او پالونکې په پاکۍ او سپېځلتيا شهادت ورکوي او هر ليدونکې ته دا انتباه ورکوي چې د دې توکې پيداکوونکى له عيب او نقص اوچت او لوړ دئ؛ او د زمکې او آسمانونو هر څه په سرعت او بشپړ انهماك سره د خپل رب احکام پلي کوي، د دې کائناتو هر څه په

كامل انقياد سره د الله تعالى په عبادت او بندګۍ لګيا دي، په هماغه مسير کې خوځي چې الله ورته ټاکلى او هماغه څه کوي چې الله تعالى ورباندې ګمارلي او هر يو د خپلې مشخصې دندې په سرته رسولو کې مصروف دئ.

• الله تعالى نه يوازې له هر عيب او نقص منزه دئ بلکې عزيز او حکيم دئ. دا چې د الله تعالى په ټولو مخلوقاتو کې بېهوده او بې هدفه شى نه شو موندلى، هر څه سم، سالم او په خپل حد کې کامل پيدا شوى، هر څه د يوه معين هدف د تحقق لپاره پيدا شوى، د عالم ټول موجودات له خاصو ضوابطو او سننو سره سم د ټاکلې منهج مطابق د معين هدف په لورې په منظم او مستمر حرکت سره درومي او خپلې دندې تر سره کوي او خاص نتائج وړاندې کوي. دا نظم، تعادل، ښايست او هدفمنې چې عالم هر لورې ته او په هر څه کې ئې ګورو په خپله ثابتوي چې د دې عالم صانع، مدبر، پالونکى او ساتونکى له عيب او نقص منزه دئ، عليم او حکيم دئ او په هر کار کې ئې مصلحت او حکمت مضمر دئ. د دې خور، ستر او پراخ عالم اداره او د هر جزء حرکت سمبالول او د بې انتهاء اجزاوو د ټکر او تصادم مخنيوى په خپله ثابتوي چې د دې عالم پالونکى رب، عزيز او غالب دئ او په هر کار قادر او توانا.

ګورئ چې په دې مبارك آيت کې د عالم د ټولو مخلوقاتو او د هغوى د خالق او رب په اړه د مؤمن انسان د باور څرنګوالى بيان شوى، مؤمن انسان د عالم هر څه ته په دې سترګه ګوري چې ټول له ده سره يو ځاى او څنګ په څنګ د هغه الله په عبادت بوخت دي چې د عالم هر څه ئې پيدا کړي او هر څه په دې شهادت ورکوي چې الله تعالى سپيڅلى دئ، له هر نقص او عيب منزه دئ، عزيز او حکيم دئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ۝٢ كَبُرَ مَقۡتًا عِندَ ٱللَّهِ أَن تَقُولُواْ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ۝٣

٢- اې هغو چې ايمان ئې راوړى! ولې هغه څه وايئ چې نه ئې کوئ؟! ٣- دا د الله په وړاندې د ستر غضب وړ دئ چې هغه څه ووايئ چې نه ئې کوئ.

(٢-٣)- په دې مبارکو آيتونو کې مؤمنانو ته دا لارښوونې شوې:

• ولې هغه څه وايئ چې نه ئې کوئ؟! هغه څه مه وايئ چې د کولو اراده ئې نه لرئ، څه چې وايئ په هغه عمل وکړئ، خبره مو بايد رښتينې وي، ستاسو د زړه او عقيدې ترجماني وکړي، ستاسو اراده په کې منعکس شوې وي، دروغ مه وايئ، خدعه مه کوئ، پر

خپلو ژمنو ودرېږئ،

- د قول او عمل تر منځ تناقض د الله تعالى په وړاندي داسي ستره ګناه ده چې تر هري بلې ګناه زيات پرې قهر کېږي، د قول او عمل تر منځ تناقض يعني منافقت، په زړه کې يو څه درلودل او په خوله بل څه ويل، خپلې ژمنې او تعهدات تر پښو لاندې کول، خلکو ته دروغ ويل او د هغوی د غولولو هڅه کول.

إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَٰنٌ مَّرْصُوصٌ ﴿٤﴾

يقيناً چې الله له هغو سره مينه لري چې د ده په لار کې داسي صف تړلي جنګېږي لکه چې دوی يو اوسپنيز دېوال وي.

---

(٤)- په دې مبارك آيت کې د الله د لاري مجاهدين د يووالي، نظم، ثبات او استقامت له پلوه له اوسپنيز دېوال او کلکې کلا سره تشبيه شوي؛ او ويل شوي چې الله تعالى د داسي مجاهدينو له منظم او متحد صف سره مينه لري چې د ده په لار کې په منظمه توګه جنګېږي. د منظم صف په ارزښت او د اسلام له نظره د هغه په اهميت د دې روايت په رڼا کې پوهېدی شئ:

عن الحارث الاشعرى أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال: " وَأَنَا آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ أَمَرَنِى اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهِنَّ: الْجَمَاعَةُ وَالسَّمْعُ وَالطَّاعَةُ وَالْهِجْرَةُ وَالْجِهَادُ فِى سَبِيلِ اللَّهِ، فَمَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ قِيدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الإِسْلَامِ أَوِالْإِيمَانِ مِنْ عُنُقِهِ (أَوِ الْإِيمَانِ مِنْ رَأْسِهِ) إِلَّا أَنْ يُرَاجِعَ، وَمَنْ دَعَا دَعْوَى الجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَا جَهَنَّمَ " قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى قَالَ: «وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى، تَدَاعُوا بِدَعْوَى اللهِ الَّذِى سَمَّاكُمْ بِهَا الْمُسْلِمِينَ الْمُؤْمِنِينَ عِبَادَ اللَّهِ» مسند احمد

له الحارث الاشعري روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: په هغو پنځو خبرو مو ګمارم چې الله تعالى زه پرې ګمارلى يم: جماعت، سمع، اطاعت، هجرت او د الله په لار کې جهاد، نو څوك چې له جماعت څنې د يوې لوښتي په اندازه ووت يقيناً د اسلام کړۍ ئې له خپلې غاړې وايسته، مګر دا چې بېرته راوګرځي؛ او څوك چې د جاهليت په بلني بلنه کوي؛ هغه به د دوزخ خس او خاشاك وي، يوه سړي وويل: يا رسول الله! که څه هم روژه ئې نيولې وي او لمونځ ئې کړى وي؟ وئې فرمايل: هو؛ که څه هم روژه ئې نيولې وي او لمونځ ئې کړى وي، نو د الله په هغې بلني سره بلنه وکړئ چې تاسو ئې پرې

مؤمنان، د الله بندګان مسلمانان نومولي ېئ.

دا روایت چې د احادیثو په ټولو کتابونو کې په همدې الفاظو سره یا په لږ تغییر سره راغلی او صحیح ئې ګڼلی، په جماعت کې ژوند، سمع، اطاعت، هجرت او د الله په لار کې جهاد، دومره مهم بولي چې له دې پرته د چا لمونځ او روژه هم د منلو وړ نه ګڼي!!

همدغو نصوصو ته په پام سره عمر رضی الله عنه فرمایي: لا اسلام الا بالجماعة و لا جماعة الا بالامارة و لا امارة الا بالسمع و الطاعة: نه له جماعت پرته اسلام شته، نه له امارته پرته جماعت شته او نه له اورېدو او اطاعته پرته امارت شته.

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُونَنِى وَقَد تَّعْلَمُونَ أَنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ ۖ فَلَمَّا زَاغُوٓا۟ أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمْ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ۝٥

۵- او هغه مهال چې موسی خپل قوم ته وویل: اې زما قومه! ولې مي ځوروئ؛ په داسي حال کې چې پوهېږئ زه له کوم شك پرته ستاسو لوري ته د الله استازی یم، بیا کله چې کاږه شول نو الله د دوی زړونه کاږه کړل؛ او الله داسي فاسق وګړي نه هدایتوي،

---

(۵)- په دې مبارك آیت کې دا مهم او اساسي مطالب زمور مخي ته ځلېږي:

- موسی علیه السلام خپل قوم ته ویلي ما ولې ځوروئ،
- هغوی ته ئې ویلي: په داسي حال کې ما ځوروئ چې پوهېږئ زه له کوم شك پرته ستاسو لوري ته د الله استازی یم،
- کله چې دوی له لاري کاږه شول، کړني ئې کږې او ناسمي شوې نو الله تعالی د دوی زړونه کاږه کړل،
- الله تعالی داسي فاسق وګړي نه هدایتوي چې پیغمبر ځوروي، له سمي لاري کاږه کېږي او باورونه ئې کاږه کېږي.

دلته د موسی علیه السلام په څېرې کې د اسلامي صف د زعامت څو مهم مواصفات او ځانګړتیاوي انځور شوې:

- د دوی لومړۍ ځانګړتیا دا ده چې د ولس جهل، شرك، کفر؛ او په ټولنې کې ظلم او فساد ئې ځوروي، د شر او فساد ځواکونو له مخالفتونو سره مخامخ وي، قرآن د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام په اړه فرمایي چې د الله تعالی په لار کې ئې ستونزې او کړاوونه ګالي، له مخالفتونو سره مخامخ شوي، د مخالفینو له لوري اذیت شوي، هجرت ته اړ

شوي، دوی او ملګري ئې ځورول شوي... دا ښيي چې د الله تعالی په لار کې د اذيتونو ګالل د اسلامي صف د مشرتابه يوه ځانګړتيا ده، پيغمبر عليه السلام فرمايي: هيڅوک د پيغمبرانو په اندازه د الله تعالی په لار کې نه دئ اذيت شوی او هيڅ پيغمبر زما په څېر نه دئ ځورول شوی، ځومره چې انسان الله تعالی ته ډېر نژدې وي ابتلاء او آزموينې به ئې همدومره سترې وي.

- حقيقت دا دئ چې لکه څنګه چې لوړ شخصيتونه د دوی له ذاتي مواصفاتو پېژندی شو؛ همدا راز ئې د دوستانو او دښمنانو له مخې او له دوی سره د دښمنانو د چلن د څرنګوالي له مخې پېژندی شو، څوک چې د شر او فساد ځواکونو له شديد مخالفت سره مخامخ وي، دښمن د هغه په ضد تر نورو زيات عناد او خصومت څرګندوي، تر نورو ئې زيات خطرناک ګڼي، په خپلو تبليغاتو کې تر نورو زيات د ده په اړه ترخه ژبه کاروي؛ او په هري تبصرې کې ئې د غضب او کينې نښې له ورايه بربښي، څوک چې د دښمن له لوري تر نورو زيات اذيت کېږي؛ په حقيقت کې د دښمن حساسو سترګو په ده کې هغه څه ليدلې چې بايد وېره تړې ولري او خطرناک ئې وګڼي، هغه وړتياوي ئې په کې ليدلې دي چې له لرې او د دښمن په سترګو ليدی شي نه له نژدې او د دوستانو په سترګو، دښمن ئې په ښه توګه احساسولی شي نه دوست. ښه او صالح دوستان هم د يوه صالح او ښه شخصيت د ښو ځانګړتياوو نښه ګڼل کېږي، غوره او نېک شخصيتونه تل ښه او صميمي دوستان او شديد نه پخلا کېدونکي دښمنان لري، د ټولنې نېکان ئې ملګرتيا کوي او مفسدين ئې نه پخلا کېدونکې دښمنې ته ملا تړي؛ او تل د دښمنانو له شديد مخالفت او اذيت سره مخامخ وي. په همدغو کړاوونو او اذيتونو کې وروزل شي، پاخه شي، کمال ته ورسېږي او ستر ستر شخصيتونه تړې جوړ شي. کړاوونه او ستونزې په انسان کې هغو صفاتو ته وده او ځلا ورکوي چې له بلې لارې او په بل څه نه ښېرازه کېږي او غوټې ئې نه غوړېږي.که ګورو چې ټول پيغمبران عليهم السلام د الله لوري ته په دعوت کې له سختو اذيتونو، مخالفتونو، آزموينو، ستونزو، کړاوونو، ځورونو او هجرتونو سره مخامخ شوي، زندانونو ته تللي، دوی او ملګري ئې په شهادت رسېدلي، د اور په کَندُو کې اچول شوي، ... دليل ئې همدا دئ چې مخکې مو ورته اشاره وکړه، پيغمبر عليه السلام فرمايي: کله چې الله تعالی وغواړي يوه ډله د دوستانو او محبانو په توګه غوره کړي نو له ابتلاءاتو سره ئې مخامخ کړي چې د هغوی په وړاندې صبر وکړي (او د همدې صبر په نتيجه کې) د الله تعالی د دوستۍ وړ شي.

- څوک چې د ناز او نعمت له بستر اقتدار ته ورسېږي يزيد تړې جوړېږي او څوک چې د

ابراهيم عليه السلام په څېر د الله تعالى په لار کې د ابتلاءاتو او آزموينو په ترڅ کې وروزل شي له هغه به صابر او صامد شخصيت، زړه سواند لارښود او د آزادي غاړو امام جوړ شي.

- همدا راز له دې آيت معلومېږي چې د موسى عليه السلام په دغې وينا کې چې ولې مي ځوروئ دا لارښوونه مضمره ده چې هغه د حساس ضمير خاوند دئ، د ولس بد حالت ئې ځوروي، داسي حساس ضمير لري چې د ظلم، فساد او ګناه په ليدو سره پارېږي، د انحرافاتو په وړاندي ساکت او بې تفاوته پاته کېدا او بې اعتنائي نه شي زغملى، د مظلوم او محروم انسان په ليدو سره ئې زړه سوى او ترحم تحريك کېږي او د هر محتاج انسان ليدنه په هغه کې د مسؤليت احساس راپاروي، د مظلوم مرستي ته ئې چمتو کوي او د اړ او محتاج انسان لاس نيوي ته ئې هڅوي، دا د يوه صالح او مؤمن لارښود بله ځانګړتيا ده چې قرآن ئې زموږ په وړاندي د پيغمبر عليه السلام په شخصيت کې داسي انځوروي:

... عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ ... ﴿١٢٨﴾ التوبه

...څه چې تاسو ځوروي پر ده ګران ټامېږي،...

يعني د هر هغه حالت په ليدو سره متأثر او غمجن کېږي چې خلك ځوروي او له کړاو سره ئې مخامخ کوي، دا د ځان مسئوليت ګڼي چې خلك له دې حالته وژغوري. قرآن دغه صفت د موسى عليه السلام په شخصيت کې په دوو مواردو کې داسي انځوروي:

وَدَخَلَ ٱلْمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِۦ ۖ فَٱسْتَغَٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ۖ قَالَ هَٰذَا مِنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ ۖ إِنَّهُۥ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ القصص

او په داسي حال کې ښار ته ننوت چې استوګن ئې غافل (د شپې يا غرمې په خوب ويده) ول، ناڅاپه ئې دوه سړي ولیدل چې په خپلو کې په جګړه بوخت دي، دا يو ئې د ده د ډلې او دا بل ئې د ده د دښمنانو له ډلې، نو هغه چې د ده له ډلې وو د هغه چا په خلاف ئې د مرستي نعره وروکړه چې دښمن ئې وو، نو موسى څپېړه ورکړه او په همدې سره ئې د هغه کار پاى ته ورساوو (مړ ئې کړ)، وئې ويل: دا د شيطان کړنه وه، يقيناً چې هغه څرګند بې لارې کوونکى دښمن دئ.

په داسي حال کې چې دغه مهال موسى عليه السلام د شاهي کورنۍ غړى ګڼل کېدو، له ځانګړي احترام او عزت برخمن وو، خو چې ښار ته ننوځي او دا صحنه ګوري چې يو ظالم قبطي پر يوه مظلوم بني اسرائيلي تېرى کوي، وهي ئې او هغه له ده د مرستي غوښتنه

کوي، خو موسی علیه السلام خپل اجتماعي مقام ته په پام سره له دې صحنې په بې اعتنائي نه شي تېرېدی، حساس ضمیر او قوي عاطفه ئې دې ته نه پرېږدي چې مخ بلي خوا ته واړوي او په بې اعتنائي سره له هغه ځایه تېر شي، عدم مداخله او له مظلوم سره مرسته نه کول د خپل ایمان او غیرت منافي ګڼي، وروړاندي کېږي، له مظلومه دفاع کوي، داسي دفاع چې د ظالم قبطي په مرګ پای ته رسي.

قرآن ورپسې هغه صحنه زموږ مخي ته ږدي چې موسی علیه السلام له دې پېښې وروسته له مصره تښتي، د مدین په لور خوځي، له څو شپو ورځو مزل وروسته په مدین کې د یوه څا په غاړه شپانه ګوري چې راغوند دي او خپلې رمې خړوبه کوي، ستړی ستومانه دئ، د یوې وني سیوري ته کښېني، د یوه ډاډمن پناځي په لټه کې دئ چې د فرعون له تعقیبه خوندي شي، ناڅاپه ئې سترګې پر دوو نجلیو لګېږي چې له شپنو لري، یوې ګوښې ته حیراني ولاړي دي او خپله رمه ساتي، د هغوی پرېشاني ئې دې ته اړ کوي چې ورشي او تري وپوښتي چې د پرېشانۍ سبب ئې څه دئ او ولې د رمې راوستو ته اړي شوې؟ هغوی ورته وایي: تر هغه نور شپانه خپلې رمې خړوبه نه کړي او له دې ځایه ولاړ نه شي؛ موږ نه شو کولی خپلې رمې ته اوبه ورکړو، پلار مو بوډا دئ، بل څوک د رمې د پاللو او پیایلو لپاره نه لرو، موسی علیه السلام د څا خوا ته ځي، له خپلې ټولې ستړیا او ستومانې سره سره په یوازي سر له څا دومره اوبه راباسي چې د هغو دوو پرېشانو نجونو رمه پرې خړوبه شي، بېرته د وني سیوري ته درومي او خپل رب ته دا دعاء کوي: اې زما ربه! ستا هغو پېرزوینو ته اړ او محتاج یم چې پر ما دي کړې وې؛ او د دعاګانو منونکی رب د هغه دعاء قبلوي او ډاډمن پناځی ورته برابروي، همدا نجوني خپل پلار ته قصه کوي، هغه ئې ورغواړي او د ده د قصې له اورېدو وروسته ورته وایي: بې غمه اوسه؛ نور نو د ظالمانو له منګولو ژغورل شوی یې.

په دې مبارک آیت کې د موسی علیه السلام د وینا یوه بله فقره د اسلامي صف د مشرتابه یوه بله ځانګړیتا زموږ مخي ته ږدي، هغوی ته ئې ویلي: په داسي حال کې ما ځوروئ چې پوهېږئ زه له کوم شك پرته ستاسو لوري ته د الله استازی یم، یعني د هغه له لوړ شخصیت، ښکلي سیرت، صفا وینا، پاکیزه اخلاق، روښانه تګلاري، عادلانه او معقول دریځ دوی ته معلومه شوې چې موسی علیه السلام د الله پیغمبر دئ، د اسلامي صف مشر باید همداسي وي چې قول، اخلاق او شخصیت ئې هر څوك قانع کړي چې دا یو مخلص او زړه سواند لارښود او داعي دئ.

په آیت کې دا هم ویل شوي چې کله د موسی علیه السلام قوم له لاري کاږه شول نو

الله تعالى د دوى زړونه كاږه كړل، د دې معنى دا ده چې كله د انسان كړني د هغه له عقيدې خړوبه كېږي او كله ئې كړني د ده باورونو ته خپل رنګ وركوي، د چا چې كړني كړې او ناسمي شي باورونه به ئې كاږه كېږي، همدا د الله تعالى سنت دئ.

د آيت په پاى كې ويل شوي: الله تعالى داسي فاسق وګړي نه هدايتوي چې پيغمبر ځوروي، له سمي لاري كاږه كېږي او باورونه ئې كاږه كېږي.

وَإِذْ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَىَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِى ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٦﴾

٦- او هغه مهال چې عيسى د مريمې زوى وويل: اې بني اسرائيلو! يقيناً چې زه ستاسو لوري ته د الله رسول يم، د هغه تورات تصديقوونكى چې تر ما وړاندې دئ او د هغه پيغمبر زېرى وركوونكى چې له ما وروسته به راځي چې نوم ئې احمد دئ، نو كله چې له څرګندو نښو سره ورغى وئې ويل: دا څرګند جادو دئ.

---

(٦)- په دې مبارك آيت كې د عيسى عليه السلام په څېره كې د اسلامي صف د زعامت ځينې نورې ځانګړتياوې بيان شوې:

- هغه هم د موسى عليه السلام په څېر خپل ولس ته وايي: يقيناً چې زه ستاسو لوري ته د الله رسول يم، د شك داسي مورد نه شئ موندلى چې زما د رسالت د حقانيت په اړه تاسو شكمن كړي.
- هغه تر ځان وړاندې تورات تصديقوي؛ او تر ځان وروسته د راتلونكي پيغمبر زېرى وركوي، ورته وايي: د هغه پيغمبر زېرى دركوم چې تر ما وروسته به راځي او نوم ئې احمد دئ، دلته څو خبرې د جدي پام وړ دي: ١- د مخكيني پيغمبر نوم نه يادوي پر ځاى ئې د هغه كتاب يادونه كوي چې د هغه په لاس لېږل شوى خو د وروستني نوم يادوي، دا ځكه چې د مخكيني په اړه اساسي او د اهميت وړ موضوع هغه كتاب دئ چې دى ئې راوړونكى وو، له موسى عليه السلام يوازې تورات په ميراث پاته وو، د تورات تصديق په حقيقت كې د هغه تصديق هم وو، خو د وروستي پيغمبر قضيه تر مخكيني توپير لري، خلك بايد لومړى پر پيغمبر ايمان ته چمتو شي بيا به په هغه كتاب ايمان راوړي چې د ده په لاس به لېږل كېږي، پر پيغمبر ايمان پر كتاب ايمان راوړلو ته لار آواروي. د مخكيني مشرتابه تصديق او د راتلونكي مشرتابه منلو ته خلك چمتو كول هغه څه دي چې يو

مسلمان زعیم له نورو بېلوي، د غیراسلامي ټولني زعامت داسي وي چې مخکیني محکوموي او هغه ځپي چې په راتلونکي که به د دوی احتمالي ځای ناستي وي، د مخکیني په اړه وایي: ټولې ستونزې له هغه په میراث راته پاته دي او د ټولو ناخوالو مسئولیت د مخکیني مشرتابه په غاړه دئ، د دې لپاره چې د ولس توجه د ځان لوري ته راواړوي باید مخکینی زعامت وغندي؛ او هغه څوك په خپلې خوا کې نه پرېږدي او د ودي مجال او فرصت نه ورکوي چې دی ئې د ځان رقیب او ځای ناستی ګڼي. د دې خبرې په اهمیت هغه څوك ښه پوهېږي چې د تاریخ پاڼې واړوي او د غیر اسلامي ټولنو د زعماوو تر منځ خونړي رقابتونه له نظره تېر کړي، وبه ګوري چې د اقتدار تر لاسه کولو په خونړۍ لوبې کې زوی پلار وژلی، پلار زوی، ورور ورور، شاګرد استاد او استاد شاګرد، د ځینو سترګې ایستل شوې، ځینې په زندانونه کې وراسته شوي، ځینې تبعید شوي، د ځینو ټوله کورنۍ وژل شوې!! د بایبل وینا ده چې یوه پاچا د اویا پاچایانو د لاسونو او پښو ګوټې قطع کړې وې او په پای کې له ده سره همدا کار وشو!! تر دوو پېړیو وړاندي د غربي ټولنې په هر هېواد کې د اقتدار لاس ته راوړلو پر سر د لکونو انسانانو وینې توی شوې، وروستي نړیوال دوه جنګونه ئې دوه ستري بېلګې دي چې څو ملیونه انسانان په کې ووژل شول او ګڼ شمېر ښارونه په کې ویران شول، فقط شاوخوا دوه پېړۍ کېږي چې د اقتدار د انتقال لړۍ خپله مخکینۍ خونړۍ بڼه بدله کړه او خپل ځای ئې د احزابو تر منځ انتخاباتي سیالیو ته پرېښود.

- عیسی علیه السلام تر ځان وروسته د راتلونکي پیغمبر زېرى ورکوي، ورته وایي: د هغه پیغمبر زېرى درکوم چې تر ما وروسته به راځي او نوم ئې احمد دئ، د آیت له فحوی معلومېږي چې دا زیرى هم په تورات کې راغلی او هم په انجیل کې، طبیعي ده چې (احمد) عربي نوم دئ او تورات او انجیل په عبراني ژبې کې ول، نو هلته به د رسول الله صلی الله علیه و سلم نوم په داسي عبراني صیغه راغلی وي چې په عربي کې ئې ژباړه احمد ده، ځینو درنو مفسرینو دا هڅه کړې چې په بایبل کې دا زېرى او دا نوم ومومي، البته په بایبل کې د داسي یوه پیغمبر یادونه شوې چې تر قیامت وړاندي به راځي، د بني اسرائیلو په وروڼو کې به مبعوث کېږي، د ده رسالت به تر قیامت دوام کوي، حقیقت دا دئ چې د اصلي تورات او انجیل چې په عبراني ژبې وو هیڅ څه نه دي پاته شوي، دا اوسنی بایبل چې د تورات او انجیل مجموعه ګڼل کېږي تر عیسی علیه السلام ډېر وروسته، د رومي واکمنو په امر او په یوناني ژبې لیکل شوی، په دې کې ډېر څه شته خو هغه څه چې نشته هغه په خپله تورات او انجیل دي، څوك چې بایبل په دقت سره ولولي نو په ټول بایبل کې به نه

يوازې د الله تعالى کلام ته ورته کلام ونه مومي بلکې ډېرى برخې به ئې د دين، عقل او علم خلاف وومي، د اناجيلو تر نامه لاندې چې څه په بايبل کې راغلي ټول ئې داسې ليکني دي چې د عيسى عليه السلام حواريونو ته منسوب شوې او په حقيقت کې دا انجيل نه بلکې د عيسى عليه السلام شجره ده چې چا ليکلې او د عيسى عليه السلام ملګرو ته ئې منسوب کړې، د بايبل دوهمه برخه د عهد جديد په نامه يادە شوې، همدا د اناجيلو مجموعه او د عيسى عليه السلام شجره ده، بايبل د عهد جديد په سر او پای کې د پولس خطونه رااخيستي چې شيي بايبل څومره د پولس نظرياتو ته اهميت ورکوي، د عهد جديد زياته برخه د پولس هغه ليکونه دي چې د کليساوو د مشرانو په نامه ئې ليږلي. پولس د يوناني مذهب او فلسفې معتقد وو، بهودانو ته واوښت، د مسيحيانو په ضد ئې پراخې هڅې وکړې، تل ئې دا هڅه کوله چې يهودي مشران او رومي چارواکي د عيسى عليه السلام د پلويانو په خلاف جدي، شديد او پراخ غبرګون ته چمتو کړي، له يهودي مشرانو ئې داسې احکام تر لاسه کول چې رومي چارواکي د مسيحيانو په نيولو، وژلو او تعذيبولو کې د ده مرسته وکړي، پولس د اورشليم له مذهبي مشرانو او کاهنانو دا اجازه تر لاسه کړې وه چې دمشق ته ولاړ شي، تکړه تکړه مسيحيان ونيسي او دوی ته ئې راورسوي، د لاري په نيمايي کې ئې دا پربکړه وکړه چې د دوست تر نامه لاندې او د يوه مسيحي په توګه د عيسى عليه السلام او د ده د دعوت ښه مقابله کولی شي، نو نه يوازې مسيحي شو بلکې د دې مذهب يو جدي مبلغ ترې جوړ شو او حتى د پيغمبرۍ دعوى ئې وکړه، په ډېرې زيرکۍ ئې انجيل مسخ کړ.

بني اسرائيلو د هغو سترو سترو بريدونو په ترڅ کې خپل ټول مذهبي کتابونه له لاسه ورکړي چې کله د روميانو له لوري د دوی پر سيمو شوې او کله د فارس له لوري، دوی ته په خپلې مورنۍ ژبې هيڅ مخکينى مذهبي کتاب نه دئ پاته شوى، بايبل ئې له يوناني ژبې ژباړل شوى، په دې سر تر پای تحريف شوو کتابونو کې دا ټول چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه زبرى به چېرې او په کومو الفاظو راغلى وي بې ګټې هڅه ده، ما په دې طمعې او هيلې بايبل پرانيزو او د هغه مطالعه مې پيل کړه چې په تورات او انجيل کې د يهودانو او مسيحيانو له لوري شوي تحريفونه به د قرآن په رڼا کې په ګوته کړم، هره پاڼه مې په همدې طمعې اړولې چې که په مخکينۍ کې مې الهي کلام تر سترګو نه شو، ښايي په دې پاڼې کې به ئې وومم او که په دې کتاب او رسالې کې مې ونه ليدو په نورو کې به ئې وګورم، خو ما بايبل پای ته ورساوو پرته له دې چې زما آرمان تر سره شي، باور وکړئ ما په ټول بايبل کې د الله تعالى د مبارك کلام دومره څه هم ونه موندل لکه يوازې په آيت

الکرسي او یا د فاتحې د سورې په اوو آیتونو کې چې راغلي. بایبل په اصل کې د بې بنسټه روایاتو داسي مجموعه ده چې له عیسی علیه السلام ډېر وروسته د بېلابېلو لیکوالانو په لاس لیکل شوي، زیاتې برخې ئې د بني اسرائیلو د قوم د شجرې، نسب او تاریخ په اړه بحث کوي، یوه لویه برخه ئې د داسي قصو مجموعه ده چې د هر هوښیار او عاقل انسان له نظره مسخره او خیالي ناولونو ته ورته بریښي، یوه برخه ئې داسي وړاندوینې دي چې تر اوسه ئې هیڅ یوه سمه او صحیح ونه ختله، ډېره لږه برخه ئې احکام دي چې په دې کې هم تر هر څه زیات د بني اسرائیلو د معبد د څرنګوالي او د قربانۍ د وړاندې کولو طریقې ښودل شوي. ما ته د تحقیق په دوران کې ثابته شوه چې قرآن کریم د دې کتاب نژدې په سلو کې د پنځه نوي برخو تردید او د پنځو تصحیح کوي.

د آیت په پای کې ویل شوي: نو کله چې له څرګندو نښو سره ورغی وئې ویل: دا څرګند جادو یا څرګنده دوکه ده. یعني کله چې همغه پیغمبر چې عیسی علیه السلام ئې د راتلو زېرې ورکړې وو دوی ته ورغی د دې پر ځای چې ایمان پرې راوړي هغه ئې تکذیب کړ او هغه څرګندې نښې ئې کوډې وګڼلې چې د ده په لاس وروړاندې شوې وې، ځینو درنو مفسرینو داسي انګېرلې چې دلته په (فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٞ) سره؛ عیسی علیه السلام ته اشاره شوې، خو دا تعبیر ناسم دئ او د آیت له سیاق سره اړخ نه لګوي.

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُوَ يُدۡعَىٰٓ إِلَى ٱلۡإِسۡلَٰمِۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٧

۷- او تر هغه به زیات ظالم څوك وي چې پر الله دروغجنه افتراء کوي په داسي حال کې چې دی د اسلام لوري ته بلل کېږي؛ او الله داسي ظالم وګڼي نه هدایتوي.

---

(۷)- دا مبارك آیت هغه څوك تر ټولو لوی ظالم بولي چې د الله کلام او د هغه پیغمبر تکذیب کړي، هغه څرګند دلائل چې د ده په وړاندې ابښودل شوي نه یوازي نه مني بلکې دوکه ئې ګڼي، په داسي حال کې چې له ده یوازي دا غوښتل شوي چې د خپل رب په وړاندې د تسلیم او انقیاد لار غوره کړه، دا د الله تعالی ثابت سنت دئ چې داسي ظالمان نه هدایتوي، د دوی ظلم د دې باعث شوی چې د هدایت دروازه ئې پر مخ وټرل شي.

يُرِيدُونَ لِيُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٨

۸- غواړي په خپلو خولو سره د الله نور له منځه یوسي په داسي حال کې چې الله د خپل نور بشپړوونکی دئ که څه هم کافران کرکه ولري.

(۸)- په دې مبارك آیت کې د معاندینو او مخالفینو هغو تبلیغاتو ته اشاره شوې چې د حق دین په خلاف ئې کوي، له یوې خوا دوی ته ویل شوي چې ستاسو تبلیغات به هیڅکله د هغې رڼا مخه دپ نه کړي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې مشعل په لاس کې نیولی، له بلې خوا مؤمنانو ته اطمئنان ورکوي چې د دښمن تبلیغات هیڅکله د دې دین د خورېدو مخه نه شي نیولی، ډاډه اوسئ چې د دوی هلي ځلي به هدر کېږي او دا نور به نړۍ روښانه کوي، که څه هم کافران له دې کرکه ولري او خپل ټول توان طاقت د دې لپاره وکاروي چې د خورېدو مخه ئې ونیسي. د دښمن مبلغین هغه چا ته ورته دي چې غواړي د خولې په پوکې سره د الله تعالی له لورې لېږل شوې رڼا تته او دپه کړي، که کوم لېونې د لمر له رڼا تنګ شي، په غصې سره مخ وروړوي او هڅه وکړي چې په خپل پوکې سره دا رڼا مړه کړي او ځان تري وژغوري؛ آیا څه به په لاس ورشي؟ تر دې لیونې د هغه چا هڅه لازیاته بېهوده او بې حاصله ده چې په خپلو بېهوده او چټې تبلیغاتو سره غواړي د حق دین د ستړي او زوروري رڼا د خورېدو مخنیوی وکړي، د دین رڼا د لمر تر رڼا ډېره اغېزمنه ده، لمر د خلکو سترګو ته دا توان ورکوي چې شیان وګوري او د دین رڼا د خلکو زړونو ته دا ځلا ورکوي چې هر څه وپېژني.

هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٩

۹- دی هغه ذات دئ چې خپل پیغمبر ئې له هدایت او حق دین سره لېږلی چې پر ټولو دینونو ئې غالب کړي که څه هم مشرکین کرکه ولري.

(۹)- دا آیت مور ته وایي: پیغمبر علیه السلام له دوو شیانو سره راغلی: (حق دین) او (هدایت)، یعني هغه هم (قانون) راوړی او هم (تګلاره)، هغه مور ته وایي: د اسلامي ټولني په فردي او اجتماعي برخو کې به کوم (قانون) حاکم وي او د دې ټولني د جوړولو لپاره به کومه (تګلاره) غوره کوو. په پیغمبرانو باندې د ایمان تقاضا دا ده چې مور به د خپل فردي او اجتماعي ژوند په ټولو اړخونو کې، اهداف او اهدافو ته د رسېدلو تګلاره، د پیغمبر په دعوت او سنت کې لټوو، له خپلې خوا او په خپله خوښه به نه اهداف ټاکو او نه اهدافو ته د رسېدلو تګلاري او کړنلاري، بلکې د دواړو په اړه به د پیغمبر علیه السلام

سنت او لارښوونو ته رجوع کوو.

ځيني کسان داسي دي چې که اهداف له دين اخلي، نو هدف ته د رسېدو طريقه او تګلاره په خپله خوښه ټاکي، ګمان کوي چې په دې برخه کې انسان ته کاملاً آزادي ورکړی شوې او په څه قيد او شرط ملزم او مکلف نه دئ، کوڵ شي په خپلو خاصو ظروفو او شرائطو کې څنګه چې ئې زړه غواړي عمل وکړي او د خپل تشخيص او درک په رڼا کې چې څه کول غواړي هغه وکړي او چې کومه تګلاره غوره ګڼي اختيار ئې کړي، هر څه کول ځان ته جائز ګڼي، حال دا چې مسلمان مکلف دئ د شرعي او نېکو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره نېکې او شرعي وسيلې اختيار کړي، نه ناجائزې وسيلې او هر هغه څه چې د ده زړه ئې غواړي.

همدا راز دا آيت مورِ ته وايي: د پيغمبر عليه السلام په لاس لېږل شوی لارښود حقيقي دين نه له نورو اديانو سره د روغې جوړې لپاره راغلی او نه د دې لپاره چې دنيا له نورو اديانو سره ووېشي، چې په يوه برخه ئې دا دين حاکم وي او په نورو برخو کې نور اديان، د دې لپاره هم نه دئ راغلی چې د انسان ژوند له نورو اديانو سره ووېشي چې د ژوند په ځينو اړخونو دا دين حاکم وي او په نورو ابعادو کې ئې نور اديان، بلکې دا دين راغلی چې پر ټولو نورو اديانو غالب شي، که څه هم مشرک عناصر له دې کرکه ولري، مشرک عناصر يا هغه دي چې اديان سره خلطوي، څه برخه له يوه دين اخلي او څه له بل، اهداف په دين کې لټوي خو تګلاره په خپله خوښه او د خپل ذهن او تصور مطابق ټاکي؛ او يا هغه چې په الوهيت او ربوبيت کې له الله جل شانه سره بل څوک شريکوي، که څه هم دا مشرکين له دې کرکه لري چې د الله دين دي پر ټولو اديانو غالب شي، پر ټولې نړۍ او د ژوند پر ټولو برخو دي يوازي دا دين حاکم وي، خو د الله جل شأنه فيصله دا ده چې دا دين به په ټوله زمکه او په ټولو اديانو غالبوي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ تِجَٰرَةٖ تُنجِيكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ١٠ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ١١ يَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡ وَيُدۡخِلۡكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٢ وَأُخۡرَىٰ تُحِبُّونَهَاۖ نَصۡرٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَتۡحٞ قَرِيبٞۗ وَبَشِّرِ

ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣﴾

۱۰- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! آیا هغه تجارت دروښیم چې له دردناك عذاب مو ژغوري، ۱۱- پر الله او د ده پر پیغمبر ایمان ولرئ او په خپل مال او نفس سره د الله په لار کې جهاد وکړئ، همدا درته غوره دئ که وپوهېږئ، ۱۲- ګناهونه به مو درته وبخښي او داسي جنتونو ته به مو ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهېږي؛ او په تلپاته جنتونو کې پاکیزه استوګنځي، همدا ستره بریا ده، ۱۳- او هغه بل چې تاسو ئې خوښوئ: د الله مرسته او نژدې فتح، مؤمنانو ته زېرى ورکړه.

(۱۰-۱۳)- په دې مبارکو آیتونو کې دا لارښوونې ځلېږي:

مؤمنانو ته ویل شوي: آیا هغه تجارت دروښیم چې له دردناك عذاب مو ژغوري، پر الله او د ده پر پیغمبر ایمان ولرئ او په خپل مال او نفس سره د الله په لار کې جهاد وکړئ، همدا درته غوره دئ که وپوهېږئ، دلته د دنیا او آخرت له دردناك عذاب نجات او ژغورنه په څو خبرو پورې مربوطه ګڼل شوې: پر الله او د ده پر پیغمبر ایمان؛ او په خپل مال او نفس سره د الله په لار کې جهاد، د دې ځلاندي وینا په وړاندي باید توقف وکړو او وګورو چې ولې د دنیا او آخرت له دردناك عذاب ژغورنه یوازې په دغو څلورو خبرو پورې تړل شوې، ولې د نورو مهمو مهمو اعتقادي او عملي امورو یادونه نه ده شوې او همدا څلور کافي ګڼل شوي، حقیقت دا دئ چې پر الله او د هغه پر پیغمبر ایمان د ایمان د ستري مانۍ دوه لوړې څوکې دي او د الله په لار کې په خپل مال او نفس جهاد د عباداتو د ستري مانۍ دوه لوړې څوکې دي، همدا د ایمان او اعتقاد نورې ټولې برخې احتواء کوي، همدا راز له دې آیت په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي چې له جهاد پرته له نورو لارو؛ نه د دنیا له دردناك عذاب ژغورنه تر لاسه کولی شو او نه د آخرت له دردناك عذاب، څوك چې له بلې لارې د ژغورنې، بریا او سعادت لټه کوي دوکه شوی او د قرآن له لارښوونو بې خبر دئ. دا مطلب د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې راغلی، لکه دا:

إِنَّ ٱللَّهَ ٱشْتَرَىٰ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلْجَنَّةَ ۚ يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ وَٱلْقُرْءَانِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِ ۚ فَٱسْتَبْشِرُوا۟ بِبَيْعِكُمُ ٱلَّذِى بَايَعْتُم بِهِۦ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿١١١﴾ التوبه

بې شکه چې الله له مؤمنانو د دوی سرونه او مالونه اخیستي دي، د دی لپاره چې جنت به ئې په برخه کېږی، نو دوی د الله په لار کې جنګېږي، وژني او وژل کېږي، رښتینې وعده

چې په تورات، انجيل او قرآن کې ئې پر ځان (منلې ده)؛ او تر الله به څوک په خپلې وعدې ډېر وفا کوونکی وي؟ نو پر خپل هغه پېر پلور خوښ اوسئ چې تر سره کړی مو دئ؛ او همدا ستره بريا ده.

دلته د الله تعالی په لار کې خپل سر او مال قرباني کول داسې ښودل شوي لکه چې مؤمنان خپل مال او نفس د جنت په بدل کې پر خپل رب پلوري، يعني که له الله تعالی جنت غواړې نو پوه شه چې د دې جنت بيع ستا سر او مال دئ، په هغه ورځ چې تا پر الله تعالی ايمان راوړی د جنت په مقابل کې دي خپل سر او مال پر خپل رب پلورلې، جنت ته د ننوتو سند به هغه مهال تر لاسه کوې چې له الله تعالی سره د پېر پلور په دغې معاملې او ژمنې عمل وکړې، دلته د دغه پېر پلور او تجارت تقاضاوي په دې توګه ښودل شوې: ۱- دوی د الله په لار کې جنګېږي، ۲- د الله دښمنان وژني، ۳- او د الله د دښمنانو په لاس وژل کېږي.

دا هغه حقيقي الهي ژمنه ده چې په تورات، انجيل او قرآن کې ئې يادونه شوې، څوک به تر الله تعالی په خپلې ژمنې ډېر وفا کوونکی وي؟ نو پر خپل هغه پېر پلور خوښ اوسئ چې تر سره کړی مو دئ؛ او همدا ستره بريا ده.

ته بايد د دې معاملې او پېر پلور له مخې داسې وګڼې لکه چې د الله تعالی له لورې يو پېرل شوی مړی يې، ستا لپاره الله تعالی همدغه د عبد (مريي) نوم غوره کړی، د دغې معاملې او نومونې له مخې نور ته د خپل نفس او مال خاوند نه يې، ستا نفس او مال په حقيقت کې له تا سره د الله تعالی امانتونه دي.

دا روايت د جهاد مقام او منزلت داسې انځوروي:

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ، قَالَ : أَقْبَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ ، فَلَمَّا رَأَيْته خَالِيًا قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ، أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ ، فقَالَ : بَخٍ ، لَقَدْ سَأَلْت عَنْ عَظِيمٍ ، وَهُوَ يَسِيرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ : تُقِيمُ الصَّلاةَ الْمَكْتُوبَةَ وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ وَتَلْقَى اللَّهَ لاَ تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا ، أَوَلا أَدُلُّك عَلَى رَأْسِ الأَمْرِ وَعَمُودِهِ وَذِرْوَةِ سَنَامِهِ ؟ فَالْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ. مصنف ابن ابی شيبه

له معاذ بن جبل رضی الله عنه روايت دئ چې وايي: له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د تبوک له غزوې راګرځېدو، کله چې مي هغه يوازي وموند ومي ويل: يا رسول الله! له داسې عمله مي خبر کړه چې جنت ته مي داخل کړي، وئې فرمايل: يقيناً چې د ستر شي پوښتنه دي وکړه، خو هغه چا ته آسانه دئ چې الله ئې ورته آسان کړي: فرض لمونځونه

کوه، فرض زکات ورکوه؛ او له الله سره داسي مخامخ کېږه چې هیڅ څه دي نه وي ورسره شریك کړي؛ او آیا د دې کار له سر؛ او ستني او د لوړي له څوکې دي خبر نه کړم؟ چې هغه د الله په لار کې جهاد دئ.

یعني جهاد د اسلام د بدن سر، د اسلام د مانۍ اساسي ستنه او د لوړي څوکه ئې ده.

د دې ایمان او جهاد له کبله به الله تعالی ۱- ستاسو ګناهونه درته وبخښي، ۲- داسي جنت ته به مو ننباسي چې ترې لاندي ئې ویالې بهېږي، ۳- په تلپاتي جنتونو کې به پاکیزه استوګنځي درپه برخه کړي، د الهي معیارونو له مخي همدا ستره بریا ده، ٤- او هغه بل څه به هم درپه برخه کړي چې تاسو ئې خوښوئ: د الله مرسته او نژدې فتح، مؤمنانو ته د دې زېرې ورکړه.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُوٓاْ أَنصَارَ ٱللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ لِلۡحَوَارِيِّـۧنَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ ٱللَّهِۖ فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٞ مِّنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَكَفَرَت طَّآئِفَةٞۖ فَأَيَّدۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَىٰ عَدُوِّهِمۡ فَأَصۡبَحُواْ ظَٰهِرِينَ ١٤

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! د الله انصار شئ، همغسي لکه چې د مریمې زوی عیسی حواریونو ته وویل: څوك مي د الله لوري ته مله دي؟ حواریونو وویل: موږ د الله انصار یو، نو د بني اسرائیلو یوې ډلې ایمان راوړ او بلې ډلې کفر وکړ، نو هغه مو د خپلو دښمنانو په خلاف تأیید کړل چې ایمان ئې راوړی وو، نو دوی غالب شول.

---

(١٤)- دلته مؤمنانو ته په خطاب کې ویل شوي:

- د الله تعالی داسي انصار شئ لکه چې د عیسی علیه السلام حواریونو د هغه ملتیا وکړه، هغه مهال چې ده ورته وویل: څوك مي د الله په لوري ملګرتیا کوي، هغوی په ځواب کې ورته وویل: موږ د الله انصار یو، دلته څو خبري توجه غواړي: مؤمنانو ته ویل شوي چې د خپل پیغمبر داسي ملتیا وکړئ لکه چې د عیسی علیه السلام حواریونو د هغه ملتیا وکړه، د دې معنی دا ده چې عیسی علیه السلام او د ده نژدې ملګرو جهاد کړی، دا جهاد په مال او نفس جهاد وو، ځکه په همدې لړ کې او د یوې تاریخي بېلګې په توګه د هغه یادونه شوې، متأسفانه ځینې د محرف بایبل د غلطو ویناوو تر اغېز لاندي د عیسی علیه السلام په اړه داسي څه وایي چې ګواکې هغه نه یوازي کوم جهاد نه دئ کړی بلکې

خپلو پلويانو ته ئې ويلي: که چا د مخ په ښي لوري څپېړه درکړه نو کين لوری هم وروارړوه!! بايبل وايي چې عيسی عليه السلام وويل: ويل شوي: که چا د بل سترګه ورړنده کړه سترګه به ئې ورړندېږي؛ او که چا د بل غاښ مات کړ غاښ به ئې ماتېږي، خو زه وايم: که چا تيری درباندي وکړ مقابله ئې مه کوه، حتی که په ښي مخ ئې څپېړه درکړه کين مخ هم وروارړوه، که چا غوښتل د دې لپاره دي محکمې ته بوځي چې کميس دي درنه واخلي خپله عبا هم ورکړه، که يو رومي عسکر درته ووايي چې دا بار تر يوه ميله يوسه ته ئې تر دوه ميله ورسره يوسه!! تاسو اورېدلي چې له دوستانو سره دوست اوسه او له دښمنانو سره دښمن، خو زه درته وايم: له خپلو دښمنانو سره مينه وکړئ!!

دا ويناوي قطعاً له ديني لارښوونو سره اړخ نه لګوي، ظلم ته تسليمېدل او تېري ته غاړه اېښودل، نه يوازي له الهي لارښوونو سره سمون نه خوري، بلکي له هغو فطري غوښتنو سره هم اړخ نه لګوي چې الله تعالی د ټولو ژوو په خټه کې اېښي، له خپل ځان دفاع او د تېري مقابله کول يو فطري او د ژوند د بقاء لپاره يو ضروري عنصر دئ، الله تعالی هيڅکله انسان په داسي کار نه ګماري چې د ده د جبلت او فطرت خلاف وي، له دې علاوه هغه څوک چې ظلم ته غاړه ږدي او ظالم ته سر ټيټوي، نه يوازي په خپل ځان ظلم کوي او ظالم ته جسارت ورکوي، بلکي په نورو هم ظلم کوي، ده ظالم ته دا جرأت ورکړ چې په نورو هم تېری وکړي.

آيا د چا عقل دا خبره مني چې د عيسی عليه السلام په څېر يو عظيم لارښود، مرشد، مصلح او د شرك، ظلم او بې عدالتۍ په ضد لېږل شوي ستر پيغمبر به خلکو ته ويلي وي چې د رومي بې رحمو عسکرو په وړاندي داسي منقاد او مطيع اوسئ چې که درته وئې ويل: دا بار تر يوه ميله يوسه ته ئې تر دوه ميله ورسره يوسه!! دا خبره خو له سرکاري مفتيانو او د ظالمانو په خدمت کې بوخت دين پلورونکو ملايانو سره ښايي نه له پيغمبرانو عليهم السلام سره!! راشئ وګورئ چې زمور ګران پيغمبر عليه السلام په دې اړه څه فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَرَأَيْتَ إِنْ جَاءَ رَجُلٌ يُرِيدُ أَخْذَ مَالِي؟ قَالَ: "فَلَا تُعْطِهِ مَالَكَ" قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَاتَلَنِي؟ قَالَ: "قَاتِلْهُ" قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلَنِي؟ قَالَ: "فَأَنْتَ شَهِيدٌ"، قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلْتُهُ؟ قَالَ: "هُوَ فِي النَّارِ" صحيح مسلم

له ابو هريره روايت دئ چې وايي: يو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او

وئې ویل: یا رسول الله! د هغه چا په اړه څه مشوره راکوې چې راشي او زما مال رانه اخلي؟ وئې فرمایل: خپل مال مه ورکوه، وئې ویل: که جګړه ئې راسره کوله؟ وئې فرمایل: ورسره وجنګېږه، وئې ویل: که ئې ووژلم؟ وئې فرمایل: نو ته به شهید وې، وئې ویل: که مي هغه ووژلو؟ وئې فرمایل: هغه به په اور کې وي.

زمونږ ایمان او عقل خو دا خبره نه مني چې زمونږ د پیغمبر علیه السلام د ورور عیسی علیه السلام خبره به دې ته ورته نه وه او له دې پرته به بل څه وه.

دلته له دښمنانو سره دوستي او مینه کول په داسي عامه صیغه ذکر شوي چې لازم دقت نه دې په کې مراعات شوی، ټول دښمنان یو شانته نه دي، له ټولو سره ورته معامله نه شي کېدی، ځیني دښمنان داسي دي چې له هغوی سره دوستي کول له الله تعالی سره د دښمني کولو په معنی ده، د خدای او د هغه د دین له دښمنانو سره دوستي کول د ایمان منافي او د الله تعالی د غضب وړ کار دئ، د منافق، مفسد او فاسق احترام کول او له هغوی سره دوستي پالل هغه کار دئ چې هیڅ پیغمبر او هیڅ الهي کتاب ئې سپارښتنه نه کوي!!

د بایبل له یوې وینا هم معلومېږي چې عیسی علیه السلام له خپلو ملګرو سره یوه ځنګله ته پناه وړي، خو بایبل دې ته د تېښتي او له دښمن د پټېدو رنګ ورکړی او داسي ئې ښودلې چې عیسی علیه السلام دا مهال سخت پرېشان وو او له ډېري پرېشانۍ ئې هیڅ خوب نه وو کړی!! بایبل لیکي: بیا عیسی دوی یوه ځنګله ته راوستل او ورته وئې ویل: کښېنئ، منتظر اوسئ، زه ځم چې دعاء وکړم، پطرس او د زیدي دوه زامن، یعقوب او یوحنا ئې له ځان سره روان کړل، .. او ورته وئې ویل: زه د ډېر غم او اندېښنې په وجه د مرګ په درشل کې یم، تاسو دلته پاته شئ او له ما سره ویښ اوسئ، بیا لږ لرې ولاړ، پر زمکه پرېوت او دا دعاء ئې وکړه: پلاره (خدایه)! که ممکن وي دا د کړاو او عذاب جام رانه لرې کړه، خو نه زما په غوښتنه بلکې ستا په غوښتنه! بیا دغو دریو کسانو ته راستون شو او وئې لیدل چې ویده دي، غږ ئې کړ: پطرسه! یو ساعت هم ونه توانېدې چې له ما سره ویښ پاته شې او دعاء وکړې... بیا ئې دوی پرېښودل او ولاړ؛ داسي دعاء ئې وکړه: که زما له مخي د دې جام لرې کول ممکن نه وي نو زه ئې څښم، څه چې ته غواړې همغسي دي وشي، چې راستون شو وئې لیدل چې دوی بیا ویده شوي، بېرته ولاړ او هغه دعاء ئې تکرار کړه، ... ورپسې لیکي: په دې وخت کې یهودا له ډېرو نورو سره چې توري، دُرې او لرګي ئې په لاس کې وو راورسېدل، ... خائن شاګرد نورو ته ویلي وو: څوک چې مي ښکل کړ، همغه عیسی دئ وئې نیسئ، نو یهودا مخامخ عیسی ته ورغی او وئې ویل: استاده!

سلام او هغه ئې ښکل کړ، یوه شاګرد توره راوایسته د ستر کاهن د غلام غوږ ئې په یوه ګوزار ترې غوڅ کړ، خو عیسی ورته وویل: توره دې په تېکې کې کړه، څوك چې توره راوباسي په توري وژل کېږي، زه کولی شم له خپل پلار وغواړم چې زر فرشتې مي مرستې ته راولېږي، خو که دا کار وکړم نو د آسماني کتاب خبره به څنګه رښتینې کېږي ... له راغلو سړو سره د خبرو په مهال ټول ملګري ترې وتښتېدل، ... دی ئې د ستر کاهن ځای ته ورووست، ستر کاهن غوښتل چې څوك د عیسی په خلاف شهادت ورکړي، خو په دې موفق نه شو، بیا ئې ده ته وویل: د ژوندي خدای په نامه لوړه درکوم چې آیا ته مسیح د خدای زوی یې که نه؟ عیسی ځواب ورکړ: هو، یم، یوه ورځ به ما وګورئ چې د خدای په ښۍ خوا کې ناست یم او د آسمان په وریځو کې زمکې ته راکوزېږم!! ناڅاپه ستر کاهن خپل ګرېوان څیرې کړ او وئې ویل: کافر شو، کافر شو، نور نو شاهد ته څه ضرورت لرو، ... فیصله مو څه ده؟ ټولو ورسره چیغې کړې، مرګ، مرګ!! چا ئې پر مخ لاړې ورتو کړې او چا په څپېړو وواهو... سبا ئې وپتېله چې د روم حکومتي مقاماتو ته ئې وسپاري، نو عیسی ئې لاس تړلی پیلاطوس ته وسپارو...

دلته دوه خبرې توجه غواړي: عیسی علیه السلام ځنګله ته پناه وړې او له یوه ملګري سره ئې توره وه او په یوه ګوزار ئې د یوه کاهن د غلام غوږ غوڅ کړ، د بایبل په پورتنیو ویناوو کې یوازې دغه دوه خبرې رښتیا ګڼلی شو؛ او دا همغه څه دي چې قرآن دلته د عیسی علیه السلام د جهاد په اړه کړې دي.

په آیت کې د الله د لارې مجاهدینو ته د انصار الله نوم ورکړی شوی، ځینې داسې انګېرې چې دلته په انصار الله کې د دین لفظ مقدر دئ، ګواکې اصل ئې (انصار دین الله) دئ!! استدلال ئې دا دئ چې الله تعالی انصارو ته اړ نه دئ!! خو دا یوه بې ځایه واهمه او ناسم تصرف دئ، الله تعالی د خپلې لارې مجاهدینو ته همدا ښکلی نوم غوره کړی، په دې سره مؤمنانو ته ویل شوي چې دا د حق دښمنان په اصل کې له الله تعالی سره جنګېږي، له دوی سره ستاسو جنګ داسې دئ لکه چې د الله تعالی ملتیا کوئ، تاسو د الله تعالی د جند سرتېرې او عسکر یئ، د الله جند غالب او منصور دئ، ستاسو غلبه یقیني ده، هیڅوك نه شي کولی له الله تعالی سره مقابله وکړي او په دې مقابلې کې غالب شي.

ورپسې فقره هم د دغه مطلب تأیید کوي او وایي: یوې ډلې ایمان راوړ او د عیسی علیه السلام ملګرتیا ئې وکړه او بلې ډلې د کفر لار غوره کړه، د دوی تر منځ د مقابلې پایله دا وه چې الله تعالی د مؤمنانو مرسته وکړه او پر خپلو دښمنانو ئې هغوی ته غلبه او بریا ورپه برخه کړه، د دې معنی دا ده چې د عیسی علیه السلام د ملګرو او د ده د مخالفینو

او دښمنانو تر منځ سخته مقابله رامنځته شوې، الله تعالى د مؤمنانو مرسته کړې او پر دښمنانو ئې دوی غالب کړي. زمکني حقائق او تاريخي شواهد هم گواهي ورکوي چې مسيحيت د نړۍ په پراخي برخي کې خور شو او يهوديت په يوې وړې قبيلې کې محدود پاته شو.

د آيت دا فقره هم خاصه توجه غواړي چې وايي: يوې ډلې ايمان راوړ، حال دا چې دې ډلې تر دې وړاندي ايمان راوړی وو او عيسى عليه السلام ته ئې ويلي وو چې موږ د الله انصار يو!! آيا پر دوی سربېره نورو ايمان راوړی او که په عملي توگه د عيسى عليه السلام ملگرتيا په رښتيني توگه د ايمان راوړلو په معنى راغلي؟ له الفاظو داسې معلومېږي چې همدا دوهم تعبير دقيق دئ، يو په ژبه د ايمان اظهار دئ او بل په عمل کې د ايمان له غوښتني سره سم عمل کول دي، رښتينى ايمان دغه دئ او په آيت کې همدې ته اشاره شوې.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الجمعه

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الجمعه) دئ چې د سورې له نهم آيت اخيستل شوی، ۱۱ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (الحکيم)؛ او د اتم آيت (تعملون) ته ورته دي، دې ته بايد متوجه وو چې د (مبين) او (الظالمين) په څېر صيغې د غږ له پلوه (الحکيم) ته ورته دي، د آيتونو اوږدوالى ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په لومړيو کلونو کې نازل شوي.

ځينو درنو مفسرينو ويلي چې دا سوره له اوم هجري کال وروسته نازله شوې، د يوه داسې روايت په استناد دا خبره کوي چې ابو هريره رضى الله عنه ته منسوب شوی او وايي: د سورې لومړۍ برخه هغه مهال نازله شوې چې ابو هريره رضى الله عنه له ځينو نورو سره د رسول الله صلى الله عليه و سلم په مجلس کې حاضر وو، د ابو هريره رضى الله عنه په اړه دا ثابته ده چې د حديبيې له معاهدې وروسته ئې ايمان راوړی، نو د دوی له نظره دا برخه بايد له دې وروسته او په اوم هجري کال کې نازله شوې وي، خو د سورې له دوو برخو په څرگنده توگه معلومېږي چې دا سوره د مدني دور په لومړنيو کلونو کې نازله شوې، لومړی دا چې د سورې زياته برخه يهودانو ته مختص شوې له دې په څرگنده توگه

معلومېږي چې دا سوره هغه مهال نازله شوې چې يهودان لا له مدينې نه وو ايستل شوي او د دوی مذهبي مشرانو د رسول الله صلی الله عليه و سلم او مسلمانانو په ضد تبليغات کول، دوهم دا چې په دې کې د جمعې د لمانځه په اړه لارښوونې راغلې او په دې اړه ټول متفق دي چې د جمعې لمونځ د هجرت په لومړيو ورځو کې اداء شوی. د جمعې د لمانځه يادونه په داسي توګه او په هغه آيت کې راغلې چې له مخکينيو آيتونو سره تړلی دئ، ښلول ئې د آيتونو تر منځ نظم او همغږي له منځه وړي، که دا آيت له مخکينيو ښل کړی شي نو هم مخکينی مطلب ناتمام پاته کېږي او هم دا آيت داسي برېښي چې مستقل مطلب دئ او له مخکيني سره هيڅ ارتباط نه لري، حال دا چې خبره کاملاً د دې عکس ده او دا آيت حتماً له مخکينيو سره يو ځای نازل شوی، البته د سورې آخري آيت بل وخت او تر نورو وروسته او هغه مهال نازل شوی چې يو ځل د جمعې د لمانځه پر مهال او په داسي حال کې چې رسول الله صلی الله عليه و سلم خطبه ويله، يوه تجارتي قافله راغلې، له جومات بهر شور ځوږ جوړ شوی، ځيني صحابه وتلي چې وګوري څه خبره ده، تر دې وروسته دا آيت نازل شوی او په ترڅ کې ئې پر دې حرکت کلکه نيوکه شوې.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡمَلِكِ ٱلۡقُدُّوسِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ١ هُوَ ٱلَّذِي بَعَثَ فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٢ وَءَاخَرِينَ مِنۡهُمۡ لَمَّا يَلۡحَقُواْ بِهِمۡۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٣ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٤

۱- څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي؛ ټولواك، سپېځلي، عزټمن باحکمت الله ته تسبيح وايي، ۲- دی همغه ذات دئ چې په نالوستو کې ئې د دوی له ډلې يو رسول ولېږو چې د ده آيتونه پرې ولولي، تزکيه ئې کړي او کتاب او حکمت وروښيي، په داسي حال کې چې تر دې وړاندي په څرګندي تېروتني کې ول، ۳- او د دوی نور چې لا تراوسه نه دي ورسره يوځای شوي؛ او هغه باحکمت عزټمن دئ، ٤- دا د الله فضل دئ هغه چا ته ئې ورکوي چې دی ئې وغواړي؛ او الله د ستر فضل

څښتن دئ.

(١-٤)- د دې مبارکو آيتونو لاړښوونې دا دي:

- د آسمانونو او زمکې هر څه د دې گواه او شاهد دي چې الله له هر عيب او نقص منزه، عزيز او حکيم دئ. د تسبيح معنى په پاکې اعتراف، په پاکې گواهي او شهادت او په عبادت او اطاعت کې سريع سعي او هڅه ده، نو د دې آيت مفهوم دا دئ چې د آسمانونو او زمکې هر څه د الله تعالى په سپېځلتيا او پاکې اعتراف کوي، خپل رب له هر عيب او نقص منـزه ګڼي، د حال او قال په ژبه په دې مسلم حقيقت ګواهي او شهادت ورکوي؛ او ټول په سرعت، انهماك او جديت سره په عبادت بوخت دي او د خپل رب د احکامو اطاعت او امتثال کوي.
- الله تعالى ټولواك دئ، د دې صفت تقاضا دا ده چې هغو ته احکام او هدايات ولېږي چې د ده تر واکمنۍ لاندې د ده په ملك کې اوسي، الله تعالى قدوس دئ، د دې صفت تقاضا دا ده چې د خپلو بندګانو د تزکيې، روزنې او لاړښوونې لپاره لاړښود کتاب ولېږي، الله تعالى عزټمن دئ، څوك ئې د پرېکړو په وړاندې نه شي خنډ کېدى، هيڅوك ئې وعد او وعيد نه شي تکذيبولى. الله تعالى حکيم دئ، په هري پرېکړې او لاړښوونې کې ئې حکمت مضمر دئ.
- الله تعالى هغه ذات دئ چې په نالوستو کې ئې د دوى له ډلې يو رسول ولېږو، د دوى د قوم يو غړى او د دوى په ژبر امي او نالوستى وو.
- دوى ته د دې رسول د لېږلو موخه دا وه چې د الله تعالى آيتونه پرې ولولي، تزکيه ئې کړي او کتاب او حکمت وروښيي، يعني پيغمبر د دې لپاره لېږل شوى چې د الله تعالى آيتونه خلکو ته واوروي، له شرك، فساد او بدکارۍ ئې وژغوري، د دوى ټولنه له مفاسدو او مظالمو تزکيه او پاکه کړي، د هغوى عقائد تزکيه کړي، هغوى ته کتاب وروښيي، د دې کتاب د پلي کولو او تطبيق طريقه ورزده کړي، دلته له کتابه مراد هغه احکام دي چې الله تعالى په خپل کتاب کې نازل کړي او له حکمته مراد د دې احکامو د تطبيق لاري، چاري او طريقې دي. يعني پيغمبر عليه السلام هم خلکو ته الهي احکام او د دين او دنيا اړوند ضوابط او قواعد ښيي، هم د دوى د ژوند اهداف او مقاصد وروښيي او هم دغو اهدافو ته د رسېدلو طريقې وروښيي، هم خلکو ته کتاب ښيي او هم د دې کتاب د تطبيق او عملي کولو چاري وروښيي او ټول هغه څه وروښيي چې په خپله پرې پوهېدى نه شول.
- د پيغمبر تر راتلو وړاندې خلك په ځرګندې تېروتنې کې ول، سمه لار ترې ورکه وه، په کږو لارو روان ول، نه ئې ځان پېژندو، نه جهان او نه خپل رب، نه ئې د حق او باطل تر

منځ تفکیك کولی شو، نه د ښه او بد، حلال او حرام، مفید او مضر تر منځ، په تیاره کې روان ول، نه پوهېدل له کومه راغلي او کوم لوري ته درومي، چا پیدا کړي او د څه لپاره ئې پیدا کړي.

- دا پیغمبر یوازي د خپل قوم لوري ته نه دئ لېږل شوی، مسئولیت ئې په دې کې نه راخلاصه کېږي چې یوازي د خپل دور خلکو ته لارښوونه وکړي بلکې د نورو ولسونو او د هغو لپاره هم لارښود دئ چې وروسته به راځي، تر قیامت پورې د ټولو ولسونو لپاره لارښود دئ.
- الله تعالی باحکمت عزټمن دئ، د امي او نالوستي قوم لوري ته د یوه امي او نالوستي پیغمبر په لېږلو کې خاص حکمت مضمر دئ، اهل کتاب (د کتاب خاوندان) او د دوی هغه مذهبي مشران چې ځان ته لوستي او په کتاب پوه وایي د دې الهي رسالت لپاره وړ نه وو، هغه ځانګړتیاوي په دوی کې نه لیدل کېږي چې دا درونده مسئولیت وروسپارل شي او د خپل مأموریت تر سره کولو جوګه وي، الله تعالی عزیز دئ، کولی شي د همدې نالوستي پیغمبر او نالوستي قوم په لاس خپل پیغام خلکو ته ورسوي او خپل دین غالب کړي.
- دا د الله فضل دئ؛ هغه چا ته ئې ورکوي چې دی ئې وغواړي او الله د ستر فضل څښتن دئ. الله تعالی پوهېږي چې څوك د دې الهي فضل وړ دئ چې د رسالت تاج ئې پر سر کېږدي او د الهي کتاب د حمل توفیق ورپه برخه کړي.

مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ ثُمَّ لَمۡ يَحۡمِلُوهَا كَمَثَلِ ٱلۡحِمَارِ يَحۡمِلُ أَسۡفَارَۢاۚ بِئۡسَ مَثَلُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٥

۵- د هغو مثال چې د تورات حملولو (مسئولیت) د دوی پر اوږو ږدول شوی وو؛ بیا ئې هغه حمل نه کړ؛ هغه خره ته ورته دئ چې کتابونه پر شا وړي، د هغو وګړو مثال څومره بد دئ چې د الله آیتونه ئې تکذیب کړل؛ او الله دا ظالم وګړي نه هدایتوي.

---

(۵)- په دې مبارك آیت کې نه یوازي د مخکیني مطلب لپاره یو دلیل وړاندي شوی بلکې د اهل کتاب د مذهبي مشرانو بد حالت هم انځور شوی، دغو مذهبي مشرانو به د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده د یارانو په اړه ویل: پیغمبر باید د مذهبي مشرانو له منځه غوره شوی وی، داسي څوك چې ډېر کتابونه ئې ویلي، نژدې ملګري ئې باید مذهبي مشران او په مذهبي کتابونو پوه خلك وی، نه رسالت او د خلکو لارښوونه له امي او

نالوستي سره ښايي او نه نالوستي د يوه پيغمبر د ملګرتيا او د يوه الهي کتاب د حمل وړ دي، د دوی په ځواب کې ويل شوي: مهمه دا ده چې څوك د الهي کتاب د حمل وړتيا ولري، پر کتاب د پوهېدو او پر هغه د عمل کولو تلوسه ولري، د هغو درنو مسئوليتونو قبلولو او تر سره کولو ته چمتو وي چې دا کتاب ئې د ده پر اوږو ږدي، نه هغه چې ډېر کتابونه ئې لوستلي خو عمل پرې نه کوي، نه هغه چې وايي: موږ پر تورات ايمان لرو او پر تورات پوهېږو خو د دوی په عملي ژوند، کړنو او تګلارو کې د تورات هيڅ څه نه ترسترګو کېږي، د دوی مثال هغه خره ته ورته دئ چې کتابونه پرې بار وي خو نه پوهېږي چې څه پرې بار دي، د دغو وګړو مثال څومره بد دئ چې د الله آيتونه ئې تکذيب کړل؛ او د خپل ظلم له کبله د الله تعالی له هدايت محروم شول، دوی نه د الله تعالی مخکيني کتابونه منلي او نه قرآن مني، د الله تعالی وعد او وعيد ئې دروغ ګڼلي، له همدې کبله په الهي لارښوونو عمل نه کوي.

الله تعالی ځکه د خپل کتاب د حمل لپاره يو امي پيغمبر او امي ولس غوره کړ چې (اهل کتاب) او د تورات دروغجنو حاملانو او عالمانو خپله دنده اداء نه کړی شوه، په دوی کې د دې کتاب د حمل وړتيا نشته.

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓاْ إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَآءُ لِلَّهِ مِن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ۝٦ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُۥٓ أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ۝٧ قُلْ إِنَّ ٱلْمَوْتَ ٱلَّذِى تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُۥ مُلَٰقِيكُمْۖ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٨

٦- ووايه: اې هغو چې يهودان شوي! که ګمان کوئ چې يوازې تاسو د الله دوستان يئ نه نور خلك نو د مرګ هيله وکړئ که رښتيني يئ، ۷- او د هغه څه له کبله به ئې هيڅکله هيله ونه کړي چې د دوی لاسونو وړاندي کړي؛ او الله د دغو ظالمانو پر حال ښه پوه دئ، ۸- ووايه: هغه مرګ چې ترې تښتئ نو هغه خو حتماً له تاسو سره مخامخېدونکی دئ، بيا د هغه ذات لوري ته ګرځول کېږئ چې په پټ او څرګند پوه دئ، نو په هغه څه به مو پوه کړي چې تاسو کول.

(٦-٨)- دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته څو لارښوونې شوې:

- ورته ويل شوي چې يهودانو ته ووايي: اې هغو چې يهودان شوي! که په رښتيا په دې

باور یئ چې یوازې تاسو د الله دوستان یئ نه نور خلك نو باید د الله په لار کې د شهادت تلوسه ولرئ، له مرګ وېره ونه لرئ، مرګ او ژوند د الله له لوري وګڼئ،

- دوی به هیڅکله د شهادت تمنی ونه کړي، په دوی کې د شهادت تلوسه ځپل شوې، وجه ئې د دوی بدي کړنې دي، داسې څه ئې کړي چې له کبله ئې نه د الله تعالی پېرزوینو ته طمع کولی شي او نه په بل ژوند او آخرت کې سعادت او نېکي بدلې ته، له دې الهي لارښوونې معلومېږي چې بدي کړنې په انسان کې له مرګ وېره، له الله تعالی ناهیلي او په آخرت عدم باور زېږوي.
- د دوی په اړه دا وینا د هغه الله وینا ده چې د دغو ظالمانو پر حال ښه پوه دئ،
- یهودانو سره له خپل ټول شرك، عصیان، له جهاد ډډه، د ظالمانو ملګرتیا او د پیغمبرانو او حقپالو مخالفت، داسې انګېرله او مذهبي مشرانو ئې ورته همدا ویلي وو چې جنت یوازې ستاسو لپاره پیدا شوی او تاسو د جنت لپاره، د دوی په ځواب کې ویل شوي: که داسې وي نو تاسو خو باید له مرګ نه وېرېدی او د الله په لار کې د شهادت تلوسه مو په زړونو کې نه وی مړه شوې، دا ولې له مرګ وېرېږئ؟ دا ولې ستاسو هیڅ مذهبي مشر په سنګر کې نه دئ لیدل شوی؟ ولې مو تل خپل پیغمبران په جهاد کې یوازې پرېښي؟ له دې خو په ډاګه معلومېږي چې په خپلې دعوی باور نه لرئ. په دې آیتونو کې او دې ته ورته په ډېرو نورو کې له مرګ وېره، د ډېر اوږده ژوند تمنی او د الله په لار کې له شهادت ډډه، د هغه قوم نښې ګڼل شوې چې د ایمان په دعوی کې دروغجن دي، نه په آخرت او جنت باور لري او نه په دې چې د مرګ ژوند پرېکړي الله کوي.
- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: هغوی ته ووایه: هغه مرګ چې ترې تښتئ نو هغه خو حتماً له تاسو سره مخامخېدونکی دئ، بیا د هغه ذات لوري ته ګرځول کېږئ چې په پټ او څرګند پوه دئ، نو په هغه څه به مو پوه کړي چې تاسو کول.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِىَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٩ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ١٠

۹- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! کله چې د جمعې د ورځې د لمانځه أذان وشي نو د الله د ذکر لوري ته تلوار وکړئ او پېر پلور پرېږدئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ که

پوهېږئ، ۱۰- او کله چې لمونځ پای ته ورسېږي په زمکې کې خواره شئ او د الله د فضل لټه وکړئ او الله زیات یاد کړئ چې بریالي شئ.

(۹-۱۰)- په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د څو کارونو امر کړی او همدا ئې د انسان د فلاح او سعادت ضامن ګڼلي:

- کله چې د جمعې د ورځې د لمانځه أذان وشي نو د الله د ذکر لوري ته تلوار وکړئ،
- د أذان له اوربدو سره سم پېر پلور او نور ورځني کارونه پرېږدئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ که پوهېږئ،
- کله چې لمونځ پای ته ورسېږي په زمکې کې خواره شئ او د الله د فضل تر لاسه کولو لټه وکړئ،
- او الله زیات یاد کړئ چې بریالي شئ.

لکه چې ګورئ دلته که له یوې خوا مؤمنانو ته د لمانځه او د الله د زیات یادولو لوري ته د تلوار او اهتمام سپارښتنه شوې او د جمعې د أذان له اوربدو بیا د لمانځه تر پای له تجارت او نورو ورځني کارونو لاس اخیستلو او جمات ته د تګ امر ورته شوی له بلې خوا ورته امر شوی چې له لمانځه وروسته خواره شئ او د حلال رزق تر لاسه کولو په لټه کې شئ، دا ښیي چې حلال رزق لټول د لمانځه په څېر یو عبادت دئ او الله تعالی موږ پرې مکلف کړي یو، الله تعالی هغه عابد بنده خوښوي چې د حلال رزق لټه کوي، بل ته ئې د احتیاج لاس اوږد نه وي، د نورو د اوږو پېټی نه وي، له حلالو لارو روزي تر لاسه کوي، له هغه څه چې تر لاسه کوي ئې یوه برخه د الله په لار کې لګوي او د مسکینانو لاس نیوی کوي.

د جمعې د لمانځه په اړه دا خبرې هم په پام کې ولرئ: د جمعې لمونځ په همدې ورځ د ماسپښین د لمانځه ځای ناستی دئ، پر هغو فرض دئ چې ورته حاضرېدی شي، مېرمني تري معافې دي، وخت ئې همغه د ماسپښین د لمانځه وخت دئ، د پېر پلور حرمت د لومړي أذان له اوربدو سره سم پیل کېږي او د لمانځه تر پای پورې دوام کوي، که چا په دې وخت کې پېر پلور وکړ د ګناه مرتکب شوی خو مبایعه ئې باطله او فاسده نه ګڼل کېږي، د جمعې لمونځ د هر کلي په جومات کې نه بلکې د ښار په لوی او جامع جومات کې کېدی شي، د دې لمانځه یو حکمت دا دئ چې ډېر خلك په یوه ځای کې راغونډ شي، البته د لمونځ کوونکو د شمېر زیاتوالی ئې شرط نه دئ، د امنیت شتون ئې یو شرط دئ، د مسلمانانو امیر یا د هغه نائب یا هغه چې د اسلامي حکومت له لوري ټاکل کېږي باید د دې لمانځه امامت وکړي، په هر هغه چا دا لمونځ فرض ګرځي چې أذان ئې اوري که څه

هم له ښار بهر اوسي، په داسي ځای کې تر سره کېدی شي چې هر چا ته د ورتلو اجازه وي، مسافر، بندي، داسي ناروغ او معذور چې جومات ته نه شي تللی، هغه ډوند چې په خپله جومات ته نه شي تللی او لارښود نه مومي، هغه چې د دښمن له لوري د خطر احساس کوي، یا د باران او چکړو له کبله جومات ته تګ ورته ګران وي؛ دوی ټول معذور او معاف ګڼل کېږي، له چا چې د جمعې لمونځ فوت شي په هغې سیمې کې د ماسپښین لمونځ په جمع ورته مکروه دئ چې خلك ئې د جمعې پر لمانځه مکلف وي، دوه خطبې ئې د لمانځه د صحت لپاره شرط دئ، کله چې امام خطبې ته ودرېږي بیا د خطبې تر پای هر ډول خبرې او حتی لمونځ کول ممنوع دي.

ښه به وي چې دلته ځینې هغه روایات هم له نظره تېر کړو چې د جمعې په اړه دي:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ « يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللهِ قَبْلَ أَنْ تَمُوتُوا وَبَادِرُوا بِالأَعْمَالِ الصَّالِحَةِ قَبْلَ أَنْ تُشْغَلُوا وَصِلُوا الَّذِى بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ رَبِّكُمْ بِكَثْرَةِ ذِكْرِكُمْ لَهُ وَكَثْرَةِ الصَّدَقَةِ فِى السِّرِّ وَالْعَلاَنِيَةِ تُرْزَقُوا وَتُنْصَرُوا وَتُجْبَرُوا وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْكُمُ الْجُمُعَةَ فِى مَقَامِى هَذَا فِى يَوْمِى هَذَا فِى شَهْرِى هَذَا مِنْ عَامِى هَذَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَمَنْ تَرَكَهَا فِى حَيَاتِى أَوْ بَعْدِى وَلَهُ إِمَامٌ عَادِلٌ أَوْ جَائِرٌ اسْتِخْفَافًا بِهَا أَوْ جُحُودًا بِهَا فَلاَ جَمَعَ اللهُ لَهُ شَمْلَهُ وَلاَ بَارَكَ لَهُ فِى أَمْرِهِ أَلاَ وَلاَ صَلاَةَ لَهُ وَلاَ زَكَاةَ لَهُ وَلاَ حَجَّ لَهُ وَلاَ صَوْمَ لَهُ وَلاَ بِرَّ لَهُ حَتَّى يَتُوبَ فَمَنْ تَابَ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ أَلاَ لاَ تَؤُمَّنَّ امْرَأَةٌ رَجُلاً وَلاَ يَؤُمَّنَّ أَعْرَابِىٌّ مُهَاجِرًا وَلاَ يَؤُمَّ فَاجِرٌ مُؤْمِنًا إِلاَّ أَنْ يَقْهَرَهُ بِسُلْطَانٍ يَخَافُ سَيْفَهُ وَسَوْطَهُ ». ابن ماجه

له جابر رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: اې خلکو! تر هغه وړاندې چې ومرئ د الله لوري ته وروګرځئ او توبه وکړئ، نېکو عملونو ته مبادرت وکړئ تر هغه وړاندې چې مشغول کړی شئ، هغه اړیکه ټینګه کړئ چې ستاسو او ستاسو د رب تر منځ ده، د ده په ډېر ذکر سره مو؛ او په پټه او څرګنده توګه صدقې سره چې په بدل کې به ئې روزي درکړی شي، ملتیا به مو وشي او جبران به مو وشي؛ او په دې پوه شئ چې الله پر تاسو د جمعې لمونځ فرض کړی؛ زما د دغه ودرېدو پر مهال، په همدې ورځ، په همدې میاشت او په همدې کال؛ د قیامت تر ورځې، چا چې زما په ژوند کې یا له ما وروسته هغه ترك کړ، که څه هم امام ئې عادل وي یا جابر، د بې اهمیته ګڼلو له کبله ئې یا د انکار له کبله ئې، نو الله تعالی دي نه د ده چاري ورته راغونډې کړي او نه

دي د ده په کار کې برکت واچوي، پام چې نه ئې لمونځ اعتبار لري، نه ئې زکات، نه ئې حج، نه ئې روژه؛ او نه ئې سېګنه، تر هغه چې توبه وکړي، نو څوک چې توبه وکړي الله به ئې توبه قبلوي، پام چې نه دي کومه سېځه د کوم سړي امامت کوي، نه کوم باندوال د مهاجر، نه کوم فاجر د مؤمن، مگر دا چې په خپل زور سره ئې ورته اړ کړي او له توري او متروکې ئې وېرېږي.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَأَحْسَنَ غُسْلَهُ وَتَطَهَّرَ فَأَحْسَنَ طُهُورَهُ وَلَبِسَ مِنْ أَحْسَنِ ثِيَابِهِ وَمَسَّ مَا كَتَبَ اللهُ لَهُ مِنْ طِيبِ أَهْلِهِ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ وَلَمْ يَلْغُ وَلَمْ يُفَرِّقْ بَيْنَ اثْنَيْنِ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الأُخْرَى ». ابن ماجه

له ابو ذر رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: چا چې د جمعې په ورځ غسل وکړ او خپل غسل ئې په سېه توګه وکړ، ځان ئې پاکیزه کړ او په سېه توګه ئې پاکیزه کړ، په خپلو جامو کې ئې تر ټولو غوره جامه واغوستله؛ او د خپل کور له هغه عطر چې الله ورته میسر کړي څه ئې پر خپل ځان ووهل، بیا د جمعې لمانځه ته راشي، نه شور ځوړ وکړي او نه دوه سره بېل کړي (چې ځان ته ځای تش کړي)، نو د هغه څه بخښنه به ورته وشي چې د ده او د بلې جمعې تر منځ دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ أَنْصِتْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالإِمَامُ يَخْطُبُ فَقَدْ لَغَوْتَ ». ابن ماجه

له ابو هریره رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: که د جمعې په ورځ او هغه مهال چې امام خطبه وایي تا خپل ملګري ته وویل: چوپ شه؛ نو تا یقیناً شور جوړ کړی (ناروا کار دي کړی)

عَنْ أَبِي الْجَعْدِ الضَّمْرِيِّ - وَكَانَ لَهُ صُحْبَةٌ - قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم « مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ تَهَاوُنًا بِهَا طُبِعَ عَلَى قَلْبِهِ ». ابن ماجه

له ابو الجعد الضمري (چې صحابي وو) روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: چا چې د جمعې لمونځ درې ځلي ترک کړ، په داسي حال کې چې بې اهمیته ئې ګڼي؛ نو پر زړه به ئې مهر ولګول شي.

وَإِذَا رَأَوْا۟ تِجَـٰرَةً أَوْ لَهْوًا ٱنفَضُّوٓا۟ إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمًا ۚ قُلْ مَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ

ٱللَّهۡوِ وَمِنَ ٱلتِّجَٰرَةِۚ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ١١

۱۱- او کله چې کوم تجارت یا کومه مشغولوونکې لوبه وګوري د هغې لورې ته وروځي او تا ولاړ پرېږدي، ووایه: هغه څه چې له الله سره دي تر دې لوبې او تر تجارت غوره دي او الله تر ټولو غوره روزي ورکوونکی دئ.

(۱۱)- دا مبارك آیت چې د دې سورې د پای آیت دئ له یوې خوا ښیي چې د جمعې د لمانځه له فرضېدو وروسته همداسې حالت راغلی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د خطبې لپاره ودرېدلی، بهر د کومې تجارتي قافلې د راتلو شور ځوږ جوړ شوی، ځینې له جومات وتلې؛ او دا په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم خطبه ویله، په دې آیت کې په دغه ناوړه حرکت نیوکه شوې، له بلې خوا دا آیت د سورې د پیل له آیتونو سره ژور ارتباط لري، هلته ویل شوي: الله تعالی همغه ذات دئ چې په نالوستو کې ئې د دوی له ډلې یو رسول ولېږو چې د ده آیتونه پرې ولولي، تزکیه ئې کړي او کتاب او حکمت وروښیي، په داسې حال کې چې تر دې وړاندې په څرګندې تېروتنې کې ول، بیا د یهودو او د دوی د مذهبي مشرانو نااهلي ته اشاره شوې، د سورې په تتمه کې د همدې مطالبو په ارتباط ویل شوي چې مؤمنانو ته په کار وه د خپل درونده او زړه سواند لارښود درناوی ئې کړی وی، له داسې حرکت ئې په کلکه ډډه کولی چې هغه مهال ئې د ده د خطبې په دوران کې وکړ، د کومې تجارتي موخې لپاره یا د کوم شور ځوږ له کبله له جومات وتل ورسره مناسب نه وو، هغه څه چې له الله سره دي تر دغې لوبې او تر تجارت غوره دي، خیر الرازقین الله د دوی د رزق ذمه وال دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

قرآن او د نفاق حقیقت

یوه ضروري یادونه

ما پنځه څلوېښت کاله وړاندې؛ د (المنافقون) سورې تفسیر په دري ژبه د (حقیقت نفاق از دیدگاه قرآن) په نامه؛ د یوه کتاب په بڼې کې ولیکلو، څو ځلي چاپ شو، په ترکیه کې هم ترجمه او چاپ شو؛ او په ایران کې هم، اوس چې د دې سورې تفسیر ته رارسېدلی یم؛ غوښتل مې همغه کتاب په بشپړه توګه وژباړم، خو له دې کبله چې د قرآن پلوشې اوم جلد ډېر ضخیم نه شي په ځینو برخو مې اکتفاء وکړه، څوك چې غواړي د دې مبارکې

سورې مشرح تفسیر ولولي او د نفاق په حقیقت ښه پوه شي د هغه کتاب لوستلو سپارښتنه ورته کوم.

دا کتاب هغه مهال لیکل شوی چې د هېواد په تاریخ کې په لومړي ځل یو منظم اسلامي نهضت رامنځته شو، د هېواد علمي مؤسسات د دې نهضت په ډاډمنو سنګرونو بدل شول، د ځوانانو غوځ اکثریت ورسره یو ځای او داسې ځواك ترې جوړ شو چې د اسلام کورنۍ او بهرنۍ دښمنان ئې په وېره کې واچول، منحط شاهي رژیم د هغه د ځپلو لپاره هڅې پیل کړې، خو موفق نه شو، روسانو د نهضت د ځپلو په موخه روس پلوه کمونیست افسران وګمارل چې د سردار داؤد تر مشرۍ لاندې کودتا وکړي، سپینه کودتا وشوه، قدرت کمونیستانو ته په لاس ورغی، سردار داؤد په خپلې لومړۍ وینا کې وویل چې د انقلاب یو اساسي هدف دا دئ چې هغه ارتجاعي ځواکونه وځپي چې د مترقي ځواکونو د مخنیوي لپاره راڅرګند شوي، له ارتجاعي ځواك د ده مراد اسلامي نهضت او له مترقي ځواك کمونیستان ول، د ده له وینا په څرګنده توګه معلومېده چې ده ته د اسلامي نهضت د ځپلو دنده ورکړی شوې وه او د کودتا خبیثه منصوبه په مسکو کې جوړه شوې او پلي کوونکي ئې کمونست افسران وو؛ د کودتا له بري سره سم؛ د اسلامي نهضت د غړو د نیولو او وژلو لړۍ پیل شوه، دغو ظروفو مورِ وسله والي مبارزې ته اړ کړو، که څه هم هلته دا وسله واله مبارزه د رژیم په نسکورولو منتج نه شوه خو په دې سره له یوې خوا د جهاد هېره شوې فریضه احیاء شوه؛ او له بلې خوا همدغه مبارزه په داسې ستر پاڅون بدله شوه چې په ترڅ کې ئې شوروي اتحاد دا د نړۍ ستر استعماري ځواك له منځه ولاړ او د کمونیزم ټغر ټول شو.

د (حقیقت نفاق از دیدگاه قرآن) په کتاب کې د عرض ناشر تر عنوان لاندې ځینو مهمو مطالبو ته اشاره شوې چې د څو برخو ژباړل ئې ګټور وبرېښي؛ له لوستونکو سره به د هغو ظروفو په ښه پېژندو کې مرسته وکړي چې اسلامي نهضت هغه مهال ورسره مخامخ وو. په عرض ناشر کې لولو: حقیقت دا دئ چې د ٢٦ سرطان (١٣٥٢) او اوم ثور (١٣٥٧ او ١٣٧١) دواړه کودتاګاني او ورپسې پر افغانستان د شوروي اتحاد نظامي یرغل هغه عکس العملونه وو چې مسکو د اسلامي نهضت د سریع ودي او ځواکمنېدو په وړاندې وښودل، د اُوم ثور دوهمه کودتا چې شمالي ټلواله ئې ارګ ته ورسوله، د روسي فوځ نیمګړی جنګي مأموریت بشپړول او په افغانستان کې د مجاهدینو په لاس د یوه اسلامي حکومت له جوړېدو مخنیوی ورپه غاړه شو، دا کودتا هم د مسکو د مخکینیو اقداماتو په څېر د اسلامي نهضت په وړاندې د مسکو یو بل غبرګون وو، یوازې په دومره تفاوت سره چې دا

ځل د مسکو د اوامرو تنفیذ یوازې د کمونیستانو په غاړه نه وو بلکې دا مأموریت یوې داسې ائتلافې جبهې ته وسپارل شو چې د مسکو په هدایت، د ایران په وساطت او د مسکو پلوو، تهران پلوو او غربپالو په ګډون رامنځته شوی وو.

دغه کودتاګانې د دې باعث شوې چې د هېواد اسلامي نهضت د مسلحانه مقاومت لار غوره کړي، حقیقت دا دئ چې وسله واله مبارزه پر اسلامي نهضت تحمیل شوې، موږ نه دا اراده درلوده، نه مو ځان د دې جوګه ګڼلو او نه مو ظروف او شرائط ورته مساعد ګڼل، ځان مو په داسې موقعیت کې نه موندو چې د وسله والې مبارزې پیل ګټور وګڼو او نتائجو ته ئې هیله من وو، خو له دې پرته مو بله چاره نه ترسترګو کېده، د الله تعالی مشیت داسې وو چې د جهاد هغه هېره شوې فریضه زموږ د هېواد د یو شمېر تنکیو ځوانانو په لاس رااحیاء شي چې له پېړیو پېړیو راایسي هېره شوې وه، دا جهاد د شوروي اتحاد د سرې امپراطورۍ په زوال منتج شي، د نړۍ بل ستر ځواک؛ امریکا؛ د افغانستان تنګو تنګو هیبتناکو درو ته راکښې او په یوې داسې جګړې کې ښکېل شي چې د خپل سلف په برخلیك اخته شي.

که څه هم د نهضت وسله وال پاڅون، په اردو کې فعالیت او د رژیم د نسکورولو لپاره د مسلمانو افسرانو تنظیم؛ داسې نتائج نه درلودل چې ځینې عجول او تلواري افراد ورته منتظر ول، همغه چې د ۱۳۵٤کال له عملیاتو سره موافق نه ول خو زړه نازړه او په دې هیله ئې د تأیید سر خوځولو چې ښایي دا عملیات به د دوی هیلې تر سره کړي، رژیم به نسکور شي او دوی به هم د واکمنۍ خوند وڅکي، کله چې هغوی نتائج د خپل انتظار خلاف وموندل نو له وسله والې مبارزې سره ئې خپل مخالفت علني کړ، کابل ته ئې پټ پټ پیغامونه ولېږل، له رژیم سره ئې د پخلا کېدو او روغې جوړې لار غوره کړه، په پیغامونو کې ئې د کابل واکمنو ته د ځان سپیناوی کولو او پر وسله والې مبارزې تأکید او اصرار ئې د افراطي او ماجرا غوښتونکو زلمیانو کار ګڼلو... د حقیقت نفاق کتاب دغه مهال لیکل شوی، په دې موخه چې د ایمان ځلانده لار روښانه کړي او غوښتنې ئې څرګندي، د نفاق ماهیت او سوړي ئې په ګوته کړي، د نهضت رښتیني او مخلص غړي خپلو هغو ایماني مسئولیتونو ته متوجه کړي چې په دې خطیر پراو کې ورپه غاړه ول؛ او په دې ئې پوه کړي چې کومې ویناوي او کړنې د دې باعث کېږي چې انسان د نفاق په ګنده ډنډ کې سقوط وکړي.

دا کتاب هغه مهال نه یوازې په افغانانو او د نهضت د مبارزو غړو په لیکو کې له پراخ استقبال سره مخامخ او څو ځلې چاپ شو؛ بلکې په ترکیه کې ترجمه او په ایران کې له ځینو

تصرفاتو سره خپور شو، خو متأسفانه ځينو چې د دې کتاب په هنداري کې ئې خپله څېره ليدله له دې کتاب او خپرېدو سره ئې مخالفت ته ملا وتړله، د نهضت هغو مشرانو ته ئې شکايت ليکونه ولېږل چې د جلاد داؤد په زندانونو کې پراته ول، دا کتاب ئې د ځان خلاف وګڼلو او له هغوی ئې وغوښتل چې د نشر او توزيع مخه ئې ونيسي!!! دروند او مشر ورور شهيد انجنير سيف الدين نصرتيار د يوه ليك په ترڅ کې له ورور حکمتيار وغوښتل چې د دې کتاب له توزيع منصرف شي، هغه دا کتاب د ليك له ځواب سره يو ځای زندان ته ولېږو، ده ته ئې وليکل: کتاب مطالعه کړئ، که هغه مو د کوم شخص يا ځانګړې ډلې په خلاف ومونډلو او د هغه توزيع مو غير مفيد او غير ضروري وګڼله؛ مطمئن اوسئ چې حتماً به ئې له توزيع ډډه کوو... د کتاب له مطالعې وروسته د شهيد نصرتيار او نورو زنداني وروڼو ځواب دا وو: نه يوازې د دې کتاب له طبعي او توزيع سره موافق يو بلکې تأکيد کوو چې په پراخه پيمانه ئې طبع او توزيع کړئ.

هغو چې د حقيقت نفاق کتاب ئې د ځان په ضد مونډلی؛ د داؤد د اقتدار پر مهال ئې خپله لار له اسلامي نهضت ښله کړه، له حاکم ملحد رژيم سره ئې د پخلا کېدو لار غوره کړه، ډېرې هڅې ئې وکړې چې له کابل مثبت او په زړه پورې ځواب تر لاسه کړي خو هڅو ئې نتيجه ورنه کړه، د لومړي اوم ثور کودتا د دوی هڅې شنډې او د هيلو تحقق ناشونی کړ، همدا دوی ول چې له کمونيستانو سره ئې روغه جوړه وکړه، له روسانو سره ئې په داسي وخت کې اوربند وکړ چې په ټول هېواد کې د هغوی په ضد شديد جنګ روان وو؛ او له دوی پرته هيڅا د داسي ننګين اوربند ستر پېغور نه منلو، د مسکو په وينا او د ايران په وساطت ئې وطن پلوری شمالي ائتلاف رامنځته کړ، د روسي فوځ د نيمګړي جنګي مأموريت بشپړول او په افغانستان کې د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي حکومت د جوړېدو مخنيوی ئې په غاړه واخيست؛ او په پای کې ئې د افغانستان په اشغال کې د صليبي ځواکونو ملګرتيا وکړه او د امريکايي افسرانو تر قومندې لاندې له خپل ولس سره وجنګېدل.

هغو ته چې د ايمان په مستقيمي لاري د تګ کلك هوډ لري، ښې او کيڼ لوري ته له انحراف او د نفاق په تورو کندو کې له لوېدو وېره لري؛ د دې کتاب د دقيقي مطالعې سپارښتنه کوو. والله ولی التوفيق و هو الهادی الکريم

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

مقدمه

قرآن؛ دا د هدايت ځلانده مشعل؛ کله چې د (انسان) په اړه بحث کوي نو د (انساني سيرت) څلور ډلګي انځوروي او د خپل مخاطب په وړاندي ئې ږدي:

مؤمن: هغه چې پر الله تعالى ايمان لري، د پيغمبر اطاعت کوي، په آخرت او بياژوندون باور لري، پر خداى او آخرت ايمان او د پيغمبر اطاعت د دې باعث شوي چې عمل ئې صالح وي، د ښېګڼو لوري ته بلنه ورکړي، له منکراتو مانع شي، د حق او حقيقت مدافع وي، د ظلم او ظالم په وړاندي ودرېږي، د مظلوم ملګرتيا وکړي، د بې وزلي او محروم په اړه زړه سوى ولري، د صدق، صفا، وفا، امانت، پاکي، پاك لمني، صبر، تقوى، احسان؛ او ټولو معنوي ارزښتونو مظهر وي، د ژوند اهداف ئې سپېځلي، روح ئې آرامه، زړه ئې مطمئن، ايمان ئې راسخ، اخلاق ئې ښکلي، د الله له ټولو مخلوقاتو سره مينه ناك، د عالم هر څه ته د آشنا او همسفر په سترګه کتل، د ټولو مخلوقاتو پيدايښت هدفمن ګڼل، په هر څه کې د خپل رب د علم، قدرت او حکمت نښې ليدل، داسې چې ټول له ده سره يو ځاى د الله په عبادت بوخت دي او له ده سره يو ځاى د الله په لور دروي، دا هغه څه دي چې د دې څېړې په ښکلي انځور کې تر سترګو کېږي.

کافر: هغه چې نه پر خداى ايمان لري او نه پر آخرت او حساب او کتاب؛ او مکافات او مجازات ئې، له پيغمبرانو او د حق او عدالت لوري ته بلونکو سره مخالفت او دښمني کوي، يا د بنده بنده وي يا د هوى او هوس، د باطل مدافع او د حق او حقيقت دښمن، په دې انځور کې هغه څوك ګورو چې ګناه، عصيان، بدکاري، ظلم، بې عدالتي، د نورو پر حق تېرى او تجاوز، له فضائلو او انساني مکارمو انکار، د بدي او پليتي لوري ته ميلان، په لهو و لعب کې بوختيا، د هغه مشخصات دي.

مشرك: هغه چې په خپلو باورونو، انګېرنو او کړنو کې د (شرك) او (اختلاط) مرتکب شوى، ايمان او کفر ئې سره خلط کړي، پر الله تعالى د ايمان دعوى کوي خو په (عبادت) او (استعانت) کې ئې الله تعالى ته شريکان ټاکلي، د الله تعالى تر څنګ نور هم لمانځي او نورو ته هم د احتياج لاس اوږدوي، پر الهي کتابونو د ايمان ادعاء کوي خو په عمل کې کله د

یوه دین او کله د بل متابعت کوي.

منافق: هغه چې د تذبذب په بیماریې اخته شوی، د کفر او ایمان تر منځ او مؤمنانو او کافرانو تر منځ د تردد او تذبذب په حالت کې دئ، کله له دې سره یو ځای کېږي او کله د هغه بل خوا ته درومي، کله یوه ته د دوستیې پیغام لېږي او کله بل ته، نه له دې سره په صادقانه توګه ودرېږي او نه هغه بل سره، د خپلو اغراضو بنده دئ، کله ئې د یوه په خوا کې لټوي او کله د بل په خوا کې، نه له فکري او اعتقادي پلوه ثابت او ټاکلی دریځ لري او نه له عملي او اخلاقي پلوه ټاکلې تګلاره، له موسم سره سم رنګ بدلوي، کله سره جامه واغوندي او کله شنه، له هر چا سره په خپل چلن کې ټګمار او دوکه مار دئ.

ګمان مه کوئ چې دا ډلې د قرآن د نزول او د رسول الله صلی الله علیه و سلم د حیات په دور پورې تړلې ډلې دي، چې یوازې ئې د تېر تاریخ په پاڼو کې موندلی شو؛ او ګواکې اوس ئې عملي مصداق نه شو موندلی!! حقیقت دا دئ چې دا بېلګې لکه چې پرون وې، نن شته او تر قیامت پورې به د زمانې په هر پړاو کې وي، تل به د (ایمان) او (کفر) متخاصمې جبهې د نښتې په حال کې وممئ او په خوا کې ئې د (شرك) او (نفاق) جبهه.

قرآن د خپلو مفصلو او بینو آیتونو په رڼا کې د هرې ډلې مشخصات او ممیزات څېړلي، هغه عوامل ئې په ګوته کړي چې دا ځانګړتیاوې ترې نشأت کوي، که له یوې خوا مور ته د ایمان معنی او څرنګوالی راښیي او مقتضیات ئې بیانوي له بلې خوا د (کفر)، (شرك) او (نفاق) مشخصات او علائم راښیي، په بېلو بېلو شرائطو کې او د بېلو بېلو قضایاوو په اړه د هرې ډلې په تګلاري او دریځ مو پوهوي؛ او دا راښیي چې د دوی د تګلارو او دریځونو اهداف او موخې څه دي، څنګه له خپلو عقائدو او نظراتو دفاع کوي، مستمسك ئې څه دئ او استدلال ئې څنګه؟ د ښو او بدو پېښو، بري او ماتې په اړه ئې قضاوتونه څنګه وي، کوم معیارونه کاروي، چا ته د بریالي په سترګه ګوري او چا ته د نامراد او مات شوي په سترګه. که څه هم قرآن د دغو ټولو ډلو په اړه ډېر مفصل او دقیق بحث کړی خو تر ټولو زیات ئې د منافقینو دقیقي معرفي ته زیات اهتمام کړی، په څو دلائلو:

- منافق کورنی دښمن دئ، خطر او ضرر ئې تر بهرني دښمن زیات دئ، نه یوازې دا چې سنګرونه له داخل تضعیف او تخریبوي او د دښمن په ګټه ئې متلاشي کوي بلکې د منافقینو نه پېژندا د دې باعث کېږي چې د نفاق مهلکه او خطرناکه بیماري نورو ته هم سرایت وکړي.
- د منافقینو کړنې د ایمان او مؤمنانو ښکلې څېره د دعوت مخاطبینو ته په کرکجني، مخدوش او مغشوش بڼې کې وړاندي کوي، د هغوی شکوك او شبهات پاروي او د

مسلمانانو له ملګرتیا ئې منع کوي.

- د دغې ډلې غولوونکی ظاهر اکثراً د دې مانع کېږي چې د دوی د خطر او ضرر د مخنیوي په ارتباط مناسب او اغېزمن تصامیم او تدابیر ونیول شي، ساده لوح وګړي غولوي، د مسلمانانو په لیکو کې اختلافات راولاړوي، همدا ساده لوحان د نهضت قیادت او زعامت دې ته اړباسي چې د منافقینو په وړاندې له تسامح، تساهل او اغماض کار واخلي، په دې توګه په صف کې انضباط له منځه ځي او خپلسري رامنځته کېږي.
- که د (مؤمن) او (منافق) د پېژندو په اړه دقیق معیارونه په واك کې ونه لرو، نو له ریاء کار، دوکه مار او فرصت طلبو عناصرو د مخلصو مؤمنانو تشخیص به راته ګران وي، د فرصت طلبانو د نفوذ، مخکې تګ او د زعامت تر لیکو د دوی د رسېدو مجال به مهیاء وي، هغه به وړاندې درومي چې جاه او جلال ته د رسېدو په لار کې هر کار جائز ګڼي او هغه به په شا ټمبول کېږي چې هدف ئې د خپلو ایماني مسئولیتونو اداء کول، د الله تعالی رضاء تر لاسه کول او د نهضت د سپېڅلو اهدافو تحقق وي، نه د مقام او منزلت تر لاسه کولو هڅه کوي او نه د زعامت توجه جلبولو لټه، په دې توګه به ورو ورو د نهضت مشري د هغو په لاس کې پرېږدي چې نه اخلاص لري، نه تعهد او نه د زعامت اهلیت او کفایت، هغه ډله به حتماً متلاشي کېږي چې په هغې کې (منافق) او هدف ته (غیرمخلص) وګړي محترم ګڼل کېږي او د لوړ تګ مجال تر لاسه کوي، په هغه صف کې به هرو مرو د نفاق مرض خورېږي او په غړو کې به ئې دا ذهنیت راپیدا کېږي چې دلته د پر مختګ لپاره اخلاص، صداقت، ایثار او قرباني هیڅ اغېز او ونډه نه لري، فقط په منافقت، غوړه مالي، ځېرکي او فرصت طلبي سره کولی شو وړاندې ولاړ شو، امتیازات تر لاسه کړو؛ او لوړو مدارجو او مقاماتو ته ځان ورسوو.
- که هغه پولي څرګندي نه وي چې ایمان او نفاق سره ښلوي، ډېر به په ناپوهۍ کې له دغو پولو تېرېږي او د نفاق په ډنډ کې به پرېږدي، دا پولي باید جوتې شي، د ایمان او نفاق تر منځ سره کرښه باید څرګند علائم او نښې ولري، هر څوك باید دا کرښه او علائم ئې وپېژني، باید پوه شي چې د ایمان مقتضیات څه دي او د نفاق نښې کومې، په کومو افکارو، اطوارو، دریځونو، قضاوتونو او کړنو سره د ایمان له پولي اوړو او د نفاق په کندي کې پرېږدو، ډېر ځلي انسان پرته له دې چې له مستقیمي لاري د انحراف قصد او هوډ ئې کړی وي؛ او پرته له دې چې د عصیان او بغاوت اراده ئې په زړه کې راټوکېدلې وي، په بې خبرۍ کې او د نورو تر اغېز لاندې له سمې لاري منحرف او په کږو لارو سر شي؛ او په داسې کارونو لاس پورې کړي چې هم ئې د ایمان ځلا تته کړي او هم ئې له صف لرې

کړي، باید څرګند معیارونه په واک کې ورکړو، د ایمان او نفاق بېلګې ئې مخې ته کېږدو، آخري پوله ورته جوته کړو، علائم وروښیو چې په رڼا کې ئې هر مهال او په هر ګام کې خپل ځان، خپل افکار، خپلې کړنې او تګلاره وارزوي، کندې وپېژني او په هغوی کې له پرېوتو خوندي پاته شي.

قرآن عظیم الشأن د (المنفقون) په نامه یوه مختصره سوره لري، د دې سورې په جامع او موجزو آیتونو کې نفاق او منافقین په ډېره دقیقه توګه څېړل شوي، په حقیقت کې دا جامع سوره د ټولو هغو آیتونو خلاصه د مخاطب مخې ته ږدي چې په ټول قرآن کې د نفاق او منافقینو د معرفې په اړه راغلي، د حقیقت نفاق از دیدګاه قرآن په کتاب کې د دې سورې هر آیت او مستقلي فقرې ئې د عنوان په توګه غوره شوي او مطلب ئې د نورو اړوند آیتونو په رڼا کې تشریح او توضیح شوی، په دې هیله چې الله تعالی دا کتاب د هغو لپاره لارښود او مشعل کړي چې غواړي د قرآن له زلالي چینې خړوب شي، د ایمان مستقیمه لار وپېژني، د نفاق په ډنډ کې له لوېدو؛ او د منافقینو له ملګرتیا په امان کې وي.
والله المستعان وهوالهادی الکریم

المنافقون

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (المنافقون) دئ چې د سورې له لومړي آیت اخیستل شوی، دا نوم د دې سورې د مضامینو لپاره عنوان هم دئ،۱۱ آیتونه لري، له دوو آیتونو پرته د نورو ټولو آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (الکاذبون) ته ورته دي، شپږم او لسم آیتونه ئې په (الفاسقین) او (الصالحین) پای ته رسېدلي، د آیتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په منځنیو کلونو کې نازل شوي.

دا جامع سوره د قرآن ټول هغه آیتونه احتواء کوي چې د نفاق او منافقینو د معرفې په اړه راغلي، په حقیقت کې د دې سورې ۱۱ آیتونه داسې یولس عنوانونه دي چې شرح او تفصیل ئې باید په ټول قرآن کې ولټوو.

په لومړي آیت کې ویل شوي چې منافقین د نهضت مشرتابه ته د تقرب په لټه کې وي، په ډېر تأکید سره ادعاء کوي چې ایمان لري، رښتیني او مخلص دي، د دې ادعاء د اثبات لپاره مؤکدو لوړو او کلکو قسمونو ته پناه وړي، په داسې حال کې چې ادعاء ئې دروغجنه

او قسمونه ئې د مسلمانانو د غولولو لپاره دي.

دوهم آيت وايي: منافقين له خپلو مؤکدو او مکررو قسمونو د ډال په توګه استفاده کوي، په همدې سره له خپلو منافقانه کړنو دفاع کوي، د مؤمنانو د غولولو هڅه کوي، د دوی په لیکو کې د نفوذ لار ځان ته آواروي، د مؤمنانو په منځ کې خپل موقعیت مضبوطوي، خپل هر کرکجن عمل او هر منافقانه دریځ د همدې قسمونو په مرسته توجیه کوي، له مؤاخذې او محاسبې ځان ژغوري، د دوی همدا عدم مؤاخذه د دې باعث ګڼري چې کمعقل او ساده لوح افراد هم د دوی تقلید وکړي او د منافقینو دریځ او تګلاره غوره کړي، په دې توګه منافقین هم په خپله د الله له لارې ډډه کوي او هم نور په دې لار له تګ منع کوي.

درېیم آیت د منافقینو دې خصلت ته ګوته نیسي چې په مکرره توګه د ایمان ادعاء کوي او بېرته د کفر لوري ته ښویېږي، د کفر او ایمان تر منځ د تردد او تذبذب په حال کې وي، کله د ایمان لار غوره کوي او د مؤمنانو په خوا کې ودرېږي او کله د کفر لار اختیاروي او د کافرانو خوا ته درومي، کله یوه ته د دوستۍ پیغامونه لېږي او کله بل ته، نه له دې سره په خپلو ژمنو او تعهداتو ودرېږي او نه له هغه بل سره صادقانه ملګرتیا کوي، د خپلو اغراضو بنده دئ، د لاس ته راوړو لپاره ئې کله د یوه په څنګ کې ودرېدل ګټور ګڼي او کله د بل په څنګ کې، همدا اسلوب د خپلې زیرکۍ او هوښیارۍ نښه بولي، ګمان کوي چې ټول غولولی او په دواړو لوریو کې ځان ته په زړه پوري موقعیت برابرولی شي، په داسي حال کې چې دا د دوی د سفاهت او ناپوهۍ نښه ده، په دې سره خپل حیثیت او اعتبار په دواړو خواوو کې له لاسه ورکوي، هیڅوک نه شي کولی د تل لپاره ټول وغولوي او خپل منافقانه ماهیت د تل لپاره له ټولو پټ وساتي.

په څلورم آیت کې د منافقینو د ښه پېژندا لپاره دا لارښوونه زمونږ مخي ته ږدي چې د منافقینو ظاهر غولوونکی وي، له ظاهر ئې داسي انګېرې چې ښایي باطن به ئې هم ښه وي، د دوی مرتب ظاهر، جالبي وینا او غولوونکو اداګانو ته په پام سره هیڅوک دا ګمان نه کوي چې دوی به د نفاق په ګنده ډنډ کې پرېوتي وي، له معنوي پلوه ذلیل او سپك دي، ډارن او جبون دي، له هر لوړ غږ وېرېږي او هغه د ځان په خلاف ګڼي، نه په خپل ژوند کې کوم سپېڅلی هدف لري نه کوم واضح او ثابت دریځ او تګلاره، داسي دي لکه دېوال ته تکیه شوې منځ خالي ستي، چې له استناد پرته نه شي کولی پر خپل ځای ولاړ پاته شي، دا ډله د اسلامي صف اصلي او تر هر بهرني دښمن زیات خطرناك دښمنان دي، مسلمانانو ته لارښوونه کېږي چې له دوی سره په خپلې معاملې کې باید زیات محتاط وي او د دوی د

خطر دفع کولو لپاره لازم تدابیر ونیسي.

په پنځم او شپږم آیتونو کې لولو چې منافقین هدایت نه منونکي دي، که د اصلاح لوري ته دعوت شي په غرور او تکبر سره د رد ځواب ورکوي، له الهي مغفرت محروم دي، بخښونکی رب د دوی په اړه حتی د رسول الله صلی الله علیه و سلم د مغفرت غوښتني دعاء نه قبلوي.

اوم آیت مور ته لارښوونه کوي چې د منافقینو یو بل خصلت په دې حقیقت باور نه درلودل دي چې د رزق د ټولو خزانو کلیاني د الله تعالی په واك کې دي، د خپلو بندګانو د رزق او روزي ضامن دئ، دوی د مخلصو مؤمنانو په اړه داسي انګېري چې که له مالي مشکلاتو او اقتصادی محاصرو سره مخامخ شي نو د مسلمانانو له لیکو به بېل شي او له مبارزې به لاس واخلي.

په اتم آیت کې د منافقینو دا خصلت په ګوته شوی چې مؤمنانو ته په سپکه سترګه ګوري، له دوی سره ئې چلن د ایمان منافي دئ، د عزت او ذلت په اړه د دوی معیارونه د الهي معیارونو مغایر معیارونه دي.

په نهم آیت کې که څه هم خطاب مؤمنانو ته متوجه دئ او دوی ته سپارښتنه شوې چې مال او اولاد ته د دوی اهتمام باید دوی د الله تعالی له یاد او ذکر غافل نه کړي، خو له دې کبله چې دلته بحث د نفاق او منافقینو په اړه دئ او دا سپارښتنه په همدې ضمن کې راغلې، له دې په واضح توګه معلومېږي چې د الله له ذکر غفلت، له مال او اولاد سره افراطي علاقه، دومره چې دا علاقه له الله تعالی سره تر محبت زیاته وي، دا د نفاق علائم او د منافقینو مشخصات دي.

په لسم آیت کې هم د الله په لار کې د انفاق سپارښتنه مومو، چې ښیي د الله په لار کې قرباني د ایمان له مقتضیاتو او له دې قربانۍ ډډه کول د نفاق او منافقینو خصلت دئ.

په یولسم آیت کې چې د سورې تتمه ده دا الهي ارشاد خپلي مخي ته مومو چې پر قضاء او قدر ایمان پر الله تعالی د ایمان مهمه تقاضا او په دې اړه بې باوري د نفاق ستره نښه ده.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُنَٰفِقُونَ قَالُوا۟ نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِ ۘ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ

وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ١

۱- کله چې منافقين تا ته درغلي ويلي ئې دي: ګواهي ورکوو چې يقيناً ته حتماً د الله رسول يې، په داسې حال کې چې الله پوهېږي ته د ده رسول يې او الله ګواهي ورکوي چې منافقين يقيناً دروغجن دي.

(۱)- دا مبارک آيت چې منافقينو ته په عامه توګه اشاره کوي او د دوی دواړه ډلې (عملي او اعتقادي منافقين) احتواء کوي څو مهم مطالب د دوی د معرفې په اړه زمونږ مخې ته ږدي:

- په بشپړ تأکيد سره د ايمان ادعاء کوي، خو په حقيقت کې ايمان نه لري او دروغ وايي، د رسول الله صلى الله عليه و سلم ملاقات ته به ورتلل او د هغه په حضور کې به ئې له کومې مقدمې او تمهيد پرته او په داسې حال کې چې قسم او لوړي ته او دې ته به هيڅ ضرورت نه وو چې د خپل ايمان څرګندونه وکړي؛ د خاصو موخو لپاره به ئې ويل: مونږ ګواهي ورکوو چې ته د الله پيغمبر يې؛ او په دې ګواهي کې به ئې له کوم ضرورت پرته له ډېر تأکيد کار اخيستلو او قسم به ئې خوړلو، الله تعالى د دوی ادعاء او ګواهی بې اعتباره ګڼي او دوی دروغجن بولي، دلته يوه ظريف ټکي ته اشاره شوې چې په ضمن کې ئې د منافقينو يو خصلت په ګوته شوی، په دې توګه: کله چې انسان د کوم جرم مرتکب شي يا د کومې ګناه او جرم اراده په زړه کې ولري، که څه هم موضوع کاملاً مخفي او له ټولو پټه وي او هيڅوک ترې خبر نه وي، له دې سره سره داسې انګېرې چې ښايي نور به هم ترې خبر وي او د ده له خبرې او حرکاتو به په هغه څه پوه شوي وي چې ده په خفا کې تر سره کړي او يا ئې په خپل زړه کې پټ ساتلي، دا احساس او انګېرنه ئې د ده په ويناوو کې ځان څرګندوي، دی خپل ځان د نورو په وړاندې داسې ګڼي لکه يو مجرم د داسې قاضي په وړاندې چې د ده د محکوميت فيصله صادروي او له ده غواړي چې د خپل برائت شواهد او اسناد وړاندې کړي او يا لوړه وکړي چې دا جرم ئې نه دئ کړی، نو ځکه له کومې مقدمې او تمهيد پرته او په داسې حال کې لوړه کوي چې وضعيت هم له ده دا غوښتنه نه کوي، د ده رواني حالت او د ضمير او وجدان فشار ئې دې ته اړباسي چې په مؤکدو قسمونو سره مخاطب په خپل برائت او معصوميت متيقن او متقاعد کړي، خو هغه څوک چې کوم جرم ئې نه وي کړی، لاس ئې سپين او لمن ئې پاکه وي، ګناه ته نه وي نژدې شوی او د کوم جرم د ارتکاب قصد ئې نه وي کړی، دا احساس ئې له نورو سره په مخامخېدو کې ځان ښيي، داسې انګېرې چې نور به حتماً د ده په اړه داسې تصور کوي چې مجرم نه دئ،

ولې به ئې ګنهګار ګڼي، که احياناً اشتباه ئې کړې وي ژر به ئې اشتباه رفع شي، دا ضرورت نه احساسوي چې د مقابل لوري د اقناع لپاره لوړې ته پناه يوسي.

- د منافقينو منظور له دې وينا چې (ګواهي ورکوو ته حتماً د الله پيغمبر يې) دا نه دئ چې واقعاً د رسول الله صلى الله عليه و سلم په رسالت ايمان لري، داسي ئې نه دي ويلي چې ستا په رسالت مو ايمان راوړی او دې ته چمتو يو چې ستا له هدایاتو او ارشاداتو اطاعت وکړو، په حقيقت کې د دوی ګواهي د هغو ګواهي ته ورته ده چې په دې توګه ورته اشاره شوې:

عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ الْمُرَادِيِّ أَنَّ يَهُودِيَّيْنِ قَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ اذْهَبْ بِنَا إِلَى هَذَا النَّبِيِّ نَسْأَلُهُ فَقَالَ لاَ تَقُلْ لَهُ نَبِيٌّ فَإِنَّهُ إِنْ سَمِعَنَا نَقُولُ نَبِيٌّ كَانَتْ لَهُ أَرْبَعَةُ أَعْيُنٍ فَأَتَيَا النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فَسَأَلاَهُ عَنْ قَوْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ (وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ) فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم « لاَ تُشْرِكُوا بِاللهِ شَيْئًا وَلاَ تَزْنُوا وَلاَ تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِى حَرَّمَ اللهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ وَلاَ تَسْرِقُوا وَلاَ تَسْحَرُوا وَلاَ تَمْشُوا بِبَرِىءٍ إِلَى سُلْطَانٍ فَيَقْتُلَهُ وَلاَ تَأْكُلُوا الرِّبَا وَلاَ تَقْذِفُوا مُحْصَنَةً وَلاَ تَفِرُّوا مِنَ الزَّحْفِ شَكَّ شُعْبَةُ وَعَلَيْكُمُ الْيَهُودَ خَاصَّةً أَنْ لاَ تَعْدُوا فِى السَّبْتِ ». فَقَبَّلاَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ وَقَالاَ نَشْهَدُ أَنَّكَ نَبِيٌّ. قَالَ « فَمَا يَمْنَعُكُمَا أَنْ تُسْلِمَا ». قَالاَ إِنَّ دَاوُدَ دَعَا اللهَ أَنْ لاَ يَزَالَ فِى ذُرِّيَّتِهِ نَبِيٌّ وَإِنَّا نَخَافُ إِنْ أَسْلَمْنَا أَنْ تَقْتُلَنَا الْيَهُودُ. قَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. رواه الترمذى

له صفوان بن عسال رضى الله عنه روايت دئ چې د دوو يهودانو يوه بل ته وويل: راځه چې دې نبي ته ورشو چې ترې وپوښتو، وئې ويل: هغه ته نبي مه وايه، که ئې واورېدل چې موږ ورته نبي وايو نو (له ډېر حيرت او خوشحالۍ به ئې دوه) سترګي څلور شي، دواړه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلل، نو د الله تعالى د دې قول (وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ) په اړه ئې وپوښتل، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: له الله سره هيڅ څه مه شريکوئ، زنا مه کوئ، هغه ژوی مه وژئ چې الله ئې وژل حرام کړي مګر په حقه، غلا مه کوئ، کوډي مه کوئ، يو بې ګناه کوم واکمن ته مه بيايئ چې وئې وژني، سود مه خورئ، پاکلمنه مه تورنوئ، له جګړې مه تښتئ، (دلته شعبه شکمن شوی) او پر تاسو اې يهودانو په ځانګړې توګه دا فرض شوي چې په شنبې کې تېری مه کوئ! نو دواړو د ده لاسونه او پښې ښکل کړې او وئې ويل: موږ شهادت ورکوو چې ته نبي يې، وئې فرمايل: نو څه مو له دې منع کوي چې مسلمان شئ؟ وئې ويل: داؤد عليه السلام دعا

کړې ده چې تل دي د ده په اولاد کې یو نبي وي؛ او مور وېرېږو چې که مسلمان شو یهودان به مو ووژني.

دې ته مو پام وي چې د دې روایت په اړه یوه جدي ملاحظه شته او هغه دا چې قرآن د موسی علیه السلام (تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ) د عصا او ید بیضاء په شمول نه معجزې ګڼي.

راشئ د منافقینو دغه وینا په همدې اړه د مؤمنانو له وینا سره مقایسه کړو، قرآن د رسول الله صلی الله علیه و سلم په وړاندي د صادقو او مخلصو مؤمنانو وینا داسي بولي: قالوا سمعنا و اطعنا: وئې ویل: واموورېدل او اطاعت مو وکړ.

د دې دواړو ویناوو تر منځ صریح او ژور توپیر تر سترګو کېږي، یوه ئې مجرده ادعاء ده او بله ئې جدي او صادقانه ژمنه او تعهد.

قرآن فرمایي چې منافقین د ایمان په دعوی کې د خدعې قصد لري:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ﴿٨﴾ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٩﴾ البقرة

او د خلکو ځیني داسي دي چې وایي: پر الله او د آخرت پر ورځ مو ایمان راوړی، حال دا چې دوی مؤمنان نه دي، له الله او له مؤمنانو سره خدعه کوي، خو له ځانه پرته بل څوک نه شي غولولی، خو نه پوهېږي.

ډېر خلك داسي دي چې وایي په الله او آخرت ایمان لرو خو ایمان نه لري او ډېر بیا داسي دي چې ځان مؤمن ګڼي خو مؤمنان نه دي او ځیني بیا داسي چې ته ئې له ظاهری حالت او عباء او قباء د مسلمان ګمان پرې کوې، خو مسلمان به نه وي، دا ځکه چې ایمان نه په ادعاء دئ، نه په هیلي او تمنی او نه په لباس، عباء او قباء، لیس الایمان بالتمني و لا بالتحلي و لکن هو ما وقر في القلب و صدقه العمل: ایمان نه په تمنی دئ او نه په حلیې او ظاهري لباس، بلکې هغه داسي څه دئ چې په زړه کې ځای نیسي او عمل ئې تصدیقوي او په شته والي ئې شهادت ورکوي.

دوی هم له الله سره خدعه کوي، هم له مؤمنانو سره او هم له خپل ځان سره، خو له ځان پرته بل څوک نه شي دوکه کولی. دوی د خپلي هري ګناه لپاره مذهبي توجیه او شرعي حیلې جوړوي، دا کار ئې داسي دئ لکه له الله سره خدعه او دوکه، له مؤمنانو سره هم خدعه کوي، د هغوی په وړاندي د ایمان او اخلاص تیږه په سینه وهي، خو په دروغو او د دوی د غولولو لپاره، الله تعالی فرمایي چې په دې خدعو سره یوازي ځان او د ځان په څېر خلك غولولی شي، نه الله او نه مؤمنان، ډېر بې شعوره دئ چې ګمان کوي دا خدعه به ئې

خپل مقصد او منزل ته ورسوي.

قرآن همدا راز فرمايي:

وَإِذَا لَقُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ إِلَىٰ شَيَٰطِينِهِمۡ قَالُوٓاْ إِنَّا مَعَكُمۡ إِنَّمَا نَحۡنُ مُسۡتَهۡزِءُونَ ١٤ البقرة

او کله چې له مؤمنانو سره مخامخ شي وايي: ایمان مو راوړی، خو کله چې د خپلو شیطانانو په لور ګوښه شي؛ وایي: موږ یقیناً له تاسو سره یو، موږ خو هسې (په دوی) ملنډې وهونکي یو.

دوی تل خپله څېره بدلوي، په هري ټولنې کې ځان د دوی په څېر کړي، له هر یوه سره د دوستي او ملګرتیا خبره کوي، خو په حقیقت کې نه د چا دوست وي نه ملګری، د خپل غرض په لټه کې وي، د مؤمنانو د بریاوو په وخت کې د دوی خوا ته راشي او په ډېر تأکید سره وایي: موږ هم ایمان راوړی!! خو چې د کفر د جبهې له شیطانو مشرانو سره ګوښه شي نو نه یوازې دا چې د خپل کفر او بې ایمانۍ ډاډ ورکوي بلکې د مؤمنانو خوا ته تګ او څه وخت د دوی په څنګ کې پاته کېدل هسې په دوی ملنډې وهل ګڼي. دوی ګمان کوي چې په دې سره کولی شي دواړه خواوې دوکه کړي او له هر یوه امتیازات تر لاسه کړي، خو په حقیقت کې الله تعالی د دوی د منافقانه عمل مناسبه او ورته سزا ورکوي، هیڅوک پرې باور نه کوي، هیڅوک ئې خپل دوست نه ګڼي، هر څوک د ذلیل، سپک او بې اعتباره انسان په سترګه ورته ګوري.

واقعیت دا دئ چې منافقین نه شي کولی د خپل ایمان د دروغجني ادعاء په اړه مؤکده وینا وکړي، له یوې خوا ئې خپل رواني حالت او باطني کیفیت مانع کېږي، له بلې خوا منافقانه کړنې او مواقف ئې دې ته نه پرېږدي داسې ادعاء وکړي چې کذب ئې څرګند او واضح دئ، خو د دوی معامله د کفر له مشرانو سره بل ډول ده، هغوی د خپلو اعمالو په توري دوسیې کې داسې شواهد لري چې کولی شي پرې استناد وکړي او هغوی د خپل کفر او بې ایمانۍ په اړه مطمئن کړي او د کفر جبهه د خپل اخلاص او صداقت په اړه باوري کړي، له همدې کبله د هغوی په وړاندې د دوی لهجه بدله شي او له تأکید سره توأم وي، له دې آیت معلومېږي چې د منافقینو د وینا اسلوب داسې وي چې له مخې ئې کولی شو د دوی په باطني خبث او منافقت پوه شو، دروغ، تقلب، خدعه او دوکه د دې ډلې بارز مشخصات دي.

قرآن په دې اړه فرمايي:

وَلَوْ نَشَآءُ لَأَرَيْنَٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَٰهُمْۚ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِى لَحْنِ ٱلْقَوْلِۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ أَعْمَٰلَكُمْ ﴿٣٠﴾ محمد

او که وغواړو حتماً به دوی دروښیو چې بیا به ئې حتماً له خپلو څېرو پېژنې؛ او هرومرو به ئې د وینا له طرز او بڼې وپېژنې او الله ستاسو پر عملونو پوهېږي.

په دې مبارك آیت کې د منافق د پېژندو درې معیارونه په ګوته شوي:

الف: د دوی په څېرو کې د نفاق علائم او آثار.

ب: د بیان په طرز او د وینا په لحن او لهجې کې د نفاق نښې.

ج: منافقانه کړنې.

په قرآن کې د بیان په طرز او د وینا په لحن او لهجې کې د نفاق د نښو او هغو کړنو په اړه تفصیلي بحثونه شوي چې له منافقانه باورونو نشأت کوي، د دغو بحثونو او څېړنو په هنداري کې کولی شو په ښه توګه او په آسانۍ سره منافقین وپېژنو، خو د څېړې له نښو او علائمو د دوی د پېژندو علم او لارښوونې نه دي څېړل شوي، که الله تعالی غوښتی نو د منافقینو د پېژندو دا اړخ به ئې هم څېړلی وو او داسې لارښوونې به ئې د قرآن هر مخاطب ته په واك کې ورکړې وې چې له مخې ئې مکار او ریاکار منافق ژر او په آسانۍ پېژندی شي خو د خاص حکمت له کبله ئې دا علائم او نښې نه دي ښودلي.

د منافقینو د پېژندو دوهم ملاك د وینا منافقانه طرز او بڼه دئ، د دوی تبصرې، قضاوتونه او تحلیلونه تر جنګ وړاندې پراو کې، د پربکړې او تصمیم په وخت کې، له دښمن سره د نښتو پر مهال، د بري او ماتې په صورت کې، له ځواکمن دښمن او ضعیف دښمن سره د مقابلې په صورت کې، د هغو مخلصو مؤمنانو په اړه چې خپل هر څه د الله په لار کې وقف کوي او تل او په ټول توان طاقت د اسلام په خدمت کې وي؛ او د هغو مسلمانانو په اړه چې بې وزلې او نېستمن دي او د قربانۍ لپاره لږ څه په واك کې لري، د مشرتابه او قیادت په اړه، د لاندې کچې غړو په ارتباط، د مطیع افرادو په باب او د یاغي او سرغړاندو په اړه ... په ټولو دغو مواردو کې د دوی له لهجې او لحن قول د دوی منافقت پېژندی شو، قرآن په دې اړه مورِ ته کافي لارښوونې کړې دي.

د سورې په لومړي آیت کې ویل شوي چې الله ګواهي ورکوي چې منافقین دروغجن دي، پیغمبر علیه السلام د منافقینو د دې خصلت په اړه فرمایي:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضی الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه و سلم قَالَ " أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقاً خَالِصاً، وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ

حَتَّى يَدَعَهَا: إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ، وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ" متفقٌ عَلَيْهِ و فی روایة مسلم وإن صام وصلی وزعم أنه مسلم

له عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: څلورګوني (خصلتونه) داسي دي چې په چا کې وي بشپړ منافق دئ؛ او په چا کې چې له دغو څلورو یو وي په هغه کې د نفاق یو خصلت دئ، تر هغه چې پرې ئې ږدي: کله چې امین ونیولی شي خیانت کوي، کله چې خبري کوي دروغ وایي، کله چې وعده وکړي غدر کوي؛ او کله چې شخړه کوي سپکي سپوري وایي. او د مسلم په روایت کې دا هم راغلي: که څه هم روژه نیسي، لمونځ کوي او پر خپل ځان ئې دا ګمان کړی چې مسلمان دئ.

لکه څنګه چې د عقیدې، قول او عمل تر منځ یووالی د ایمان مهم شاخص دئ همدا راز د عقیدې، وینا او کړنو تر منځ تضاد او تناقض د نفاق لویه نښه ده، واقعي مسلمان هغه دئ چې عمل ئې د وینا مصداق وي، څه چې په ژبه وایي عمل پرې کوي، کړنې ئې د هغه څه مصداق وي چې باور پرې لري، خو منافق د هغه څه په اړه هیڅ صداقت نه لري چې ژبه ئې وایي، عمل ئې د ده وینا او ادعاء تکذیبوي.

ٱتَّخَذُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ جُنَّةٗ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢

۲- خپل قسمونه ئې د یوه ډال په توګه نیولي، نو د الله له لارې ئې ډډه وکړه، یقیناً چې هغه څه بد دي چې دوی کولو.

---

(۲)- د دې مبارك آیت لارښوونې دا دي:

- د منافقینو مخکینۍ مؤکده دروغجنه ګواهي قسم ګڼل شوی، له دې معلومېږي چې د قرآن په قاموس کې د قسم معنی ګواهي او شهادت دئ، په کوم څه قسم کول داسي دي لکۀ هغه د شاهد په توګه وړاندي کول، څوك چې په الله لوړه کوي معنی ئې دا ده چې الله پر خپلې وینا شاهد نیسي، احناف شهادت او قسم په بشپړه توګه سره ورته ګڼي، هم د معنی او مفهوم له پلوه او هم د حکم او اعتبار له پلوه، د دوی د رأیې د تأیید لپاره دغه آیت کافي دئ، خو ځینې قسم او شهادت بېل بېل ګڼي، هم د معنی له پلوه او هم د حکم او اعتبار له پلوه، حال دا چې دا وینا نه یوازې د قرآن د دغه صریح آیت خلاف ده بلکې له ګڼ شمېر نورو آیتونو سره اړخ نه لګوي، دا دئ ګورئ چې دلته شهادت او قسم مترادف او هممعنی ګڼل شوي.

• دلته ویل شوي چې منافقینو خپل قسمونه د یوه ډال په توګه کارولي، نو د الله له لاري ئې ډډه وکړه، یقیناً چې هغه څه بد دي چې دوی کولو.

که دا آیت له مخکیني سره یو ځای وڅېړو نو متوجه کېږو چې د منافقینو مؤکد کلام له لوړي او قسم سره مترادف ګڼل شوی او موخه ئې دا ده چې له خپل قسم یو ډال جوړ کړي، لکه څنګه چې خلك په ډال سره د بل بریدونه دفع کوي دوی هم په قسمونو سره هغه اعتراضات دفع کوي چې د دوی پر بدو کړنو او منافقانه دریځونو کېږي، د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې قسم ته پناه وړل د منافقینو یو څرګند خصلت ګڼل شوی، منافقین د اسلام او مسلمانانو په ضد خپل جنګ کې له قسمونو د یوې مؤثري وسیلې او حربې په توګه استفاده کوي، په همدې ډال سره له خپلو منافقانه ویناوو، تبصرو، کړنو او دریځونو دفاع کوي او مسلمانان پرې غولوي، لکه چې قرآن فرمایي:

يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُوا۟ وَلَقَدْ قَالُوا۟ كَلِمَةَ ٱلْكُفْرِ وَكَفَرُوا۟ بَعْدَ إِسْلَٰمِهِمْ وَهَمُّوا۟ بِمَا لَمْ يَنَالُوا۟ ۚ وَمَا نَقَمُوٓا۟ إِلَّآ أَنْ أَغْنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضْلِهِۦ ۚ فَإِن يَتُوبُوا۟ يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۖ وَإِن يَتَوَلَّوْا۟ يُعَذِّبْهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ۚ وَمَا لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٧٤﴾ التوبه

د الله په نامه لوړه کوي چې ویلي ئې نه دي، حال دا چې یقیناً د کفر وینا ئې کړې، له خپلې مسلمانۍ وروسته (بېرته) کافران شوي او د هغه څه هڅه ئې کړې ده چې نه ورورسېدل؛ او نیوکې ئې یوازې په دې وجه وې چې الله او پیغمبر ئې دوی له خپل فضل برخمن کړل، نو که ئې توبه وکړه ورته غوره ده او که ئې مخ واړاوو نو الله به ئې په دنیا او آخرت کې په دردناك عذاب سره تعذیب کړي او په زمکي کې به ئې نه کوم دوست وي او نه کوم مرستندوی.

ګورئ چې دلته د منافقینو یو قسم او لوړه زمور مخي ته اېښودل شوې، لوړه ئې په دې باندي ده چې د کفر وینا ئې نه ده کړې او د اسلام او مسلمانانو په ضد ئې داسي څه نه دي ویلي چې د کفر بوی ترې راځي؛ او داسي څه ئې نه دي کړي چې د دوی د کفر څرګندونه کوي، خو الله تعالی فرمایي: دوی دروغ وایي، یقیناً داسي څه ئې ویلي او کړي دي چې په هغه سره له مسلمانۍ وروسته بېرته کافران شوي او د هغه څه هڅه ئې کړې ده چې نه دي پرې برلاسي شوي، غوښتل ئې د اسلام او مسلمانانو په ضد ډېر څه وکړي خو نه دي توانېدلي، منافقینو دې ته هم نه کتل چې الله تعالی د پیغمبر علیه السلام د راتلو او په مدینې منورې کې د اسلام د نور ځلېدو سره څومره ښېګڼې د دې ولس په برخه

کړي، له جهل، شرك او خرافاتو وژغورل شول، خپل منځي جګړي ئې په وروروڼ بدلي شوې، د يوه ضعيف، کمزوري او نوم ورکي قوم له سطحي د قوت، عزت او نېك نوم لوړو څوکو ته ورسېدل، نه يوازي د دغو الهي پېرزوينو پاس نه ساتي بلکي د پيغمبر عليه السلام په ضد له دښمنۍ ډك تبليغات کوي، د دوی تبلغيات، اعتراضات او نيوکي په حقيقت کي د هغه ستر احسان يوه ناروا او ظالمانه بدله ده چې د الله تعالی او پيغمبر عليه السلام له لوري د دوی په برخه شوی!! دوی ته دا غوره ده چې توبه وکړي، خو که له توبې مخ واړوي نو الله به ئې په دنيا او آخرت کي په دردناك عذاب سره تعذيب کړي او په زمکي کي به ئې نه کوم دوست وي او نه کوم مرستندوی.

يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن يُرْضُوهُ إِن كَانُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾ التوبه

پر الله درته لوړه کوي چې راضي مو کړي؛ حال دا چې الله او رسول ئې ترټولو زيات د دې حقدار دي چې راضي ئې کړي که مؤمنان وی.

دلته يو ځل بيا ويل شوي چې منافقين د الله په نامه لوړه کوي او په دې سره غواړي چې مؤمنان له ځانه راضي او خوشحال کړي، يا کومه څرګنده غلطي ترې شوې او غواړي په قسمونو سره ئې توجيه کړي، يا د مسلمانانو د اعتماد تر لاسه کولو لپاره قسمونه خوري چې په خپل ايمان کي صادق دي او مسلمانانو ته اخلاص لري. خو الله تعالی د دوی په اړه فرمايي: که پر الله او د هغه پر رسول ايمان لرئ نو د خلکو په ځای د الله او د هغه د رسول رضاء ولټوئ، هغه کار وکړئ چې الله او د هغه رسول پرې راضي کېږي.

وَيَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنكُمْ وَمَا هُم مِّنكُمْ وَلَٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ ﴿٥٦﴾ التوبه

او پر الله لوړه کوي چې دوی ستاسو له ډلي دي، حال دا چې دوی ستاسي له ډلي نه دي؛ خو دوی هغه وګړي دي چې وېرېږي.

دلته ويل شوي چې دوی به د الله په نامه لوړه کوي چې د مسلمانانو ملګري او د دوی د ډلي صادق او مخلص غړي دي، په داسي حال کي چې نه مسلمانان دي او نه د مسلمانانو ملګري دي، له مسلمانانو سره د دوی د يو ځای کېدا سبب راښيي او وايي چې هغوی له مسلمانانو وېرېږي، دغي وېري دې ته اړ کړي چې د مسلمانانو په خوا کي ودرېږي، بل پناه ځی نه لري، داسي سوړه په نظر نه ورځي چې پناه وروړي، بل داسي ځای نه مومي چې ورشي او له هغو ګواښونو ځان خوندي کړي چې د مسلمانانو له زياتو بریاوو ئې احساسوي.

د صدوا دوه ګونو معنی وو ته په پام سره د آیت دا فقره (فصدوا عن سبیل الله) دوه مطالب افاده کوي: د الله له لاري ئې ډډه وکړه، د الله له لاري ئې نور منع کړل، منافقین هم په خپله د الله له لاري ډډه کوي او هم نور ترې منع کوي، دوی داسي انګېري چې کولی شي مسلمانان وغولوي، د قسمونو په مرسته هغوی ته دا انتباه ورکړي چې د ایمان په اړه په خپلي ادعاء کې او د مسلمانانو په اړه په خپل تعهد کې رښتیني او مخلص دي، د خلکو د راضي کولو په لټه کې وي نه د الله تعالی د رضاء په لټه کې، نو ځګه د الله له لاري کاږه درومي او نور هم له سمي لاري منحرف کوي، د دوی کړنې ډېري بدي دي، دوی به تل داسي ومومئ چې د ژوند په ډېرو برخو کې د الله له لاري عدول کوي، په کږو لارو درومي، په جهاد کې برخه نه اخلي، په لمانځه کې کسل وي، له انفاق ډډه کوي، دوی له یوې خوا عملاً هڅه کوي چې نور د ځان په څېر کړي، په کږو لارو تګ کې ئې د ځان ملګري کړي، له بلې خوا د دوی بیماري په خپله نورو ته سرایت کوي،

مؤمن د الله تعالی رضاء لټوي، له داسي وینا او عمل ځان ساتي چې الله تعالی پرې ناراض کېږي، خو منافق د خپلو اغراضو بنده وي، یوازي هغه څه ورته صحیح او معقول برېښي چې د ده منحط دنیایي اغراض تأمین کړي او هوسایي ئې ونه ګوابنې، یوازي هغه مهال دین ته رجوع کوي او پرېکړي ئې مني چې خپلو اغراضو ته په رسېدو کې د ده مرسته وکړي، قرآن فرمایي:

وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُم مُّعۡرِضُونَ ٤٨ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلۡحَقُّ يَأۡتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ٤٩ النور

او کله چې د الله او د هغه د رسول لوري ته وبلل شي چې د دوی تر منځ پرېکړه وکړي ناڅاپه د دوی یوه ډله ډډه کوي؛ او که حق د دوی په لوري وي نو داسي ورته راځي چې غاړه اېښودونکي وي،

ځینې خلك داسي دي چې پر الله او پیغمبر د ایمان او د دین په وړاندي د التزام او اطاعت دعوی کوي خو په حقیقت کې مؤمنان نه دي، د عدم ایمان لویه نښه او وجه ئې دا ده چې کله د الله تعالی او د هغه د رسول لوري ته وبلل شي چې د دوی تر منځ پرېکړه وکړي نو ډډه کوي او دې ته نه چمتو کېږي چې چاري، شخړي او منازعات ئې د الله تعالی د حکم او د رسول الله صلی الله علیه و سلم د سنت مطابق تر سره او حل و فصل شي، په ځانګړې توګه هغه مهال چې د دین پرېکړه د دوی د دریځ او ګټو خلاف وي، خو که پوه شي چې د الله او د هغه د رسول پرېکړه به د دوی په حق کې وي نو بیا له بشپړ انقیاد

سره دين ته رجوع کوي او پر ديني احکامو او نصوصو استناد او تمسک کوي. قرآن وايي: داسي کسان له څو حالته وتلي نه دي: يا ئې په زړونو کې د نفاق بيماري ده، يا ئې ايمان له شک سره توأم دئ او د زړه له کومي او په صادقانه توګه پر خداى او پيغمبر ايمان نه لري او يا له دې وېرېږي چې الله او د ده رسول به ظلم پرې وکړي، د دين پرېکړه به عادلانه نه وي او د دوى حق به تأمين نه کړي!!

قرآن د هغه چا د ايمان دعوى بې اعتباره ګڼي چې عملاً د الله دين ته منقاد نه وي، فرمايي:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾ النساء

نو نه؛ ستا په رب قسم چې تر هغه ئې ايمان نه دئ راوړى چې تا په خپلمنځيو شخړو کې حکم ونه ګرځوي، بيا ستا د پرېکړې په اړه په خپلو زړونو کې تنګوالى ونه مومي او په بشپړه توګه تسليم نه شي.

يعني ترهغه چې اې رسول الله! تا په خپلو شخړو کې حکم ونه نيسي او بيا ستا په پرېکړې راضي نه شي او په خپلو زړونو کې هيڅ حرج احساس نه کړي او عملاً انقياد ونه کړي، مؤمنان نه شي بلل کېدى او د ايمان ادعاء ئې نه شي قبلېدى. له دې آيته په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د ايمان د قبلېدو لاندي شرائط دي:

- شخړې او منازعات شريعت ته محول کول.
- د اسلام په هرې پرېکړې رضايت.
- او هر حکم ته ئې عملاً غاړه ايښودل.

همدا راز فرمايي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓاْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾ النساء

آيا هغه دي ونه ليدل چې ګمان کوي هم پر هغه څه ايمان لري چې پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه چې تر تا د مخه نازل شوي، خو غواړي چې د تحاکم لپاره طاغوت ته ورشي، حال دا چې ورته امر شوى چې له هغه به انکار کوي او شيطان غواړي چې په ژوري تېروتني سره ئې تېرباسي.

د دې آیت له مخې د هغه چا د ایمان دعوی د منلو نه ده چې طاغوت ته خپلې شخړې راجع کوي، څوك چې د طاغوت واکمنۍ ته غاړه ږدي او د خپلو مشاجراتو په اړه د هغه پرېکړې مني، هغه سخت تېروتی، شیطان دوکه کړی، د ایمان دعوی ئې د اعتبار وړ نه ده، حتی که په ځان ئې دا ګمان هم وي چې هم پر قرآن ایمان لري او هم پر مخکینیو کتابونو. تر هغه چې ته له طاغوت انکار ونه کړې؛ الله تعالی ستا ایمان نه قبلوي.

دا آیت نه یوازې د ایمان حقیقت مورد ته راښیي بلکې د طاغوت معنی هم راښیي، طاغوت هغه دئ چې خلك د خپلو شخړو د حل و فصل لپاره ورته رجوع کوي، حاکم او قاضي دئ خو پرېکړې ئې د الله د دین مطابق نه دي او په ماانزل الله حکم نه کوي، طاغوت شیطان نه بلکې شیطان ته منقاد حاکم دئ.

قرآن فرمایي چې منافقین په جهاد کې له برخې اخیستو ډډه کوي:

وَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٌ أَنۡ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُواْ مَعَ رَسُولِهِ ٱسۡتَـٔۡذَنَكَ أُوْلُواْ ٱلطَّوۡلِ مِنۡهُمۡ وَقَالُواْ ذَرۡنَا نَكُن مَّعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ٨٦ رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ٨٧ التوبه

او کله چې کومه داسي سوره نازله شي چې (وایي) په الله ایمان راوړئ او د ده له پیغمبر سره یوځای جهاد وکړئ؛ نو د دوی وسي او توانمن به اجازه درنه غواړي او وایي به: مورږ پرېږده چې له ناستو سره وو. په دې راضي شول چې له وروسته پاتو ښځو سره وي! او پر زړونو ئې مهر لګول شوی نو ځکه نه پوهېږي.

کله چې داسي سوره نازله شي چې د الله تعالی په لار کې د جهاد حکم کوي، یعني د جهاد وخت راورسېږي، حالت د دې تقاضا وکړي چې مسلمانان جهاد ته ملا وتړي، هر پر دین پوه مؤمن ته دا جوته شي چې اوس نو د دین غوښتنه دا ده چې وسلې ته لاس کړو او د الله تعالی په لار کې وجنګېږو، نو د منافقینو شتمن او توانمن به وګورې چې غواړي په جهاد کې له برخې اخیستو معاف شي، په دې راضي کېږي چې د هغو ښځو په څېر وروسته پاته شي چې له جهاد معافي دي، د مېړنو مجاهدینو په څېر جهاد ته ملا نه تړي، بلکې دا پېغور مني چې د وروسته پاتو ښځو په قطار کې محسوب شي، د دې بې همتۍ او منافقت وجه دا ده چې د منافقتونو په سبب ئې پر زړونو مهر لګول شوی او پر حقیقت له پوهېدا عاجز دي. معیارونه ئې بدل شوي، دوی سره له دې چې شتمن او توانمن دي په جهاد کې برخه نه اخلي او همدا د بې همتۍ کار ته د پوهي او زیرکتیا نوم ورکوي، دا ځکه چې د دوی معیارونه بدل شوي او دا ځکه چې د قرآن د معیارونو له مخې دوی هوښیار

او پوه نه بلکي کمعقله دي او نه پوهېږي.

په دې اړه مؤمنان او منافقان داسي مقايسه کوي:

لَا يَسْتَـْٔذِنُكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ أَن يُجَـٰهِدُوا۟ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلْمُتَّقِينَ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَا يَسْتَـْٔذِنُكَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ وَٱرْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِى رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ ﴿٤٥﴾ التوبه

هغه چې پر الله او د آخرت پر ورځي ايمان لري؛ په خپلو مالونو او ځانونو سره د جهاد له کولو د (معاف کېدو) اجازه نه درنه غواړي؛ او الله په دغو متقيانو ښه پوه دئ. يوازي هغه کسان درنه اجازه غواړي چې پر الله او د آخرت پر ورځي ايمان نه لري، زړونو ئې شک کړی او په خپل شک کې لالهانده او متردد دي.

د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- څوک چې پر الله تعالی او د آخرت پر ورځي ايمان لري؛ تل به دې ته چمتو وي چې د الله په لار کې د خپل سر او مال په بيع جهاد وکړي، دا واقعي مؤمن به هيڅکله له تا دا اجازه ونه غواړي چې له جهاد د شا ته پاته کېدو رخصت ورکړې.
- په الهي معيارونو کې واقعي متقي او پرهيزګار مسلمانان همدغه مجاهدين دي، الله تعالی د دوی په حال ښه پوه دئ او د همدغې پوهې په اساس وايي چې دوی له جهاده شا ته پاته کېدا نه خوښوي.

له جهاد به هغه څوک ډډه کوي او په حيلو او بهانو سره به رخصت تر لاسه کوي چې ځينې خصلتونه ئې دا دي:

- پر الله تعالی ايمان نه لري،
- پر آخرت باور نه لري،
- په زړونو کې ئې شک دئ، د الله تعالی په اړه، د آخرت په اړه، د الله تعالی د وعدو په اړه؛ او د اسلام د حقانيت په اړه، او
- په خپلو شکونو کې متردد دي.

يعني منافق به له جهاد ډډه کوي!! او له جهاد به د رخصت تر لاسه کولو هڅه کوي!!

همدا راز فرمايي:

وَلَوْ أَرَادُوا۟ ٱلْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا۟ لَهُۥ عُدَّةً وَلَـٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ ٱنۢبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ ٱقْعُدُوا۟ مَعَ ٱلْقَـٰعِدِينَ ﴿٤٦﴾ التوبه

او که ئې وتل غوښتی نو حتماً به ئې (اړوند) سامان ورته تیار کړی وو، خو الله د دوی پاڅېدل کرکجن وګڼلو نو سست او منصرف ئې کړل او (ورته) وویل شو چې له ناستو سره کښېنئ.

دا آیت څو لارښوونې لري:

- وایي که منافقینو په جهاد کې د برخې اخیستو اراده درلودی نو هرومرو به ئې د هغه لپاره ضروري سامان برابر کړی وو، یعني منافقین له دې هم پېژندی شئ چې هغوی په جهاد کې نه د برخې اخیستو اراده لري او نه تیاری ورته نیسي، د جهاد لپاره چې کومو وسائلو او وسلو ته ضرورت دئ او کومه روزنه او تیاری غواړي دوی به ترې بې برخې ومومئ. د وسلو په استعمال نه پوهېږي، د توپك په لیدو سره وېره پرې راشي!!
- د (ارادې نشتوالی) او د (جهادي سامان نه برابرول)؛ د دې باعث شو چې الله تعالی دوی ته په جهاد کې د برخې اخیستو سعادت ورپه برخه نه کړي او سستي او لټي ئې په شور او شوق بدله نه کړي او دې ته ئې پرېږدي چې د خپل نفس، خپل شیطان او خپلو منافقو ملګرو دا خبره ومني چې ورته ویل ئې: له نورو ناستو کسانو سره تاسو هم کښېنئ او په جهاد کې برخه مه اخلئ.

د دغو منافقینو په مقابل کې مخلص مؤمنان داسې انځوروي:

وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ قُلۡتَ لَآ أَجِدُ مَآ أَحۡمِلُكُمۡ عَلَيۡهِ تَوَلَّواْ وَّأَعۡيُنُهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُواْ مَا يُنفِقُونَ ﴿٩٢﴾ التوبه

او نه پر هغو چې تا ته د دې لپاره راغلل چې (پر سپرلیو ئې) سپاره کړې؛ تا (ورته) وویل: داسې څه نه مومم چې تاسو پرې سپاره کړم، (نو) په داسې حال کې تر شا شول چې له سترګو ئې اوښکې خوښېدې، له دې غمه چې داسې څه نه مومي چې انفاق ئې کړي.

یعني هغه هم ملامت نه دي چې غواړي په جهاد کې برخه واخلي؛ له پیغمبر علیه السلام یوازي د سورلۍ غوښتنه کوي، خو چې ورنه کړی شي نو ئې اوښکي پر مخ وبهېږي؛ له دې حسرته چې ولې دومره نېستمن دئ چې په جهاد که د برخې اخیستو لپاره سورلۍ هم نه شي برابرولی!!

د دغو خلکو عذر هم په دې شرط منل کېږي چې له الله او د هغه له پیغمبر سره ئې خواخوږي وي، د اسلام او مسلمانانو بریا او برلاسي غواړي او په دې ئې زړه ناقراره وي چې ولې په جهاد کې د شرکت سعادت ورپه برخه نه شو.

ګورئ چې دوی د الله په لار کې جهاد او قربانۍ ته تلوار لري، ایمان او احساسات ئې

هڅوي چې له مجاهدينو سره يو ځای د جهاد سنګرونو ته ولاړ شي خو واقعي مجبوريتونه او د وسلو او وسائلو نشتوالی ئې مانع کېږي، دا حالت ئې دومره ځوروي چې اوښکې ئې بهېږي او په ډېر تأسف سره وايي: کاش داسې وسيله ئې په واک کې وی چې په جهاد کې له برخې اخيستو نه وی محروم شوی!!

خو منافقين په دې راضي کېږي چې په جهاد کې له برخې اخيستو معاف شي، قرآن فرمايي:

رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ٨٧ التوبه

په دې راضي شول چې له وروسته پاتو ښځو سره وي! او پر زړونو ئې مهر لګول شوی نو ځکه نه پوهېږي.

يعني د منافقينو شتمن او توانمن به وګورې چې غواړي په جهاد کې له برخې اخيستو معاف شي، په دې راضي کېږي چې د هغو ښځو په څېر وروسته پاته شي چې له جهاد معافي دي، د مېړنو مجاهدينو په څېر جهاد ته ملا نه تړي، بلکې دا پېغور مني چې د وروسته پاتو ښځو په قطار کې محسوب شي، د دې بې همتۍ او منافقت وجه دا ده چې د منافقتونو په سبب ئې پر زړونو مهر لګول شوی او پر حقيقت له پوهېدا عاجز دي. معيارونه ئې بدل شوي، دوی سره له دې چې شتمن او توانمن دي په جهاد کې برخه نه اخلي او همدا د بې همتۍ کار ته د پوهي او زيرکتيا نوم ورکوي، دا ځکه چې د دوی معيارونه بدل شوي او دا ځکه چې د قرآن د معيارونو له مخې دوی هوښيار او پوه نه بلکې کمعقله دي او نه پوهېږي.

همدا راز فرمايي:

فَرِحَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ بِمَقۡعَدِهِمۡ خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓاْ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِي ٱلۡحَرِّۗ قُلۡ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّٗاۚ لَّوۡ كَانُواْ يَفۡقَهُونَ ٨١

التوبه

شا ته پرېښودل شوي (وګړي) د رسول الله په خلاف په خپلي ناستي خوشحال شول او له دې ئې کرکه وکړه چې د الله په لار کې په خپل مال او ځان سره جهاد وکړي او وئې ويل: په ګرمي کې مه وځئ، (ورته) ووايه: د دوزخ اور تر ټولو زيات ګرم دئ؛ کاش دوی پوهېدی.

دا هم بايد وځېړو چې منافقين څنګه د نورو په وړاندې خندې کېږي او خلك د الله له لاري منع کوي، د الله له لاري ممانعت څو صورتونه لري:

لومړی صورت: عمداً او له خپل زور ځواك په استفادې سره او په خپلو تبلیغاتو سره خلك د الله له لارې منع کول، دا کار هم د اسلام څرګند دښمن کوي او هم د دوست په جامه کې هغه منافق چې په زړه کې ئې د اسلام او مسلمانانو کینه وي، قرآن فرمایي:

وَقَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ ءَامِنُواْ بِٱلَّذِىٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَجْهَ ٱلنَّهَارِ وَٱكْفُرُوٓاْ ءَاخِرَهُۥ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٧٢﴾ آل عمران

او د اهل کتاب یوې ډلې وویل: د ورځې په سر کې په هغه څه ایمان راوړئ چې پر مسلمانانو نازل شوی او په پای کې ئې کافر شئ چې راوګرځي.

دوی د دښمن له لوري ګمارل شوي چې سحر د مسلمانانو په خوا کې اعلان وکړي چې مونږ هم ایمان راوړی او مسلمانان شوو، خو د ورځې په پای کې بېرته له اسلام خپل برائت اعلان کړي او ووایي چې مونږ اسلام له نژدې ولید، پوه شوو چې دا دین د منلو نه دئ، تر دې زمونږ خپل دین غوره دئ، په دې سره به په عامو مسلمانانو کې د اسلام په اړه شکوك او شبهات راپیدا شي او له اسلام به لاس واخلي.

منافقین تل د دښمن له لوري په همداسي کار ګمارل کېږي چې له دې لارې په مسلمانانو کې شکوك او شبهات راولاړ کړي.

په بل ځای کې فرمایي:

لَوْ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُواْ خِلَٰلَكُمْ يَبْغُونَكُمُ ٱلْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّٰعُونَ لَهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾ التوبه

که ستاسو په لیکو کې وتلي وی نو له تاوانه پرته به ئې بل څه نه وو درزیات کړي، هرو مرو به ئې د فتنو په لټه کې په تاسو کې ځغلول کول او په تاسو کې د دوی لپاره اوربدونکي شته، الله د دغو ظالمانو په حال ښه پوه دئ.

دا آیت د دې ډلې او د دوی د فتنو راولاړولو د هڅو او تحرکاتو په اړه څو اساسي مطالب بیانوي:

الف: د دوی شته والی ستاسو قوت او ځواکمني نه زیاتوي، بلکې د فساد او بدنظمۍ باعث کېږي.

ب: د دوی هڅه دا وي چې په تاسو کې فتنې راولاړې کړي، د شرارت آسونه به هر لوري ته ځغلوي.

ج: ستاسو په لیکو کې داسي کسان شته چې د دوی د تبلیغاتو تر اغېز لاندې راځي، ځینې د سفاهت او سادګۍ په وجه، ځینې د خپلو عقدو او حسادتونو په وجه او ځینې په دې

خاطر چې په يوه او بل څه ناراض دي، دوی ئې تحريك کړي او د اختلافاتو د راولاړولو په لار کې تړې کار واخلي.

د: دوی ظالمان دي.

هـ: الله تعالى چې د دې ظالمي ډلې په اړه څه ويلي دي دا په الهي علم ولاړ وضاحت دئ، دا د هغه عليم خداى وينا ده چې هم دا خلك ښه پېژني او هم ئې په کړو وړو ښه پوه دئ.

د ممانعت دوهم صورت دا دئ چې منافقين نه يوازې په خپلو منافقانه مواقفو او دريځونو سره د واقعي مؤمنانو او د حق لارې مجاهدينو په عزم او اراده کې خلل او فتور راپيدا کوي بلکې مضاف پر دې د دوی منافقتونه د دې باعث کېږي چې د دعوت په مخاطبينو کې شکوك او شبهات راولاړ شي، د دعوت مخاطبين همدا منافقين د اسلام ممثل او مصداق ګڼي، خو د دوی کړنې، اطوار او اخلاق د ايمان د غوښتنو مغاير مومي، دا تناقض او دوه رنګي نه يوازې د دعوت په مخاطبينو کې شکوك او شبهات راولاړوي بلکې د دعوت په وړاندې د دوی انزجار او نفرت راپاروي، د هر اصيل اسلامي نهضت څېره مخدوشوي؛ او نهضت په مجموع کې خلکو ته مشکوك حرکت معرفي کوي، په حقيقت کې د دې ډول ممانعت او انسداد خطر او ضرر ډېر زيات او د اسلامي نهضت لپاره ډېر مضر دئ، ځکه دښمن که هر څومره ځواکمن وي، نه شي کولى د اسلام د بري مانع شي او اسلام ته د خلکو د راتلو مخه ونيسي، د اسلام او د اسلام غېږې ته د خلکو د راتلو مخه هغه مهال نيول کېږي چې د مسلمانانو عملي وضعيت د اسلام ښکلې څېره بد رنګه وښيي او په داسي مسخ شوې بڼې کې وړاندې شي چې له ايمان سره اړخ نه لګوي، يقيناً کومه دښمني چې د ايمان غيرمخلص مدعيان د اسلام په جامه کې له اسلام او مسلمانانو سره کوي بل هيڅ دښمن ئې نه شي کولى. ډيرى خلك داسي دي چې د هر دين او عقيدې په اړه د هغه د پلويانو د عمل له مخې قضاوت کوي، په نورو توپيرونو ئې ژر سر نه خلاصېږي، د هر يوه مشهود او محسوس نتائجو ته په پام سره يو پر بل غوره ګڼي، که داعي داسي وموميچې له حق دفاع کوي، د هغه په مقتضا عمل کوي، په خپل شخصي ژوند کې ورته التزام لري، د پلي کولو لپاره ئې په صادقانه او مخلصانه توګه هڅه کوي، د حق د بري لپاره ستونزې او کړاوونه ګالي، پر داسي داعي اعتماد کوي، دعوت ئې رښتينى او صادقانه ګڼي، هغه قبلوي او له کومې اندېښنې پرته له هغه سره ملګرتيا کوي، خو که وګوري چې د داعي خبرې يو رنګ او عمل ئې بل ډول دئ، خبرې ئې لويي لويي او جالبي خو عمل ئې کرکجن او د ده د ادعاء خلاف، نه په خپل شخصي ژوند کې د خپلو ويناوو مصداق دئ او

نه د خپل دعوت رښتینی ممثل، د قول او عمل تر منځ دا توپیر او تناقض د دې باعث کېږي چې هم د داعیانو د هدف په اړه شك وکړي او هم په خپله د هغه دعوت په اړه چې دوی ئې خلکو ته وړاندي کوي، ګمان کوي چې د دې دعوت بنسټ حتماً پر دوکې او خدعې ولاړ دئ او تر شا ئې نور اغراض او مقاصد پټ دي، نو ځکه له داسې ډلې ځان ساتي او د دوی له ملګرتیا ډډه کوي، قرآن په دې اړه فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ وَٱلرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۗ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ التوبه

اې مؤمنانو! ډېرى احبار (د یهودانو ملایان) او رهبان (د مسیحیانو پیران)؛ د خلکو مالونه په ناحقه خوري او د الله له لاري مخنیوی کوي او هغه چې سره او سپین زر ذخیره کوي او د الله په لار کې ئې نه مصرفوي نو د دردناك عذاب زېرى ورکړه.

د دې مبارك آیت په ترڅ کې الله تعالى موږ ته د اهل کتاب ټګمار علماء او دوکه مار پیران معرفي کوي او فرمایي:

- د دوی ډېرى د خلکو مالونه په ناحقه خوري.
- د الله له لاري مخنیوی کوي.

یعني له دین ئې ځان ته دکان جوړ کړى، خلك غولوي او شکرانې ترې اخلي، د پیسو په مقابل کې فتوى ګاني پلوري، د حکامو په خدمت کې وي، د هغوی د تخت او تاج د بقاء دعاء کوي چې څه زهر او زقوم په خوله کې وروا‌چوي، د سودخورو په ګټه سودي معاملات روا ګڼي، د دې لپاره چې سودخورو هغوی ته کومه چپنه او پګړۍ ورکړې وي.

دغو ټګمارانو به په دې توګه حرام مال تر لاسه کاوو: رشوت، سود، د الله په نامه څه تر لاسه کول او په خپله ئې خوړل، د ګناهونو د بخښلو، جنت ته د ننوتو او له دوزخ د ژغورل کېدو اسناد پلورل، د حکامو لپاره فتوى ګاني ورکول، په فال، تعویذ، کوډو او دم شکرانې او نذرانې تر لاسه کول. د دوی دغه عملونه د دې باعث کېدل چې خلك له دین کرکه وکړي.

قرآن دا هم د منافقینو کار ګڼي چې کله په مسلمانانو کې وېره خوروي او کله بې ځایه طمع، کله له دښمنانو مسلمانان وېروي او کله ئې له هغوی غافل کوي او د هغوی په اړه بې ځایه هیلې په دوی کې راپیدا کوي، هم له دښمنه بې ځایه وېره خطرناك عواقب لري او هم له هغه غافل کېدل او په خطر ئې سترګې پټول او د هغه له لوري د امنیت

احساس کول. هر څوك چې دا کار کوي هغه منافق دئ، د پيغمبر عليه السلام په وخت کې هم او نن هم. قرآن فرمايي:

وَإِذَا جَآءَهُمۡ أَمۡرٞ مِّنَ ٱلۡأَمۡنِ أَوِ ٱلۡخَوۡفِ أَذَاعُواْ بِهِۦۖ وَلَوۡ رَدُّوهُ إِلَى ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنۡهُمۡ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسۡتَنۢبِطُونَهُۥ مِنۡهُمۡۗ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ لَٱتَّبَعۡتُمُ ٱلشَّيۡطَٰنَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٨٣﴾ النساء

او که کله د امن يا د وېرې کوم خبر ورته راشي؛ خپروي ئې، خو که هغه ئې پيغمبر او خپلو چارواکو ته رسولی وی، نو د دوی استنباط کوونکي به حتماً پرې پوه شوي وو او که پر تاسو د الله فضل او رحمت نه وی نو له لږو پرته به تاسو ټولو د شيطان متابعت کړی وو.

په دې سره مسلمانانو ته ويل شوي چې د هغو شايعاتو له خورولو ډډه وکړئ چې يا بې ځايه وېره راولاړوي او يا مسلمانان د دښمن له خطره غافل کوي، که د دښمن په اړه کومه اطلاع تر لاسه کوئ نو دا بايد خپلو مشرانو ته ورسوئ.

څوك چې دا کار کوي هغه نه يوازي منافق دئ بلکې الله تعالی دلته د داسي خطرناك شيطان په نامه ياد کړی چې مسلمانان د الله په فضل سره د هغوی له شره خوندي پاته کېدی شي، دا د لستونې مار دئ، له نېش ئې يوازي د الله په فضل خوندي پاتې کېدی شئ.

قرآن هغو کسانو ته دشيطان لقب ورکړی چې مؤمنان د دښمن له کثرت او قوت وېروي، فرمايي:

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوۡلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٧٥﴾

آل عمران

دا خو فقط شيطان وو چې خپل دوستان ئې وېرول، نو له هغوی مه وېرېږئ، له ما ووېرېږئ که مؤمنان ياست.

د دې مبارك آيت لارښوونې دا دي:

- څوك چې مسلمانان د دښمن له ځواکونو وېروي د قرآن له نظره (شيطان) دئ، د دې شيطان دا وېره اچوونکي تبليغات په هغو کسانو اغېز شيندي چې له شيطان سره ئې دوستي وي، د ده تبليغات په هغه چا اثر نه کوي چې له شيطان سره ئې خپلې اړيکي قطع کړې وي.
- د الله حکم او په الله د ايمان تقاضا دا ده چې د دښمن له زور ځواك ونه وېرېږو او

وېره مو يوازې له يوه الله وي.

وَمَآ أَصَٰبَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِ فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَلِيَعۡلَمَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٦٦ وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ نَافَقُواْۚ وَقِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ قَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ ٱدۡفَعُواْۖ قَالُواْ لَوۡ نَعۡلَمُ قِتَالٗا لَّٱتَّبَعۡنَٰكُمۡۖ هُمۡ لِلۡكُفۡرِ يَوۡمَئِذٍ أَقۡرَبُ مِنۡهُمۡ لِلۡإِيمَٰنِۚ يَقُولُونَ بِأَفۡوَٰهِهِم مَّا لَيۡسَ فِي قُلُوبِهِمۡۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يَكۡتُمُونَ ١٦٧ آل عمران

او هغه څه چې د دوو فوځونو د مخامخ کېدو په ورځ درورسېدل، دا خو د الله په حکم او د دې لپاره وو چې مؤمنان معلوم کړي. او د دې لپاره چې هغه کسان هم معلوم کړي چې منافقت ئې کاوو او چې ورته وویل شو: راشئ یا د الله په لار کې وجنګېږئ یا دفاع وکړئ! وئې ویل: که د کوم جنګ پوهه مو وی حتماً مو ستاسو متابعت کاوو!! دوی په دغه ورځ کفر ته ډېر ورنژدې وو، تر هغه واټن چې له ایمانه ئې درلودو، په خوله ئې هغه څه ویل چې په زړونو کې ئې نه وو او الله په هغه څه ډېر ښه پوه دئ چې دوی ئې پټوي.

د هغې ماتې او د هغو تلفاتو پرېکړه الله کړې وه، املونه ئې تاسو په خپله برابر کړي وو، هر څه د الله د سننو مطابق واقع کېږي، الله غوښتل چې په دې سترې ابتلاء سره د واقعي مؤمنانو او منافقینو تر منځ تفکیك وشي، هغه منافقین راڅرګند شي چې نه د الله په لار کې جنګ ته تیار وو او نه له مدینې دفاع ته، د دوی پېژندنه ضروري وه، د دې لپاره چې په راتلونکي کې نه د الله په لار کې د جنګ په اړه په دوی حساب وکړئ او نه له مدینې د دفاع په اړه، تاسو په خپلو سترګو ولیدل چې د جهاد او دفاع په اړه د منافقینو ځواب څه وو؟ انکار، خو دا انکار په داسې الفاظو سره چې د دوی په څېر دوه مخی دئ، په ظاهر کې ئې معنی یو څه او په حقیقت کې ئې معنی بل څه، په ظاهر کې د دوی د وینا معنی دا ده: که پوهېدی چې جنګ واقع کېږي نو حتماً مو ستاسو په څنګ کې برخه اخیسته، د دې الفاظو یوه بله توجیه هم شوې خو مخکینۍ ترې غوره او دقیقه ده او هغه دا چې: که مورږ په جنګ پوهېدی نو زمورږ مشورو ته به مو اعتناء کړې وه او د مدینې له داخله به مو د دښمن مقابله کړې وه، که داسې شوې وی مورږ به هم ستاسو په څنګ کې وو.

د دوی د الفاظو ظاهر ښه برېښي او ساده لوح کسان پرې غولولی شي، خو الله تعالی ته د دوی د زړونو هغه نفاق څرګند دئ چې دوی ئې پټوي.

دې ته مو هم باید پام وي چې دلته په جګړې کې د دغو منافقینو دا برخه نه اخیستل

داسې ګڼل شوي چې دوی په دې کار سره کفر ته تر ایمان ډېر ورنژدې وو او دې ته مو هم پام وي چې په اصل کې دغو منافقینو له دې پرته بل کار نه وو کړی چې د مسلمانانو د شورى له پرېکړې ئې مخالفت کړی وو. که څه هم دا پرېکړه د پیغمبر علیه السلام د خپلې رأیې خلاف پرېکړه وه!! له دې په اسلام کې د شورى اهمیت معلومولی شئ.

قرآن په دې اړه فرمایي:

ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٧٩ التوبه

هغه چې د مؤمنانو پر ایثارګرو (په پراخ زړه انفاق کوونکو) نیوکې کوي او پر هغو د دې لپاره ملنډې وهي چې د خپل زیار (له حاصل علاوه) څه نه مومي، الله پر دوی تمسخر کړی او دوی ته دردوونکی عذاب دئ.

دا آیت د منافقینو د مخکینۍ ډلې یو بل کرغېړن خصلت داسې بیانوي: دوی نه یوازې د شتمن کېدو په صورت کې له الله تعالی سره خپلې ژمنې ماتوي، نه صدقه ورکوي او نه صالح بنده ترې جوړېږي؛ بلکې له یوې خوا پر هغو ایثارګرو مؤمنانو نیوکې کوي چې په پراخ زړه او خلاص لاس خپلې شتمنۍ د الله تعالی په لار کې وقف کوي، وایي: دوی د ریاء او ځان ښودنې لپاره دا کار کوي او زیات مال وقف کوي!! خو له بلې خوا پر هغو بې وزلو مؤمنانو د دې لپاره ملنډې وهي چې د نېستمنۍ په وجه ډېر لږ څه د الله تعالی په لار کې وقف کولی شي، څوک د کجورو یو وړی، څوک یو سېرلی، څوک څو درهمه او څوک د خپل ورځني زیار او کار د مزد او اجورې یوه برخه، نور څه نه مومي چې د الله تعالی په لار کې ئې قرباني کړي، منافقینو به پرې خندل چې دوی غواړي د مړز په ورون سره روم فتح کړي، خو الله تعالی فرمایي چې د منافقینو حالت د تمسخر وړ دئ نه د دغو مخلصو مؤمنانو!! دا ځکه چې نفاق ئې له هغه دردناک عذاب سره مخامخ کوي چې الله تعالی منافقینو ته ټاکلی.

قرآن منافقین د معوقینو په نامه یادوي او فرمایي:

أَشِحَّةً عَلَيۡكُمۡۖ فَإِذَا جَآءَ ٱلۡخَوۡفُ رَأَيۡتَهُمۡ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ تَدُورُ أَعۡيُنُهُمۡ كَٱلَّذِي يُغۡشَىٰ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَإِذَا ذَهَبَ ٱلۡخَوۡفُ سَلَقُوكُم بِأَلۡسِنَةٍ حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى ٱلۡخَيۡرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يُؤۡمِنُواْ فَأَحۡبَطَ ٱللَّهُ أَعۡمَٰلَهُمۡۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ١٩ الاحزاب

بې شکه چې الله ستاسو خنډ کېدونکي وګړي او هغه ښه پېژندلي چې خپلو ورونو ته (د

دې وينا) ويونکي وو: زمونږ لوري ته راشئ په داسي حال کې چې په جګړې کې برخه نه اخلي مګر ډېر لږ، پر تاسو (د هري ښېګڼې) په اړه بخل کوونکي، کله چې د وېرې حالت راشي نو دوی به ووينې چې ستا په لوري به داسي ګوري چې سترګې به ئې رغړي، د هغه چا په څېر چې د مرګ (د وېرې او هيبت) له کبله بې سده شوی، خو کله چې وېره (او د خوف حالت) له منځه ولاړ شي له تاسو سره به په تېرو ژبو مخامخ کېږي، د مال ډېر حرص لرونکي، دوی ايمان نه دئ راوړی، نو الله د دوی عملونه حبط کړل او دا کار الله ته آسان دئ.

په دې مبارکو آيتونو کې د جهاد مخالفين داسي معرفي شوي:

- الله جل شأنه دوی ښه پيژني، که هرڅومره بهانې وکړي، خلك وغولوي، د خپل ناروا دريځ لپاره غولوونکي دلائل وړاندي کړي، الله تعالی ته هم د دوی عملونه معلوم دي او هم ئې د زړه کيفيت.
- دوی په عملي جهاد کې برخه نه اخلي مګر ډېر لږ او هغه هم د مجبوريت له کبله.
- خپل ملګري او خپلوان هم له جهاد او په جګړو کې له برخي اخيستو منع کوي.
- د الله د لاري پر مجاهدينو ئې بری او فتح نه لورېږي.
- د خوف او وېرې په حالت کې ئې وضعيت داسي وي لکه مرګ چې په سترګو ګوري او د مرګ وېرونکې بلا دوی ته خپله خوله پرانيستې وي.
- کله چې د وېرې حالت ختم شي نو د خپلو تېرو ژبو توري له تېکو راوباسي او د مجاهدينو په خلاف شديد تبليغات پيل کړي.
- د تبليغاتو اصلي وجه او موخه ئې مال او مقام تر لاسه کول وي.
- دوی ايمان نه دئ راوړی، د الهي معيارونو له مخې د دوی ايمان حقيقي ايمان نه دئ او الله تعالی د دوی د ايمان دعوی نه قبلوي.
- الله تعالی د دوی هڅې شنډوي، هلي ځلي ئې حبطوي، پر هغو عملونو ئې هم د بطلان کرښه راکاږي چې په ظاهر کې ښه او نېك برېښي، د دوی ظاهري نيك عملونه د الله تعالی په وړاندي هيڅ قدر او قيمت نه لري.
- الله ته دا آسانه ده چې د مسلمانانو په ضد د دغو منافقينو هڅې حبط کړي.

قرآن منافقين داسي معرفي کوي:

ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتُ بَعْضُهُم مِّنۢ بَعْضٍۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْۚ نَسُواْ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمْۚ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٦٧﴾ التوبه

نارينه منافقين او ښځي منافقيني ځيني د ځينو نورو له ډلې دي، د منکر سپارښتنه کوي، له ښېګڼو مخنيوی کوي، خپل لاسونه (د خير له کار او د مال له انفاق) بندوي، دوی خدای هېر کړی او خدای دوی هېر کړي، يقيناً چې منافقين فاسقان دي.

دلته د منافقينو څو ستر ستر خصلتونه په ګوته شوي:

- منافقين (نارينه او ښځي) ځيني د ځينو نورو له ډلې دي، د مسلمانانو په ليکو کې ځانګړې ډله جوړوي او يو د بل خوا ته ودرېږي، خو الفاظ داسې دي چې ښيي هسې ډله ئې يوه ده، نه ئې تر منځ خواخوږي شته، نه يو د بل مرسته کوي، نه يو له بل سره مينه لري. د دوی په مقابل کې کله چې د مؤمنانو يادونه کېږي نو الله تعالى فرمايي چې دوی يو د بل دوستان دي، د دوی تر منځ مينه او موالات وي.
- د منکر سپارښتنه کوي، د داسې کارونو سپارښتنه او ملاتړ کوي چې بدوالی ئې څرګند وي او هر د سالم طبيعت خاوند ترې کرکه لري.
- له ښېګڼو مخنيوی کوي، په خپلو تبليغاتو سره هم، په خپلو کړو وړو سره هم او له خپلو امکاناتو په استفادې سره هم.
- د خير له کار او د مال له انفاق ډډه کوي، د خير لوري ته لاس نه غزوي، د خير په کار کې له انفاق خپل لاسونه راټموي.
- دوی خدای هېر کړی، نه به ئې په وينا کې د خدای نوم واورئ، نه په خپلو تبصرو او تحليلونو کې د قدير خدای د وعدو يادونه، نه به ئې عمل داسې ومومئ چې ښيي خدای ئې په ياد دئ نو ځکه ئې دا عمل وکړ.
- خدای دوی هېر کړي، نه ئې دعاء او عبادت ته اعتناء کوي او نه ئې له کړاوونو او ستونزو د وتلو په لار کې مرسته کوي.
- دوی فاسقان دي، د ژوند په ډېرو برخو کې به وګورئ چې دوی د الله تعالى له اوامرو سرغړاوي کوي.

خو دا چې د انسان بد اعمال څنګه هغه د الله له لاري منع کوي؛ قرآن په دې اړه فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْاْ مِنكُمْ يَوْمَ ٱلْتَقَى ٱلْجَمْعَانِ إِنَّمَا ٱسْتَزَلَّهُمُ ٱلشَّيْطَـٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُواْ ۖ وَلَقَدْ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٥٥﴾ آل عمران

يقيناً ستاسو کوم کسان چې د دوو فوځونو د مخامخ کېدو په ورځ تر شا شول په حقيقت کې شيطان د خپلو ځينو لاسته راوړنو له امله وښويول، بې شکه چې الله ورته عفو وکړه،

يقيناً چې الله حليم بخښونکی دئ.

هغه کسان چې د جګړې په ورځ ئې کمزوري او بې همتي وښوده او له ميدانه په شا شول، د دوي د بې همتۍ اصلي وجه هغه عملونه وو چې له دې مخکې ئې کړي وو، د دغو عملونو په وجه شيطان ته دا امکان او فرصت په لاس ورغلی وو چې د دوی زړه ته لار پيدا کړي او ګامونه ئې وښويوي. له دې معلومېږي چې ګناه انسان بې همته کوي، د انسان غيرت او شهامت له منځه وړي او شيطان ته دا موقع په لاس ورکوي چې په حساسو شېبو کې ئې وېره په زړه کې راپيدا کړي او پښې ئې وښويوي. الله تعالی دغو کسانو ته عفو وکړه، دا ځکه چې هغه حليم او بخښونکی دئ، که د ده حلم او غفران نه وی نو دوی به ئې په دې ګناه سخت نيولي وو.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٣﴾

٣- دا له دې کبله چې دوی ايمان راوړی بيا ئې کفر کړی، نو پر زړونو ئې مهر ولګول شو چې له امله ئې نه پوهېږي.

---

(٣)- په دې مبارک آيت کې د منافقينو د مخکينيو خصلتونو او کړنو اساسي وجه ښودل شوې او وايي: دا له دې کبله چې دوی کله ايمان راوړی او کله بېرته د کفر لوري ته اوښتي، مذبذب دي، نه ئې عقيده ثابته ده او نه ئې دريځ، د ايمان او کفر تر منځ په تګ راتګ کې دي، کله خپلې ګټې د مؤمنانو په خوا کې لټوي او کله د کافرانو په څنګ کې، دغه تذبذب او د ايمان او کفر تر منځ اوښتل رااوښتل د دې باعث شوي چې د دوی پر زړونو مهر ولګول شي، د وجدان او عقل صفحه ئې خيرنه او د پوهې او بصيرت سترګې ئې رندې شي. باورونه ئې سست او له شک او ترديد سره توأم دي، د اضطراب او تذبذب په ميدان کې حيران او لالهاند دي.

إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٤٢﴾ مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ﴿١٤٣﴾ النساء

بې شکه چې منافقين له الله سره خدعه کوي او هغه ئې هم په خدعه کې اچوونکی دئ او کله چې لمانځه ته پاڅي نو لټ پاڅي، خلکو ته ځان ښودنه کوي او الله نه يادوي مګر ډېر لږ. په همدې کې مذبذب او متردد، نه د دغو په لوري دئ او نه د هغو په لوري؛ او الله چې څوک بې لاري کړي هيڅ لار به ورته ونه مومي.

دلته د منافق لاندې خصلتونه په ګوته شوي:

- له الله سره خدعه کوي، د خپل نفاق او ناوړه عملونو لپاره داسې توجیهات برابروي چې هغه جائز ثابت کړي.
- په لمانځه کې لټ وي او د خپلو دیني وجائبو په تر سره کولو کې سستي کوي.
- ریاکار وي، هر کار ئې نورو ته د ځان ښودني لپاره وي، هیڅ عمل ئې د عقیدې او ایمان په حکم نه وي.
- له الله سره ئې اړیکي سستي وي، ډېر لږ ئې یادوي، هم ئې په ژبه لږ یادوي او هم په خپلو تبصرو او تحلیلونو کې لږ د ده نوم په خوله اخلي او هم په خپلو تصمیمونو کې ډېر کم په الله حساب کوي.
- په خپل دریځ کې مذبذب او متردد، نه د دغو په لوري دئ او نه د هغو په لوري،
- له الهي هدایت محروم دي، الله چې څوک بې لارې کړي هیڅ لار به ورته ونه مومې.

دې ته باید متوجه وئ چې له دې آیت او دې ته ورته آیتونو یوازې د بل د تللو او د هغه په اړه د قضاوت کولو لپاره استفاده ونه کړئ، بلکې تر دې د مخه خپل ځان د هغه په هنداره کې وګورئ، پخپله باید له نفاق وېره ولرو او ځان ترې وساتو.

همدا راز فرمایي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ٱزۡدَادُواْ كُفۡرٗا لَّمۡ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغۡفِرَ لَهُمۡ وَلَا لِيَهۡدِيَهُمۡ سَبِيلَۢا ١٣٧ بَشِّرِ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا ١٣٨ ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ أَيَبۡتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلۡعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ١٣٩ النساء

یقیناً هغه چې ایمان ئې راوړ، بیا کافر شول، بیا ئې ایمان راوړ، بیا ئې کفر وکړ، بیا ئې په کفر کې زیاتوالی وکړ، نو دوی ته خو نه الله بخښنه کوي او نه ئې په سمه لار هدایت کوي. منافقینو ته د دې زېرې ورکړه چې دوی ته دردونکی عذاب دئ، همغو ته چې له مؤمنانو پرته کافران په دوستۍ نیسي، آیا د دوی خوا ته عزت لټوي؟ نو عزت خو ټول د الله په واك کې دئ.

د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- منافقین له الهی مغفرت او بخښنې محروم دي او د هدایت دروازه ئې پر مخ ټړل شوې ده.

- دوی چې له خپلو منافقتونو کومه طمع او هیله لري او خپلو ناولو غرضونو ته د رسېدو لپاره ئې دا د نفاق لار غوره کړې او ګمان کوي په دې سره به خپلو موخو ته ورسېږي، دوی ته د خپل انتظار خلاف د دردناك عذاب زېرى ورکړه.
- دوی له کافرانو سره دوستي کوي، ګمان او انتظار ئې دا دئ چې د کافرانو تر څنګ به عزت تر لاسه کړي، په دې نه پوهېږي چې په منافقت او دښمن ته په تسلیمېدو سره خپل موجود عزت او اعتبار هم له لاسه ورکوي، په دې نه پوهېږي چې د عزت پرېکړه الله کوي، عزت له ایمان پرته له بلې لارې نه شي تر لاسه کېدی، یوازې د الله مؤمن او صالح بنده د واقعي عزت خاوند دئ، منافق د هر چا له نظره سپك، ذلیل او بې اعتباره وي، هر څوك ئې یوه بې اعتباره وسله ګڼي، هیڅوك د یوه مطمئن دوست په سترګه ورته نه ګوري.

له دې آیت معلومېږي چې له کافرانو سره دوستي او ملګرتیا د نفاق نښه ده، منافق د عزت په طمع دا کار کوي او هغه وخت ئې کوي چې دښمن ورته قوي او مسلمانان ورته ضعیف معلوم شي.

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې ګناه زړونه له معنوي پلوه وژني، ګناه داسې مهر دئ چې د زړه حساسیت له منځه وړي، د وجدان ځلا تته کوي او مصیبتونو ته لار آواروي، لکه چې فرمایي:

أَوَ لَمۡ يَهۡدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ أَهۡلِهَآ أَن لَّوۡ نَشَآءُ أَصَبۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡۚ وَنَطۡبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ١٠٠ الاعراف

آیا هغو خلکو ته چې زمکه ئې له خپلو مخکینیو خاوندانو په میراث وړې؛ دا نه ده جوته شوې چې که وغواړو نو د خپلو ګناهونو په وجه به ئې په مصیبتونو اخته کړو او پر زړونو به ئې داسې مهر ولګوو چې بیا به نه اوري.

د دې مبارك آیت معنی دا ده: آیا د دوی لپاره د هغو خلکو بد او دردناك عاقبت یو څرګند لارښود نه دئ چې د خپلو جنایاتو په وجه مواخذه او د زمکې له مخه ئې ټغر ټول شو او د اقتدار مانۍ ئې نسکوره شوه، دا دئ نن همغه زمکه او د دوی ټولې شتمنۍ تاسو ته په میراث ورسېدې؟ دا خو پرېږده چې الله تعالی کولی شي له تاسو سره دې ته ورته معامله وکړي، ستاسو ټغر ټول کړي او هر څه مو نورو ته په میراث ورکړي، بلکې کولی شي ستاسو د پوهې او تعقل ټول استعدادونه، د زړه او غوږونو په شمول درنه واخلي، که الله تعالی ستاسو زړه او دماغ له کار وغورځوي، نو نه به په غوږونو څه اورئ او نه به په سترګو څه وینئ.

... فَلَمَّا زَاغُوٓاْ أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٥ الصف

.... نو کله چې کاږه شول نو الله د دوی زړونه کاږه کړل؛ او الله داسې فاسق وګړي نه هدایتوي.

یعني کله چې دوی له لارې کاږه شول، کړنې ئې کړې او ناسمې شوې نو الله تعالی د دوی زړونه کاږه کړل، د دې معنی دا ده چې کله د انسان کړنې د هغه له عقیدې خړوبه کېږي او کله ئې کړنې د ده باورونو ته خپل رنګ ورکوي، د چا چې کړنې کړې او ناسمې شي باورونه به ئې کاږه کېږي، همدا د الله تعالی سنت دئ. د آیت په پای کې ویل شوي: الله تعالی داسې فاسق وګړي نه هدایتوي چې پیغمبر ځوروي، له سمې لارې کاږه کېږي او باورونه ئې کاږه کېږي.

قرآن دا هم وایي چې هغه څوک قیامت تکذیبوي چې معتد او اثیم وي:

وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ١٠ ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ١١ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ١٢ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣ كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ١٤ المطففين

وای په دې ورځ پر دروغ ګټونکو، همغه چې د سزا ورځ تکذیبوي؛ او نه ئې تکذیبوي مګر هر ټبری کوونکی ګنهګار، کله چې زمور آیتونه پرې ولوستی شي، وایي: د مخکینیو قصې!! نه؛ داسې نه ده، بلکې د دوی پر زړونو هغه څه زنګ وهلی دئ چې دوی کولو.

نه یوازې د نورو په باب دروغ وایي، افتراء کوي او په عزت او حیثیت ئې ټبری کوي، بلکې (یوم الدین) هم تکذیبوي او دروغ ئې ګڼي.

(تعدي: ټبری) او (اثم: ګناه) دوی هغه ځای ته رسولې چې (یوم الدین: د سزا ورځ) دروغ وګڼي، یعني دوی په دې وجه له آخرت او د عملونو له مکافات او مجازات انکار نه کوي چې کافي، قانع کوونکي او معقول دلائل ورته نه لري، بلکې وجه ئې دوه نوري خبرې دي: یوه ئې دا چې دوی په خپل حق او حد قانع نه دي، مخکې ئې د بل په حق ټبری کړی او په راتلونکي کې هم د ټبري اراده لري او بله ئې دا چې په ګناهونو لړلي دي، تر دې د مخه ئې هم ګناهونه کړي او له دې وروسته هم د ګناه اراده لري، دغه (ټبری) او (ګناه) له آخرته د دوی د انکار لامل دئ.

د دې آیت په وړاندې چې وایي فقط (معتد) او (اثیم) له آخرت او الهي محاسبې انکار کوي، باید لږ توقف وکړو او وګورو چې دا څنګه او ولې یوازې ټبری کوونکی او ګناهګار له الهي محاسبې انکار کوي؟!! څنګه ټبری او ګناه انسان هغه ځای ته رسوي چې

د مکافات او مجازات حقیقت ونه منې او آخرت دروغ وګڼي؟!! له دې آیته معلومېږي چې د تېرې کوونکې او ګناهګار انسان لپاره په آخرت نه باور او له الهي محاسبې انکار، ذهني محرك لري نه عقلي دلیل، هغه له داسې ستونزې سره مخامخ دئ چې باید ځان ته دا خبره تلقین کړي چې نه آخرت شته، نه حساب او کتاب او نه مکافات او مجازات، دی قیامت د ځان لپاره یوه خطرناکه پېښه ګڼي، چې عواقب او پایلې به ئې ده ته ډېرې دردناکې وي، په آخرت د باور تصور ئې سخت ځوروي، ناچار باید په دروغجنو تلقینونو سره له دې اضطراب او پرېشانۍ ځان وژغوري، انسان عادتاً په اغفالوونکو او غولوونکو تلقینونو سره محتمل خطر نفي کوي او په دې سره ځان له ذهني اضطراب او پرېشانۍ ژغوري.

دوی الهي آیتونه اساطیر الاولین ګڼي، په څو معنی وو:

۱ — دا د آخرت آخرت خبرې مو ډېرې اورېدلې، ډېرو دا خبره کړې چې قیامت راتلونکی دئ، بېرته به راژوندي کېږئ او د خپلو عملونو سزا به ګورئ، خو تر اوسه نه قیامت راغی او نه د دوی وعد او وعید تر سره شو.

۲ - قرآن ئې د تېرو قومونو د قصو مجموعه ګڼلی، یوه تاریخي کتاب ته ورته!! دا یوازې دوی نه دي چې د الله لارښود کتاب ته ئې اساطیر الاولین ویلي، مخکینیو امتونو هم له الهي کتابونو سره دغه معامله کړې، دا دئ وګورئ له تورات او انجیل سره هغو خلکو څه معامله وکړه چې په همدې کتابونو د ایمان دعوی کوي، راشئ بایبل وګورئ چې د مسخره قصو مجموعه ترې جوړه شوې، داسې مسخره قصې چې هر هوښیار او عاقل انسان ته خندا پرې ورځي، انسان د هغه چا عقل او شعور ته حیرانېږي چې دا له مسخره قصو ډك کتاب د الله تعالی له لوري پر پیغمبرانو نازل شوی کتاب ګڼي، له قرآن هم ډېرو هغو خلکو اساطیرالاولین جوړ کړی چې د ایمان دعوی کوي، څوك چې د قرآن بحثونه، وعد او وعید ئې په هغې زمانې پورې محدودوي چې دا کتاب په کې نازل شوی او ګمان کوي چې په قرآن کې دا له مؤمنانو سره د الهي تأیید او نصرت وعدې، د هجرت او جهاد احکام، د بري او فتح زېرې، د دښمن د حتمي ماتې او د مؤمنانو د حتمي بریا او برلاسي وړاندوینې، ټولې په همغې زمانې پورې مربوطي وې، د موسی علیه السلام او فرعون او نورو تاریخي څېړو او د دوی د زمانې د پېښو په اړه د قرآن بحثونه تاریخي بحثونه ګڼي، نه د الهي ثابتو سننو لپاره تاریخي بېلګې، په حقیقت کې دغو هم له قرآن اساطیرالاولین جوړ کړی، قرآن دا څېرې او په دوی پورې اړوند قصې د تاریخي بېلګو په څېر وړاندې کوي.

وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ ۖ وَإِن يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ۖ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۖ يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ۚ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ۚ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ ۖ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٤﴾

او کله چې دوی وګورې جثې ئې تا حیرانوي؛ او که خبرې کوي نو ته ئې وینا ته غوږ ږدې، دوی داسې دي لکه تکیه کړی شوې لکړي، هر جګ غږ د ځان خلاف ګڼي، همدا دوی اصلي دښمنان دي نو حذر ترې وکړه، الله دې هلاک کړي، له کومه دوکه کېږي؟!

(٤)- دا مبارك آیت څو فقرې لري چې په هري فقرې کې د منافقینو یو خصلت ښودل شوی، په دې توګه:

- کله چې دوی وګورې جثې ئې تا حیرانوي، یعني د دوی ظاهر جالب او غولوونکی وي، په ټول توان طاقت هڅه کوي له غولوونکي او جالب ظاهر سره راڅرګند شي، ټول هم او غم ئې دا وي چې په خپل جالب ظاهر سره نور وغولوي، ظاهر ئې داسې وي چې که څه هم په سطحي نظر سره جالب، ښایسته او د اعتماد وړ برېښي، خو په لږ دقت او توجه سره کولی شو د هغه د تصنعي ځېرې، غولوونکو حرکاتو او ملمع ظاهر په ماهیت پوه شو، نه به ئې په ځېرې او قیافې کې د ایمان جذابیت او ځلا وګورې او نه به ئې په وینا او حرکاتو کې د صداقت او اخلاص اغېز او تأثیر، که د ده له ظاهري حالت لږ آخوا نظر واچوې او د ده افکارو، مقاصدو او اغراضو ته ځیر شې نو ډېر ژر به درته جوته شي چې څومره منحط دئ او په کومه پیمانه ئې په خپلو ویناوو او حرکاتو کې له ریاکاري او تصنع کار اخیستی، داسې به ئې وموميې لکه د لرګي یوه مجسمه چې ښکلی رنګ ورکړی شوی، خو منځ ئې ګوګ دئ، مړه او بې احساسه، چې نه تحرك لري او نه کومه جذبه.
- منافق د ژوند په ټولو ابعادو او برخو کې یو ظاهر پال وي، قضاوتونه ئې د حوادثو او قضایاوو پر ظاهر مبتني وي، د ده له نظره یوازې همدا تظاهر او ظاهري بڼه ارزښت او اهمیت لري، ټول مواقف، قضاوتونه او تبصرې ئې له همدې رواني کیفیت خړوبه کېږي، په ظاهر کې زړه سواند او مهربان برېښي خو که د هغه شخصي ژوند ته ځیر شې نو سخت زړی، بې رحم او بې عاطفې به ئې وموميې، په ظاهر کې معصوم او بې آزار برېښي خو د دې ظاهر تر شا د ده له حسد او کینې ډك تور زړه غلی وي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ رِجَالٌ

يَخْتِلُونَ الدُّنْيَا بِالدِّينِ يَلْبَسُونَ لِلنَّاسِ جُلُودَ الضَّأْنِ مِنَ اللِّينِ، أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ السُّكَّرِ، وَقُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الذِّئَابِ، يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَبِي يَغْتَرُّونَ، أَمْ عَلَيَّ يَجْتَرِئُونَ؟ فَبِي حَلَفْتُ لَأَبْعَثَنَّ عَلَى أُولَئِكَ مِنْهُمْ فِتْنَةً تَدَعُ الحَلِيمَ مِنْهُمْ حَيْرَانًا " أخرجه الترمذى .

له ابو هريره رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: په آخره زمانه کې به داسې خلك راووځي چې دنيا به په دين پوښي، خلکو ته به د مېږو پوستکي اغوندي د نرم والي ظاهرولو په موخه، ژبې به ئې تر شاتو خوږې وي خو زړونه به ئې د لېوانو زړونه وي، الله تعالى د دوى په اړه فرمايي: آيا زما په اړه غولېږي، يا پر ما جسور او زړور کېږي، نو پر خپل ذات مي دي قسم وي چې پر دوى به د دوى له منځه داسې فتنه راولاړه کړم چې ډېر زيرك هم حيران کړي.

- او که خبرې کوي نو ته ئې وينا ته غوږ ږدې، منافق د وينا په وخت کې هم دا هڅه کوي چې د خبرو ظاهر ئې جالب وي، د مخاطبينو توجه جلب کړي، د مجلس مزاج ته گوري، هڅه کوي وينا ئې حاضرينو ته په زړه پورې وي، د خپلو خبرو ظاهري بڼې ته ډېر ارزښت ورکوي، نه محتوى ته، دا ورته مهمه نه ده چې څه وايي، دا ورته مهمه ده چې څنګه د مخاطب توجه جلب کړي، په سطحي نظر سره د هغه مُرَتبه او له جالبو الفاظو ترکيب شوې وينا د اورېدونکي توجه جلبوي خو په لږ دقت سره پوهېدى شې چې وينا ئې تکلفي ده، له اخلاص او صداقت عاري ده، نه ئې ايمان منشأ ده او نه سپېڅلي احساسات او پاك زړه، ظاهر ئې جالب خو د مضمون له پلوه بې محتوى.

... أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ وَقُلُوبُهُمْ أَمَرُّ مِنَ الصِّبْرِ .... شعب الايمان

.... ژبې ئې تر شاتو خوږې او زړونه ئې تر صِبر ترخه (صبر يو تريخ بوټى دئ)

ځينې ئې بيا داسې دي چې د امريکا او روس په ارتباط او د بين المللي سياسي پېښو په اړه خو په غټو غټو الفاظو بحثونه کولى شي، لـه غرور ډکي ناستي پاستي ئې داسې معلومېږي چې ته به وايې لوى لوى کتابونه به ئې په سينه کې وي، خو چې لږ ئې ولټوې او د ايمان د اساساتو او مبادیو په اړه ئې د پوهې د اندازې معلومولو هڅه وکړې؛ نو ډېر ژر او په آسانۍ سره به درته معلومه شي چې هسې د غوښې پرېږي پرېږي مجسمې دي!!

- دوى داسې دي لکه تکيه کړى شوې لکړي، د منافق هيڅ وينا، دريځ او موقف ايماني منشأ نه لري، يا ئې مادي تمايلات او اغراض څه ويلو او کولو ته هڅوي، يا د عامه ذهنيت فشار، نه ايماني احساسات او مشاعر او نه د ايماني مسئوليتونو او وجائبو ادراك د ده محرك او مشوق وي، د ده لورى بهرني عوامل تعيينوي، اوضاع او شرائط هغه ته جهت ورکوي او

په خپل رنګ ئې رنګوي، لکه هغه بادي کښتۍ چې باد د هغې تګ لوری ټاکی، له خوځېدو سره ئې خوځي او له ودرېدو سره ئې ودرېږي، تر هغه چې بهرنی فشار وي دی هم جبراً او اکراهاً تحرك او خوځښت لري، خو کله چې د بهرنیو عواملو فشار منتفي شي؛ ژبه ئې ګونګه او پښې ئې له حرکته ولوېږي، لکه د خس او خاشاك هغه لمبه چې د اورلګیت له کبله څو شېبې شور او ځوږ جوړ کړي خو ژر مړه شي او ایرې ئې په هوا کې خورې شي، هغه لکړي ته ورته دي چې دېوال تم کړي، که متکاء ئې لري شي پر زمکه رالوېږي، منافق د مسلمانانو په حضور کې ځان فعال او متحرك ښیي خو په غیاب کې او د دوی له نظر لري ساکت او راکد وي.

عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د دې آیت د دریو لومړنیو فقرو د تفسیر په اړه وایي: د مدیني د منافقینو سردار عبدالله بن ابی بن سلول خوږ ژبی، دنګ، د لوړ قد خاوند وو، ملګري ئې ده ته ورته ول، دوی د مدیني شتمن او مشران ول، کله چې به د رسول الله صلی الله علیه و سلم حضور ته راغلل نو په ډېر تکبر او غرور سره به ئې دېوالونو ته ډډه وهله، زیاتې خبرې به ئې کولې، د دوی څېرو او ظاهر ته په پام سره به هیڅوا ګمان نه کولو چې دا معززین به له معنوي پلوه د نفاق تر کچې سپك او ذلیل وي.

قرآن د دوی په اړه فرمایي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعۡجِبُكَ قَوۡلُهُۥ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيُشۡهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلۡبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلۡخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾ وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُفۡسِدَ فِيهَا وَيُهۡلِكَ ٱلۡحَرۡثَ وَٱلنَّسۡلَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتۡهُ ٱلۡعِزَّةُ بِٱلۡإِثۡمِۚ فَحَسۡبُهُۥ جَهَنَّمُۚ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾ البقره

او د خلکو ځینې داسې دي چې د دنیا په اړه د ده وینا دي حیرانوي او په هغه څه الله شاهد نیسي چې په زړه کې ئې دي، په داسې حال کې چې دی ترټولو کلك دښمن دئ، خو کله چې (د چارو) متولي شي نو په زمکه کې د دې هڅه کوي چې فساد په کې خور کړي او فصل او نسل تباه کړي او الله خو فساد نه خوښوي؛ او چې ورته وویل شي: له خدایه ووېرېږه! عزت النفس ئې ګناه ته وپاروي، نو جهنم ورته کافي دئ او څومره بد ټاټوبی!

دلته هغه ډله معرفي شوې چې ظاهر ئې د دوست، وینا ئې حیرانوونکې، د دنیوي چارو په اړه وینا ئې ډېره جالبه او جاذبه، خو په حقیقت کې تر بل هر دښمن خطرناك او کینه کښ، له مسلمانانو سره د مخامخ کېدو په وخت کې ځان د دوی له ډلې ښیي، قسمونه خوري چې په زړه کې ئې پوخ ایمان دئ او له مسلمانانو سره کلکه مینه. خو چې بېرته

خپلو ملګرو ته ستون او یا قدرت په لاس ورشي او د خلکو د چارو متولي شي، نو بیا ئې ټوله هڅه دا وي چې فساد خور کړي، د جګړو اور ته ولمن ووهي، کافران پر مسلمانانو برید ته وهڅوي او د وینو تویولو او د فصلونو د تباهۍ باعث شي، دوی الله د خپل زړه په حال شاهد نیسي حال دا چې د دوی زړونه له فساد ډك دي او الله فساد نه خوښوي. کله چې ئې په کړو وړو انتقاد وشي او دا ورته وویل شي چې له ګناه لاس واخله او له الله ووېرېره، نو دا انتقاد په خپل عزت تېری ګڼي، له خپلې ګناه دفاع کوي او مزید ګناهونو ته هڅول کېږي. له دې مبارك آیت معلومېږي چې د نصیحت په مقابل کې حساسیت ښودل او سالم انتقاد په خپل عزت تېری ګڼل د نفاق نښه ده.

هر جګ غږ د ځان خلاف ګڼي، منافق یو ډارن او جبون انسان دئ، نفاق د دې باعث شوی چې تل په وېره کې وي، له هر جګ غږ وېرېږي، د ګواښونو په وړاندې ئې د وېرې حالت داسې وي لکه د سیلۍ په وړاندې سپکه لړزانه پاڼه چې هر خوځښت ئې لړزوي، قرآن هغه داسې انځوروي چې هر جګ غږ د ځان خلاف ګڼي، داسې لکه کوم لوی مجرم چې تښتېدلی او له خلکو په کوم پټ ځای کې مخفي شوی وي، په وېره وېره یوې خوا بلې خوا ته ګوري، هر غږ داسې ګڼي چې ګواکې څوك د ده د نیولو لپاره راغی، منافق هم دې ته ورته حالت لري، هغه ډېر څه له خلکو پټ کړي، نه غواړي خلك د ده پر اسرارو خبر شي، هر غږ داسې ګڼي چې ګواکې څوك ئې وربلي چې د ده پټ اسرار د ده مخي ته کښېږدي، هره حادثه داسې ګڼي چې په ترخ کې به ئې ښایي د ده اسرار افشاء شي، د حوادثو او پېښو په اړه د منافقینو انګېرنه د دي باعث کېږي چې هغوی ډارن او جبون وي، باید متوجه وو چې د حوادثو، مصیبتونو او پېښو په اړه دوه نظریې وړاندې کېږي:

ټولې پېښې تصادفي حوادث دي، که دا ستر ستر طوفانونه دي، که سېلابونه، که زلزلې او وچ کالي او که وړې وړې پېښې، د یوه انسان له عادي بیماریۍ نیولې تر هغو لویو لویو پېښو چې په میلونونو خلك ترې متأثره شي، دا ټول طبیعي اسباب او عوامل لري، د خلکو له کړو وړو او ګناهونو سره ئې هیڅ تعلق نشته، هم ګنهګار نیسي او هم بې ګناه، نه ئې د انسان بد عمل په راتلو کې څه ونډه لري او نه ښه عملونه په مخنیوي کې.

د هرې پېښې پرېکړه د الله له لورې کېږي، هره حادثه د هغه په اراده رامنځته کېږي، الله نه په چا ظلم کوي او نه د عدالت خلاف پرېکړه، له هر فرد او ټولنې سره همغه څه کوي چې د عدالت له مخې ئې مستحق وي، نه ستر ستر حوادث تصادفي پېښې دي او نه واړه واړه مصیبتونه، د انسان بد عملونه ئې د راتلو لامل دئ او نېك عملونو ئې د تم کېدو باعث.

قرآن فرمايي چې د ښه او بد، راحت او مصيبت، نعمت او نقمت پرېکړه د الله تعالى له لوري کېږي، د هري پېښې پرېکړه د الله له لوري کېږي، هره حادثه د هغه په اراده رامنځته کېږي، الله نه په چا ظلم کوي او نه د عدالت خلاف پرېکړه، له هر فرد او ټولني سره همغه څه کوي چې د عدالت له مخې ئې مستحق وي، نه ستر ستر حوادث تصادفي پېښې دي او نه واړه واړه مصيبتونه، کله د انسان بد عملونه د دې مصيبتونو د راتلو لامل وي او نېك عملونه ئې د تم کېدو باعث او کله الله تعالى غواړي د مصيبتونو په ترڅ کې انسان وروزي، کمال ته ئې ورسوي او هغه استعدادونه په کې راويښ او ځلانده کړي چې يوازې له کړاوونو سره د مخامخ کېدو په صورت کې په انسان کې وده کوي، لکه هغه ماشوم چې په لومړي ځل په خپلو پښو تګ زده کوي نو په وار وار لوېږي او لټېږي او په همدغو لوېدلو او لټېدلو کې د ده روزنه کېږي، ډېر څه ورښودل کېږي، هډوکې ئې مضبوطېږي او په لوړو ژورو کې د تلو هنر زده کوي.

منافق پر دغو حقائقو ايمان نه لري، نو ځکه له هري حادثې او پېښې وېرېږي؛ او په مقابل کې ئې مؤمن داسي وي چې له پېښې د خير طمع او هيله لري، دا مطلب په يوه مبارك حديث کې داسي راغلى:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ كُنْتُ رَدِيفَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ « يَا غُلاَمُ أَلاَ أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللهُ بِهِنَّ». فَقُلْتُ بَلَى. فَقَالَ « احْفَظِ اللهَ يَحْفَظْكَ احْفَظِ اللهَ تَجِدْهُ أَمَامَكَ تَعَرَّفْ إِلَيْهِ فِي الرَّخَاءِ يَعْرِفْكَ فِي الشِّدَّةِ وَإِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللهِ قَدْ جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا هُوَ كَائِنٌ فَلَوْ أَنَّ الْخَلْقَ كُلَّهُمْ جَمِيعاً أَرَادُوا أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَكْتُبْهُ اللهُ عَلَيْكَ لَمْ يَقْدِرُوا عَلَيْهِ وَإِنْ أَرَادُوا أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَكْتُبْهُ اللهُ عَلَيْكَ لَمْ يَقْدِرُوا عَلَيْهِ وَاعْلَمْ أَنَّ فِي الصَّبْرِ عَلَى مَا تَكْرَهُ خَيْراً كَثِيراً وَأَنَّ النَّصْرَ مَعَ الصَّبْرِ وَأَنَّ الْفَرَجَ مَعَ الْكَرْبِ وَأَنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً » رواه احمد

له عبد الله بن عباس رضى الله عنهما روايت دئ يوه ورځ د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر شا په سورلۍ سپور وم، نو ما ته ئې وويل: اې ځوانه! آيا داسي څو کلمې در وښيم چې په هغوى سره به الله تا ته ګټه ورسوي؟ ومي ويل: هو، وئې فرمايل: د الله د حقوقو ساتنه وکړه چې هغه دي وساتي، د الله د حقوقو ساتنه وکړه چې په هغه صورت کې به ئې (مرسته او پاملرنه) خپلې مخې ته وومومې. په سوکالۍ کې الله ته (په عبادت او بندګۍ سره ځان) معرفي کړه، چې د شدت او کړاو په وخت کې دي وپېژني (او مرسته دي وکړي)، که

دي غوښتنه کوله نو له الله ئې غواړه او که دي مرسته غوښتله نو له الله مرسته غواړه، د هغه څه په لیکلو سره قلم وچ شوی چې کېدونکي دي (مقدرات ثبت شوي او په هغه کې تبدیلي نه راځي)، که د دنیا ټول خلك د دې هڅه وکړي چې تا ته داسي ګټه درورسوي چې الله نه ده درته لیکلې نو نه شي توانېدلی؛ او که ټول خلك هڅه وکړي چې تا ته داسي تاوان درورسوي چې الله نه دئ درته لیکلی نو نه شي توانېدلی؛ او په دې پوه شه چې په هغه څه صبر کولو کې ډېر خیر مضمر دئ چې نه دي خوښېږي او دا چې بری له صبر سره ملګری دئ او خلاصون له کړاو سره او یقیناً چې په هري سختۍ پسې آساني ده.

حقیقت دا دئ چې هغه څوك له هر څه وېرېږي چې پر خدای ایمان نه لري.

همدا دوی اصلي دښمنان دي نو حذر تر تره وکړه، قرآن منافق د اصلي دښمن په توګه معرفي کوي، همدا منافقین دي چې نهضت له داخل تخریبوي، دا دوی دي چې د مسلمانانو په لیکو کې ستونزي راولاړوي، د اختلافاتو باعث کېږي، په دې کې هیڅ شك نشته چې کورنی دښمن تل تر بهرني دښمن ډېر خطرناك او مضر وي، د پټ او مخفي دښمن خطر تل تر څرګند او علني دښمن زیات وي، د بهرني دښمن په وړاندي کولی شو ځانګړي تدابیر ونیسو او د هغه له خطر او ضرر ځان خوندي وساتو، خو د کورني دښمن له خطر او ضرر ځان ساتل ګران وي، هغه ستونزي چې منافقین ئې راولاړولی شي بهرنی دښمن ئې نه شي راولاړولی، د همدوی له کبله ډېر ځله مسلمانان د بهرني دښمن د مقابلې توان او فرصتونه له لاسه ورکوي، د اسلام او مسلمانانو کلاګاني تل له داخله فتح شوې، که له کوم دښمن وېره په کار وي نو هغه همدا کورنی دښمن دئ، قرآن په دې اړه فرمایي:

وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسۡجِدٗا ضِرَارٗا وَكُفۡرٗا وَتَفۡرِيقَۢا بَيۡنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَإِرۡصَادٗا لِّمَنۡ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبۡلُۚ وَلَيَحۡلِفُنَّ إِنۡ أَرَدۡنَآ إِلَّا ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١٠٧

التوبة

او هغه چې یو جومات ئې د ضرر، کفر، د مؤمنانو تر منځ د تفریق (وسیله) او هغه چا ته مورچل ګرځولی چې تر دې مخکې له الله او د هغه له پیغمبر سره جنګېدلی؛ او حتماً په تأکید سره لوړه کوي چې له ښېګڼې پرته مو د بل څه اراده نه وه کړې؛ او الله ګواهي ورکوي چې دوی له شك پرته دروغجن دي.

دلته د هغو کسانو په اړه بحث شوی چې د اسلام او مسلمانانو په ضد او د دښمن په ګټه د جنګ سنګر او مورچل پرانیزي خو د جومات په څېر تر یوه غولوونکي نامه لاندي، موخه ئې دا وي چې دښمن ته ګټه ورسوي، مسلمانان متضرر کړي، د اسلام په ضد د کفر

مرسته او خدمت وکړي، د مسلمانانو تر منځ تفرقه او اختلافات راولاړ کړي او د هغو خلکو لپاره پناه ځی او مورچل جوړ کړي چې له اسلام او مسلمانانو سره جنګېدلي، خو له دې ټولو سره سره به د الله په نامه لوړه کوي چې کوم بد نیت نه لري، د اسلام او مسلمانانو د ښېګڼې لپاره ئې دا کار کړی، دا په داسي حال کې چې الله تعالی ګواهي ورکوي چې دوی دروغجن دي، نه ئې نیت او اراده سمه ده او نه ئې دا کار د اسلام او مسلمانانو په ګټه!!

د څلورم آیت په پای کې ویل شوي: الله دې هلاك کړي، له کومه دوکه کېږي؟! دلته له یوې خوا د دوی نفاق د تعجب وړ ښودل شوی، له بلې خوا ویل شوي چې الله دي دوی هلاك کړي، په دې سره مور ته لارښوونه شوې چې زمور چلن به د منافقینو په ارتباط څنګه وي، دلته ویل شوي چې دوی د هلاکت وړ دي، خو هلاکت ئې الله تعالی ته پرېښودل شوی، تر هغه چې دوی د اسلام دعوی کوي، عملاً د اسلام په ضد نه وي ودرېدلي، داسي څه ئې نه وي کړي چې د وژلو وړ شي باید د دوی په ضد د وسلې له کارولو ډډه وشي، رسول الله صلی الله علیه و سلم د منافقینو په اړه همدا تګلاره غوره کړې وه، له دې لارښوونې دا هم معلومېږي چې منافق ته باید د یوه تباه شوي انسان په سترګه وکتل شي، له درناوي ئې ډډه وشي، د دوی کړنې او ویناوي باید په شدت سره وغندل شي، په ټولنې کې باید د دوی د افکارو د خورېدو او استقبال مخه ونیول شي، د ټولنې عمومي فضاء باید داسي عیاره شي چې ټول له نفاق او منافقینو کرکه ولري، باید له فکري پلوه د دوی کلکه مقابله وشي، منافق باید د هر چا له لوري طرد شي، داسي څوك باید ونه مومي چې د دوی درناوی او احترام کوي او له منافق سره خواخوږي لري.

اسلام د منافقینو له وژلو د دې لپاره ممانعت کړی چې د دوی وژنه له یوې خوا د مسلمانانو په لیکو کې بې باوري او سوء ظن راولاړوي، د هغو اعتماد ته صدمه رسوي چې غواړي له مسلمانانو سره یو ځای شي، داسي نه چې هغوی دا وژنې د داخلي رقابتونو له کبله وګڼي، له بلې خوا د دوی د وژلو جواز به هغو واکمنو ته د خپلو سیاسي رقیبانو د وژلو او له منځه وړلو امکان په لاس ورکړي چې په زور مسلط شوي او د خلکو له مخالفت سره سره په اقتدار کې پاته کېدل غواړي. رسول الله صلی الله علیه و سلم د منافقینو په اړه همدا تګلاره غوره کړې وه، د منافقینو سردار عبدالله ابن ابی ئې او د ده ټول منافقتونه ئې تر پایه زغملي، ډېرو د هغه د وژلو وړاندیز کړی خو رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: آیا د هغه د وژلو امر وکړم چې خلك ووایي: محمد (صلی الله علیه وسلم) خپل یاران وژني؟!

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ لَوَّوْاْ رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ۝٥

او کله چې هغوی ته وویل شي: راشئ چې رسول الله تاسو ته بخښنه وغواړي، خپل سرونه به تاو کړي او دوی به وګورې چې په داسي حال کې به ډډه کوي چې د خپلې لویي په لټه کې وي.

---

(۵)- په دې مبارك آیت کې د منافقینو څو خصلتونو ته ګوته نیول شوې:

- کله چې هغوی ته وویل شي: راشئ چې رسول الله تاسو ته بخښنه وغواړي، خپل سرونه به د انکار په توګه تاو کړي، یعني کله چې دوی څرګنده غلطي وکړي، نور ئې خپلې غلطي ته متوجه کړي، ورته ووایي: راشه توبه وکړه او له رسول الله صلی الله علیه و سلم وغواړه چې تا ته له الله تعالی بخښنه وغواړي، هغوی نه خپلې ګناه او غلطۍ ته د ګناه په سترګه ګوري، نه توبه کوي او نه دا ضرورت احساسوي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم خوا ته ولاړ شي او له هغه وغواړي چې د مغفرت غوښتنه ورته وکړي. دې ته مو پام وي چې دلته داسي غلطیو ته ګوته نیول شوې چې په اجتماعي چارو پوري مربوطي وي او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له کوم امر سرغړاوی شوی وي؛ لکه له جهاد ډډه، په داسي مواردو کې له الله تعالی د مخامخ مغفرت غوښتني تر څنګ باید رسول الله صلی الله علیه و سلم ته هم ورغلي وی او د خپلې غلطۍ په اړه ئې د مغفرت غوښتنه کړې وی، په نورو مواردو کې د قرآن لارښوونه دا ده چې مستقیماً له الله تعالی بخښنه وغوښتل شي او همدا کفایت کوي، د دې مطلب توضیح د دې لپاره ضروري برېښي چې مسیحیان د توبې قبلېدا په دې پوري تړي چې د کشیش په وړاندي به اعتراف کېږي، قرآن د دې تردید کوي او د الله تعالی په وړاندي اعتراف، ندامت، مغفرت غوښتنه او د ګناه د جبران هڅه کافي ګڼي.
- دوی به داسي وموميې چې له توبې او مغفرت غوښتني به په داسي حال کې ډډه کوي چې د خپلې لویي په لټه کې به وي، ځان به تر دې لوړ ګڼي چې پر خپلې ګناه اعتراف وکړي او د جبران په لټه کې شي. یعني انتقاد به داسي ګڼي لکه د ده پر موهومي عزت تېرى، لکه چې قرآن فرمایي:

وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتْهُ ٱلْعِزَّةُ بِٱلْإِثْمِ فَحَسْبُهُۥ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ۝٢٠٦ البقره

او چې ورته وویل شي: له خدای ووېرېره! عزت النفس ئې ګناه ته وپاروي، نو جهنم ورته

کافي دئ او څومره بد ټاټوبی!

یعني کله چې د منافق پر کړنو انتقاد وشي او ورته وویل شي چې له ګناه لاس واخله او له الله ووېرېږه، نو دا انتقاد په خپل عزت ټېرى ګڼي، له خپلې ګناه دفاع کوي او مزید ګناهونو ته هڅول کېږي. له دې مبارك آیت معلومېږي چې د نصیحت په مقابل کې حساسیت ښودل او سالم انتقاد په خپل عزت ټېرى ګڼل د نفاق نښه ده.

قرآن د دغو منافقینو په مقابل کې د هغو مخلصو مؤمنانو حالت زمونږ مخې ته ږدي چې اشتباه ئې کړې، ژر متوجه شوي، نادم دي او د جبران لټه کوي:

وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلۡجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيۡهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ لِيَتُوبُواْۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١١٨ التوبه

او پر هغو دریو (هم کوم الزام نشته) چې وروسته پاته کړی شول، تر هغه چې زمکه سره له ارتوالي ئې پرې تنګه شوه او خپل ژوند پرې تنګ شول او ګمان ئې وکړ چې له الله؛ دده لوري ته (له پناه وړلو) پرته بل پناه ځی نشته، بیا له پېرزویني سره پر دوی راوګرځېد، بې شکه چې الله ډېر مهربان توبه قبلوونکی دئ.

دلته د هغو دریو مخلصو صحابه وو یادونه شوې چې د تبوك په غزا کې له برخې اخیستو محروم شول، خو کله چې پیغمبر علیه السلام له تبوك راستون شو او له وروسته پاته شوو د پوښتنو او ګروېرنو لړۍ پیل شوه، دوی د دې په ځای چې کومه دروغجنه بهانه وړاندي کړي د پیغمبر علیه السلام په وړاندي ئې په خپلې غلطۍ اعتراف وکړ او وئې ویل چې د پاته کېدو په اړه هیڅ شرعي عذر نه لرو، د دوی توبه دومره ژوره او د زړه له تله وه چې الله تعالی په قرآن کې د دوی د توبې د قبلېدا اعلان وکړ او دا مبارکه سوره د دوی د توبې په نامه یاده شوه، نښه به وي چې دا قصه په خپله د دوی د یوه کس له لوري واورو: کعب بن مالك رضی الله عنه د تبوك په غزا کې له برخې اخیستو پاته کېدا او له پاته شوو سره د مسلمانانو د عمومي مقاطعې قصه داسي بیانوي: "کله چې د تبوك غزا ته تیاری نیول کېدو او پیغمبر علیه السلام اعلان وکړ چې ټول باید د دې غزا لپاره چمتو شي او لازم وسائل او سامان برابر کړي، ما اراده وکړه چې سامان او وسائل برابر کړم، بیا لټې رانه وشوه او له ځان سره مي وویل: لازیات وخت لرم، پرېږده کله چې لښکر خوځېدو ځان به همغه ورځ تیار کړم، د لښکر د خوځېدو ورځ ورو ورو رانژدې کېده، خو زه لا تیار نه وم، کله چې لښکر روانېدو له ځان سره مي وویل: پروا ئې نشته، دوی دي

وخوځېږي، زه به يوه دوه ورځي وروسته پسې وخوځېږم او له لښکر سره به يو ځای شم، کسالت راباندي غلبه وکړه، کار مي هغه ځای ته ورسېد چې په دې غزا کې له برخې اخيستو محروم شوم، د پيغمبر عليه السلام تر راستنېدو پورې په مدينه کې اوسېدم، کله چې به مي خپلې شاوخوا ته سترګې وغړولې نو له منافقينو او ځينو معذورو مسلمانانو پرته به مي بل څوک نه تر سترګو کېدو، نو له سختې پرېشانۍ او ندامت سره به مخامخېدم، بالآخره پيغمبر عليه السلام په خير سره له تبوک راستون شو، مدينې ته له ننوتو سره سم نبوي مسجد ته داخل شو، د معمول مطابق ئې دوه رکعته لمونځ وکړ، کله چې له لمانځه فارغ شو نو منافقين ډله ډله ورته راتلل او په دې غزوې کې د برخې نه اخيستو په اړه ئې رنګ رنګ بهانې او عذرونه وړاندې کول، پيغمبر عليه السلام به د هر يوه خبره په دقت سره اورېده، د دوی معقول برېښېدونکي عذرونه به ئې منل او د دوی باطني خبره به ئې الله تعالی ته محول کوله؛ او ويل به ئې: الله دې تاسو ته عفوه وکړي، بالآخره زما وار راورسېد، زه د پيغمبر عليه السلام خوا ته وروړاندې شوم، سلام مي پرې ووايو، پيغمبر عليه السلام د سلام له جوابه وروسته، ما ته ځير شو، تبسم ئې وکړ او وئې ويل: ته راوړاندې شه، ووايه چې څه شي منع کړې؟ ما عرض وکړ: يا رسول الله! په خدای قسم چې که زه د الله له رسول پرته د بل هر چا په وړاندې ودرېدلی وی نو داسې دليل به مي وړاندې کړی وو چې هغه مي راضي کړی وی، عذر او بهانه وړاندې کول ما ته ګران کار نه دئ، خو د پيغمبر عليه السلام په اړه مي عقيده دا ده چې باور لرم؛ که نن ئې د کومي بهانې او عذر په وړاندې کولو سره راضي کړم، الله تعالی به هرومرو داسې شرائط راولي چې پيغمبر عليه السلام بېرته رانه ناراضه شي، خو که رښتيا ووايم او په دې سره پيغمبر عليه السلام رانه ناراضه شي نو د ارحم الراحمين رب دربار ته مي دا هيله ده چې ما به وبخښي او زما له خطاء به راته تېر شي، حقيقت دا دئ چې زه د پاته کېدا لپاره هيڅ توجيه او دليل نه لرم چې ستا حضور ته ئې وړاندې کړم، زه له هره پلوه په دغې غزا کې د برخې اخيستو لپاره مستعد وم. پيغمبر صلى الله عليه و سلم په داسې حال کې چې زما لوري ته ئې اشاره کوله وئې فرمايل: دی له هغو کسانو دئ چې رښتيا ئې وويل، بيا ئې راته وويل: اوچت شه او منتظر اوسه چې الله تعالی ستا په اړه څه پرېکړه کوي! زه له خپله ځايه پورته شوم او د خپلې قبيلې د خلکو خوا ته کښېنستم، ټول زما خوا کې راغونډ شول، زه ئې ملامتولم او راته ويل ئې چې ولې دي کوم عذر او بهانه وړاندې نه کړه؟ د دوی رټل او ملامتول دومره زيات شو چې کله به مي زړه راته ويل چې بېرته پيغمبر عليه السلام ته ورشم او کوم عذر وړاندې کړم، خو په همدې حالت کې وم چې خبر شوم دوو

نورو نېکو بندګانو؛ مرارة بن ربيع او هلال بن اميه هم پر حقيقت اعتراف کړی او د دروغجني بهانې او عذر له ويلو ئې ډډه کړې، نو زه د کوم عذر د وړاندي کولو له تصميم واوښتم. بيا پيغمبر عليه السلام امر وکړ چې له موږ دريو سره به هيڅوک خبرې نه کوي، د دې حکم له صادرېدو وروسته که څه هم زه به له کوره وتلم او لمونځ به مي په جماعت سره اداء کولو، بازار ته به هم تلم راتلم، خو هيچا به له ما سره خبرې نه کولې، داسي مي انګېرله لکه چې دا زمکه زما لپاره پردې ده او زه په دې ښار کې پردی يم، داسي لکه چې هر څه بدل شوي وي او دلته هيڅوک زما له پرېشانه حالته خبر نه وي، کله چې به جومات ته ولاړم، د تل په څېر به مي پر پيغمبر عليه السلام سلام واچاوو، انتظار به مي وکړ چې د ده د شونډو له خوځېدا د خپل سلام ځواب تر لاسه کړم، د لمانځه په حال کې به مي د پيغمبر عليه السلام په لوري کتل چې وګورم زما خوا ته څنګه ګوري، خو حالت داسي وو چې کله به زه په لمانځه بوخت وم پيغمبر عليه السلام به زما خوا ته له شفقت او پېرزويني ډک نظر سره کتل خو کله چې به له لمانځه فارغ شوم هغه به خپله توجه له ما واړوله او بل لوري ته به متوجه شو. د عمومي مقاطعې په دوران کې يوه ورځ له وېرې او ډار سره د ماشومتوب د دوران ملګري ابو قتاده خوا ته ورغلم، هغه زما د تره زوی هم وو، د بڼ له دېواله مي ابو قتاده ته سر ورلوړ کړ او سلام مي پرې ووايو، هغه هيڅ ځواب رانه کړ، ورته ومي ويل: اې ابو قتاده! ستا دي په رب قسم وي چې زه له الله او د هغه له پيغمبر سره مينه نه لرم؟ هغه پټه خوله پاته شو او څه ئې ونه ويل، بيا مي پوښتنه ترې وکړه، خو هغه بيا هم ساکت پاته شو، خو چې درېيم ځل مي ترې پوښتنه وکړه او قسم مي ورکړ، هغه زما په ځواب کې فقط دومره وويل: الله او د هغه پيغمبر ښه پوهېږي!! د دې ځواب په اورېدو سره مي اوښکې له سترګو روانې شوې او له دېواله راکوز شوم.

د همدې مقاطعې په دوران کې يوه ورځ په بازار کې روان وم چې ناڅاپه د روم له نبطيانو يوه کس د غسان د پاچا هغه ليک راکړ چې د ورېښمو په ټوکر کې ټړل شوی وو، ما ليک پرانيست؛ دا مطالب مي په کې ولوستل: اورېدلي مو دي چې ستا ملګري ډېره جفا درسره کړې، ته بې عزته کس نه يې، ستا شخصيت تر دې لوړ دئ چې داسي ضائع شي، زموږ خوا ته راشه چې ستا قدر وکړو. ما د دې خط په لوستلو له ځان سره وويل: دا هم د الله تعالی يوه بله آزموينه، اوس زما دا حال دئ چې کافران هم له ما طمع کوي چې د دوی دين ته واوړم؛ او مرتد شم، ليک مي په تنور کې وغورځاوو او ومي سوزاوو. څلوېښت ورځې پر له پسې همداسي تېرې شوې، ناڅاپه يو څوک زما کور ته راغی او د پيغمبر عليه السلام دا دستور ئې راواوراوو چې له غزوې وروسته پاته شوي دي له خپلو مېرمنو هم

بېل شي! ما عرض وکړ: آيا هغوی ته طلاق ورکړو؟ ځواب ئې راکړ چې نه؛ يوازې ترې بېل شئ، ما خپلې مېرمن ته وويل: شه به وي چې د خپلوانو کره ولاړه شې او د الله تعالى تر پرېکړې انتظار وکړې!

ورځې همداسې يوه په بلې پسې تېرېدې، خو داسې چې زه نور له ژونده بې زاره وم، په پنځوسمه ورځ، د سحر د ماڼځه په مهال، په داسې حال کې چې پر خپل ځای ناست وم، ناڅاپه يوه کس نعرې کړې چې: مبارك دي شه کعب بن مالكه! زه د دې خبرې په اورېدو سره په سجده پرېوتم؛ او د الله تعالى شکر مي پر ځای کړ او پوه شوم چې الله تعالى زموږ گناه رابخښلې ده، په ده پسې ډېر نور خلك ډله ډله يوه په بلې پسې او په داسې حال کې راتلل چې غوښتل ئې تر بل مخکې راشي، مبارکې ئې راکوله او راته ويل ئې: بالآخره الله تعالى ستا توبه قبوله کړه، زه له هغه ځايه مسجد ته راغلم، پېغمبر عليه السلام مي وليد چې مخ ئې له خوشحالۍ ځلېدو، سلام مي پرې ووايو، هغه د سلام له ځوابه وروسته راته وويل: تا ته دي مبارك وي، دا ستا د ژوند تر ټولو غوره ورځ ده، ما پوښتنه وکړه: آيا د عفوې اعلان د پېغمبر عليه السلام له لوري دئ که د الله تعالى له لوري؟! وئې ويل: د الله تعالى له لوري، بيا ئې د دې وينا په تأييد کې دا آيت تلاوت کړ: و على الثلاثة الذين خلفوا.... کعب رضي الله عنه وايي: ما وويل: زما په توبې کې دا هم شامل دي چې خپل ټول مال مي دي د الله تعالى په لار کې وقف وي، پېغمبر عليه السلام راته وويل: دا درته غوره ده چې يوه برخه ئې له ځان سره وساتې، ما وويل: نو يوازې د خيبر برخه مي له ځان سره ساتم.

دې ته مو بايد پام وي چې د مقاطعې دا معامله له هغه کعب رضى الله عنه سره شوې چې له تبوك پرته ئې په ټولو غزواتو کې برخه اخيستې وه!! له دې معلومېږي چې له عذره پرته جهاد پرېښودل څومره ستره گناه ده او پېغمبر عليه السلام او صحابه وو له داسې خلکو سره څه معامله کوله؟!!

دا مبارك آيت او پورتنۍ قصه موږ ته د هغه مخلص بنده چې غلطي ترې شوې وي؛ له يوه منافق توپير راښيي، يو ئې داسې چې د گناهونو په ډنډ کې تر ستوني غرق وي خو هيڅ پروا ئې نه وي، نه توبه کوي، نه د ځان د اصلاح هڅه کوي او نه د خپلو گناهونو د جبران لټه، خو بل ئې داسې چې خپله گناه ئې ځوروي، توبه کوي، له خپل رب بخښنه غواړي، له خپلې گناه او غلطۍ د دفاع او توجيه پر ځای اعتراف کوي او د غلطۍ د جبران لټه کوي.

سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ أَسۡتَغۡفَرۡتَ لَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ لَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٦

دا ورته برابره ده چې بخښنه ورته وغواړې او که بخښنه ورته ونه غواړې، الله به هيڅکله دوی ته بخښنه ونه کړي، يقيناً چې الله دا فاسق وګړي نه هدايتوي.

---

(٦)- دا مبارك آيت وايي: د منافقينو په اړه د هيڅا بخښنه ګټه نه لري، نفاق داسي ستره ګناه ده چې حتى د رسول الله صلى الله عليه و سلم بخښنه غوښتل ورته هيڅ ګټه نه رسوي، وايي: دا ورته برابره ده چې بخښنه ورته وغواړې او که بخښنه ورته ونه غواړې، الله به هيڅکله دوی ته بخښنه ونه کړي، يقيناً چې الله دا فاسق وګړي نه هدايتوي.

همدا راز قرآن فرمايي:

ٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ أَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ إِن تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ سَبۡعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٨٠ التوبه

بخښنه ورته وغواړه او يا بخښنه مه ورته غواړه؛ که اويا ځله هم بخښنه ورته وغواړې؛ الله به هيڅکله بخښنه ورته ونه کړي، دا د دې لپاره چې د الله او د ده د پيغمبر په اړه ئې کفر کړی او الله داسي فاسق وګړي نه هدايتوي.

ځيني منافقين داسي هم وو چې د تقوى دعوى به ئې کوله، پيغمبر عليه السلام ته به راتلل او ويل به ئې: له مورږ قصور او غلطي شوې، پرې پښېمانه يو، د جبران په لټه کې يو، بل ځل به وګورې چې داسي څه وکړو چې ستا سترګې پرې روښانه شي او مورږ مخکښې ګناه پرې جبران کړو!! الله تعالى د دغي منافقي ډلې د دې ادعاء په رد کې فرمايي: اې پيغمبره! خوښه دي چې بخښنه ورته غواړي که نه؛ خو پوه شه چې که اويا ځله هم بخښنه ورته وغواړې نو الله به هيڅکله بخښنه ورته ونه کړي، دا ځکه چې دوی د الله او د ده د پيغمبر په اړه کفر کړی او دا د الله سنت دئ چې داسي فاسق وګړي نه هدايتوي.

دا آيت مورږ ته ښيي چې د بخښني په اړه د الله تعالى خاص سنن دي، دا سنن د هيڅا په خاطر نه بدليږي، څوك چې د الهي سننو له مخي د مغفرت او بخښني مستحق نه وي که پيغمبر هم د هغه لپاره دعاء وکړي نو الله تعالى دا دعاء نه قبولي، همداسي د شفاعت په اړه الله تعالى خاص سنن لري، د دغو سننو مطابق چا ته د شفاعت کولو اجازه ورکوي او د چا په اړه د بل شفاعت مني، که پيغمبر هم د کوم غير مستحق انسان په اړه شفاعت وکړي الله تعالى دا شفاعت نه قبلوي، دا خبره د دې لپاره بايد په پام کې ولرئ چې يوه

کمعقله او د شرک په ډنډ کې پرېوتې ډله د شفاعت په اړه غلو کوي او د پيغمبر عليه السلام په اړه همغه څه وايي چې د مسيحيانو بايبل ئې د عيسى عليه السلام په اړه وايي. د شفاعت اجازه د الله تعالى له لوري ورکول کېږي، شفاعت کوونکي او د شفاعت وړ خلك د الله له لوري ټاکل کېږي، که ستا عقيده او عمل د بخښلو وړ نه وي نو نه څوك ستا شفاعت کولى شي او نه الله تعالى ستا په اړه د چا شفاعت مني.

د توبې قبلولو او بخښنې په اړه هم د الله تعالى سنت داسې دئ چې لومړى بايد ګنهګار له خپلې ګناه نادم او پښېمان شي، توبه وکړي، له الله تعالى بخښنه وغواړي، د خپلې ګناه د جبران په لټه کې شي، بيا الله تعالى ورته بخښنه کوي، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِهَا وَءَامَنُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٥٣﴾ الاعراف: ﴿١٥٣﴾

او هغو چې بد کارونه ئې کړي، بيا ئې له دې وروسته توبه کړې او ايمان ئې راوړى، بې شکه چې ستا رب له دې وروسته مهربان بخښونکى دئ.

همدا راز د انسانانو د هدايت په اړه هم الله تعالى خاص سنن لري، هغه څوك هدايتوي چې د هدايت تلوسه لري، د هدايت لټه کوي، د الله لوري ته رجوع کوي، لکه چې قرآن فرمايي:

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَنۡ أَنَابَ ﴿٢٧﴾ الرعد

او هغه چې کفر ئې کړى وايي: ولې د خپل رب له لوري کوم آيت نه دئ پرې نازل شوى؟ ووايه: يقيناً چې الله هغه څوك بې لارې کوي چې دى ئې وغواړي او هغه څوك د ځان لوري ته هدايت کوي چې (ده ته) ورګرځېدلى.

يعنې څوك چې د کفر لار غوره کړي نه د خپل ضمير ږغ ته غوږ نيسي او نه عقلي او علمي دلائلو ته اعتناء کوي، دوى تل د پيغمبرانو عليهم السلام په څېر د لوړو لوړو شخصيتونو له حق او رښتيني دعوت سره د مخالفت لار نيولې، نه ئې د دوى سپېځلى دعوت منلى، نه ئې د دوى لوړ شخصيت او اوچت اخلاق ته کتلي او نه د دوى په دلائلو قانع شوي، له دوى ئې داسې خارق العاده او عجيبې معجزې غوښتې چې نه ئې هيڅ انسان د وړاندې کولو توان ولري او نه ئې هيڅوك مخالفت وکړى شي، سره له هغو ټولو څرګندو نښو چې د پيغمبر عليه السلام د الهي دعوت په هر پيغام کې او د ده د لوړ شخصيت په هر اړخ کې د دوى مخې ته ځلېدل او په جګ ږغ ئې دا ثابتوله چې دى له

شك پرته رښتينى پيغمبر دئ، د الله تعالى له لوري غوره شوى چې د ده پيغام خلكو ته ورسوي، خو سره له دې ئې خارق العاده معجزې تړې غوښتلې. دا آيت مورِ ته لارښوونه كوي چې ستاسو ځيني مخاطبين داسي دي چې په هيڅ توګه ستاسو دعوت نه مني او ستاسو ملګرتيا نه كوي، دا هيله مه لرئ او دا تلوسه مه كوئ چې ټول مخاطبين به ستاسو دعوت هرومرو مني، يوازې د هغو كسانو په لټه كې اوسئ او د دوى د ملګرتيا هڅه وكړئ چې د حق پېژندلو او منلو تلوسه لري او د حق په لار كې ستاسو ملګرتيا كولى شي. الله تعالى د خلكو د هدايت په اړه خاص سنن لري، ځيني داسي دي چې په دوى كې د حق پېژندلو او منلو استعداد ځپل شوى، د هدايت دروازه ئې هيڅكله پر مخ نه پرانيستل كېږي، خپل گران وخت له دوى سره په بې گټې جدل او د دوى پر اقناع مه ضائع كوئ.

الهي هدايت او لارښوونه د هغه چا په برخه كېږي چې د خپل رب د ښه پېژندو او د ده لوري ته د تلو تلوسه لري، هغه چې ايمان راوړي او د الله تعالى په ذكر او يادولو سره ئې زړونه مطمئن كېږي.

همدا راز فرمايي:

وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٦٩ العنكبوت

او هغه چې زمورِ لپاره ئې جهاد كړى حتماً به خپلې لارې وروښيو او يقيناً چې الله له دغو محسنينو سره دئ.

دلته د الله د لارې له مجاهدينو سره دوه وعدې شوې: د (هدايت) او (معيت) وعدې، يعني د هدايت دروازې به د دوى مخې ته پرانيزي، د بريا، عزت او سعادت په لارو د تلو توفيق به وركوي، په هر گام كې به د دوى لارښوونه كوي، د هدايت او رشد لوړو پوړو ته د رسېدو سعادت به ئې په برخه كوي، د (احسان) لوړې څوكې ته به ئې رسوي؛ او له خپلې ملتيا او معيت به ئې برخمن كوي.

دلته هغه مجاهدين د (محسنين) په نامه ياد شوي چې د الله په لار كې جهاد كوي او د همدې جهاد په طفيل؛ الله تعالى د هدايت ټولې لارې د دوى پر مخ پرانيستې دي، د ژوند په هري برخې كې ئې لارښوونه كوي او د خپلې ملتيا او معيت وزر ئې پرې غوړولى.

همدا راز قرآن فرمايي:

وَءَاخَرُونَ ٱعۡتَرَفُواْ بِذُنُوبِهِمۡ خَلَطُواْ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَءَاخَرَ سَيِّئًا عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٠٢ التوبه

او نور چې په خپلو گناهونو ئې اعتراف كړى او يو نېك عمل ئې له كوم بل بد سره گډ

کړی؛ ښايي الله به ئې توبه قبوله کړي، بې شکه چې الله مهربان بخښونکی دئ.

د دې لپاره چې په هر ګنهګار د منافق ګمان ونه شي قرآن د يوې داسې ډلې يادونه کوي چې هم بد عملونه لري او هم نېک، د قرآن په اصطلاح نېک او بد عمل ئې سره خلط کړي، دوی منافقان نه دي، د ځينو کمزوريو په سبب بد عملونه ترې شوي، ښايي الله تعالی د دوی نېکو عملونو ته په پام سره دوی ته عفو وکړي، توبه ئې قبوله کړي او ګناهونه ئې ورته وبخښي او دا ځکه چې الله مهربان بخښونکی دئ. نو له هغو خلکو سره په چلن کې احتياط کوئ چې په خپل ژوند کې داسې نېک عملونه لري چې د دوی ايمان او اخلاص ترې څرګندېږي. داسې لارښوونو ته په پام سره پيغمبر عليه السلام د حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ چې لويه غلطي ترې شوې وه او قريشو ته ئې د يوه برید په اړه اطلاع ورکړې وه، خط ئې په لاري کې ونيول شو، پوښتنه ترې وشوه، هغه اعتراف وکړ خو وئې ويل چې دا مي د نفاق په وجه نه دئ کړی د مجبوريت له مخې مي کړی، خپل عذر او دليل ئې وړاندي کړ، عمر رضی الله عنه وويل: يا رسول الله! د دې منافق د وژلو امر وکړه، پيغمبر عليه السلام وفرمايل: إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا، وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللهَ أَنْ يَكُونَ قَدِ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ، فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ: هغه د بدر په جګړې کې برخه اخيستې وه، څه پوهېږي ښايي الله تعالی به د بدريانو حالت داسې موندلی وي چې ورته ويلي ئې وي: څه چې غواړئ هغه وکړئ؛ ما بخښنه درته کړې ده!!

د همدغو په اړه رسول الله صلی الله عليه و سلم ته داسې لارښوونه کوي:

خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٣﴾ التوبه

له مالونو ئې داسې صدقه تر لاسه کړه چې پرې پاک او تزکيه ئې کړې او دعاء ورته وکړه، يقيناً چې ستا دعاء ورته يوه ډاډېنه ده؛ او الله پوه اورېدونکی دئ.

هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُواْ عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّواْ ۗ وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٧﴾

دوی هغه دي چې وايي: پر هغو مالي لګښتونه مه کوئ چې د پيغمبر په خوا کې دي، د دې لپاره چې خواره شي، په داسې حال کې چې د آسمانونو او زمکې خزانې د الله دي خو منافقين نه پوهېږي.

---

(۷)- د دې مبارك آيت لاړښوونې دا دي:

- د منافقينو قضاوتونه مادي او سطحي وي، مؤمنان پر خپل ځان قياسوي، له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د دوی ملګرتيا داسي تعبيروي چې ګواکې د مالي او مادي اغراضو لپاره ورسره يوځای شوي، که له مالي ستونزو سره مخامخ شي نو د رسول الله صلى الله عليه و سلم له ملګرتيا به لاس واخلي او د ده له شاوخوا به خواره شي، لکه څنګه چې منافقين په خپله له هر لوري سره د مادي منحطو اغراضو لپاره يو ځای کېږي، نه د دوستي او ملګرتيا لپاره بل عامل او باعث لري او نه د دښمنۍ لپاره، مؤمنان هم د ځان په څېر ګڼي او د هغوی په اړه وايي: پر هغو مالي لګښتونه مه کوئ چې د پيغمبر په خوا کې دي، د دې لپاره چې خواره شي.
- الله تعالى د هغوی په ځواب کې فرمايي: د آسمانونو او زمکې خزانې د الله دي خو منافقين نه پوهېږي.
- منافقين او ټول هغه عناصر چې د ايمان له سعادت محروم او قضاوتونه ئې مادي دي له دې عاجز دي چې د مؤمنانو د قربانيو لپاره دقيق تعبير او تفسير وړاندي کړي، داسي انګېري چې که مؤمنان د ايمان په لاري کې له مالي ستونزو سره مخامخ شي هر يو به ئې په خپلي مخي دروميِ. دا د منافقينو د سردار عبدالله بن ابی وينا وه چې پر هغو مالي لګښتونه مه کوئ چې د پيغمبر په خوا کې دي، د دې لپاره چې خواره شي، سره له دې چې په خپلو سترګو ئې ليدل چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم صحابه وو رضی الله عنهم د ايمان په لار کې څومره کړاوونه ګاللي وو، څومره سختي ورځې، له خپل کور، کلي، خپلوانو، مال دولت لاس اخيستل، هجرتونه، شهادتونه ئې زغملي، هري قربانۍ ته چمتو شوي، خو منافقينو ته په دې حقائقو پوهېدل ممکن نه وو.

د دې وينا يو اړخ که د مؤمنانو په ضد اتهام او دروغجن تور دئ له بلي خوا ښيي چې منافقين په دې باور ول چې که د مدينې اوسېدونکي پر مؤمنانو خپلي مرستي بندي کړي نو هغوی به نه کوم بل پناه ځی ومومي او نه د مالي ستونزو د حل بله مرجع؛ او بله چاره او وسيله، الله تعالى د دې منافقانه تصور د ترديد لپاره فرمايي: وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَفۡقَهُونَ: د آسمانونو او زمکې خزانې د الله دي خو منافقين نه پوهېږي.

په داسي حال کې چې الله تعالى د آسمانونو او زمکې د ټولو خزانو واکمن دئ؛ او همدا ستر ټولواك د مؤمنانو د رزق او روزي ذمه وال دئ نو ولې به له دې وېره لري چې د مدينې د اوسېدونکو د مرستو د قطع کېدو په صورت کې به د رزق ټولې دروازې د دوی پر مخ وتړل شي، آيا الله تعالى له دې عاجز ګڼئ چې تر دې غوره پناه ځی ورته برابر کړي او

د رزق او روزي پراخ امکانات ورپه برخه کړي؟!! الله تعالی د مؤمنانو نصیر دئ، په هیڅ میدان کې به ئې یوازي نه پرېږدي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم هجرت د یوې بېلګې په توګه د هغوی مخې ته انځوروي او فرمایي:

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدۡ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذۡ أَخۡرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ثَانِيَ ٱثۡنَيۡنِ إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَاۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٖ لَّمۡ تَرَوۡهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلسُّفۡلَىٰۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِيَ ٱلۡعُلۡيَاۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٤٠

التوبه

که ئې مرسته ونه کړئ نو یقیناً چې الله هغه مهال هم د ده مرسته وکړه چې کافرانو په داسي حال کې وایست چې د دوو دوهم وو، هغه مهال چې دواړه په یوه سوري کې ول، هغه مهال چې خپل ملګري ته ئې ویل: غم مه کوه، یقیناً چې الله له موږ سره دئ، نو الله خپله ډاډېنه پرې نازله کړه او په داسي لښکرو ئې د ده ملاتړ وکړ چې نه مو لیدل؛ او د کافرانو شعار ئې ټیټ کړ او د الله شعار خو (تل) لوړ دئ؛ او الله باحکمت غالب دئ.

دلته څو خبرو ته ځیر شئ:

- مسلمانانو ته ویل شوي چې که تاسو له جهاده لاس واخلئ، په جهاد کې د پیغمبر علیه السلام ملګرتیا پرېږدئ، نو پوه شئ چې په دې سره د پیغمبر علیه السلام دعوت او مبارزه له هیڅ خنډ او مشکل سره نه مخامخ کېږي، الله تعالی به له داسي لارو د ده مرسته کوي چې تاسو ئې ګمان هم نه کوئ، مګر په یاد مو نه دي چې الله تعالی هغه مهال هم د ده مرسته وکړه چې د دوو یو وو، له یوه ملګري پرته بل انسان ورسره نه وو، هغه ملګری هم غمجن او محزون او په دې اندېښنه کې چې دلته به څنګه د دښمن په لاس کې له پرېوتو خوندي پاته کېږو، که راپسي راشي او د غار خولې ته سر راټیټ کړي نو موږ ویني او نیسي، کینه کښو دښمنانو د ده د وژلو لپاره خپلې توري له تېکو ایستلې وې، د غره له یوې سمڅې پرته ئې د پناه بل ځای نه درلود، آیا الله تعالی په دغسي سخت حالت کې د ده د مرستي لپاره کفایت ونه کړ؟! که نن ئې تاسو یوازي پرېږدئ نو الله تعالی به له نورو لارو په نورو خلکو د ده مرسته کوي.
- دلته په (فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ) کې ضمیر ابو بکر رضی الله عنه ته راجع دئ، ځکه چې د آیت لومړۍ برخه وایي چې دی غمجن وو او پیغمبر علیه السلام ورته اطمئنان ورکولو، نو سکینه هم پر ده نازله شوې او تشویش ئې رفع شوی. د پیغمبر علیه السلام زړه لا د مخه ډاډه وو او الله تعالی سکینه ورپه برخه کړې وه. او د (وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٖ لَّمۡ

تَرَوْهَا) مراد يا په بدر کې د ملائکو په لښکرو سره د ده تأييد دئ او يا د همدې سفر په دوران کې د ده تأييد، د آيت وروستۍ برخه ښيي چې دلته د بدر جګړې ته اشاره شوې او د آيت لومړۍ برخه مخاطب ته دا انتباه ورکوي چې ښايي دا هم په دغه سفر پورې تړلې وينا ده، خو د دې لپاره چې د سفر په دوران کې يوازې دوه کسان وو نو دا خبره مناسبت نه لري چې په داسې لښکرو ئې د ده ملاتړ وکړ چې تاسو نه ليدل، همدا راز هلته لښکرو ته هم ضرورت نه وو ځکه نه جګړه وه چې د لښکرو لېږلو ته ضرورت وي او نه د قريشو شمېر دومره وو چې په لښکرو سره د هغوی ماتولو ته ضرورت وو، همدا راز د کفارو بېړغ نسکورول په بدر کې واقع شوي نه په دغه سفر کې او د پيغمبر عليه السلام په نيولو کې د قريشو ناکامي په دې صيغه يادول مناسب نه برېښي، نو ځکه په يقين سره ويلی شو چې دلته د بدر جګړې ته اشاره شوې. د دې تفصيل د اړوند سورې د همدغه آيت په تفسير کې وګورئ.

لکه چې په بدر کې د دښمن بېړغ نسکور شو او د اسلام بېړغ سرلوړی او رپانده او بری د پيغمبر عليه السلام په برخه شو، همداسې به تل د اسلام بېړغ لوړ او رپانده وي او الله تعالی به تل او په هر ډګر کې او پر هر دښمن خپل پيغمبر ته بری ورکوي، دا ځکه چې الله تعالی؛ عزيز؛ يعني برلاسی او غالب دئ او حکيم يعني د حکمت خاوند دئ، پوهېږي چې پيغمبر ته څنګه او له کومې لارې بريا ورپه برخه کړي.

يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ ٱلْأَعَزُّ مِنْهَا ٱلْأَذَلَّ ۚ وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨﴾

وايي: که مدينې ته ستانه شو نو ډېر عزتمن به ډېر ذليل هرومرو له مدينې باسي، په داسې حال کې چې عزت د الله دئ، د ده د پيغمبر دئ او د مؤ منانو دئ خو منافقين نه پوهېږي.

---

(٨)- د دې مبارك آيت د شأن نزول په اړه ويل شوي چې د بني المصطلق له غزا د راستنېدو پر مهال د يوه مهاجر او يوه انصاري تر منځ نښته رامنځته شوه، يوه له انصارو مرسته وغوښته او بل له مهاجرينو، نژدې وه يوه فتنه ترې جوړه شي، خو د دواړو لوريو د مشرانو د مداخلې په نتيجه کې منازعه پای ته ورسېده، عبدالله بن ابی وغوښتل له دې پېښې غلطه استفاده وکړي، د انصارو احساسات د مهاجرينو په ضد وپاروي، د خپلو نورو فتنه پاروونکو ويناوو په ضمن کې ئې دا هم وويل: مور اشتباه وکړه چې دغو ذليلو او له

خپل قوم رټل شوو ته مو پناه ورکړه، اوس د دوی کار هغه ځای ته رسېدلی چې پر موږ لاس لوړ او تېری وکړي، کله چې مدینې ته ستانه شو خپل حساب به ورسره تصفیه کوو، ټول به له مدینې باسو... رسول الله صلی الله علیه و سلم ته اطلاع ورسېده، له عبدالله بن ابی ئې په دې اړه پوښتنه وکړه، هغه انکار وکړ، د عبدالله بن ابی زوی چې یو مخلص مؤمن وو د خپل پلار له دې وینا خبر شو، کله چې مدینې ته نژدې شول د خپل پلار د سورلۍ واګه ئې ونیوله او هغه ته ئې وویل: اوس به ثابته شي چې څوك عزیز دئ او څوك ذلیل، په خدای قسم تر هغه به تا پرېنږدم چې مدینې ته داخل شې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم اجازه درکړي، له هغه وروسته چې رسول الله صلی الله علیه و سلم اجازه ورکړه هغه ئې پرېښود چې مدینې ته داخل شي. همدا راز په روایاتو کې راغلي چې ده رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: که زما د پلار د وژلو پرېکړه دي کړې وي نو ما ته امر وکړه چې په خپله ئې ووژنم، داسي نه چې بل څوك ئې ووژني او بیا زما عصبیت تحریك شي او د کافر په بدل کې مسلمان ووژنم. رسول الله صلی الله علیه و سلم اطمئنان ورکړ چې دا پرېکړه ئې نه ده کړې!!

قرآن په بل ځای کې فرمایي:

وَلَا يَحۡزُنكَ قَوۡلُهُمۡۘ إِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًاۚ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٦٥ يونس

او د دوی وینا دي تا غمجن نه کړي، یقیناً چې عزت ټول د الله (په واك کې) دئ، هغه پوه اورېدونکی دئ.

له دې مبارك آیت معلومېږي چې دا سوره په داسي وخت کې نازله شوې چې مسلمانان کمزوري او ناتوانه ول، د دوی ضعف او کمزورۍ ته په پام سره دښمنانو د دوی په ضد تبلیغات کول، چا به د دوی پرېشانه حالت ته ګوته نیوله، چا به ویل د پیغمبر په خوا کې غلامان، نېستمن، کمزوري او ناپوه ځوانان راغوند شوي، دوی به څنګه د ټولنې ځواکمنو، مخورو او شتمنو مخي ته ودرېږي؟ څنګه دا ګمان کوي چې الله به دوی ته بری ورکوي او دا دین به پر ټولو دینونو غالبوي؟! چا به ویل دا څنګه د الله تعالی له لوري لېږل شوی پیغمبر دئ چې خپل یاران له دغو بدو او سختو ورځو نه شي ژغورلی، ځینې وژل کېږي، ځینې کړول کېږي، ځینې زنداني کېږي، ځینې د کور کلي پرېښودو ته اړ کېږي؟ تبلیغات دومره شدید او پراخ ول چې کله کله به ئې پیغمبر علیه السلام هم غمجن اوپرېشانه کړ، الله تعالی هغه ته اطمئنان ورکوي چې د دوی وینا دي تا غمجن نه کړي، عزت ټول د الله په واك کې دئ، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې چا ته عزت او غلبه ورکړي او څوك له ذلت او سپکاوي سره مخامخ کړي. الله هم ستاسو په حال پوه دئ او هم د دښمن په

حال، هم ستاسو دعاګاني اوري او هم د دښمن تبليغات. هغه پوه اورېدونکی دئ.

منافق د عزت او ذلت په اړه منافقانه معيارونه لري، هغه څوك د عزت خاوند ګڼي چې (شتمن) او (ځواکمن) وي، ظاهر ته ګوري نه باطن ته، د دې له مخې څوك نه تلې چې کړنې ئې څنګه دي او عقيده ئې څنګه، دې ته ګوري چې جامه ئې څنګه ده او په جيب کې ئې څه دي.

که څوك په داسې يوې ټولنې کې چې هلته حق او عدل تر پښو لاندې شوی، د خلکو ظاهري وضعيت د معيار په توګه ونيسي، هغه څوك عزيز او محترم وګڼي چې حاکم نظام پر ټولنې مسلط کړي او د قدرت او ثروت خاوندان ئې ترې جوړ کړي، هغوی ته ئې وجاهت او اعتبار بخښلی او هغه چا ته د سپك او ذليل په سترګه وګوري چې دغه نظام هغوی له خپلو حقوقو محروم او له خپل ښايسته مقام راکوز کړي، يقيناً چې هغه په خپل قضاوت کې تېروتی او ظالمانه پرېکړه ئې کړې، قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د جهل وهلې او شرك ځپلې ټولنې حالت د خپلو قضاوتونو لپاره معيار مه ګرځوئ، ګمان مه کوئ چې د داسې ټولنې هر شتمن او ځواکمن عزتمن هم دئ،

قرآن په دې اړه فرمايي:

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٦ تُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۖ وَتُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَتُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّۖ وَتَرۡزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٢٧ آل عمران

ووايه: اې بارئ ربه! د واکمنۍ واکداره! دا ته يې چې چا ته وغواړې واکمني ورکوې او له چا چې وغواړې د واکمنۍ (جامه) ښېرته باسې، چې چا ته وغواړې عزت ورکوې او چې څوك وغواړې سپکوې ئې، ښېګڼه ټوله ستا په لاس کې ده، بې شکه چې ته په هر څه قادر يې. شپه په ورځ کې ننباسې او ورځ په شپې کې داخلوې، ژوندی له مړي راباسې او مړی له ژوندي راباسې او چې چا ته وغواړې بې حسابه روزي ورکوې.

د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- په هر حالت کې به ستا باور دا وي چې د واکمنۍ اصلي او يوازينی واکدار الله دئ.
- دا پرېکړه د الله له لوري صادرېږي چې چا ته څومره او څنګه واکمني ورکړي.
- دا پرېکړه الله کوي چې د چا د واکمنۍ کرسۍ څنګه او کله نسکوره کړي.
- د عزت ورکړه د الله له لوري ګڼه، پام چې له الله پرته له بل چا عزت ته د رسېدو

طمع ونه کړي. مبادا اقتدار تر لاسه کول د عزت نښه وګڼې، ډېر د اقتدار خاوندان سخت ذلیل او سپك دي.

- د چا د ذلت او سپکاوي پربکړه هم الله کوي، په خپل عزت له الله پرته له بل چا مه وېرېږه. هغه څوك ذلیل ګڼه چې د الله په وړاندي ذلیل وي، مبادا ناداري او ناتواني د ذلت نښه وګڼې، ډېر په خړو جامو کې د الله په وړاندي هومره عزت لري چې د پرېږو غاړو، جګو شملو او دنګو بنګلو خاوندان ئې د پښو له خاورو سره برابر نه دي.
- د الله هره پربکړه حکیمانه ده، په هري فیصلې کې ئې خیر مضمر دئ، خیر او ښېګڼه د الله په خوا کې او د ده په لار کې لټوه، نه د بل چا په لاس کې او نه په نورو لارو کې.
- دا باور دي هیڅکله او په هیڅ حالت کې متزلزل نه شي چې الله په هر څه قادر دئ، ناتوانه او ضعیفو کسانو ته د ټولني واکمني ورکولی شي او د زر او زور د خاوندانو تخت او تاج نسکورولی شي، نه د چا زور او ځواك د ده فیصلې بدلولی شي او نه د چا ضعف او ناتواني د ده پربکړې ځنډولی شي.
- لکه څنګه چې شپه او ورځ د الله په اراده او د یوه ستر حکمت له مخې ځي راځي او په دې کار کې له الله پرته د عالم هیڅ ځواك هیڅ ډول دخالت نه شي کولی، نه شپه رالنډولی شي او نه ورځ اوږدولی شي، همدا راز د مرګ ژوند، عزت او ذلت پربکړه او د واکمنۍ سپارل او بېرته اخیستل هم فقط د الله په اراده، د خاصو سننو مطابق او د خاصو مصلحتونو له مخې تر سره کېږي.
- د رزق او روزي په اړه د الله سنت دا نه دئ چې چا ته د ده د وړتیاوو او استحقاق له مخې رزق او روزي ورکړي، بلکې په دې اړه ئې سنت دا دئ چې خپلو بندګانو ته که کافر وي که مسلمان، که صالح وي که طالح، له حسابه پرته روزي ورکوي، که ئې چا ته رزق د محاسبې له مخې او له هغه وروسته ورکولی چې خپله وړتیا ثابته کړي، نو له کافر، عاصي او باغي بنده به ئې هر څه سپمولي وو، له عادي اوبو به ئې هم محروم کړی وو. مبادا د هغه چا په اړه چې د رزق او روزي تر لاسه کولو لپاره ئې حرامي لاري غوره کړې او د ظلم، تېري، خیانت او نورو حرامو لارو ئې ډېر څه تر لاسه کړي، دا ګمان وکړې چې الله ته نازولی دئ او د خاصو وړتیاوو په وجه ئې دا هر څه ورکړي!! مبادا بډای د عزت خاوند وګڼې او نېستمن سپك او ذلیل، ډېر مالداران د الله او خلکو په نزد ډېر سپك او ذلیل دي او ډېر نېستمن او نادار خلك د الله په وړاندي د ستر عزت خاوندان دي.

همدا راز فرمایي:

فَأَمَّا ٱلْإِنسَٰنُ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكْرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّىٓ أَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾ وَأَمَّآ إِذَا

مَا ٱبۡتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيۡهِ رِزۡقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَهَٰنَنِ ١٦ كَلَّاۖ بَل لَّا تُكۡرِمُونَ ٱلۡيَتِيمَ ١٧

الفجر

نو دا انسان چې کله ئې خپل رب وآزمويي او عزت او نعمت ورکړي، نو وايي به چې رب مي عزت راکړ او چې کله ئې بيا وآزمويي (داسي) چې روزي پرې محدوده کړي، نو وايي به چې خداى مي اهانت کړم.

يعني دا طاغي او مفسد انسان داسي دئ چې په خپلو قضاوتونو کې تل مادي معيارونه کاروي، که الله تعالى ئې د اعتبار او عزت خاوند کړي، مال او دولت ورکړي، جاه، جلال او اقتدار ئې په برخه کړي، په ولس کې وجاهت، رسوخ او نفوذ تر لاسه او په نعمتونو ئې ونازوي نو ګمان کوي چې حقيقي عزت او سرلوړي ئې تر لاسه کړې، حال دا چې الله تعالى دا پېرزويني د ده د (اکرام) او (اعزاز) لپاره نه بلکې د ابتلاء او آزموينې لپاره ده ته ورکړې او که په بل حالت ئې وآزمويي، رزق او روزي پرې تنګه او محدوده کړي، په تنګسې ئې وآزمويي، نو وايي به: رب مي په سپکه راته کتلي او زه ئې اهانت کړى يم، په داسي حال کې چې دا حالت، د ده د اهانت او سپکاوي لپاره نه بلکې د ده د ابتلاء او آزمويلو لپاره ئې پرې راوستى، دا دواړه حالتونه د ابتلاء او آزمېښت لپاره دي، اشتباه مه کوئ، په رزق کې پراخوالى د خپلو عملونو بدله مه ګڼئ او تنګوالى ئې سپکاوى او الهي اهانت مه شمېرئ، دواړه د آزمېښت لپاره دي، کله دي الله تعالى د مبارزې په سنګر کې آزمويي، کله د اقتدار په حالت او په (قصر) کې، د دې لپاره چې وليدى شي چې د رزق او روزي د پراخوالي او د امکاناتو د وفرت او کثرت په وخت کې د خپل رب د پېرزوينو شکر کوې او که برعکس دا ستا د کبر، غرور، سرکښي او طغيان باعث کېږي او کله چې ئې ستا رزق درته محدود کړ آيا په خپل محدود رزق قانع او راضي وې او د الله تعالى شکر په ځاى کوې، شکوه او شکايت نه کوې، د رزق د لاس ته راوړو حرامي لاري نه لټوې!! يا برعکس پر حلال رزق د قناعت او اکتفاء په ځاى حرامو ته لاس غځوې او حرامي لاري غوره کوې؟

د قرآن له نظره دا يوه سټره اشتباه او خاطئ قضاوت دئ چې څوک د يوې طاغي او مفسدي ټولنې مادي پرمختګ او سوکالي معيار وګڼي او د امکاناتو وفرت او کثرت ئې د هغې د وړتيا او ښه والي نښه ونيسي او دې ته ئې پام نه وي چې دا امکانات ئې له کومي لاري تر لاسه کړي!! ډېر کم عقله کسان همداسي قضاوت لري، د غرب مادي پرمختګ او د غربيانو مرفه ژوند د دوى د ښه والي نښه ګڼي او دې ته پام نه کوي چې غرب د بې وزلو آسيايي او افريقايي ملکونو د غارت له لاري دا امکانات تر لاسه کړي، د دوى د رفاه لپاره

د دې هېوادو مظلوم وګړي قرباني شوي.

قرآن د دغه غلط او خاطئ قضاوت لامل داسي بيانوي:

كَلَّا بَل لَّا تُكۡرِمُونَ ٱلۡيَتِيمَ ١٧ وَلَا تَحَٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ١٨ وَتَأۡكُلُونَ ٱلتُّرَاثَ أَكۡلٗا لَّمّٗا ١٩ وَتُحِبُّونَ ٱلۡمَالَ حُبّٗا جَمّٗا ٢٠ الفجر

نه؛ داسي نه ده؛ بلکي تاسو د يتيمانو عزت نه کوئ؛ او يو بل مسکينانو ته په طعام ورکولو نه هڅوئ؛ او د بل د ميراث برخه په زښت زيات خوړلو سره خورئ؛ او له مال سره مينه کوئ؛ ډېره کلکه مينه.

يعني داسي نه ده لکه چې تاسو انګېرلې، دا د عزت او سپکاوي معيارونه نه دي، چا ته چې الله تعالى پراخ رزق ورکړى دا په دې معنى نه ده چې الله تعالى ورته عزت ورکړى او د چا روزي چې ئې محدوده کړې نو هغه ئې توهين کړى، دا خو ستاسو هغه غلط قضاوت دئ چې ستاسو له خپل ناسم اجتماعي حالته راخوټېدلى، ستاسو په ټولنې کې چې څوک بې وزلى، کمزورى او له خپلې دفاع عاجز وي، نو له نظرونو لوټدلى وي، څوک ورته اعتناء نه کوي او له خپلو ټولو انساني حقوقو محروم وي، دغه حالت په تاسو کې دا غلط ذهنيت او قضاوت راولاړ کړى، ستاسو په ټولنې کې هيڅوک د يتيم درناوى او احترام نه کوي، تر هغې ورځې چې پلار ئې ژوندى وو، حامي او مدافع ئې درلود، هغه به دي په غېږ کې نيولو، په مخ تندي به دي ښکلولو، پر سر به دي د مهربانۍ لاس راښکو، خو اوس چې ضعيف اوناتوانه دئ، حامي او مدافع نه لري، نو نه يوازې څه اعتناء او التفات ورته نه لرې بلکې مال ئې غصبوې، په حق ئې تېرى کوې، که څه هم دا (يتيم) د هغه چا اولاد دئ چې ستا دوست او خپلوان دئ، د هغه په ژوند کې دي ورته احترام درلود او د ده د دوستۍ ډېره دي په سينه وهله، ستاسو دا (قضاوت) له دغه وضعيته خېروبېږي، د دې (مادي قضاوتونو) جړې بايد ستاسو په (بد اجتماعي وضعيت) کې ولټوو، په هغې ټولنې کې چې يتيم تحقير او توهين شي او سپك وګڼلى شي او حقوق ئې ترپښو لاندې شي، طبيعي ده چې هلته به (قضاوتونه) همداسي وي!!

منافق هغه څوک دئ چې د موهومي عزت تر لاسه کولو لپاره له دې هم ډډه نه کوي چې کافر ته پناه يوسي، قرآن فرمايي:

بَشِّرِ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا ١٣٨ ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ أَيَبۡتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلۡعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ١٣٩ النساء

منافقينو ته د دې زېرى ورکړه چې دوى ته دردوونکى عذاب دئ؛ همغو ته چې له مؤمنانو

پرته کافران په دوستۍ نیسي، آیا د دوی خوا ته عزت لټوي؟ په داسې حال کې چې عزت ټول د الله دئ.

دوی له کافرانو سره دوستي کوي، ګمان او انتظار ئې دا دئ چې د کافرانو تر څنګ به عزت تر لاسه کړي، په دې نه پوهېږي چې په منافقت او دښمن ته په تسلیمېدو سره خپل موجود عزت او اعتبار هم له لاسه ورکوي، په دې نه پوهېږي چې د عزت پرېکړه الله کوي، عزت له ایمان پرته له بلې لارې نه شي تر لاسه کېدی، یوازې د الله مؤمن او صالح بنده د واقعي عزت خاوند دئ، منافق د هر چا له نظره سپك، ذلیل او بې اعتباره وي، هر څوك ئې یوه بې اعتباره وسله ګڼي، هیڅوك د یوه مطمئن دوست په سترګه ورته نه ګوري.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُلۡهِكُمۡ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٩

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! نه دي ستاسو مالونه تاسو د الله له ذکر غافل کړي او نه ستاسو زامن؛ او څوك چې داسې وکړي نو همدا دوی زیانمن دي.

(۹)- په دې مبارك آیت کې مؤمنانو ته سپارښتنه شوې چې پام کوئ ستاسو مالونه او ستاسو زامن تاسو د الله له ذکر غافل نه کړي، داسې نه چې د مال لاس ته راوړلو تلوسه او د اولاد مینه تاسو داسې مشغول کړي چې د الله تعالی ذکر او یادونه درنه هېره شي، څوك چې داسې وکړي زیانمن شوی.

لکه چې ګورئ دلته د خطاب بڼه بدله شوې، د سورې په ټولو مخکینیو آیتونو کې بحث د منافقینو او د دوی د خصلتونو په اړه وو، خو دلته خطاب مؤمنانو ته متوجه دئ، هغوي ته توصیه شوې چې مال او اولاد ئې د خپل رب له یاد او ذکر غافل نه کړي، که څه هم خطاب مؤمنانو ته متوجه دئ خو دلته هم په غیرمستقیمه توګه د نفاق یوه بله بارزه ځانګړتیا په ګوته شوې، خدای هېرونه او د الله له ذکر غفلت، دا د هغو خصلتونو په لړ کې تر ټولو بارز او څرګند خصلت دئ چې قرآن ئې منافقینو ته منسوبوي، د منافق کومه څېره چې قرآن ئې انځوروي په هغې کې د الله له ذکر غافل زړه په تور رنګ ترسیم شوی، قرآن فرمایي:

ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ بَعۡضُهُم مِّنۢ بَعۡضٖۘ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمُنكَرِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَقۡبِضُونَ أَيۡدِيَهُمۡۚ نَسُواْ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمۡۚ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٦٧ التوبة

نارينه منافقين او ښځي منافقيني ځيني د ځينو نورو له ډلې دي، د منکر سپارښتنه کوي، له ښېګڼو مخنيوی کوي، خپل لاسونه (د خير له کار او د مال له انفاق) بندوي، دوی خدای هېر کړی او خدای دوی هېر کړي، يقيناً چې منافقين فاسقان دي.

همدا راز فرمايي:

إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٤٢﴾ النساء

بې شکه چې منافقين له الله سره خدعه کوي او هغه ئې هم په خدعه کې اچوونکی دئ او کله چې لمانځه ته پاڅي نو لټ پاڅي، خلکو ته ځان ښودنه کوي او الله نه يادوي مګر ډېر لږ.

دلته د منافق لاندي خصلتونه په ګوته شوي:

- له الله سره خدعه کوي، د خپل نفاق او ناوړه عملونو لپاره داسي توجيهات برابروي چې هغه جائز ثابت کړي.
- په لمانځه کې لټ وي او د خپلو ديني وجائبو په تر سره کولو کې سستي کوي.
- رياکار وي، هر کار ئې نورو ته د ځان ښودني لپاره وي، هيڅ عمل ئې د عقيدې او ايمان په حکم نه وي.
- له الله سره ئې اړيکي سستي وي، ډېر لږ ئې يادوي، هم ئې په ژبه لږ يادوي او هم په خپلو تبصرو او تحليلونو کې لږ د ده نوم په خوله اخلي او هم په خپلو تصميمونو کې ډېر کم په الله حساب کوي.

دې ته بايد متوجه وئ چې له دې آيت او دې ته ورته آيتونو يوازي د بل د تللو او د هغه په اړه د قضاوت کولو لپاره استفاده ونه کړئ، بلکه تر دې د مخه خپل ځان د هغه په هنداره کې وګورئ، پخپله بايد له نفاق وېره ولرو او ځان ترې وساتو.

وَأَنفِقُواْ مِن مَّا رَزَقْنَٰكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَآ أَخَّرْتَنِيٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠﴾

او له هغه څه انفاق وکړئ چې تاسو ته مو درروزي کړي، تر هغه وړاندي چې کوم يوه ته مو مرګ درشي بيا ووايي: اې زما ربه! ولې دي تر يوې نژدې نېټې ونه ځنډوې چې د صدقاتو ورکړه مي کړې وی او له صالحانو شوی وی؟!

---

(١٠)- که څه هم دلته خطاب مؤمنانو ته متوجه دئ او هغوی انفاق او د الله په لار کې مالي قربانۍ ته بلل شوي خو دې ته په پام سره چې دا آیت د منافقینو د معرفې په لړ کې راغلی نو ښیي چې د الله په لار کې له انفاق ډډه کول د منافقینو یو بل خصلت دئ؛ او پر دې باور نه درلودل چې د مرګ نېټه ثابته او نه بدلېونکې ده د دوی بل خصلت دئ، منافق په خپل ټول ژوند کې له دې ډډه کوي چې کوم څه د الله تعالی په لار کې وقف کړي خو کله چې د ده د مرګ نېټه راورسېږي نه یوازي دا هیله کوي چې مرګ ئې وځنډېږي بلکې د دې هیلې تر څنګ ادعاء کوي چې له دې وروسته به له بخل ډډه کوي، صدقات به ورکوي، صالح انسان به ترې جوړېږي، له فسادونو به لاس اخلي!! قرآن په نورو آیتونو کې وایي: دوی دلته او دا مهال هم دروغ وایي، که دا فرصت ورکړی شي په خپلو ژمنو به وفا ونه کړي، له فساد او نفاق به لاس وانه خلي.

دوی د جنګ میدان ته تګ هم داسې ګڼي لکه د مرګ لوري ته تګ، دلته هم دا هڅه کوي چې جګړه وځنډېږي او په دې توګه څو نوري ورځې د آرام ژوند فرصت ورکړی شي، قرآن په دې اړه فرمایي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوٓاْ أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ ٱلنَّاسَ كَخَشْيَةِ ٱللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا ٱلْقِتَالَ لَوْلَآ أَخَّرْتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ ۗ قُلْ مَتَٰعُ ٱلدُّنْيَا قَلِيلٌ وَٱلْأٓخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧٧﴾ أَيْنَمَا تَكُونُواْ يُدْرِككُّمُ ٱلْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِى بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِكَ ۚ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ﴿٧٨﴾ النساء

آیا هغو ته دي ونه کتل چې ورته وویل شو: لاسونه مو راتم کړئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ؛ خو کله چې پر دوی جهاد فرض کړی شو نو یوه ډله ئې له خلکو داسې وېرېده لکه له الله او یا تر دې هم سخته وېره او ویل ئې: اې زموږ ربه! ولې دي پر موږ جنګېدل فرض کړل؟ ولې دي تر یوې نژدې نېټې ونه ځنډولو؟ ورته ووایه: د دنیا متاع خو وړوکی شی دئ او آخرت غوره دئ، د هغه لپاره چې تقوا ئې غوره کړه او د بڅرکې په اندازه به پر تاسو تېری ونه شي. چې هرځای وئ مرګ به مو بیا مومي، که څه هم په دنګو کلکو ماڼیو کې وئ ....

په دې مبارکو آیتونو کې لاندې لارښوونې زمونږ مخې ته اېښودل شوې:

- ځینې خلك داسې وي چې له دښمن سره د جګړو د وخت له رارسېدو مخکې په جګړې ټینګار کوي؛ او وایي: باید له دښمن سره د یوې پرېکندې نښتې له لارې خبره پای ته ورسوو او ستونزه د تل لپاره حل کړو، خو دا ټینګار ئې له قوي ایمان او د الله په لار کې د قربانۍ له جذبې نه وي راولاړ شوی، بلکې له بیمار زړه راخوټېدلی وي، په دې بې وخته ټینګار سره غواړي چې ځان مخلص او انقلابي وښیي او په خپلو غلطو عملونو او غلطلو ویناوو پرده واچوي او خلکو ته وښیي چې که اوس او د سختي ورځې له رارسېدو مخکې هغوی څه قصور لري او په عمل کې تر نورو شاته پاتې دي او د خپلو دیني او مذهبي دندو په اداء کولو کې لټې کوي، کله چې په دې اړه وربانديې اعتراض وشي نو وایي: که له دښمن سره د نښتې او له دین د دفاع وخت راورسېدو نو مونږ به ترټولو مخلص وموږ، زمونږ په اخلاص او صداقت به هلته پوه شئ چې په لومړي خط کې مو توره په لاس او مټې بروهلې وګورئ!! وبه ګورئ چې تر هر چا مخکې یو او په لومړي خط کې د دښمن مقابله کوو!! خو کله چې د جګړې اصلي وخت راورسېږي او په دې اړه صریح او واضح فیصله وشي او د قرآن صریح او واضح حکم د هغه غوښتنه وکړي نو دا کسان به داسې وموږ چې سخته وېره به ئې په څېرو کې څرګنده وی، خړې سترګې؛ د هغه چا په څېر چې د مرګ له وېرې او هیبته بې هوشه شوی، له خلکو به داسې وېرېږي لکه له الله او حتی له خلکو به ئې وېره هومره وي چې له الله به دومره نه وېرېږي!!
- بیا به وایي: اوس خو د جګړې مناسب وخت نه دئ، ضروري وسائل نه دي برابر شوي، څه نور وخت ته ضرورت لرو، باید جګړه وځنډېږي!!
- دوی جګړه او له دښمن سره مخامخ کېدل داسې ګڼي لکه د مرګ په لوري چې خوځول کېږي، لکه مرګ چې تیار دوی ته خپل کومی پرانیستی وي او د مرګ نښته ئې رارسېدلې وي!! وایي به: خدای ولي مونږ ته د څه نوري مودې لپاره د ژوندي پاتې کېدو موقع رانه کړه او داسې ژر ئې له جګړو سره مخامخ کړو!!
- دې خلکو ته فقط یو ځواب په کار دئ او هغه دا چې: له دنیا سره افراطي مینه مو له مرګ وېروي، آخرت مو هېر کړی، دنیا ته پر آخرت ترجیح ورکوئ، د همدې لپاره له مرګ وېرېږئ او له جنګه ډډه کوئ، د الله په عدالت باور نه لرئ، ګمان کوئ چې الله به د مسلمانانو هلي ځلي او قربانۍ ضائع کړي، حال دا چې الله د وړې ذرې په اندازه هم پر خپلو بندګانو ظلم نه کوي.
- په دې پوه شئ چې په کور کې ناستي سره او کلکو مورچلو او دنګو کلاګانو ته په پناه

وړلو سره هم له مرګ نه شئ خلاصېدی، په هر صورت به د مرګ داعي ته لبیك وایئ.

که کله شرائط داسي راشي چي منافقین د مال انفاق ته اړ شي او عمومي ذهنیت ئې دې ته مجبور کړي نو ډېر لږ څه او هغه هم له کرکې او تنفر سره لګوي، لکه چي قرآن فرمایي:

وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَٰتُهُمْ إِلَّآ أَنَّهُمْ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأْتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَٰرِهُونَ ﴿٥٤﴾ التوبه

او له دې چي نفقات ئې قبول شي بل څه نه دي منع کړي مګر دې چي د الله او د ده د پیغمبر په اړه ئې کفر وکړ، لمانځه ته نه راځي مګر په داسي حال کې چي لټ وي او انفاق نه کوي مګر په داسي حال کې چي کرکه کوونکي وي.

دلته د جهاد د هغو مخالفینو څو خصلتونه په ګوته شوي چي غواړي له جهاد پاته کېدا په داسي انفاق جبران کړي چي محرك ئې اخلاص او صداقت نه بلکې یا ریاء وي یا د مسلمانانو له ګواښ ځان ژغورل، وایي چي د دوی انفاق له دې امله نه منل کېږي چي:

- دوی نه پر الله تعالی ایمان لري او نه د هغه پر پیغمبر،
- لمانځه ته په داسي حال کې ودرېږي چي لټ او کسل وي او
- له داسي انفاق ډډه کوي چي ایمان او د الله تعالی رضاء لټول ئې تر شا وي، که څه انفاق کوي نو په نه زړه او له کرکې سره وي.

دا مبارك آیت د منافق ستري نښي زمونږ په واك کې راکوي: په لمانځه کې لټي او کسالت او په شوق او میني سره د کوم څه له انفاق کرکه درلودل. قرآن په دوو خبرو ډېر تأکید کوي او هغه د نورو الهي وجائبو د اداء کولو لپاره مقدمه ګڼي: لمونځ او مالي قرباني؛ چي کله ئې د زکات په نامه یادوي او کله د صدقې په نامه، هو؛ لمونځ ترټولو مهم او ستر عبادت دئ، په اسلام کې تر بل هر عبادت پر لمانځه زیات تأکید شوی، هومره تأکید چي پرېښودل ئې له اسلام د وتلو نښه او په اداء کولو کې ئې کسالت او لټي د نفاق علامت ګڼل شوی، ګواکې دا لمونځ دئ چي مسلمان له کافر او مؤمن له منافق بېلوي. تل د لمانځه تر څنګ د زکات یادونه کېږي او د ایمان نښه ګڼل کېږي، دا ځکه چي زکات او صدقات هغه څه دي چي مسلمان د الله تعالی په لار کې نورو قربانیو ته چمتو کوي.

همدا راز فرمایي:

وَمِنْهُم مَّنْ عَٰهَدَ ٱللَّهَ لَئِنْ ءَاتَىٰنَا مِن فَضْلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُم مِّن فَضْلِهِۦ بَخِلُواْ بِهِۦ وَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٧٦﴾ التوبه

او د دوی ځینو له الله سره ژمنه وکړه چې که له خپل فضل څه ورکړي هرومرو به صدقې ورکوي او د صالحانو له ډلې به وي، خو کله چې ئې له خپل فضل څه ورکړل؛ بخل ئې پرې وکړ او په داسې حال کې ئې مخ واړولو چې ډډه کوونکي ول.

دا منافقین نه یوازې له مؤمنانو سره دوکه کوي او خپلې ژمنې ترپښو لاندې کوي بلکې له الله تعالی سره هم خدعه کوي او خپلې ژمنې ماتوي، چې په دې مبارکو آیتونو کې ئې یوه بېلګه داسې ښودل شوې: له الله تعالی سره ژمنه کوي چې که ورباندې فضل وکړي او شتمن ئې کړي نو صدقه به ورکوي او صالح او نېک بنده به ترې جوړ شي، خو کله چې الله تعالی له خپل فضل څه ورکړي؛ نو بخل کوي او په داسې حال کې مخ اړوي چې ډډه کوونکي وي.

منافقینو نه یوازې له انفاق ډډه کوله بلکې د غنائمو د وېش پر مهال به ئې د لویې او په زړه پورې برخې تر لاسه کولو هڅه کوله او که به د دوی غوښتنې ونه منل شوې نو ډول ډول تبلیغات به ئې کول، قرآن په دې اړه فرمایي:

وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ فَإِنْ أُعْطُواْ مِنْهَا رَضُواْ وَإِن لَّمْ يُعْطَوْاْ مِنْهَآ إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ﴿٥٨﴾ التوبه

او د دوی ځینې هغه دي چې د صدقاتو په اړه پر تا نیوکه کوي؛ نو که څه ترې ورکړی شي راضي کېږي او که ترې ورنه کړی شي نو ناڅاپه غصه کېږي.

دلته د منافقینو بل خصلت په ګوته شوی: د صدقاتو د وېش په اړه به د مسلمانانو پر مشرتابه نیوکې کوي، حتی که دا مشر په خپله پیغمبر علیه السلام وي؛ او وېش هم کاملاً عادلانه، د نیوکو وجه ئې دا نه وي چې عدالت نه دئ مراعات شوی، بلکې وجه ئې دا وي چې دوی ته په زړه پورې برخه نه ده ورکړی شوې، که داسې څه ئې په برخه شي نو بیا کاملاً راضي وي او د عدالت د نه مراعات خبره نه کوي، خو که ئې برخه د دوی د غوښتنو مطابق نه وي نو غصه کېږي که څه هم عدالت مراعات شوی وي او دوی ته د عدالت له مخې خپله برخه ورکړی شوې وي!! د دوی قضاوت هم د وېش په اړه د هوی او هوس له مخې وي او هم د مشرتابه د تصرفاتو په اړه.

مؤمن داسې وي چې کله د الله په لار کې له مالي او ځاني قربانۍ او له جهاد محروم شي، عوائق او موانع ئې مخې ته خنډ شي، که څه هم کولی شي پر خپلو معاذیرو استناد وکړي، د ده وضعیت ته په پام سره هیڅوک هغه په دې ملامت نه کړي چې ولې ئې په جهاد کې برخه نه ده اخیستې، خو له دې کبله چې هغه د الله په لار کې جهاد د فلاح او

نجات رمز او ضامن او خپل رب ته د تقرب وسیله ګڼي نو ځکه له جهاد محرومېدل داسي ورته بربښي لکه له ستر سعادت محرومېدل. د ابو طلحه رضی الله عنه قصه مورِ ته دا حقیقت ډېر ښه واضح کوي:

روایت دئ چي ابو طلحه رضي الله عنه په زړښت کي د التوبه سوره تلاوت کوله، کله چي دې آیت ته ورسېد (انفِرُوا خِفَافاً وَ ثِقَالاً وَ جَهِدُوا بِأَمْوَلِكمْ وَ أَنفُسِكُمْ فِی سبِيلِ اللهِ ذَلِكُمْ خَيرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ: سپك او درانه ووځئ او د الله په لار کي په خپل مال او نفس سره جهاد وکړئ، دا درته غوره دئ که تاسو پوهېدی)، خپل زامن ئې وروغوښتل او ورته وئې ویل: الله تعالی فرمایلي: په ځوانۍ او زړښت کي د جهاد لپاره ووځئ، نو زما زامنو! ما مجهز کړئ چي د الله په لار کي د جهاد لپاره ووځم، زامنو ئې ورته وویل: پلاره! الله تعالی دي پر تا رحم وکړي، تا د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ټولو غزواتو کي برخه واخیسته تر هغه چي هغه رحلت وکړ، د ابو بکر صدیق رضي الله عنه په خلافت کي تر هغه په جهاد بوخت وې چي هغه وفات شو، له عمر رضي الله عنه سره یو ځای د هغه تر شهادت پوري په جهاد مصروف وې، اوس چي ستا د زړښت ورځي رارسېدلې دي پرېږده چي مورِ ستا پر ځای جهاد وکړو، ابو طلحه رضي الله عنه د دوی خبره ونه منله او ټینګار ئې وکړ چي حتماً به ځي، زامنو ئې له دې پرته بله چاره ونه موندله چي توافق وکړي، د ده د تلو شرائط او ضروریات ئې برابر کړل، په یوې کښتۍ کي ئې سپور کړ او د محاذ په لوري ئې ولېږو، ابو طلحه خپل سفر پیل کړ، محاذ ته تر رسېدو وړاندي په نیمي لاري کي وفات شو، کښتۍ همغسي روانه وه، داسي ځای ئې ونه موندو چي دی په کي دفن کړي، له (۱۹) ورځو مزل وروسته یوې جزیرې ته په داسي حال کي ورسېده چي د ده په جسد کي هیڅ تغییر نه وو راغلی، هملته ئې دفن کړ!! دا دئ هغه ژور اغېز چي راسخ او واقعي ایمان ئې د انسان پر ژوند او د ده پر سلوك لري او قربانۍ ته ئې چمتو کوي، کومه سینه چي د ایمان په نور روښانه شي نه ئې ضعف او زړښت د الله په لار کي له جهاد منع کولی شي او نه د ځوانۍ غرور او بې باکۍ، نه ئې د فقر او بې وسۍ مجبوریت مخنیوی کولی شي او نه د ثروت او غناء نشه، په هیڅ حالت کي د الله په لار کي له جهاد لاس نه اخلي، جهاد د لمانځه او روژې په څېر یوه الهي فریضه ګڼي او پرېښودل ئې سترې ګناه، خو منافق داسي دئ چي نه د الله تعالی په وړاندي د مسئولیت احساس کوي، داسي احساس چي جهاد ته ئې چمتو کړي؛ او نه پر آخرت، جنت او موعود نعمتونو ئې داسي باور لري چي د حصول لپاره ئې یوه شېبه کومه ستونزه او کړاو وزغمي او دې ته ئې چمتو کړي چي د الله په لار کي له کوم څه لاس واخلي. هغه څه چي د منافق له نظره ارزښت او

اهميت لري يوازي په همدې دنيا کې شخصي راحت او هوساينه ده.

وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا ۚ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١١﴾

او کله چې د يوه ژوي اجل راشي نو الله ئې هيڅکله نه ځنډوي او الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

(۱۱)- دا آيت چې د مرګ نېټه ثابته او تغيير نه منونکې ګڼي؛ دلته او د مخکينيو آيتونو په تړاو د منافقينو يو بل خصلت انځوروي، هغه خصلت چې د دوی له منافقانه باورونو نشأت کوي، منافق په دې باور نه وي چې د انسان مرګ ثابته او له مخکې ټاکل شوې نېټه لري، چې په خپل وخت او خپل ځای کې به د انسان خوا ته راځي، هغه په الهي قضاء او قدر باور نه لري، دا عدم باور کله د يأس په بڼې کې ځان څرګندوي او کله د وېرې په بڼې کې، منافق کله د تېرو غمجنو پېښو له کبله دومره سرټکوي او ويړ کوي چې تحمل ئې ورته ګران شي او کله ئې هيبتناك خبرونه داسې ووېروي چې زمکه پرې تنګه شي؛ لکه چې قرآن فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقَالُواْ لِإِخْوَٰنِهِمْ إِذَا ضَرَبُواْ فِى ٱلْأَرْضِ أَوْ كَانُواْ غُزًّى لَّوْ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ لِيَجْعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِى قُلُوبِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١٥٦﴾ آل عمران

اې هغو چې ايمان ئې راوړی! د هغو په څېر مه کېږئ چې کافران شول او د خپلو وروڼو په اړه ئې چې په سفر تللي وو او يا ئې غزا کوله (او هلته يا مړه يا وژل شوي وو) وويل: که زمونږ په خوا کې وی؛ نه به مړه شوي وو او نه به وژل شوي وو!! د دې لپاره چې الله دا خبره د دوی په زړونو کې د حسرت باعث وګرځوي، حال دا چې د ژوند، مرګ پرېکړه الله کوي او الله د هغه څه ښه ليدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ.

د دې آيت اساسي مطالب دا دي:

- مسلمانان د مرګ او ژوند په اړه له کافرانه تصوره منع شوي.
- که چا مړينه او وژنه، سفر يا غزا ته منسوب کړه او د وژل شوي او مړ شوي خپلوان په اړه ئې وويل: که زمونږ په څنګ کې وی، په غزا کې ئې برخه نه وی اخيستې او په سفر نه وی تللی له مړيني او وژني به خوندي پاته شوی وو، د ده دا تصور او اعتقاد کافرانه دئ.
- د ژوند مرګ پرېکړه يوازي الله تعالی کوي.

- دا کافرانه تصور له دې پرته بل څه نه دئ چې په زړونو کې د حسرت باعث شي، په دې حسرت سره الله جل شأنه کافران تعذیبوي.
- د انسان کوم کړه وړه چې له همدې کافرانه اعتقاده خړوبېږي، که هغه له مرګ وېره وي، په جهاد کې برخه نه اخیستل وي او سنګر ته د خپلوانو له لېږلو ډډه کول وي، الله په ټولو خبر دئ او ستاسو د ټولو عملونو شاهد او ناظر دئ.

په بل ځای کې فرمایي:

ٱلَّذِينَ قَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ وَقَعَدُواْ لَوۡ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُواْۗ قُلۡ فَٱدۡرَءُواْ عَنۡ أَنفُسِكُمُ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٦٨ آل عمران

هغه چې خپلو وروڼو ته ئې په داسې حال کې چې په خپله ناست وو وویل: که ئې زموږ خبره منلې وی؛ نه به وژل کېدل؛ ورته ووایه: له خپل ځان مرګ دفع کړئ که رښتیني یئ.

دا همغه منافقین دي چې په خپله ئې هم په جنګ کې برخه وانخیسته او نور ئې هم له برخې اخیستو منع کول او له جګړې وروسته ئې ویل: که دوی زموږ خبره منلې وی او په جګړې کې ئې له برخې اخیستو ډډه کړې وی، نو له دې مرګ ژوبلې سره به نه وو مخامخ شوي، دوی ته لنډ خو ډېر قاطع او خوله ماتوونکی ځواب ورکړی شوی: که په رښتیا ستاسو منافقانه تدبیرونه د چا د مرګ نېټه بدلولی شي نو لومړی د خپل مرګ چاره وکړئ!! که په خپلو منافقانه تدبیرونو سره د نورو د مرګ مخه نیولی شئ نو کوم داسې تدبیر هم وکړئ چې ستاسو خپل مرګ د تل لپاره وځنډوي!!

قرآن د مرګ د ثابتې نېټې په اړه فرمایي:

وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِ كِتَٰبٗا مُّؤَجَّلٗاۗ ... ١٤٥ آل عمران

او هیڅ نفس ته نه ښایي چې ومري مګر د الله په اذن سره په لیکل شوې ټاکلې نېټې...

په دې مبارک آیت کې د لاندې سترو سترو خبرو لارښوونه شوې:

- د هرچا د مړینې لپاره معینه نېټه ټاکل شوې.
- دا خاصه نېټه په خاص کتاب کې لیکل شوې، په داسې کتاب کې چې په هغه کې هیڅ تبدیلي نه شي راتلی.
- مرګ په همدې ټاکل شوې لیکلې نېټې راځي خو د الله له اجازې وروسته راځي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم دا الهي لارښوونه په دې الفاظو زموږ په وړاندې ایښې ده:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُول اللَّه صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْمُؤْمِن الْقَوِيّ خَيْر وَأَحَبّ إِلَى

اللَّه مِنْ الْمُؤْمِن الضَّعِيف، وَفِي كُلّ خَيْر، اِحْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعك وَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَلَا تَعْجَز، وَإِنْ أَصَابَك شَيْء فَلَا تَقُلْ: لَوْ أَنِّي فَعَلْت لَكَانَ كَذَا وَكَذَا، وَلَكِنْ قُلْ: قَدَّرَ اللَّه وَمَا شَاءَ فَعَلَ، فَإِنَّ " لَوْ " تَفْتَح عَمَل الشَّيْطَان " رواه مسلم و ابن ماجه

له ابو هريره رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: الله ته قوي مؤمن تر ضعيف مؤمن زيات محبوب وي، په ټولو کې ښېګڼه ده، د هغه څه تلوسه کوه چې گټه دررسوي؛ او له الله مرسته غواړه، عجز او ناتواني مه ښيه، که کوم مصيبت دروړسېد نو داسي مه وايه چې که مي داسي کړي وی نو داسي او هغسي به شوي وو، بلکي ووايه: څه چې الله مقدر کړي وو (همغه وشول)، څه چې الله وغوښتل وئې کړل، دا ځکه چې د (لو: که او کاش) کلمه، د شيطان د فعاليت لار پرانيزي.

قرآن هغو ته چې خپلوان او عزيزان ئې د جنگ په ميدان کې وژل شوي او گمان کوي چې که دوی په جنگ کې برخه نه وی اخيستې نو نه به وو وژل شوي؛ فرمايي:

... قُل لَّوۡ كُنتُمۡ فِي بُيُوتِكُمۡ لَبَرَزَ ٱلَّذِينَ كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَتۡلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمۡۖ ... آل عمران

... ورته ووايه: که تاسو په خپلو کورونو کې هم وی نو هغه کسان به هرومرو د خپلې مړينې ځای ته راوتلي وو چې وژنه ئې مقرره شوې وه ...

همدا راز فرمايي:

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٢٢ لِّكَيۡلَا تَأۡسَوۡاْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا تَفۡرَحُواْ بِمَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٍ ٢٣ الحديد

نه په زمکي کې کومه پېښه رامنځته کېږي او نه ستاسو په خپل ځان کې مگر دا چې په کتاب کې (ثبت) شوې تر هغه وړاندې چې پيدا ئې کړو، يقيناً چې دا الله ته آسان دئ، د دې لپاره چې د هغه څه له کبله ناهيلي ونه کړئ چې له لاسه مو وتلي او نه پر هغه څه خوښي وکړئ چې تاسو ته ئې درکړي؛ او الله هر فخر کوونکی متکبر نه خوښوي.

دا مبارکه سوره په يوي داسي جامع فقرې پای ته رسېدلې چې د سورې له ټولو مضامينو سره ژور تړاو لري او خلاصه ئې زموږ مخي ته ږدي، وايي: و الله خبير بما تعملون: او الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ، دا فقره هم د آيت له

مخکینیو مطالبو سره ژور ارتباط لري او هم د سورې له نورو آیتونو سره، هم د آیت لپاره ښکلې او دقیقه تتمه ده او هم د ټولې سورې لپاره.

د آیت له مخکینیو مطالبو سره ئې ارتباط په دې توګه دئ: الله تعالی پوهېږي چې تاسو د خپل مرګ د مخنیوي یا ځنډولو لپاره څه کولی شئ، له کومو تدبیرونو کار اخیستی شئ، په دې اړه مو انساني توان او وس څومره دئ، ښه پوهېږي چې نه مو تدبیرونه اغېزمن دي او نه دا وس او توان لرئ چې د مرګ نېټه وځنډوئ، ستاسو د وس او تدبیرونو ضعف ته په پام سره ئې فرمایلي چې هیڅوک نه شي کولی د مرګ نېټه وځنډوي.

د سورې له ټولو مطالبو سره ئې ارتباط داسي دئ: د منافق د ټولو منافقتونو منشأ د ده دا باور دئ چې کولی شي په شطارت، غوړه مالي، ځیرکي، خدعې او دوکې سره خپل منافقانه ماهیت پټ وساتي، هم مؤمنان وغولوي او هم کافران، دی په خپلو منافقتونو کې دې خبرې جرې او جسور کړی چې په دې حقیقت باور او ایمان نه لري چې الله تعالی د ده د زړه له اسرارو خبر دئ، هیڅ عمل او موخه ئې ترې پټ نه پاته کېږي، که هغه په دې باور درلودی چې معامله ئې له هغه خبیر خدای سره ده چې د ده د زړه له اسرارو خبر دئ هیڅکله به ئې د منافقت لار نه وه غوره کړې.

نفاق هغه بیماري ده چې لومړی د انسان زړه پرې مبتلاء کېږي، پر عقیدې او ایمان ئې خپل تور وزر غوړوي، بیا د ده په ویناوو او کړنو کې راڅرګندېږي، په دې خطرناك مرض اخته انسان هڅه کوي د خپل زړه خبث او پلیتي مخفي وساتي، په ډېر تکلف او مهارت سره سعي کوي خپل تصنعي ظاهر جالب او غولوونکی جوړ کړي، څه چې په سینه کې لري او څه چې له خلکو پټوي له هغه څه سره ژور توپیر لري چې د نورو په وړاندې ئې څرګندوي، د دې تناقض او توپیر منشأ همدا ده چې ګمان کوي کولی شي خپل اسرار د تل لپاره له نورو پټ وساتي، په دې آیت کې هغوی ته ویل شوي: داسي څوك شته چې ستاسو له اسرارو ښه خبر دئ، تاسو نه شئ کولی هغه د تل لپاره له ټولو مخفي کړئ.

د نفاق علاج له دې پرته په بل څه ممکن نه دئ چې انسان په دې حقیقت د زړه له کومي باور وکړي چې معامله ئې له داسي علیم او خبیر رب سره ده چې د ده د زړه له اسرارو خبر دئ، نه ئې هغه کار ترې پټ پاته کېږي چې په پټه ئې تر سره کوي او نه ئې هغه عزائم چې په سینه کې ئې پټ ساتي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

التغابن

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (التغابن) دئ چې د سورې له نهم آیت اخیستل شوی، ۱۸ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (القدیر)؛ او د څلورم آیت (الصدور) ته ورته دي، دې ته باید متوجه وو چې د (المؤمنون) په څېر صیغې د غږ له پلوه (الصدور) ته ورته دي او د (الحکیم) په څېر صیغې د غږ له پلوه (القدیر) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په لومړیو کلونو کې نازل شوي.

د سورې په پیل کې ویل شوي: د آسمانونو او زمکې هر څه د الله تعالی په تسبیح بوخت دي، ټولواکي د ده ده، ستاینې له ده سره ښایي، په هر څه توانمن دئ، همغه ذات دئ چې تاسو ئې پیدا کړئ، الله تعالی د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ، آسمانونه او زمکه ئې په سمه توګه پیدا کړي، تاسو ته ئې صورت درکړی او ستاسو صورت ئې غوره او ښکلی ګرځولی، د ټولو ستنېدا د ده لوري ته ده، په هغه څه پوهېږي چې په آسمانونو او زمکې کې دي او په هغه څه هم پوهېږي چې تاسو ئې پټوئ او په هغه څه هم چې تاسو ئې څرګندوئ.

له پنځم آیت تر لسم پورې دا مطالب راغلي: آیا د مخکینیو کافرانو له حال او عاقبت خبر یئ، د کفر او انکار له کبله ئې هم په دنیا کې خپله سزا وځکله او هم د آخرت دردوونکی عذاب ورپه برخه شو. د دې سزا او عذاب سبب دا وو چې دوی ته پیغمبران له څرګندو نښو سره ورغلل او دوی وویل: آیا یو انسان زموږ لارښوونه کوي؟ دوی له خپل خالق انکار وکړ، پیغمبر ئې ونه منلو او بیاځوندن ئې محال وګڼلو.

ورپسې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې پر الله تعالی او پر پیغمبر ئې ایمان ولرئ، پر هغه نور (کتاب) ایمان ولرئ چې موږ نازل کړی، الله تعالی ستاسو د بیاځوندون او راغونډولو لپاره یوه ورځ ټاکلې، په دغې ورځ به تاسو حتماً راغونډ کړي، څوک چې پر الله ایمان راوړي او نېک عمل وکړي الله تعالی به د ده بدغوني ترې زائل کړي؛ او داسې جنتونو ته به ئې ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهېږي، په هغوی کې تر ابد تلپاتې، همدا ستره بریا ده؛ او هغه چې کفر ئې وکړ او د الله آیتونه ئې تکذیب کړل دوی دوزخیان دي، د دوزخ په اور کې به تلپاتې وي.

ورپسې مؤمنانو ته ويل شوي: له مصيبتونو وېره مه لرئ، هر مصيبت د الله تعالى په إذن او حكم رامنځته كېږي، پر الله توكل وكړئ، له ده پرته بل معبود نشته، د الله او د پيغمبر اطاعت وكړئ، پام كوئ چې ستاسو ځيني مېرمني او ځيني اولاد ستاسو دښمنان دي نو تري حذر وكړئ، داسي نه چې د مېرمنو او اولاد مينه مو د الله تعالى له لاري منحرف كړي، ستاسو اموال او اولاد فقط يوه آزموينه ده؛ او په پاى كې ورته ويل شوي: له الله هومره ووېرېږئ چې كولى شئ، دې ته چمتو اوسئ چې الهي ارشادات واورئ، د خپل رب د احكامو او لارښوونو اطاعت وكړئ، له هغه څه چې الله تعالى تاسو ته دركړي انفاق وكړئ، همدا سمع، اطاعت او د الله په لار كې انفاق ستاسو لپاره غوره دئ، څوك چې د خپل نفس له حرص او بخل وساتل شو همدا دوى بريالي دي،

كه د الله تعالى په لار كې كوم څه ولگوئ دا داسي ده لكه چې تاسو الله تعالى ته كوم حسنه پور وركړى وي، الله تعالى هغه په خپلې ذمې د پور په توگه نيسي، هغه به څو برابره درته زيات كړي.

د سورې په پاى كې د لومړيو آيتونو په څېر يو ځل بيا د الله تعالى په اړه داسي راغلي: الله تعالى شاكر دئ، حليم دئ، په پټ او څرگند پوه دئ، عزټمن دئ، حكيم دئ او په هري لارښووني كې ئې حكمت مضمر دئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ لَهُ ٱلۡمُلۡكُ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ فَمِنكُمۡ كَافِرٞ وَمِنكُم مُّؤۡمِنٞۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ٢ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ٣ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَيَعۡلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعۡلِنُونَۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٤

١- هغه څه چې په آسمانونو كې دي او هغه څه چې په زمكې كې دي د الله په تسبيح بوخت دي، ټولواكي د ده ده او ستاينه ده ته ده؛ او هغه پر هر څه توانمن دئ، ٢- دى هغه دئ چې تاسو ئې پيدا كړئ، چې ځيني مو كافر دي او ځيني مو مؤمن؛ او الله د هغه څه ښه ليدونكى دئ چې تاسو ئې كوئ، ٣- آسمانونه او زمكه ئې په حقه

پیدا کړي او تاسو ته ئې صورت درکړی او ستاسو صورت ئې غوره او ښکلی ګرځولی؛ او د ده لوري ته ستنېدا ده، ٤- په هغه څه پوهېږي چې په آسمانونو او زمکي کې دي او په هغه څه هم پوهېږي چې تاسو ئې پټوئ او په هغه څه هم چې تاسو ئې څرګندوئ؛ او الله د سینو په شته وو ښه پوه دئ.

(١-٤)- په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی په دې توګه معرفي شوی:

- د آسمانونو او زمکي هر څه د الله تعالی په تسبیح بوخت دي، د حال او قال په ژبه الله تعالی له هر عیب او نقص منزه ګڼي او د هغه په عبادت او اطاعت مشغول دي.
- ټولواکي د ده ده، د ټول عالم واکمني د ده په واک کې ده، دا عالم د ده ملك دئ او دی ئې ټولواك دئ.
- ستاینې له ده سره ښایي، نه یوازې له هر عیب او نقص منزه دئ بلکې د کمال په صفاتو متصف دئ.
- په هر څه توانمن دئ،
- همغه ذات دئ چې تاسو ئې پیدا کړئ، چې ځینې مو کافر دي او ځینې مو مؤمن، په داسې حال کې چې الله تعالی پیدا کړي یئ خو ستاسو ځینې له خپل خالق انکار کوي او ځینې پرې ایمان لري، دې ته مو باید پام وي چې الله تعالی نه څوك په ازل کې او په فطري توګه کافر پیدا کړی او نه ئې کفر ته اړ کوي، دا په خپله انسان دئ چې په خپله خوښه یا کافر کېږي او یا مؤمن کېږي. دا وضاحت د دې لپاره ضروري دئ چې متأسفانه ځینو د دوهم آیت دا فقره (هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ فَمِنكُمۡ كَافِرٞ وَمِنكُم مُّؤۡمِنٞۚ) داسې تعبیر کړې چې نه له دې آیت سره اړخ لګوي او نه د قرآن له ګڼ شمېر هغو آیتونو سره چې په ډېر صراحت او تأکید سره وایي: انسان د کفر یا ایمان لار په خپله خوښه غوره کوي، دا پرېکړه دی په خپله کوي چې د ایمان او کفر په دوه لاري کې کوم لوري ته ولاړ شي، الله تعالی دا اختیار ده ته ورکړی، په ځانګړې لاري ئې تګ ته نه اړباسي، د دوی تعبیر داسې دئ چې ګواکې الله تعالی کافر کافر پیدا کړی او مؤمن مؤمن، یو ئې د دوزخ لپاره او بل ئې د جنت لپاره!! دا تعبیر نه له قرآني لارښوونو سره تطابق لري او نه له عقل او عدل سره اړخ لګوي، دوی دا رأیه د هغو کمزورو روایاتو تر اغېز لاندې وړاندې کوي چې د قرآن له لسګونو آیتونو سره په جدي توګه تعارض لري، قرآن د کافر او مؤمن صیغه د هغو انسانانو لپاره کاروي چې له بلوغ وروسته ئې د کفر یا ایمان لار په داسې حال کې غوره کړې چې عقلمن وي، تر دې وړاندې هغه نه یوازې د دوزخ وړ نه ګڼي بلکې له لارښوونو ئې معلومېږي چې جنت ته به درومي که څه هم پلار او مور ئې کافران وي، که انسان د کفر یا ایمان په

غوره کولو کې مجبور وی نو الله تعالی به ولې په قرآن کې ویل: وَ قُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شاءَ فَلْيُؤْمِن وَ مَن شاءَ فَلْيَكْفُرْ: او ووایه: دا ستاسو د رب له لوري یو حقیقت دئ، نو څوك چې غواړي ایمان دي راوړي او د چا چې خوښه وي کافر دي شي، که انسان ته د انتخاب واك او اختیار نه وی ورکړی شوی نو الله تعالی به ولې پیغمبر او کتاب لېږلو؟!! د دې تفصیل د الکهف د سورې د ۲۹ آیت په تفسیر کې وګورئ.

- الله تعالی د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ، ستاسو د ټولو کړنو شاهد دئ، تاسو ویني چې په کومه لار درومئ، د کفر لار غوره کوئ که د ایمان.
- آسمانونه او زمکه ئې په سمه توګه پیدا کړي، نه بې ګټې او بېهوده شی په کې شته، نه اضافي او نه له ضرورت زیات یا کم، هر څه ئې سم پر حق او حقیقت مبتني پیدا کړي.
- تاسو ته ئې صورت درکړی او ستاسو صورت ئې غوره او ښکلی ګرځولی، داسې چې تاسو ته په دې عالم کې د اوسېدو امکان درکړي، ټول هغه استعدادونه ئې درکړي چې دلته د اوسېدو لپاره ورته اړ وئ،
- د ټولو ستنېدا د ده لوري ته ده، په پای کې د خپل رب په لوري درومئ،
- په هغه څه پوهېږي چې په آسمانونو او زمکې کې دي او په هغه څه هم پوهېږي چې تاسو ئې پټوئ او په هغه څه هم چې تاسو ئې څرګندوئ، د عالم هیڅ څه ترې پټ نه دي، علم ئې پر هر څه احتواء کړې،
- او الله د سینو په شته وو ښه پوه دئ، پوهېږي چې تاسو په خپلو سینو کې څه پټ کړي، عقائد او افکار مو څنګه دي، موخې او عزائم مو څنګه دي، په زړه کې مو د ایمان رڼا ده که د کفر تیاره.

أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبْلُ فَذَاقُواْ وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُۥ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَقَالُوٓاْ أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا فَكَفَرُواْ وَتَوَلَّواْ وَّٱسْتَغْنَى ٱللَّهُۚ وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ۝٦

۵- آیا د هغو خبر نه دئ درغلی چې تر دې وړاندې ئې کفر وکړ نو د خپل کار سزا ئې وڅکله؛ او دوی ته دردوونکی عذاب دئ، ٦- دا له دې کبله چې دوی ته د دوی پیغمبران له څرګندو نښو سره ورغلل او دوی وویل: آیا یو انسان زموږ لارښوونه کوي، نو کفر ئې وکړ او مخ ئې واړولو؛ او الله بې نیازي وکړه او الله ستایلی بې نیاز دئ.

(٥-٦)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

• آیا د مخکینیو کافرانو له حال او عاقبت خبر یئ، هغه چې تر دې وړاندې ئې د کفر او انکار لار اختیار کړه او د خپل کفر سزا ئې وځکله، پر دې دنیایي سزا سربېره به په آخرت کې دردوونکی عذاب ورپه برخه شي.

• د دې سزا او عذاب سبب دا وو چې دوی ته د دوی پیغمبران له څرګندو نښو سره ورغلل او دوی وویل: آیا یو انسان زموږ لارښوونه کوي؟ آیا الله تعالی زموږ د لارښوونې لپاره یو انسان د پیغمبر په توګه غوره کړی؟ ولې ئې کومه فرشته نه ده رالېږلې؟! د الله استازی خو باید له هره پلوه له عادي انسانانو توپیر درلودی او داسې وی چې هر څوک پوهېدی دا د الله رسول دئ!!

• نو کفر ئې وکړ او مخ ئې واړولو، له دې کبله ئې له ایمان راوړلو ډډه وکړه چې پیغمبر ئې د ځان په څېر یو انسان وموند!!

• الله تعالی له دوی بې نیازي وکړه، همغسې لکه چې دوی د الله له پیغام او پیغمبر بې نیازي وکړه، الله تعالی په همدې اکتفاء وکړه چې د انسانانو له منځ یو پیغمبر د دوی د لارښوونې لپاره ولېږي، دا د الله تعالی لویه پېرزوینه ده، په کار خو دا وه چې دوی د الله تعالی د دې ستري پېرزویني په وړاندې د شکر او مننې سر ټیټ کړی وی، خپل منعم رب ئې ستایلی، همغه رب چې ستایلی دئ او د دوی له عبادت او ایمان راوړلو بې نیاز، پر پیغمبر ایمان راوړلو او نه راوړلو سره نه الله تعالی ته کومه ګټه رسولی شي او نه کوم تاوان.

زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن لَّن يُبۡعَثُواْۚ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبۡعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلۡتُمۡۚ وَذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٧

هغو چې کفر ئې کړی داسې ئې انګېرلې چې هیڅ کله به نه راپاڅول کېږي، ووایه: داسې نه ده؛ پر خپل رب مي قسم چې حتماً به راپاڅول شئ بیا به حتماً پر هغه څه خبر کړی شئ چې تاسو کړي او دا الله ته آسان دئ.

---

(٧)- په دې مبارك آیت کې د آخرت په اړه د کافرانو غلطه انګېرنه داسې انځور شوې: هغو چې کفر ئې کړی داسې ئې انګېرلې چې هیڅ کله به بېرته راژوندي نه شي، دوی له خپل خالق انکار کوي، پیغمبر نه مني او بیاژوندن محال ګڼي، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې دوی ته ووایي: داسې نه ده لکه چې تاسو ګمان کوئ، پر خپل رب مي قسم چې حتماً به راپاڅول شئ، بیا به حتماً پر هغه څه خبر کړی شئ چې تاسو کړي، دا

کار الله تعالی ته ډېر آسان دئ، هغه رب ته ستاسو بیاراژوندي کول ډېر آسان کار دئ چې آسمانونه او زمکه او تاسو ئې پیدا کړي یئ.

دلته ویل شوي: پر خپل رب مي قسم چې حتماً به راپاڅول شئ، بیا به حتماً پر هغه څه خبر کړی شئ چې تاسو کړي، پوښتنه راولاړېږي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې لوړي به د قیامت او بیا ژوندون منکرین څنګه قانع کېږي، د ماضي په اړه د یو چا لوړه خو کېدی شي مخاطب څه ناڅه ومني خو د مستقبل په اړه لوړه خو یوازي د کومي ژمني او تعهد په ارتباط معتبر ګڼلی شي نه د داسي څه په اړه چې د قسم کوونکي په واک کې نه وي!! د قیامت په اړه به د رسول الله صلی الله علیه و سلم معاند مخاطبین څنګه دا ادعاء او لوړه معتبره وګڼي؟!! دې پوښتني ته د دقیق ځواب ویلو لپاره باید دا خبرې په پام کې ولرو:

په قرآن کې داسي لوړه دوه ځلي نور هم په دې توګه راغلې:

وَيَسْتَنۢبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَۖ قُلْ إِى وَرَبِّىٓ إِنَّهُۥ لَحَقٌّۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٥٣﴾ یونس

او دا خبره له تا پوښتي چې آیا دا حق دئ؟ ووایه: هو؛ زما په خپل رب قسم چې دا له شك پرته حق دئ؛ او تاسو عاجزوونکي نه یاست.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَأْتِينَا ٱلسَّاعَةُۖ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَـٰلِمِ ٱلْغَيْبِۖ ... ﴿٣﴾ سبإ

او هغو چې کفر ئې کړی وویل: دا د قیامت نېټه به هیڅکله پر موږ رانه شي، ووایه: نه؛ داسي نه ده؛ پر خپل هغه رب مي قسم چې پر غیب پوه دئ حتماً به درباندي راشي...

که لږ ځیر شو نو راته جوته کېږي چې په ټولو دغو دریو مواردو کې د قیامت او بیاژوندون په اړه د (رب) په نامه لوړه شوې، رب پیدا کوونکي او پالونکي ته وایي، د قرآن په ټولو دا راز قسمونو کې (مُقسم به) د ادعاء د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندي کېږي، دلته هم د الله تعالی د (ربوبیت) صفت د دې وینا لپاره د شاهد په توګه وړاندي شوی چې خلك به له خپلو قبرونو بیا راپاڅول کېږي، یعني هغه الله چې زه ئې پیدا کړی او روزلی یم او دې حد ته ئې رارسولی یم هغه به خود پر دې قادر وي چې ټول انسانان بیا راژوندي کړي؛ او دا هغه استدلال دئ چې په قرآن کې په مکرره توګه او بېلو بېلو الفاظو سره راغلی.

فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلنُّورِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلْنَاۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٨﴾

۸- نو پر الله او د ده پر پیغمبر او پر هغه نور ایمان راوړئ چې موږ نازل کړی؛ او

الله پر هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

(۸)- د دې مبارك آیت مهم مهم مطالب دا دي:

- پر الله تعالی ایمان راوړئ،
- د الله پر پیغمبر ایمان راوړئ،
- پر هغه نور (کتاب) ایمان راوړئ چې موږ نازل کړی، دا کتاب ستاسو لپاره رونړ مشعل دئ، سم تګلوری، ښه او بد، مضر او مفید او دوست او دښمن درښیي،
- باید په دې باور ولرئ چې الله تعالی پر هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ ٱلْجَمْعِ ۖ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلتَّغَابُنِ ۗ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعْمَلْ صَٰلِحًا يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٩﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٠﴾

۹- هغه ورځ چې تاسو به د راغونډېدو ورځې ته راغونډ کړي، همدا د تغابن ورځ (د ګټې یا تاوان ورځ) ده؛ او څوك چې پر الله ایمان راوړي او نېك عمل وکړي بدغوني به ئې ترې زائل کړي او داسې جنتونو ته به ئې ننباسي چې ترې لاندې ویالې بهېږي، په هغوی کې تر ابد تلپاته، همدا ستره بریا ده، ۱۰- او هغه چې کفر ئې وکړ او زما آیتونه ئې تکذیب کړل دوی د اور خاوندان دي، په هغه کې تلپاته؛ او د ورستنېدو څومره بد ځای.

(۹-۱۰)- د دې مبارکو آیتونو لاړښوونې دا دي:

- الله تعالی ستاسو د بیاژوندون او راغونډولو لپاره یوه ورځ ټاکلې، په دغې ورځ به تاسو حتماً راغونډ کړي،
- همدا د تغابن ورځ ده، تغابن یعني هغه غبن او دوکه چې څوك ئې د بل د غولولو، د کومې ګټې تر لاسه کولو او بل ته د ضرر رسولو په موخه کوي، د قیامت په ورځ او په الهي محکمې کې به هر چا ته جوته شي چې ګټه ئې کړې که تاوان، نو دا د حقیقي ګټې او تاوان ورځ ده،
- څوك چې پر الله ایمان راوړي او نېك عمل وکړي الله تعالی به د ده بدغوني ترې زائل کړي، د دوی بد بد خصلتونه، هغه بد عادات او اطوار چې تر ایمان وړاندې او د کفر په

حالت کې د دوی د عملي او اخلاقي شخصیت برخي وې؛ د ایمان غبرګي ته په راتلو سره به خپل خپل ځای ښایسته اخلاقو او نېکو کړنو ته پرېږدي، افکار، اطوار او اخلاق به ئې اصلاح شي، الله تعالی به د روزنې، تربیت او اصلاح دروازې د دوی پر مخ پرانیزي، د دوی بدغوني به ترې وپوښي، د سیئات معنی بدغوني ده، چې هم ئې پر ګناهونو اطلاق کېږي او هم پر بدو خصلتونو، د تکفیر معنی پوښل او پټول دي، نو د تکفیر سیئات معنی د بدو خصلتونو ازاله او له منځه وړل دي.

- الله تعالی به دوی داسي جنتونو ته ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهېږي، په هغوی کې تر ابد تلپاتې، همدا ستره بریا ده،
- او هغه چې کفر ئې وکړ او د الله آیتونه ئې تکذیب کړل دوی دوزخیان دي، د دوزخ په اور کې به تلپاتې وي، د ورستنېدو څومره بد ځای.

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ يَهۡدِ قَلۡبَهُۥۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ١١

هیڅ مصیبت نه واقع کېږي مګر د الله په اذن او اراده او څوک چې پر الله ایمان لري هغه ئې زړه هدایت کړي او الله په هر څه ښه پوه دئ.

---

(۱۱)- د دې مبارک آیت لاړښوونې دا دي:

- هر مصیبت؛ که وړ وي که ستر؛ که د انسان په ارتباط وي او که د عالم د کوم بل مخلوق په ارتباط؛ د الله تعالی په إذن او حکم رامنځته کېږي، قرآن دلته او د مصیبت اړوند نورو آیتونو په ترڅ کې موږ ته لاړښوونه کوي چې د هري پېښې وقوع او د هر مصیبت نزول د الله له سننو سره سم، د مخکې لیکل شوې پرېکړې مطابق او د الله تعالی په اراده او إذن رامنځته کېږي.
- دا آیت هم په ډېر تأکید او قاطعیت سره وایي چې هیڅ مصیبت په خپل سر او تصادفي نه راځي، د الله په حکم او إذن راځي، د ایمان خاوندان ئې په وجه او حقیقت پوهېږي او په دې اړه ئې الله زړونه روښانه کوي او له شك او اعتراض ئې خوندي ساتي.
- د قرآن ګڼ شمېر آیتونه په پرېکنده ډول وایي چې هیڅکله کوم داسي مصیبت نه دررسېږي چې الله تعالی له مخکې نه وي درته لیکلی، که دا مرګ ژوبله وي، په جګړې کې ماته وي، یا کوم بل مصیبت، مؤمنان به په خدای توکل کوي، د مصیبتونو په اړه به هیڅکله دا شك نه کوي چې دا په خپل سر او د الله تعالی له عادلانه پرېکړې پرته نازل

شوي.

- دې ته مو پام وي چې کله مصيبت د ګناه دنيايي سزا وي، له داسي مصيبت سره کله يو انسان د خپلې ګناه له کبله مخامخ کېږي او کله يوه ټولنه د اکثريت د ګناه له کبله، کله فردي بڼه لري او کله اجتماعي، کله يوه الهي آزموينه وي او په ترڅ کې ئې انسانان روزل کېږي او لوړو لوړو درجو ته د رسېدو لپاره جوګه کېږي. د دې تفصيل د الانبياء سورې د (۸۳-۸٤) آيتونو په تفسير کې وګورئ.

د التوبه د مبارکې سورې په يو پنځوسم آيت کې مسلمانانو ته په دې اړه داسي لارښوونه شوې:

قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَىٰنَا ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ التوبة

(ورته) ووايه: هيڅکله له هغه پرته څه نه رارسېږي چې الله راته ليکلي، هغه مو مولا دئ او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي.

- دا روايات د مصيبتونو په اړه د يوه مؤمن بنده باور داسي انځوروي:

عَنْ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم« عَجَبًا لأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذَاكَ لأَحَدٍ إِلاَّ لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ». مصنف ابن ابی شيبه

له صهيب رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د مؤمن شأن ته حيرانتيا ده، هر حال ئې غوره دئ؛ او دا له مؤمن پرته د هيچا نه په برخه کېږي، که سوکالي ورپه برخه شي شکر کوي او همدا د ده په خير دئ؛ او که کړاو ورورسېږي صبر کوي نو همدا د ده په خير وي.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم « لاَ يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ حَتَّى يَعْلَمَ أَنَّ مَا أَصَابَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَهُ وَأَنَّ مَا أَخْطَأَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَهُ ». الترمذی

له جابر رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: تر هغه يو بنده ايمان نه لري چې د خير او شر اړوند تقدير باندې ايمان رانه وړي، تر هغه چې پوه شي: هغه مصيبت چې ورورسېدلی داسي نه وو چې دی ترې خطا شي او هغه چې دی ترې خطا شوی داسي نه وو چې ده ته به رسېدلی وو.

د آيت په پای کې ويل شوي: الله په هر څه ښه پوه دئ، يعني الله تعالى پوهېږي چې

يو مصيبت كله راځي، ولې راځي، چېرې راځي او څوك پرې اخته كېږي؛ د خپل جامع او كامل علم له مخې تاسو ته لارښوونه كوي چې هر مصيبت د الله په إذن راځي نه په خپل سر.

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَۚ فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ١٢

او د الله اطاعت وكړئ او د پيغمبر اطاعت وكړئ؛ او كه مخ واړوئ نو زمونږ پر استازي له څرگند ابلاغ پرته بل څه نشته.

(١٢)- په دې مبارك آيت كې مونږ ته ويل شوي:

- د الله تعالى او د ده د رسول صلى الله عليه و سلم اطاعت وكړئ، مونږ ئې د ايمان تر څنگ په اطاعت مكلف كړي يو، ايمان د مؤمن په ژوند كې د صالح عمل په توگه راڅرگندېږي، صالح عمل هغه عمل دئ چې الله تعالى او د هغه پيغمبر مونږ ته راښودلى او مونږ ئې پرې مكلف كړي يو.
- كه د الله او د هغه د پيغمبر له اطاعت مخ واړوئ نو پيغمبر له دې پرته په بل څه نه دئ مأمور شوى چې د خپل رب پيغام په څرگنده تو گه خلكو ته ورسوي، دې ته مو بايد پام وي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د تبليغ تر څنگ جهاد كړى، د دښمن په خلاف ئې وسله كارولې، نو د دې آيت معنى دا نه ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له تبليغ پرته بل مأموريت او مكلفيت نه درلود، معنى ئې دا ده چې دلته د مخاطب په اړه د ده مكلفيت په گوته شوى، مكلفيت ئې په دې كې خلاصه كېږي چې د خپل رب پيغام دوى ته په بشپړه توگه او امانت سره ورسوي، هغوى مجبورولى نه شي، له ده دا پوښتنه نه كېږي چې دوى ولې ايمان رانه وړ، متأسفانه ځينې دا آيت هم په ناسمه توگه تعبيروي او په ناسمه توگه ئې كاروي، داسې انگېرې يا داسې ښيي چې پيغمبر صلى الله عليه و سلم او مؤمنان يوازې په تبليغ مكلف دي، كله چې د كومې وينا فرصت تر لاسه كړي نو په پاى كې ئې وايي: و ما علينا الا البلاغ، حال دا چې د بلاغ تر څنگ گڼ شمېر نور مسئوليتونه لرو، تر بلاغ يو گام وړاندي مونږ په امر بالمعروف او نهي عن المنكر مكلف يو، د الله په لار كې په خپل مال او نفس سره جهاد باندې مكلف يو.

دې ته مو هم پام وي چې دا آيت له مخكيني او وروستني سره خاص ارتباط لري او په گډه يو مضمون جوړوي، ارتباط ئې داسې دئ چې مصيبتونه د الله په إذن راځي، كه الله تعالى ونه غواړي هيڅوك كه هر څومره ځواكمن وي تاسو ته كوم تاوان نه شي دررسولى، له ځواكمنو دښمنانو مه وېرېږئ، داسې نه چې د دوى له زور ځواك او د دوى

په لاس له ځورونو وېره تاسو د ایمان له لارې منحرف کړي او د الله او د ده د رسول اطاعت پرېږدئ.

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١٣

۱۳- الله هغه دئ چې له ده پرته بل معبود نشته؛ او مؤمنان باید پر الله توکل وکړي.

(۱۳)- دلته مؤمنانو ته ویل شوي: له الله تعالی پرته بل معبود نشته، مؤمنان باید پر الله تعالی توکل وکړي. دا آیت او مخکیني ښیي چې د یوه مؤمن مبلغ لپاره څو خبرې ضروري دي:

- باید تبلیغ ئې څرګند وي، حقائق په څرګندو الفاظو خلکو ته ورسوي، حق او باطل سره خلط نه کړي، مجامله ونه کړي، له مداهنت او مجامله ګري ډډه وکړي،
- له مصیبتونو وېره ونه لري، په دې باور وي چې د الله تعالی له اجازې او إذن پرته له کوم مصیبت سره نه مخامخ کېږي، نو له الله تعالی پرته له بل چا وېره ونه لري،
- پر الله تعالی توکل وکړي، ځان خپل رب ته وسپاري، هغه ځان ته کافي وګڼي،
- څوك چې دا درې صفات ونه لري نه شي کولی د الله د دین بریالی او موفق مبلغ شي.
- دا مطلب د التوبه په سوره کې په دې توګه راغلی:

إِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَلَمۡ يَخۡشَ إِلَّا ٱللَّهَۖ فَعَسَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ١٨ التوبه

یقیناً چې د الله جوماتونه یوازې هغه څوك آبادولی شي چې پر الله او د آخرت پر ورځې ئې ایمان راوړی، لمونځ ئې کړی، زکات ئې ورکړی او له الله پرته (له هیڅوا) نه دئ وېرېدلی، نو ښایي چې همدا خلك به د هدایت شوو له ډلې وي.

په دې مبارك آیت کې د هغو کسانو مواصفات بیان شوي چې په مادي او معنوي لحاظ د جوماتونو د آبادولو وړتیا لري:

- پر الله تعالی ئې ایمان راوړی،
- د آخرت پر ورځې باور لري،
- لمونځ ئې کړی،
- زکات ئې ورکړی او
- له الله تعالی پرته له بل چا نه دئ وېرېدلی.

په چا کې چې دا پنځه صفات نه وي هغه د الله تعالى د جوماتونو رښتينى خدمتګار نه شي کېدى، هو؛ هغه څوك به څنګه له جومات د حق سنګر جوړ کړي او له منبر به د حق ږغ لوړ کړي چې ډارن دئ او له الله تعالى پرته له بل چا وېرېږي؟! له بل چا د رزق او روزي طمع لري، له بل چا په خپل رزق او روزي وېره لري، د بل جيب ته ئې سترګي وي؟ څوك چې په خپله پر خداى او آخرت رښتينى ايمان نه لري بل به څنګه رښتيني ايمان ته هدايت کړي؟! د چا چې خپل لمونځ رښتينى لمونځ نه وي څنګه به په لمانځه کې د بل سم امامت کوي؟! څوك چې د مال قربانولو ته چمتو نه وي بل به څنګه د خپل سر او مال قربانولو ته چمتو کړي، ډارن او جبون انسان نه په مسجد کې د خلکو سم امامت کولى شي، نه په سنګر کې او نه په نورو ديني چارو کې د مسلمانانو سمه لارښوونه.

يعني له معنوي پلوه د جوماتونو او مساجدو د اعمارکار هغه خلك کولى شي چې صفات ئې په دې آيت کې ښودل شوي، د جوماتونو ظاهري آبادي او اعمار بېل کار دئ او د هدايت له پلوه ئې رغول او اعمار بېل. لکه چې په يوه روايت کې راغلي چې په آخره زمانه کې به جوماتونه په ظاهر کې ښه آباد، مزين او ښايسته وي خو د هدايت له پلوه به خراب او وران وي.

جوماتونه د هدايت له ناحيې هغه څوك آبادولى شي او هغه داعي د الله د دين خدمت کولى شي چې د مخکينيو صفاتو تر څنګ؛ دا صفت هم ولري چې له الله جل شأنه پرته له بل چا ونه وېرېږي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ وَأَوۡلَٰدِكُمۡ عَدُوّٗا لَّكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُمۡۚ وَإِن تَعۡفُواْ وَتَصۡفَحُواْ وَتَغۡفِرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٤ إِنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ١٥

١٤- اې هغو چې ايمان ئې راوړى! يقيناً چې ستاسو له مېرمنو او ستاسو له اولاد ځينې ستاسو دښمنان دي نو ترې حذر وکړئ؛ او که عفو وکړئ، مخ واړوئ او بخښنه وکړئ نو يقيناً چې الله مهربان بخښونکى دئ، ١٥- يقيناً چې ستاسو اموال او ستاسو اولاد فقط يوه آزموينه ده؛ او الله داسي دئ چې د هغه په نزد کې ستر اجر دئ.

(١٤-١٥)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- مؤمنانو ته ويل شوي: يقيناً چې ستاسو ځيني مېرمني او ځيني اولاد ستاسو دښمنان دي نو ترې حذر وکړئ، داسي نه چې د مېرمنو او اولاد مينه مو د الله تعالى له لارې

منحرف کړي، هغه خپلوان چې تاسو د حق له لارې کړوي، حرامو ته مو هڅوي، د الله په لار کې له جهاد مو منع کوي، ستاسو عزم او اراده سستوي، هغوی ته د دښمن په سترګه وګوري، مه پرېږدئ چې دوی مو له الله لرې او له دین منحرف کړي،

- خو که د دوی په وړاندې د عفوي، اغماض او بخښنې لار غوره کړئ نو یقیناً چې الله مهربان بخښونکی دئ، لکه څنګه چې ستاسو رب مهربان بخښونکی دئ تاسو هم د مهربانۍ او بخښنې لار غوره کړئ، همدا صفات په ځان کې راپیدا کړئ، الله تعالی تاسو له خپلوانو سره دښمنۍ ته نه هڅوي، د دوی له دښمنۍ مو ځان ساتنې ته بلي، له هغوی سره د عفوي، اغماض او بخښنې تګلاره غوره کولی شئ خو پام کوئ چې هغوی مو بې لارې نه کړي.
- یقیناً چې ستاسو اموال او اولاد فقط یوه آزموینه ده، کله به مال ستاسو په وړاندې د یوې آزموینې په توګه راڅرګند شي، هغه به تا د ځان لوري ته راکاږي، د مال په راټولولو، زیاتولو او ذخیره کولو به دې مشغولوي، د الله په لار کې له انفاق به دې منع کوي، له حرامو لارو د مال تر لاسه کولو ته به دې هڅوي؛ او کله به د اولاد مینه تا د الله په لار کې له جهاد، انفاق او قربانۍ راټموي، هڅه وکړه چې په دې آزموینو کې بریالی شې، الله تعالی او د هغه لارښود دین تا د مال له تر لاسه کولو او له اولاد سره له مینې نه یوازې نه منع کوي بلکې دواړو ته دې هڅوي، خو په خپل حد کې؛ او دومره چې ستا ایمان ته صدمه ونه رسوي، له سمې لارې دې کوږ نه کړي او حرامو ته دې ونه هڅوي.
- له الله تعالی سره ستر اجر دئ، د دې اجر تر لاسه کولو لټه وکړه، مال ته د وسیلې په سترګه ګوره او اولاد ته د داسې همسفر په سترګه چې له تا سره یو ځای د الله په لوري درومي، اصلي موخه دې باید الهي ستر اجر تر لاسه کول وي.

فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ وَأَنفِقُواْ خَيۡرٗا لِّأَنفُسِكُمۡۗ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٦ إِن تُقۡرِضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضٗا حَسَنٗا يُضَٰعِفۡهُ لَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ١٧ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١٨

۱۶- نو له الله هومره ووېرېږئ چې کولی شئ، واورئ، اطاعت وکړئ او انفاق وکړئ چې همدا ستاسو لپاره غوره دئ؛ او څوک چې د خپل نفس له حرص او بخل وساتل شو همدا دوی بریالي دي، ۱۷- که الله ته کوم غوره پور په پور ورکړئ تاسو ته به ئې

څو برابره زيات کړي او بخښنه به درته وکړي؛ او الله د زغم خاوند مننونکی دئ، ١٨- په پټ او څرګند پوه باحکمت عزتمن دئ.

(١٦-١٨)- په دې مبارکو آيتونو کې مؤمنانو ته څو مهمې لارښوونې شوې:

- له الله هومره ووېرېږئ چې کولی شئ، د خپل وس په اندازه، هومره چې له الله تعالی سره ښايي او هومره چې له يوه واقعي بنده سره ښايي، الله تعالی تاسو په داسې څه نه يئ ګمارلې چې ستاسو تر وس او توان لوړ وي،
- دې ته چمتو اوسئ چې الهي ارشادات واورئ،
- د خپل رب د احکامو او لارښوونو اطاعت وکړئ،
- له هغه څه چې الله تعالی تاسو ته درکړي انفاق وکړئ،
- همدا سمع، اطاعت او د الله په لار کې انفاق ستاسو لپاره غوره دئ،
- څوک چې د خپل نفس له حرص او بخل وساتل شو همدا دوی بريالي دي،
- که د الله تعالی په لار کې کوم څه ولګوئ دا داسې ده لکه چې تاسو الله تعالی ته کوم حسنه پور ورکړی وي، الله تعالی هغه په خپلې ذمې د پور په توګه نيسي، هغه به څو برابره درته زيات کړي، پر دې سربېره به همدا انفاق د دې باعث شي چې الله تعالی ستاسو ګناهونه درته وبخښي،
- دې ته متوجه اوسئ چې ستاسو معامله له هغه رب سره ده چې شاکر دئ، د خپلو بندګانو د قربانيو قدر کوي او څو برابره بدله ورکوي، حليم دئ، د زغم خاوند دئ، له خپل بنده سره د زغم له مخې معامله کوي، په پټ او څرګند پوه دئ، ستاسو هيڅ څه ترې پټ نه دي، برلاسی او عزتمن دئ، په هر څه کې ستاسو لپاره کافي دئ، حکيم دئ او په هرې لارښوونې کې ئې حکمت مضمر دئ.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الطلاق

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الطلاق) دئ چې د سورې له لومړي آيت اخيستل شوی، دا نوم د سورې د مضامينو لپاره ښکلی عنوان هم دئ، ١٢ آيتونه لري، د ټولو آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (امراً) ته ورته دي، شپږم آيت ئې په (اخرىٰ) پای ته رسېدلی چې د غږ له

پلوه له نورو سره په هغه صورت کې ورته کېږي چې له تنوين پرته ولوستل شي او د هر آيت په پای کې توقف وشي، يعني (امراً) د (امرا) په څېر تلفظ شي. د آيتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په وروستيو کلونو کې نازل شوي. د سورې له متن معلومېږي چې د البقره او النساء له سورتونو وروسته نازله شوې.

د سورې په پيل کې راغلي: کله چې خپلو مېرمنو ته طلاق ورکوئ نو دا طلاق بايد د دوی عدت ته په پام سره وي، يعني د حيض په حالت کې طلاق مه ورکوئ، په هغه طهر کې هم طلاق مه ورکوئ چې په هغه کې مو نژدېکت ورسره کړی، له حيض وروسته او له نژدېکت وړاندي طلاق ورکړئ، بيا ويل شوي: د طلاق اړوند احکام هغه الهي پولې دي چې حلال او حرام سره بېلوي، تاسو مکلف يئ له دې پولو وانه وړئ، څوک چې له الهي پولو تېری وکړي نو يقيناً چې پر خپل ځان ئې ظلم کړی او ځان ته ئې تاوان رسولی.

بيا مؤمنانو ته دا لارښوونه شوې چې کله طلاق شوې مېرمني د خپل عدت پای ته نژدې شي نو يا ئې په غوره توګه ايساري کړئ، يا ئې په غوره توګه رخصتي کړئ؛ او پر دغه کار دوه عادل مسلمانان شاهدان ونيسئ، هم د رجوع په ارتباط شاهدان ونيسئ او هم د طلاق په ارتباط، دا يوه الهي سپارښتنه او سنت دئ، په نه کولو سره ئې يوه الهي لارښوونه او سنت ترک کېږي، که څه هم رجوع او طلاق ئې له شاهد پرته هم جائز دي.

بيا د عدت احکام راغلي، پيل ئې په دې سره شوی: ستاسي هغه مېرمني چې له حيض ناهيلې شوې دي که شکمن شوئ نو عدت ئې درې مياشتي دئ؛ او د هغو هم درې مياشتي دئ چې حيض نه کوي.

بيا ويل شوي: طلاق شوې مېرمني د خپل عدت تر بشپړېدو پوري په هغه ځای کې واوسوئ چې تاسو په خپله په کې اوسئ، له خپل توان سره سم، يعني د دوی اسکان او اطعام بايد ستاسو له وس سره متناسب وي،

ورپسې د مسلمانانو پام هغو تاريخي پېښو ته اړول شوی چې ځينو د الله تعالی او د هغه د پيغمبر له لارښوونو سرغړاوی کړی او له کبله ئې له شديد الهي عذاب سره مخامخ شوي، وايي: وګورئ چې له تاسو وړاندي څومره داسي کلي او کليوال تېر شوي چې د الله تعالی او د ده د پيغمبرانو له امر ئې سرغړاوی وکړ چې له کبله ئې الله تعالی سخته محاسبه ورسره وکړه او په ناوړه عذاب ئې اخته کړل!! دوی د خپلو کړنو سزا او وبال وځکلو او د کار پايله ئې تاوان وو!

د سورې په پای کې دا لارښوونه مومو: الله همغه ذات دئ چې اُوه آسمانونه ئې پيدا کړل او له زمکې هم د هغوی په څېر اُوه زمکې، د دوی تر منځ د الله تعالی اوامر او احکام

ساري او جاري دي، د دې لپاره چې په دې پوه شئ چې يقيناً الله پر هر څه توانمن دئ او دا چې الله پر هر څه علماً احاطه کړې.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحۡصُواْ ٱلۡعِدَّةَۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ رَبَّكُمۡۖ لَا تُخۡرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخۡرُجۡنَ إِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖۚ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَقَدۡ ظَلَمَ نَفۡسَهُۥۚ لَا تَدۡرِي لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحۡدِثُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ أَمۡرٗا ١

١- اې نبي! کله چې ښځو ته طلاق ورکوئ نو د دوی عدت ته په پام سره هغوی طلاقې کړئ او دا عدت وشمېرئ؛ او له خپل رب الله ووېرېږئ، مه ئې تاسو د دوی له اړوند خونو باسئ او نه دي دوی وځي مګر دا چې د فحش کوم څرګند کار تر سره کړي؛ او همدا الهي پولي دي؛ او څوک چې له الهي پولو تېرى وکړي نو يقيناً چې پر خپل ځان ئې ظلم کړى، ته نه پوهېږې؛ ښايي الله به له دې وروسته کوم نوى حالت رامنځته کړي.

---

(١)- په دې مبارك آيت کې د طلاق په اړه څو مهمي لارښوونې شوې:

- کله چې خپلو مېرمنو ته طلاق ورکوئ نو دا طلاق بايد د دوی عدت ته په پام سره وي، يعني د حيض په حالت کې طلاق مه ورکوئ، په هغه طهر کې هم طلاق مه ورکوئ چې په هغه کې مو نژدېکت ورسره کړى، له حيض وروسته او له نژدېکت وړاندې طلاق ورکړئ، په دې کې دوه مصلحتونه په پام کې نيول شوي: په طلاق کې له تلوار مخنيوى کېږي، خاوند ته دا فرصت ورکوي چې په سړه سينه او هغه مهال د طلاق پرېکړه وکړي چې مېرمن ئې له حيض وتلې، جنسي تمايل ئې نژدېکت ته هڅوي خو دى له مېرمني سره خپلو ستونزو ته په پام سره د طلاق اراده لري، که دا مهال بيا هم هغه غواړي د طلاق پرېکړه عملي کړي نو د دې معنى به دا وي چې يقيناً هغه له خپلې مېرمني سره ګډ ژوند نه شي کولى. له بلې خوا به د مطلقه مېرمني عدت بشپړ درې حيضه شي.

ښه به وي چې د طلاق په اړه د قرآن هغه لارښوونې هم دلته ذکر کړو چې په نورو سورتونو کې راغلي؛ د البقره سورې په لاندې آيتونو کې داسې راغلي:

وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍ ۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِىٓ أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِى ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوٓا۟ إِصْلَٰحًا ۚ وَلَهُنَّ مِثْلُ ٱلَّذِى عَلَيْهِنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٨﴾ البقرة

طلاقي شوې ښځي دي د ځان په اړه تر درې واري حيضه انتظار وکړي او د هغه څه پټول ورته روا نه دي چې الله تعالى د دوى په رحم کې پيدا کړى، که پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لري، په دې (موده) کې د دوى مېړونه تر هر چا زيات د دې وړ او مستحق دي چې دوى بېرته راوګرځوي. (په دې شرط چې) د روغې جوړې اراده ولري.

طلاقي شوې ښځي به تر درې واري حيض انتظار کوي، د دې لپاره چې دا خبره په يقيني توګه څرګنده شي چې په رحم کې څه لري که نه؛ د انتظار په دې مودې کې د هغې مخکينى خاوند تر بل هر چا د دې مستحق او وړ دئ چې ورسره روغه جوړه او هغې ته رجوع وکړي، خو په دې شرط چې دواړه د جوړ جاړي او اصلاح اراده ولري او يو د بل د حقوقو مراعات وکړي، يعني مېړه ته دا حق ورکړى شوى چې د عدت تر بشپړېدو وړاندي رجوع وکړي، په دې مودې کې مطلقه مېرمن د نکاح په قيد کې پاته ده.

ٱلطَّلَٰقُ مَرَّتَانِ ۖ فَإِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌۢ بِإِحْسَٰنٍ ۗ ... ﴿٢٢٩﴾ البقرة

طلاق دوه ځلي وي؛ نور ئې يا په ښه توګه ساتل دي او يا ئې په ښايسته توګه پرېښودل...

فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُۥ مِنۢ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُۥ ۗ فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ أَن يَتَرَاجَعَآ إِن ظَنَّآ أَن يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ ۗ ... ﴿٢٣٠﴾ البقرة

نو که ئې (درېيم ځل) طلاق ورکړ؛ بيا نو تر هغه دا مېرمن ورته روا نه ده چې له ده پرته له بل مېړه سره نکاح وکړي، نو که هغه طلاقه کړه يا مړ شو، بيا په دوى دواړو څه ګناه نشته چې يو بل ته رجوع وکړي؛ که ئې دا ګمان کولو چې الهي حدود پاللى شي.

وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَٰجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ۖ ... ﴿٢٣٤﴾ البقرة

او له تاسو چې څوك مري او مېرمني (تر شا) پرېږدي؛ دا مېرمني دي تر لس باندي څلورو مياشتو د ځان په اړه انتظار وکړي...

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَكَحْتُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَاۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٤٩﴾ الاحزاب

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! کله چې مؤمني مېرمني په نکاح کړئ بیا وړاندې تر دې چې نژدېکت ورسره وکړئ طلاق ورکړئ نو تاسو پر دوی د عدت داسې کوم حق نه لرئ چې شمېرل به ئې کوئ، نو څه متاع ورکړئ او په ښه توګه خوشې کولو سره ئې خوشې کړئ.

په دغو مبارکو آیتونو کې د طلاق په اړه دا لارښوونې شوې:

- یو مېړه خپلې مېرمني ته یوازې درې ځلې طلاق ورکولی شي.
- د یو ځل او دوه ځله طلاق په صورت کې مېړه ته دا حق ورکړی شوی چې د عدت په منځ کې له نکاح پرته خپلې مېرمني ته رجوع وکړي، خو د عدت له تېرېدو وروسته یوازې د مجددې نکاح په صورت کې رجوع کولی شي، د درېیم طلاق په صورت کې د دوی تر منځ تر هغه بیا نکاح نه شي کېدی چې دا مطلقه مېرمن له کوم بل چا سره نکاح وکړي او هغه نکاح په طلاق منتج شي، خو دا نکاح او طلاق به د کومې حیلې په توګه نه وي.
- هغه مطلقه ښځه چې له مېړه سره ئې نژدېکت شوی وي عدت ئې درې حیضه دئ، مېړه کولی شي د یوه او دوه حیض وروسته له خپل طلاق رجوع وکړي او له نکاح پرته له مېرمني سره نژدېکت وکړي، خو د درېیم حیض له تېرېدو وروسته د مجددې نکاح په صورت کې نژدېکت کولی شي، خو که ئې درې طلاقه ورکړي وي نو دا درې حیضه د رجوع لپاره نه دي بلکې د دې لپاره دي چې په دې مودې کې له بل چا سره نکاح نه شي کولی.
- د هغې مېرمني لپاره کوم عدت نشته چې خاوند ئې تر نژدېکت وړاندې هغې ته طلاق ورکړی وي.
- هغه مېرمن چې خاوند ئې ومري عدت ئې څلور میاشتې او لس ورځې دئ.
- د الطلاق په سورې کې مؤمنانو ته د طلاق او عدت اړوند قضایاوو په ارتباط مزید لارښوونې شوې؛ داسې چې دا کار په سړه سینه او له غور او دقت وروسته او داسې مهال وکړي چې طلاق ورکوونکي ته د سمې پرېکړې مجال برابر شوی وي، دا ځکه چې طلاق د یوه ضرورت له مخې جائز کړی شوی، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: الله تعالی هیڅ داسې شی نه دئ حلال کړی چې تر طلاق زیات ورته منفور وي:

مَا أَحَلَّ اللهُ شَيْئًا أَبْغَضَ إِلَيْهِ مِنَ الطَّلاَقِ، رواه ابو داؤد،

همد راز فرمایي: د الله تعالی په نزد کې تر ټولو کرکجن حلال طلاق دئ:

أَبْغَضُ الْحَلاَلِ إِلَى اللهِ تَعَالَى الطَّلاَقُ. رواه ابو داؤد.

• مؤمنانو ته ویل شوي چې د طلاق په کار کې له الله تعالی ووېرېږئ، یعني الهي لارښوونې په دقت او احتیاط سره مراعات کړئ، د هوی او هوس په غوښتنه نه بلکې هغه مهال دا کار وکړئ چې بله چاره نه وي او ستاسو ټولو تدبیرونو ستونزه نه وي حل کړې.

• د عدت په مودې کې مطلقه میرمني له خپلو مخکینیو استوګنځیو مه باسئ، دوی دي هم په خپله د وتلو تکل نه کوي، مګر دا چې د فحش کوم څرګند کار تر سره کړي، وتل ئې د رجوع، روغې جوړې، پخلا کېدو او بیا نکاح مجال له منځه وړي.

• د طلاق اړوند احکام هغه الهي پولې دي چې حلال او حرام سره ښلوي، تاسو مکلف یئ له دې پولو وانه وړئ، څوک چې له الهي پولو تېرې وکړي نو یقیناً چې پر خپل ځان ئې ظلم کړی،

• تاسو نه پوهېږئ، د خپلو پرېکړو له پایلو خبر نه یئ، نه پوهېږئ چې په طلاق کې تلوار، د احساساتو او جذباتو له مخې پرېکړه، له حکمت او تدبر کار نه اخیستل بدي پایلې لري، ښایي الله تعالی به له دې وروسته کوم نوی حالت رامنځته کړي، ستاسو خپل منځې ستونزه به حل شي، د بې اعتمادي فضاء به ختمه شي، دې ته به متوجه شئ چې تر طلاق ګډ ژوند درته غوره دئ.

فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِّنكُمْ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ ذَٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِ مَن كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ﴿٢﴾ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ﴿٣﴾

۲- نو کله چې خپلو ښځو ته ورسېدلې نو یا ئې په غوره توګه ایساري کړئ او یا ئې په غوره توګه بېلې کړئ؛ او له خپل منځه دوه د عدل خاوندان شاهد ونیسئ؛ او شهادت د الله لپاره اداء کړئ، دا هغه څه دي چې په هغه سره هغه چا ته نصیحت کېږي چې پر الله او د آخرت پر ورځې ایمان لري؛ او څوک چې له الله وېرېږي؛ د نجات لار به ورته پرانیزي، ۳- او له داسې لاري به رزق او روزي ورکړي چې ګمان ئې هم نه کوي؛ او څوک چې پر الله توکل وکړي نو هغه ورته کافي دئ، یقیناً چې الله خپل کار ته رسېدونکی دئ، بې شکه چې الله د هر کار لپاره حد او نښه ټاکلې ده.

(۲-۳)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

• کله چې طلاق شوې میرمني د خپل عدت پای ته نژدې شي نو یا ئې په غوره توګه ایساري کړئ، په رجوع سره د طلاق تر سره کېدو مخنیوی وکړئ؛ او یا ئې په غوره توګه بېلي کړئ.

د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما له لوري خپلې میرمني ته د طلاق ورکولو قصه د دې حکم ښه وضاحت کوي: هغه خپلې میرمني ته د حیض په حالت کې طلاق ورکړ، عمر رضی الله عنه موضوع رسول الله صلی الله علیه و سلم ته یاده کړه، رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې خبري ناراض شو او وئې فرمایل: هغه ته ووایه چې خپلې میرمني ته رجوع وکړي، بیا کله چې ئې حیض راشي او ترې فارغه شي او بیا ئې حیض راشي او ترې ووځي که غواړي نو د دغه طهر په حالت کې او له رجوع وړاندې دي طلاق ورکړي.

همدا راز په بل روایت کې راغلي چې یوه سړي خپلې میرمني ته په یوه وخت درې ځلي طلاق ورکړ، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته اطلاع ورسېده، سخت غصه شو، دومره چې ودرېدو او وئې ویل: آیا د الله له کتاب سره په داسي حال کې لوبې کوي چې زه لا ستاسو په منځ کې یم؟!! رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي طلاق چې په یوه وخت کې درې ځلي وي د الله تعالی د لارښوونو خلاف عمل ګڼلی، هغه ته ئې د ګناه په سترګه کتلي، خو طلاق ئې معتبر ګڼلی، هغه چا ته ئې چې دا کار ئې کړی فرمایلي: طلاق واقع شو خو تا د الله د کتاب مخالفت کړی.

• دغو الهي لارښوونو او معتبرو روایاتو ته په پام سره ټول ائمه او فقهاء پر دې متفق دي چې که څه هم په یوه وخت درې ځلي طلاق ورکول د قرآن او سنت خلاف عمل دئ خو طلاق واقع کېږي.

• د آیت د دې فقرې (وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا: او څوك چې له الله وېرېږي، د نجات لار به ورته پرانیزي) په اړه مفسرینو ویلي چې له مخرج مراد دا دئ چې که ئې د پورتنیو لارښوونو مطابق عمل وکړ نو الله تعالی به له رامنځته کېدونکو ستونزو د وتلو لار ورته پرانیزي که نه نو ترې محروم به شي، یعني که ئې درې ځلي یو ځایي طلاق ورکړ او په دې سره ئې د الهي لارښوونو التزام ونه کړ نو دا مخرج ئې په خپل لاس له منځه وړی.

• پر دغه کار دوه عادل مسلمانان شاهدان ونیسئ، هم د رجوع په ارتباط شاهدان ونیسئ او هم د طلاق په ارتباط، دا سنت دئ، په نه کولو سره ئې یو سنت ترك کېږي، که څه هم رجوع او طلاق ئې له شاهد پرته هم جائز دي. دا لارښوونه یوازي د دې لپاره ده چې که وروسته کومه نزاع رامنځته شي نو د شاهدانو حضور به د نزاع په حل کې مرسته

وکړي. دا کټ مټ داسي ده لکه په پېر پلور کې چې د شاهدانو نیولو سپارښتنه شوې.

- شهادت د الله لپاره له کوم تحریف او غرض پرته په صادقانه توګه اداء کړئ.
- دا هغه لارښوونې دي چې الله تعالی هغو مؤمنانو ته پرې نصیحت کوي چې پر الله او د آخرت پر ورځي ایمان لري.
- څوک چې له الله تعالی وېرېږي او د تقوی لار غوره کوي نو الله تعالی به هغه ته له ستونزو او کړاوونو د وتلو لار پرانیزي او له هغې لاري به رزق او روزي ورکړي چې ګمان ئې هم نه کوي، په خیال کې ئې نه ګرځي او تصور ئې هم نه شي کولی.
- څوک چې پر الله تعالی توکل وکړي نو هغه ورته کافي دئ.
- الله تعالی خپل کار ته رسېدونکی دئ، خپلې پرېکړې حتماً عملي کوي او خپل وعد او وعید هرومرو تر سره کوي، څه چې وغواړي تر سره کوي ئې.
- بې شکه چې الله تعالی د هر کار لپاره حد او نښته ټاکلې ده، هر کار پر خپل ټاکلي وخت تر سره کېږي. د هر څه د پیدایښت لپاره، د پای لپاره ئې او د مقدار لپاره ئې یو حد ټاکلی.

دغو لارښوونو ته په پام سره احناف طلاق درې ډوله ګڼي: اَحْسَن، حَسَن او بِدُعي، احسن هغه طلاق دئ چې په داسي طهر کې یوازي یو طلاق ورکړی شي چې په هغه کې مجامعت نه وي شوی او پر همدې اکتفاء وشي، عدت بشپړ او طلاق واقع شي، حسن دا دئ چې په هر طهر کې یو یو طلاق ورکړی شي؛ او د بدعت طلاق دا دئ چې سړی په یوه وخت کې درې طلاقه ورکړي، یا په طهر کې په ېېل ېېل وخت کې درې طلاقه ورکړي، یا په داسي طهر کې طلاق ورکړي چې په هغه کې ئې مجامعت کړی وي، البته دا د هغو مېرمنو په اړه دئ چې مدخوله وي غیر مدخوله ته د طهر او حیض په حالت کې طلاق جائز دئ، هغې مدخوله مېرمني ته هم له مباشرت وروسته طلاق ورکول جائز دي چې حیض ئې نه وي، ځکه د هغې د حامله کېدو امکان نه وي؛ او که حامله وي هم داسي طلاق جائز دئ.

ځینې په دې عقیده دي چې په یوه وخت درې طلاقه یو طلاق ګڼل کېږي، ابن تیمیه دغه رأیه لري، هغه د ابو الصهباء په هغه روایت استناد کوي چې وایي: له عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ئې پوښتنه وکړه چې آیا تا ته معلومه نه ده چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ او د ابو بکر او عمر رضی الله عنهما په ابتدائي دور کې درې یو ځایي طلاقونه یو طلاق ګڼل کېدو؟ هغه ځواب ورکړ: هو؛ (دا روایت په بخاري او مسلم کې راغلی)، همدا راز په مسلم، ابو داؤد او مسند احمد کې عبدالله بن عباس ته منسوب دا روایت هم راغلی چې: د رسول الله صلی الله علیه و سلم، ابو بکر رضی الله عنه او د عمر

رضی الله عنه خلافت په ابتدائي دوو کلونو کې درې یو ځایي طلاقونه یو طلاق ګڼل کېدو!! بیا عمر رضی الله عنه دې ته په پام سره چې خلکو په داسي کار کې تلوار کول پیل کړي چې په هغه کې دا مجال ورکړی شوی چې له غور او دقت وروسته اقدام وکړي!! نو وئې ویل: ولې دغه حکم نافذ نه کړو، نو عمر رضی الله عنه دا حکم نافذ کړ!!

دا روایت څو اساسي ستونزي لري: د قرآن له لارښوونې سره مطابقت نه لري، له نورو معتبرو روایاتو او حتی په خپله د عبدالله بن عباس رضی الله عنه له مخکیني روایت سره تعارض لري، د دې امکان ډېر لري دئ چې عمر رضی الله عنه داسي څه ویلي یا کړي وي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم او ابو بکر رضی الله عنه نه ویلي او نه کړي.

وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمۡ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشۡهُرٖ وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ وَأُوْلَٰتُ ٱلۡأَحۡمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مِنۡ أَمۡرِهِۦ يُسۡرٗا ۝٤ ذَٰلِكَ أَمۡرُ ٱللَّهِ أَنزَلَهُۥٓ إِلَيۡكُمۡۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يُكَفِّرۡ عَنۡهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُعۡظِمۡ لَهُۥٓ أَجۡرًا ۝٥

٤- او ستاسي هغه مېرمني چې له حیض ناهیلې شوې دي که شکمن شوئ نو عدت ئې درې میاشتي دئ او د هغو هم چې حیض نه کوي؛ او د حامله مېرمنو نېټه دا ده چې خپل حمل وزېږوي؛ او څوک چې له الله ووېرېږي هغه ته به په خپل کار کې آسانی وګرځوي، ٥- دا د الله هغه امر دئ چې تاسو ته ئې نازل کړی؛ او څوک چې له الله ووېرېږي بدغوني به ئې ترې پټې کړي او اجر به ورته ستر کړي.

(٤-٥)- په دې مبارکو آیتونو کې د عدت په اړه لاندي لارښوونې شوې:

- ستاسي هغه مېرمني چې له حیض ناهیلي شوې دي که شکمن شوئ نو عدت ئې درې میاشتي دئ. دلته څو خبرې باید په پام کې ونیول شي: ١- له (وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمۡ) هغه مېرمني مراد دي چې د زېږښت له کبله له حیض ناهیلي شوې، دا ځکه چې قرآن په بل ځای کې دا الفاظ د همداسي مېرمنو لپاره کارولي، یعني د دوی عدت د درې حیضونو پر ځای درې میاشتي حساب کړئ، ٢- د (إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشۡهُرٖ) په اړه ځینو مفسرینو ویلي چې معنی ئې د اړوند حکم په ارتباط شك دئ، یعني که شکمن شوئ چې حکم به ئې څه وي نو پوه شئ چې حکم ئې دا دئ، ځینو نورو ویلي چې معنی ئې دا ده: که شکمن شوئ او داسي وینه ترسترګو شوه چې نه پوهېږئ د حیض له کبله ده او که

د کومې بیمارۍ له کبله نو عدت ئې درې میاشتي دئ، داسې وینه انسان په شك کې اچوي چې دوی د عمر هغه حد ته رسېدلې که نه چې د حامله کېدو او زېږون امکان له منځه ځي، د آیت له فحوی داسې معلومېږي چې د دوهمې ډلې مفسرینو رأیه دقیقه ده، دا ځکه چې د حکم په اړه شکمن کېدل وارد او مناسب نه برېښي.

- او د هغو هم درې میاشتي دئ چې حیض نه کوي، دلته هم د مفسرینو تر منځ د اختلاف شاهد یو، ځینې وایي چې مراد ئې هغه مېرمني دي چې لا د حیض سن (بلوغ) ته نه دي رسېدلې، دوی د دغه آیت په استناد له داسې ښځو سره نکاح جائز ګڼي چې لا پېغلتوب ته نه وي رسېدلې، ځینې نور وایي: چې مراد ئې هغه مېرمني دي چې د کوم خاص عامل له کبله د هغوی په میاشتني حیض کې کوم خلل رامنځته شوی وي، د دوی عدت هم درې میاشتي دئ. د آیت له فحوی معلومېږي چې د مفسرینو د دوهمې ډلې رأیه دقیقه ده، دې ته مو هم باید پام وي چې قرآن د نکاح موخه د اولاد درلودل ښیي او وایي: نِساؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنى شِئْتُمْ وَ قَدِّمُوا لأَنفُسِكمْ.... البقره: ۲۲۳: مېرمني مو ستاسو لپاره یو کرځی دئ، نو چې څنګه مو خوښه وئ همغسې خپل کرځي ته ورشئ او د ځان لپاره څه وړاندي ولېږئ... دلته د مباشرت او نژدې والي مقصد او هدف په ګوته شوی، دا باید یوازي د نفساني حظ او د جنسي غریزې د اشباع لپاره نه وي، د نکاح اصلي مقصد او هدف د اولاد پیدا کول او د نسل دوام دئ، که څوك په دې خاطر او له دغې تلوسې سره د خپلو مېرمنو خوا ته ځي، نو دا داسې ګڼل شوی لکه چې له مخکې ئې ځان ته غوره ثواب لېږلی وي.
- د حامله مېرمنو نېټه او عدت دا دئ چې خپل حمل وزېږوي.
- څوك چې له الله ووېرېږي هغه ته به په خپل کار کې آسانی وګرځوي، دلته له تقوی مراد د هغو الهي لارښوونو په اړه په دقت سره عمل کول دي چې همدلته د طلاق په اړه راغلي؛ او په کار کې آسانی یعني دا چې په دې سره د رجوع او بیا نکاح سهولت په لاس ورځي، که دا لارښوونې مراعات نه کړي نو له دغو سهولتونو به محروم شي، له دې معلومېږي چې په یو ځل درې طلاقه ورکول د دې الهي لارښوونو خلاف عمل دئ او په دې سره د رجوع او بیا نکاح امکان او سهولت له منځه ځي او انسان له ستونزو سره مخامخ کوي.
- دا د الله تعالی هغه امر دئ چې تاسو ته ئې نازل کړی، د طلاق او عدت په اړه دا احکام ستاسو د رب له لوري نازل شوي اوامر دي، باید په اهتمام سره ئې درناوی او التزام وکړئ.

• څوك چې له الله تعالى ووېرېږي بد بد خصلتونه به ئې له منځه يوسي او د معنوي او اخلاقي ارتقاء توفيق به ورپه برخه كړي؛ او پر دې سربېره اجر به ئې ورته ستر كړي.

أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَآرُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُواْ عَلَيْهِنَّ ۚ وَإِن كُنَّ أُوْلَٰتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُواْ عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَأْتَمِرُواْ بَيْنَكُم بِمَعْرُوفٍ ۖ وَإِن تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُۥٓ أُخْرَىٰ ۝٦ لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِۦ ۖ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُۥ فَلْيُنفِقْ مِمَّآ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ۚ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَآ ءَاتَىٰهَا ۚ سَيَجْعَلُ ٱللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ۝٧

هلته ئې واوسوئ چې تاسو اوسئ؛ له خپل توان سره سم؛ او ضرر مه وررسوئ داسي چې تنګسه پرې راولئ؛ او كه اولاد په نس لري نو تر هغه پرې انفاق كوئ چې خپل اولاد وزېږوي؛ او كه ئې ستاسو لپاره (ستاسو اولاد ته) ټى وركولو نو اجوره ئې وركړئ؛ او په غوره توګه په خپلو كې مشوره وكړئ؛ او كه سختي وكړئ نو بله به ټى وركړي، ۷- حتماً دي وسي د خپل وس سره سم انفاق وكړي؛ او پر چا چې خپل رزق تنګ كړى شوى وي نو له همغه څه دي انفاق وكړي چې الله وركړي، الله هيڅوك نه ګماري مګر له هغه سره سم چې وركړي ئې دي، الله به حتماً له كړاو وروسته آساني رامنځته كړي.

(٦-٧)- د دې مبارکو آيتونو لاړښووني دا دي:

• طلاق شوې مېرمني د خپل عدت تر بشپړېدو پورې په هغه ځاى كې واوسوئ چې تاسو په خپله په كې اوسئ، له خپل توان سره سم، يعني د دوى اسكان او اطعام بايد ستاسو له وس سره متناسب وي، دې ته مو پام وي چې دلته صيغه عامه ده او ښيي چې ټولې مطلقه مېرمني احتواء كوي، كه يو ځل طلاق وركړى شوى وي او كه دوه او درې طلاقونه، احناف دغې رأيې ته ترجيح وركوي، كه څه هم په دې اړه داسي يو روايت هم شته چې وايي: فاطمه بنت قيس رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغله او وئې ويل: خاوند مي درې طلاقونه راكړل او ګواكې رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې لپاره سكنى (استوګنځى) او نفقه ونه ټاكل، يعني د دې مېړه ئې مكلف نه كړ چې د عدت تر بشپړېدو پورې به

استوګنځی او نفقه ورکوي، ډېر له دې روایت سره موافق نه دي، په دوی کې عمر رضی الله عنه هم شامل دئ، کله چې هغه ته دا روایت وړاندي شو وئې ویل: د یوې ښځې د ادعاء له مخي د الله تعالی د صریح حکم مخالفت نه شو کولی!! له دې معلومېږي چې صحابه وو به د داسي روایاتو په اړه کومه تګلاره غوره کوله چې له قرآن سره به ئې تعارض درلود، که په قرن اولی کې او هغه مهال چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د یوه داسي حدیث منسوبول چې هغه نه وو ویلی ډېر ناشونی معلومېدو؛ صحابه وو دا تګلاره غوره کوله؛ نو مورږ به اوس او په داسي حال کې له قرآن سره متعارض روایات ولي معتبر ګڼو چې هم یوازي یوه صحابي ته منسوب شوي او هم د څلورم او پنځم کس په لاس مورږ ته رارسېدلي؟!!

- مطلقه مېرمنو ته ضرر مه رسوئ او تنګسه مه پرې راولئ.
- که هغوی اولاد په نس لري نو تر هغه پرې انفاق کوئ چې خپل اولاد وزېږوي.
- که مطلقه مېرمن دې ته چمتو کېدله چې ستاسو اولاد ته ټی ورکړي نو مناسبه اجوره ئې ورکړئ، دا ځکه چې د اولاد نفقه پر پلار ده.
- په دې اړه په سمه، مناسبه او غوره توګه په خپلو کې مشوره وکړئ.
- که مېړه یا مطلقه مېرمنه سختي وکړي نو بله به ټی ورکړي، بلي ته به هم مجبور وئ چې اجوره ورکړئ، آیا غوره نه ده چې له خپلې مور سره ئې په مناسبي اجورې توافق وکړئ؟!
- وسي وګړي دي حتماً له خپل وس سره سم انفاق وکړي؛ او څوك چې له مالي پلوه کمزوری وي نو همغه څه دي انفاق کړي چې الله ورکړي.
- الله تعالی هیڅوك له هغه څه په زیات انفاق نه ګماري چې ده ته ئې ورکړي.
- که دا لارښووني مراعات کړئ نو الله به حتماً له کړاو وروسته آساني رامنځته کړي.

وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِۦ فَحَاسَبْنَٰهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَٰهَا عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨﴾ فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا وَكَانَ عَٰقِبَةُ أَمْرِهَا خُسْرًا ﴿٩﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ قَدْ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴿١٠﴾ رَّسُولًا يَتْلُوا۟ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ مُبَيِّنَٰتٍ لِّيُخْرِجَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ

وَيَعۡمَلۡ صَٰلِحٗا يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ قَدۡ أَحۡسَنَ ٱللَّهُ لَهُۥ رِزۡقًا ١١

۸- او له کلیو څومره ئې داسي وو چې د خپل رب او د ده د پیغمبرانو له امر ئې سرغړاوی وکړ چې له کبله ئې مودې په شدید حساب سره محاسبه ورسره وکړه او په ناوړه عذاب سره مو تعذیب کړ، ۹- نو د خپل کار وبال ئې وڅکلو او د کار پایله ئې تاوان وو، ۱۰- الله شدید عذاب ورته تیار کړی، نو اې هغو عقلمنو چې ایمان ئې راوړی! له الله ووېرېږئ، یقیناً چې الله ستاسو لوري ته یو ذکر لېږلی؛ ۱۱- داسي یو پیغمبر چې د الله څرګند آیتونه د دې لپاره دربانديي لولي چې هغه وګړي له تیارو د نور لوري ته وباسي چې ایمان ئې راوړی او نېک عملونه ئې کړي؛ او څوک چې پر الله ایمان راوړي او نېک عمل وکړي داسي جنتونو ته به ئې ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهېږي؛ په هغه کې تر ابده تلپاته، په داسي حال کې چې الله ئې رزق ورته ښایسته او غوره ګرځولی.

(۸-۱۱)- د دې مبارکو آیتونو لاړښوونې دا دي:

- وګورئ چې له تاسو وړاندي څومره داسي کلي او کلیوال تېر شوي چې د الله تعالی او د ده د پیغمبرانو له امر ئې سرغړاوی وکړ چې له کبله ئې الله تعالی سخته محاسبه ورسره وکړه او په ناوړه عذاب ئې اخته کړل!! دوی د خپلو کړنو سزا او وبال وڅکلو او د کار پایله ئې تاوان وو.
- اې هغو عقلمنو چې ایمان ئې راوړی! د دغو معذب شوو باغیانو برخلیك ته په پام سره له الله تعالی ووېرېږئ، د الله او د ده د پیغمبر له اوامرو سرغړاوی مه کوئ.
- الله تعالی ستاسو لوري ته یو ځانګړی ذکر او پند لېږلی؛ هغه قرآن چې ستاسو لاړښوونه کوي، په سمې لاري د تلو نصیحت او سپارښتنه درته کوي، د مخکینیو قومونو د برخلیك یادونه درته کوي، د داسي پیغمبر په لاس ئې درلېږلی چې د الله څرګند آیتونه دربانديي لولي، په دې موخه چې هغه وګړي له تیارو د نور لوري ته وباسي چې ایمان ئې راوړی او نېک عملونه ئې کړي.
- څوک چې پر الله ایمان راوړي او نېک عمل وکړي داسي جنتونو ته به ئې ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهېږي؛ په هغه کې تلپاته، په داسي حال کې چې الله تعالی به هلته ښایسته او غوره رزق ورپه برخه کوي.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ وَمِنَ ٱلْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ ٱلْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَىْءٍ عِلْمَۢا ﴿١٢﴾

١٢- الله همغه ذات دئ چې اُوه آسمانونه ئې پيدا کړل او له زمکې هم د هغوی په څېر، د دوی تر منځ امر نازلېږي، د دې لپاره چې په دې پوه شئ چې يقيناً الله پر هر څه توانمن دئ او دا چې الله پر هر څه علماً احاطه کړې.

---

(١٢) د دې مبارك آيت مهم مطالب دا دي:

- **الله تعالى همغه ذات دئ چې اُوه آسمانونه ئې پيدا کړل او له زمکې هم د هغوی په څېر، دلته څو خبري ضروري بربښي:**
- **ځينو درنو مفسرينو ويلي چې دلته له مثلهن مراد يوازې د زمکې او آسمانونو تر منځ د شمېر ورته والی دئ، يعني لکه چې آسمانونه اُوه دي زمکې هم اُوه دي، ځيني نور وايي: له اُوه همدا خاص عدد مراد نه دئ بلکې زياتوالی مراد دئ، يعني الله تعالى ډېر آسمانونه او ډېرې زمکې پيدا کړې دي، ځيني وايي: دې زمکې ته ورته ډېرې نورې زمکې دي، عبدالله بن عباس رضى الله عنه ته يو روايت منسوب دئ چې وايي: که زه د دې آيت تفسير تاسو ته ووايم نو تاسو به کافر شئ!! او ستاسو کفر به دا وي چې هغه به تکذيب کړئ!! او بيا همده ته د دې آيت دا تفسير منسوب شوی: اُوه زمکې چې په هرې زمکې کې ستاسو د نبي په څېر نبي دئ، د آدم عليه السلام په څېر آدم، د نوح عليه السلام په څېر نوح، د ابراهيم عليه السلام په څېر ابراهيم؛ او د عيسى عليه السلام په څېر عيسى:**

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّهُ قَالَ: {اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ} [الطلاق: ١٢] قَالَ: سَبْعَ أَرَضِينَ فِي كُلِّ أَرْضٍ نَبِيٌّ كَنَبِيِّكُمْ وَآدَمُ كآدَمَ، وَنُوحٌ كَنُوحٍ، وَإِبْرَاهِيمُ كَإِبْرَاهِيمَ، وَعِيسَى كَعِيسَى. المستدرك على الصحيحين للحاكم

ځيني دا روايت موضوعي ګڼي، ځيني ئې شاذ بولي او ځيني ئې صحيح!!

راشئ وګورو چې دا روايت له دغه آيت سره اړخ لګوي که نه؛ آيت زمکه د آسمانونو په څېر ګڼي، دا ورته والی به يا د شمېر له پلوه وي، يا د جوړښت له پلوه او يا له دې پلوه چې دا اُوه زمکې د آسمانونو په څېر طبقه طبقه يوه د بلې له پاسه دي، همغسې لکه چې آسمانونه طبقه طبقه يو د بل له پاسه دي، څه چې ويلى شو هغه يوازې دا دي چې زمکه

هم د شمېر له پلوه آسمانونو ته ورته ده او هم له دې پلوه چې طبقه طبقه ده؛ دې مطلب ته په دغو روایاتو کې هم په دې توګه اشاره شوې:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَخَذَ مِنَ الْأَرْضِ شِبْرًا بِغَيْرِ حَقِّهِ، طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ» مصنف عبدالرزاق

له ابو هریره رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: څوك چې یوه لوښت زمکه په ناحقه غصب کړي الله به د اوو زمکو کړۍ ورپه غاړه کړي.

عَنْ شَدَّادِ بن أَوْسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"مَنْ ظَلَمَ شِبْرًا مِنَ الأَرْضِ طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ، المعجم الكبير للطبرانى

له شداد بن اوس رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: څوك چې د زمکې د یوې لوښتي په اندازه ظلم وکړي د اوو زمکو کړۍ به ورپه غاړه شي.

دا روایت د عائشې، ابو هریره، شداد بن اوس، عامر بن سعد، سعید بن زید، رضی الله عنهم په څېر شخصیتونو له لوري روایت شوی، هم د سند له پلوه مضبوط دئ او هم د متن له پلوه له قرآن سره مطابقت لري؛ او شیې چې زمونږ زمکه اُوه طبقې ده، یوه د بل له پاسه، که په پورتنۍ زمکې کې څوك یوه لوښت غصب کړي داسې ده لکه چې د اوو طبقو یوه یوه لوښت ئې غصب کړې وي او د قیامت په ورځ به د اوو کړیو په څېر د ده په غاړې کې لوېږي.

د آیت الفاظو او د دې روایت مفهوم ته په پام سره په بشپړ ډاډ او اطمئنان سره ویلی شو چې زمکه د آسمان په څېر اُوه طبقې ده، نه ښکلي ښکلي اُوه زمکې، که قرآن ته ځیر شو نو ګورو چې آسمانونه د جمع په صیغه او په خوا کې ئې زمکه په مفرده صیغه راغلې، له دې هم معلومېږي چې زمکه په اصل کې یوه ده خو اُوه طبقې لري. عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ته منسوب غریب او شاذ روایت هم له قرآن سره تعارض لري او هم له دې روایت سره، نه د دې لپاره په قرآن کې کوم شاهد مومو چې اُوه داسې زمکې شته چې په هرې یوې کې زمونږ د نبي په څېر نبي دئ، د آدم علیه السلام په څېر آدم، د نوح علیه السلام په څېر نوح، د ابراهیم علیه السلام په څېر ابراهیم؛ او د عیسی علیه السلام په څېر عیسی؛ او نه دا د منلو وړ ده چې په ټولو صحابه وو کې یوازې عبد الله بن عباس رضی الله عنهما په داسې څه پوه شوی وو چې بل هیڅوك نه پرې پوهېدو او هغه هم داسې څه چې که ئې نورو ته ویلی وی نو هغوی به کافران شوي وو او دا ځکه چې هغوی به دا خبره نه وه منلې!!

دا خبره هم د اعتناء وړ نه ده چې اُوه ثابت عدد نه بلکې ډېرښت افاده کوي، دا ځکه چې په قرآن کې د آسمان په اړه د اُوه عدد دومره زیات او په مکرره توګه راغلی چې له ثابت شمېر پرته بل تعبیر ئې قطعاً د منلو نه دئ.

دې ته مو هم پام وي چې له اوو آسمانونو یا مراد د زمکې د فضاء اُوه طبقې دي، چې لږې ئې د زمکې له سطحي پیل کېږي او تر هغه ځایه دوام کوي چې د زمکې د جاذبې اغېز په بشپړه توګه پای ته رسي، یا د ټول عالم ماحول کې اُوه طبقې دي، قرآن کله د زمکې فضاء د آسمان په نامه یادوي او کله د ورېځو موقعیت او کله د ستورو موقعیت، نن ساینسپوهان هم د زمکې فضاء اُوه طبقې ګڼي او هم ئې منځنی جوړښت له اوو طبقو جوړ شوی ګڼي، د زمکې خاورین قشر یوه طبقه، ډبرین پوټکی بله طبقه او همداسي تر هستې پورې پنځه نورې طبقې، دې ته مو هم پام وي چې زمکه له داسي وړو توکیو جوړه شوې چې ساینسپوهان ئې د اتم په نامه یادوي، دا اتم هم په خپل منځ کې یوه هسته لري او په خپل ماحول کې مدارونه، د دې مدارونو اعظمي شمېر هم اُوه دئ. اتم د زړي او مدارونوله پلوه په بشپړه توګه داسي دئ لکه زمکه او په فضاء کې ئې سپوږمۍ او یا لکه لمر او په شاوخوا کې ئې د شمسي نظام ستوري.

د آسمانونو او زمکې تر منځ د الله تعالی حکم ساري او جاري دئ، هر څه د ده له حکم او امر سره سم تر سره کېږي.

دا یادونه د دې لپاره ده چې د قرآن مؤمن مخاطبین پوه شي چې یقیناً الله تعالی پر هر څه توانمن دئ، هغه ذات چې دومره پراخ عالم ئې پیدا کړی او هغه ساتي، پالي او اداره کوي، نه یوازي پر هر کار ښه قادر او توانا دئ بلکې په هر څه ښه پوه دئ، هیڅ څه د ده د علم له دائرې بهر نه دئ پاته.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

التحریم

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (التحریم) دئ چې د سورې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۱۲ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (رحیم) د درېیم آیت (خبیر)؛ او د شپږم آیت (یؤمرون) ته ورته دي، پنځم آیت ئې په (ابکاراً) پای ته رسېدلی چې د مخکیني او وروستني وزن تر منځ د انتقال لپاره موزون توقف دئ، د آیتونو اوږدوالی ئې هغو

سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په وروستيو کلونو کې نازل شوي.

د سورې په پيل کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: ولې هغه څه حراموې چې الله درته حلال کړي؟ هغه هم د دې لپاره چې د خپلو مېرمنو رضاء تر لاسه کړې!! او دا ښيي چې هيڅوک؛ د پيغمبر په شمول؛ دا حق نه لري چې د الله تعالى له لوري حلال شى حرام کړي، پر خپل ځان يا پر نورو، نه د خپل زړه په غوښتنه او نه د بل د راضي کولو په موخه، ورپسې ويل شوي: که تاسو د يوه شي د تحريم په اړه لوړه وکړئ نو الله تعالى د داسي لوړې او قسم د پرانيستلو لارښوونه درته کړې، کوﻯ شئ د کفارې په ورکولو سره خپل قسم پرانيزئ.

ورپسې د دغې پېښې په اړه مناسب وضاحت شوى او ويل شوي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له خپلو ځينو مېرمنو سره يوه خبره په سري توګه يادە کړې، له ځينو مراد يوه يا تر يوې زياتې کېدى شي خو روايت ته په پام سره يوې مېرمني ته ئې سري خبره کړې، د شريعت له نظره سري خبره امانت ګڼل کېږي او افشاء ئې خيانت، د دې مېرمني په دغې کړنې نيوکه شوې، د آيت له الفاظو او له اړوند روايت معلومېږي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ځينو مېرمنو پر دوو خبرو نيوکه شوې: حسادت او د رسول الله صلى الله عليه و سلم سري خبره افشاء کول. او دا دواړه هغه څه دي چې ډېرى کورنۍ ستونزې له همدې بدو خصلتونو راولاړېږي، د قرآن وينا داسي ده چې ښيي دوى دواړو داسي څه کړي چې قرآن ئې د زړه کوږوالى ګڼي، د روايت په رڼا کې هم معلومېږي چې دوو مېرمنو له يوې خوا د رسول الله صلى الله عليه و سلم له يوې مېرمني سره حسادت کړى او له بلې خوا ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه سري خبره افشاء کړې.

دوى دواړو ته ويل شوي: که د رسول الله صلى الله عليه و سلم په خلاف يوه د بلې ملاتړ وکړئ نو هيڅ تاوان نه شئ وررسولى، دا ځکه چې الله تعالى په خپله د ده مولا دئ او جبرائيل او صالح مؤمنان، دواړه په دې ګواښل شوې چې که رسول الله صلى الله عليه و سلم تاسو طلاقې کړي نو ښايي رب به ئې تر تاسو غوره مېرمني ورکړي، داسي کونډې او پېغلې.مېرمني چې مسلمانې، مؤمنانې، منقادې، توبه کوونکې، عبادت کوونکې، د رب لوري ته سياحت کوونکې وي، له دې لارښوونې معلومېږي چې الله تعالى د ټولو مؤمنو مېرمنو لپاره دغه څو صفات او خصلتونه خوښوي چې په دغه آيت کې بيان شوي.

بيا مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې ځان او خپله کورنۍ د دوزخ له اور وساتي، يعني دوى د خپلې کورنۍ د روزنې، اصلاح او تربيت مسئوليت په غاړه لري، د کورنۍ د غړو د ژغورنې په اړه بايد داسي ځان مسئول وګڼي لکه چې ځان ته اعتناء او التفات لري، ورپسې

ورته ویل شوي: د الله لوري ته په سوچه او رښتینې توبې سره ستانه شئ او له هر هغه څه مخ واړوئ چې له الله تعالی مو لري کوي، د داسي توبې په نتیجه کې به ستاسو بد عادتونه اصلاح کړي او ستاسو ګناهونه به معاف کړي؛ او داسي جنتونو ته به مو ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهیږي؛

بیا د قیامت په ورځ د مؤمنانو حالت داسي انځور شوی: د قیامت په ورځ به الله تعالی خپل پېغمبر او هغه مؤمنان چې له ده سره ملګري شوي او د ده په لار تللي ونه شرموي، د ایمان له کبله ئې چې کومه رڼا په برخه شوې دا به د دوی مخي او ښي لوري ته خوځي، الله تعالی ته به په خپلې دعاء کې وایي: اې زموږ ربه! رڼا مو راته بشپړه کړه او بخښنه راته وکړه، یقیناً چې ته پر هر څه توانمن یې.

بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې له کافرانو او منافقینو سره جهاد کوه، دا جهاد به کله هم په توره او هم په ژبه وي او کله یوازي په ژبه، له کافرانو سره هم په توره او هم په ژبه او له منافقینو سره کله یوازي په ژبه او دا تر هغه چې دوی د مسلمانانو په خوا کې اوسي او ځان مسلمان ګڼي، خو کله چې له کافرانو سره یو ځای کېږي برخلیك به ئې د هغوی په څېر وي او همغه څه به ورسره کېږي چې له کافرانو سره کېږي. له دواړو سره به په چلن کې له نرمښت ډډه کېږي، چلن باید ځیر او توند وي.

د سورې په پای کې د قرآن د مخاطبینو په وړاندي د مېرمنو څلور بېلګي انځور شوې، دوه ئې هغه چې د الله تعالی د صالح بندګانو په نکاح کې وې خو له هغوی سره ئې خیانت وکړ، خپله لار ئې ترې بېله کړه او هغوی ئې په نیمي لاري کې پرېښودل؛ او دوه ئې هغه چې د تقوی او صبر لمن ئې کلکه نیولې، د الله په لار کې ئې ستونزي او کړاوونه ګالي، نه سختو تعذیبونو د ایمان له لاري منحرفې کړې او نه تورونو او تهمتونو.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَ ۖ تَبْتَغِى مَرْضَاتَ أَزْوَٰجِكَ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١﴾ قَدْ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَٰنِكُمْ ۚ وَٱللَّهُ مَوْلَىٰكُمْ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢﴾

١- اې نبي! ولې هغه څه حراموې چې الله درته حلال کړي؟ په داسي حال کې چې د

خپلو مېرمنو رضاء لټوې؛ او الله مهربان بخښونکی دئ، ۲- یقیناً چې الله تاسو ته د قسمونو پرانیستل مقرر کړي؛ او الله ستاسو مولا دئ او هغه باحکمت پوه دئ.

(۱-۲)- د دې مبارکو آیتونو مطالب دا دي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: اې نبي! ولې هغه څه حراموې چې الله درته حلال کړي؟ هغه هم د دې لپاره چې د خپلو مېرمنو رضاء تر لاسه کړې!! الله تعالی د دې کار بخښنه درته کړې دا ځکه چې الله مهربان بخښونکی دئ.
- یقیناً چې الله تاسو ته د قسمونو پرانیستل مقرر کړي، کوئی شئ د کفارې په ورکولو سره خپل قسم پرانیزئ، الله ستاسو مولا دئ او هغه باحکمت پوه دئ.

د دې آیتونو له فحوی څو خبري معلومېږي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم له داسي څه د امتناع لوړه کړې چې ورته حلال وو.
- دا کار ئې د خپلو مېرمنو د خوشحالولو په موخه کړی،
- الله تعالی ده او مېرمنو ته ئې بخښنه کړې.
- الله تعالی ورته لارښوونه کړې چې دا لوړه د کفارې په ورکولو سره ماته کړي.

له لومړي آیت دا هم معلومېږي چې الله تعالی هیڅا ته د حل او حرمت په اړه د پرېکړي حق نه دئ ورکړی؛ حتی پیغمبر علیه السلام هم دا حق نه لري چې حلال حرام کړي او حرام حلال.

همدا راز له آیت دا هم معلومېږي چې یو حلال شی پر ځان حرامول داسي دي لکه د یوه جائز کار د نه کولو لوړه کول؛ او حکم ئې دا دئ چې کفاره ورکړی شي او امتناع منتفي کړی شي.

باید وګورو چې په دې مبارکو آیتونو کې کومې پېښې ته اشاره شوې، په تفسیرونو کې درې پېښې د دې مبارکو آیتونو مصداق ګڼل شوې:

یو روایت داسي دئ چې پیغمبر علیه السلام یو مازدیګر د خپلې مېرمني زینب بنت جحش رضی الله عنها په کور کې تر معمول زیات ځنډ وکړ، هغې ورته د شاتو شربت جوړ کړ، عائشه رضی الله عنها وایي چې ما ته په دې باندي رشك راغی، نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم له نورو مېرمنو حفصه، سوده او صفیه رضي الله عنهن سره مي دا خبره جوړه کړه چې کله هره یوه له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره مخامخ شي ودي وایي چې له تا د مغافیر ګل بوی راځي (دا یو ګل دئ چې بوی ئې ښکلی نه دئ، کله چې د شاتو موچې له دې ګل شات جوړ کړي هغه هم ښه بوی نه لري)، دوی پوهېدلې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسي مواردو کې ډېر حساس دئ، د دوی تدبیر خپل

کار وکړ، کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د يوې او بلې له لورې دا خبره واورېده نو د دغه شات د نه خوښلو وينا ئې تر خولې ووته، په ځينو روایاتو کې راغلي چې لوړه ئې وکړه او په ځينو کې دا چې کلکه ژمنه ئې وکړه، خو د دې روایت په اړه دا پوښتنه راولاړېږي چې قرآن د دوو مېرمنو يادونه کوي نه د دريو يا څلورو، په دې روایت کې خو د څلورو مېرمنو يادونه شوې ده.

ځيني وايي چې دلته هغې پېښې ته اشاره شوې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له خپلو مېرمنو تر يوې مياشتي پورې بېل شوی وو، چې تفصيلات ئې داسي دي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به کله د دعوت، ارشاد او تبليغ په چارو کې سخت مصروف وو، کله په جهاد پورې اړوند کارونو کې او کله په عبادت کې، په فارغ فرصتونو کې به ئې کورنيو چارو ته پام اړولو، د دې لپاره ئې ډېر لږ وخت موندلو، د ژوند په ډېرو کلونو کې ئې لاس تنګ او امکانات محدود ول، فقيرانه ژوند ئې درلود، په داسي ژوند قناعت کول لوی زړه او زيات صبر او زغم غوښتو، مېرمنو ئې دا حالت ورسره منلی وو، تر ډېرو کلونو ئې دا حالت ورسره وزغملو، خو ورو ورو د مسلمانانو اقتصادي حالت ښه شو، د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمنو د نورو مسلمانو مېرمنو حالت ته په پام سره وغوښتل چې د دوی په اقتصادي حالت کې هم بايد تبديلي راشي او تر مخکې په نسبي توګه ښه شي، دا هيله او تلوسه ئې په وار وار په ويناوو او چلن کې څرګنده شوې، دومره چې رسول الله صلى الله عليه و سلم پرې ځورېدلی، خبره دې حد ته رسېدلې وه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه مياشت له ټولو مېرمنو بېل او په يوې جلا خوني کې دېره شو، الله تعالى د دې ستونزي د حل لپاره دا لارښوونه وکړه چې مېرمنو ته دي ووايه: يا پر دې ساده ژوند قناعت وکړئ او يا بېلېدا غوره کړئ، ټولو ورسره ومنله چې د قناعت او صبر لار نيسو. ښه به وي چې د دې پېښې اړوند يو روایت هم له نظره تېر کړو.

عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَجَارٌ لِي مِنَ الأَنْصَارِ فِي بَنِي أُمَيَّةَ بْنِ زَيْدٍ، وَهْيَ مِنْ عَوَالِي الْمَدِينَةِ، وَكُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ عَلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم يَنْزِلُ يَوْمًا وَأَنْزِلُ يَوْمًا، فَإِذَا نَزَلْتُ جِئْتُهُ بِخَبَرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ مِنَ الْوَحْيِ وَغَيْرِهِ، وَإِذَا نَزَلَ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ، فَنَزَلَ صَاحِبِي الأَنْصَارِيُّ يَوْمَ نَوْبَتِهِ، فَضَرَبَ بَابِي ضَرْبًا شَدِيدًا. فَقَالَ أَثَمَّ هُوَ فَفَزِعْتُ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ قَدْ حَدَثَ أَمْرٌ عَظِيمٌ. قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَإِذَا هِيَ تَبْكِي فَقُلْتُ طَلَّقَكُنَّ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم قَالَتْ لاَ أَدْرِى. ثُمَّ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ

صلى الله عليه و سلم فَقُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ أَطَلَّقْتَ نِسَاءَكَ قَالَ "لاَ". فَقُلْتُ الله أَكْبَرُ. (بخاري:٨٩)

له عمر رضی الله عنه روایت دئ چې وایي: ما او زما یوه انصاري ګاونډي چې د بني امیه بن زید د قبیلې وو چې د عوالي په نامه یادېدله، (عوالي ځکه ورته ویل کېده چې د مدینې په برنې برخي کې پرته وه)، د رسول الله صلی الله علیه و سلم حضور ته د ورتلو لپاره نوبت ټاکلی وو، یوه ورځ به هغه ورتلو او بله ورځ به زه ورتلم، کله چې به زه ورغلم نو خپل ګاونډي ته به مي د هغي ورځي د وحي او نورو مسائلو خبر ورور؛ او کله چې به هغه ورغی نو هغه به همداسي وکړل، نو یوه ورځ زما همدا انصاري ملګری پخپل وار ورغلی وو، نو زما د کور دروازه ئې په زوره وټکوله او وئې ویل: فلانی شته؟ زه وارخطا شوم او ورووتلم، نو راته وئې ویل: لویه پېښه شوې ده. عمر رضی الله عنه وایي: زه حفصې رضی الله عنها ته ورغلم (حفصه د عمر رضی الله عنه لور او د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمن وه)، ومي لیدل چې هغه ژاړي، ورته ومي ویل: آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم تاسو ته طلاق درکړی؟ هغې راته وویل: نه یم خبره، بیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم حضور ته ورغلم؛ او په داسي حال کې چې ولاړ وم ومي ویل: آیا خپلې مېرمني دي طلاقې کړې دي؟ وئې فرمایل: (نه)، نو ما وویل: الله اکبر!

دا روایت په بخاري کې نه ځلي نور په دغو شمېرو تکراراً راغلی: ٢٤٦٨، ٤٩١٣، ٤٩١٤، ٤٩١٥، ٥١٩١، ٥٢١٨، ٥٨٤٣، ٧٢٥٦، ٧٢٦٣، په دې روایاتو کې شپه ډېر توپیرونه شته، ما دوه ترې غوره کړي چې د دوهم ژباړه داسي ده:

له ابن عباس رضی الله عنهما روایت دئ چې وایي: تل مي دا تلوسه وه چې له عمر بن الخطاب د رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغو دوو مېرمنو په اړه پوښتنه وکړم چې الله تعالی د هغوی په اړه فرمایي: (إِنْ تَتُوبَا إِلَى الله فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا: که تاسو دواړه توبه وکړئ (درته غوره ده)، یقیناً چې ستاسو زړونه کاږه شوي)، تر هغه چې حج ته ولاړ او زه هم ورسره حج ته ولاړم، یو ځای دی هم له لاري یوې خوا ته کوږ شو او زه هم ورسره کوږ شوم، د اوبو له لوښي سره، هغه صحرا ته ولاړ بیا چې بېرته راغی پر لاسونو مي اوبه ترې ورتوی کړې، اودس ئې پرې وکړ نو ورته ومي ویل: اې امیرالمؤمنین! د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه دوه مېرمني کومي دي چې الله تعالی د هغوی په اړه فرمایي: (إِنْ تَتُوبَا إِلَى الله فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا)؟ وئې ویل: اې ابن عباس! تا ته حیرانتیا ده! دوی عائشه او حفصه وې، بیا عمر خبره مخکې بېوله او وئې ویل: زه او زما یو ګاونډی چې د انصارو د بني امیه بن زید د قبیلې وو او دا د مدینې د برنې سیمي له قبیلو یوه

قبيله وه، مور دواړو د رسول الله صلى الله عليه و سلم حضور ته د ورتلو لپاره نوبت ټاکلی وو، يوه ورځ به هغه ورتلو او بله ورځ به زه ورتلم، کله چې به زه ورغلم نو خپل ګاونډي ته به مي د هغې ورځې د وحي او نورو مسائلو خبر ورور؛ او کله چې به هغه ورغی نو هغه به همداسي وکړل، مور قريش پر خپلو مېرمنو برلاسي وو، کله چې انصارو ته راغلو دوی داسي ول چې مېرمني ئې پرې غالبې وې، نو ورو ورو زمور مېرمنو د انصارو د مېرمنو خصلتونه خپلول، يو ځل مي پر خپلې مېرمني چيغه کړه، هغې همداسي ځواب راکړ؛ نو د دې ځواب راباندي بد ولګېدو، هغې وويل: ولې زما ځواب درباندي بد ولګېدو؟! په خدای قسم چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمني هغه ته همداسي ځواب ورګرځوي، ځيني ئې يوه ورځ حتى شپه ترې لرې پاته کېږي، دې خبرې ووېروم او ورته ومي ويل: له دوی چې هر څوك دا کار کوي تباه شوه، بيا مي جامې راغونډې کړې، راکوز شوم او حفصې ته ورغلم؛ او ومي پوښتله: آيا تاسو له رسول الله صلى الله عليه و سلم مروري کېږئ، يوه ورځ حتى تر شپې پوري؟! وئې ويل: هو؛ ورته ومي ويل: يقيناً تباه او تاواني شوې، آيا د دې پروا نه کوئ چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د غضب له وجهې الله تعالى پر تاسو غضب نازل کړي او هلاکې شئ؟! مه له رسول الله صلى الله عليه و سلم زياتې غوښتنې کوه، مه ځواب ورګرځوه او مه ترې مرورە کېږه، څه چې دي زړه غواړي له ما ئې وغواړه، دا دي تا ونه غولوي چې ګاونډی (بن) دي تر تا ښايسته او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ګرانه ده، (مراد ئې عائشه رضى الله عنها وه)، عمر رضى الله عنه وايي: مور د غسان په اړه خبرې کولې چې خپل آسونه ئې زمور لپاره تيارول (د برید تيارى ئې نيولو)، يوه ورځ زما همدا انصاري ملګرى پخپل وار (رسول الله صلى الله عليه و سلم) ته ورغلى وو، ماخستن راوګرځېدو، نو زما د کور دروازه ئې په زوره وټکوله او وئې ويل: فلانى شته؟ زه وارخطا شوم او وروتلم، نو راته وئې ويل: لويه پېښه شوې ده. ما ورته وويل: هغه څه دي؟ آيا غسانيان راغلي؟ وئې ويل: نه؛ تر دې هم ستر او هيبتناك! رسول الله صلى الله عليه و سلم خپلې مېرمني طلاقې کړې دي، ومي ويل: حفصه تباه او هلاکه شوه، ما همداسي ګمان کاوو چې دا کار به وشي، نو جامې مي پر ځان برابرې کړې او د سحر لمونځ مي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره وکړ، بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپل کور د دروازې پر سر خوني ته ننوت، په هغې کې ګوښې پاته شو، زه حفصې رضى الله عنها ته ورغلم (حفصه د عمر رضى الله عنه لور او د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمن وه)، ومي ليدل چې هغه ژاړي، ومي ويل: ولې ژاړې، آيا له دې مي نه وې وېرولې؟ آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم تاسو ته طلاق درکړی؟ هغې راته

وويل: نه يم خبره، هغه دئ په خپلې خونې کې ګوښه شوی، بيا راووتم او د منبر خوا ته راغلم، ګورم چې په خوا کې ئې يوه ډله راغونډه ده او ځينې ئې ژاړي، لنډه شېبه ورسره کښېنستم، زړه مي طاقت ونه کړ، بيا هغې خونې ته راغلم چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په کې وو، د ده تورپوستي خادم ته مي وويل: د عمر لپاره اجازه وغواړه، هغه ورغى، له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ئې خبره وکړه او بېرته راغى او راته وئې ويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مي خبره وکړه او ستا يادونه مي وکړه خو څه ئې ونه ويل، تر شا شوم او د منبر خوا ته ټولګي ته راغلم، بيا مي زړه طاقت ونه کړ، خادم ته راغلم او ومي ويل: د عمر لپاره اجازه وغواړه، ننوت، بېرته راغى او وئې ويل: ورته ياد مي کړې خو څه ئې ونه ويل، د منبر خوا ته ټولګي ته راغلم، بيا مي زړه طاقت ونه کړ، خادم ته راغلم او ومي ويل: د عمر لپاره اجازه وغواړه، ننوت، بېرته راغى او وئې ويل: ورته ياد مي کړې خو څه ئې ونه ويل، نو راستون شوم خو ناڅاپه خادم راغږ کړل او وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم اجازه درکړه، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلم که ګورم چې هغه په اوبدل شوي پوزي باندې ډډه لګولې چې د ده او پوزي تر منځ کوم فرش نشته، د پوزي کرښو د ده پر اړخ نښې پرېښې، د پوستکي پر داسي بالښت ئې تکيه کړې وه چې د خرما له پوسته ډک وو، بيا مي سلام پرې واچاوو او په داسي حال کې چې ولاړ وم ومي ويل: يا رسول الله! آيا خپلې مېرمني دي طلاقې کړې دي؟ نو سترګې ئې زما لورې ته رالوړې کړې او وئې فرمايل: (نه)، نو ما وويل: الله اکبر! بيا په داسي حال کې چې لا ولاړ وم ومي ويل: که ئې راته مناسبه ګڼې څو خبرې درسره کوم، موږ قريش پر خپلو مېرمنو برلاسي وو، کله چې انصارو ته راغلو دوی داسي ول چې مېرمني ئې پرې غالبې وې، رسول الله صلى الله عليه و سلم تبسم وکړ، بيا مي وويل: يا رسول الله! که ئې راته مناسبه ګڼې حفصې ته مي وويل: دا دي تا ونه غولوي چې ګاونډۍ دي تر تا ښايسته او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ګرانه ده، (مراد ئې عائشه رضى الله عنها وه)، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم يو ځل بيا تبسم وکړ، کله چې مي هغه د تبسم په حالت کې وليد نو کښېنستم او سترګې مي د ده په کوټه کې وغړولې، په خداى قسم چې له دريو اومو پوستکو پرته مي بل څه په کې ونه ليدل، (ښايي د اوبو ژي به وو)، نو ومي ويل: يا رسول الله! الله تعالى ته دعاء وکړه چې ستا امت ته ئې پراخه کړي، فارس او روم ته په داسي حال کې پراخي او د دنيا نعمتونه ورکړى شوي چې د الله تعالى عبادت او بندګي نه کوي، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم کښېنستو په داسي حال کې چې تکيه ئې کړې وه او وئې فرمايل: اې ابن خطابه! آيا ته په همدې فکر کې يې؟! دا خو هغه خلك

دي چې دا نعمتونه په همدې دنيايي ژوند کې ژر ورکړی شوو، نو ما وويل: يا رسول الله! ما ته بخښنه وغواړه،....

که لږ ځير شئ نو وبه ګورئ چې د دې روايت موضوع د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما له پوښتني سره هيڅ ارتباط نه لري او د ده د پوښتني ځواب په کې نشته، دا موضوع کاملاً بېله موضوع ده، دا له دوو مېرمنو (له عائشه او حفصه رضي الله عنهما) د خفګان اړونده قصه نه ده بلکې له ټولو مېرمنو د يوې مياشتي لپاره د بېلېدو قصه ده او وجه ئې دا وه چې مېرمنو ئې د پيغمبر عليه السلام په ساده ژوند قناعت نه شو کولی او داسې غوښتنې ئې درلودې چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ئې له پوره کولو عاجز وو، په لومړيو کې او د نيستيو پر مهال ئې قناعت کاوو خو وروسته چې د وفرت او د شتمنيو د ډېروالي زمانه شوه، دوی هم غوښتل د نورو په څېر سوکاله ژوند ولري، دا پر پيغمبر عليه السلام ګرانه تمامېده او د خپل انتظار خلاف ورته معلومېده، په دې اړه د احزاب د سورې څو آيتونه نازل شول، د پيغمبر عليه السلام بېبيانې وګواښلې شوې، چې که په دې فقيرانه ژوند قناعت نه شئ کولی راشئ چې پيغمبر عليه السلام طلاق درکړي. په روايت کې حفصې رضی الله عنها ته د عمر رضی الله عنه دا وينا چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم زياتې غوښتنې مه کوه ښيي چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د خفګان وجه همدا وه. که چېرې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د خفګان وجه د عائشې او حفصې رضی الله عنهما د سلوك له کبله وی نو بيا خو به ئې يوازې له دوی خپله نارضايتي څرګندوله نه له ټولو، ولې به رسول الله صلی الله عليه و سلم له ټولو تر يوې مياشتي بېلېدو؟!

يو بل روايت هم دئ چې وايي پيغمبر عليه السلام د حديبيې له صلحي وروسته د نورو مشرانو او زعماءو په ضمن کې مقوقيس د اسکندريې مشر ته هم يو ليك ولېږو، حاطب بن ابي بلتعه دا ليك ورساوو، خو هغه که څه هم اسلام ونه مانو خو د رسول الله صلی الله عليه و سلم د ليك په ځواب کې ئې وليکل: (زه په دې باور وم چې يو پيغمبر راتلونکی دئ، خو زما ګمان دا دئ چې هغه به په شام کې مبعوث کېږي، خو زه ستا د پلاوي درناوی کوم او له هغوی سره دوه د قدر وړ وينځي هم درلېږم)، دغو دواړو په لاري کې ايمان راوړ، يوه سيرين نومېده چې پيغمبر عليه السلام هغه د حسان بن ثابت په نکاح کړه او بله ئې ماريه رضی الله عنها ځان ته په نکاح کړه، له دې ابراهيم پيدا شو، دا ډېره ښايسته وه، يو روايت وايي چې عائشې رضی الله عنها د دې په اړه ويلي: پر ما د هيڅ مېرمني راتګ دومره ګران نه دئ تمام شوی لکه د ماريه راتګ، ويل کېږي چې يوه

ورځ پیغمبر علیه السلام د حفصې په کور کې وو خو هغه هلته نه وه، ماریه رضی الله عنها هلته ورغله او څه وخت ورسره پاته شوه، له دې خبرې حفصه خبره شوه، اعتراض ئې وکړ، پیغمبر علیه السلام د حفصې د ارضاء لپاره وویل چې له دې وروسته به له ماریه سره نژدېوالی نه کوي، په ځینو روایاتو کې راغلي چې لوړه ئې وکړه او په ځینو کې دا چې هغه ئې پر ځان حرامه کړه.

دا هم نه یوازې له دې کبله د منلو نه دئ چې اکثر محدثین ئې ضعیف ګڼي بلکې له دې پلوه هم چې دلته خو یوازې د حفصې یادونه شوې حال دا چې عبدالله بن عباس د دوو مېرمنو اړوند آیت وضاحت غوښتی. همدا راز د دې روایت الفاظ، محتوی او موضوع داسې ده چې قطعاً د نقل او اعتبار وړ نه برېښي.

دغو ټولو خبرو ته په پام سره ویلی شو چې احتمالاً دا پېښه د ام المؤمنین زینب بنت جحش رضی الله عنها په کور کې څو ځلي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څه ځنډ پورې اړوند پېښه وې؛ هغې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته هر ځل د شاتو شربت جوړولو، کورنۍ ئې نسبتاً شتمنه وه، دې ته ئې شات ورلېږلې وو، عائشې رضی الله عنها او حفصې رضی الله عنها دا منصوبه جوړه کړې وه چې د دې کار د بیا تکرار مخنیوی وکړي، کله چې دوی دواړو ښځ ښځ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویلي چې د مغافیر بوی ئې تر سپوړمو شوی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم په مؤکده صیغه ویلي چې بیا به دا شات نه خوري، حفصې رضی الله عنها ته ئې دا خبره هم کړې چې په دې اړه چا ته څه ونه وایي او دا د دې لپاره چې زینب رضی الله عنها ناراضه نه شي، حفصې رضی الله عنها خپلې ملګرې عائشې رضی الله عنها ته دا خبره کړې، رسول الله صلی الله علیه و سلم د حفصې رضی الله عنها له دې کار خبر شوی، له هغې ئې پوښتنه کړې چې ولې ئې دا خبره افشاء کړې، هغې ورته ویلي: چا خبر کړې؟! رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه نوم نه دئ اخیستی یوازې د خبرې د افشاء کولو پوښتنه ئې ترې کړې... په دغو او ورپسې آیتونو کې دغې موضوع ته اشاره شوې.

دې ته مو پام وې چې د الله دین حسادت نه خوښوي، په ځانګړې توګه له سترو سترو شخصیتونو، د پیغمبر علیه السلام له مېرمنو چې قرآن هغوی ته د مؤمنانو د میندو نوم ورکړی؛ او معنوي مقام ئې د نړۍ تر ټولو مېرمنو لوړ ګڼلی!! یقیناً چې دا حسادت د پیغمبر علیه السلام د مېرمنو له شأن ډېر لرې وو، نو ځکه قرآن په دې باندې سخته نیوکه کړې.

وَإِذۡ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعۡضِ أَزۡوَٰجِهِۦ حَدِيثٗا فَلَمَّا نَبَّأَتۡ بِهِۦ وَأَظۡهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ عَرَّفَ بَعۡضَهُۥ وَأَعۡرَضَ عَنۢ بَعۡضٖۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتۡ مَنۡ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ٣

۳- او کله چې پیغمبر له خپلو ځینو مېرمنو سره یوه خبره په سري توګه یاده کړه؛ نو کله چې هغې دا خبره (نورو ته) بیان کړه او الله دی پرې پوه کړ؛ یوه برخه ئې څرګنده کړه او له بلې ئې ډډه وکړه؛ نو کله چې ئې هغه پرې خبره کړه وئې ویل: چا دا خبره درته وکړه؟ وئې ویل: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم.

(۳)- د دې مبارك آیت مطالب دا دي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم له خپلو ځینو مېرمنو سره یوه خبره په سري توګه یاده کړې؛ له ځینو مراد یوه یا تر یوې زیاتې کېدی شي خو روایت ته په پام سره یوې مېرمني ته ئې سري خبره کړې؛ د شریعت له نظره سري خبره امانت ګڼل کېږي او افشاء ئې خیانت؛ حتی که څوك له چا سره په داسي حال کې کومه خبره کوي چې یوې خوا بلې خوا ته ګوري او له وضعي ئې معلومېږي چې نه غواړي بل څوك دا خبره واوري؛ دا هم امانت دئ؛ که څه هم هغه اورېدونکي ته نه وي ویلي چې دا سري او امانت خبره ده: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه و سلم قَالَ «إِذَا حَدَّثَ الرَّجُلُ الْحَدِيثَ ثُمَّ الْتَفَتَ فَهِيَ أَمَانَةٌ » الترمذي
- کله چې هغې دا خبره نورو ته بیان کړه او الله تعالی خپل پیغمبر پرې خبر کړ؛ نو له هغې ئې په داسي توګه پوښتلي چې یوه برخه ئې څرګنده کړې او د بلې له بیانولو ئې ډډه کړې؛ یعني یوازي دا ئې ورته ویلي چې دا خبره تا نورو ته کړې؟! دا ئې نه دي ورته ویلي چې چا ده ته اطلاع ورکړې؛ هغې ویلي: چا دا خبره درته وکړه؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته ویلي: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم.

دلته څو حساس مطالب زمونږ توجه جلبوي:

- د آیت له الفاظو او له اړوند روایت معلومېږي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د دغو مېرمنو پر دوو خبرو نیوکه شوې: حسادت او د رسول الله صلی الله علیه و سلم سري خبره افشاء کول.
- رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه چا نوم نه دئ افشاء کړی چې ده ته ئې دا خبره رسولې وه، په عامه صیغه ئې ویلي: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم، په همدې کې د

مؤمنانو لپاره يوه مهمه لارښوونه مضمره ده او هغه دا چې په داسې مواردو کې بايد د اطلاع رسوونکي د نوم له افشاء ډډه وشي، دا ځکه چې له افشاء ئې ستونزې او اختلافات راولاړېږي.

دې ته مو هم پام وي چې ځينې پر دې آيت استناد کوي او وايي: د احکامو منشأ په قرآن کې نه ده خلاصه شوې، داسې احکام هم شته چې په قرآن کې ئې منشأ نه شو موندلی او ګواکې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د هغوی په اړه داسې مستقله وحي شوې چې په قرآن کې نه ده ذکر شوې!! دوی د ځینو نورو آیتونو په شمول د دې آیت پر دغې فقرې (قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ) استناد کوي او وايي: په قرآن کې دا مطلب نه دئ راغلی چې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دا خبر ورکړ چې هغې مېرمنې ئې نورو ته هغه سري خبره افشاء کړې؛ او ګواکې له دې معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په دې اړه ېبله وحي شوې!!

دوی ته وایو: ستاسو دا استدلال هم د نورو په څېر په بشپړه توګه غلط دئ؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم نه دي ویلي چې ما ته الله تعالی مخامخ او بلاواسطه وویل؛ که داسې وی نو هغه به فرمایلي وو: قال لي ربي: زما رب راته وویل؛ دا ئې هم نه دي ویلي چې ما ته ئې په خپله یا د فرشتې په واسطه وحي وکړه؛ که داسې وی نو هغه به فرمایلي وو: اوحى إلي: ما ته ئې وحي وکړه؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم؛ د دې معنی قطعاً دا نه ده چې الله تعالی ما ته بلاواسطه او مخامخ یا د فرشتې له لارې اطلاع راکړه؛ په حقیقي معنی ئې هر هغه څوك پوهېږي چې د آیت نوري فقرې هم په پام کې ونیسي؛ مخصوصاً دا فقره چې وایي: وَ أَظْهَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ: او الله دی پرې پوه کړ؛ یعني الله تعالی داسې انتظام وکړ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له موضوع خبر شي؛ په قوي احتمال سره دا اطلاع د هغه چا له لورې ورکړی شوې چې دا خبره ئې اورېدلې وه؛ داسې بالواسطه خبرېدا الله تعالی ته منسوبول؛ نه د حقیقت خلاف انتساب دئ او نه دروغ ګڼل کېدی شي؛ د کوم انسان په واسطه له کومې خبرې خبرېدل په حقیقت کې د الله تعالی په اراده او توفیق تر سره کېږي؛ د (أَظْهَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ) معنی همدا ده. په آیت کې ویل شوي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له اړوند مېرمنې پوښتنه وکړه چې ولې دي هغه سري خبره افشاء کړې؛ خو دا ئې ترې پټ کړل چې چا اطلاع ورکړې؛ د آیت دا فقره چې وایي: عَرَّفَ بَعْضَهُ وَ أَعْرَضَ عَن بَعْضٍ: یوه برخه ئې څرګنده کړه او له بلي ئې ډډه وکړه؛ په یقیني توګه همدا مطلب افاده کوي؛ او په دې سره قرآن مورِ ته لارښوونه کوي چې په داسې مواردو کې د هغه چا د نامه له افشاء کولو ډډه وکړئ چې که

ئې نوم افشاء شي په فتنې او د دوو تر منځ په زړه بداوي او نزاع منتج کېږي. عجيبه ده چې دوی د دې مبارك آيت له څرګندو الفاظو داسي غلطه انتباه اخلي!! حقيقت دا دئ چې حديث د قرآن شرح او تفصيل دئ، د ټولو هغو احکامو اصلي منشأ قرآن دئ چې په احاديثو کې ئې مومو، د ځينو منشأ دومره څرګنده ده چې هر څوك پرې پوهېږي او د ځينو داسي چې يوازې رسول الله صلى الله عليه و سلم پرې پوه شوی او هغه مور ته بيان کړي.

إِن تَتُوبَآ إِلَى ٱللَّهِ فَقَدۡ صَغَتۡ قُلُوبُكُمَاۖ وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيۡهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوۡلَىٰهُ وَجِبۡرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ ۝٤ عَسَىٰ رَبُّهُۥٓ إِن طَلَّقَكُنَّ أَن يُبۡدِلَهُۥٓ أَزۡوَٰجًا خَيۡرٗا مِّنكُنَّ مُسۡلِمَٰتٖ مُّؤۡمِنَٰتٖ قَٰنِتَٰتٖ تَٰٓئِبَٰتٍ عَٰبِدَٰتٖ سَٰٓئِحَٰتٖ ثَيِّبَٰتٖ وَأَبۡكَارًا ۝٥

٤- او که تاسو دواړه الله ته توبه وکړئ نو يقيناً چې ستاسو زړونو کوږوالی موندلی؛ او که د ده په خلاف يوه د بلې ملاتړ وکړئ نو يقيناً چې الله په خپله د ده مولا دئ او جبرائيل او صالح مؤمنان، پر دې سربېره فرشتې ملاتړې، ٥- که تاسو طلاقې کړي نو ښايي رب به ئې داسي مېرمني په بدل کې ورکړي چې تر تاسو غوره دي، مسلمانې، مؤمنانې، منقادې، توبه کوونکې، عبادت کوونکې، د رب لورې ته سياحت کوونکې، کونډې او پېغلې.

(٤-٥)- دلته د رسول الله صلى الله عليه و سلم دوو مېرمنو ته خطاب متوجه دئ او دواړو ته ويل شوي:

- که تاسو دواړه الله ته توبه وکړئ نو همدا درته غوره ده، دا ځکه چې ستاسو په زړونو کې څه کوږوالی راپيدا شوی، د آيت له دې فقرې څو خبرې معلومېږي: هغه پېښه يوازې د دوو مېرمنو په تړاو رامنځته شوې، دوی دواړو داسي څه کړي چې قرآن ئې د زړه کوږوالی ګڼي، د روايت په رڼا کې هم معلومېږي چې دوی دواړو له يوې خوا د رسول الله صلى الله عليه و سلم له يوې مېرمني سره حسادت کړی او له بلې خوا ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه سري خبره افشاء کړې.
- دوی دواړو ته ويل شوي: که د رسول الله صلى الله عليه و سلم په خلاف يوه د بلې ملاتړ وکړئ نو يقيناً چې الله په خپله د ده مولا دئ او جبرائيل او صالح مؤمنان، پر دې

سربېره ټولې فرشتې ئې ملاتړې دي، په دې الفاظو کې که له يوې خوا شديد عتاب ځلېږي، له بلې خوا ښيي چې دوی دواړو ګمان کولو چې ځانګړی او خاص اهميت او امتياز لري، ښايي له دې کبله چې يوه ئې د ابو بکر صديق رضی الله عنه لور وه او بله ئې د عمر رضی الله عنه لور، نو ځکه دوی ته ويل شوي: که تاسو د ده په خلاف لاس يو کړئ نو هيڅ تاوان نه شئ وررسولی، الله په خپله د ده مولا دئ، جبرائيل، صالح مؤمنان او ټولې فرشتې ئې ملاتړې دي.

- دوی دواړه په دې ګواښل شوې چې که رسول الله صلی الله عليه و سلم تاسو طلاقې کړې نو ښايي رب به ئې تر تاسو غوره مېرمني ورکړي، داسې کونډې او پېغلې.مېرمني چې مسلماني، مؤمناني، منقادي، توبه کوونکې، عبادت کوونکې، د رب لوري ته سياحت کوونکې وي، له دې فقرې هم دوه خبرې معلومېږي: ۱- لومړی دا چې الله تعالی د رسول الله صلی الله عليه و سلم د مېرمنو او ټولو مؤمنو مېرمنو لپاره دغه څو صفات او خصلتونه خوښوي چې په دغه آيت کې بيان شوي. ۲- دوهمه دا چې په دغو دواړو مېرمنو کې يوه ئې پېغله او بله ئې کونډه وه، ځکه په آيت کې ويل شوي: که تاسو ته طلاق درکړي نو الله تعالی به ترتاسو غوره کونډې او پېغلې مېرمني ورکړي، روايت هم دغه خبره کوي، ځکه رسول الله صلی الله عليه و سلم عائشه رضی الله عنها په پېغلتوب کې نکاح کړې او حفصه رضی الله عنها په داسې حال کې چې کونډه وه.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ عَلَيۡهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٞ شِدَادٞ لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ ٦

٦- اې هغو چې ايمان ئې راوړی! ځان او خپله کورنۍ له هغه اوره وساتئ چې سون به ئې خلك او ډبري وي، داسې فرشتې پرې ګمارل شوې چې سخت زړي او مضبوطي دي او په هغه څه کې له الله سرغړاوی نه کوي چې پرې ګماري ئې او همغه څه کوي چې پرې ګمارل کېږي.

---

(٦)- په دې مبارك آيت کې مؤمنانو ته دا لارښوونې شوې:

- ځان او خپله کورنۍ له هغه اوره وساتئ چې سون به ئې خلك او ډبري وي، د دې فقرې په اړه بايد څو خبرې په پام کې ولرو: مؤمنان په دې ګمارل شوي چې ځان او خپله کورنۍ د دوزخ له اور وساتي، يعني دوی د خپلې کورنۍ د روزنې، اصلاح او تربيت

مسئوليت په غاړه لري، د کورنۍ د غړو د ژغورنې په اړه بايد داسې ځان مسئول وګڼي لکه چې ځان ته اعتناء او التفات لري، همدا راز دلته ويل شوي چې د دوزخ د اور سون به خلك او ډبري وي، له ډبرو يا مراد له ډبرو جوړ شوي بتان دي او يا دا چې په دې اور کې به ډبري سوزي، خو دې ته په پام سره چې دلته په دې آيت کې او تر آيت وړاندې او وروسته د بتانو يادونه نه ده شوې نو معنی ئې يوازې دا ده چې د دوزخ د اور سون به ډبري وي؛ او دا يقيناً چې د قرآن يو ستر علمي اعجاز دئ چې وايي: ډبري سوزي، د قرآن د نزول په وخت کې هيڅا دا خبره نه شوی منلی چې تيږې هم د اور سون کېدی شي، معلومه نه ده چې مخالفينو به هغه وخت په دې خبرې باندې څومره ټمسخر کړی وي، څومره به ئې په خپلو مجالسو کې ويلي وي چې دا لېونيان اوس دا خبره هم مني چې تيږې سوزي، هيڅ عاقل انسان د ډبرو سوزېدل نه مني!! خو تاسو اوس يوه فزيك پوه ته ووايئ: جنابه! آيا تيږې سوزي؟ هغه به ډېر ژر او له کوم تأمل او ځنډ پرته درته ووايي: هو؛ سوزي، يوازې تيږې نه بلکې هرڅه، حتی اوسپنه هم، هرڅه د اور په اوچتو درجو کې سوزي، دغه اوبه او دا خاوره هم چې ته ئې د اور وژلو لپاره کاروې. او که هغه ته ووايئ: زمور په دغه کتاب کې چې څوارلس پېړۍ وروړاندې تېرې شوې راغلي چې تيږې به د اور سون وي، هغه وخت زمور د کتاب په دې خبرې مخالفينو ملنډې وهلې او دا ئې ستر دروغ ګڼلو، ما ته ووايئ: د دې فزيك پوه غبرګون به څه وي او د دې کتاب او د هغه د وړاندې کوونکي په اړه به څه فکر کوي؟!! او د هغو خلکو په اړه به څه وايي چې د قرآن په دې وينا ئې ملنډې وهلې؟!!

- د دوزخ مأمورين او محافظين داسې فرشتې دي چې (غلاظ) او (شداد) دي، يعني نه داسې زړه سوی او نرمښت لري چې د الله تعالی د امر په عملي کولو کې ئې زړه نازړه کړي او نه په کلك نيولو کې کومه سستي کوي، کلکه نيونه کوي او سخته سزا ورکوي، د الهي اوامرو په تعميل کې يوه ذره سرغړاوی نه کوي، همغه څه کوي چې پرې ګمارل کېږي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَعۡتَذِرُواْ ٱلۡيَوۡمَۖ إِنَّمَا تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٧

٧- اې هغو چې کفر ئې کړی! نن عذر مه وړاندې کوئ، يقيناً چې يوازې د هغه څه مطابق سزا درکول کېږي چې تاسو کول.

---

(٧)- د قيامت په ورځ به کافرانو ته وويل شي: نن عذرونه مه وړاندې کوئ، عذرونه هيڅ ګټه نه دررسوي، نن به د هغه څه مطابق سزا درکول کېږي چې تاسو په دنيا کې کول.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوۡبَةٗ نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيُدۡخِلَكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يَوۡمَ لَا يُخۡزِي ٱللَّهُ ٱلنَّبِيَّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥۖ نُورُهُمۡ يَسۡعَىٰ بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا وَٱغۡفِرۡ لَنَآۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٨

٨- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! د الله لوري ته په سوچه توبې سره ستانه شئ، ښایي ستاسو رب به ستاسو بدغوني پټ کړي او داسي جنتونو ته به مو ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهېږي؛ هغه ورځ چې الله به نبي او هغه چې له ده سره ئې ایمان راوړی ونه شرموي، رڼا به ئې مخي ته او د دوی ښي لوري ته ځغلي؛ وایي به: اې زموږ ربه! نور مو راته بشپړ کړه او بخښنه راته وکړه، یقیناً چې ته پر هر څه توانمن یې.

---

(٨)- په دې مبارك آیت کې مؤمنانو ته دا سپارښتنه شوې:

- د الله لوري ته په سوچه او رښتینې توبې سره ستانه شئ او له هر هغه څه مخ واړوئ چې له الله تعالی مو لرې کوي،
- د داسي توبې په نتیجه کې به ستاسو بد عادتونه اصلاح کړي او ستاسو ګناهونه به معاف کړي؛ او داسي جنتونو ته به مو ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهېږي؛
- د قیامت په ورځ به الله تعالی خپل پېغمبر او هغه مؤمنان چې له ده سره ملګري شوي او د ده په لار تللي ونه شرموي، د ایمان له کبله ئې چې کومه رڼا په برخه شوې دا به د دوی مخي او ښي لوري ته خوځي، الله تعالی ته به په خپلې دعاء کې وایي: اې زموږ ربه! رڼا مو راته بشپړه کړه او بخښنه راته وکړه، یقیناً چې ته پر هر څه توانمن یې.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٩

٩- اې نبي! له کافرانو او منافقینو سره جهاد کوه او توند چلن ورسره کوه، د دوی ځای دوزخ دئ، د ستنېدو څومره بد ځای!

---

(٩)- دلته له کافرانو او منافقینو سره د چلن په اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته او د ده له لارې مؤمنانو ته څو لارښوونې شوې:

- له کافرانو او منافقینو سره جهاد کوه، دا جهاد به کله هم په توره او هم په ژبه وي او کله یوازي په ژبه، له کافرانو سره هم په توره او هم په ژبه او له منافقینو سره کله یوازي په ژبه او دا تر هغه چې دوی د مسلمانانو په خوا کې اوسي او ځان مسلمان ګڼي، خو کله چې له کافرانو سره یو ځای کېږي برخلیك به ئې د هغوی په څېر وي او همغه څه به ورسره کېږي چې له کافرانو سره کېږي.
- له دواړو سره په چلن کې به له نرمښت ډډه کېږي، چلن باید ځیر او توند وي،
- د دوی دواړو برخلیك یو دئ، د دواړو وروستی ټمځی دوزخ دئ، د ستنېدو څومره بد ځای!

ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱمۡرَأَتَ نُوحٖ وَٱمۡرَأَتَ لُوطٖۖ كَانَتَا تَحۡتَ عَبۡدَيۡنِ مِنۡ عِبَادِنَا صَٰلِحَيۡنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمۡ يُغۡنِيَا عَنۡهُمَا مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَقِيلَ ٱدۡخُلَا ٱلنَّارَ مَعَ ٱلدَّٰخِلِينَ ١٠ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ إِذۡ قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا فِي ٱلۡجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرۡعَوۡنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ١١ وَمَرۡيَمَ ٱبۡنَتَ عِمۡرَٰنَ ٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتۡ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتۡ مِنَ ٱلۡقَٰنِتِينَ ١٢

١٠- الله د هغو لپاره چې کفر ئې کړی د نوح د مېرمني او د لوط د مېرمني مثال بیان کړی؛ دواړه زمور د بندګانو له ډلې د دوو صالح بندګانو تر نکاح لاندي وې، دواړو له هغوی سره خیانت وکړ، نو د الله هیڅ څه ئې له دوی دواړو دفع نه کړی شو؛ او ورته وویل شو: اورته ننوځئ؛ له نورو ننوتکونو سره یو ځای، ١١- او الله د هغو لپاره چې ایمان ئې راوړی د فرعون د مېرمني مثال بیان کړی چې وئې ویل: اې زما ربه! ما ته په خپلي خوا کې په جنت کې یو استوګنځی جوړ کړه او له فرعون او د ده له عمل مي وژغوره او له دغه ظالم قوم مي وژغوره. ١٢- او د عمران لور مریمي (مثال) چې د خپل عورت ساتنه ئې وکړه، نو مور له خپلي روح یوه روح په کې پو کړه، د خپل رب ویناوي او د هغه کتابونه ئې رښتیني وګڼل؛ او د غاړه اېښودونکو له ډلې وه.

(۱۰-۱۲)- قرآن په دې مبارکو آیتونو کې د خپلو مخاطبینو په وړاندې د مېرمنو څلور بېلګې انځوروي، دوه ئې هغه چې د الله تعالی د صالح بندګانو په نکاح کې وې خو له هغوی سره ئې خیانت وکړ، خپله لار ئې تړې بېله کړه او هغوی ئې په نیمې لارې کې پرېښودل؛ او دوه ئې هغه چې د تقوی او صبر لمن ئې کلکه نیولې، د الله په لار کې ئې ستونزې او کړاوونه ګالي، نه سختو تعذیبونو د ایمان له لارې منحرفې کړې او نه تورونو او تهمتونو، قرآن دا څلور بېلګې داسې معرفي کوي:

- الله د هغو لپاره چې کفر ئې کړی د نوح د مېرمني او د لوط د مېرمني مثال بیان کړی؛ دواړه د الله د دوو صالح بندګانو تر نکاح لاندې وې، له هغوی سره ئې خیانت وکړ، د نوح علیه السلام او لوط علیه السلام ملګرتیا نه هغوی ته کومه ګټه ورسوله او نه ئې د الله له عذاب وژغورلې، پایله ئې دا وه چې د کافرانو په برخلیك اخته شي، د دوزخ اور ئې په برخه شي؛ او الله تعالی د دواړو په اړه پرېکړه وکړې چې له نورو ننوتونکو سره دي یو ځای دوزخ ته ننوځي.
- الله تعالی د هغو لپاره چې ایمان ئې راوړی د فرعون د مېرمني مثال بیان کړی چې د فرعون له ملګرتیا ئې خپل برائت اعلان کړ، الله تعالی ته ئې مخه کړه او په خپلې دعاء کې ئې وویل: اې زما ربه! ما ته په خپلې خوا کې په جنت کې یو استوګنځي جوړ کړه، د فرعون له ملګرتیا او د ده په لار له تګ مې وژغوره او د دغو ظالمانو له منګولو نجات را،
- بل مثال د عمران د لور مریمې علیها السلام دئ چې پاکلمنه وه، د خپل ناموس او عفت ساتنه ئې وکړه، د دې وړ وه چې الله تعالی له خپلې روح یوه روح په کې پو کړي او په خارق العاده توګه د عیسی علیه السلام په څېر زوی وزېږوي، د خپل رب ویناوي او د هغه کتابونه ئې رښتیني وګڼل؛ او د غاړه ایښودونکو له ډلې وه.
- دا مثالونه د دې لپاره زموږ په وړاندې ایښودل شوي چې راوښیي یوه مؤمنه مېرمن باید څنګه وي، د فرعون مېرمني او مریم علیها السلام ته د عالم پر ټولو ښځو فضیلت ورکړی شوی، قرآن دوی دواړه د مؤمنو مېرمنو لپاره د غوره مثال او بېلګې په توګه معرفي کوي.
- د فرعون مېرمني آسیه په موسی علیه السلام ایمان راوړ، فرعون تر شدید تعذیب لاندې ونیوله، د هغې په پښو او لاسونو ئې مېخونه ټکوهل، چې له ایمان لاس واخلي، خو دغه مؤمنه او پر خدای مینه ښځه د همدې شدید عذاب په وخت کې نه یوازې پر خپل ایمان ټینګار کوي او د فرعون په قصر کې او د ده تر څنګ له ژوند خپله بېزاري اعلانوي، بلکې له خپل رب غواړي چې خپل لوري ته ئې وبلي او په خپلې خوا کې ورته (بیت: کور)

جور کړي. او الله تعالى ئې سوال مني او په جنت کې ورته دا کور جوړوي، په قرآن کې د دې مؤمني او صبرناکې مېرمني یادونه کوي، د دعاء الفاظ ئې زمونږ مخې ته ږدي، وایي دعاء ئې قبوله شوه، د الله په خوا کې هغه کور ورته جوړ شو او د (بیت المعمور: جوړ شوی کور) په نامه ئې یاد کړ، پدې سره قرآن له یوې خوا غواړي مونږ پوه کړي چې فرعون د خپل اقتدار د بقاء او د خپلو مخالفینو د ځپلو لپاره څه څه کول او په څنګه څنګه سختو عذابونو ئې تعذیبول، چې له یوې ښځې سره او هغه هم د ده مېرمن، داسې سلوك کېږي نو له نورو مخالفینو سره به د فرعون معامله څنګه وه؟ له بلې خوا مونږ ته وایي: یوه مؤمنه مېرمن باید څنګه وي، که غواړي الله تعالى ترې راضي شي نو د آسیه رضی الله عنها تګلاره دي غوره کړي، آسیه؛ له کافر او ظالم خاوند متنفره، د الله تعالى د رضاء په لټه کې، تر سختو عذابونو لاندي صبرناکه، د ظالم په خوا کې قصر نه خوښوي، په عوض کې ئې د الله تعالى په خوا کې کور غواړي. همدا راز مونږ ته وایي: د تاریخ تر ټولو ستر ښځینه شخصیت، هغه چې الله تعالى ئې د ټولو مؤمنو مېرمنو لپاره غوره بېلګه او مثال بولي، د انسان له پیدایښت تر نن پورې هیڅ ښځه د ایمان او معنویت هغې لوړې څوکې ته نه ده رسېدلې چې دا ورسېدلې وه، دا د لوړ معنوي مقام خاونده مېرمن نه د کوم پیغمبر مېرمن او لور وه او نه ئې مور او خور، د تاریخ تر ټولو د ستر کافر او جابر فرعون مېرمن وه، له دې معلومېږي چې ديني او معنوي مقام نه په نسبي تړاو پورې او نه په اجتماعي اړیکو پورې تړلی دئ، آسیه رضی الله عنها په داسې حال کې د معنویت تر ټولو لوړې څوکې ته رسېږي چې خاوند ئې فرعون دئ او د نوح علیه السلام او لوط علیه السلام مېرمني په داسې حال کې له معنوي پلوه اسفل السافلین کې سقوط کوي او د بدو مېرمنو بدي بېلګې ترې جوړېږي چې د دوو پیغمبرانو مېرمني وې.!!

- مریم رضی الله عنها هم له سختې الهي آزموینې سره مخامخ شوه، الله تعالى د دې لپاره غوره کړې وه چې د یوه ستر پیغمبر مور ترې جوړه شي، هغه چې زېږېدا به ئې په خارق العاده توګه او له پلار پرته وي، په زنا تورنه شوه، داسې حالت پرې راغی چې د پېغورونو او تورونو له وېرې ئې مرګ ځان ته غوره ګڼلو، خو د صبر لمن ئې کلکه ونیوله، د تاریخ په ستري خارق العاده پېښې کې ئې ونډه وه او د عیسى علیه السلام په څېر ستر شخصیت د هغې په غېږ کې وروزل شو، دې ته مو پام وي چې مریم رضی الله عنها له داسې مور پیدا شوې چې دا ئې تر زېږېدو وړاندې د الله په لار کې نذر کړې وه، د مریمې مور، د عمران مېرمن حامله وه، له الله سره ئې وعده وکړه چې خپل بچی به د ده په لار کې وقف کوي، انتظار ئې دا وو چې الله تعالى به زوی ورکړي او هغه به د الله د دین

خدمت ته وړاندي کوي، خو الله تعالى ورته لور ورکړه، وئې ويل: زما ربه! دا خو لور ده، ما خو د زوى طمع درلوده، نارينه خو د ښځې په څېر نه وي، هغه محدوديتونه ئې نه وي چې ښځه عادتاً ورسره مخامخ وي، ما ئې نوم مريم (دالله بنده او خدائي خدمتگار) کښېښود، زه ئې تا ته سپارم، دا او اولاد ئې له رټلي شيطانه په خپل حفظ او امان کې وساته، الله تعالى د دې همدا نذر قبول کړ، د مريمې د ښې روزنې انتظام ئې وکړ، دا ئې د زکريا عليه السلام تر روزنې او کفالت لاندي ورکړه، کله چې به د روزنې په دوران کې زکريا عليه السلام د دې استوګنځي ته ورغى نو د مريمې خوا ته به ئې بې موسمه مېوې وليدې، له هغې ئې پوښتنه وکړه چې دا له کومه راځي، مريمې ځواب ورکړ: دا د الله له لوري ده، الله چې چا ته وغواړي له حسابه پرته روزي ورکوي، زه د داسي رزق مستحقه نه يم، دا د الله پېرزوينه ده، زما د کومې ځانګړتيا له مخې ئې نه راکوي، له محاسبې پرته ئې راکوي.

- که تاسو په قرآن کې د مريمې زياتې يادونې او د دې هغو دعاګانو ته ځير شئ چې په قرآن کې راغلې او الفاظ ئې د انسان زړه لړزوي نو درته جوته به شي چې يقيناً هغه له هره پلوه د دې لوړ مقام وړ وه چې د ټولو مؤمنو مېرمنو لپاره غوره بېلګه وي. په دې مبارکو آيتونو کې د دې دا ځانګړتياوي ښودل شوې: ١- د خپل عورت ساتنه ئې وکړه، ٢- د خپل رب ويناوي ئې تصديق کړې، ٣- د الله کتابونه ئې رښتيني وګڼل، ٤- او د غاړه اېښودونکو له ډلې وه.

د امتنان په توګه:

ما نن د ١٣٩١ هـ ش کال د ميزان په ١٣د دې مبارکې سورې تفسير بشپړ کړ؛ او په همدې سره الحمد لله د قرآن پلوشې تفسير بشپړ شو، (دوه وروستي ٢٩ او ٣٠ اجزاء مي تر دې وړاندي بشپړ کړي وو)، د دې سورې د آخري آيت له ژباړې وروسته او په داسي حال کې چې له سترګو مي د امتنان، شکر او ښادۍ اوښکي بهېدې؛ له ځايه لوړ شوم او د شکر اداء کولو په موخه په لمانځه ودرېدم، دوه رکعته لمونځ مي وکړ، په لمانځه کې مي ډېر ډېر وژړل، داسي احساس مي کولو چې د خپل ټول ژوند د آرمانونو او هيلو لوړي څوکې ته رسېدلى او تر ټولو ستر آرمان مي همدا نن او د دغه آيت په ژباړې سره تر سره شوى، د زړه سلول سلول مي د امتنان او شکر له جذبې ډک وو، داسي حالت هغه مهال هم راته مخه کړه چې د شوروي اتحاد ځواکونه د افغانستان له پولې واوښتل او د وروستي روسي فوځي له وتلو وروسته د شوروي ځواکونو قومندان جنرال ګراموف د حيرتان د پله خوا ته خبريالانو ته وويل: پر افغانستان برېد يوه ستره اشتباه وه او مسکو به بيا دا اشتباه تکرار نه کړي، د دې خبرې په اورېدو سره مي د اوښکو بهېدا پيل شوه، ټوله ورځ مي عجيب

حالت درلود، هیڅا دا تصور نه شو کولی چې د شوروي په څېر ستر او مغرور ځواك به داسي ژر د افغانانو په لاس له ماتې سره مخامخ او له افغانستان وتلو ته اړ شي او د دوی ستر جنرال به د وتلو پر مهال پر افغانستان تېری ستره اشتباه ګڼي!! خو موږ له خپل مهربان رب دا هیله درلوده چې دا ورځ راباندي وګوري، په هغي ورځ مي د ژوند یو ستر آرمان تر سره شوی وو، همدا راز نن مي د ژوند یو بل ستر آرمان تر سره شو، دا آرمان چې د قرآن پښتو ژباړه او مختصر تفسیر ولیکم، مصروفیتونو دا فرصت نه راکولو، پر افغانستان د امریکایانو له برید او د اشغالګرانو په ضد د جهاد له اعلان وروسته سري مبارزې ته اړ شوم، تر تعقیب لاندي وم، زما د وژلو او نیولو هڅې وشوې، زما د سر څو ملیونه ډالر قیمت وټاکل شو، له ډرون طیارې راکټې برید راباندي وشو، دوه ځلي زما د استوګنځي خوا ته امریکایي کوماندو ځواکونه په داسي حال کې راغلل چې ما لیدل او د دوی غږ مي اورېدو، څرګنده مبارزه راته ناشونې او ګرانه شوه، مجبور شوم لیدنې کتنې او ملاقاتونه محدود کړم، له ټیلفون او مخابرې استفاده پرېږدم، په خطونو اکتفاء وکړم، که څه هم مرکو، اعلامیو، پیغامونو، خطونو، د پښتو او د هېواد سیاسي، نظامي او اجتماعي وضعیت په اړه تحلیلي لیکنو تر کافي حده مصروف کړی وم؛ خو د دې تر څنګ داسي شرائط راته برابر شول چې د کتابونو لیکلو ته هم فارغ وخت ولرم، په دې مودې کې مي نژدې پنځه څلوېښت کتابونه ولیکل، چې بایبل د قرآن په رڼا کې، حکمة البارئ، متضاد روایات او مذهبي اختلافات، ساینس او د قرآن علمي اعجاز؛ د قرآن پښتو ژباړه، د قرآن پلوشې تفسیر په اتو جلدونو کې، د امریکا ضد اسلامي جهاد، د اسلامي دولت اساسي قانون، مېرمني او حقوق ئې؛ د هغوی په ضمن کې دي؛ ګمان مي نه کولو چې زه به دا تفسیر بشپړ کړی شم، د تېرو پنځلسو کلونو هره شېبه داسي راباندي تېره شوې چې نه پوهېدم یوه شېبه وروسته به څه کېږي، دښمن به زما پر استوګنځي برید کوي، نښته به رامنځته کېږي، دا اطلاع به راکول کېږي چې دښمن زما له موقعیت خبر شوی باید خپل ځای بدل کړم، ښایي له دې به زما د حالت څرنګوالی څه نا څه درک کړی شئ چې په دغو کلونو کې زه تر څلوېښتو زیاتو کورونو او استوګنځیو کې پاته شوی یم، په ځینو کې څو ورځې، په ځینو کې څو اونۍ او په ځینو کې څو میاشتې، خو له دې ټولو سره سره الله تعالی پر ما خپل فضل پېرزو کړ او دا توفیق ئې راکړ چې د پلوشې تفسیر بشپړ کړم، باور وکړئ چې د قرآن د هري سورې د تفسیر له بشپړولو وروسته مي داسي احساس کړی چې سینه مي له علم او ایمان ډکه شوې، داسي رڼا مي زړه ته ننوتې چې سلول سلول ئې روښانه شوی؛ او په داسي سترو سترو حقائقو پوه شوی یم چې له بلې لارې پرې پوهېدا راته ممکنه نه وه. دا

هم بايد وليکم چې زه ځلور شپېته کاله وړاندې د ۱۳۲۷هـ ش کال د ميزان په مياشت کې زېږېدلی يم، لا اتلس کلن وم چې مبارزه مې پيل کړه، د جوانان مسلمان د تأسيس له لومړۍ شپې بيا تر نن پورې په تېرو ځلور ځلوېښتو کلونو کې زما ژوند له لوړو ژورو، ګواښونو، خطرونو، کړاوونو، ستونزو، دعوت، زندان، هجرت، جهاد، ... ډک تېر شوی، د کابل د تېرو ځلورو لسيزو ټولو حکومتونو او د دوی بهرنيو حاميانو زما د وژلو او نيولو پرېکړې کړې او په دې اړه ئې په وار وار ډول ډول پټې او څرګندې هڅې کړې، اُوه ځلې زما خوا ته په څو متړۍ کې راکټونه لګېدلي او ستر ستر ېمونه چاودلي؛ يو ځل خو پنځو جيټ طيارو زما پر استوګنځي په داسې حال کې دوه دېرش راکټې او ېمونه وورول چې زه په خوني کې وم، د کور دېوال وران شو، کله چې بهر ووتلم يوې خوا بلې خوا ته مې ېمونه او راکټې ورېدلې، خو زه الله تعالی ساتلی يم، په همدې ستونزمن ژوند کې ئې ما ته دا توفيق راکړ چې دا ځلور ځلوېښت کلونه د قرآن په سيوري کې تېر کړم، په دې مودې کې ما په اوسط توګه هره ورځ د قرآن شاوخوا پنځه سوه آيتونه په ځانځه کې او له ځانځه بهر تلاوت کړي، ښايي په دې ټولې مودې کې به څو ورځې هم داسې نه وي تيرې شوې چې ما دومره تلاوت نه وي کړی، د قرآن دوه ثلثه (شل اجزاء) مې حفظ کړي، ډيرې برخې مې په درسي او تربيتي غونډو کې تفسير کړې؛ او دا دځ نن په داسې حال کې د پلوشي تفسير د بشپړولو سعادت راپه برخه شو چې د ژوند پنځه شپېتم کال پيلوم.

زه د خپل ژوند په هر څه کې د دې ځلاند لارښود الهي کتاب مرهون يم، هر څه مې له قرآن زده کړي، ما خپل رب الله تعالی د قرآن له مخې ښه پېژندلی، ما رسول الله صلی الله عليه و سلم د قرآن په هنداري کې پېژندلی؛ او په دې پوه شوی يم چې د دې ستر کتاب حامل يوازې يو پيغمبر کېدی شي، ما په دې قرآن کې تر دوه سوه زيات داسې علمي اعجاز موندلی چې هر يو ئې د مخکينيو پيغمبرانو عليهم السلام تر سترو سترو معجزو ستر دځ، داسې علمي اعجاز چې هر عقلمن انسان دې اعتراف ته اړ کوي چې دا قرآن د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دځ، يو ئې د همدې سورې د شپږم آيت دا وينا ده چې ډېرې به د دوزخ سون وي، ما انسان د قرآن په رڼا کې پېژندلی، د ده جوړښت، ځانګړتياوې، پيل، پای، د سعادت او شقاوت عوامل ئې او د عروج او زوال اسباب ئې قرآن راښودلي، هيڅوک په هيڅ توګه نه شي کولی انسان په داسې دقيقې بڼې کې معرفي کړي چې قرآن معرفي کړی، ما دا پراخ عالم د قرآن په رڼا کې پېژندلی، قرآن راښودلي چې دا عالم، آسمانونه او زمکه څنګه پيدا شوي، پيل ئې څنګه وو او پای به ئې څنګه وي، يوازې هغه څوک د د دې پراخ عالم په غېږ کې زړه راښکونکې ښکلا، عقل پاروونکی نظم، دقيقه هدفمني، د عالم

د توکو تر منځ ژور تنسیق او وحدت توجیه کولی شي چې د قرآن په رڼا کې ورته وګوري، له دې پرته د دې ښکلا، نظم، هدفمنۍ، وحدت او تنسیق له دقیق تعبیر عاجز دئ. الْحَمْدُ للهِ الَّذِی هَدَانَا لِهَذَا وَ مَا کُنَّا لِنهْتَدِی لَوْ لا أَنْ هَدَانَا اللهُ

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الملك

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم الملك (واکمني) دئ، چې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۳۰ آیتونه لري، د فواصلو اوزان ئې څلور دي؛ قدیر، غفور، مستقیم او تشکرون ته ورته، چې په دې کې قدیر او مستقیم سره نژدې دي او غفور او تشکرون سره ورته، له لومړي آیت تر ۲۱ پورې د آیتونو فواصل د دوو لومړنیو آیتونو په څېر کله قدیر او کله غفور ته ورته دي؛ او له ۲۲ مه تر دېرشم پورې کله د مستقیم په څېر او کله د تشکرون په څېر وزن لري. مکي سوره ده، په څو آیتونو کې ئې داسي نښي ګورو چې ښیي دا سوره د مکي دور په هغې مرحلې کې نازله شوې چې د قریشو سردارانو د پیغمبر علیه السلام په ضد خپل مخالفت تشدید کړی او د ده تکذیب ته ئې کلکه ملا تړلې.

د دې سورې د بحث محوري موضوع په زمکه او آسمان کې د الله تعالی د واکمنۍ شرح او توضیح ده، په حقیقت کې الملك (واکمني) یوازې د دې سورې نوم نه بلکې د مضامینو لپاره ئې عنوان هم دئ، په لږ دقت سره دا راته جوتېږي چې د سورې د لومړي آیت مفهوم په ټولې سورې سیوری غوړولی او ټول آیتونه ئې د دغه آیت شرح او تفصیل دئ. سوره په دې آیت پیل کېږي: تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ * مبارك دئ هغه ذات چې واکمني د ده په لاس کې ده؛ او په هر څه ښه قادر دئ.

وروستي آیتونه د دې واکمنۍ څرنګوالی او ابعاد ئې توضیح کوي: په دې ترتیب چې:

په دوهم آیت کې داسي راغلي: هماغه چې مرګ او ژوند ئې پیدا کړ چې تاسو وآزمویي چې کوم یو مو په عمل کې ښه او غوره دئ او هغه ډېر بخښونکی عزتمن دئ. یعني الله تعالی د مرګ او ژوند پیدا کوونکی دئ، د مرګ او ژوند پرېکړه دی کوي، که مړه توکي په ژوندیو بدلېږي؛ او له څه مودې وروسته بېرته په مرګ محکومیږي، دواړه د الله تعالی له لوري دي، د مرګ او ژوند پیدا کولو هدف دا دئ چې تاسو وآزمویي. همدا راز که ځینې توکي مړه مومې او ځینې ئې ژوندي، دواړه په خپل خپل عمل لګیا، یو ئې له نسبي آزادۍ

سره او بل ئې مقيد، د دواړو د خلقت مقصد او هدف دا دئ چې وليدی شي کوم يو شه عمل کوي او خپله وظيفه سمه تر سره کوي.، يعني دواړه د خاص خاص عمل لپاره پيدا شوي.

په درېيم آيت کې د اوو آسمانونو پورې پورې پيدايښت د الله تعالی د واکمنۍ بله بېلګه ښيي؛ او فرمايي: د الله تعالی په مخلوقاتو کې نه بېلوالی او تفاوت موندلی شې او نه چاود او تشه، هر څه هدفمن، بامقصده؛ او حکيمانه پيدا شوي، د دې پراخ او وسيع عالم په ټولو برخو کې به ژور يووالی، نظم؛ او تنسيق وګورې، دا له ځلاندو ستورو ډک آسمان ګورې چې د خپل پالونکي او ساتونکي رب په حکم، دا ټول بې شمېره ستوري په خپل خپل مناسب مدار کې ساتي؛ او د دوی تر منځ د ټکر او تصادم مخه نيسي، دا ځلانده ستوري ګورې چې نه يوازې ستا د دنيا آسمان ته زينت او ښکلا ورکوي، بلکې دا د هدايت مصابيح او څراغونه دي، د هغو انسانانو لپاره د ځلاندو څراغونو حيثيت لري چې غواړي په حقيقت پوه شي؛ او دا د هغو شياطينو د رټلو او شړلو غشي دي چې د انسان د بې لارۍ کولو لپاره ئې ملاتړلې.

ورپسې فرمايي: هغه خلك چې د عالم په پراخې غېږ کې، دغو ټولو لارښوونکو نښو ته پام نه کوي، د مالك الملك رب له پېژندا عاجز شوي؛ او د کفر او انکار لار ئې غوره کړې، د جهنم مستحق دي، خو داسې چې جهنم به سخت په دوی غصه وي، داسې به ورته غړمبېږي چې نژدې ده له ډېر شور او غوږ وچوي، د جهنم ساتونکي به هري هغي ډلې ته چې ورننوځي وايي: آيا کوم لارښود او پيغمبر نه وو درغلی؟ دوی به ورته وايي: ولې نه! پيغمبر خو راغلی وو، خو موږ تکذيب کړ او ورته ومو ويل: خدای کوم څه نه دي رالېږلې، تاسو سخت دوکه شوي او بې لاري يئ، بيا به په دې خبرې اعتراف کوي چې: که موږ د دوی خبرو ته غوږ اېښی وی او يا مو په خپله تعقل کړی وی، نو نن به په دوزخ کې نه وو پراته، هم به په دې اعتراف کوي چې د لارښوونکو لارښوونو ته د عدم توجه له کبله د دوزخ مستحق دي او هم له دې امله چې له خپل عقل او شعور په نه کارولو سره ئې د لارښودونکو نښو عبرت نه وو اخيستی!! هم به په خپلې ګناه اعتراف کوي او هم به خپله سزا عادلانه ګڼي!! خو دا اعتراف به هيڅ ګټه نه شي ورسولی. خو د دوی په مقابل کې هغه کسان چې خپل رب ئې پېژندلی او غائبانه ترې وېرېدلي؛ او له ګناه او تېري ئې ځان ساتلی، دوی ته به الهي بخښنه او ستر اجر ورپه برخه شي.

ورپسې فرمايي: مواظب اوسئ چې ستاسو معامله له هغه رب سره ده چې په هر ځای او هر حال کې ستاسو څارنه کوي، نه مو د زړه اسرار ترې پټ دي او نه څرګند اعمال،

تل درسره دئ، د ده څارنې او مراقبت په هرڅه سيوری غوړولی، هم مو ټيټ غږ اوري او هم لوړ، هم تل او په هر ځای کې د ده تر څارنې لاندې يئ او هم ئې د عنايت او رعايت تر سيوري لاندې، آيا هغه ذات چې ستا او ستا د زړه او دماغ د سلول سلول رب دئ؛ او ستا افکار، عزائم، موخې، نيتونه او د زړه غوښتنې هم د ده په إذن او اراده راټوکېږي، هغه به څنګه د خپل مخلوق له حاله بې خبره وي او څه به ترې پټ پاته کېږي؟!! او له پالنې به ئې غافل کېږي؟ داسې هيڅکله نه شي کېدی، ستا رب لطيف او خبير دئ، ذرې ذرې ته رسېدی شي او له ذرې ذرې خبرېدی شي.

د الله تعالی د واکمنۍ بل مظهر او بېلګه دا ښيي چې زمکه ئې موږ ته مسخر کړې، د انسان په خدمت کې او ورته مطيع، پر اوږو ئې درومي او رزق روزي ورکوي. انسان بې ځايه داسې ګمان کوي چې دا زمکه تل همداسې وه او تل به همداسې وي، تل به انسان پر خپلو اوږو وړي؛ او د تل لپاره به ده ته دانه او مېوه ورکوي!! ولې له دې ډاډه شوی چې دا زمکه ناڅاپي وخوځېږي، خسف شي، دی او هر څه ئې تر خاورو لاندې کړي؟ مګر د هغه رب له نيونې او مؤاخذې ځان خوندي ګڼئ چې د زمکې او آسمانونو ټولواک دئ؟ آيا له دې وېره نه لرئ چې توندې سيلۍ درباندې راولېږي او هر څه درباندې رانسکور کړي؟ مګر خبر نه يئ چې د پيغمبرانو عليهم السلام د مخالفت له کبله مخکيني قومونه له کوم عبرتناك برخليك سره مخامخ شوي؟ آيا د دوی مؤاخذه دا حقيقت نه ثابتوي چې ستا د اوسېدو دا کور، چې زمکه ئې فرش او آسمان ئې چت دئ، يو داسې ټولواك لري چې د انسانانو په ټولو کړنو نظر ساتي؛ او مناسبه سزا ورکوي؟!!

ووايه: د چا په حکم او توفيق دا مرغان له زمکې بېلېږي؛ او د زمکې په فضاء کې وزري وهي، کله په پرانيستو وزرونو مخکې درومي او کله په راغونډو وزرونو؟ څوك ئې په فضاء کې ساتي؟ چا مرغان داسې پيدا کړي چې الوتی شي؟ چا طبيعت داسې پيدا کړی او داسې ضوابط او سنن ئې په کې اېښي چې مرغانو ته د الوتو توان ورکوي؟ تاسو ته د بېلابېلو کارونو د کولو توفيق څوك درکوي؟ دا رنګ رنګ استعدادونه او ځواکونه چا درکړي؟ آيا له رحمان خدای پرته بل داسې څوك په نظر درځي چې په دې کار کې ئې څه ونډه وي، تاسو ته د دې استعدادونو په درکړي کې ئې څه اغېز وي او د کارونو د تر سره کولو توفيق مو د هغه له لوري وي؟ څومره کمعقله او ناپوه دئ هغه انسان چې په عالم کې د الله تعالی د مطلقې واکمنۍ په حقيقت باور نه کوي او پرې کافر کېږي!! بيا فرمايي: که الله تعالی خپل رزق له تاسو وسپموي، آسمان ئې له ورښته ډډه وکړي او زمکه ئې د دانې او مېوې له راټوکولو لاس واخلي؛ هغه څوك دئ چې بيا تاسو ته روزي درکړي؟ له آسمانه اوبه

راووروي او له زمکې دانه اومېوه راشنه کړي؟! آیا د الله تعالی په واکمنۍ د نه باور لپاره له احمقانه لجاجت او سرغړاوي پرته بله وجه ښودی شو؟ آیا له حقائقو تېښته او نفرت د دې یوازنی عامل نه دئ؟ دا کافر او له حقائقو منکر انسان نه ګوري چې الله تعالی هر څه ښایسته، ښکلي او سم پیدا کړي، هر څه په هغه بڼه او کیفیت کې ښه، ښکلی او ګټور دئ چې الله تعالی په کوم کیفیت کې پیدا کړی، د هر څه په کیفیت او کمیت کې او په شکل او بڼه کې لږ تغییر او بدلون هم د هغه ښایست او ښکلا له منځه وړي او هم ئې افادیت ختموي، هم هغه ته تاوان رسوي او هم ئې ماحول ته، که په دې اصل باور نه لرې راشه په یوه غیر فطري عمل لاس پوري کړه، وئې آزمویه، د دې په ځای چې په ولاړه، په خپلو پښو؛ او د خپلو سترګو په مرسته وخوځې، همغسي چې الهي سنن حکم کوي او همغسي چې ستا فطرت ئې تقاضی کوي، برعکس پر مخی د تلو هڅه وکړه، وګوره چې نتیجه به ئې څنګه وي؟ وګوره چې په فطرت کې تبدیلي او د الهي سننو مخالفت او د توکیو غیر فطري او معکوس کارول څه نتیجه ورکوي؟ ټول هغه استعدادونه چې تا ته درکړی شوي، د ښه او بد په پېژندا کې ستا مرسته کوي، مفید له مضر، سم له ناسم، کږه او مستقیمه لار درښیي، په سمي لار د تلو مرسته درسره کوي، دا سترګي، غوږونه، زړه او عقل الله تعالی درکړي؛ او د ده په اراده ستا په خدمت کې دي او مرسته دي کوي، خو تاسو ډېر لږ د دې نعمتونو قدر کړی او ډېر لږ مو د خپل منعم رب شکر کړی!! خو پوه شئ چې په هر صورت کې به د خپل رب په لوري ورګرځئ، هغه رب ته چې تاسو ئې پیدا او په زمکې کې ئې خواره کړئ، دا ورځ هرو مرو راتلونکې ده، پیغمبر علیه السلام د دغې ورځې د ناڅاپي راتلو خبرداری درکوي.

د دغو مطالبو په پای کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه کېږي چې د دعوت معارضینو او مخالفینو ته ووایي:

تاسو چې زما او زما د پلویانو د ورکې او له منځه تلو انتظار کوئ او خپل ټول زور ځواك مو په دې لار کې کارولی، که احیاناً الله تعالی ستاسو دا انتظار تر سره کړي، ما او زما پلویان هلاك کړي او یا ستاسو د هیلي او انتظار خلاف پر موږ خپل رحمت او عنایت پېرزو کړي، نو څوك به کافران له دردناك الهي عذاب ژغوري؟ څوك به له الهي عذاب تاسو ته پناه درکړي؟!!

موږ په هغه رب ایمان راوړی چې ډېر زیات مهربان دئ، پر هغه مو توکل کړی او ځان مو هغه ته سپارلی، ډېر ژر به وګورئ چې څوك په حقه وو او څوك په ناحقه، څوك په سمه لار روان وو او څوك په کږو؟

تاسو خو د دې عالم په ټولواك رب باور نه لرئ، خو ووايئ: كه دا اوبه مو په زمكي كي ننوځي؛ آيا داسي څوك په نظر درځي چي له كومي چينې رواني اوبه درته راوباسي؟!!

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

تَبَٰرَكَ ٱلَّذِي بِيَدِهِ ٱلۡمُلۡكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ۝١ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡمَوۡتَ وَٱلۡحَيَوٰةَ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفُورُ ۝٢ ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ ۝٣ ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ يَنقَلِبۡ إِلَيۡكَ ٱلۡبَصَرُ خَاسِئٗا وَهُوَ حَسِيرٞ ۝٤

١- مبارك دئ هغه ذات چي واكمني ئې ده په لاس كي؛ او شه قادر دئ په هر څه. ٢- هغه ذات چي مرگ او ژوند ئې پيدا كړ د دې لپاره چي وآزمويي تاسو چي كوم يو مو شه او غوره دئ عمل كي؟ او هغه دئ ډېر بخښونكى عزټمن. ٣- هغه ذات چي اُوه آسمانونه ئې پوړ پوړ پيدا كړل، د رحمن په مخلوقاتو كي بېلوالى ليدى نه شې، نو وغړوه سترگي، آيا گوري كوم يو چاود؟ ٤- بيا هم وغړوه سترگي په وار وار، راوبه گرځي سترگي ستا په لوري نامراده او وي به ارمانجني.

١- په دې مبارك آيت كي د الله تعالى څو صفاتو ته اشاره شوې:

- الله تعالى مبارك او تلپاته دئ، تبارك د بركت د مبالغې صيغه ده، چي هم مباركوالى افاده كوي او هم نه ختميدا او پاى نه موندل.
- واكمني په مطلقه توگه د ده په واك كي ده، د عالم د ټولو چارو واگي ئې په لاس كي دي؛ او حكم ئې د كائنات په گوټ گوټ كي نافذ او حاكم دئ.
- په هر څه او هر كار شه قادر دئ. يعني هغه ذات چي دا خور او پراخ عالم اداره كوي او د واكمنۍ مظاهر ئې هره خوا تر سترگو كېږي؛ دوه څرگند صفات لري:

الف: با بركت دئ، د ده د پېرزوينو او عنايت سيورى پر ټولو غوړېدلى، ټول د ده د فيض له چينې خړوبېږي، د هغو واكمنانو په څېر نه دئ چي تل له خپل رعيت څه د ځان لپاره غواړي، بلكي د ده د بابركته واكمنۍ له فيضه ده چي بندگانو ته پرېمانه رزق روزي وركول

کېږي او پر دسترخان ئې راز راز خوراك څښاك ترسترګو کېږي.
ب: په هر کار قادر دئ، د دې پراخ او ستر عالم اداره؛ او د دې بې انتهاء کائنات د ټولو بې شمېره توکو حفاظت او په خپل خپل ځای کې د هر څه ساتنه ښيي چې د دې عالم ټولواك رب په هر څه قادر دئ.

په ډېر لږ دقت سره مومو چې د الملك سوره په حقیقت کې د لومړي آیت شرح او تفصیل ده، د الله تعالی د واکمنۍ څرنګوالی او ابعاد ئې د دې سورې په ټولو آیتونو کې څېړل شوي؛ او د اثبات لپاره ئې مضبوط دلائل وړاندي شوي.

۲- په تفاسیرو کې د دې آیت په اړه دوه د پام وړ تعبیرونه زموږ مخي ته راځي:
الف: د دې عالم ټولواك هغه ذات دئ چې مرګ او ژوند ئې پیدا کړی، هم ژوندون د ده پېرزوینه او د قدرت نښه ده او هم مرګ، مړو توکو ته دی ژوند ورکوي؛ او په خپل وخت ئې د مرګ پرېکړه د ده له لوري صادرېږي، که ژوند د ده د قدرت نښه ده نو مرګ هم د دې نښه چې انسان او هر ژوندی مخلوق د ده د ارادې په وړاندي مقهور او محکوم دئ، نه غواړي په مرګ محکوم شي خو چاره نه لري، خامخا به د مرګ داعي ته لبیك وایي. ګمان مه کوئ چې مرګ او ژوند دوه تصادفي او بې هدفه پېښې دي، نه؛ ژوند یو آزمېښت دئ؛ او مرګ د دې آزمېښت پای اود پایلو او کامیاب او ناکام د اعلان لپاره او هر یوه ته د مناسبي بدلې او سزا ورکولو لپاره یوه نېټه.
ب: د دې عالم ټولواك رب هغه ذات دئ چې ځیني شیان ئې مړه پیدا کړي او ځیني ژوندي، دا د دې لپاره چې معلومه شي کوم یو ئې په عمل کې تر بل ښه دئ او خپله دنده تر بل په ښه توګه تر سره کوي؟ په دې عالم کې ټول موجود توکي، ژوندي دي که مړه، ووړ او لوی ئې، له یوه اتُم تر ستور لیکو، له ویروسه تر انسانه، هر یو ئې د ځانګړي کار او مقصد لپاره پیدا شوی، یوه دنده ورسپارل شوې، شته والي ئې دلته یوه تشه ډکه کړې؛ او په خپل کار چې ئې کومه نتیجه مرتب کېږي، په دې سره یوې اړتیا ته ځواب ویل کېږي او یو ضرورت رفع کېږي، یو ئې کاملاً محکوم او مقهور دئ؛ او په کامل انقیاد سره خپله دنده تر سره کوي، نه په خپل مأموریت کې یوه شېبه ځنډ او لټي کوي او نه یوه ذره سرغړاوی او عصیان، نه د خپلې وظېفې او دندي د انتخاب اختیار ورکړی شوی او نه له هغه مسیره د انحراف توان چې ورته ټاکل شوی. خو بل ئې نسبي آزادي لري، د انتخاب اختیار ورکړی شوی، کولی شي له دوو لارو یوه غوره کړي، دا اختیار لري چې په دوو کې یو بدیل انتخاب کړي. ټولواك رب دا دواړه پیدا کړي او د پیدایښت هدف ئې دا دئ چې یو تر بل غوره عمل وکړي.

د دې آیت په الفاظو کې د پورتنیو دواړو تعبیرونو لپاره مجال شته خو دوهم تعبیر په خو دلائلو ارجح دئ:

لومړی: (مرګ) او (ژوند) داسې څه نه دي چې په مستقله توګه او له (ژوندیو او مړو اجسامو) پرته شتون ولري، مرګ او ژوند په ژوندیو او مړو شیانو پورې تړلي حالتونه دي، له دوی سره یو ځای مطرح دي، د مرګ او ژوند پیدایښت له دې پرته په بله معنی نه شو اخیستی چې الله تعالی مړه او ژوندي شیان پیدا کړي.

دوهم: له (حیاة) مخکې د (موت) یادونه ښیي چې هدف ترې مړه او ژوندي شیان دي، که داسې نه وی نو لومړی به د ژوند او بیا به د مرګ یادونه کېده.

دریم: که ووایو چې (مرګ) د ابتلاء او آزمېښت لپاره پیدا شوی دا تعبیر په دې دلیل صحیح نه دئ چې په حقیقت کې (مرګ) د آزمېښت او ابتلاء پای دئ، په مرګ سره د انسان د آزموینې مرحله پای ته رسېږي، خو دا تعبیر چې الله تعالی (اموات) او (احیاء) پیدا کړي چې معلومه شي کوم یو ئې ښه عمل کوي، دا یو واضح او څرګند مطلب افاده کوي.

څلورم: د آیت په پای کې د (عزیز) او (غفور) راتګ یوازې دغه تعبیر تأییدوي او له بل تعبیر سره اړخ نه لګوي، یعني هغه ټولواك رب چې د دې عالم هر څه، مړه او ژوندي ئې پیدا کړي او مړه توکې په بااحساسه او باشعوره ژوو بدلوي، بې له شکه چې ځواکمن او عزیز ذات دئ، که ئې ځینې مخلوقات کاملاً مقهور او محکوم پیدا کړي، دا د دې لپاره چې دی (عزیز) دئ او دا د ده د ځواکمنۍ او مطلقه قدرت نښه ده؛ او که ئې ځینې نور ژوندي پیدا کړي، نسبي آزادي او اختیار ئې ورکړی، دا هم د ده مطلقه قدرت څرګندوي، خو د دغو ژوندیو په اړه د ده معامله په غفران او بخښنې ولاړه ده، که دا ډله مخلوقات ونتوانېدل چې خپلې دندې او مأموریتونه د مخکینۍ ډلې په څېر په سمه توګه او له کوم قصور، نقص او خطأ پرته اداء کړي؛ او له دې لحاظه له مخکینۍ ډلې وروسته پاته او په آزموینې کې ناکام شول، (غفور) او بخښونکی رب ئې فوراً نه نیسي، بلکې مهلت ورکوي او بخښي ئې، که څه هم عزیز دئ او فوري مؤاخذه ورته آسانه.

٤-٣ په دې آیتونو کې چې الله تعالی د ټول عالم خالق معرفي شوی خو مهم مطالب مومو:

الف: هغه ذات چې د واکمنۍ مظاهر ئې په ټول عالم کې هري خوا ته ګورو، هماغه ذات دئ چې هم (مَلِك) دئ او هم (خالق)، هم ټولواك دئ او هم پیدا کوونکی، آسمان او زمکه د ده داسې مُلك چې په خپله ئې پیدا کړی. دا د آسمان اُوه ګونې پورونه ئې پیدا کړي؛ او چاري ئې په خپله د ده په واك کې دي.

ب: داسې ګمان مه کوئ چې د زمکې او آسمانونو له پیدا کولو او په عالم کې د سننو او

ضوابطو له وضع کولو وروسته ئې هر څه خپلې مخې ته پرېښي؛ اوس هر څه د همدې طبيعي سننو مطابق تر سره کېږي او الله تعالى هيڅ تصرف په کې نه کوي، نه؛ بلکې ستاسو باور بايد دا وي چې الله تعالى هم پيداکوونکى دئ او هم واکمن او ټولواك، د الله پر واکمنۍ ستاسو باور بايد د دې باور مکمِل او بشپړوونکى وي چې الله تعالى خالق دئ، بايد په دې باور وئ چې څه الله تعالى پيدا کړي واګي ئې هم د ده په اختيار کې دي.

ج: قرآن کله د زمکې برنې فضاء د آسمان په نامه يادوي او کله آسمان د ټول کائنات د چت او سقف په توګه يادوي، يعني آسمان هم د زمکې مربوط مدارونه او هم هغه اُوه ګوني طبقات دي چې دا ټول کائنات ئې احاطه کړي. له وروستي آيت په صراحت سره معلومېږي چې دلته له اوو آسمانونو مراد هغه اُوه طبقې دي چې يو لاندينى او زمکې ته تر ټولو نژدې ئې ټول سماوي اجرام په خپلې غېږې کې نيولي؛ او نور شپږ ئې تر دې بر او يو د بل د پاسه، خو قرآن فرمايي چې ټول سره ورته دي؛ او په خپلو کې ئې توپير او تفاوت نشته.

دا خبره د ډېر دقت او تأني وړ ده چې قرآن وايي: د عالم ټول مخلوقات د آسمانونو په شمول ورته والى لري؛ او په هيڅ ځاى کې ئې توپير او چاوډ نه شې موندلى!!

ساينسي تحقيقاتو ښودلې چې زمونږ له زمکې تر ټولو لرې ستورى او تر ټولو لرې ستور ليکى، په خپل جوړښت او د هغو ضوابطو له مخې چې پرې حکومت کوي، زمونږ زمکې او ستور ليکې ته ورته دي؛ او دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ، د قرآن له نزول څوارلس پېړۍ وروسته انسان په دې پوه شو چې د کائنات په هرې برخې کې د عالم په ټولو مخلوقاتو کې د توپير او تفاوت په ځاى يووالى او مطابقت شته، قرآن وايي چې الله تعالى اُوه زمکې او اُوه آسمانونه پيدا کړي، نن د علمي ژورو تحقيقاتو په ترڅ کې انسان ته معلومه شوې چې زمکه اُوه طبقې لري؛ او د زمکې په سر د زمکې مربوطه فضاء هم اُوه طبقې ده. انسانانو ته دا هم جوته شوې چې د اتم د مدارونو اعظمي شمېر هم اُوه دئ، له دې معلومېږي چې دا کائنات او مربوط ستوري او ستور ليکې (کهکشان) ئې يوه داسې مجموعه ده چې اُوه آسمانونه ورباندې راتاو دي. خو دا چې آيا ممکن ده انسان د خپلو څېړنو په نتيجه کې يو وخت په دې حقيقت هم پوه شي چې دا پراخ عالم يوه داسې مجموعه ده چې اوو آسمانونو احاطه کړې؟ بايد ووايو چې لا تر اوسه د دې حقيقت له درك ډېر ډېر لرې دئ.

د درېيم آيت د دې شطر (مَّا تَرَىٰ فِي خَلْقِ ٱلرَّحْمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٍۖ...) په اړه څو تعبيرونه مومو:

لومړی: د الله تعالی په مخلوقاتو کې نه (تفاوت: توپیر) موندی شو او نه (فطور: چاود او ترخ)، په مخلوقاتو کې تفاوت نه شو موندی یعني داسې څه نه شو لیدی چې وښیي دا د کوم ښې لاس دئ، پیدا کوونکی ئې ښې دئ، د پیدایښت ماده ئې ښکله ده، له نورو په خپل جوړښت کې ژور ښلوالی لري؛ او فطور یعني تشه، خلاء، نقص او کمی، یعني دا چې په عالم کې کوم تش ځای، کوم کمی، د یوه داسې ضروري شي نشتوالی چې د نقص باعث شوی، که هرځومره په دې پراخ او بې انتهاء عالم کې د کوم عیب او نقص د موندلو لپاره لټه وکړو، هري خوا ته سترګې وغړوو، د دې تکل وکړو چې کوم (تفاوت) او (فطور) ومومو، خپلې سترګې دومره یوې خوا بلې خوا ته وغړوو چې سترې او ستومانه ښرته راوګرځي، هیڅکله به نه کوم تفاوت وموندی شي او نه فطور، خپل مراد ته وښه نه رسېږي او لټه به ئې بې حاصله وي.

دا آیت ښیي چې زمونږ کائنات یوه داسې متحده مجموعه ده چې ټول اجزاء ئې یو له بل سره دقیقه رابطه لري، د یوه شته والی د بل د بقاء سبب دئ، هیڅ بېهوده او بې هدفه شئ په دې پراخ عالم کې نه موندل کېږي، هر څه سم او دقیق پیدا شوي، د هر څه موجودیت یوه خلأ او تشه ډکوي؛ او یوه ضرورت ته ځواب وایي؛ او نشتوالی ئې د یوې تشي او خلأ سبب کېږي، هیڅ داسې څه نه شې موندلی چې وښیي پیدایښت ئې د ښې لاس او د ښلي منصوبې نتیجه او وي؛ او داسې پیدا شوی وي چې د عالم له نورو توکو سره توپیر ولري. د دې ستري او مهمي ادعاء په اهمیت او پراخو ابعادو ئې هغه وخت ښه پوهېدی شو چې د مخلوقاتو د پیدایښت اصل ته ځیر شو، له دې ظاهري توپیرونو لږ مخکې ولاړ شو، د هر څه د جوړښت بنسټ او بنیاد ته پام وکړو، نن د طبیعي علومو پوهانو ته معلومه شوې چې د عالم دا ښې ښې او رنګ رنګ توکي یوازي په ظاهر کې یو له بله توپیر لري، په اصل کې ټول له یوه شي پیدا شوي، که د مالیکولونو او د هغوی د ترکیب په حد کې توپیر لري، د اتم او له اتم مخکې حد کې کاملاً سره ورته دي، په حقیقت کې یو شئ، د یوې منصوبې له مخې، په مختلفو شکلونو کې جوړ شوی.

دوهم- ځینو نورو مفسرینو (تفاوت) د تضاد او عیب په معنی اخیستی او دا آیت داسې ترجمه کوي: د الله تعالی په مخلوقاتو کې تضاد او عیب نه شې موندلی. په دې تعبیر کې څو اشکالونه شته:

١- د تفاوت لفظ په اصل کې نه د تضاد په معنی دئ او نه د عیب په معنی.

٢- که د دغه تعبیر له مخې ووایو چې په مخلوقاتو کې توپیر او تفاوت نشته، دا تعبیر له واقع سره سمون نه خوري، عملاً توپیرونه تر سترګو کېږي؛ او که ووایو چې د الله تعالی په

مخلوقاتو کې تضاد او عیب نشته دا یو ګونګ تعبیر دئ، په پیدایښت کې د تضاد نشتوالی واضح او روښانه مفهوم نه لري، پر دې برسېره موږ د الله تعالی مخلوقات ګورو نه د دوی پیدایښت، موږ خو دا ګورو چې دانه د زمکې له زړه د بوټي په څېر راوټوکېږي؛ او نیالګی تړې جوړ شي، خو زموږ سترګي دا توان نه لري چې د بوټي د راټوکېدو او له خاورې د نیالګي د جوړېدو څرنګوالی په خپله وګوري!!

د همدې لپاره د دې آیت دقیق تعبیر هماغه لومړنی تعبیر دئ، په دې معنی چې د الله تعالی په مخلوقاتو کې له دې پلوه توپیر او تفاوت نه شې موندلی چې یو ئې د یوه پیدا کوونکي د لاس او بل ئې د بېل پیدا کوونکي د لاس زېږنده او ومومې، داسې نه ده چې د دوی په پیدایښت کې بېلابېلې منصوبې کارول شوې وي.

وَلَقَدۡ زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِمَصَٰبِيحَ وَجَعَلۡنَٰهَا رُجُومًا لِّلشَّيَٰطِينِۖ وَأَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابَ ٱلسَّعِيرِ ۝٥ وَلِلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ۝٦ إِذَآ أُلۡقُواْ فِيهَا سَمِعُواْ لَهَا شَهِيقًا وَهِيَ تَفُورُ ۝٧ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۖ كُلَّمَآ أُلۡقِيَ فِيهَا فَوۡجٞ سَأَلَهُمۡ خَزَنَتُهَآ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَذِيرٞ ۝٨ قَالُواْ بَلَىٰ قَدۡ جَآءَنَا نَذِيرٞ فَكَذَّبۡنَا وَقُلۡنَا مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ كَبِيرٖ ۝٩ وَقَالُواْ لَوۡ كُنَّا نَسۡمَعُ أَوۡ نَعۡقِلُ مَا كُنَّا فِيٓ أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ۝١٠ فَٱعۡتَرَفُواْ بِذَنۢبِهِمۡ فَسُحۡقٗا لِّأَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ۝١١

۵- او بې شکه چې آسمان د دې نړۍ مو ښایسته کړلو په رونو څراغونو او کړل مو (وسیله) د شیطانانو د رټلو؛ او دوی ته مو تیار کړلو د سرو لمبو عذاب. ٦- او هغوی ته چې کافر شول په خپل رب، عذاب د جهنم دئ او دا ورګرځېدا څومره بدمرغه! ۷- چې کله په کې ګوزار شي، له هغه به غضبناکه چیغه واوري او هغه به شور او ځوږ کړي. ۸- نژدې به وي چې وچوي له غیظه، چې کله کوم لښکر په کې ګوزار شي، ساتونکي به ئې پوښتي: ستاسو خوا ته کوم نذیر نه وو راغلی؟! ۹- وایي به چې هو! یو نذیر خو وو راغلی، خو موږ هغه تکذیب کړ او دا مو وویل چې نه الله څه نازل کړي؛ او نه تاسو یئ له سترې ګمراهۍ پرته بل څه کې. ۱۰- او وایي به: که غوږ مو وی نیولی او تعقل مو وی کړی، په ټولګي د دوزخیانو کې به نه وو. ۱۱- نو په خپلو

گناهونو به اقرار شي، نو نفرين د دوزخيانو دې ټولګي ته.

۵- د دې مبارك آيت څو مهم مطالب د توجه وړ دي:

الف: تر ټولو نژدې آسمان، موږ او زمونږ زمکي ته تر ټولو نژدې آسمان، هغه دئ چې دا ټول تر سترګو کېدونکي ستوري ئې په خپلې غېږ کې نيولې، دا آيت ښيي چې دا ټول سماوي اجرام، چې د شپې په تياره کې د ځلاندو څراغونو په څېر ځلېږي، دا ټول د دنيا د آسمان په غېږ کې راغوند شوي، نور آسمانونه تر دې بر دي او يو تر بل پور ته!! دا آيت د مالك الملك رب د پراخ ملك عظمت او وسعت ښه توضيح کوي. که دا په ملياردونو ستور ليکي، چې هر يو ئې په ملياردونو شمسي منظومې لري؛ او هر يو ئې دومره پراخ دئ چې له يوې ژې ئې تر بلې پورې د ملياردونو نوري کلونو واټن دئ، دا ټول تر لومړي آسمان رالاندې دي؛ او نور آسمانونه تر دې بر او يو پر بل راتاو دي، د کائنات د پراخولې او عظمت د بيان لپاره تر دې غوره او دقيق بيان او الفاظ نه شو موندلی.

ب: دا ستوري چې په شپه کې راڅرګند شي او داسې برېښي لکه د لوړ چت ځلېدونکي قنديلونه، دا نه يوازې زمونږ آسمان ته ابهت او عظمت ورکوي او د ښايست او ښکلا ګاڼه ئې ده؛ او يو هدف ترې همدا ښکلا او ښايست ورکول دي، بلکې پر دې سر بېره له يوې خوا د حقپالو او حقيقت ټوونکو لپاره د هدايت روښانه مشعلونه دي او خپل ليدونکي د الله تعالی لورې ته هدايت کوي، له بلې خوا د شيطانانو د رټلو او شړلو وسيله ده؛ او دا په دوه معنی وو:

لومړی: هغه انتباه چې دا ځلانده او بې شمېره ستوري ئې ليدونکي ته ورکوي، د رب العالمين په اړه د ټولو شيطاني القاءاتو او وسوسو د دفع او طرد سبب کېږي، هغه باشعور او عقلمن انسان چې د دغو ځلاندو ستورو په لېدو سره ئې حقيقت موندلی، ځلاندو ستورو د الله تعالی په لوري هدايت کړی، د شياطينو له هجوم د دغو ستورو په مرسته خوندي شوی؛ او د هدايت دغو روښانه څراغونو د ده له مخې هغه شياطين شړلې چې د لاري په اوږدو کې يوه او بل اړخ ته په کمين کې ناست ول.

دوهم: کاهنانو به د خلکو د غولولو لپاره ويل: موږ ته د غيب له عالمه د پېريانو په لاس اطلاعات رارسي، دا پېريان کولی شي د آسمان تر کنارو ځان ورسوي، د ملائکو خبرې واوري، د راتلونکې زمانې له پېښو خبر شي؛ او موږ ته هغه څه ووايي چې د ملائکو تر منځ پرې خبرې کېږي، د دوی په مرسته موږ له غيبه خبرېږو او په دې توانېږو چې تاسو ته ووايو: څنګه راتلونکې درته انتظار کوي؟ له کوم حالت سره به په نژدې راتلونکي کې مخامخ شئ؟ په دې ترتيب به ئې د غيب ويلو دکان پرانيستو، ساده او کمعقله خلك به ئې په دام کې

واچول، په څو دروغجنو خبرو به ئې وغولول؛ او شکرانې به ئې تر لاسه کړې!! قرآن د دې لپاره چې د دغو ټګمارو غیب ویونکو دکانونه وتړي؛ او د دې خبیثي وني جړې غوڅې کړي، وئې فرمایل: دغو ځلاندو ستورو آسمان ته د شیطانانو د تلو لار بنده کړې، نه پرېږدي چې بر لاړ شي، د آسمان له اسرارو خبر شي؛ او راشي په زمکي کې خپل دوستان او ملګري خبر کړي.

د لومړۍ توجیه له مخې د دې آیت په پای کې له (عذاب السعیر) د دوزخ عذاب مراد دئ، خو د دوهمې توجیه له مخې د شهاب ثاقب لمبې مراد دي چې شیطانان پرې رټل کېږي.

که څه هم په قرآن کې داسې آیتونه شته چې د دوهم تعبیر په معنی دي؛ او دا مطلب افاده کوي چې شیطانان د شهاب ثاقب په ذریعه رټل کېږي؛ او دې ته نه پرېښودل کېږي چې آسمان ته ورنږدې شي، خو د دې لپاره چې د آیت په سر کې د ستورو لپاره مصابیح: څراغونو لفظ کارول شوی او ښیي چې دا ستوري د ځینو لیدونکو لپاره د لارې مشعل او څراغ په څېر دي، دوی ته په تیاره کې لار ښیي، نو دلته له (رجوماً للشیاطین) هم باید دې ته ورته مطلب مراد وي؛ او د شیطاني القاءاتو او وسوسو د دفع او طرد مطلب افاده کړي.

٦-٧: هغه چې په الله تعالی ایمان نه راوړي؛ او د عالم په پراخې غېږ کې دا بې شمېره نښې د دوی له هدایت او لارښوونې عاجز کېږي، د لرګیو او خسو په څېر د سوزولو وړ دي، د دوی لپاره مناسب ځای جهنم دئ، نه یوازې دا چې جهنم ورسره ښایي بلکې جهنم به هم پر دوی غصه وي، په خپلو غضبناکو چیغو او هیبتناکو لمبو سره به د دوی استقبال کوي.

٨- جهنم به په داسې غضبناك حالت کې دوی په خپلو لمبو کې منې چې له ډېر قهر او غصې به نژدې وي وچوي، د جهنم پهره داران او ساتونکي به هم له هرې دوزخې ډلې چې یوه په بلې پسې به ورځي، په حیرت سره پوښتنه کوي: آیا کوم نذیر نه وو درغلی؟ چا د کفر له دې بدې پایلې نه وئ خبر کړي؟

٩-١١: دوزخیان به په خپلې ګناه اعتراف کوي او د ساتونکو فرشتو په ځواب کې به وایي:

الف: هو؛ نذیر او خبرداری راکوونکی راغلی وو.

ب: خو موږ عمداً او قصداً تکذیب کړ.

ج: ورته ومو ویل: الله نه کوم پیغمبر رالېږلی، نه وحي، نه لارښود او لارښوونه.

د: تاسو دروغ وایئ، لار مو ورکه کړې، غلط شوي یئ چې زموږ په وضعیت اعتراض کوئ او پایله ئې خطرناکه ګڼئ.

هـ: که موږ د دغو زړه سواندو بلونکو او دعوتګرانو خبرې اوریدلې وی، خپل عقل مو

کارولی وی؛ او د هدایت د مصابیحو په رڼا کې مو د حقیقت د موندلو تکل کړی وی، نو اوس به د دوزخیانو په ډله کې نه وو.

د دوزخیانو دا اعتراف چې موږ خپل عقل نه وو کارولی، په ډېر وضاحت سره ښیي چې په مخکینیو آیتونو کې هرو مرو داسې څه ته اشاره شوې چې عقل هڅوي او د حقیقت په لوري د عقل لارښوونه کوي، د آسمان دا مصابیح، دا لارښود ځلانده ستوري همغه څه دي چې دوزخیانو ورته اعتناء نه وه کړې، په تعقل سره ئې د هغوی په اړه غور نه وو کړی، نن او د دوزخ له لیدو وروسته اعتراف کوي چې که پرون مو دا تعقل کړی وی نو له دې حالت سره به نه مخامخ کېدو.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ ١٢ وَأَسِرُّواْ قَوۡلَكُمۡ أَوِ ٱجۡهَرُواْ بِهِۦٓۖ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١٣ أَلَا يَعۡلَمُ مَنۡ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ ١٤

١٢- بې شکه، هغه خلك چې وېرېږي له خپل رب په پټه، بخښنه به وي دوی ته او ستر اجر. ١٣- که وینا مو یا کړئ پټه یا څرګنده، بې شکه هغه پوه دئ د سینو په ټولو شته وو.١٤- آیا چا چې (مخلوقات دي) پیدا کړي، نه به (پرې) پوهېږي؟! حال دا چې دی لطیف دئ؛ ښه باخبر.

١٢- د دې آیت لپاره دوه تفسیرونه مومو:

الف: هغه چې له خپل رب وېرېږي، په داسې حال کې چې هغه ئې نه دئ لیدلی، دوی د بخښني او ستر اجر مستحق دي.

ب: چا چې د نورو له نظره پټ او په غیاب کې له الله تعالی د وېرې په سبب له ګناهونو ډډه کوله، د بخښني او ستر اجر وړ دئ.

دې ته په پام سره چې په مخکیني آیت کې د دوزخیانو دا اعتراف راغلی چې وایي: موږ په دنیا کې تعقل ونه کړ، نو ځکه نن د دوزخیانو په ډله کې یو، باید په دې آیت کې هغو کسانو ته اشاره شوې وي چې د مخکینۍ ډلې برعکس ئې خپل عقل کارولی او خپل رب ئې پېژندلی، که څه هم دوی الله تعالی په خپلو سترګو نه وو لیدلی، خو په خپل عقل سره ئې په عالم کې د خورو نښو په رڼا کې حقیقت موندلی او پر الله تعالی ئې ایمان راوړی؛ او د الله له وېرې ئې له ګناهونو ځان ساتلی. په دې دلیل لومړی تفسیر دقیق او غوره دئ.

١٣- الله تعالی غائب مه ګڼئ، نه تاسو له ده غائب یئ او نه هغه له تاسو، تل له تاسو

سره دئ، په هر ځای کې له تاسو سره دئ، ستاسو پټې او ښکاره خبرې اوري، ستاسو د سینو له اسرارو خبر دئ، هغه داسې واکمن دئ چې په خپل پراخ ملك کې ئې هیڅ څه له نظره پټ نه دي.

١٤- مګر کېدی شي د انسان عقل دا خبره ومني چې (خالق) دي د خپل (مخلوق) له اسرارو خبر نه وي؟! دا خبره له عقل سره سمون نه خوري چې (پیدا کوونکی) د خپلو (پیدا کړو شیانو) له حقیقت بې خبر وي!! چا چې ته پیدا کړی یې؛ او ستا ټول استعدادونه، ځواکونه، مشاعر او عواطف د ده عطیه او ودیعه ده، هغه به خو ستا د سینې له اسرارو خبر وي او ستا د سوکه او جګ غږ وینا به اوري.

دا خبره هم د انسان له عقل سره اړخ نه لګوي چې (پیدا کوونکی) دي خپل (پیدا کړي شیان) مهمل پرېږدي او له پیداکولو وروسته دي هیڅ اعتناء ورته ونه کړي، مګر کېدی شي څوك کوم څه جوړ کړي خو بیا ئې ساتنه او څارنه ونه کړي؟

الله تعالی نه یوازې پیدا کوونکی او خالق دئ او ځکه به نو د خپلو مخلوقاتو له اسرارو خبر وي، بلکې هغه (لطیف) او (خبیر) هم دئ، له دقیقو اسرارو خبر دئ، نه ماضي ترې پټ دئ او نه مستقبل، د هغه چا په څېر نه دئ چې حجابونه، پردې او دېوالونه ئې د نفوذ، تېرېدو او لیدو مخه نیسي؛ او د پردو تر شا اسرارو باندې پوهېدا ورته ګرانه کوي. په اسرارو د پوهېدو په ارتباط د لطیف صفت یادول څه معنی لري، په دې پوهېدل لږ دقت غواړي، مور په مخلوقاتو کې دوه حالته ګورو: (لطافت) او (کثافت)، یو د بل مقابل کې، لطیف توکي داسې مومو چې د کثیف توکیو په نسبت د زمان او مکان له قیده نسبتاً آزاد وي او له پردو او حجابونو تېرېدا ورته نسبتاً آسانه وي، نور او حرارت ئې کولی شي په سرعت له شیشې تېر شي خو هوا نه شي تېرېدی؛ اوبه د بخار په حالت کې کولی شي له ډېر واړه سوري تېري شي، خو کله چې د مائع او انجماد په حالت کې وي نو تېرېدل ورته ګران شي، هر څومره چې د طبیعت توکي او اشیاء د تکاثف او تراکم له حالته د لطافت حالت ته تغییر مومي، له حجابونو او پردو نفوذ ورته تر مخکې آسانه شي، ساینس وایي چې کله ماده په انرژي بدله شي لایتناهي شي، د مکان او زمان له قیده آزاده شي او د هر ځای شي؛ او هیڅ څه ئې مخي ته نه شي خنډ کېدی.

د دې آیت لپاره یوه بله ترجمه هم شوې او هغه دا چې: آیا هغه څه به نه پېژني چې پیدا کړي ئې دي؟ که څه هم دا ژباړه له مخکینۍ د مفهوم او مقصد له مخي څه خاص توپیر نه لري خو په دې کې (من) د (ما) په معنی اخیستل شوی او (من خلق) د دې په ځای چې داسې ترجمه شي: (هغه ذات چې پیدا کړي ئې دي)، داسې ترجمه شوی (هغه

څه چې پيدا ئې کړل)، حال دا چې په مخکينۍ ترجمه کې (من) او (ما) په خپله اصلي معنی کې نيول شوي.

ګمان مه کوئ چې دلته په هر څه د الله تعالی علم او په ټولو پټو او ښکاره خبرو پوهېدا؛ او د الله تعالی د لطيف او خبير صفات يوازې د دې لپاره ذکر شوي چې مخاطب ته ووايي: ته د الله تعالی تر دقيق او دائمي مراقبت او څارنې لاندې يې، هيڅ پټ او ښکاره عمل دې ترې پټ نه دئ، له هر څه دې دقيقاً خبر دئ؛ او سزا به ئې درکوي، بلکې پر دې سربېره يو بل اساسي او مهم مطلب بيانول ترې مراد دئ او هغه دا چې مخاطب په دې پوه کړي چې ته تل د خپل رحمان او مهربان رب د لطف او مرحمت تر نظر لاندې يې، مهمل دې نه پرېږدي؛ او يوه شېبه دې له خپلې پام لرنې، رعايت او توجه نه محروموي. ستا د ژوند خبرې، ټيټ او لوړ غږ دې اوري، ستا له اړتياوو خبر دئ، ستا د ژوند غوښتنو ته ځواب وايي؛ او ستا اړتياوې پوره کوي، تل د ده د لطف او رعايت تر وزر لاندې يې. له وروستيو آيتونو په صراحت سره معلومېږي چې دلته همدا مطلب مخاطب ته تفهيمول او د همدې باور القاء مراد ده.

هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ ذَلُولًا فَٱمْشُوا۟ فِى مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا۟ مِن رِّزْقِهِۦ ۖ وَإِلَيْهِ ٱلنُّشُورُ ﴿١٥﴾ ءَأَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا هِىَ تَمُورُ ﴿١٦﴾ أَمْ أَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ ﴿١٧﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿١٨﴾

١٥- دی خو هغه ذات دئ چې دا زمکه ئې کړه تاسو ته تابع، نو په اوږو ئې وګرځئ او د ده له روزۍ وخورئ؛ او بياپاڅون (له ګور) د ده په لور دئ.١٦- آيا خوندي يئ له هغه چې آسمان کې دئ، له دې چې په زمکې کې مو ښخ کړي چې ناڅاپه به بيا خوځي؟ ١٧- آيا خوندي يئ له هغه چې آسمان کې دئ، له دې چې تيږي ورووڼکې يوه سيلۍ درباندې راولې، هله به بيا پوه شئ چې څنګه دئ انذار مي؟ ١٨- او بې شکه چې تر دوی مخکينيو هم انکار وکړ، نو (وګوره چې) څنګه وو انکار مي؟

١٥- هغه ذات چې دا زمکه ئې ستاسو خدمت کې ګمارلې، درته رام، منقاد او مسخر شوې، داسې چې پر اوږو ئې ګرځئ؛ او هغه ذات چې دا زمکه ئې ستاسو د رزق او روزي د تأمين وسيله ګرځولې، هماغه ستاسو لطيف او خبير پالونکی رب دئ، هماغه چې ستاسو اړتياوو ته ځواب وايي او خپل دائمي رعايت او عنايت ئې ستاسو په حال شامل کړی.

د آيت د وروستي شطر (وَإِلَيۡهِ ٱلنُّشُورُ) په اړه د درنو مفسرينو تر منځ دوه رأيي مومو:

الف: په پای کې به له خپلو قبرونو راوځئ او د الله تعالی په لوري به درومئ.

ب: په زمکي کې نشور الله تعالی ته راجع کېږي، يعني هر څه چې د زمکي پر سر ګورئ چې راژوندي شي؛ او په زمکه خواره او منتشر شي، که دا دانه او مېوه ده، که بوټي او وني دي؛ او که حيوان او انسان دئ، ټول الله تعالی پيدا کړي، هر نشور د الله تعالی له لوري دئ.

که په ټول اړوند کلام کې د دې شطر موقعيت او له مخکې وروسته سره ئې ارتباط ته ځير شو، ډېر ژر په دې پوهېدی شو چې دوهمه توجيه هم دقيقه ده او هم له ټول کلام سره سمون خوري، هيڅ داسي دليل نشته چې په دې آيت کې نشور د مجدد بعثت په معنی ونيسو، مخصوصاً چې ګورو قرآن ډېر ځله د ژوندون او خوځښت په معنی کارولی، لکه چې فرمايي:

وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِبَاسٗا وَٱلنَّوۡمَ سُبَاتٗا وَجَعَلَ ٱلنَّهَارَ نُشُورٗا ﴿٤٧﴾ الفرقان

او دی هماغه ذات دئ چې شپه ئې درته پوښاك، خوب ئې دمه؛ او ورځ ئې د پاڅون او خوځښت مهال ګرځولې.

په دې تعبير د (١٥) آيت معنی داسي کېږي: هغه ذات چې زمکه ئې درته مسخر کړې، داسي چې تاسو ئې پر اوږو ګرځئ، هغه چې تاسو ته له زمکي روزي درکوي، هماغه ستاسو لطيف او خبير پالونکی رب دئ چې ستاسو او د زمکي پر سر د هر څه نشور ده ته راجع کېږي.

١٦- په دې مبارك آيت کې چې د قرآن يو بل علمي اعجاز زموږ مخې ته اېښودل شوی: څو اساسي مطالبو ته اشاره شوې:

الف: مګر ګمان کوئ دا آواره زمکه چې تاسو ته ئې پر خپلو اوږو ځای درکړی؛ او ستاسو د رزق او روزي د تأمين وسيله ده، همداسي به د تل لپاره ستاسو په خدمت کې وي او دا اوسنی حالت ئې تلپاته، مستمر او ثابت دئ او هيڅکله به تغيير په کې نه راځي؟ مګر له دې هيڅ وېره نه لرئ چې د عالم ټولواك رب له بره دا فرمان صادر کړي چې د زمکي دا آرام او ډاډمن حالت بدل کړي، داسي چې نه نور ستاسو په خدمت کې وي، نه تاسو پر خپلو اوږو يوسي؛ او نه رزق او روزي درکړي، بلکې برعکس ستاسو په هديرې بدله شي، تاسو تر خاورو لاندي کړي، سخته خوځېدا او لړزېدا ئې په خپلو سترګو وګورئ؟!! څه شي ډاډه کړي يئ؟ څه شي د داسي حالت له راتلو مطمئن کړي يئ؟ د دې کاذب ډاډ او

اطمئنان لپاره څه دليل لرئ؟

ب: په دې آيت کې خسف: د زمکې کښېناستل او ننوتل له (لړزېدا او خوځېدا) سره يو ځای ذکر شوی، د بيان اسلوب داسې دئ چې ښيي که د زمکې کومې برخې کې خسف رامنځته شي نو لړزېدا به ورپسې وي؛ او دا هماغه خبره ده چې ساينس ئې نن د زمکې د زلزلو د لاملونو په اړه کوي.

علمي تحقيقات ښيي چې د زلزلې يو اساسي سبب خسف دئ، وايي چې د زمکې منځنۍ برخه، د سختې تودوخې له کبله د خوټېدو په حالت کې ده او هر څه ئې ويلي او ذوب شوي دي، دا توده او ويلي برخه په کلک پوټکي چې کلکي ډبري ته ورته دئ، احاطه شوې، د زمکې پورتنۍ خاورينه برخه د همدې ډبرين پوټکي په ذريعه له منځنۍ برخې بېله شوې، کله چې دا ډبرين پوټکی د زمکې په کومې برخې کې، د برنې يا داخلي فشار او د نورو عواملو په نتيجه کې مات شي؛ او د زمکې هماغه برخه د مذاب او ويلي موادو د پاسه واقع شي، هلته زلزلې پيل شي.

کوم مطلب چې په دې آيت کې د خسف او زلزلې په اړه ويل شوی، يوازې په تېرې پېړۍ کې او له ژورو څېړنو او تحقيقاتو وروسته انسان ته معلوم شو.

١٧- آيا داسې ګمان کوئ چې د زمکې بادونه به تل همداسې نرم نرم او ملايم وي، تاسو ته په زړه پورې، هيڅکله به ستاسو د انتظار او زعم خلاف تبديلي په کې نه راځي؟ دا مو په خيال کې نه ګرځي چې د زمکې او آسمانونو مالك رب د دې نرم او ملايم باد په ځای داسې تونده سيلۍ درباندې راولېږي چې هر څه رانسکور کړي او تېرې درباندې ووروي او لوی لوی ښارونه مو د شګو تر غونډيو لاندې ښخ کړي؟! د دې خاطئ او غلطې انګېرنې لپاره څه دليل لرئ؟ څه شي ډاډه کړي يئ چې د زمکې او آسمانونو ټولواك رب به هيڅکله داسې پرېکړه نه کوي؟

په ١٥، ١٦ او ١٧ آيتونو کې دوه مطالب مزيد دقت غواړي:

الف: دا آيتونه د زمکې د تسخير څرنګوالی مزيد توضيح کوي، په ١٤ آيت کې دا مطلب په اختصار سره راغلی خو دلته ئې لا زيات وضاحت شوی، چې خلاصه ئې داسې ده: الله تعالی دا زمکه تاسو ته رام او مسخره کړې، داسې چې ستاسو ګامونه په خپلو اوږو قبلوي، نه په کې خوځېدا او لړزېدا چې ستاسو د وېرې او اضطراب باعث شي او نه خسف چې تاسو تر خاورو لاندې ښخ کړي او نه تونديو سيلۍ چې تېرې درباندې ووروي، بادونه ئې ملايم او روح پالونکي، خوځښت ئې داسې چې تاسو ئې احساسولی هم نه شئ، جاذبه ئې دومره چې تاسو ئې فشار نه شئ درک کولی، هوا ئې معتدله او په زړه پورې، نه ډېره ګرمه او

توده چې ژوند مو له ګواښ سره مخامخ کړي او نه دومره سړه چې تحمل ئې درته ګران وي، سطح ئې نرمه، د استفادې وړ او کر کښت ته تياره، نه د ډبري په څېر کلکه او نه د شګې او خټې په څېر چې خوځښت په کې ګران وي.

ب: ځينو درنو مفسرينو د(من في السماء) په ترکيب کې، د (من) کلمه الله تعالى ته راجع کوي او ځيني نور ئې ملائکو ته، لومړۍ ډله په دې عقېدې ده چې (من) د دې لپاره الله تعالى ته راجع ده چې د زمکې د خسف کېدو او د توندو سيليو امر الله تعالى صادروي نه فرشتې، دوهمه ډله په دې باور ده چې (من) په دې دليل فرشتو ته راجع دئ چې دوی د الهي فرامينو د اجراء دنده تر سره کوي، دوهمه ډله دا خبره د دې لپاره کوي چې وايي الله تعالى له (مکان) بې نياز دئ، که د لومړۍ ډلې توجيه صحيح وګڼو او (من) د الله تعالى په معنى واخلو نو په دې سره الله تعالى ته محدود مکان ثابتوو او آسمان ئې مکان ګڼو!! حال دا چې آسمان د الله تعالى مخلوق دئ، محدود دئ؛ او د الله تعالى مکان نه شي کېدی!!

د دې ډلې استدلال په ظاهر کې سم برېښي، خو په ډېرو دلائلو ضعيف دئ:

لومړی: دې ته ورته آيتونه په قرآن کې ډېر زيات راغلي چې د دې ډلې توجيه ئې له توضيح او تشريح عاجزه ده، هغه آيتونه چې داسې مطالب په کې راغلي لکه (ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ، (وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ، مَا يَكُونُ مِنْ نَجْوَى ثَلاثَةٍ إِلا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلا خَمْسَةٍ إِلا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلا أَدْنَى مِنْ ذَلِكَ وَلا أَكْثَرَ إِلا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا، وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلَكِنْ لا تُبْصِرُونَ ...) او امثال ئې، ټول ١٥ او ١٦ آيتونو ته ورته دي، که الله تعالى په استوى على العرش، معيت او قرب سره په کوم خاص مکان پورې نه محدودېږي؛ او په دې ډول آيتونو کې راغلي ضمائر له الله تعالى پرته بل چا ته نه راجع کوو، نو دا دليل د منلو وړ نه دئ چې که دلته (من) د الله تعالى په معنى واخلو نو په دې سره الله تعالى ته محدود مکان ثابتوو او آسمان ئې مکان ګڼو!!

دوهم: په دې آيتونو کې د بحث موضوع د الله تعالى لپاره د مکان د اثبات يا عدم اثبات موضوع نه ده؛ بلکې د دې غلطي انګېرنې تصحيح ئې د بحث موضوع ده چې ځيني د زمکې موجود وضعيت تلپاته ګڼي او ګمان کوي چې د زمکې اوسنى وضعيت او بدلونونه ئې طبيعي، ثابت او دائمي دي، تل به انسان ته مسخر او د ده په خدمت کې وي او هيڅکله به د انسان د خوښې خلاف تبديلي په کې نه راځي!! د دې آيتونو په ترڅ کې دې خلکو ته ويل شوي چې آيا د دې عالم هغه ټولواك مو هېر کړی چې هر څه ئې د ده د واکمنۍ تر عرش لاندي دي، آيا له دې نه وېرېږئ چې له بره د زمکې د خسف او د توندو

سيلیو د رالېږلو پرېکړه وکړي، په زمکه کې مو ښخ کړي او د شګو تر غونډیو لاندې مو دفن کړي!!؟

درېیم: مخکینې او وروستي آیتونه په څرګنده توګه ښیي چې په دغو دواړو آیتونو کې ضمیر الله تعالی ته راجع دئ نه فرشتو ته.

د آیت له دې فقرې (فستعلمون کیف نذیر: ژر به پوه شئ چې زما انذار او خبرداری ورکول څنګه دئ؟) معلومېږي چې دا انذار به ډېر ژر تحقق مومي؛ او په نژدې راتلونکي کې او تر قیامت مخکې به د زلزلو او توندو سیلیو شاهد وو، ښایي دا آیت د هغو احادیثو منشأ وي چې له قیامت نه مخکې د خسف، زلزلو او سیلیو خبر ورکوي.

۱۸- که د عالم د مشهود کتاب نښې او آیتونه ستاسو د لارښوونې لپاره کافي نه وي؛ او ستاسو کمزورې عقل د هغو اشارو له درک او پوهېدو عاجز دئ چې دا آیتونه او نښې ئې په جګ غږ اعلانوي، نو تاریخ ته رجوع وکړئ او د هغو امتونو بد برخلیك مطالعه کړئ چې دا حقائق ئې دروغ ګڼلي، وګورئ چې له کومو خطرناکو پایلو سره مخامخ شول. دوی زما آیتونه تکذیب کړل او زما له عذاب ئې انکار وکړ؛ او ما د دوی عملونه کرکجن او منکَر وګڼل او له منلو مې انکار وکړ، وګورئ چې زما د انکار پایله او عاقبت څنګه وو ؟!

(نکیر) په اصل کې (نکیږی) وو، هماغسې لکه (نذیر) چې په مخکیني آیت کې (نذیری) وو او نسبتي (یاء) په دواړو کې حذف شوې او د کلمې په پای کې کسره ئې په ځای راغلې؛ او مراد ئې یا دا دئ چې الله تعالی د دوی عملونه منکَر او کرکجن وګڼل، یا دا چې د دغو عملونو له قبلولو ئې انکار وکړ؛ او یا دا چې دوی ئې په داسې عذاب اخته کړل چې حالت او څېره ئې کاملاً وربدله کړه او له پېژندو ئې وایستله.

أَوَ لَمْ يَرَوْا۟ إِلَى ٱلطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَٰٓفَّٰتٍ وَيَقْبِضْنَ ۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا ٱلرَّحْمَٰنُ ۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍۭ بَصِيرٌ ﴿١٩﴾ أَمَّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى هُوَ جُندٌ لَّكُمْ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ ٱلرَّحْمَٰنِ ۚ إِنِ ٱلْكَٰفِرُونَ إِلَّا فِى غُرُورٍ ﴿٢٠﴾

۱۹- مګر نه ئې دي لیدلي؛ پورته له خپل سر دغه مرغان، چې کله خلاص وزري شي او کله ئې راغونډ کړي، نه ئې ساتي له رحمن خدای پرته بل څوك، بې شکه چې هغه خو نظر ساتی دئ پر هر څه.۲۰- له رحمن خدای پرته څوك دئ چې مو فوځ وي، ملاتړ مو وکړي؟ کافران فقط (پرېوتي) دي دوکې کي.

۱۹- چا دا مرغان داسې پیدا کړي چې په ډېره آسانۍ د زمکې له جاذبې ځان آزاد کړي او په

فضاء کې والوزي؟ چا د دوی وزرونو ته دا ځواك او توان ورکړی چې د خپلو نازکو نازکو بڼکو په مرسته د دوی د تنې دروند پېټی تر لرو لرو ځایونو انتقال کړي؟ مګر له رحمان خدای پرته داسي څوك مومئ چې د مرغانو په پیدایښت کې ئې څه ونډه وي؟ چا مرغانو ته دا ښایسته ښایسته رنګونه ورکړي؟ چا دا ښکلي او له نازکو بڼکو جوړ شوي وزرونه ورکړي؟ چا داسي پیدا کړي چې دوی کولی شي په دغو نازکو وزرو سره تېز او توند والوزي او لري لري فاصلې طی کړي؟ په عالم کې دا سنن چا اېښې چې مرغانو ته ئې الوت ممکن کړی؟ آیا له الله تعالی پرته بل څوك په نظر درځي؟

د دې مبارك آیت د وروستۍ فقرې په اړه دوه ټکي په پام کې ولرئ:

الف: (إنه بكل شی بصير: او بې شکه چې دی په هر څه بصیر دئ) یعني د هر څه مراقبت او څارنه کوي، لکه څنګه چې مرغانو ته په آسمان کې د الوتو توفیق ورکوي، حفاظت ئې کوي، د خپل رعایت تر نظر لاندي ئې ساتي، همدا راز هرڅه د ده تر رعایت او عنایت لاندي دي.

ب: له دې فقرې معلومېږي چې په ۱۳ او ۱٤ آیتونو کې هم له (علیم بذات الصدور) او له (لطیف خبیر) مراد دا دئ چې خپل مخاطب ته دا خبره وکړي: ته تل د خپل رحمان او مهربان رب د لطف او مرحمت تر نظر لاندي یې، مهمل دي نه پرېږدي؛ او یوه شېبه دي له خپلې پاملرنې، رعایت او توجه نه محروموي. ستا د زړه خبرې، ټیټ او لوړ غږ دي اوري، ستا له اړتیاوو خبر دئ، ستا د زړه غوښتنو ته ځواب وایي؛ او ستا اړتیاوي پوره کوي، تل د ده د لطف او رعایت تر وزر لاندي یې.

۲۰- د دې آیت د لومړۍ فقرې په شرح کې د مفسرینو څو رأیي زمور مخي ته راځي:

الف: هغه څوك دئ چې ستاسو فوځ او لښکر شي او د الله تعالی په مقابل کې مو مرسته وکړی شي؟

ب: دا ستاسو فوځونه او لښکري څه کاره دي چې د الله تعالی په وړاندي به ستاسو مرسته وکولی شي؟

دا دواړه رأیي په دې دلیل کمزورې دي چې اولاً د الفاظو دقیقه او اصلي معنی له پامه غورځول شوې او د (من دون الرحمن) استثناء داسي ترجمه شوې: د خدای په مقابل کې؛ چې قطعاً غیر دقیق ژباړه ده. او ثانیاً دا تعبیر له مخکینیو او وروستنیو آیتونو او د آیت له سیاق و سباق سره هیڅ سمون نه خوري.

ج: له الله تعالی پرته بل څوك داسي دئ چې ستاسو لښکر وي او مرسته مو وکړي؟

د دې درېیم تعبیر د صحت او سموالي لپاره دا دلائل لرو:

الف: د الفاظو دقيقه او محتاطانه معنى همدا ده.

ب: په ډېر وضاحت سره ګورو چې په مخکينيو او وروستنيو آيتونو کې د بحث موضوع د الله تعالى د رعايت او څارنې څرنګوالى بيانول دي، د آيتونو تر منځ يووالى او همغږي دا تقاضى کوي چې په دې آيت کې به هم د همدې موضوع په ارتباط خبره شوې وي، يعني لکه څنګه چې الله تعالى په آسمان کې د الوتونکو مرغانو ساتنه او حفاظت کوي او د الوتو توان او توفيق ئې د الله تعالى له لوري دئ، تاسو هم په خپل هر کار کې، د زمکې پر سر هر خوځښت کې، د رزق او روزې پيدا کولو هرې هڅې کې د الله تعالى د توفيق او مرستې مرهون يئ، له رحمان خداى پرته داسې څوک نه شئ موندلى چې دا توفيق درکړي او د يوه مطيع فوځ په څېر مو د کارونو په تر سره کولو کې مرسته وکړي.

څوک چې دا حقيقت نه مني او انکار کوي، په حقيقت کې دوکه شوى، دا غلط ګمان ئې په زړه او دماغ سيورى غوړولى چې د دوى ځواکونه، استعدادونه او وړتياوي د دوى ذاتي خصوصيات او ځانګړتياوي دي، په خپله ئې تر لاسه کړې؛ او د الله تعالى له لوري پېرزوينه او عنايت ئې نه ګڼي؛ او په دې باور نه لري چې د هر کار توفيق ئې د الله تعالى له لوري دئ!! دا غولېدلي کسان دې ته هم متوجه نه دي چې هر سهار ئې څوک له هغه خوبه راويښوي چې مرګ ته ورته دئ، دا څوک دئ چې په دې خوب سره ئې ده ته نشاط ورپه برخه کړ، د نورو کارونو لپاره ئې تيار کړى او د پرون ورځې مصرف شوى ځواك او توان ئې ورته جبران کړى؟ دې ته هم پام نه کوي چې د ده د وجود ډېرې برخې او ډېر مهم غړي په خپله او د ده له سيطرې او سلطې آزاد په خپل خپل کار بوخت دي، زړه، دماغ، اعصاب او د وجود سلول سلول ئې د فطري الهي منصوبې مطابق خپل خپل کار کوي، پرته له دې چې له انسان اجازه تر لاسه کړي، انسان هيڅ تسلط پرې نه لري، د خوب او ويښې سويچونه ئې هم په خپل لاس کې نه دي، د دې پرېکړه د انسان له اختيار او واکه بهر د ده دماغ کوي، که د انسان د غړيو هره برخه خپل کار متوقف کړي، نو انسان ئې د ببرته فعالولو توان نه لري او هيڅ داسې څوک نه شي موندلى چې په دې کار کې ئې مرسته وکولى شي. دې ته مو بايد پام وي چې دلته د لښکر او فوځ په ذکر کولو سره يوه ډېر ظريف ټکي ته اشاره شوې او هغه دا چې: که د الله تعالى مرسته نه وي نو انسان د هغو کارونو د تر سره کولو لپاره هم يوه لوى لښکر ته ضرورت لري چې اوس ئې د الله تعالى په حکم سره د ده د وجود دا ټول غړي ورته کوي!! کوم کار چې د انسان لپاره د ده سترګي هره شېبه کوي، يوه ډېره مجهزه سټوديو چې پرمختللې کامرې او مجرب عکاسان او فيلم جوړوونکي ولري نه شي ورته کولى. د ټول عمر ليدلې صحنې او مناظر ورته ثبتوي؛

او په حافظه کې ئې ورته ساتي، کومه شېبه چې وغواړي مخې ته ئې فوراً او له څه ځنډ پرته راحاضر کړي، شل دېرش کاله مخکې ئې يوه منظره ليدلې، يوه معمولي اشاره هغه منظره ورپه ياد کړي، هر څه ئې مخې ته راشي، انځور ئې، رنګونه ئې، غږونه ئې، يخه او توده هوا ئې، له دې منظرې چې هغه وخت ده ته کوم احساس پيدا شوی وو، دا ټول ئې د سترګو په وړاندې مجسم شي، پوهېږې چې که دا کار کوم عکاس درته کولی، نو هغه به څومره امکاناتو، وسائلو او همکارانو ته ضرورت درلود؟!! همدا راز دا ستاسو غوږونه هره ورځ دومره کار درته کوي چې ډېر کسان ئې له کولو عاجز دي، ته په خپل ژوند کې ډېر غږونه اورې، هر يو ئې پېژنې، له بله ئې توپير کولی شې، که يو څوک لس کاله وروسته په ټيلفون درته زنګ ووهي، د غږ په اورېدو سره ئې پېژنې، که دا کار دي په بل چا کولی، غږونه ئې درته ثبتولی؛ او د اورېدو په وخت کې ئې درته ويلی چې دا د چا غږ دئ، نو ماته ووايه چې د دې کار لپاره دي څومره کسانو او څومره وسائلو او امکاناتو ته ضرورت وو؟ ستا زړه ټول عمر لګيا وي، خوځېږي، درېږي او ستا د وجود ټولو برخو ته وينه رسوي؛ او بل هر غړی دې ته ورته دئ، دا ټول کارونه يو لوی لښکر نه شي درته کولی.

أَمَّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُۥ ۚ بَل لَّجُّوا۟ فِى عُتُوٍّ وَنُفُورٍ ﴿٢١﴾ أَفَمَن يَمْشِى مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِۦٓ أَهْدَىٰٓ أَمَّن يَمْشِى سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢٢﴾ قُلْ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۖ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٢٣﴾

٢١- هغه به څوک وي چې روزي درکړي، که دی خپله روزي وسپموي؟! بلکې دوی ټينګار کوي، سرکښۍ کې او په تېښتې کې (له حق).٢٢- آيا څوک چې پرمخ درومي سم روان دئ؛ او که هغه چې په سمه لار نېغ درومي؟ ٢٣- ووايه: دی هماغه ذات دئ چې تاسو ته ئې وده درکړه؛ او غوږ، سترګې او زړونه ئې درته جوړ کړل، ډېره لږه ده ستاسو مننه!!

٢١- که رحمان خدای خپله روزي درنه وسپموي، لمر ته امر وکړي چې نور خپله ځلا بنده کړه، مه زمکې ته رڼا ورکوه او مه تودوخه، آسمان ته ووايي چې نور نو مه باران وروه او مه واوره، بادونو ته امر وکړي چې نور مه خوځېږئ؛ او زمکې ته ووايي چې نور نو خپله دانه او مېوه مه راټوکوه، آيا داسي څوک مومئ چې ستاسو مرسته وکړي او روزي درکړي؟!

څومره لجوج او سرکښ دئ هغه څوك چې له دې حقیقت انکار کوي!! کافران په لجاجت سره د دې حقیقت له منلو سرکښي کوي او له حق تښتي.

۲۲- د دې آیت په اړه څو توجیه په تفاسیرو کې مومو:

الف: ځیني په دې باور دي چې په دې آیت کې بې ایمان انسان او لجوج او مغرور کافر له هغه چا سره تشبیه شوی چې پرمخی، په څلورو، یا په سینه پروت درومي، چې نه لار سمه لیدی شي، نه ځان سم سمبالوی شي، نه خنډونه او لوړي ژوري لیدی شي، نه سم او چټك گام اخیستی شي، خو مؤمنان له هغه چا سره تشبیه شوي چې په آواره، مستقیمه او صفا لار، په سرعت، قدرت او هوښیارۍ سره گام اخلي.

ب: ځیني نور وایي چې مراد له (مکباً علی وجهه: پر خپل مخ نسکور) دا دئ چې کافر د حیوان په څېر سر ښکته، پرته له دې چې سترگي وغړوي، هر څه ته په غور او دقت سره وگوري، پند او عبرت واخلي، مخکې درومي، لار ترې ورکه شي، په هر گام کې ئې پښه له مانع سره تصادم کوي او پر مخی پرېوځي.

ج: ځیني نور په دې عقیده دي چې مراد ئې د کافرانو دا حالت بیانول دي چې یوازي خپل ځان ته ئې پام وي، له بل هر څه غافل، نو ځکه د سمي لاري له پېژندو عاجز وي.

که دا آیت په مستقله توگه او له نورو آیتونو سره له ارتباط او تړاو پرته وڅېړل شي نو کولی شو چې مخکینۍ هره توجیه ومنو، خو دا تعبیرات له دې عاجز دي چې د دې آیت ارتباط له مخکینیو او وروستنیو آیتونو سره توضیح کړي، د دې آیت دقیق تفسیر دا دئ: ستاسو ټول استعدادونه الله تعالی درکړي، هر یو ئې د خاص کار لپاره، پښې د تگ لپاره، سترگي د لیدو لپاره، غوږونه د اورېدو لپاره؛ او... دا استعدادونه په هغه صورت کې ستاسو مرسته کولی شي چې په فطري او طبیعي توگه او همغسي چې الله تعالی مقرر کړي ترې کار واخیستی شي، خو که دا فطري الهي سنن مراعات نه شي، دا غړي د انسان مرسته نه شي کولی، دلته انسان ته ویل شوي: راشه وگوره چې دغو الهي سننو ته د پام نه کولو په سبب انسان له کوم عاقبت سره مخامخ کېږي!! وگوره چې له الهي سننو د سرغړاوي پایله څنگه ده؟ هغه څوك په پام کې ونیسه چې د پښو په ځای پر مخ پرېوتی درومي، د لوري له پېژندو او د لوړو او ژورو له لیدو عاجز وي، که غږونه اورېدی شي خو په دې پوهېدا ورته گرانه وي چې د غږ منبع او استقامت په کوم لوري دئ، ووایئ: دا به خپله لار سمه ومومي او هدف ته به سم ورسېږي که هغه چې په ولاړه، په مستقیمه لار؛ او په داسي حال کې چې پښې د تگ لپاره، سترگي د لیدو لپاره او غوږونه د اورېدو لپاره کاروي او له خپلو استعداونو د الهي سننو مطابق کار اخلي؟

دا تعبیر نه یوازې دقیق دئ بلکې په دې سره د دې او نورو آیتونو تر منځ ژور یووالی او همغږي راڅرګندوي؛ او دا مطلب افاده کوي چې که الله تعالی ستاسو مرسته ونه کړي، د کار توفیق درنه کړي، خپل رزق درنه وسپموي؛ او که هغه استعدادونه چې ده درکړي همغسي چې ده مقرر کړي ونه کارول شي، څوك داسي مومئ چې ستاسو مرسته وکړی شي، د کارونو توفیق درکړی شي، رزق او روزي درکړي او په سمه لار مو هدایت کړي؟

۲۳- ستاسو پیدا کوونکی الله تعالی دئ، هغه په دې بڼې کې پیدا کړي یئ، هغه سترګي، غوږونه او زړونه درکړي، ستاسو ټول استعدادونه د ده له لوري دي، ټول د ده په اراده ستاسو په خدمت کې ګمارل شوي، خو تاسو د دغو ټولو پېرزوینو او نعمتونو په وړاندي څومره ناشکره او بې پاسه یئ؟!!

قُلْ هُوَ ٱلَّذِى ذَرَأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٥﴾ قُلْ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٦﴾ فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيٓـَٔتْ وُجُوهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَقِيلَ هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تَدَّعُونَ ﴿٢٧﴾

۲۴- ووایه: دی خو هغه ذات دئ چې په زمکه ئې خواره کړئ؛ او ورغوند به کړی شئ ده ته. ۲۵- او وایي: نو دا وعده به کله وي، که تاسو وئ رښتیني؟ ۲۶- ووایه: دا علم خو یوازې له الله سره دئ؛ او زه خو له څرګند نذیره پرته بل څه نه یم. ۲۷- نو کله چې ئې وګوري نژدې، سپېره به شي مخونه د هغوی چې کافران شول؛ او به ویل شي: دا دئ هغه څه چې غوښتنه ئې کړه تاسو.

۲۴-۲۷: دا مبارك آیتونه چې د الله تعالی په لوري ورګرځېدا توضیح کوي؛ دا لارښوونې زمونږ مخې ته ږدي:

الف: تاسو هغه ذات پیدا کړي او په زمکې کې ئې خواره کړي یئ چې ستاسو رب دئ او بېرته ورګرځېدا مو د ده په لوري ده.

ب: هغه چې له قیامت، بیا ژوندون او د الله په لوري له ورګرځېدو منکر دي وایي: که د قیامت په اړه ستاسو وینا او ادعاء رښتیا وی نو ولې تر اوسه نه دئ راغلی؟ تل ځینې خلك راپورته شوي او د قیامت د راتلو خبره ئې کړې او مونږ ئې ترې وېرولې یو، خو تر اوسه د دوی خبره رښتیا نه شوه!! که ستاسو ادعاء رښتینې وي نو مونږ ته ووایئ چې کله

به راځي؟ د راتلو دقيقه نېټه ئې راوښيئ!! دوی د قيامت په راتلو کې ځنډ د دې دليل ګڼي چې قيامت نشته!!

ج: رسول الله صلى الله عليه و سلم مکلف شوی چې د دوی په ځواب کې ووايي: د قيامت اړوند علم او دا چې کله به راځي يوازې له الله تعالى سره دئ، له ده پرته هيڅوک پرې نه پوهېږي. زما دنده دا نه ده چې تاسو ته ووايم د قيامت د رارسېدو نېټه کومه ده، زما مأموريت فقط دا دئ چې تاسو ته د هغې ورځې له رارسېدو په ځرګندو او واضح الفاظو خبرداری درکړم.

د: کله چې د قيامت منکران، دا هيبتناکه ورځ، په ناڅاپي توګه؛ او د خپل انتظار او تصور خلاف، د رارسېدو په حال کې وګوري، داسې وېره به پرې راشي چې آثار به ئې د دوی په سپېرو او هيبت وهلو څېرو کې له ورايه برېښي. ورته وبه ويل شي: دا ده هغه ورځ چې تاسو ئې غوښتنه کوله، هماغه چې د پيغمبرانو عليهم السلام د خبرداري په ځواب کې به مو ويل: که دا ورځ رښتيا وي، ولې نه راځي؟ ولې ځنډېږي؟

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِىَ ٱللَّهُ وَمَن مَّعِىَ أَوْ رَحِمَنَا فَمَن يُجِيرُ ٱلْكَٰفِرِينَ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٨﴾ قُلْ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ءَامَنَّا بِهِۦ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٩﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَآءٍ مَّعِينٍ ﴿٣٠﴾

٢٨- ووايه: آيا پوهېږئ چې که الله ما او هغه چې له ما سره دي هلاک کړي يا پر موږ رحم وکړي، نو څوک به کافرانو ته له دردناک عذاب پناه ورکوي؟ ٢٩- ووايه: دی هماغه رحمان ذات دئ چې ايمان مو پرې راوړی؛ او توکل مو پرې کړی، ژر به پوه شئ چې څوک په څرګند ضلالت کې دئ؟ ٣٠- ووايه: آيا پوهېږئ چې که اوبه مو (په زمکه کې) ننوځي، نو څوک به رواني اوبه درته راولي؟

٢٨-٣٠: په دې مبارکو آيتونو کې څو ظريف نقاط زموږ توجه جلبوي:

الف: دا آيتونه بايد هغه وخت نازل شوي وي چې د پيغمبر عليه السلام د دعوت لمنه خوره شوې، د قريشو سردارانو ته دا احساس پيدا شوی چې دې تحريک د دوی اقتدار له جدي ګواښ سره مخامخ کړی، دا ټمنا ئې په زړه کې راولاړه شوې چې ای کاش پيغمبر عليه السلام او ملګري ئې هلاک شي او د دې پاڅون له شره وژغورل شو چې په قريشو کې ئې

اختلافات راولاړ کړي!! د دوی د دغې ټمنا او هیلې په ځواب کې الله تعالی فرمایي: دوی ته ووایه: که ستاسو دا ټمنا تر سره شي، الله تعالی ما او زما یاران هلاك کړي؛ او یا د دې ټمنا خلاف د خپل رحمت او پېرزویني سیوری پر مونږ وغوړوي، کافرانو ته به ئې څه ګټه ورسېږي؟ څوك به دوی د الله تعالی له عذاب ژغوري؟ په کار خو دا ده چې تاسو زمونږ د مرګ د ټمنا په ځای د خپلې ژغورنې او د کفر له بدو پایلو د نجات لاري ولټوئ!!

ب: مونږ په مهربان رب ایمان راوړی، په هغه مو توکل کړی، ستاسو د مخالفتونو پروا نه کوو، ستاسو د هغو هڅو په وړاندې الله تعالی ته پناه وړو چې زمونږ د ورکې او ختمولو لپاره مو پیل کړې، ځان مو الله تعالی ته سپارلی او هغه مو ځان ته وکیل او کفیل ګرځولی.

ج: ډېر ژر به تاسو ته معلومه شي چې چا سمه لار ورکه کړې وه او په ښکاره بې لاریتوب کې وو.

د: تاسو هغه رب ته رابلو چې د ټول عالم پالونکی او ټولواك دئ، ستاسو رزق او روزي د ده په واك کې ده، هماغه چې که اوبه، دا د ژوند اساسي تومنه، درنه وسپموي، په زمکې کې ئې ژوري ننباسي، داسي څوك به ونه مومئ چې ستاسو مرسته وکړی شي او رواني اوبه درته راولي.

هـ: لکه څنګه چې د سورې لومړی او وروستی آیت په ډېر صراحت سره د الله تعالی واکمني توضیح کوي، د دې مبارکې سورې آیتونه په همدې اساسي محور راڅرخي؛ او د الله تعالی د واکمنۍ څرنګوالی او پراخ ابعاد څېړي، چې خلاصه ئې دا ده: الله تعالی مالك او مَلِك دئ، مطلق ټولواك دئ، ستاسو د مرګ او ژوند واکمن دئ، دا بر اُوه آسمانونه ده پیدا کړي، حکم ئې د عالم په ګوټ ګوټ کې نافذ دئ، دا د دنیا (نږدې) آسمان ده په ځلاندو ستورو ښایسته کړی، چې ځینې پرې هدایت کوي؛ او ځینې پرې شړي او رټي، مکافات او مجازات د ده له لوري دي، د خپلو مخلوقاتو پالنه او ساتنه کوي، اړتیاوو ته ئې ځواب وایي، ضرورتونه ئې رفع کوي، د عالم هر څه د ده د څارنې؛ او رعایت تر نظر لاندې دي، زمکه ئې تاسو ته رام کړې، له همدې زمکې تاسو ته رزق او روزي درکوي، که هغه وغواړي نو دغه زمکه به ستاسو په هدیرې بدله شي او ټول به تر خاورو لاندې کړي، نرم نسیم او ملایم باد به ئې په توندو سیلیو واوړي، هر څه به دربادې رانسکور کړي او له لویو لویو ښارونو به د شګو سترې سترې غونډۍ جوړې کړي، لکه څنګه چې مرغانو ته د الوتو توفیق ورکوي او بر ئې په آسمان کې د الوتو په حالت کې ساتي، ستاسو ټولې هڅې او هلې ځلې د الهي توفیق نتیجه ده، که هغه خپل توفیق درنه وسپموي هیڅوك به داسي ونه مومئ چې ستاسو مرسته وکړی شي او د کوم کار د کولو توفیق مو په برخه کړي، ستاسو د

رزق او روزي مالك دئ، كه خپل رزق درنه وسپموي هيڅوك په دې نه شي توانېدى چې روزي دركړي او په پاى كې فرمايي: كه اوبه مو په زمكي كې ننوځي آيا داسي څوك مومئ چې رواني اوبه درته راولي؟

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

القلم

د سورې معرفي:

د دې سورې معروف نوم (القلم) دئ، د (نون) په نامه هم يادە شوې، دواړه نومونه له لومړي آيت اخيستل شوي،٥٢ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې جمعاً څلور ډوله دي، زياته برخه ئې د نون او يسطرون په څېر، يوه برخه ئې عظيم ته ورته صيغې، ځينې ئې مهتدين ته ورته او دوه ئې د مكظوم او مذموم په صيغو پاى ته رسېدلي، چې دا هم د غږ له پلوه نون ته ورته دي، په دې ترتيب ويلى شو چې په اصل كې د دې سورې آيتونه درې وزنه لري، د غږونو مد و جذر ئې ډېر زيات خوندور دئ. په مكي دور كې نازله شوې ده، له متنه ئې معلومولى شو چې د مكي دور په كومي مرحلې كې نازله شوې او پيغمبر عليه السلام او ياران ئې د دې سورې د نزول په وخت كې په څه وضعيت كې وو؛ او د دښمن معامله ورسره څنګه؟ دا سوره ښيي چې په دې وخت كې له يوې خوا د دښمن تبليغات د پيغمبر عليه السلام په ضد خپل اوج ته رسېدلي وو، له بلې خوا د قريشو ځينو مكارو او دوكه مارو سردارانو غوښتل چې د غولوونكو وړانديزونو له لارې پيغمبر عليه السلام له خپلې مبارزې منصرف او سازش ته ئې چمتو كړي، له بلې خوا پيغمبر عليه السلام خپل دعوت نه يوازې څرګند كړى بلكې تر بل هر وخت ئې تېز كړى، د دښمن خصومت او عداوت هم اوج ته رسېدلى، د دوى ژوره كينه په تريو تندي او قهرجنو سترګو كې څېې وهي، چې چېرې له پيغمبر عليه السلام سره مخامخ شي نو خپله غصه او كينه د تندي په ګونځو سره څرګندوي، كه څه هم د دښمن دا كركجن چلن ئې له خپلې لارې نه شي په شا كولى خو كله كله ئې په زړه كې دا راګرځي چې نور نو له دې ټولنې د خير طمع نه شي كېدى، بايد لاس ترې پرې منځي، د نورو خلكو په لټه كې شي، له دې ځايه چې له هر ور او دېوال ئې د كينې او كركې لمبې اوچتې دي، ووځي، بلې سيمې ته ولاړ شي؛ او د يونس عليه السلام په څېر دلته خپل دعوت ناتمام پرېږدي.

لکه څنګه چې دا سوره د (نون) په یوه توري پیل شوې، د بحث محوري موضوع ئې هم یوه ده؛ او د سورې ټول آیتونه په همدې یوې اساسي موضوع ترکیز او بحث کوي، سوره په دې موضوع ترکیز کوي چې د پیغمبر علیه السلام په ضد د دښمن عداوت، مخالفت؛ او شدید خصمانه تبلیغات د دوی له فکري او اخلاقي فساد راولاړ شوي، دښمن دروغجن دئ، سپك او ذلیل دئ، تل په دې تکل کې چې په ولس کې فتنې او شخړې راولاړې کړي، کرکې او نفرت ته ځن ووهي، په ګناهونو کې تر ستونې غرق دئ، ټهرې کوونکی، د خیر مانع، بداخلاقه او بدنامه دئ، د پیغمبر علیه السلام له دعوت سره د دوی دښمني له دغو خصلتونو خړوبه کېږي، د دوی په ظاهر مه دوکه کېږئ، د خبرو تر اغېز لاندې ئې مه ځئ، دې ته په پام سره چې ډېر مال او دولت لري، په دې جهل وهلې او شرك ځپلې ټولنې کې کاذب اعتبار او وجاهت لري، پلویان ئې زیات دي، خبره ئې اورېدل کېږي، منلي او مخور دي، داسې نه چې تر اغېز لاندې ئې راشې او دوی ته خاص اهمیت ورکړې؛ او وینا ته ئې اعتناء وکړې، دوی بې لارې دي، ډېر ژر به د دوی اصلي څېره، په ښایسته او ګران بیع جامو پټه کرغېړنه څېره ټولو ته بربنډه شي، خلك به پوه شي چې څوك بې لارې او لار ورکی دئ او څوك هدایت شوی. دا د شرك او کفر ځواکونه به ډېر ژر په زوال محکوم شي، له رسوایي سره به مخامخ شي، جاه او جلال، قدرت او وجاهت، حیثیت او اعتبار به ئې ختم شي، ډېر ژر او د خپل انتظار خلاف به وګوري چې هر څه ئې له لاسه ورکړي، د جاه او جلال په درمند ئې اور ګډ شوی او سپېرې ایرې تري پاته شوې.

د دوی د حالت او پایلې د ښه انځورولو لپاره د هغې کورنۍ قصه زموږ مخې ته ږدي چې سمسور باغ ئې درلود، خو بې عاطفې او بخیل ول، کله چې د دوی باغ په حاصل راغی؛ او مېوه ئې د ټولېدو شوه، د دې لپاره چې کوم مسکین د بڼ مخې ته ونه درېږي او له دوی څه ونه غواړي، پرېکړه ئې وکړه چې تر سحر مخکې په تیاره کې او مخکې له دې چې خلك له خوبه راویښ شي، باغ ته لاړ شي، مېوه راغونډه کړي، پټه ئې کور ته انتقال کړي او په دې ترتیب د مسکینانو له شره خوندي پاته شي، له سباوونه مخکې ئې یوه بل له خوبه راویښ کړ، د باغ په لوري وخوځېدل، ګامونه ئې سوکه او په احتیاط اخیستل، په ټیټ غږ به ئې خبرې سره کولې، هڅه ئې دا وه چې څوك ئې غږ وانه وري، ورته متوجه نه شي؛ او د مېوو د راغونډولو په وخت کې ئې مزاحم نه شي، په دې هیله چې پنډي ډکې کور ته راوړي، پرته له دې چې څه ترې کم شي او چا ته څه ترې ورکړي، هر څه کور ته یوسي، د باغ سیمې ته راورسېدل، ناڅاپه ئې د باغ زمکه داسې ومونده چې ګمان ئې وکړ لار ئې غلطه کړې، د بل چا د باغ په وړاندې ودرېدلې، د دوی باغ خو سمسور او ګڼ وو او وني

ئې له مېوو ډکې، دا خو سوزېدلې زمکه ده، وڼې ئې سوزېدلې او پر زمکه پرتې، حتماً مو اشتباه کړې!! نه؛ دا همغه باغ دئ، باغ ته په رسېدو کې مو اشتباه نه ده کړې، په خپل قصد او غرض کې مو اشتباه کړې، دا همغه باغ دئ چې ستاسو بد نیت سوزولی!!

د قریشو مغرورو او بدنیتو سردارانو! په دې پوه شئ چې په دنیا کې د الله تعالی عذاب داسې دئ او په آخرت کې تر دې ستر، کاش پوهېدئ!!

آیا تاسو داسې انګېرلې چې الله تعالی به له مسلمان او غیرمسلمان؛ او له صالح او مجرم سره ورته معامله کوي؟ آیا ګمان کوئ چې د مسلمانانو هلي ځلي به بې ثمره او قربانۍ به ئې ضائع کړي؟ د دې خاطئ تصور او غلط قضاوت لپاره څه دلیل لرئ؟ آیا دا مو په کتاب کې لوستلي چې څه تاسو وغواړئ تر لاسه به ئې کړئ؟ آیا له الله تعالی مو کومه داسې دائمي او نه بدلېدونکې ژمنه تر لاسه کړې چې ستاسو هره پرېکړه او غوښتنه به تر سره کېږي؟ او همغه څه به کېږي چې تاسو ئې غواړئ؟ ستاسو کوم یوه دا خبره په خپلې ذمې اخیستې او د دې ژمنې وکیل او ضامن دئ؟ مګر تاسو بېل خدایان لرئ چې له الله تعالی سره په الوهیت او ربوبیت کې شریك دي، ستاسو مرسته کولی شي او ستاسو هیلې پوره کولی شي؟ مطمئن اوسئ چې هغه ورځ خامخا راتلونکې ده چې ستاسو طغیان اوسرکښۍ ته به د پای ټکی کېږدي، له تسلیمېدو پرته به بله چاره نه لرئ، خو هغه ورځ به ډېر ناوخته وي او ستاسو سجده او انقیاد به ګټه نه شي دررسولی.

پیغمبر علیه السلام ته توصیه کوي چې هغو خلکو ته هیڅ اهمیت مه ورکوه او پروا ئې مه کوه چې په دغو حقائقو باور نه لري، د هغوی کار الله تعالی ته پرېږده، چې داسې ئې محو او نیست کړي چې د دوی په خیال کې هم نه ګرځي. مګر تا کومه داسې بدله او اجر ترې غوښتی چې دوی ئې ځان ته دروند پېټی ګڼي؟ ستا اجر خو د الله تعالی په ذمه دئ. آیا دوی له غیبه مطلع شوي؛ او اطلاع ئې هم ډېره دقیقه؛ او په کوم کتاب کې درج شوې؟ او د همدغې اطلاع له مخې وایي چې ستا کار او تکل به بې حاصله پاته شي؛ او هیڅ نتیجه به پرې مرتب نه شي!! دوی له خپلو غلطو انګېرنو سره پرېږده، تر هغې نېټې چې الله تعالی خپله وروستۍ پرېکړه صادره کړي، صابر او ثابت قدم اوسه، داسې نه چې د یونس علیه السلام په څېر ستومانه شې، د دعوت له راتلونکې او د خلکو له ملګرتیا مأیوس شې؛ او مبارزه ناتمامه پرېږدي، ته خو نه خبر یې چې هغه په دې کار سره د ماهي په کومې کې پرېووت؛ او که د الله تعالی پېرزوینه ئې نه وی په برخه شوې، یا به تل تر تله د ماهي په نس کې پاته شوی وو او یا د دریاب په ژیۍ کې پرېوتی او د ملامتیا او مذمت وړ.

د سورې په تتمه کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د مشرکو مخاطبینو هغه غیظ

او غصه په ډېره اغېزمنه توګه انځور شوې چې د قرآن د اورېدو په وخت کې ئې په تندي او سترګو کې راڅرګندېده، فرمايي: کله چې کافران له تا قرآن اوري په داسې غضبناکو او قهرجنو سترګو درته ګوري چې نژدې ده تا له ځايه وخوځوي، نژدې ده تا له خپلې مبارزې لاس اخيستو ته اړ کړي!! وايي: دا خو هسې لېونی شوی، حال دا چې ته دوی هغه قرآن ته رابلې چې ټولو عالميانو ته نصيحت او پند دئ.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

نٓ وَٱلْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ ۝١ مَآ أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ ۝٢ وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ ۝٣ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ۝٤ فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُونَ ۝٥ بِأَييِّكُمُ ٱلْمَفْتُونُ ۝٦ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ۝٧

١- نون؛ قسم په قلم او څه چې دوی ئې ليکي. ٢- د خپل رب د پېرزويني په سبب لېونی نه يې. ٣- او يقيناً چې خامخا تا ته دئ اجر، نه غوڅېدونکی. ٤- او بې شکه چې ته يې په سترو سترو خصلتونو. ٥- نو ژر به ئې هم ته ګورې او هم دوی ګوري، ٦- چې ستاسو کومې ډلې کې مجنون دئ. ٧- بې شکه چې ستا رب دئ ډېر ښه پوه، په حال د هغه چا چې له لاري ئې تېروتی او ښه پوه دئ په (هغوی چې) مهتدين دي.

١- دا د قرآن کريم يوه بله سوره ده چې د مقطعاتو په حروفو پيل شوې، د دې حروفو په اړه د بقرې په سوره کې تفصيلي بحث شوی، لکه څنګه چې دا سوره په يوه حرف (نون) پيل شوې، د سورې د بحث اساسي او محوري موضوع هم يوه ده، ټول آيتونه ئې په همدې يوې اساسي موضوع ترکيز کوي، د بحث اساسي موضوع ئې هماغه ده چې په لومړي او دوهم آيت کې ئې خلاصه او په پاتو آيتونو کې ئې شرح او تفصيل راغلی او د سورې په وروستي آيت کې د بحث د نتيجې په توګه زمونږ مخې ته اېښودل شوې. د بحث موضوع د هغو تبليغاتو شنډول دي چې دښمن د پيغمبر عليه السلام په خلاف پيل کړي وو، د دوی خصمانه تبليغات هغې پورې ته رسېدلي وو چې د پيغمبر عليه السلام په اړه به ئې ويل: دا هسې په جنون او لېونتوب اخته شوی.

د دې مبارکې سورې په لومړي آيت کې په قلم او هغه څه چې دوی ئې ليکي لوړه شوې

او ورپسې پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې ته د خپل رب د پېرزویني له کبله مجنون نه یې:

له دې د مخه چې دلته د قسم او ځواب تر منځ ئې په ارتباط پوه شو او دا توضیح کړو چې څنګه (قلم) او (هغه څه چې دوی ئې لیکي) په دې خبرې شهادت ورکوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم لکه څنګه چې د ده دښمنان وایي مجنون نه دئ، باید څو خبرو ته پام وکړو:

قریشو هغه وخت د رسول الله صلی الله علیه و سلم په خلاف ناروا او ظالمانه تبلیغات پیل کړل چې ده قرآن ته راوبلل، تر دې وړاندې ئې هغه ته په ډېره درنه سترګه کتل، د ده راتلونکې او د ده له کبله ئې د ټول قوم راتلونکې ډېره روښانه ګڼله، د هر چا دا طمع وه چې دی به ستر لارښود او د ولس ناجي وي، خو کله چې دی په پیغمبرۍ مبعوث شو، په ټولني کې په خور فساد، ظلم، شرك او جهل ئې اعتراض وکړ او خلك ئې د یوه الله بندګۍ ته راوبلل، له ده سره مخالفتونه پیل شول؛ او دښمنان ئې په عداوت او عناد کې هومره مخکې ولاړل چې دی ئې په جنون او لېونتوب متهم کړ!!

په دوهم آیت کې دغې خبرې ته اشاره شوې او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په خطاب کې ویل شوي: ستا رب تا ته خپل ستر نعمت پېرزو کړ او دا قرآن چې د الله لوی نعمت دئ تا ته درکړی شو؛ اوس د دغه نعمت له کبله ستا دښمنان تا ته مجنون وایي، دا خو نه ښایي چې قرآن ته د بلنې او دعوت په خاطر تا ته مجنون وویلی شي.

د دغو خبرو له توضیح وروسته د قسم او ځواب تر منځ ئې د ارتباط په اړه باید ووایو:

هر قلم چې د قلم له پیدایښت تر نن پورې څه لیکلي؛ او تاسو اې قریشو چې څه لیکئ، دا ټول له هغه قرآن سره مقایسه کړئ چې محمد علیه السلام راوړی، بیا د دې کتاب او د راوړونکي په اړه ئې قضاوت وکړئ؛ او وګورئ چې تاسو له دې سره په مخالفت کې څومره ستره جفا او ظلم کوئ، مخصوصاً چې د همدغه عظیم الشأن قرآن له کبله (چې د هیڅ قلم او د هیڅا لیکنه ورسره برابري نه شي کولی) تاسو ده ته مجنون وایئ، څومره ظالمانه قضاوت!! څومره په حق تلفۍ او حق دښمنۍ ولاړ قضاوت!!

تر بعثت مخکې هیڅا د رسول الله صلی الله علیه و سلم په خلاف تبلیغات نه کول، هرڅا ستایو، هغه ئې امین، صادق؛ او پوه انسان ګانو، د ده په لوړ شخصیت ئې اعتراف کاوو، هرڅا له ده او د ده مستقبل ته ډېر توقعات لرل، خو له بعثت وروسته کله چې الله پر ده فضل وکړ او د قرآن په څېر ستر نعمت ئې ورکړ؛ او ده قرآن د خلکو مخې ته

کښېښود او هغه ته ئې راوبلل، نو د خلکو له کينې، دښمنۍ او عداوت سره مخامخ شو، هغو کسانو چې تر دې وړاندې ئې د ده ستايني کولې اوس ده ته مجنون وايي!! الله تعالې په دې آيتونو سره له يوې خوا ده ته اطمئنان ورکوي چې پرتا باندې د قرآن نزول او تا ته چې د الله له لورې کومه دنده درکړی شوې دا خو د الله لوی فضل دئ، پر تا هم او ستا پر قوم هم، د دوی تبليغاتو ته له اعتناء پرته خپل مأموريت تر سره کړه، له بلې خوا د ده مخالفينو قريشو ته وايي چې د پيغمبر عليه السلام دعوت، د روښانه راتلونکي په اړه د ده هيلې، د خپلې مبارزې د حتمي برې په اړه د ده ډاډ، همې احساسات او جذبات او له لېونتوبه ډک توقعات مه ګڼئ؛ او له مخالفت او دښمنۍ ئې لاس واخلئ. کوم څه چې تاسو د ده په خلاف دښمنۍ ته هڅوي هغه په حقيقت کې د الله يو ستر نعمت دئ، د ده لپاره هم او ستاسو لپاره هم، عجيبه ده چې دغه قرآن، دا د الله ستر نعمت، دا چې هيڅ قلم په لاس ليکوال ئې سيالي نه شي کولی، ستاسو د مخالفت سبب شوی!!

که څه هم ځينې مفسرين په دې باور دي چې دلته له قلم هغه قلم مراد دئ چې په هغه سره پر لوح محفوظ ليکنه شوې، يا ئې ملائکې کاروي؛ او الهي وحي پرې ليکي، خو دقيقه خبره دا ده چې له دې قلم هر هغه قلم مراد دئ چې انسان ئې کاروي، قلم په عامه صيغه راغلی، حق نه لرو چې مشخص قلم ئې وګڼو. همدا راز ځينې مفسرين، په (ما يسطرون) کې راغلې (ما) مصدري ما ګڼي؛ او ځينې ئې موصوله ما؛ او ځينې ئې هم د جمع ذوي العقول په معنی نيسي او دا ژباړې ئې کوي:

قسم په قلم او ليکلو ئې.

قسم په قلم او په هغه څه چې دوی ئې ليکي.

قسم په قلم او هغه چې ليکل کوي.

که قسمونو او له ځواب سره ئې تړاو ته لږ ځير شئ په دې پوهېدی شئ چې يوازې دوهم تعبير دقيق او سم دئ.

۲: په دوهم آيت کې چې د مخکينيو دواړو قسمونو ځواب دئ رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي: ته مجنون نه يې، (بِنِعْمَةِ رَبِّكَ) د هغه الهي نعمت له کبله چې د قرآن په بڼه کې ئې پر تا پېرزو کړی؛ وروستی آيت ښيي چې له نعمت مراد قرآن دئ. دا چې دوی ولې پيغمبر عليه السلام د مجنون په نامه يادووو د مفسرينو تر منځ څو توجيهات ګورو:

الف: هغه مبارزه چې پيغمبر عليه السلام پيل کړې، غواړي خلك له خپل لرغوني پلرني دين او مذهب لاس واخلي، د خپلو ځانګړو بتانو او خدايانو عبادت پرېږدي؛ او په ځای

ئې يوازې يو خداى ومنې، خپل زوړ او پلرنى دود، دستور، اخلاق او اطوار بدل کړي، په ټولنې حاکم سياسي، اجتماعي او اقتصادي نظام نسکور شي، د انسانانو تر منځ توپيرونه او تفاوتونه له منځه ولاړ شي، غلام او بادار برابر او د يوه نسل او له يوه مور پلار پيدا شوي وګڼي، دا ومنې چې ټول انسانان سره برابر دي، د ده نوى دين دي قبول کړي، دى دي د خداى پيغمبر او د الهي وحي امين ومنې، که نه نو الهي عذاب به پرې نازلېږي، د دې دعوت په ضد به ستاسو ټولې هڅې بې ثمره پاته کېږي، حق به خامخا بريالى او باطل به په زوال محکومېږي، د دې دين پلويان به پر ټولو اديانو غالبېږي، دا داسې ادعاګاني دي چې يوازې يو لېونى ئې ويلى او منلى شي، له يوه هوښيار او عاقل انسان ډېره لرې ده چې داسې خبرې ئې په ژبه راشي يا ئې ومنې، دا باور چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به له خپل دغه واړه ټولګي سره چې د ټولنې له بې وزلو او مستضعفينو جوړ شوى، نه زور ځواك لري او نه قومي نفوذ او ملاتړ، په دغو ځواکمنو او پر ټولنې مسلطو دښمنانو غالب شي، دا هسې خوب، خيال او جنون دئ او خوشې احساسات او جذبات، ګواکې دا خبرې به يوازې هغه څوك کوي چې خپل عقل ئې له لاسه ورکړى وي او په جنون او لېونتوب اخته شوى وي.

ب: له دې خبرې د دوى مقصد دا وو چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا ادعاء حقيقت نه لري چې دى د الله تعالى پيغمبر دئ، وحي پرې نازله شوې، د وحي حامل فرشته ورته راغلې او الهي پيغام ئې ورته راوړى، بلکې جن خپل وزر پرې غوړولى، حواس ئې ورخراب کړي، هغه پېرى فرشته ګڼلې او شيطاني القاءات او وسوسه ئې الهي وحي.

د لومړۍ توجيه لپاره څو مضبوط دلائل لرو:

لومړى: د سورې ټول آيتونه دغه تعبير تأييدوي، په هيڅ آيت کې داسې نښه نه ګورو چې دوهمه رايه تأييد کړي.

دوهم: د سورې له وروستي آيت معلومېږي چې کافرانو د قرآن په اورېدو سره دوه ډوله غبرګون ښودو: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته به ئې په قهرجنو سترګو کتل او د ده په اړه به ئې ويل چې: دا حتماً لېونى شوى.

درېيم: د قرآن له ويناوو معلومېږي چې داسې تبليغات د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام په اړه شوي، هر يوه ته مخالفينو د مجنون خطاب کړى او د زمانې په هر پړاو کې چې څوك د دوى په لار دروميِ دښمنان به همدا تبليغات او همدا خبره د دوى په ضد کوي، د الله تعالى په عبادت کې ډېر انهماك، پر الله توکل او په الهي تأييد او ملاتړ ډېر اعتماد او باور تل د بې دينو کسانو له لوري جنون ګڼل شوى. تر هغه د چا ايمان نه بشپړېږي چې

مجنون ونه ګڼل شي. دا ځکه چې ټولو پيغمبرانو عليهم السلام ته همدا ويل شوي، تر هغه چې دښمن ستا وضع داسې ونه ګڼي چې د ده په معيارونو کې جنون او لېونتوب ګڼل کېږي، ايمان مو ناقص دئ، تر هغه چې دښمن ونه ګوري چې ته د الله تعالى په عبادت کې په بشپړ انهماك لګيا يې، د الله تعالى د رضاء په لټه کې يې، دې مقصد ته د رسېدو لپاره هري قربانۍ ته چمتو يې، د هر ځواکمن او مغرور دښمن په مقابل کې الله تعالى ځان ته کافي ګڼې، آخرت ته پر دنيا ترجيح ورکوې، شهادت ته چمتو يې، پرهارونه، زولنې او زندانونه منې، کړاوونه او ستونزې ګالې، دې ته تيار يې چې خپل هر څه د الله تعالى په لار کې وقف کړې... دا شيان د بې ايمانو خلکو په معيارونو کې جنون او لېونتوب برېښي؛ او ستاسو ايمان يوازې هغه وخت بشپړېږي چې دا خلك تا مجنون وګڼي. هر پيغمبر، هر داعي او هر انقلابي مبارز ته مجنون ويل شوي، د هغه چا خبره څومره درنه ده چې ويلي ئې دي: د تاريخ په اوږدو کې ټول انقلابونه د هغو انقلابيونو په لاس راغلي چې تر بري مخکې خلکو ورته مجنون ويلي!!

په تفسيرونو کې ځيني نور توجيهات او تعبيرات هم مومو چې په قلم او ما يسطرون باندې لوړه؛ او د قسمونو د ځواب (مَا أَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ)؛ په اړه شوي چې يو ئې دا دئ: قسم په هغه قلم چې قرآن پرې ليکي، دا قرآن شاهد دئ چې ته مجنون نه يې. که څه هم د دې تعبير دوهمه برخه داسې ده لکه د يٰس په سوره کې چې راغلي:

وَٱلْقُرْءَانِ ٱلْحَكِيمِ ۝٢ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ۝٣ يس

قسم په باحکمت قرآن چې ته يقيناً يو له پيغمبرانو يې.

يعني دا حکيم قرآن شهادت ورکوي چې ته پيغمبر يې، له يوه پيغمبر پرته بل څوك داسې له حکمته ډك کتاب نه شي راوړی. خو په دغو تعبيرونو کې څو اساسي اشکالات ګورو:

- قلم ئې خاص کړی حال دا چې د آيت په متن کې عام دئ.
- (مَا يَسْطُرُونَ) ئې خاص کړی حال دا چې د خاصوالي لپاره ئې کومه نښه او دليل نه ګورو.
- د کلام له فحوى معلومېږي چې د (مَا يَسْطُرُونَ) فاعل د رسول الله صلى الله عليه و سلم د مقابل لوري ليکوالان دي، نه هغه کسان چې په پيغمبر عليه السلام ئې ايمان راوړی او قرآن ليکي.

دقيق تعبير دا دئ: که قلم معيار ونيسو؛ او تاسو خپلې ليکنې د قرآن په څنګ کې کېږدئ؛ او دا دواړه سره مقايسه کړئ، نو آيا دا به سترې جفا او ظلم نه وي چې د دومره

ژور توپیر او تفاوت له لیدو سره سره تاسو د رسول الله صلی الله علیه و سلم د دعوت په حقانیت اعتراف ونه کړئ او د ده له مخالفته لاس وانه خلئ؟!

۳- درېیم آیت په ډېر وضاحت سره ښیي چې دښمن؛ د پیغمبر علیه السلام کار بې حاصله او بې ثمره ګڼي او په خپلو تبلیغاتو کې په دې خبرې تأکید کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم نه شي کولی له خپلې مبارزې خاصه نتیجه تر لاسه کړي، د دې هیڅ امکان نشته چې کار ئې رونق ومومي، زیات خلك ورسره ملګري شي، خپلو موخو ته ورسېږي او په ټولنې کې انقلاب راولي، هسي ئې د احساساتو او لېونتوب یوه بې حاصله کار ته ملا تړلې. قرآن د دوی په ځواب کې او د دې کافرانه ذهنیت د تردید لپاره فرمایي: مطمئن او ډاډه اوسه چې ته به د خپلو هلو ځلو دائمي او نه غوڅېدونکی اجر او بدله تر لاسه کوې، هیڅ څه نه شي کولی د هغو نتائجو د تحقق مخه ونیسي چې الله تعالی به ئې ستا پر هڅو او کوښښونو مرتب کوي، له (اجر غیر ممنون) نه مراد هم د عملونو دنیوي اجر او بدله ده او هم اخروي.

٤- ته لوړ اخلاق لرې، ستا اخلاقي لوړوالی ستا او ستا د تګلاري حقانیت ثابتوي، دوی دي راشي ستا لوړ اخلاق دي ستا د مخالفینو او معارضینو له پرېوتې اخلاق سره مقایسه کړي او د دې له مخې دي ستا او ستا د مخالفینو د تګلارو په اړه قضاوت وکړي.

د هر فکري دعوت ماهیت او له نورو ئې لوړوالی نه یوازې له دې لارې درك کولی شو چې له نورو سره ئې مقایسه کړو بلکې له دې لارې ئې ښه معلومولی شو چې د پلویانو عملي او اخلاقي وضع ئې سره مقایسه کړو.

په دې مبارك آیت کې دا ظریفه اشاره هم مومو چې له تاسره اې پیغمبره! د دوی د مخالفت یوه اساسي وجه دا ده چې ستا او چت او لوړ اخلاق؛ هغه افراد مخالفت ته هڅوي چې پرېوتې، ذلیل، مفسد، بدکاره، دروغجن، فتنه غواړي، د خیر مانع، تیرې کوونکي، ګنهګار، بد خصلته او لئیم دي، دا بد اخلاق عناصر نه شي کولی ستا په څېر د اوچت او لوړ اخلاق انسان، صالح او ستر شخصیت په خپلې خوا کې وزغمي.

۵-٦: له دې آیتونو په واضح توګه معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته له مجنون ویلو د دښمن هدف او مقصد څه وو، دلته ویل شوي چې ته به ئې هم ډېر ژر وګورې او دوی هم چې په جنون او لېونتوب اخته په کومې ډلې کې دئ، د چا افکار او نظریات احساساتي او مجنون ته ورته دي؟ دا په وضاحت سره ښیي چې د مفتون او مجنون لفظ په داسې مفهوم کارول شوی چې حقیقت به ئې په نژدې راتلونکي کې معلوم شي، دښمن په دې دلیل رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د مجنون خطاب کاوو چې له

قريشو ئې د ملګرتيا او د خپل پلرني زوړ دين د پرېښودو طمع درلوده او ويل ئې: زوړ دين پرېږدئ، زما دين ومنئ، د بتانو په ځای د يوه الله عبادت وکړئ، د خپلې ټولنې سياسي، اجتماعي او اقتصادي وضعيت بدل کړئ، د ظلم او بې عدالتۍ ټغر ټول کړئ، خپل دود دستور او زاړه عنعنات پرېږدئ، خپل فردي او اجتماعي آداب او اخلاق اصلاح کړئ، په نوي قالب کې ځان واچوئ او هغه آداب او اخلاق خپل کړئ چې زه مو ورته رابولم او دا نوی دين ئې غوښتنه کوي، که له مخالفته لاس وانه خلئ؛ له بدو پايلو سره به مخامخ او د الله تعالى په شديد عذاب به اخته شئ، ډاډه اوسئ چې زه او زما مؤمن پلويان به له ضعف او ناتوانۍ سره سره برلاسي کېږو، که څه هم د ټولنې بې وزلو، مستضعفينو او کمزورو خلکو ايمان راوړی، نه وسائل په واك کې لرو؛ او نه پياوړي او ځواکمن مرستندويان او حاميان، خو د الله تعالى په مرسته به په ټولو دغو ځواکمنو او قدرټمنو دښمنانو چې پراخ وسائل او امکانات ئې په اختيار کې دي غلبه تر لاسه کوو، دښمنانو به د پيغمبر عليه السلام او د ده د پلويانو دا ډول څرګندوني، ټمنيات او هيلې خوب او خيال ګڼلې او د مجانينو په سترګه به ئې ورته کتل، قرآن د دې آيتونو په ترڅ کې هغوی ته وايي: لږ انتظار وکړئ، په خپل قضاوت کې عجله مه کوئ، ژر او په نژدې راتلونکي کې به پوه شئ چې مجنون څوك دئ؟ تاسو چې دا نظام او دا وضعيت تلپاته او تغيير نه منونکی ګڼئ او په دې خبرې مو باور نه راځي چې دا به خامخا ړنګېږي؛ او که رسول الله صلى الله عليه و سلم او ياران ئې چې د حق په بريا او د باطل په ماتې او زوال پوخ باور لري، مصمم دي چې دا وضع به بدلوي؛ او ډاډه دي چې حتماً به ئې برى په برخه کېږي؟ په نژدې راتلونکي کې به څرګنده شي چې څوك د ځان او خپل حريف په سم پېژندو کې پاته راغلى، افکار، نظريات، قضاوتونه، باورونه او هيلې ئې بې بنسټه او لېونو ته ورته وې؟!

دې ته مو بايد پام وي چې دلته په (ستبصر و يبصرون) سره د ليدو مفهوم کارول شوی؛ او د بيان اسلوب داسې دئ چې ښيي د لېونتوب حقيقت به ډېر ژر څرګند شي؛ او عملاً به وګورئ چې دا مفتون او مجنون په کومې ډلې کې وو؟ په مسلمانانو کې که د دوی په دښمنانو کې!! د همدې لپاره په ډېر قاطعيت او ډاډ سره ويلى شو چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه دا تبليغات په همدې معنى وو نه په بله معنى.

د ٦ آيت په اړه څو ترجمې په تفسيرونو کې مخې ته راځي:

الف: ځينو (باء) په (بِأَيِّيكُمُ الْمَفْتُونُ) کې زايد ګڼلې؛ او آيت ئې داسې ترجمه کړی: کوم يو مو مجنون دئ.

ب: ځينو (مفتون) اسم مصدر ګڼې او ژباړه ئې داسې ده: کوم يوه ته مو جنون

رسېدلی.

خو گورئ چې په دې دواړو تعبیرونو کې بې ځایه تکلف شوی او د آیت الفاظ ئې یا په اصلي معنی نه دي اخیستي او یا ئې څه تري حذف کړي. دقیق او له تکلف لري ترجمه ئې داسي ده: دا مجنون ستاسو په کومي ډلي کي دئ؟ یعني ډېر ژر به معلومه شي چې له دغو دواړو متخاصمو ډلو دا په جنون او لېونتوب اخته کس په کومي ډلي کي دئ؟ چېرې او په کوم صف کې؟ دا لېونیان ستاسو په لیکو کې دي که د مسلمانانو په لیکو کې؟ په دې ژباړې کې (باء) د (فی) په معنی اخیستل شوې چې په عربي کې ئې مثالونه ډېر زیات دي.

۷- د دې پروا مه کوه چې دښمن څوك لار ورکې ګڼي او څوك هدایت شوی، لار ورکې هماغه دئ چې اعلم خدای ئې لار ورکې بولي؛ او هدایت شوی هماغه دئ چې تر ټولو پوه الله ئې هدایت شوی ګڼي.

فَلَا تُطِعِ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴿٨﴾ وَدُّواْ لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ﴿٩﴾ وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ ﴿١٠﴾ هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيمٍ ﴿١١﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ عُتُلٍّۭ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴿١٣﴾ أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ ﴿١٤﴾ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٥﴾ سَنَسِمُهُۥ عَلَى ٱلْخُرْطُومِ ﴿١٦﴾

۸- نو د دغو مکذبینو اطاعت مه کوه، ۹- خوښوي چې کاش ته مداهنت وکړې چې بیا دوی هم مداهنت وکړي.۱۰- او اطاعت مه کړه د هر سپك قسم خور. ۱۱- عیب لټوونکی، چغلګر. ۱۲- د خیر مانع، متجاوز، ګنهګار، ۱۳- بدخوی، سربېره پر دې بدنام. ١٤- د دې لپاره چې د مال او د اولاد خاوند دئ. ۱۵- چې پرې ولوستی شي زمونږ آیتونه، وایي به: د مخکینیو قصې دي. ١٦- ژر به په خرطوم ورته داغ کېږدو.

۸-۹: څو مهم مطالب په دې مبارکو آیتونو کې مومو:

الف: دښمن د روغي جوړي او مداهنت وړاندیز لري، تا سازش او انعطاف ته بلي، تا دې ته اړ باسي چې خپله تګلاره بدله کړې، له قاطعیت لاس واخلې، په جوړ جاړي راضي شې. پام چې دې فشارونو ته تسلیم نه شې، د دښمن وړاندیزونه ونه منې، په خبرو ئې باور ونه کړې او له خپل دریځه راکوز نه شې.

ب: دوی دروغجن دي، دروغ ویل ئې یو څرګند او بارز خصلت دئ، په خپلو وړاندیزونو کې صادق نه دي، د روغي جوړي له وړاندیزه ئې هدف دا نه دئ چې شخړه

حل شي او نزاع پای ته ورسېږي، بلکې فرصت طلبي کوي، غواړي ستا او ستا د يارانو عزم سست کړي، ستا د ملګرو په ليکو کې اختلاف راولاړ کړي؛ او په دوو ډلو مو ووېشي: په معتدل او بنسټپال، په سوله خوښو او جنګ غواړو، سازش کوونکو او سازش نه منونکو مو ووېشي.

ج: که فشار واردوي، که ستا په ضد خپل تبليغات زياتوي، دليل ئې دا دئ چې ته د حق په لار کې ثابت قدم يې، په کلکه، مېړانه او له انعطاف پرته له حق دفاع کوې، په ټولنې کې فساد او ظلم نه شې زغملی، له فکري او اخلاقي ناولتياوو سره جوړ جاړی نه کوې، ته اجحاف، بې عدالتي او د نورو په حق تېری نه منې، د بې وزلو او مستضعفينو په ضد د زر او زور د خاوندانو د ظلم او ستم په وړاندي سکوت نه کوې، د همدې لپاره ئې ستا په ضد د پراخو او نارواوو تبليغاتو جبهه پرانيستې او اوس غواړي خلکو ته وښيي چې دوی سوله غواړي او ته د مخالفت په دوام ټينګار کوې، غواړي ته خپل قاطعيت او صراحت پرېږدي، په فساد، ظلم او نارواوو له اعتراض لاس واخلې نو دوی به هم خپل تبليغاتي جنګ متوقف کړي.

۱۰-۱۳: په دې آيتونو کې چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د مخالفينو اخلاق په کې انځور شوي، څو ټکي د خاصي توجه وړ دي:

الف: په لسم آيت کې د (کل حلاف مهين: هر سپك قسم خور) او په ۱۷ آيت کې د (بلونهم: دوی مو وآزمويل) له الفاظو په څرګنده توګه معلومېږي چې په دې آيتونو کې معين شخص په نظر کې نه دئ نيول شوی، بلکې په دغو خصلتونو متصف ډله او هغه مجموعه په نظر کې ده چې افراد ئې دغه بد او کرکجن خصلتونه لري. ډېره عجيبه ده چې ځينو درنو مفسرينو دې مطلب ته پام نه دئ کړی او هڅه ئې کړې چې په خاص کس د دې آيتونو د تطبيق لپاره د رسول الله صلى الله عليه و سلم د څو سختو دښمنانو نومونه واخلي.

ب: هغه خلك چې د پيغمبر عليه السلام په ضد ئې د مخالفت جبهه پرانيستې او په خپلو خصمانه تبليغاتو کې دومره مخکې تللي، د دې تر څنګ چې دروغجن دي، ګڼ شمېر نور کرکجن او شنيع اخلاق هم لري چې د دوی فساد او بداخلاقي مضاعف کوي: سپك او ذليل دي، ډېر قسمونه خوري، په دروغو قسم او له دروغو د دفاع لپاره قسم، يا د دې لپاره دروغجنو قسمونو ته پناه وړي چې ګمان کوي خلك له قسمه پرته د ده په خبرو باور نه کوي، تل او په وار وار ئې ورته دروغ ويلي، اعتبار ئې ختم شوی، په درواغ ويلو کې مشهور شوی؛ او يا د دې لپاره چې سپك شخصيت لري، هيڅوك ئې د اعتماد وړ نه ګڼي،

په ټولنې کې هیڅ اعتبار او حیثیت ورته پاته نه دئ، له قسمونو پرته ئې څوک په خبرو باور او اعتماد نه کوي، د دې په ځای چې خپلو عیبونو ته پام وکړي د نورو عیبونه لټوي، د هیچا په اړه ښه خوله نه خوځوي، د هر چا مذمت کوي، د ګوتو، شونډو او سترګو په اشارو سره په نورو ملنډې وهي، غوږې د نورو په شخصیت تېرې سره ځان ته شخصیت برابر کړي، حقیر او سپک خلك تل خپل عزت د نورو په سپکاوي کې لټوي، هڅه ئې دا چې په خلکو کې کرکه، کینه او دښمني راولاړه کړي، یو د بل په ضد وپاروي، خپلې ګټې د نورو په جنګولو کې لټوي، نمامت او چغلي کوي، د دې خبرې هغه بل ته انتقالوي، فتنې راولاړوي، د خیر هر کار په وړاندې خنډ کېږي، په خپله د خیر له کاره ډډه کوي؛ او د نورو مخه نیسي، نه یوازې د خیر مانع دي؛ او هیچا ته ئې خیر نه رسېږي، بلکې د نورو په حقوقو تېرى کوي، په زړونو کې ئې د کینې اورونه بل، توند خویه، بداخلاق؛ او پر ټولو سربېره بدنام او په رذالت کې مشهور.

طبیعي ده چې داسې بدکار او بداخلاق کسان، له دغو شنیع او قبیح خصلتونو سره نه شي کولی د پیغمبر علیه السلام په څېر د لوړ شخصیت خاوند په خپلې خوا کې وزغمي، طبیعي ده چې داسې ذلیل او پرېوتې انسانان به خامخا له هغه دین سره مخالفت ته ملا تړي چې خیانت او دروغ حرام ګڼي، نمامت او په خلکو کې فتنې راولاړول ستره ګناه بولي، نه یوازې د بل په حق تېرى حرام ګڼي بلکې توصیه کوي چې د بې وزلو او محرومانو مرسته وکړي، له دوی د دفاع په خاطر خپل مال او وخت وقف کړي، دروغجن قسمونه د نفاق او بې ایمانۍ نښه شمېري، خلکو ته وایي ذلت ته غاړه مه ږدئ، مه په خپله حقارت منئ او مه نور سپك او حقیر ګڼئ، وایي: څوك چې موږ ویده شو په داسې حال کې چې ګاونډی ئې وږی وي زموږ له ډلې او ټولې نه دئ، امر کوي چې د دې دین منونکي به ایثار ته چمتو وي، د سترو سترو او مقدسو آرمانونو د تحقق لپاره به مالي او ځاني قربانۍ ته تیار وي، بد او قبیح اخلاق د ایمان منافي ګڼي؛ او هغه څوك تر ټولو ښه او غوره انسان ګڼي چې له اخلاقي لحاظه او له نورو انسانانو سره په چلن کې تر نورو غوره وي؛ او وایي: تر ټولو بد انسان هغه دئ چې په بد اخلاقۍ مشهور شوی وي.

له رسول الله صلی الله علیه و سلم او اسلام سره د قریشو د سردارانو مخالفت د دوی له اخلاقي فساده راولاړېدو. د همدې لپاره ئې په ده پسې تبلیغات کول، په دې مبارکو آیتونو کې له یوې خوا د دوی د اخلاقي فساد څو بېلګې بیان شوې او له بلې خوا خلکو ته ویل شوي چې راشئ د رسول الله صلی الله علیه و سلم لوړ اخلاق د دوی له پرېوتو اخلاقو سره مقایسه کړئ، راشئ قرآن د دوی د ادیبانو او شعراءو له لیکنو سره مقایسه

کړئ؛ او بیا قضاوت وکړئ چې څوك مجنون او په لېونتوب مبتلا دئ!!

١٤: د څوارلسم آیت په اړه دوه توجیه مومو:

لومړۍ: د دغو بد اخلاقو دښمنانو د شتمنیو او پلویانو ډېروالی او کثرت باید د دې باعث نه شي چې په خبرو ئې باور وکړې، د اعتماد وړ ئې وګڼې او روغه جوړه ورسره وکړې.

دوهمه: دا بد اخلاق او رذیل خصلتونه مال او جاه و جلال په دوی کې راولاړ کړي.

دا دواړه تعبیرونه سم دي خو څو ټکیو ته په پام سره دوهمه توجیه غوره او له مخکینیو او وروستیو آیتونو سره سمون خوري:

په لومړۍ توجیه کې دا آیت له ٨ آیت سره تړل شوی او هغه داسې: (نو د دغو دروغجنو اطاعت مه کوه، د دې لپاره چې د مال او اولاد خاوند دي) خو د دې دواړو ٨ او ١٤ آیت تر منځ واټن زیات دئ او دا اورېدونکی له ستونزې سره مخامخ کوي، ارتباط ورکول ورته ګرانه ده. که دا آیت په ٨ آیت پسې متصل راغلی وی، نو لومړۍ توجیه د منلو وړ وه.

د کلام له انداز او فحوی معلومېږي چې د دوی د بدو اخلاقو منشأ او له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د دوی د مخالفت لامل د مال او پلویانو کثرت او د دوی کاذب وجاهت او جاه و جلال وو.

د دغې ډلې د بدو خصلتونو له بیانولو وروسته او د دوی د لا زیات معرفي کولو لپاره چې کومه قصه راغلې؛ او په هغې کې د باغ د خاوندانو بخل او د بدو اخلاقو له کبله د دوی د باغ تباه کېدا انځور شوې، ښیي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د مخالفینو اصلي عیب د مال حرص او له کاذب جاه او جلال راولاړ شوی غرور او د لویي احساس دئ، دوی د رسول الله صلی الله علیه و سلم دعوت د خپلو ګټو او جاه و جلال لپاره ګواښ ګڼي؛ او مقابله ئې کوي، قرآن په دې خبرې تأکید کوي چې تل او د زمانې په هر پراو کې مترفینو او مستکبرینو د پیغمبرانو علیهم السلام مخالفت ته ملا تړلې، قرآن؛ (همز) او (لمز) او پر نورو استهزاء او تمسخر هم د شتمنو او مستکبرینو خصلت ګڼي.

١٥- دا ډله نه یوازې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له وړتیاوو انکار کوي او د ده د لوړو اخلاقو په ضد ئې غږګون دا دئ چې هغه مجنون ګڼي، بلکې الهي آیتونه هم اساطیرالاولین ګڼي، لوړ اخلاق د دوی په معیارونو کې جنون دئ او څرګند الهي آیتونه د دوی له نظره زړې قصې.

١٦- دا مغروره ډله او د پرېږو غاړو خاوندان چې د شتمنیو کثرت او د پلویانو زیاتوالي

دوکه کړي، د دوی د غرور باعث شوي؛ او دا کرکجن خصلتونه ئې په دوی کې زېږولي، له نورو سره په چلن کې خپله غاړه پرسوي، پوزه لوړه نیسي، سپکاوی ئې کوي، حقیر ئې ګڼي، په حقوقو ئې تېری کوي، له خپلو شتمنیو او قدرت د خلکو تر منځ د تفرقې او شخړو په راولاړولو کې استفاده کوي، د خیر او ښېګڼو مانع دي، مال او قدرت ئې ګناه او عصیان ته هڅوي، بد خوی او بد اخلاق انسان ترې جوړوي؛ او په فساد او بداخلاقۍ کې د نوم او شهرت خاوند ئې جوړوي، دوی دي په دې پوه شي چې ډېر ژر به ئې د کبر کاسه نسکوره کړو، پرسېدلې غاړې به ئې ورماتې کړو، نه یوازې دا چې پزه به ئې په خاورو ورولړو بلکې داسې به ئې ورورداغو چې د سپکاوي او ذلت تلپاته نښه ئې شي.

د دې مبارك آیت الفاظ له سخت عتاب ډك او په هغوی کې دغو مغرورو شتمنو ته د اهانت او سپکاوي سخته لهجه کارول شوې، خرطوم په اصل کې د خوګ او فیل اوږدې پوزې ته وایي، پوزه لوړه نیول غرور او تکبر افاده کوي او د چا پوزه په خاورو لړل د هغه سپکاوی او تحقیر انځوروي، خو په خرطوم داغ وهل دائمي سپکاوی او اهانت افاده کوي.

إِنَّا بَلَوۡنَٰهُمۡ كَمَا بَلَوۡنَآ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ إِذۡ أَقۡسَمُواْ لَيَصۡرِمُنَّهَا مُصۡبِحِينَ ١٧ وَلَا يَسۡتَثۡنُونَ ١٨ فَطَافَ عَلَيۡهَا طَآئِفٞ مِّن رَّبِّكَ وَهُمۡ نَآئِمُونَ ١٩ فَأَصۡبَحَتۡ كَٱلصَّرِيمِ ٢٠ فَتَنَادَوۡاْ مُصۡبِحِينَ ٢١ أَنِ ٱغۡدُواْ عَلَىٰ حَرۡثِكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰرِمِينَ ٢٢ فَٱنطَلَقُواْ وَهُمۡ يَتَخَٰفَتُونَ ٢٣ أَن لَّا يَدۡخُلَنَّهَا ٱلۡيَوۡمَ عَلَيۡكُم مِّسۡكِينٞ ٢٤ وَغَدَوۡاْ عَلَىٰ حَرۡدٖ قَٰدِرِينَ ٢٥ فَلَمَّا رَأَوۡهَا قَالُوٓاْ إِنَّا لَضَآلُّونَ ٢٦ بَلۡ نَحۡنُ مَحۡرُومُونَ ٢٧ قَالَ أَوۡسَطُهُمۡ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ لَوۡلَا تُسَبِّحُونَ ٢٨ قَالُواْ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٢٩ فَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَلَٰوَمُونَ ٣٠ قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا طَٰغِينَ ٣١ عَسَىٰ رَبُّنَآ أَن يُبۡدِلَنَا خَيۡرٗا مِّنۡهَآ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا رَٰغِبُونَ ٣٢ كَذَٰلِكَ ٱلۡعَذَابُۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٣٣

١٧- یقیناً چې موږ داسې وآزمویل لکه د هغه باغ خاوندان چې مو آزمویلي ول، کله چې ئې لوړه وکړه چې خامخا به ئې په سباوون کې مېوې راشکوي. ١٨- او استثناء ئې هم ونه کړه. ١٩- نو ستا د رب له لوري یو چورلېدونکی پرې راوچورلېد، په داسې حال

کې چې ویده ول. ۲۰- نو له جړو د ایستل شوي په څېر شو. ۲۱- نو په سباوون کې ئې یوه بل ته غږ کړ. ۲۲- چې سهار وختي په خپل کښت حاضر شئ که ئې راشکونکي یئ. ۲۳- نو په داسي حال کې وخوځېدل چې پټ پټ به سره غږېدل. ۲٤- چې کوم مسکین درباندي راداخل نه شي (بې ته). ۲۵- په سباوون کې وخوځېدل، په منع کولو ئې برلاسي. ۲٦- خو چې وئې لید، وئې ویل: خامخا مو لاره ورکه کړې. ۲۷- نه؛ بلکې محروم شوي یو. ۲۸- تر ټولو ښه ئې وویل: مګر تاسو ته مي نه وو ویلي؟ ولې تسبیح نه وایئ؟ ۲۹- وئې ویل: پاکې زمور رب ته ده، یقیناً چې مور ظالمان وو. ۳۰- بیا ئې ځینو ځینو نورو ته مخ کړ، ملامتوونکي. ۳۱- وئې ویل: وای پر مور چې یقیناً سرکښ وو. ۳۲- هیله ده رب مو تر دې غوره په بدل کې راکړي، مور د ده په لوري رغبت کوونکي یو. ۳۳- (دنیوي) عذاب به داسي وي؛ او د آخرت عذاب خو حتماً تر دې ستر دئ، کاش پوهېدلی!!

۱۷-۳۳: دا آیتونه ښیي چې په مخکینیو آیتونو کې کوم معین او مشخص فرد ته ګوته نه ده نیول شوې، بلکې د پیغمبر علیه السلام د مخالفینو ډله تر بحث لاندي نیول شوې، د دوی مقایسه له هغو کسانو سره چې (باغ) ئې درلود، باغ په فتنه کې واچول؛ او د دوی حرص او بخل ئې راوپاراوو، دا مطلب په ګوته کوي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم مخالفین هم (ثروت) او (قدرت) غولولي، په فتنه کې ئې اچولي او دا کرکجن اخلاق ئې په کې زېرولي.

په روایاتو کې راځې چې دا قصه د هغو کسانو ده چې له صالح او سخي پلار یو سمسور باغ په میراث ورته رسېدلی وو، پرهېزګار پلار به ئې هر کال د مېوو راشکولو په ورځ یوه برخه مسکینانو ته ورکوله، د پلار له مړیني وروسته چې باغ دوی ته پاته شو، تر یوې مودې ئې د خپل صالح پلار په سنت عمل وکړ، خو کله چې ئې حرص تحریك او بخل پرې غالب شو، په هغه کال چې باغ ئې ښه سمسور او وني ئې له مېوو ډکې وې، په خپلو کې ئې پرېکړه وکړه چې سږ کال باید داسي ترتیب ونیسو چې ټوله مېوه په خپله تر لاسه کړو؛ او مسکینانو ته په څه ورکولو اړ نه شو، باید د مېوو راغونډولو لپاره داسي وخت باغ ته ولاړ شو چې د خلکو له خبرېدو د مخه مو هر څه کور ته انتقال کړي وي، سهار وختي په تیاره کې باید باغ ته ځان ورسوو، ټولې مېوې ژر ژر راغونډې کړو؛ او کور ته ئې راورسوو، د لومړي سهار په تیاره کې له خوبه راویښ شول، په ټیټ غږ ئې په خپلو کې خبري کولې، د باغ په لوري وخوځېدل، د غلو په څېر، په محتاطانه ګامونو، له شور ځوږ پرته، هڅه ئې دا چې څوك غږ وانه وري، پرې پوه نه شي؛ او تنګ ئې نه کړي، د باغ سیمې ته ورسېدل، ناڅاپه له یوې سوزېدلې زمکې او له نسکورو ونو سره مخامخ شول،

وئې ویل: ښایي لار مو ورکه کړې، په تیاره کې غلط شوي یو، د بل چا زمکې ته ودرښدلي یو، مورږ خو مازدیګر خپل باغ لیدلی وو، سمسور، له مېوو ډک، تر هر کال ئې حاصل زیات، دا خو هغه باغ نه شي کښدی، څو شښې وروسته پوه شول چې نه ئې زمکه غلطه کړې او نه لار، دا هماغه د دوی سمسور باغ دئ چې په خپل بد نیت سره ئې اور پرې ګډ کړ، یوه ئې، تر نورو صالح، رامخکې شو او وئې ویل: مګر تاسو ته مي نه وو ویلي چې داسي مه کوئ، خپل حرص مهار کړئ، خدای درپاد کړئ، داسي نه چې د بد نیت او بخل له کبله الله تعالی هر څه درنه واخلي؛ او د باغ له مېوو مو محروم کړي، د الله تعالی معامله له بنده سره د ده د نیت له مخې ده؛ اوس خپل خدای په پاکۍ یاد کړئ، خپل ځان ملامت کړئ؛ او خپلو اشتباهاتو ته متوجه شئ، دوی خپلې غلطۍ ته متوجه شول خو ډېر ناوخته او هغه وخت چې د هیلو درمند ئې ایرې شوی وو.

٣٣- د پیغمبر علیه السلام مخالفینو ته خبرداری ورکول کېږي چې ستاسو د بد نیت پایله به هم دغو ته ورته وي، ټول هغه څه به له لاسه ورکړئ چې تاسو ئې مغرور کړي او د رسول الله صلی الله علیه و سلم مخالفت ته ئې هڅولي یئ، هغه ورځ به خامخا راشي چې په خپله به اعتراف کوئ چې مورږ واقعاً ظالمان وو، سرکښ او طاغي وو، هغه ورځ به یو له بله د دفاع په ځای یو بل ملامتوئ. د الله تعالی عذاب په دنیا کې داسي دئ، خو اخروي عذاب ئې تر دې ستر، کاش پوهېدی!!

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٣٤﴾ أَفَنَجْعَلُ ٱلْمُسْلِمِينَ كَٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٣٥﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ لَكُمْ كِتَٰبٌ فِيهِ تَدْرُسُونَ ﴿٣٧﴾ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴿٣٨﴾ أَمْ لَكُمْ أَيْمَٰنٌ عَلَيْنَا بَٰلِغَةٌ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُونَ ﴿٣٩﴾ سَلْهُمْ أَيُّهُم بِذَٰلِكَ زَعِيمٌ ﴿٤٠﴾ أَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ فَلْيَأْتُوا۟ بِشُرَكَآئِهِمْ إِن كَانُوا۟ صَٰدِقِينَ ﴿٤١﴾

٣٤- بې شکه متقیانو ته په نزد د خپل مولا کې جنتونه دي، ډك ډك له نعمتونو. ٣٥- آیا مسلمانان کړو د مجرمینو په څېر؟ ٣٦- څه دربانديي شوي؟ دا څنګه قضاوت کړئ؟ ٣٧- آیا کوم کتاب لرئ چې دا په کې لولئ؟ ٣٨- حتماً به تاسو ته په دې کې هر هغه څه وي چې غوره کوئ ئې!! ٣٩- آیا پر مورږ مو داسي کومه ژمنه شته چې تر قیامت به غځېږي چې له مخې به ئې تاسو ته هر هغه څه وي چې حکم ئې کوئ؟!

٤٠- تړې وپوښته: کوم ئې د دې ذمه وار دئ؟ ٤١- یا مګر (له الله سره) شریکان لري، نو خپل شریکان دي راولي که رښتیني وي.

٣٤- د دې بې ایمانه ډلې په مقابل کې چې د هیلو درمند به ئې سوزي او د هڅو پایله به ئې یو موټی ایرې وي، متقیان او پرهېزګاران دي، هغه چې د دې کافرې ډلې له تګلارو او خصلتونو ئې ځان ساتلی، د دوی لپاره به د خپل رب په خوا کې له نعمتونو ډک جنتونه وي.
٣٥-٣٦: آیا ګمان مو دا دئ چې الله تعالی به د مسلمانانو هڅې او قربانۍ ضائع او هدر کړي، داسې لکه چې د کافرانو او مجرمانو هلې ځلې چې تباه کوي؛ او هیلې ئې له خاورو سره برابروي؟ آیا فکر کوئ چې له مسلمانانو سره به هم دې ته ورته معامله کېږي؟ څه بلا درباندې راغلې؟ په کوم آفت اخته شوي یئ چې ستاسو عقل ئې تباه او دا غلط تصور ئې ستاسو په ذهن کې اچولی؟ دا څنګه قضاوت دئ چې تاسو ئې کوئ؟
د رسول الله صلی الله علیه و سلم مخالفانو به ویل: قیامت او آخرت نشته، که وي هم او ومنو چې آخرت به راشي، نو هلته به هم وضع داسې وي لکه نن، مونږ به د نن په څېر عزتمن، سوکاله او برلاسي او تاسو د نن په څېرذلیل، سپك او کمزوري وئ، لکه څنګه چې نن خدای مونږ ته عزت راکړی او تاسو ئې تړې محروم کړي یئ، په آخرت کې به هم د خدای په وړاندې د احترام او عزت خاوندان وو!! د دوی د دغو غلطو انګېرنو په ځواب کې دا خبره ورته شوې.
٣٧- آیا کوم داسې کتاب درسره دئ چې دا خبرې مو په کې لوستې دي؟ په الهي کتاب کې مو لوستي چې الله تعالی به له مجرم او مسلمان سره ورته معامله کوي؟!
٣٨- د دې آیت دوه توجیه مومو:
الف: ځیني وایي چې دا آیت د مخکیني آیت تتمه ده؛ او (إن) د همزه په زېر سره په اصل کې (أن) د همزه په زور سره ده؛ او ترجمه ئې داسې ده: آیا داسې کوم کتاب درسره شته چې په هغه کې مو لوستي وي چې د قیامت په ورځ به ستاسو حالت داسې وي چې په خپله ئې ځان ته خوښوئ.
ب: آیا کوم کتاب لرئ چې په هغه کې مو دا مطلب لوستی وي چې الله تعالی به له مسلمان او مجرم سره ورته معامله کوي؟ که داسې وي نو بیا خو به بې له شکه چې تاسو مجرمینو ته د خدای په خوا کې هر هغه څه میسر وي چې ستاسو زړه ئې غواړي، ټولې غوښتنې به مو تر سره شي!! نه داسې کتاب په واك کې لرئ او نه به الله تعالی له مسلمانانو سره هغسې معامله وکړي چې له مجرمینو سره ئې کوي؛ او نه به ستاسو هغه هیلې تر سره شي چې د ځان او مسلمانانو په اړه ئې لرئ.

دا تعبیر دقیق دئ او د آیت له الفاظو سره سمون خوري. که د بښوالو قصې ته پام وکړو، چې ښیي د ناپاکو عزائمو له کبله د یوې مجرمې ډلې د هڅو ضائع کېدا په کې انځور شوې؛ او بیا د دې قصې په رڼا کې دا آیت (افنجعل المسلمین کالمجرمین) وڅېړو چې وایي له مجرمینو او مسلمانانو سره به ورته معامله نه کېږي، په آسانۍ دې نتیجې ته رسېږو چې په دې آیتونو کې د کافرانو دا غلطه انګېرنه نفي شوې چې ګمان ئې کاوو د مسلمانانو هڅې به هیڅ نتیجه ورنه کړي او د دوی هیڅ آرمان به تر سره نه شي. دا آیتونه همدغه مجرمانه ذهنیت ردوي او په دې تأکید کوي چې الله تعالی به هیڅکله له مسلمانانو سره هغه څه ونه کړي چې له مجرمینو سره ئې کوي. تاسو د خپلې بې بنسټې ادعاء لپاره هیڅ دلیل له کوم الهي کتاب نه شئ وړاندي کولی.

٣٩- د دې آیت په اړه د مخکیني په څېر دوه تعبیرونه مومو:

الف: د ځینو تعبیر دا دئ چې وایي: آیا الله تعالی له تاسو سره داسي کوم کلك تعهد او ټینګه ژمنه لري چې د قیامت تر ورځې به دوام کوي؛ او د هغې له مخې به ستاسو هر حکم، قضاوت او پرېکړه تر سره کېږي، څه چې وغواړئ هغه به تر لاسه کوئ؟ آیا کولی شئ چې دا میثاق او ژمنه راوښیئ چې تاسو ته ئې د دې ډاډ درکړی چې ستاسو هر حکم به عملي کېږي او د ځان او نورو په اړه به ستاسو هر قضاوت او پرېکړه خامخا تحقق مومي؟!!

ب: خو نور بیا په دې باور دي چې معنی ئې دا ده: آیا له الله تعالی مو داسي کومه تلپاته ژمنه او تعهد تر لاسه کړی چې تر قیامت به دوام کوي او الله تعالی به ئې ستاسو په اړه په مراعات ملزم وي؟ که داسي وي نو بیا خو به خامخا ستاسو هر حکم تر سره کېدو؛ او د ځان په اړه ستاسو هر قضاوت به عملي کېدو.

دا توجیه د مخکیني آیت د دوهمي توجیه په څېر د دې لپاره دقیقه او سمه ده چې هیڅ تکلف په کې نه دئ شوی او ټول الفاظ ئې په خپل اصلي معنی نیول شوي.

٤٠- آیا په تاسو کې داسي څوك شته چې د دې میثاق او ژمني ضامن وي؟

٤١- الله تعالی خو داسي وعده له دوی سره نه لري، آیا کوم بل داسي چا ورسره دا ژمنه کړې چې په الوهیت او ربوبیت کې د الله تعالی شریك او د عالم د چارو په اداره او سمبالولو؛ او د کارونو د پایلو او عواقبو په ټاکلو کې څه ونډه لري؟! که داسي وي او دوی رښتیني وي، نو هغه شریکان دي راولي چې د دوی هیلي به تر سره کوي!!

يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾ خَٰشِعَةً

أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ وَقَدۡ كَانُواْ يُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمۡ سَٰلِمُونَ ﴿٤٣﴾ فَذَرۡنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِۖ سَنَسۡتَدۡرِجُهُم مِّنۡ حَيۡثُ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٤٤﴾ وَأُمۡلِي لَهُمۡۚ إِنَّ كَيۡدِي مَتِينٌ ﴿٤٥﴾

٤٢- هغه ورځ چې پنډې بربنډه کړی شي؛ او دوی سجدې ته راوبلل شي، خو توانېدی به نه شي. ٤٣- سترګې ئې خړې او ټيټې، ذلت پرې سيوری غوړولی، يقيناً چې له دې مخکې سجدې ته بلل کېدل په داسې حال کې چې روغ رمټ ول. ٤٤- نو ما او هغه څوك سره پرېږده چې دا خبره دروغ ګڼي، حتماً به ئې داسې په تدريج سره تباه کړو چې پوه هم نه شي. ٤٥- او دوی ته خو مهلت ورکوو، خو بې شکه چې تدبير مې ډېر مضبوط دئ.

٤٢- په تفسيرونو کې د دې آيت په اړه د ډېرو ضعيفو او کمزورو آراءو تر څنګ دوه د پام وړ تعبيرونه مومو:

الف: هغه ورځ چې د هيبتناك حالت له وېرې به ئې د ډېرو پيڅې پورته او پنډې لوڅې شي او د مفر په لټه کې به تښتي، سجدې ته به رابلل کېږي خو د سخت هيبت او وېرې له کبله به د سجدې توان ترې سلب شوی وي، حواس به ئې داسې پرېشانه وي چې نه به د چا خبره اورېدی شي او نه به په دې پوهېږي چې څه وکړي.

ب: هغه ورځ چې حقائق بربنډ شي، حجابونه او پردې پورته شي، د ټولو حقائقو بنياد او بنسټ ښکاره شي، هر څه به دوی سجدې ته رابلي خو دوی به له سجدې عاجز وي، دا ځکه چې په دنيا کې ئې د سجدې مشق او تمرين نه وو کړی.

د لومړي تعبير له مخې ساق په خپله اصلي معنی؛ پنډې اخيستل شوی؛ او په دوهم تعبير کې د اصل او بنسټ په معنی نيول شوی. لومړۍ توجيه هم دقيقه ده او هم د سورې له مجموعي فضاء سره ژور مناسبت لري.

يوم يكشف عن ساق د وېرې نښه ده چې ورپسې آيت ئې مزيد وضاحت کوي؛ او وايي سترګې به ئې وېرځي؛ او ذلت به سيوری پرې غوړولی وي، نو خود به سجده نه شي کولی، هغه وخت چې روغ رمټ ول، له سجدې ئې ډډه کوله.

متأسفانه په ځينو تفسيرونو کې په دې اړه داسې تعبيرونه هم مومو چې نه يوازې د قرآن له اساساتو سره سخت ټکر کوي، بلکې هر مسلمان په حيرت کې غورځوي چې څنګه يو مفسر د داسې خبرې کولو جرأت کوي؛ او څنګه ئې مني!! د الله تعالی د ذات د

څرنګوالي په اړه څه ويل او هغه ته غړي او جوارح ثابتول لوی جسارت دئ. دلته يُكشَف عن ساق ويل شوي، فاعل ئې مجهول دئ، د الله تعالى ساق ته ئې قطعاً نه شو راجع کولی؛ او دا نه شو ويلی چې د الله تعالى ساق به بل څوك وربربنډ کړي، که د دې په ځای داسې ويل شوي وی يَكشِفُ عن ساقه خپل ساق به بربنډ کړي، بيا دغو خلکو ويلی شوی چې کېدی شي له دې هغه څه مراد وي چې مور ئې وايو!!

بايد دې ته مو پام وي چې مور د الله تعالى د ذات په اړه له فکر کولو هم منع شوي يو، دا خو پربېرده چې هغه ته د غړو ثابتولو جسارت وکړو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ الله عَنْهُمَا، قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ فِي الله، فَقَالَ: «تَفَكَّرُوا فِي الْخَلْقِ، وَلَا تَفَكَّرُوا فِي الْخَالِقِ، فَإِنَّكُمْ لَا تَقْدُرُونَ قَدْرَهُ» . العظمة لابی الشيخ الاسبهانی

له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه داسې قوم تېرېدو چې د الله تعالى د ذات په اړه په تفکر لګيا ول، ورته وئې فرمايل: د مخلوقاتو په اړه فکر وکړئ مه د خالق په اړه، دا ځکه چې تاسو په دې نه توانېږئ چې سمه اندازه ئې ولګوئ او په عظمت ئې پوه شئ.

عن أبی هريرة مرفوعا تَفَكَّرُوا فِي الخلق وَلَا تَفَكَّرُوا فِي الخالق فإنه لا تحيط به الفكرة.

له ابو هريرة رضي الله عنه مرفوع روايت دئ چې د مخلوق په اړه فکر وکړئ د خالق په اړه فکر مه کوئ، دا ځکه چې د انسان فکر پرې احاطه نه شي کولی.

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَفَكَّرُوا فِي آلَاءِ الله، وَلَا تَفَكَّرُوا فِي الله»

سالم رضي الله عنه له خپل پلار روايت کوي چې وئې ويل: د الله تعالى د نعمتونو په اړه فکر وکړئ او د الله تعالى د ذات په اړه فکر مه کوئ،

همدا راز لاندي روايات ټول په دې خبري تأکيد کوي چې د الله تعالى د ذات په اړه له فکر کولو بايد ډډه وکړو:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ الله عَنْهُمَا، قَالَ: «فَكِّرُوا فِي كُلِّ شَيْءٍ، وَلَا تُفَكِّرُوا فِي ذَاتِ الله تَعَالَى، فَإِنَّ مَا بَيْنَ كُرْسِيِّهِ إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ سَبْعَةَ آلَافِ نُورٍ، وَهُوَ فَوْقَ ذَلِكَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى» العظمة لابی الشيخ الاسبهانی

عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ الله عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَفَكَّرُوا فِي خَلْقِ الله، وَلَا تَفَكَّرُوا فِي الله فَتَهْلِكُوا»

دا په داسي حال کي چي نه د قرآن په کوم بل آيت کي د الله تعالى د ذات په اړه څه ويل شوي او نه په دغه آيت کي، دلته خو اصلاً د الله تعالى د ذات په اړه نه صريحاً بحث کېږي او نه تلويحاً، په مخکيني آيت کي مشرکانو ته ويل شوي چي که کوم شريك لرئ رائې ولئ؛ او په وروستي آيت کي ويل شوي چي د قيامت په ورځ به دا مشرکين سخت لالهانده او له وېرې به ئې سترګي خړې وي، سجدې ته به بلل کېږي خو د وېرې او وارخطايۍ له کبله به سجده نه شي کولى. الله تعالى ته د دې آيت راجع کول هيڅ مجال نه لري، نه پوهېږو چي دوى د دې آيت له کوم لفظ دا انتباه اخيستې؟ ولې ساق الله تعالى ته راجع کوي؟ په خپله آيت او الفاظ ئې، مخکيني آيتونه او مخصوصاً ورپسې آيت په ډېر صراحت سره ښيي چي دلته د قيامت د ورځي هيبت انځور شوى، چي آثار او هيبت به ئې د کافرانو په خړو سترګو کي څرګند وي او له دوى به ئې د سجدې کولو توان سلب کړى وي. څوك چي په تکلف سره دا (ساق) الله تعالى ته راجع کوي او وايي چي د الله تعالى ساق به بربنډ کړى شي، د دوى له نظره الله تعالى انسان ته ورته دئ، پنډۍ لري، إزار او پرتوګ لري، د قيامت په ورځ به خپلې پنډۍ بربنډې کړي؛ او مسلمانان به ئې له پنډۍ وېرژني چي دا زمونږ همغه رب دئ چي په دنيا کي مو سجده ورته کوله!! انسان خو له پنډۍ خپل زوى هم نه شي پېژندى الله تعالى به څنګه وېرژني؟!! که څوك ووايي چي الله تعالى دوه سترګي لري، دوه لاسونه لري، لاسونه ئې پنځه پنځه ګوتي لري، دوه پښې لري، پښې ئې قدمونه او پنډۍ لري، رداء او إزار لري... ده الله تعالى له انسان سره تشبيه کړى، که له دې وروسته سل ځله ووايي چي بلا تشبيه او بلاتکييف. دا الفاظ ورته هيڅ ګټه نه رسوي!! ده د قرآن دا خبره له پامه غورځولې چي فرمايي:

... لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿١١﴾ الشورى

... هيڅ شئ د هغه په څېر نه دئ او دى اورېدونکى ليدونکى دئ.

يعني که وغواړې چي پخپل ذهن کي د الله تعالى لپاره کوم مثال مجسم کړې، نو پوه شه چي په دې کائناتو او موجوداتو کي به هيڅ شئ دې مثال ته ورته ونه مومې. د يوه شي مثال په حقيقت کي د هغه شي تخميني او تقريبي تصوير وي، چي د همغه شي د پېژندلو لپاره کارول کېږي، کله چي د يوه شي د اصل او حقيقت ادراك ممكن نه وي نو د مثال په راوړلو سره ئې تشريح او توضيح کوو، خو د الله تعالى په اړه نه د مثال راوړل ممكن دي

او نه ئې مثال او مثل شته. په دې آيت شريف کې داسې نه دي ويل شوي:
" ليس مثله شئ: ده ته ورته څه نشته"
بلکې ويل شوي:

لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ:

د ده مثل ته ورته څه نشته او دی سميع بصير ذات دئ.

د دې معنی دا ده چې نه يوازې د الله تعالی د ذات دکيفيت ادراك ممکن نه دئ، بلکې دا هم ممکنه نه ده چې د الله تعالی د ذات او ذاتي صفاتو د کيفيت په اړه تخميني او تقريبي تصور ولرو. نو لازمه ده له هر هغه تأويل او توجيه په کلکه ځان وساتو چې له مخلوقاتو سره د الله تعالی په تشبيه منتج کېږي.

که د الله تعالی د ذات د کيفيت په اړه بحث ضروري او د انسان لپاره ئې ادراك ممکن وی نو الله تعالی به پخپله په پوره صراحت او وضاحت سره بيان کړی وی خو نه په قرآن کې د الله تعالی د ذات په اړه صراحتاً يا اشارتاً څه ويل شوي او نه په صحيح احاديثو کې. په دې موجوداتو کې هيڅ شئ د الله تعالی له ذات سره شباهت او ورته والی نه لري، هره هغه عقيده او نظريه چې د الله د ذات د کيفيت په اړه داسې بحث ولري چې له مخلوقاتو سره د خالق په تشبيه او تمثيل منتجه شي، باطله او مردوده ده. خدای تعالی له دې منزه او ډېر لوړ دئ چې پخپل ذات کې له مخلوقاتو سره شباهت او ورته والی ولري، هيڅ شی له الله تعالی سره هيڅ شباهت نه لري، ټول نصوص په دې دلالت کوي چې الله تعالی بې مثله او بې مثاله ذات دئ.

خو د يکشف عن ساق په اړه چې کوم روايات راغلي او له هغوی ځينو دا انتباه اخيستې، دا دي:

له ابو برده دوه روايتونه نقل شوي:

عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قال: يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ: عَنْ نُورٍ عَظِيمٍ يَخِرُّونَ لَهُ سُجَّدًا

او بل دا:

عن أبي بردة عن أبي موسى قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ مُثِّلَ لِكُلِّ قَوْمٍ مَا كَانُوا يَعْبُدُونَ فِي الدُّنْيَا، فَذَهَبَ كُلُّ قَوْمٍ إِلَى مَا كَانُوا يَعْبُدُونَ فِي الدُّنْيَا، وَيَبْقَى أَهْلُ التَّوْحِيدِ، فَيُقَالُ لَهُمْ: مَا يَنْتَظِرُونَ وَقَدْ ذَهَبَ النَّاسُ؟ فَيَقُولُونَ: إِنَّ لَنَا

رَبًّا كُنَّا نَعْبُدُهُ فِي الدُّنْيَا، لَمَّا نَرَاهُ، قَالَ: وَتَعْرِفُونَهُ إِذَا رَأَيْتُمُوهُ؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، فَيُقَالُ لَهُمْ: وَكَيْفَ تَعْرِفُونَهُ وَلَمْ تَرَوْهُ؟ قَالُوا: إِنَّهُ لَا شِبْهَ لَهُ، فَيُكْشَفُ لَهُمْ عَنِ الْحِجَابِ، فَيَنْظُرُونَ إِلَى الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى، فَيَخِرُّونَ لَهُ سُجَّدًا، وَتَبْقَى أَقْوَامٌ فِي ظُهُورِهِمْ مِثْلُ صَيَاصِيِّ الْبَقَرِ، فَيُرِيدُونَ السُّجُودَ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ، فَذَلِكَ قَوْلُ الله عَزَّ وَجَلَّ: {يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ} [القلم: ٤٢]، فَيَقُولُ الله: «عِبَادِي ارْفَعُوا رُءُوسَكُمْ فَقَدْ جَعَلْتُ بَدَلَ كُلِّ رَجُلٍ مِنْكُمْ رَجُلًا مِنَ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى فِي النَّارِ» فحدثت بهذا الحديث عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَقَالَ: الله الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَا هُوَ لَحَدَّثَكَ أَبُوكَ هَذَا الْحَدِيثَ , سَمِعَهُ مِنْ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَحَلَفَ لَهُ ثَلَاثَةَ أَيْمَانٍ عَلَى ذَلِكَ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ: مَا سَمِعْتُ فِيَ أَهْلِ التَّوْحِيدِ حَدِيثًا هُوَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ هَذَا

لكه چې گورئ ابو برده او پلار ئې ابو موسى رضي الله عنهما ته منسوب روایاتو کې تعارض دئ، په یوه کې ئې ویل شوي چې یوه عظیمه رڼا به وځلېږي؛ او په بل کې ویل شوي چې الله تعالى به په خپله له حجابه راووځي، دې ته مو هم باید پام وي چې دا روایت له ابو موسى رضي الله عنه یوازي د ده زوی ابو برده روایت کړی؛ او لکه چې مخکینې روایت کې گورئ د عمر بن عبدالعزیز په څېر شخصیت هم له ده دا خبره هغه وخت ومنله چې درې ځله ئې لوړه وکړه!! د دې معنى دا ده چې عمر بن عبدالعزیز هم په لومړي ځل داسې خبره اوربده!! فتح البارئ لیکي: ابو موسى ته د منسوب روایت په اسنادو کې ضعف دئ: أخرج أبو يعلى بسند فيه ضعف عن أبي موسى مرفوعا في قوله: (يوم يكشف عن ساق) قال " عن نور عظيم، فيخرون له سجدا "

بل روایت دا دئ:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ: يَكْشِفُ رَبُّنَا عَنْ سَاقٍ فَيَسْجُدُ لِلَّهِ كُلُّ مُؤْمِنٍ ومؤمنة وَيَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ لَهُ فِي الدُّنْيَا رِئَاءً وَسُمْعَةً، فَيَذْهَبُ لِيَسْجُدَ فَيَعُودُ ظَهْرُهُ طَبَقًا وَاحِدًا . رواه البخارى

له ابو سعید الخدري رضي الله عنه روایت دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم مې واوربدل چې فرمایل ئې: الله تعالى به خپله پنډې بربنډه کړي، نو ټول نارینه او ښځینه مؤمنان به ورته سجده وکړي؛ او هغه څوک به همداسې پاته شي چې په دنیا کې ئې د ریاء او ځان ښودنې لپاره سجده کوله، سجدې ته به راوړاندې شي خو شا به ئې یوه طبقه شي

(سجده به نه شي کولی)

په دغو رواياتو کې شديد تعارض او اختلاف شته، دغه تعارض ته په پام سره محققينو علماءو هغه د دې آيت لپاره د تفسير په توګه نه دي وړاندي کړي، ښه ښه آراء ئې وړاندي کړي. که دا روايات ئې موثق ګڼلی د بلي رأيي له ورکولو به ئې خامخا ډډه کوله. ځنګه ممکنه ده چې رسول الله صلی الله عليه و سلم دي دا خبره کړې وي او د ابن عباس رضي الله عنه په څېر صحابه دي ترې خبر نه وي او دا آيت دي په بل ډول تفسير کړي. د ابن عباس او مجاهد رضي الله عنهما په څېر لويو لويو شخصيتونو دا آيت په بل ډول تفسير کړی، د دوی رأيه دا ده چې له يکشف عن ساق مراد د قيامت هولناك حالت دئ. د آيت له سياق و سباق په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د ابن عباس رضي الله عنه تفسير دقيق دئ.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، فِي قَوْلِهِ {يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ}؛ قَالَ: «هو يوم القيامة يَوْمُ كَرَبٍ وَشِدَّةٍ»

رواه ابن جرير وَقَال ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ: "يوم يكشف عن ساق" «شِدَّةُ الْأَمْرِ وَجَدُّهُ» ، قَالَ مُجَاهِدٌ، وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: «هِيَ أَشَدُّ سَاعَةٍ فِي يَوْمِ الْقِيَامَةِ»

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، فِي قَوْلِهِ: {يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ} [القلم: ٤٢] يَقُولُ: حِينَ يُكْشَفُ الْأَمْرُ وَتَبْدُو الْأَعْمَالُ، وَكَشْفُهُ دُخُولُ الْآخِرَةِ وَكَشْفُ الْأَمْرِ عَنْهُ

عن ابن عباس أنه قرأ: يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ ساقٍ، يريد القيامة والساعة لشدتها.

وذكر ابن المبارك قال: أخبرنا أسامة بن زيد عن عكرمة عن ابن عباس فى قوله تعالى: "يوم يكشف عن ساق" قال: عن كرب وشدة. أخبرنا ابن جريج عن مجاهد قال: شدة الأمر وجده. وقال مجاهد: قال ابن عباس هى أشد ساعة فى يوم القيامة.

وقال أبو عبيدة: إذا اشتد الحرب والأمر قيل: كشف الأمر عن ساقه. والأصل فيه أن من وقع فى شىء يحتاج فيه إلى الجد شمر عن ساقه; فاستعير الساق والكشف عنها فى موضع الشدة. وقيل: ساق الشىء أصله الذى به قوامه; كساق الشجرة وساق الإنسان. أى يوم يكشف عن أصل الأمر فتظهر حقائق الأمور وأصلها. وقيل: يكشف عن ساق جهنم. وقيل: عن ساق العرش. وقيل: يريد وقت أقتراب الأجل وضعف البدن; أى

يكشف المريض عن ساقه ليبصر ضعفه، ويدعوه المؤذن إلى الصلاة فلا يمكنه أن يقوم ويخرج.

قرطبي له هغه وروسته چې د ساق لپاره ګڼ شمېر احتمالات بيانوي، لکه د هر څه اصل، د دوزخ ساق، د عرش ساق، عظيم نور او د قيامت د ورځې شدت؛ ليکي: (فأما ما روى أن الله يكشف عن ساقه فإنه عز وجل يتعالى عن الأعضاء والتبعيض وأن يكشف ويتغطى.) اما دا چې روايت شوى چې الله تعالى به خپل ساق بربنډ کړي، نو الله تعالى له دې ډېر لوړ دئ چې اعضاء او ټپل ټپل غړي ولري او بربنډ يا په جامه پټ شي.

٤٣- د وېرې او خوف نښې او آثار به د کافرانو په څېرو کې څرګند وي، له خپلې ماضي نادم او پښېمانه، سترګې ئې خړې او ټيټې، د وېرې آثار په کې څرګند، شرمنده او خجل، ذلت او سپکاوي خپل تور وزر پرې غوړولى، د هغه چا وضعيت به د قيامت په ورځ دغسې وي چې په دنيا کې او هغه وخت چې روغ رمټ وو، سجدې ته بلل کېدل، خو کبر او غرور نه پرېښودل چې حق ته غاړه کېږدي او د الله تعالى په وړاندي سر ټيټ کړي.

٤٤-٤٥: دا مبارك آيتونه څو توصيې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لري:

الف: لږ صبر وکړه! وګوره چې الله تعالى به د دې حقيقت له منکرينو سره څه معامله کوي؟ د لته له (هذالحديث: دې خبرې) مراد يا هغه خبرې دي چې په مخکينيو آيتونو کې ذکر شوې او يا ټول قرآن.

ب: الهي عذاب به په تدريجي توګه او ورو ورو؛ او پرته له دې چې دوى پرې پوه شي او چاره وکولى شي، پر دوى نازل شي.

ج: الهي سنت داسي دئ چې بنده ته مهلت ورکوي، اتمام حجت کوي، ژر او په ګناه پسې متصل ئې نه نيسي، د عصيان او سرکښۍ په سر کې فوراً او له ځنډه پرته ئې په عذاب نه اخته کوي، خاصه نېټه او معين وخت ئې ټاکلى چې د عصيانګرانو په سر به د وروستي عذاب متروکه راپرېوځي، د هغې نېټې تر راتلو ئې تعذيب تدريجي وي، د غولوونکي اقتدار له ورستې مانۍ ئې يوه خښته له بلې وروسته ورو ورو لاندې پرېوځي، هر ګام چې مخکې اخلي په حقيقت کې د خپلې تباهۍ په لوري نژدې کېږي، د خپلې بقاء او دوام لپاره چې کوم تدبير کاروي په حقيقت کې خپل ګور په خپل لاس کيني.

د: د شر او فساد د ځواکونو په نيولو او مؤاخذې کې الهي تدبير ډېر مضبوط او متين دئ، هيڅوك ئې د مقابلې توان نه لري، پام چې عصيانګرانو او ظالمانو ته مهلت ورکول په الهي تدبير کې سستي او قصور تلقي نه کړې، دا فرصت او مهلت ورکول بايد مغرور او سرکښ ستمګران ونه غولوي او له شديدي الهي نيونې ئې غافل نه کړي!!

أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٦﴾ أَمْ عِندَهُمُ ٱلْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤٧﴾ فَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ ٱلْحُوتِ إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴿٤٨﴾ لَّوْلَآ أَن تَدَٰرَكَهُۥ نِعْمَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ لَنُبِذَ بِٱلْعَرَآءِ وَهُوَ مَذْمُومٌ ﴿٤٩﴾ فَٱجْتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَجَعَلَهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٥٠﴾ وَإِن يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَٰرِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا۟ ٱلذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجْنُونٌ ﴿٥١﴾ وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٢﴾

٤٦- آيا داسي اجر تړې غواړې چې دوی ئې د تاوان له پېټي درانه کړی شوي! ٤٧- آيا غيبي (اسرار) ورسره دي چې دوی ئې ليکي! ٤٨- نو د خپل رب تر حکمه صبر وکړه؛ او د کب وال په څېر مه کېږه چې غږ ئې کړ، په داسي حال کې چې غصه ناک وو. ٤٩- که د خپل رب پېرزوينه ئې نه وی په برخه شوې، نو خامخا به په سپېره ډاګ غورځېدلی او مذمت شوی به وو. ٥٠- خو خپل رب غوره او له صالحينو ئې کړ. ٥١- او بې شکه چې کله کافران ذکر (قرآن) اوري نو نژدې وي چې په خپلو (غضبناکو) سترګو سره دي وښويوي او وايي: دی خو هسي لېونی دئ. ٥٢- حال دا چې دا خو عالميانو ته له پنده پرته بل څه نه دئ.

٤٦- دښمنانو به په خپلو ټولو خصمانه تبليغاتو کې په دې ټکي ترکيز کاوو چې رسول الله صلی الله عليه و سلم او ياران او پلويان به ئې له خپلو هڅو او هلو ځلو نه په دنيا کې کومه نتيجه تر لاسه کړي او نه په آخرت کې، قرآن د دې آيت په ترڅ کې د دوی په ځواب کې فرمايي:

مګر ته له دوی کوم اجر او بدله غواړې، داسي بدله چې دوی ئې د ځان لپاره غرامت او تاوان او پر خپلو اوږو دروند پېټی ګڼي؟ چې طبعاً به ئې له ورکړي ډډه کوي او تا به د خپل جهاد او دعوت د نتيجې او پايلو له تر لاسه کولو محروموي؟ که د کارونو پايله دوی ټاکلی؛ او د عملونو اجر د دوی له خوا ورکول کېدی نو سمه ده چې تا او يارانو به دي له خپلو هڅو کومه نتيجه نه شوی تر لاسه کولی، خو که د عملونو پايلې الله تعالی ټاکي؛ او بنده ته د عمل اجر د ده له لوري وي، نو بيا خو دوی نه شي کولی په خپلو تبليغاتو او بې حاصله هلو ځلو سره تا خپل آرمان او د مبارزې نتائجو ته له رسېدو محروم کړي.

٤٧- مګر دوی له غیبي اسرارو خبر دي؟ کوم چا له غیبه مطلع کړي او د مسلمانانو د دنیوي او اخروي راتلونکي په اړه ئې ورته ویلي چې دا ډله به نه خپلو آرمانونو ته ورسېږي، نه به ئې هیلي تر سره شي او نه به ئې هڅي او کوښښونه کومه نتیجه ورکړي؟! د دې علم غیب سند چېرې دئ؟!

٤٨-٥٠: د دې ډلې بې بنسټه تبلیغاتو ته هیڅ اهمیت مه ورکوه، صابر او ثابت قدم اوسه، د دوی له مخالفتونو او لجاجتونو ناهیلی او مأیوس کېږه مه. پام چې د یونس علیه السلام په څېر د خپلو مخاطبینو له مخالفتونو او د خپل دعوت له پایلو مأیوس نه شې، د نورو خلکو په لټه کې له دوی لاس وانخلې، مبارزه ناتمامه پرېښږدې، د دوی لجاجت او جهالت دي داسي غصه ناک نه کړي چې له هدایت ئې ناهیلی شې، د الهي عذاب مستحق ئې وګڼې؛ او تري لاړ شې، نه؛ صبر او ثبات له لاسه مه ورکوه، تر هغه انتظار وکړه چې الله تعالی خپل حکم او پرېکړه صادره کړي، مطمئن اوسه چې الله تعالی به ډېر ژر خپل حکم صادر کړي، پام کوه چې سنګر پرېښږدې او له وخته مخکې ترشا نه شې، له دې ښه خبر یې چې څوک مأیوس شوی، سنګر ئې پرېښی، له وخته مخکې تر شا شوی، له کوم برخلیک سره مخامخ شوی؟! د یونس علیه السلام قصه دي په مخکې پرته، د فرار له کبله د کب په نس کې د پرېوتو قصه، که د الله تعالی پېرزوینه ئې نه وی په برخه شوې، یا به د تل لپاره د ماهي په نس کې پاته کېدو؛ او یا به په سپېره ډاګ چې نه سیوری لري او نه بوټی، غورځېدو؛ او د مذمت وړ به ګڼل کېدو، خو خپل رب ئې پرې مهربانه شو، غوره ئې کړ او د صالحانو له ډلې ئې کړ، ببرته د خپل قوم په لوري لاړ، دا توفیق ئې په برخه شو چې اصلاح ئې کړي او د دوی مصلح لارښود شي.

٥١-٥٢: دا دواړه وروستي آیتونه چې د سورې تتمه او خلاصه ده، ښیي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم لجوج او جاهلو معاندینو به د قرآن د اورېدو په وخت کې په غضبناکو او قهرجنو سترګو ورته کتل او هغه به ئې مجنون ګانو. د آیتونو په الفاظو او ترکیب کې له لږ غور سره دا مطالب زموږ مخي ته راځي:

الف: د مخالفینو غضبناکه معامله او په قهرجنو سترګو هغه ته کتل ئې داسي وو چې ګمان ئې کاوو په دې سره به دی له خپل دعوت او مبارزې لاس اخیستو ته اړ کړي، د دعوت له نتائجو به ئې مأیوس کړي، نژدې وه چې د یونس علیه السلام تجربه تکرار شي او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم خپله مبارزه ناتمامه پرېږدي.

ب: له پیغمبر علیه السلام سره د قریشو مخالفت او عناد هغه وخت پیل شو چې ده قرآن ته راوبلل، قرآن ته له بللو مخکې ئې نه یوازي له ده سره کوم مخالفت نه درلود بلکې

هغه ئې د لوړ شخصيت خاوند، هوښيار او عاقل انسان ګاڼو، د مشر ورور، کريم، صادق او امين خطاب ئې ورته کاوو.

ج- د قرآن له اوړدو وروسته ئې د مجنون خطاب ورته وکړ! که رسول الله صلى الله عليه و سلم دوی قرآن ته نه وی بللې، نو نه به ئې په غضبناکو سترګو ورته کتل او نه به ئې د لېونې او مجنون خطاب ورته کاوو.

د- د ډېر ډېر حيرت او تعجب ځای دئ چې ځينو له دې آيت د اصلي معنی او مطلب عکس او کاملاً مخالفه معنی او مطلب اخيستی دئ؛ او وايي: له (ليزلقونك بابصارهم) مراد دا دئ چې تا به حتماً په نظر کړي، د سترګو مرموز اغېز به ئې پرتا پرېوځي او هلاك يا بيمار به دي کړي!! عجيبه ده چې دوی نه تر دې آيت مخکې د يونس عليه السلام قصې ته پام کوي، چې د ليزلقونك بابصارهم لپاره دقيق تفسير او شرح زمونږ مخې ته ږدي؛ او نه د الله تعالى له لوري رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دا سپارښتنه او حکم چې صبر وکړه او د کب وال په څېر مه کېږه؛ او نه دې خبرې ته چې د دغو قهرجنو سترګو خاوندان رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د حيرت په سترګه نه ګوري بلکې مجنون ئې ګڼي، د سترګو نظر خو دوی د حيرت نتيجه ګڼي، نه د غضب نتيجه! حال دا چې د دې غضبناکو سترګو خاوندان د قرآن په اورېدو سره داسې غصه کېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د مجنون خطاب کوي!!! د چا په خوله چې د بل لپاره د مجنون خطاب وي په سترګو کې به ئې هغه ته څه پيغام وي؟ د قهر او غضب پيغام که بل څه؟! عجيبه ده چې دوی له دې آيت داسې مطلب اخلي چې د سورې له ټولو آيتونو سره تصادم کوي، د سورې ټول آيتونه له سره تر پايه په دې راڅرخي چې د دښمن خصمانه او معاندانه تبليغات شنډ کړي او ځواب ئې ورکړي؛ او دا آيت د ټولې سورې خلاصه او مقصد ئې دا دئ چې دا خلك د قرآن له کبله له تاسره دښمني کوي، درباندې غصه دي، په قهرجنو سترګو درته ګوري او تا ته مجنون وايي!!

په ايران کې خو خبره بيا داسې ده چې که ته د هر شيعه کور ته ننوځې نو لومړی به دي په داسې يوې لوحې سترګې ولګېږي چې دا آيت به پرې ليکل شوی وي؛ او مقصد به ئې دا وي چې خپل کور او کورنۍ ستا له بد نظره خوندي وساتي، دوی ته خپلو اخوندانو ويلي چې دا آيت بد نظر دفع کوي!!

هـ: د آيت د وروستۍ فقرې مقصد دا دئ: عجيبه ده چې د قرآن اورېدل د دوی قهر او غصه راپاروي؛ او د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخالفت او دښمنۍ ته ئې هڅوي، په داسې حال کې چې قرآن د دوی او ټولو عالميانو لپاره د پند، نصيحت او تذکر وسيله دئ،

دوی راویښوي، هېر شوي حقائق ورپه یادوي، د ضمیر صفحې ته ئې ځلا ورکوي، انسان هغو فطري غوښتنو ته رابولي چې ترې هېري شوې، هغه ته ښیي چې د انسان په ژوند کول څنګه وي، هر هغه څه ورپه یادوي چې باید پام ئې ورته کولی، خو د خاصو عواملو په سبب ترې غافل شوی، عجیبه ده چې (د ټولو عالمیانو لپاره دا ذکر) له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د دوی د عناد او دښمنۍ باعث شوی!!!

دې ته مو باید پام وي چې نه د قرآن په دغه آیت کې او نه په کوم بل آیت کې دا خبره راغلې چې بد نظر شته او اغېز لري؛ خو په ګن شمېر روایاتو کې د بد نظر اغېز یو حقیقت ګڼل شوی. په صحیح مسلم او بخاري کې راغلي ځینې روایات دا دي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْعَيْنُ حَقٌّ، الْعَيْنُ حَقٌّ، مسند احمد

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْعَيْنُ حَقٌّ» بخاری، مسلم و سنن ابن ماجه

دغو روایاتو ته په پام سره د اهل سنت و جماعت ځینې بد نظر او اغېز ئې حق ګڼي.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الحاقة

د سورې معرفي:

د دې مبارکې سورې نوم الحاقه (هماغه واقع کېدونکې) دئ چې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۵۲ آیتونه لري، د نه ویشتو لومړنیو آیتونو فواصل ئې حاقه او راضیة ته ورته وزن لري، دېرشم، یودېرشم؛ او دوه دېرشم ئې په دغو دریو هموزنو صیغو پای ته رسېدلي: فغلوه، صلوه، فاسلکوه، له هغه وروسته له پنځو آیتونو پرته ټول عظیم او یقین ته ورته هموزنو صیغو پای ته رسېدلي او د دغو پنځو آیتونو فواصل ځطئون، تبصرون، تؤمنون او تذکرون دي. وزن او مد وجذر ئې ډېر ښکلی او خوندور دئ. دا سوره هم د مکي دور په لومړیو کې نازله شوې.

د بحث محوري موضوع ئې (قیامت) ده چې په دې سوره کې د الحاقة په نوم یاد شوی، د سورې په پیل کې د دې حقیقت د اثبات لپاره چې قیامت حتماً راتلونکی دئ، په

دوو مشهودو دلائلو استناد شوی او فرمايي:

الف: د تاريخ په اوږدو کې د دې شاهد يو چې هر هغه قوم په الهي عذاب اخته او په زوال محکوم شوی چې له قيامت ځې انکار کړی، لکه چې ثمود او عاد قيامت تکذيب کړ او هلاك شول، د فرعون قوم او له دوی مخکې او وروسته قومونو دا غلطي وکړه چې په سبب ځې په الهي عذاب اخته او ټغر ځې ټول شو، د نوح عليه السلام قوم د دغې غلطۍ له کبله غرق شو، ده او اهل ته ځې، چې ستاسو اجداد او نيکونه دي، الله تعالى د کښتۍ په ذريعه نجات ورکړ چې د راتلونکو نسلونو لپاره پند وي او روغ غوږونه ترې عبرت واخلي.

ب: د دغو عاصي او له قيامت د منکر قومونو نيونه او مؤاخذه ښيي چې زموږ په عالم کې د مکافات او مجازات سنت حاکم دئ، عملونو ته د سزا ورکولو سلسله تل وه او تل به وي، په دنيا کې په نسبي توګه او په آخرت کې په بشپړه او مکمله توګه.

بيا د قيامت د ورځې سترې سترې پېښې انځوروي، زمکه به په خوځېدو شي، غرونه به سره تصادم وکړي، آسمانونه به شق شق شي؛ او د عالم دا اوسنی مضبوط نظم به متلاشي شي. ورپسې له قبرونو د راپاڅېدو صحنه او په الهي محکمې کې د حاضرېدو حالت په ډېره اغېزمنه توګه انځوروي؛ او ښيي چې په دې ورځ به ټول خلك د الله تعالى په وړاندې داسي ودرېږي چې هر څه به ځې څرګند او بربنډ وي، هيڅ عمل، ستر او وور به ځې پټ نه وي پاته، ځينو ته به خپله عملپاڼه په ښي لاس کې ورکړی شي او ځينو ته په کين لاس کې، څوك چې په آزموينې کې بريالی شوی، په دې ورځ او له الله تعالى سره په مخامخ کېدو او په حساب او کتاب ځې باور وو؛ او همدغه باور له ګناه او تېري منع کول او نېك عمل ته ځې هڅول، عملپاڼه به ځې په ښي لاس کې ورکړی شي، راضي او خوښ به وي، خپلوانو ته به سرلوړی او خوښ راوګرځي، له ډېرې خوشحالۍ به ټولو ته غږ کړي: راشئ زما عملپاڼه وګورئ، زما باور دا وو چې د خپلو عملونو له حساب سره به مخامخ کېږم، خوښ او راضي کوونکی ژوند به ځې په برخه شي، هغه جنت ته به درومي چې مېوې ځې رسېدلې او راشکول ځې آسانه. خو هغه چې عملپاڼه به ځې په کين لاس کې ورکړی شي، وايي به: ای کاش عملپاڼه مي نه وی راکړی شوې، کاش له حساب او کتابه نه وی خبر شوی، ای کاش دا د کار پای وی؛ او الهي عذاب او دوزخ ورپسې نه وی، مال مي څه ګټه راونه رسوله، سلطه او اقتدار مي ختم شو. د ده په اړه به الله تعالى امر وکړي چې وځې نيسئ، لاس پښې ځې په زنځير او زولنو وروټرئ؛ او د جهنم په لوري ځې کش کړئ؛ او وروځې غورځوئ؛ او د دوزخ له ستنو سره ځې په داسي زنځير وټرئ چې اوږدوالی ځې اويا ګزه وي، ده خو نه

په ستر الله دا تر ټولو لوړ ذات ایمان درلود او نه ئې پر بې وزلې مسکین دا تر ټولو محتاج مخلوق زړه سوی او ترحم، له ټولو هغو شیانو سره ئې ظالمانه چلن کاوو چې د دوی دواړو ترمنځ، په زمکه یا آسمان کې ول، له هر څه سره ئې فطري او انساني اړیکې شلولې وې، نو ځکه به دلته چې د مکافات دار دئ؛ او هر چا ته د خپل عمل متناسبه او وړ بدله ورکول کېږي، هیڅ خوراك به ئې مخي ته نه اېښودل کېږي مګر د زخمونو نو، چې له حطأکارانو پرته ئې بل څوك نه خوري.

بیا د دې خبرې د اثبات لپاره چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم وینا د قیامت په اړه نه د ده ذاتي او شخصي وینا ده، نه د کوم شاعر وینا او نه د کوم کاهن، دی د الله تعالی استازی دئ او وینا ئې الهي پیغام، هغه پیغام چې د عالمونو رب رالېږلی، د دې ادعاء د اثبات لپاره په دوو شیانو لوړه کوي:

الف: هغه څه چې تاسو ئې وینئ.

ب: هغه څه چې تاسو ئې نه وینئ.

یعني د دې کریم او لوړ شخصیت د ژوند ټولو ابعادو او اړخونو ته ځیر شئ، له اخلاق او ویناوو ئې چې څه تاسو ته څرګند دي، هغه د نورو عادي انسانانو او د خپلو شعراءو او مذهبي مشرانو له اخلاق او ویناوو سره مقایسه کړئ، له شك پرته به درته واضح شي چې دی د الله تعالی درونډ پیغمبر دئ، لاړ شئ د ده د ژوند هغه برخي وڅېړئ چې ستاسو له نظره پټې دي او یوازې نژدې دوستان ئې پرې خبر دي، حتماً به درته ثابته شي چې دی د الله تعالی استازی دئ، نه شاعر دئ او نه کاهن، مګر نه ګورئ چې د ده مېرمن خدیجه رضي الله عنها، دا په پاك لمنې، عقلمنې او درایت کې نومیالې ښځه، دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم له ټولو پټو اسرارو باخبره انسان، لومړی کس دئ چې پر ده ایمان راوړي او د ده پیغام الهي پیغام مني، لاړ شئ د قرآن څېړني او بحثونه د هر هغه څه په اړه په ځیر او دقت سره وڅېړئ چې (مشهود) دي یا (غائب)، چې تاسو ئې وینئ او ستاسو له نظره پټ دي، حتماً به درته ثابته شي چې دا قرآن د هغه رب العالمین له لوري پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوی چې په ټولو اسرارو خبر دئ. د دې کتاب عظمت، د عالم د اسرارو په اړه ئې دقیق علمي بحثونه، ژوري څېړني ئې د ټولو هغو شیانو په اړه چې تاسو ئې دا اوس اوس ګورئ؛ او هغه چې تر اوسه ئې لا په حقیقت نه پوهېږئ او ورو ورو به پرې پوه شئ، ښیي چې دا کتاب هغه ذات رالېږلی چې عالم الغیب و الشهاده دئ، هیڅ انسان ته ممکن نه دئ چې داسي باعظمته او دقیق کتاب له خپله ځانه وړاندي کړی شي او د قرآن په څېر، د شاهد او غائب په اړه داسي دقیق او علمي بحثونه ولري،

مګر نه ګورئ چې د قرآن د نزول له ورځې تر نن پورې، له هرو څو کلونو وروسته انسانانو ته په سلهاوو داسې حقائق راڅرګند کړې چې قرآن لا د مخه او هغه وخت بیان کړي وو چې د هیڅا په خیال کې هم نه ګرځېدل، خو خلك د وخت په تېرېدو سره او د ژورو تحقیقاتو په نتیجه کې پرې پوه شوي؛ او همغه خبره ئې کړې چې قرآن لا د مخه کړې وه!! د قرآن دا ویناوې ښیي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د الله تعالی استازی او کتاب ئې د الله تعالی له لورې لېږل شوی کتاب دئ.

په داسې حال کې چې الله تعالی سرکښ او عاصي قومونه په دې ګناه نیولي او خپل عذاب ئې پرې نازل کړی چې له قیامت ئې انکار کړی او پیغمبران علیهم السلام ئې تکذیب کړي، آیا ممکنه ده چې یو څوك دي په درواغو د پیغمبرۍ دعوی وکړي، خپلې خبرې دي الهي وحي وګڼي؛ او دروغجني خبرې دي الله تعالی ته منسوب کړي، خو الله تعالی دي هغه خپلې مخې ته پرېږدي؛ او هغه دي مؤاخذه او مجازات نه کړي؟!! الله تعالی د دغه غلط تصور د تردید لپاره په دې سوره کې فرمایي: که ده له خپله ځانه څه خبرې مور ته منسوب کړې، داسې کار به ئې خامخا جدي نیسو، د غاړې رګ به ئې ورقطع او داسې عذاب به پرې نازل کړو چې هیڅوك ئې ترې دفع نه کړی شي.

او د سورې په پای کې راغلي چې دا پرهېزګارانو ته د پند خبرې دي، ځینې به حتماً ترې انکار کوي، د دغو کافرو مکذبینو لپاره د حسرت او ندامت وسیله ده، قیامت یو حقیقت دئ، یقیني، نه ظني، نو د ستر رب په نامه دي په تسبیح لګیا شه.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلْحَآقَّةُ ﴿١﴾ مَا ٱلْحَآقَّةُ ﴿٢﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْحَآقَّةُ ﴿٣﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ وَعَادٌۢ بِٱلْقَارِعَةِ ﴿٤﴾ فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا۟ بِٱلطَّاغِيَةِ ﴿٥﴾ وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا۟ بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ﴿٦﴾ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا ۖ فَتَرَى ٱلْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴿٧﴾ فَهَلْ تَرَىٰ لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٍ ﴿٨﴾ وَجَآءَ فِرْعَوْنُ وَمَن قَبْلَهُۥ وَٱلْمُؤْتَفِكَٰتُ بِٱلْخَاطِئَةِ ﴿٩﴾ فَعَصَوْا۟ رَسُولَ رَبِّهِمْ فَأَخَذَهُمْ أَخْذَةً رَّابِيَةً ﴿١٠﴾ إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلْمَآءُ حَمَلْنَٰكُمْ فِى ٱلْجَارِيَةِ ﴿١١﴾

لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَتَعِيَهَآ أُذُنٌ وَٰعِيَةٌ ﴿١٢﴾

١- هماغه واقع کېدونکې! ٢- څه ده دا واقع کېدونکې؟ ٣- څه شي پوه کړې چې څه ده دا واقع کېدونکې؟ ٤- ثمودیانو او عادیانو؛ تکذیب کړه دا ځپونکې. ٥- نو په سرکښ عذاب هلاك شول ثمودیان. ٦- او په سرکښ توند باد هلاك شولو عادیان. ٧- اُوه شپې او اته ورځې ئې دا پرېکنده (سیلې) پرې مسلط کړه، دا قوم به دې په دې (وخت) کې داسې وو موندلی چې پرمخې پراته دي، لکه ستې د خرما، تشي او له جړو ایستل شوې. ٨- نو آیا څه پاته شوني ترې ګورې؟ ٩- فرعون او مخکینیو ئې هم او د نسکور شوو کلیو (کلیوالو) هم ګناه ته لاس کړ. ١٠- او د خپل رب له استازي ئې سرغړونه وکړه، نو ځکه ئې په زیاتېدونکي (عذاب) اخته کړل. ١١- نو کله چې هغو اوبو طغیان وکړ، تاسو مو په رواني (بېړۍ) کې سپاره کړئ. ١٢- چې درته پند ئې وګرځوو او حساس غوږونه ئې په یاد وساتي.

١-١٢: په دې مبارکو آیتونو کې د (الحاقه) لفظ راغلی چې معنی ئې تحقق موندونکې او واقع کېدونکې ده، باید وګورو چې له دې واقع کېدونکې مراد څه دئ؟ قیامت او که هغه عذابونه چې په عاصي او باغي قومونو نازل شوي؟

که څه هم له نهو آیتونو (له ٤ تر ١٢) داسې معلومېږي چې ښایي له الحاقه هغه عذابونه مراد وي چې د ثمود، عاد، فرعون، لوط او نوح علیهما السلام پر قومونو نازل شوي، خو له ١٣، ١٤ او ١٥ آیتونو په ډېر صراحت سره معلومېږي چې منظور ئې د قیامت ستره پېښه ده، د ١٥ آیت الفاظ داسې دي: فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ * نو په دې ورځ به دا واقع کېدونکې واقع شي.

د دوهم آیت لپاره دوه ترجمې لرو:

- **څه ده دا واقع کېدونکې؟**
- **څه عجیبه واقع کېدونکې!!**

درېیم آیت دا انتباه مخاطب ته ورکوي چې د دې ستري پېښې په عظمت او هیبت پوهېدل درته ګران دي، نه شې کولی په هیبت، ستر والي او څرنګوالي ئې پوه شې.

٤- په دې آیت کې (الحاقه) د (القارعه) په نامه یاده شوې او ښیي چې دا یوه داسې ستره پېښه ده چې هر څه به سره وځپي. له مخکیني آیت سره د دې آیت او د وروستۍ شرحي د ارتباط په اړه څو توجیهات لرو:

الف: څوك چې دا ځپونکې پېښه نه مني؛ او په دې باور نه لري چې قیامت راتلونکی دئ؛ او د عالم دا اوسنی نظام به له منځه ځي، ګمان ئې دا وو چې دا نظام ابدي او تلپاته

دئ، وګورئ چې د دوی د انکار پایله څه وه، له کوم برخلیك سره مخامخ شول؟ مګر تاریخ په دې خبرې شهادت نه ورکوي چې د قیامت منکرین تل په شدید الهي عذاب اخته شوي؟ او دا په خپله ثابتوي چې قیامت یو حقیقت دئ او د انکار پایله او عاقبت ئې ډېر وخیم او خطرناك.

ب: په آخرت نه باور د انسان د طغیان او سرکښۍ باعث کېږي؛ او کار ئې هغه ځای ته رسوي چې د عذاب متروکه ئې پر سر راپرېوځي او په شدید الهي عذاب اخته شي، د انسان د ټولو نادودو، ناوړو کړو وړو، بدو عملونو او ناروا وو، ظلمونو او فسادونو جړې له هغه ګنده ډنډه خړوبه کېږي چې په آخرت نه باور او له قیامت انکار ئې سرچینه ده؛ او د ټولو الهي عذابونو لاملونه هم باید په دغې بې باورۍ او انکار کې ولټوو.

ج: په عاصي او باغي قومونو د عذابونو نزول ښیي چې دلته د مکافات او مجازات سنت حاکم دئ؛ او قیامت د دې سنت له اتمام او اکمال پرته بل څه نه دئ. نو په دغو قومونو د عذاب نازلېدل د قیامت د اثبات مضبوط دلیل دئ.

۵- ثمودیانو له قیامت د انکار له کبله بغاوت وکړ؛ او الله تعالی د دې بغاوت او طغیان مناسبه سزا ورکړه، عذاب ئې داسې لکه د دوی خپل طغیان، باغي او طغیانګر عذاب، چې قرآن د الاعراف سورې په ۷۸ آیت کې د الرجفة (زلزله او شدید ټکان) په نامه؛ او د هود د سورې په ٦٧ آیت کې ئې د الصیحه (تونده او هېبتناکه چیغه) او د فصلت په ۱۷ آیت کې ئې د الصاعقة (تندر) په نامه یاد کړی، یعني دا طاغي عذاب به له سختي زلزلې، توندي او هیبتناکې چیغې او آسماني تندر سره توأم وي.

٦- او دا هم عادیان چې سرکښي او بغاوت ئې وکړ، سزا ئې دې سرکښۍ ته ورته وه، په سرکښ عذاب اخته شول، توندي سړې سیلۍ هر څه پرې رانسکور کړل.

۷- په دې مبارك آیت کې د عاد د سرکښ قوم د هلاکت څرنګوالی په ډېره عبرتناکه توګه انځور شوی او څو حقائق زموږ مخې ته ږدي:

الف: دې عذاب اُوه شپې او اته ورځې دوام وکړ، خو ولې اُوه شپې او اته ورځې؟ ولې یوه اونۍ او یوازې اُوه شپې ورځې نه؟ آیا دا د دې لپاره چې څرګند ګناهونه ئې تر پټو زیات وو؟ او یا د دې لپاره چې د ورځې په رڼا کې به ئې دومره جنایات کول چې د شپو په تیاره کې به د دوی تر خیانتونو زیات ول؟ او یا له دې امله چې د اونۍ اُوه شپې ورځې به ئې په ګناه، عصیان او خیانت کې تېرې کړې او د راتلونکې اونۍ په سبا به ئې هم د جنایت او خیانت کلك هوډ کاوو؟ ښایي دا ټول، ځکه چې الهي عذاب تل د معذب شوو خلکو له کړنو سره متناسب او ورته وي.

ب: عادیانو داسې لوړ لوړ او دنګ دنګ قدونه درلودل چې د دوی په څېر خلك په هیڅ ځای کې نه تر سترګو کېدل، د دې توندي سړې سیلې له کبله له داسې عبرتناك برخلیك سره مخامخ شول چې د مړو اجساد ئې په هغې وراني سیمې کې د ږنګو دېوالونو او نسکور شوو چټونو شاوخوا ته خواره واره پراته وو، داسې برېښېدل لکه د خرما کاواکه ستې چې له جړو ایستل شوې او هري خوا ته نسکوري پرتې وي، د دوی ظاهر ښایسته او ځواکمن برېښېدو خو منځ ئې تش او کاواك، ظاهر ئې د خرما د سمسورو او دنګو ونو په څېر برېښېدو او دا ګمان پرې کېدو چې جړې به ئې په زمکې کې ژوري تللې وي؛ او آسمان هم په خپلې غېږ کې نیولې او قد ئې ورلوړ کړی، خو په حقیقت کې د دې ونو منځ تش او جړې ئې وچې وې، چې په یوې توندي سیلې له جړو وایستلی شوې او پر زمکه راپرېوتې.

۸- د دې مبارك آیت لپاره دوه ترجمې مومو:

الف: آیا له دوی کوم یو پاته مومې ؟

ب: آیا د دوی کومه پاته شونې وینې؟

هم دا عاصي ډله په خپله تباه شوه؛ او هم ئې هر څه له منځه ولاړل، آباد ښارونه ئې، مجلل قصرونه ئې، زور ځواك ئې او سمسوري زمکې او فصلونه ئې، ټول له منځه ولاړل؛ او هیڅ څه ترې پاته نه شول!!

۹-۱۰: فرعون او د لوط علیه السلام قوم؛ هماغه چې خپل کلي پرې رانسکور شول، دوی هم د دغې خطأ او ګناه مرتکب شول، قیامت ئې تکذیب کړ، له بیا ژوندون او الهي مکافات او مجازات ئې انکار وکړ؛ او د همدې په سبب د ګناه او عصیان په ګنده ډنډ کې پرېوتل او د پیغمبرانو علیهم السلام مخالفت ته ئې ملا وټړله، نو ځکه حسیب خدای په زیاتېدونکي عذاب اخته کړل.

۱۱- د خپل جد؛ نوح علیه السلام طوفان دریاد کړئ، قوم ئې ورسره مخالفت وکړ، له قیامت ئې انکار وکړ، له څو کسانو پرته هیچا پرې ایمان رانه ووړ، خو موږ دی او د ده مؤمن یاران او د سفر ملګري د نجات په کښتۍ کې له غرقېدو وژغورل، ټول د حق او حقیقت دښمن ستمګران مو په هغه ستر طوفان کې غرق کړل چې ټوله زمکه ئې ونیوله. دا دئ یو ځل بیا د مکافات او مجازات الهي سنت خپل ځان وښود؛ او د آخرت منکران یو ځل بیا د خپل انکار او تکذیب سزا ګوري، دوی طغیان وکړ، طغیانګر طوفان پرې راغی.

۱۲- دا ستره او هولناکه پېښه د دې لپاره وه چې تل تر تله ستاسو لپاره د عبرت وسیله وي او د هوښیارو غوږونو خاوندان ئې تل په یاد وساتي او ترې هېره نه شي، تل در په یاد

کړي چې له آخرته د انکار پایله او له دغه انکاره د راولاړو شوو ګناهونو سزا ډېره وخیمه او خطرناکه ده، د دې لپاره چې متوجه وئ ګناه او سزا سره ټرلې دي، رابطه ئې نه شلېدونکې ده، چېرې چې له قیامت انکار او ورپسې عصیان او بغاوت پښه اېښې سزا او عذاب ورپسې راغلی، ګناه او سزا سره ټرل شوې او سره ورته دي.

فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ نَفۡخَةٞ وَٰحِدَةٞ ١٣ وَحُمِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةٗ وَٰحِدَةٗ ١٤ فَيَوۡمَئِذٖ وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ١٥ وَٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَهِيَ يَوۡمَئِذٖ وَاهِيَةٞ ١٦ وَٱلۡمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرۡجَآئِهَاۚ وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ رَبِّكَ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ ثَمَٰنِيَةٞ ١٧

۱۳- نو هغه وخت چې پو شي په شپېلۍ کې، یو وار پو. ١٤- او اوچت کړی شي هم زمکه او هم غرونه، نو سره وبه ټکول شي په یو وار ټکولو. ١٥- نو واقع به شي په دې ورځ، هماغه واقع کېدونکې. ١٦- او آسمان به هم شق شق شي، نو وي به په دې ورځې، سست سست او شلېدلی. ١٧-او فرشتې به ئې په ژیو کې وي؛ او ستا د رب عرش به په دې ورځ په خپل سر نیسي اته ګونې.

١٣- د آیت په سر کې د (فإذا) لفظ مخاطب ته دا انتباه ورکوي چې په مخکینیو آیتونو کې د قیامت د راتلو دلائل بیان شوي او لار ئې په قیامت باندې باور ته پرانیستلې ده. هو؛ قیامت به هم د هغو الهي عذابونو په څېر ناڅاپي راځي چې په تېرو یاغي او باغي قومونو نازل شوي، آني او په شپېلۍ کې یوه پو سره به راځي.

١٤: په دې مبارك آیت کې څو مهم ټکي توجه جلبوي:

الف: دا آیت وایي چې زمکه او غرونه به له خپل خپل ځایه پورته او په خپلو کې به سره وټکول شي. د غرونو د پورته کېدو په معنی خو پوهېدل آسانه دي خو د زمکې د پورته کېدو په څرنګوالي پوهېدا لږ غور او دقت غواړي، باید وګورو چې زمکه به څنګه او د څه له سره پورته کېږي؟ مور اوس په دې حقیقت پوه شوي یو چې زمکه د لمر، سپوږمۍ او نورو آسماني اجرامو په څېر د آسمان په پراخي غېږ کې معلقه ده، د بل څه په سر نه ده اېښودل شوې چې ترې پورته کړی شي، خو دا آیت وایي چې زمکه او غرونه به له خپل خپل ځایه پورته کړی شي او بېرته به په خپلو کې سره ووهل شي، نو د دې معنی دا ده چې زمکه به د دوو ځواکمنو او سترو ستورو تر منځ راشي، د دوو ځواکمنو جاذبو تر منځ به داسې واقع شي چې د زمکې زړه به په یوه لوري او غرونه به ئې په بل لوري جذب شي، د دې قوي جاذبې په نتیجه کې به غرونه له زمکې بېل او له جرړو به وایستل شي، خو د دې

په ځای چې له زمکې په ډېر واټن لرې او د جاذبې له منبع سره یو ځای شي، بېرته به د زمکې په لور جذب او په ډېر شدت سره به له زمکې سره تصادم وکړي.

ب: له دې پېړۍ د مخه او مخکې له دې چې انسان د ستور لیکو، شمسي منظومو، په دوی کې له سترو سترو چاودنو او د یوې برخې له بلې سره د یو ځای کېدو په اړه کافي معلومات تر لاسه کړي، هیڅوک په دې خبرې نه شو پوهېدی، خو نن او د قوي تلسکوپونو په ذریعه د داسې ټکر او تصادم د بې شمېرو بېلګو په لیدو سره په دې خبرې پوهېدا ورته آسانه شوې.

۱۵- په دغې مرحلې کې به هغه ستره پېښه واقع شي، د دې آیت له الفاظو په واضح توګه معلومېږي چې له (الواقعه: هماغه واقع کېدونکې) مراد هغه پېښه ده چې د سورې په سر کې د الحاقه په نوم یاده شوې.

۱۶-۱۷: په دې مبارکو آیتونو کې څو اساسي ټکي د زیاتې توجه وړ دي:

الف: د قیامت په ورځ به د آسمان دا اوسنی دقیق نظام متلاشي شي، آسمان به درې وړې او چاود چاود شي، ټول هغه سماوي اجرام به خواره واره شي چې نن آسمان په خپلې غېږې کې کلك نیولې.

ب: په هغه ورځ به دا فرشتې چې د عالم چاري سمبالوي، خپل خپل ځای له لاسه ورکړي او د متلاشي شوي آسمان کنارو ته به منتقلي شي. له ملك دلته ټول ملائك مراد دي نه یوه فرشته.

ج: ستا د رب عرش چې ټول اُوه ګونې آسمانونه ئې احاطه کړي او ټول کائنات ئې تر سیوري لاندې دي، په دې ورځ به ئې اته فرشتې، یا د فرشتو اته ټولګي حمل کوي.

د: په دې پوهېږو چې الله تعالی په دې عالم کې خاص سنن او ضوابط وضع کړي، چې هر کار د دغو سنو او ضوابطو مطابق تر سره کېږي؛ او د دې عالم د چارو د سمبالولو لپاره ئې د ملائکو په نامه مأموران ټاکلي چې د دغو سنو مطابق عمل کوي، د ټول کائنات له متلاشي کېدو وروسته به دا الهي سنن عاطل شي او دا مأمورین به ګوښه شي، یوازې اته ټولګي به چې د عرش حمله دي، پاته شي.

هـ: دا آیت له متشابه آیتونو دئ چې په هغه کې د تشبیه فن کارول شوی، د الله تعالی عرش چې د انسان له درك او فهم اوچت، فوق مشهود او غائب مفهوم دئ؛ او انسان په خپل قاموس کې بل ځانګړی او خاص لفظ او نوم ورته نه لري؛ او په داسې لفظ معرفي شوی چې په اصل کې د یوه مشهود او ملموس شي لپاره وضع شوی، د تشبیه فن کارول شوی او له دې لارې د انسان ذهن او فهم ته نژدې کړی شوی، باید متوجه وئ چې په دا

ډول آيتونو کې راغلي الفاظ په متبادر او متداوله معنى وانخلئ، داسې نه چې د الله تعالى له عرش هغه تصور او انګېرنه ولرئ چې د زمکې پر سر د کوم تخت او عرش په اړه ئې لرئ!! الله تعالى د مخلوق په څېر مکان ته اړ او محتاج نه دئ، د عالم هیڅ څه په ذات او افعالو کې الله تعالى ته ورته نه دئ، نه ئې عرش د زمکې د کوم عرش او تخت په څېر دئ او نه په عرش استوى په کوم تخت د کوم مخلوق ناستي ته ورته!! که د قرآن په هر ځاى کې له دې آيت سره ورته آيت مو مخي ته راغى نو بايد دا مطلب مو په پام کې وي چې نه د عالم کوم څه الله تعالى ته ورته دي او نه الله تعالى په کوم څه کې له مخلوق سره شباهت لري. (ليس كمثله شئ). پام کوئ چې د فرشتو په ذريعه د الله تعالى د عرش حمل کېدا داسې ونه ګڼئ لکه چې په دنيا کې ځيني کوم تخت پر اوږو وړي، که داسې تصور دي په ذهن کې راولاړ شو، اشتباه دي کړې او الله تعالى دي له خپل مخلوق سره تشبيه کړى.

رسول الله صلى الله عليه و سلم دا مطلب د يوه حديث په ترڅ کې څومره ښايسته او دقيق انځور کړى هلته چې فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أُذِنَ لِي أَنْ أُحَدِّثَ عَنْ مَلَكٍ قَدْ مَرَقَتْ رِجْلَاهُ الْأَرْضَ السَّابِعَةَ، وَالْعَرْشُ عَلَى مَنْكِبِهِ، وَهُوَ يَقُولُ: سُبْحَانَكَ أَيْنَ كُنْتَ؟ وَأَيْنَ تَكُونُ؟ " مسند ابى يعلى

له ابو هريره روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: يقيناً چې اجازه راکړى شوه چې له داسې يوې فرشتې مو خبر کړم چې پښې ئې له اومي زمکې تېرې شوې؛ او عرش ئې پر اوږو دئ او هغه وايي: پاکي تا لره ده اې ربه! چې چېرې وې او چېرې يې!!

ګورئ چې هغه باعظمته فرشته چې قامت ئې له اوو آسمانونو او زمکې تېر شوى او د عرش حامل ده د الله تعالى د ذات له درکه عاجزه او په عرش ئې د استوى له څرنګوالي بې خبره ده!! او په دې اړه خپل کامل عجز په دې الفاظو بيانوي: پاکي تا لره ده چې هر ځاى وې!!

يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا تَخْفَىٰ مِنكُمْ خَافِيَةٌ ﴿١٨﴾ فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقْرَءُوا۟ كِتَٰبِيَهْ ﴿١٩﴾ إِنِّى ظَنَنتُ أَنِّى مُلَٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾ فَهُوَ فِى عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٢١﴾ فِى جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾ قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَآ أَسْلَفْتُمْ فِى ٱلْأَيَّامِ ٱلْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾

۱۸- په دې ورځ به داسې راوړاندې کړی شئ چې هیڅ پټېدونکې به مو پټه پاته نه شي. ۱۹- نو چا ته چې خپله عملپاڼه په ښي لاس کې ورکړی شي، نو وایي به: آی! تاسو ته وایم! راشئ عملپاڼه مي ولولئ. ۲۰- یقیناً چې ما باور کاوو چې حتماً به له خپل حساب سره مخامخ کېږم. ۲۱- نو دی به په راضي کوونکي ژوند کې وي. ۲۲- په لوړ پوړي جنت کې.۲۳- مېوې ئې نژدې نژدې. ۲٤- وخورئ او وڅښئ په خوند خوند، د هغه څه په وجه چې په تېرو ورځو کې مو وړاندې لېږلي وو.

۱۸- د کائنات د مخکیني نظام له متلاشي کېدو وروسته به نوی نظام له نویو سننو او ضوابطو سره او له بلې زمکې او آسمان سره رامنځته شي، ټول انسانان به بېرته راژوندي شي، د الله تعالی په لوري به وخوځېږي، الله تعالی ته به وروړاندي شي، هر څه به ئې څرګند وي، نه به کوم څه په خپله له دوی پټ وي او نه به ئې هیڅ پټ عمل له حسیب او خبیر خدای جل شأنه پټ.

د دې آیت د وروستۍ فقرې په اړه دوه ترجمې مومو:

الف: هیڅ مخفیانه عمل به مو پټ پاته نه شي.

ب: هیڅ پټ (راز او رمز) به درنه پټ نه وي.

دوهمه ترجمه د آیت د الفاظو له ترکیب سره سمون خوري، لومړۍ ترجمه له دې بل ترکیب سره سمون خوري (لاتخفی خافیتکم)، حال دا چې د آیت ترکیب داسې نه دئ، د (لاتخفی منکم خافیه) د الفاظو او ترکیب دقیقه ژباړه هماغه دوهمه ژباړه ده؛ او دا مفهوم د الطارق په سوره کې په دې الفاظو راغلی: (یوم تبلی السرائر: هغه ورځ چې ټول اسرار بربنډ شي).

۱۹-۲٤: د انسانانو تر منځ معمول دا ده چې ارزښتمن او مهم شیان په ښي لاس اخلي؛ او هغه څه چې ورته اهمیت او ارزښت نه لري یا ئې له اخیستو کرکه لري، نو په کېڼ لاس ئې اخلي. د محاسبې په ورځ به چې د بریا او ناکامۍ اسناد وېشل کېږي، صالح افراد او نېکوکاران به خپله عملپاڼه په ښي لاس اخلي او په خوشحالۍ به په جګ غږ وایي: اې خلکو! راشئ زما سند وګورئ، ما پر آخرت باور درلود، یقین مي دا وو چې له الهي محاسبې سره به خامخا مخامخ کېږم، د دغه باور له کبله مي له ګناه او عصیان ځان ساتو، دا دئ زما عملپاڼه وګورئ، توره پاڼه او بد عمل به په کې ونه ګورئ. خوښ، ډاډه او راضي کوونکی ژوند به ئې په برخه شي، په لوړ جنت کې به ځای ورکړی شي، مېوې ئې تل تیاري، نژدې او د شکولو لپاره به لاس وراوږدولو او ورغځولو ته هم ضرورت نه وي. ورته وبه ویل شي: د دې جنتونو نعمتونه هر څومره، هر وخت او له هره ځایه چې خوښه مو وي،

تازه تازه او په خوند خوند ئې وخورئ وڅښئ، د هغو عملونو په سبب چې مخکې مو کړي وو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَأَلَهُ رَجُلٌ مَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّجْوَى فَقَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُدْنِي اللَّهُ الْعَبْدَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يَضَعَ كَنَفَهُ عَلَيْهِ فَيَقُولُ لَهُ عَمِلْتَ كَذَا وَكَذَا فَيَقُولُ نَعَمْ وَيَقُولُ عَمِلْتَ كَذَا وَكَذَا فَيَقُولُ نَعَمْ فَيُقَرِّرُهُ ثُمَّ يَقُولُ إِنِّي سَتَرْتُ عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا فَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ ثُمَّ يُعطى كتابَ حسناتِهِ بيَمينِهِ ، وأَمَّا الكافرُ والمُنافقُ فيَقولُ الأَشْهادُ : هؤلاءِ الذينَ كَذبُوا عَلى رَبِّهِمْ ، أَلاَ لَعنةُ اللهِ عَلى الظَّالمينَ } موسوعة السنة النبويه

له ابن عمر رضي الله عنه چې کله د نجوى په اړه پوښتنه وشوه، وئې ويل: له رسول الله صلى الله عليه وسلم مي اورېدلي چې فرمايل ئې: الله تعالى به د قيامت په ورځ خپل بنده ورنږدې کړي، په خپلو ټولو ګناهونو به ئې قائل او اقرار کړي، (تر هغه چې دى به ګمان وکړي چې تباه شوم)، الله تعالى به وفرمايي: په دنيا کې مي ستا په ګناهونو پرده وغوړوله؛ او نن ئې درته بخښم، بيا به ئې د حسناتو او نېکيو پاڼه په ښي لاس کې ورکړى شي، خو د کافر او منافق په اړه به شهادت ورکوونکي ووايي: دا همغه خلك دي چې د خپل رب په اړه ئې دروغ ويل، په دغو ظالمانو دي د الله تعالى لعنت وي.

وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ فَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَٰبِيَهْ ﴿٢٥﴾ وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾ يَٰلَيْتَهَا كَانَتِ ٱلْقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنِّي مَالِيَهْ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ عَنِّي سُلْطَٰنِيَهْ ﴿٢٩﴾

۲۵- او هغه چې پاڼه به ئې په کېڼ لاس کې ورکړى شي وايي به: اى کاش عملپاڼه مي نه وى راکړى شوې! ۲۶- او په دې نه وى پوه شوى چې حساب مي څنګه دئ! ۲۷- کاش دا (خو د کار) پاى ته رسوونکې وى. ۲۸- مال مي بې نيازه نه کړم. ۲۹- واکمني مي تباه شوه.

۲۵-۲۹: په دې مبارکو آيتونو کې بله ډله، خصلتونه او پايله ئې انځور شوې:

الف: دوى په دغي ورځ باور نه درلود، د خپلې عملپاڼې له اخيستو به لاس راټوي، ځکه پوهېږي چې په دې کې به څه وي او دوى ته به څه پيغام لري، خو په کېڼ لاس کې به

ئې ورکړی شي.

ب: وايي به: کاش دا عملپاڼه نه وی راکړی شوې، نه زه پرې خبر شوی وی او نه نور زما له عملونو خبر شوي وی، دې پاڼي خو هر څه بربنډ کړي، زما د ژوند هیڅ برخه ئې پټه نه ده پرېښې، څنګه ئې د نورو په وړاندي پرانیزم، د دې افتضاح او رسوايي به څه چاره کوم؟ دې ته په پام سره چې په مخکيني آيتونو کې ويل شوي چې مؤمن به په خپل سند فخر او مباهات کوي او ټول به ئې لوستلو ته رابولي، بايد په دې آيت کې د مخکيني مطلب عکس مفهوم د کافر په اړه په نظر کې وي، يعني دا به د هغه بل برعکس د خجالت او شرمندګۍ احساس کوي؛ او دا ټمنا به کوي چې کاش هیڅ پاڼه نه وی ورکړی شوې او له دې افتضاح او رسوايي سره نه وی مخامخ شوی.

ج: له دې خبرې چې وايي: کاش همدا (د کار) پای ته رسوونکې وی، يا ئې مراد دا دئ چې کاش زما مرګ د کار پای وی، بېرته نه وی راژوندی شوی؛ او له دې برخليك سره نه وی مخامخ شوی؛ او يا ئې مراد دا چې: کاش همدلته خبره پای ته رسېدلې وی، نه خلکو زما عملپاڼه ليدی او نه دوزخ ته تګ وی او يا دا چې: کاش اوس مرګ راورسېږي او کار پای ته ورسوي. دوهمه توجيه د دې لپاره تر نورو دقيقه ده چې د آيت په متن کې او ترې مخکې او وروسته د مرګ لفظ نه دئ ذکر شوی.

د: شتمن او قدرټمن وو، قدرت او ثروت مغرور او بې لاري کړ، د ده په نزد کې د فلاح او بريا معيار ثروت او قدرت وو، خو اوس او له هغه وروسته چې حقائق څرګند شول او د ده کمزوری عقل هم په اسرارو پوه شو، وايي به: نه مي مال کوم درد رادوا کړ؛ او نه واك او قدرت وژغورلم، دواړه تباه شول؛ او اوس په تش لاس او تور مخ د الله تعالی او د ټول مخلوق په وړاندي ولاړ يم.

ځيني درانه مفسرين دې خبرې ته په پام سره چې ټول دوزخيان خو يوازي بډايان او واکمنان نه دي، نيستمن او بې قدرته دوزخيان هم شته، کله چې ګوري يوازي د شتمنو او واکمنو دوزخيانو په اړه خبره شوې او يوازي دوی دوزخيان ګڼل شوي، له اشکال سره مخامخ کېږي او عجيب غريب توجيهات کوي، دوی د دې آيت (هَلَكَ عَنِّي سُلْطَٰنِيَهْ) په اړه ويلي: له دې امله چې ټول دوزخيان خو د سلطې او اقتدار خاوندان نه وو، لابد به له (سلطان) کوم بل څه مراد وي!! وايي: د سلطان معنی؛ حجت او برهان دئ؛ او د آيت مقصد دا دئ چې دوزخيان به وايي: ټول دلائل مي خوشي وختل، هیڅ يوه ئې ګټه راونه رسوله؛ اوس له ځانه د دفاع لپاره هیڅ حجت او برهان نه لرم!!

د دوی په ځواب کې وايو:

الف: دا توجيه د آيت له روح سره قطعاً سمون نه خوري.

ب: که دا توجيه ومنو نو بايد په مخکيني آيت کې د (مال) لفظ هم په غير اصلي معنى واخلو او له ثروت پرته په بله معنى ئې ونيسو!!

ج: قرآن په دې اړه ډېر صريح او قاطع حکم کوي چې د پيغمبرانو عليهم السلام اصلي معاندين او مخالفين د مال او قدرت خاوندان او د قرآن په اصطلاح مترفين او مستکبرين دي، د قرآن دغو صريح او قاطع پرېکړو ته په پام سره به هيڅ قرآن پوه دا توجيه ونه مني.

د: ولې د داسې تأويلونو په ځای صاف او شفاف نه وايي چې قرآن تل د مترف او مستکبر کفارو په محکومولو او غندلو تأکيد کوي او دوی د اصلي دښمن په توګه معرفي کوي؛ او وايي: دا دوی دي چې مستضعفين او بې وزلې مظلومان غولوي او د قرآن په اصطلاح ئې استخفاف کوي، د پيغمبرانو عليهم السلام د مخالفي جبهې قيادت د دوی په لاس کې وي، خپل واک، ځواک او امکانات د اسلام او د مؤمنو دعوتګرانو په ضد کاروي؟! دا دوستان ولې د قرآن دا دريځ د يوه څرګند او پرېکنده حقيقت او اصل په توګه نه مني او په خپل دعوت، مبارزې او تحليلونو کې ئې خپل لارښود نه ګڼي؟!! ولې نه وايي چې قرآن د کافرو بډايانو او واکمنانو په غندلو او تقبيح سره موږ ته لارښوونه کوي چې د مبارزاتو په جريان کې بايد دې ټکي ته په جدي توګه متوجه وو چې ټول ګوزارونه مو د دغې ډلې په سر وي؛ او د هغو کسانو په څېر نه وو چې د مستضعفينو او بې وزلو تر منځ شايع ګناهونو په اړه په ډېر جرأت او صراحت سره خبرې کوي، خو د هغو جناياتو او خيانتونو په ضد له خپه ويلو ځان ساتي چې واکمنان؛ او بډايان پرې اخته وي!! د دوی په خلاف د ويلو لپاره هيڅ نه لري؟! د قبرونو له لمانځني سره په مخالفت کې ډېر جري او زړه ور وي خو د قصرونو له عبادت او بندګۍ سره د مخالفت يوه عادي خبره هم نه کوي!! ولې نه وايي چې مترفين او مستکبرين د جهل پالونکي، د شرک حاميان، د فساد، بېدينۍ، ظلم او بې عدالتۍ عامل دي، په ټولنې کې د ټولو جرائمو مسئوليت دوی ته راجع کېږي او باعث ئې دوی وي، بايد تر ټولو د مخه دوی وغندل شي، بايد د کفر، شرک او جهل د جبهې د مشرانو په توګه تر نورو زيات د مؤاخذې وړ او د شديد الهي عتاب مستحق وګڼل شي؟!

بايد دې ته هم متوجه وو چې په دې آيتونو کې يوې خوا ته تر ټولو غوره جنتيان او بلې خوا ته تر ټولو بد دوزخيان سره مقايسه شوي، د يوه په عملياڼي کې به هيڅ تور داغ نه وي؛ او ټول اهل محشر به ئې ويلو ته رابلي؛ او بل داسې چې د خپلې پاڼې له اخيستو به منزجر وي، ځان ته د مرګ غوښتونکی، په دې معترف چې مال او قدرت ئې هيڅ ګټه

ورونه رسوله؛ او له داسي پايلي سره ئې له مخامخ کېدو ونه ژغورو، بې ځايه ئې ثروت او قدرت هر څه؛ او د فلاح او بريا معيار ګاڼو.

دې ته مو هم پام وي چې کتابيه، ماليه، سلطانيه په اصل کې کتابي، مالي او سلطاني ده، هاء د سکتې لپاره او له دې امله چې د فواصلو وزن سره ورته شي، پرې زياته شوې.

خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ ٱلْجَحِيمَ صَلُّوهُ ﴿٣١﴾ ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَٱسْلُكُوهُ ﴿٣٢﴾ إِنَّهُۥ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴿٣٤﴾ فَلَيْسَ لَهُ ٱلْيَوْمَ هَٰهُنَا حَمِيمٌ ﴿٣٥﴾ وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ ﴿٣٦﴾ لَّا يَأْكُلُهُۥٓ إِلَّا ٱلْخَٰطِـُٔونَ ﴿٣٧﴾

٣٠- وئې نيسئ او د غاړې کړئ ورواچوئ، ٣١- بيا ئې په دوزخ کې واچوئ. ٣٢- بيا ئې په داسي زنځير وتړئ چې اوږدوالی ئې اويا ګزه دئ. ٣٣- يقيناً چې ده نه په ستر الله ايمان راوړ، ٣٤- او نه ئې مسکين ته د خوراك د ورکړې هڅونه کوله. ٣٥- نو نن به ئې دلته نه کوم دوست وي، ٣٦- او نه (د زخمونو) له نو پرته کوم طعام. ٣٧- چې له خطأکارانو پرته ئې بل څوك نه خوري.

٣٠-٣٧: دا آيتونه د کافر او بې ايمانه شتمنو او قدرتمنو د تعذيب څرنګوالی توضيح کوي او څو ټکيو ته زمور پام اړوي:

الف: د عذاب فرشتو ته به وويل شي: دا مجرم ونيسئ، په لاس پښو کې ئې ولچك او زولنې ورواچوئ، دا ځکه چې ثروت او قدرت مغرور او سرکښه کړی وو، په خپلو شتمنيو کې به ئې په خلاص لاس او بې باکۍ او له پايلو ئې له بې پروايۍ سره تصرف کاوو؛ اوس بايد ونيول شي، په غاړه کې طوق او په لاس پښو کې ئې ولچك او زولنې واچول شي.

ب: ټاټوبی ئې دوزخ دئ، د هغو شرارتونو او فتنو مناسبه او وړ سزا چې په دنيا کې ئې راولاړولې او دنيا ئې د نورو لپاره د دوزخ په څېر ګرځولې وه.

ج: په داسي زنځير به د دوزخ له ستنو سره تړل کېږي چې اوږدوالی ئې اويا ګزه دئ، د انسان د متوسط عمر؛ اوياوو کلنو سره متناسب.

د: ده بر پر ستر رب ايمان نه درلود او لاندې پرزمکه ئې په مسکين او بې وزلي انسان ترحم او عاطفه نه درلوده؛ او په خپل کفر سره ئې هم د زمکې له هر څه سره اړيکي شلولې وې او هم د آسمان له هر څه سره، له ځان پرته ئې هيڅ څه ته اعتناء نه کوله، نو

ځکه به د قیامت په ورځ داسي څوك نه لري چې زړه پرې وسوزوي او مرسته ئې وکړي.

هـ: په دنیا کې ئې له حرامو لارو مال راغونډ کړ، د وجود سلول سلول ئې له حرامه ډك، مطعم او ملبس ئې حرام، د مظلومانو وینې ئې زېښلې، نن به د خپلو جنایاتو سزا گوري، خوراك ئې د زخمونو نو، د مظلومانو د وینو په سزا کې، د حطأکارانو لپاره وړ او مناسب خوراك، چې له دوی پرته ئې بل څوك نه خوري، په دنیا کې ئې په ناروا د بې وزلو د مال خوړلو غلطي کوله اوس به ئې داسي طعام په کومي کې لوېږي چې د دغو حطأکارانو لپاره ډېر مناسب او وړ وي.

فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَا تُبۡصِرُونَ ﴿٣٨﴾ وَمَا لَا تُبۡصِرُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ﴿٤٠﴾ وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ شَاعِرٖۚ قَلِيلٗا مَّا تُؤۡمِنُونَ ﴿٤١﴾ وَلَا بِقَوۡلِ كَاهِنٖۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾ تَنزِيلٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٣﴾ وَلَوۡ تَقَوَّلَ عَلَيۡنَا بَعۡضَ ٱلۡأَقَاوِيلِ ﴿٤٤﴾ لَأَخَذۡنَا مِنۡهُ بِٱلۡيَمِينِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعۡنَا مِنۡهُ ٱلۡوَتِينَ ﴿٤٦﴾ فَمَا مِنكُم مِّنۡ أَحَدٍ عَنۡهُ حَٰجِزِينَ ﴿٤٧﴾

۳۸- نو نه؛ داسي نه ده؛ قسم په هغه څه چې گورئ. ۳۹- او په هغه څه چې نه ئې گورئ. ۴۰- یقیاً دا ده وینا د مخور استازي. ۴۱- او دا نه ده د کوم شاعر وینا، ډېر لږ ایمان راوړئ. ۴۲- او نه د کوم کاهن وینا، لږ پند اخلئ. ۴۳- رالېږنه د رب العالمین له لوري. ۴۴- او که ئې ځیني خبري راباندي تړلی. ۴۵- حتماً به مو په ښي لاس ترې اخیستلی. ۴۶- بیا به مو د غاړې رگ ترې پرې کولی. ۴۷- نو ستاسو هیڅوك به ترې دفع کوونکی نه وی.

۳۸-۴۰: په ۳۸ او ۳۹ آیتونو کې په (ما تبصرون: څه چې وینئ ئې) او (ما لاتبصرون: څه چې نه ئې وینئ) لوړه شوې او ورپسې په څلوېښتم آیت کې ویل شوي: إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسولٍ كَرِيمٍ * بې شکه چې دا حتماً د مخور رسول وینا ده.

مخکې له دې چې د قسمونو او ځواب تر منځ ارتباط تشریح شي باید څو خبري توضیح کړو:

په (مَا لا تُبْصِرُونَ: څه چې نه ئې وینئ) باندي قسم، یو له هغو دوو قسمونو دئ چې په نامرئي شیانو لوړه شوې، دلته په نه لیدل شوو او د القیامة په سوره کې د قیامت په ورځ؛ او دا د قرآن د عمومي قاعدې خلاف برېښي، په ټولو نورو مواردو کې په څرگندو

شيانو لوړه شوې، خو دا بايد وګورو چې آيا په دې دوو مواردو کې واقعاً عمومي قاعده نه ده مراعات شوې؛ او که نه؛ دا هم د عمومي قاعدې مطابق ده خو په سطحي نظر ښکاره برېښي؟

دا هم بايد وګورو چې آيا له (ما تبصرون) او (ما لاتبصرن) ټول شيان په عام طور له کومې استثناء پرته مراد دي، که نه د کلام مخکينۍ يا وروستنۍ برخه ئې محدودوي او په خاصو شيانو کې ئې راخلاصه کوي؟

له قسمونو وروسته آيتونه په دې مطلب تأکيد کوي چې دا د يوه مخور پيغمبر وينا ده، نه د شاعر وينا ده او نه د کاهن، د رب العالمين له لورې رالېږل شوی قول دئ:

إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ﴿٤٠﴾ وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ شَاعِرٖۚ قَلِيلٗا مَّا تُؤۡمِنُونَ ﴿٤١﴾ وَلَا بِقَوۡلِ كَاهِنٖۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾ تَنزِيلٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٣﴾

بې شکه چې دا حتماً د مخور رسول وينا ده او د شاعر وينا نه ده؛ ستاسو باور کول لږ دي؛ او نه هم د کاهن وينا ده، ستاسو پند اخيستل لږ دي، د رب العالمين له لورې رالېږل شوی دئ.

او ورپسې وايي: که ده له خپلې خوا څه ويلې وی او هغه ئې الله ته منسوب کړې وی، نو الله حتماً داسي کار جدي نيولو او حتماً ئې هغه ته سخته سزا ورکوله، له دې په څرګنده معلومېږي چې قسمونه هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه دي او له (ما تبصرون) او (ما لاتبصرن) هم د ده د شخصيت څرګندي او ناڅرګندي برخي مراد دي.

دا صحيح نه ده چې د يوې عامي خبرې نطاق، د هغې مخکې او وروسته کلام ته له پام پرته؛ هر څه ته عام وګڼو.

دا هم يوه اشتباه ده چې د يوه کلام يوه برخه د ورته برخو او د عمومي قاعدې خلاف تعبير کړو. په داسي حال کې چې د قرآن په ټولو قسمونو کې په ډېرو څرګندو او واضح شيانو لوړه شوې دا صحيح نه ده چې يو دوه قسمونه دي داسي تعبير شي چې له دې عمومي قاعدې سره تصادم کوي.

د دې مطالبو په پام کې نيولو سره د قسمونو او ځواب تر منځ ئې ارتباط ډېر په آسانۍ درک کولی شو؛ او هغه دا چې: دلته قريشو او د قرآن ټولو مخاطبينو ته ويل شوي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ژوند هغو برخو ته پام وکړئ چې تاسو ته څرګندي دي، دا د خپلو شاعرانو او کاهنانو له شخصيت سره مقايسه کړئ، د دوی تر منځ دا ژور او ستر تفاوت به حتماً تاسو په دې قانع کړي چې دی نه شاعر دئ نه کاهن، بلکې د الله مخور

استازی دئ او وینا ئې د الله تعالی قول. ستاسو شاعران خو د مفسدو او ظالمو حاکمانو خدمت کې دي، د څو پیسو لپاره د دوی مدح او ستاینه کوي، د هغه چا هجو کوي چې څه ورنه کړي او یا د دوی په هجوي سره له بل څه تر لاسه کړي. ستاسو کاهنان خو هغه دي چې هر یوه، دلته او هلته، په بازار او کوڅه کې، دکانونه پرانیستي، خلك غولوي، په فال، کوډو او تعویذونه سره له خلکو شکرانې تر لاسه کوي، خو پیغمبر هغه څوك دئ چې تاسو په خپله د ده په صداقت، عدالت، امانت او زړه سوي شهادت ورکوئ، د ظلم او تېري مخالف، د مظلومانو ملګری، د ظالمانو دښمن، د برابرۍ او عدالت داعي، هغه چې فساد، تېری، خدعه او دروغ حرام ګڼي، نه یوازي دا چې په خپلې مبارزې له خلکو د څه اجر او بدلې طمع نه لري بلکې قرباني ورکوي، له خطرونو سره ډغري وهي او ستونزي ګالي، هغه خو خلکو ته وایي: (اتبعوا من لایسئلکم اجراً و هم مهتدون) په هغه چا پسې اقتداء وکړئ چې په سمه لار روان دئ، قول او عمل ئې سم دئ او له تاسو د څه شکولو هڅه نه کوي، لږ د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ژوند هغه برخي هم وڅېړئ چې ستاسو له سترګو پټې دي او یوازي نژدې ملګري او د کورنۍ غړي ئې ورباندي پوهېږي، دا برخي د خپلو مشرانو، شاعرانو او کاهنانو د شخصي ژوند له پټو برخو سره مقایسه کړئ، له ژور تفاوت به په خپله پوه شئ چې دی د الله مخور استازی دئ او وینا ئې د الله کلام، آیا د ده په قول، عمل او اخلاق کې یوه داسې بېلګه په ګوته کولی شئ چې د ده د لوړ شخصیت او د رسالت د ادعاء منافي وي؟ لومړی کس چې پر ده ایمان راوړي او د ده وینا د الله تعالی له لوري وحي ګڼي، د ده هغه درنه مېرمن ده چې د ده له ټولو پټو اسرارو خبره او له هره اړخه ئې ښه پېژني، هغه ښځه چې تاسو د قریشو ترټولو صالح، نېکه، عقلمنه او پوهه ښځه ګڼله!!

همدا راز دا قسمونه وایي: لاړ شئ د قرآن څېړني او بحثونه د هر هغه څه په اړه په ځیر او دقت سره وڅېړئ چې (مشهود) دي یا (غائب)، چې تاسو ئې وینئ او یا ستاسو له نظره پټ دي، حتماً به درته ثابته شي چې دا قرآن د هغه رب العالمین له لوري پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوی چې په ټولو اسرارو خبر دئ. د دې کتاب عظمت، د عالم د اسرارو په اړه ئې دقیق علمي بحثونه، ژوري څېړني ئې د ټولو هغو شیانو په اړه چې تاسو ئې دا اوس اوس ګورئ؛ او هغه چې تر اوسه ئې لا په حقیقت نه پوهېږئ او ورو ورو به پرې پوه شئ، ښیي چې دا کتاب هغه ذات رالېږلی چې عالم الغیب و الشهاده دئ، هیڅ انسان ته ممکن نه دئ چې داسې باعظمته او دقیق کتاب له خپله ځانه وړاندي کړی شي او د قرآن په څېر، د شاهد او غائب په اړه داسې دقیق او علمي بحثونه ولري،

مګر نه ګورئ چې د قرآن د نزول له ورځې تر نن پورې، له هرو څو کلونو وروسته انسانانو ته په سلهاوو داسې حقائق راڅرګندېږي چې قرآن لا د مخه او هغه وخت بیان کړي وو چې د هیڅا په خیال کې هم نه ګرځېدل، خو خلك د وخت په تېرېدو سره او د ژورو تحقیقاتو په نتیجه کې پرې پوه شوي؛ او همغه خبره ئې کړې چې قرآن لا د مخه کړې وه!! د قرآن دا ویناوي ښیي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د الله تعالی استازی او کتاب ئې د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دئ.

٤١- راشئ د ده وینا د خپلو شعراءو له اشعارو سره مقایسه کړئ، د دوی تر منځ ژور توپیر او تفاوت به تاسو ته ثابته کړي چې دی شاعر نه؛ بلکې پیغمبر دئ، د ده لوړ کلام ستاسو د شعراءو د اشعارو په څېر نه د یوه مدح او د بل هجو دئ، نه له یوې وادي بلې ته کوزېدا او نه له یوه شاخه بل ته بې مقصده الوت، بلکې سر تر پایه د یوه لوړ الهي پیغام حامل، سراسر حکمت او ژوره علمي وینا، وای وای چې په حقائقو ستاسو باور او یقین څومره کمزوری دئ!!

٤٢- راشئ د ده کړنې او ویناوي د خپلو کاهنانو له کړنو او ویناوو سره مقایسه کړئ، له هماغه کاهنانو سره چې د غیب په اړه وړاندوینې کوي او ادعاء ئې دا ده چې په غیب پوه مراجعو سره ئې اړیکي دي؛ او هڅه ئې دا چې د غیبي چارو په اړه په دروغو ویناوو سره ساده لوح او کمعقله خلك وغولوي، شکرانې تر لاسه، د نورو جېبونه تش او خپلې کڅوړې ډکې کړي، راشئ د غیب په اړه د دې دروند پیغمبر صلی الله علیه و سلم د الهي کتاب بحثونه د خپلو کاهنانو له غیب وینو سره مقایسه او قضاوت وکړئ، د دې لپاره چې در ته ثابته شي؛ دی د الله تعالی پیغمبر دئ، خو څومره لږه ده ستاسو پند اخیستنه!!

٤٣: دغه ټول دلائل شهادت ورکوي چې دا مقدس او باعظمت کتاب د عالمونو رب رالېږلی، هغه رب چې غائب او مشهود ئې پیدا کړي او د عالم له ذره ذره اسرارو خبر دئ، د دې کتاب مطالب په خپله دا حقیقت ثابتوي.

٤٤-٤٥: آیا ګمان کوئ چې که څوك په درواغو ځان پیغمبر وګڼي، له ځانه خبرې جوړې او الله تعالی ته ئې منسوب کړي، نو الله تعالی به دې کار ته هیڅ التفات نه کوي او داسې کس ته به سزا نه ورکوي؟! که پیغمبر علیه السلام داسې کار کړی وی، الله تعالی به هیڅکله فرصت او مجال نه وو ورکړی، حتماً به ئې داسې بې باکې جدي ګڼله او د زړه رګونه به ئې ور پرې کړي او ژوند ته به ئې خاتمه ورکړې وه!!

د ٤٥ آیت په اړه د مفسرینو تر منځ د ډېر اختلاف شاهد یو: ځیني وایي: (با) په (بالیمین) کې زائده ده؛ او د آیت معنی داسې ده: د ده ښی لاس به مو تر اخیستی وو،

يعني د ده شی لاس به مو قطع کړی وو او يا د ده قدرت به مو ترې سلب کړی وو!!

ځيني نور وايي: (من) زائد دئ او آيت ئې داسي ترجمه کړی: په خپل شي لاس به مو نيولی وو، يعني په شديده توګه به مو دی مؤاخذه کړی وو.

په دې دواړو او ځينو نورو ترجمو کې ډېر او بې ځايه تکلف شوی؛ او د آيت له تحت اللفظي ژباړې او د الفاظو له اصلي معنی سره سمون نه خوري، د آيت د الفاظو اصلي او له تکلف پرته معنی داسي ده: حتماً به مو په شي لاس ترې اخيستی وو. څوک چې نه دي توانېدلي له دې ترکيبه واضح مفهوم واخلي نو دې ته اړ شوي چې د آيت په ترکيب کې تغييرات راولي، څه ئې زائد وګڼي او ترې حذف ئې کړي؛ او داسي ئې جوړ کړي چې دوی ته قابل فهم شي، د دوی اصلي مشکل په دې کې دئ چې د (اخذ باليمين: په شي لاس اخيستو) لپاره ئې په دې آيت کې کوم مادي شی نه ترسترګو کېږي، ګمان ئې دا دئ چې اخذ او نيول او اخيستل يوازې د مادي شيانو لپاره کارول کېږي، نو ځکه ئې (باء) او (من) زائد ګڼلي؛ او آيت ئې ژباړلی، حال دا چې (اخذ باليمين) د کلك نيولو په معنی هم راځي؛ او د (اخذ: نيول) لفظ يوازې د مادي شيانو لپاره نه کارول کېږي بلکې د غير مادي شيانو لپاره هم راځي. دا تر بحث لاندې آيت د مخکيني تتمه ده؛ په مخکيني آيت کې دا مطلب راغلی چې (که رسول الله صلی الله عليه و سلم له خپله ځانه څه خبرې جوړې او الله تعالی ته ئې منسوب کړي) خو دا چې په دې صورت کې به له ده سره څه کېږي، په راتلونکي آيت کې توضيح شوي او ويل شوي: نو حتماً به مو په شي لاس ترې نيولی وو؛ يعني د ده تقول، افتراء او له ځانه خبره جوړول به مو جدي نيولې وه؛ او جدي چلن به ورسره کېدو.

د (اخذ باليمين) الفاظ د پيغمبر عليه السلام په يوه حديث کې د دې مطلب لپاره راغلي چې الله تعالی مخلصانه او له شوائبو منزه صدقه ارزښتمنه ګڼي، خاصه اعتناء او التفات ورته کوي، هلته چې فرمايي:

عن ابی هُرَيْرَةَ: قَالَ رَسُولُ الله - صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَا تَصَدَّقَ أَحَدٌ بِصَدَقَةٍ مِنْ طَيِّبٍ، وَلَا يَقْبَلُ الله إِلَّا الطَّيِّبَ، إِلَّا أَخَذَهَا الرَّحْمَنُ بِيَمِينِهِ رواه مسلم و الترمذی

هيڅوك کومه پاکيزه صدقه نه ورکوي، په داسي حال کې چې الله يوازې پاکيزه شی مني، مګر دا چې رحمان خدای ئې په شي لاس ترې اخلي.

٤٦-٤٧: د (ثم) لفظ په دې آيت کې شيي چې په مخکيني آيت کې مشار اليه کار او هغه کار چې په دې آيت کې ورته اشاره شوې په يوه وخت نه تر سره کېږي، دا لفظ په خپله شيي چې هغه توجيه سمه نه ده چې وايي مخکينی آيت د شي لاس قطع کول، يا تر شي لاس کلك نيول يا په شي لاس کلك نيول افاده کوي؛ برعکس دا دواړه آيتونه څنګ په

څنګ دا معنی افاده کوي چې الله تعالی به دا تقول او افتراء جدي نیوله او بیا به ئې د زړه رګ ورپرې کاوو او په هغه صورت کې به ستاسو هیڅ یوه د ده مرسته نه شوی کولی او د دې شدیدي نیوني او مؤاخذې مخنیوی به مو نه شو کولی.

وَإِنَّهُۥ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنكُم مُّكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾ وَإِنَّهُۥ لَحَسْرَةٌ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٠﴾ وَإِنَّهُۥ لَحَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٥٢﴾

٤٨- او بې شکه چې دا تذکر دئ پرهېزګارانو ته. ٤٩- او موږ خو یقیناً په دې پوهېږو چې ستاسو ځینې دروغ ګڼونکي دي. ٥٠- او دا خو به حتماً د کافرانو د حسرت باعث شي. ٥١- او بې شکه چې دا یو یقیني حقیقت دئ. ٥٢- نو د ستر رب په نامه دي تسبیح وایه.

٤٨: باید وګورو چې (إنه) چا ته راجع دئ؟ دوه توجیه مومو:

الف: په مخکینیو آیتونو کې مندرج مطلب ته راجع دئ.

ب: قرآن ته راجع دئ.

د لومړۍ توجیه په تأیید کې دوه دلائل لرو:

- ضمیر باید تل تر ټولو نژدې مرجع ته راجع کړو.
- راتلونکی آیت د دې توجیه سموالی بیانوي. او په دې توګه د آیت معنی داسې ده:

په مخکینیو آیتونو کې مندرج مطلب د هغو کسانو لپاره یو تذکر او پند دئ چې غواړي له داسې عذاب خوندي وي او ځان ترې وقایه کړي.

٤٩: او الله تعالی پوهېږي چې ستاسو ځینې به دا حقائق تکذیبوي، عمداً به ئې تکذیبوي، نه اشتباهاً او نه د دلائلو په حکم، په حقیقت کې به د دوی ادعاء دروغجنه وي، په الله تعالی به افتراء کوي؛ او د عذاب راتګ او د الله تعالی نیونه او شدیده مؤاخذه به تکذیبوي.

٥٠- او دا به د کافرانو د حسرت او ندامت باعث کېږي، داسې ورځ به حتماً رارسي، کافران به الهي عذاب خامخا وګوري او له حسرت او ندامت سره به مخامخ شي.

٥١- او دا یو یقیني حقیقت دئ، هیڅ شك په کې نشته، حتماً به تحقق مومي.

حتماً به متوجه شوي وئ چې دا سوره د (الحاقه: تحقق موندونکې) په لفظ پیل شوې؛ او دا آیت د سورې د تتمې په توګه وایي: انه لحق الیقین، د هري سورې د مقدمې او تتمې تر منځ چې معمولاً کوم تړاو او ارتباط وي دا تقاضی کوي چې په دې آیت کې باید هماغه مطلب په نظر کې وي چې په لومړي آیت کې راغلی.

۵۲- نو د خپل ستر رب نوم دي په پاکۍ یاد کړه.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ


د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷